# د قرآن پلوشې

۳۰جزء

حکمتیار

ÉŠîmŠ$Ç»Hq Š$‹ $Éóî

# ځو مقدماتي خبرې

د دې کتاب متن ته له ننوتو د مخه ځو خبرو ته د ګرانو لوستونکو پام رااړوم:

- قرآن د الله کتاب دی، د انسانانو د لارښوونې لپاره ئې رالېږلی، واضح او آسان کتاب، د خپل مخاطب د فهم مستوی ته (رانازل) شوی، لومړی حامل ئې هغه پیغمبر دی چې لیك لوست ئې نه وو کړی او په هغه قوم کې مبعوث شوی وو چې په لیك لوست نه پوهېدل، همدا امي قوم په دې قرآن پوه شو، په دې ئې ایمان راووړ، دا ئې ځان ته لارښود کړ، له پلار نیکه نه ورته پاتې دین، مذهب، دود دستور، افکار او اخلاق، فردي او اجتماعي سلوك او هر زوړ رسم او رواج ئې پرېښود، خپل هر څه ئې د قرآن په قالب کې واچول او هر هغه څه ئې لرې وغورځول چې له قرآن نه ئې مخالف موندل. نه یوازې په خپل کور، کلي او ټولنې کې ئې قرآن حاکم کړ بلکې د دې لپاره ئې ملا وتړله چې د قرآن بیرغ له شرق نه تر غرب پورې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ورپوي. د نړۍ له سترو سترو ځواکونو سره ډغرې ووهي، انسان د انسان له بندګۍ نه وژغوري، غلامان او مظلومان آزاد کړي، د هر مظلوم خوا ته ودرېږي او د هر ظالم مقابله وکړي، د ظلم ټغر ټول او په ټولې نړۍ کې عدالت قائم

کړې. دوی داسې ستر کار ته ملا وتړله چې هیڅا ئې تصور نشو کولی، دا د مهاجرینو یو وړوکی ټولګی وو، له خپل کور کلي نه شړل شوي او د مدینې په څېر د یوه واړه کلي یوې برخې اوسېدونکو ورته پناه ورکړې وه، هیڅا دا ګومان نشو کولی چې دوی به د خپلو ځواکمنو مخالفینو مخې ته تر اوږدې مودې مقاومت وکولی شي، له یوې خوا به د دوی په پرېشانه او دردوونکي حالت د هر چا رحم راتلو او له بلې خوا به ئې د دوی دې خبرو ته حیران حیران کتل چې الله تعالی به دا دین پر ټولو ادیانو غالبوي او چې چا به په ټوکو ټوکو وپوښتل: په روم او فارس هم؟ نو دوی به له ځنډه پرته ځواب ورکړ: هو په الله قسم چې پر روم او فارس هم، ډېرو ته دا د جنون او لیونتوب خبرې او د غمونو په وخت کې غولوونکي رنګین خوبونه معلومېدل، خو الله د دوی دا ټولې خبرې او دا رنګین خوبونه رښتیا کړل، د دې تحریك له شروع نه لا ډېر وخت نه وو تېر شوی او د مخکښانو له ډلې نه ئې لا ډېر ژوندي وو چې نه یوازې د حجاز پراخه ځمکه د دوی په لاس فتح شوه بلکې د روم او فارس د مغرورو واکمنانو ماڼۍ ئې هم تصرف کړې او په خپلو سترګو ئې د کسری او قیصر په ماڼیو د اسلام بیرغ رپانده ولیدو او الله تعالی دوی ته دا توفیق ورکړ چې له شرق نه تر غرب پورې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د قرآن بیرغ ورپوي. د دوی د دې حیرانوونکیو بریاوو عامل څه وو؟ له دوی سره څه وو چې نورو نه درلودل او د همدې په وجه دوی غالب شوي او مخالفینو ئې ماتې خوړلې؟ د دې پوښتنې لپاره له دې پرته بل ځواب نشو موندلی چې له دوی سره د قرآن په څېر هغه کتاب وو چې نورو نه درلود، همغه عظیم قرآن د دوی د بریا، عزت، سرلوړۍ او پر ټولو دښمنانو د غلبې اصلي او اساسي عامل وو. همدغه قرآن له یوه جاهل او ناپوه قوم نه داسې سرلوړی او فاتح امت جوړ کړ چې د ټولې نړۍ قیادت ئې په لاس کې پرېووت، هم له فکري او اخلاقي لحاظه د خلکو امامت او زعامت وروسپارلی شو او هم په سیاسي او نظامي لحاظ د نړۍ په سترې او پراخې برخې مسلط شول او د مدینې هغه وړوکی کلی د یوه داسې ستر ملك په پلازمینې بدل شو چې له هند نه تر مراکش پورې او له هسپانیا نه تر یمن پورې غځېدلی وو، هومره ستر چې د پرون

ورځې د روم او فارس دوه امپراطورۍ ئې دوه ولايتونه شول. دا همغه قوم وو چې په قرآن له ايمان نه مخکې ئې د بتانو عبادت کاوو، خپلې لوڼې ئې ژوندۍ ښخولې، په داخلي خونړيو جګړو کې غرق وو، روم او فارس ته ئې جزيې ورکولې، روميان او فارسيان به د دوی بازارونو ته د غلامانو د اخيستلو لپاره راتلل، د يوه مريې بيه د يوه کس د يوې اونۍ تر خوراکه کمه وه، د ښه او مضبوط غلام بيه تر ډنګر آس نه کمه وه!!

- هر څوك په دې پوهېږي چې له پيغمبر عليه السلام سره نه فوځ وو، نه وسايل، نه مال او دولت، نه قومي او اجتماعي نفوذ، فقط دغه قرآن ورسره وو؟ هغه مبارك خو هم دوست او هم دښمن ته، هم مخالف او هم موافق ته، هم عرب او هم عجم ته، هم امي او هم په ليك لوست پوه ته، هم مشرك او هم اهل کتاب ته، يوازې او يوازې قرآن وړاندې کړی، د ده او د ده د يارانو هم بلنه او دعوت قرآن ته وو، هم ئې د بحث او مناقشې موضوع قرآن وو او هم ئې د قضاوت او حکم مرجع قرآن، هغه مبارك خو خپل ياران د احاديثو له ليکلو نه هم منع کول، نه د دې لپاره چې قرآن له بل څه سره خلط نشي، بلکې د دې لپاره چې له قرآن نه توجه او اهتمام بلې خوا ته وانه وړي، د ده احاديث د ده له رحلت نه نږدې دوه سوه کاله وروسته راغونډ او وليکل شول. ده سلمان فارسي، صهيب رومي او بلال حبشي ته هم قرآن ورکړی، دوی ته ئې هم نه وو ويلي چې لومړی عربي او صرف او نحو ئې زده کړئ، په رياضي، فلسفه، منطق او حکمت پوه شئ، بيا راشئ چې قرآن دروښيم. برعکس دوی ته ئې لومړۍ بلنه او لومړی درس قرآن وو.
- صحابه وو په قرآن اکتفاء کوله، هغه ئې په هرڅه کې کافي ګڼلو، په هغه پوهېدل، د هغه په هرې وينا ئې ايمان وو او په هغه ئې عمل کاوو، د قرآن حرف حرف به ئې د زړه په غوږونو اورېدو ،او له اورېدو سره سم به ئې سملاسي په هغه د عمل کولو ټينګ هوډ کاوو. کله چې ئې د قرآن دا آيت واورېدو: ( هُوَ الَّذِى أَرْسَلَ رَسولَهُ بِالْهُدَى وَ دِينِ الْحَقّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدّينِ كلّه وَ لَوْ كرِهَ الْمُشرِكُونَ * : او الله هغه ذات دی چې خپل پيغمبر ئې له هدايت او حق دين سره لېږلی تر څو ئې پر ټولو

دینونو غالب کړي) نو نه یوازې ئې په دې آیت او د هغه په مدعا ایمان راووړ، په لمونځونو کې به ئې وایو، یوه بل ته به ئې ښودو، په دې به ئې کلك باور کاوو چې الله تعالی به دا دین د ځمکې د سر په ټولو ادیانو غالبوي، بلکې همدغه د دین غالبول به ئې خپله الهي فریضه ګڼله، د دین د غلبې لپاره ئې ملا تړله او د هر هغه ځواك په ضد ئې خپلې تورې له تېکیو راایستلې چې د دین د غلبې په وړاندې خنډ کېدو. کله چې ئې د قرآن دا وینا واورېده:

وَ مَا لَكُمْ لاَ تُقَتِلُونَ فِى سَبِيلِ اللّهِ وَ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّساءِ وَ الْوِلْدَنِ الّذِينَ يَقُولُونَ رَبّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظالِمِ أَهْلُهَا وَ اجْعَل لّنَا مِن لّدُنك وَلِيًّا وَ اجْعَل لّنَا مِن لّدُنك نَصِيراً * النساء: ۷۵

او تاسو ولې د الله په لار کې او د هغو مستضعفو نارینه وو، ښځو او ماشومانو (د ژغورنې) لپاره نه جنګېږئ چې وايي: اې زمونږ ربه! له دې کلي نه چې خاوندان ئې ظالمان دي مونږ وژغوره او له خپلې لوري مونږ ته کوم ولي وټاکه او له خپلې لوري مونږ ته کوم مرستندوی وټاکه.

د دې آیت په اورېدو سره دوی د نړۍ د ټولو مستضعفینو او مظلومانو ژغورنه خپله فریضه وګڼله او د دې فریضې د ادا کولو لپاره ئې ملا وتړله، له روم او فارس سره وجنګېدل او له مدینې نه تر هند او هسپانیا پورې پلې او په اوښانو سپاره ولاړل، لویشت لویشت او تیږه تیږه د دوی په وینو سره شوه، له هغو کسانو نه چې د پیغمبر په لاس او د قرآن په مدرسه کې وروزل شول، ډېر کم ئې له شهادت نه پرته په عادي مرګ مړه شوي او د جنګ له میدان نه بهر ئې خپله روح الله ته تسلیم کړې.

- همغه قرآن زمونږ مخې ته پروت دی، له مؤمنانو سره د الله وعدې همغه دي چې له صحابه وو سره ئې کړې وې، زمونږ دیني مسئولیتونه او وجائب همغه دي چې صحابه وو ته متوجه وو، نه قرآن بدل شوی او نه د الله تعالی وعدې او نه د مؤمنانو فرائض او وجائب. اوس هم هغه کار کېدی شي چې د صحابه وو په لاس ترسره شو، په دې شرط چې مونږ د قرآن په اړه همغه څه وکړو چې صحابه وو کول.

- په پښتو کې د قرآن د ښاېسته او دقيقې ترجمې نشتوالي ځورولم، غوښتل مې د دې تشې ډکولو ته ملا وتړم، خو دا راته ډېر درونددکار معلومېدو، د قرآن ترجمه زيات دقت او زحمت غواړي، لکه څنګه چې له يوې ژبې نه بلې ته د شعر ترجمه د معمولي نثر له ترجمې نه ګران کار دی او زيات اهتمام، دقت او زحمت غواړي، د قرآن د آيتونو ترجمه تر دې هم ډېر ډېر ګران کار دی او زيات دقت او زحمت غواړي، په يوازې ترجمې سره که هرڅومره هم دقيقه وي د آيتونو ټول مطلب افاده کول ممکن ندی، مترجم دې ته اړ کېږي چې يوازې په ژباړې اکتفاء ونکړي بلکې خوا ته ئي مزيد تشريح او توضيح هم وړاندې کړي.
- کاش په تفسير د ښه پوه او د پښتو ادب د نامتو ليکوالانو او اديبانو يوې معتبرې جرګې په ګډه د قرآن د ترجمې دا ستره دنده په غاړه اخيستې وی او پښتنو او پښتو ادب ته ئې دا عظيم خدمت کړی وی. هم پښتو ادب له دې اړخه ډېر فقير دی او هم پښتانه د ډېر زړه سوي وړ.
- د قرآن په ترجمه کې معمولاً دوه اسلوبه ګورو: تحت اللفظي ترجمه او آزاده ترجمه. د تحت اللفظي ترجمې عيب دا وي چې جملې ئې خوندور او جالب ادبي ترکيب نلري او لوستونکی ښه انتباه ترې نه اخلي، په يوې جملې کې د کلماتو ښه ترکيب او تنظيم ډېر اهميت لري او په لوستونکي د هغه اغېز ډېر زيات وي، له متشتت او بې نظمه الفاظو نه انسان ستومانه کېږي او اکثراً غلط مفهوم ترې اخلي او احياناً دا ګومان کوي چې شايد ترجمه شوی متن به هم ترجمې ته ورته خواره واره او نامنظم الفاظ وي، حال دا چې قرآن له ادبي لحاظه او د کلماتو د ډېر دقيق، خوندور، ښاېسته، جالب او مؤثر ترکيب له مخې هومره اوچت او لوړ دی چې هيڅ بليغ کلام د هغه پښو ته نشي رسېدلی.
- د قرآن د آيتونو په ترجمه کې نه يوازې دا چې د هر لفظ په دقيقه ترجمه کې بايد پوره اهتمام وشي بلکې بايد د آيت ښاېسته او خوندور ادبي ترکيب هم په پام کې وي او هڅه وشي چې ترجمه د آيت په څېر ښه ادبي ترکيب او خاص وزن او سجع ولري. د قرآن ښه ترجمه هغه ده چې هم د هر لفظ دقيقه ترجمه وړاندې کړي او

هم د آیتونو خوندور او ژور ادبي ترکیب، خوږ غږ، وزن او سجع انتقال کړي.

• ما د ځینو سورتونو په ژباړې کې هڅه کړې چې د آیتونو سجع او وزن هم تر یوه حده انتقال شي او ژباړه مسجع وي، د سورتونو په مقدمه کې مې دې ته اشاره کړې چې د آیتونو فواصل ئې څه وزن لري، امېد دی ګران لوستونکي دې ته متوجه وي چې له وزن نه زمونږ مراد صوتي وزن دی نه صرفي وزن، په صوتي وزن کې عاملون، تعملون، یعملون، فاعلون، تفعلون او یفعلون ټول هموزنه صیغې دي، دا ځکه چې د ټولو په پای کې د (ل و ن) توري راغلي او غږ ئې سره ورته دی، خو د صرفي اوزانو له مخې دا بېلې بېلې صیغې دي.

• د قرآن تحت اللفظي ترجمه د دې لپاره هم صحیح نده چې د پښتو د جملاتو ترکیب له عربي ژبې سره ډېر توپیرونه لري، څو مثالونه ئې دا دي: په پښتو کې صفت له موصوف نه مخکې راځي او په عربي کې وروسته، په پښتو کې مفعول له فعل نه مخکې وي خو په عربي کې وروسته، په عربي کې مضاف مخکې وي او مضاف الیه وروسته، خو په پښتو کې اکثراً مضاف الیه له مضاف نه مخکې راځي، په عربي کې مکان او زمان وروسته ذکر کېږي خو په پشتو کې مخکې راځي، دې ته ورته ډېر نور توپیرونه شته، له عربي نه پښتو ته تحت اللفظي ترجمه نه سم کار دی او نه صحیح او د داسې ترجمې هره جمله به غلطه وي او لوستونکي ته به غلطه انتباه ورکوي.

د مثال په توګه: د (وهو السمیع العلیم) لاندې ترجمې کېدی شي:
او هغه اورېدونکی او پوه دی
او هغه اورېدونکی پوه دی
او هغه پوه اورېدونکی دی

په دې ترجمو کې دوه لومړۍ ژباړې ناسمې دي، یوازې درېیمه ئې صحیح او دقیقه ده.

یا د (انزل الکتاب) لاندې ژباړې:
ده نازل کړ کتاب.

نازل ئې کړ کتاب
دا کتاب ئې نازل کړ
دلته هم لومړۍ دوه ترجمې ناسمې دي، سمه او دقيقه ترجمه درېيمه ده. دا ځکه چې د (کتاب) او (الکتاب) ترمنځ توپير بايد په ترجمه کې مراعات شي، (کتاب) نکره ده او الکتاب معرفه، د عربي کمال دا دی چې نکرة او معرفة لري، پښتو ترې محرومه ده، په پښتو کې به ناچار د معرفه لپاره هغه يا همغه راوړو او د نکره لپاره به يو يا ځانګړی راوړو، دې ته مو هم بايد پام وي چې کله مفرد د جنس لپاره راځي او د جمع معنا ورکوي، په هرځای کې له قرائنو نه معلومېږي چې دلته ئې مراد څه دی.
يا د (کتب الله لاغلبن انا و رسلي) لاندې ژباړې:
ليکلي دي الله چې هرومرو به غالب شم زه او زما پيغمبران.
الله ليکلي چې هرومرو به زه او زما پيغمبران غالبېږو.
الله ليکلي چې زه او زما پيغمبران به هرومرو غالبېږو.
الله ليکلي چې هم به زه هرومرو غالبېږم او هم زما پيغمبران.
دلته يوازې په څلورمې ژباړې کې د آيت مطلب سم افاده شوی او د ژباړې ادبي ترکيب سم دی.
يا د (کتاب الله المبين) دغه ترجمې:
کتاب د الله څرګند
څرګند کتاب د الله
د الله څرګند کتاب
يوازې درېيمه ژباړه سمه ده، لومړۍ دوه ژباړې غلطې دي.
يا د (ضرب الله مثلاً) لاندې ژباړې:
بيان کړ الله مثال
الله مثال بيان کړ
الله يو مثال بيان کړ
که څه هم دلته ښه او دقيقه ترجمه درېيمه ترجمه ده او لومړۍ دوه ترجمې

ناقصي دي، دا ځکه چې مثال نکره راغلی او معنا ئې يو مثال دی، خو په پښتو کې د مثال بيانولو په ځای متل تېرول راځي او پښتون مخاطب له دې نه ډېر ژر مطلب اخلي، نو د مخکنی فقرې ښه ترجمه دا ده: الله يو متل تېر کړ. متل په اصل کې د عربي مثل دی چې (ث) ئې په (ت) بدله شوې.

ما په ترجمې کې د خپل توان تر حده د دې هڅه کړې چې:

- هر لفظ په ډېر غور او دقت ترجمه شي. په ترجمه کې نه يوازې مفرد، تثنيه، جمع، مذکر، مؤنث، ماضي، حال، مستقبل، معرفه، نکره، تأکيد او ټول نور اړخونه په دقت سره مراعات شي بلکې له دې هم ډډه وشي چې څه زايد وګڼلی شي او حذف شي او څه مقدر وګڼلی شي او علاوه شي، له هر راز کمولو او زياتولو نه پرته ټول الفاظ په پوره امانتدارۍ سره ترجمه شي.
- په هرې جملې کې د الفاظو شمېر بايد د آيت د الفاظو د شمېر په اندازه وي.
- د امکان په صورت کې د هر لفظ د ژباړې موقعيت همغه وي چې اصلي لفظ ئې د آيت په متن کې لري، تر څو لوستونکی د هر لفظ ترجمه په آسانۍ وموندلی شي. خو دا په هغه صورت کې چې د جملې ادبي ترکيب ته تاوان ونه رسېږي.
- ما غوښتل چې يوازې په ژباړې او خوا ته ئې په مختصرې شرحې بسنه وکړم، خو تفاسيرو ته د رجوع په دوران کې او د دوی ترمنځ زيات اختلاف دې ته اړ کړم چې په مختصرې شرحې اکتفاء ونکړم.
- ما ته تر ټولو ګران کار په پښتو د قرآن ژباړه وه، دا ځکه چې په پښتو کې موجود دوه درې ترجمې يا تحت اللفظي ترجمې دي يا له اردو نه ترجمه شوې، متأسفانه له افغانانو نه کوم داسې عالم چې هم د عربي ژبې په صرف او نحو پوه وي او هم د پښتو ښه ليکوال او د پښتو ژبې په ګرامر پوه، دې کار ته ندی راوړاندې شوی، زمونږ په مدرسو کې پښتو او فارسي ليك لوست نشته، د ديني مدرسو فارغان په پښتو او فارسي سم ليك لوست نشي کولی، موجودې ترجمې داسې دي چې که څوك په عربي نه پوهېږي او يوازې ترجمه لولي او هلته ئې نامرتب او خواره واره الفاظ ترسترګو کېږي او د هر جملې ترکيب ئې د پښتو ژبې له قواعدو سره

متعارض مومي نو د قرآن په هکله عجیب تصور او احساس ورسره راپیدا کېږي.

- د آیتونو د تفسیر او شرحې لپاره مې ټولو هغو معتبرو تفاسیرو ته رجوع کړې چې د کتاب په پای کې ذکر شوي. ما د هغو درنو مفسرینو رأیې رااخیستې چې:
- قرآن ئې په قرآن سره تفسیر کړی. د هر آیت هغه تفسیر ئې وړاندې کړی چې د قرآن له نورو آیتونو سره اړخ لګوي. د هغه څه له ویلو نه ئې ډډه کړې چې په قرآن کې ئې د هغه په هکله صراحتاً یا تلویحاً څه نه دي لیدلي.
- د آیت په ترکیب کې ئې له هر راز لاس وهنې او تغییر نه ډډه کړې وي، نه ئې په قرآن کې کوم حرف او لفظ زائد ګڼلی او له پامه غورځول ئې غوښتي او نه ئې څه مقدر او محذوف شمېرلي او د اضافه کولو وړاندیز ئې کړی. تر کومه ځایه چې ما ته د تحقیق په دوران کې ثابته شوې د هغو کسانو رأیه مې ضعیفه موندلې چې د آیتونو په ترجمه کې په تصرف قائل دي، کله کوم حرف او لفظ زائد ګڼي او له پامه ئې غورځوي او کله کوم لفظ مقدر ګڼي او علاوه کوي ئې.
- حدیث ئې په تائید کې راوړی.
- داسې موثق روایت ئې وړاندې کړی چې د قرآن له کوم آیت سره تعارض نلري.
- د کوم خاص مسلك په نسبت ړوند تعصب نلري او خپلو مخالفینو ته بد رد نه وایي، د خپلې رأیې د هر مخالف په تندي د بدعت، شرك، ارتداد او الحاد ټاپې نه وهي، خپل مخالفین ضاله فرقو ته نه منسوبوي، د استدلال په وخت کې د خپلې رأیې په تائید کې په ادب سره دلایل وړاندې کوي او د ضعیفې رأیې د ضعف اړخونه په ګوته کوي. ما ته ځای په ځای د هغو کسانو رأیه کمزورې معلومه شوې چې د آیتونو په تفسیر کې یوازې د خپل مسلك خیال ساتي او غواړي چې هر آیت د خپل مسلك په ګټه تعبیر او تفسیر کړي. همدا راز د هغو کسانو رأیه مې ضعیفه موندلې چې د جدل لپاره او د خپل مخالف د پرځولو او پړ کولو لپاره ئې تفسیر ته ملاتړلې، د نورو د مسلمانولو لپاره نه بلکې د کافر کولو لپاره، هدف ئې دا وي چې له خپل مسلك نه ماسوی ټول نور مسلکونه باطل او غلط ثابت کړي، دوی نورو ته په ښکنځلو او بد رد ویلو سره په حقیقت کې خپل ضعف او ناتواني پټوي، دلیل

نلري نو ځکه ښکنځلو ته پناه وړي او غواړي چې ناپوه کسان د ده له مخالف فریق سره یو ځای نشي!! هغه ځوك په قرآن له پوهېدو عاجز وي چې ذهن ئې د تعصب په زهرو لړلی وي او د الله کتاب یوازې د مناظرې او جدل لپاره لولي.

- ما نه د هغه مفسر نوم اخیستی چې د ده رأي ته مې ترجیح ورکړې او نه د هغه چا چې رأي مې ضعیف موندلې. د دې لپاره چې هم د کلام له بې ځایه اطالې نه مخنیوی شوی وي او هم د حساسیتونو له پارولو نه. ډېر کسان داسې دي چې د خاص تفسیر او مفسر په نسبت تعصب لري، هره وینا ئې مقدسه ګڼي، د خپل مسلك خلاف هر تفسیر په پټو سترګو ردوي، نه د خپل مسلك مربوط تفسیر ضعف ته پام کوي او نه د بل قوي استدلال ته څه اعتناء، د نومونو یادول د دوی حساسیتونه راپاروي، غوښتل مې دا کسان هم په سړه سینه خبره واوري.
- ځینې کسان داسې دي چې د تفسیر او ترجمې په دوران کې د یوه لفظ ټولې هغه معاني رااخلي چې د لغت په کتابونو کې ئې بیامومي او د مختلفو معانیو له مخې د آیت ګڼ شمېر ترجمې او تفاسیر وړاندې کوي، پرته له دې چې یوې ته په بلې ترجیح ورکړې او دا ووایي چې په دې خاص ځای کې کومه ځانګړې معنی مراد ده!! دوی ګومان کوي چې د یوه کلام کمال په دې کې دی چې ډېرې معاني ولري!! حال دا چې بلیغ کلام هغه دی چې معنا ئې څرګنده وي، مخاطب مشخص، محدد او واضح مفهوم ترې واخلي، دا شك ورته راپیدا نشي چې د کلام د خاوند هدف څه دی، برعکس د ویناوال هدف په صراحت او آسانۍ سره درك کړي. قرآن خو خپل ځان داسې معرفي کوي چې مبین، آسان، له شك نه فارغ او څرګند دی، یوه برخه ئې په بلې سره توضیح شوې، په واضح عربي ژبې کې لېږل شوی، ابهام او اغماض پکې نشته او د هرڅه تفصیلي بیان پکې راغلی.
- اصولاً د هر لفظ دقیقه معنی او مفهوم باید تر ټولو د مخه په هغې جملې کې ولټوو چې دا لفظ پکې راغلی او بیا د همدې جملې نه مخکې او وروسته جملو کې او بیا په ټول مضمون کې. د قرآن د هر لفظ معنی هم باید تر ټولو مخکې په هغه آیت کې ولټوو چې دا لفظ پکې راغلی، بیا په مخکنیو او وروستنیو آیتونو کې، بیا په

مربوطه سورې کې او بیا په ټول قرآن کې. اکثراً یو لفظ د ډېرو شیانو لپاره استعمالېږي او بېلې بېلې معناوې ترې اخیستل کېږي، خو کله چې د یوې جملې په قالب کې لوېږي، معنی ئې محدد او مشخص شي، له ټولو معانیو نه ئې یوازې یوه معنی مراد وي، دا غلط اسلوب دی چې څوك د آیت په ترجمه او تشریح کې د هر لفظ ګڼ شمېر معاني راواخلي او د آیت لپاره د مختلفو معانیو احتمال ورکړي. هغه کسان چې د یوه آیت ګڼ شمېر معاني نقل کوي هغوی په حقیقت کې د آیت د اصلي مفهوم په بیانولو کې کمزوري او متردد وي او د الفاظو معاني ئې یوازې د لغت په کتابونو کې لټولې وي او د آیت سیاق او سباق ته ئې پام نه وي کړی. هر آیت د یوه جامع مضمون یوه برخه وي، د دې مضمون په قالب کې یوازې یوه معنی افاده کوي، له مخکنیو او وروستنیو آیتونو سره په ګډه ئې یو مضمون جوړ کړی وي او یو مشخص او ثابت مطلب افاده کوي، که کله د قرآن د کوم آیت د مفهوم په معلومولو کې له اشکال سره مخامخ شوو نو تر هر څه د مخه باید په هغه مجموعي مضمون کې د دې په معنی د پوهېدو سعي وکړو چې دا آیت ئې یوه برخه ده، بیا په ټوله مربوطه سورې کې او بیا په ټول قرآن کې، داسې نه چې مجموعي مضمون ته له پام کولو پرته او یوازې د لغت د کتابونو په مرسته د هغه معنی ولټوو او ګڼ شمېر احتمالات وړاندې کړو!! هر څوك چې دا اصل او قاعده له پامه غورځوي هم په خپله د آیت د اصلي مراد په موندلو کې پاتې راځي او هم خپل مخاطب په تردد کې اچوي.

- یو بل مشکل چې د تحقیق په دوران کې هر څوك ورسره مخامخ کېږي د ځینو تفسیرونو هغه آراء او نظریات دي چې نه د قرآن پر آیتونو مستند دي او نه د پیغمبر علیه السلام په صحیح الاسنادو احادیثو، په ډېر معمولي دقت سره به وګورئ چې دا آراء په اصل کې له اسرائیلي روایاتو نه پرته بله مرجع او مأخذ نلري، اسرائیلي روایات اکثراً، کیسې او افسانې دي، عوام ډېر ژر د کیسو تر اغېز لاندې راځي، مخصوصاً چې دا ډېرې حیرانوونکې وي او خارق العاده پېښې بیان کړي، دوی هغه تفسیر او مفسر خوښوي چې همدا حیرانوونکې او عجیبې کیسې رانقل کړي،

دا کیسې په عوامو کې خورې شوې دي، د دین برخه ئې ګڼي او اوس هرې هغې خبرې ته د شك په سترګه ګوري چې له دغو کیسو سره اړخ نه لګوي، که څه هم د قرآن په صریح آیت او صحیح حدیث مستنده وي، ای کاش دغو درنو مفسرینو دا اشتباه نه وی کړې او د دغو روایاتو له رانقلولو ئې په کلکه ډډه کړې وی.

- یو بل مشکل دا دی چې ځینو مفسرینو د هر آیت لپاره د یوه شأن نزول راوړل ضروري ګڼلی، په دغو شأن نزولونو کې به ډېر ژور او پراخ اختلاف او تعارض وګورئ، د هر مسلك او مذهب پلویان ځان ته ځان ته د شأن نزول سلسله لري، شیعه لږ تر لږه د دریو سوو آیتونو شأن نزول داسې ګڼي چې ګواکې د علي رضي الله عنه په هکله نازل شوي، خو له شیعه وو نه پرته نور بیا دا بې بنسټه ادعا ګڼي او وایي چې په ټول قرآن کې یو داسې آیت نشته چې صراحتاً یا اشارتاً ئې د علي رضي الله عنه په هکله څه ویلي وي او شأن نزول ئې د ده په اړه وي. ځینې شأن نزول د خپل مسلك په ګټه رانقل کوي او ځینې ئې د دې لپاره چې ګومان کوي دا د قرآن په مطلب باندې په ښه پوهېدو کې مرسته کوي، دا خبره تر یوه حده صحیح ده خو په دې هکله دوه خبرې باید په پام کې ولرو:

۱. د هر بلیغ کلام یوه ځانګړتیا دا وي چې اورېدونکی په خپله له کلام او الفاظو او فحوی ئې د هغه په شأن نزول هم پوه شي، په دې هکله کوم ابهام او اغماض ورته پاتې نشي چې دا کلام به په کومو ظروفو او شرایطو کې ویل شوی وي، مقصد به ئې څه وي او د چا په هکله به وي، عظیم الشأن قرآن د الله بلیغ کلام دی اورېدونکي ته د ابهام هیڅ مجال نه پرېږدي، په لږ دقت سره ورته واضح کېږي چې مقصد ئې څه دی او چا ته متوجه دی.

۲. یو عام مخاطب د شأن نزول له اورېدو نه دا انتباه اخلي چې شاید دا مربوط آیت او حکم ئې خاص وي، همغو خاصو خلکو ته متوجه وي او نور ترې مستثنی وي، بدیهي ده چې داسې انتباه خطرناکې پایلې لري، د قرآن هغه عام او کلي ارشادات چې تر قیامته او د زمانې په هر پړاو کې هر مخاطب ته متوجه دي، یوازې د نزول په زمانې پورې محدودوي. د شأن نزول ذکر په هغه ځای کې سم کار دی چې

هم ئې اسناد له هر راز شك او شبهې اوچت وي او هم ئې يادول ضروري وي او د مطلب د ښه توضيح په اړه مرسته وكړي.

يو بل مشكل دا دی چې د آيتونو د تفسير په اړه به هم په تفسيرونو كې د مفسرينو له بېلابېلو او مختلفو آراوو سره مخامخ شئ او هم د يوه آيت په اړه متعددو او متعارضو رواياتو سره، حتی وبه ګورئ چې د يوه آيت په ارتباط يوه كس ته څو بېلابېل آراء منسوب شوي، كه چېرې له داسې اختلاف سره مخامخ شوئ نو پوه شئ چې:

- له پيغمبر عليه السلام نه په دې اړه موثق حديث نشته. كه داسې حديث وی نو هيڅكله به دا مختلف آراء نه وړاندې كېدل.
- كه درنو مفسرينو صحابه وو ته منسوب آراء موثق ګڼلی هيڅكله به ئې بله رايه نه وركوله.
- يوه شخص ته په يوې موضوع كې منسوب دوه متعارض آراء؛ روايت او اعتبار ئې تر سوال لاندې راولي.
- دا اختلاف نه يوازې له مونږ څخه غواړي چې په ټولو آراوو غور وكړو او تر ټولو مضبوطه او مستدله ئې انتخاب كړو، بلكې مونږ ته حق راكوي چې د قرآن د نورو آيتونو په رڼا كې د دغو آيتونو د اصلي معنا په لټه كې شو.
- په داسې مواردو كې به دې ته نه ګورې چې روايت چا ته منسوب شوی، او په دې بنياد به يوه ته په بل ترجيح نه وركوې، دې ته به ګورې چې كوم يو په قوي دلايلو ولاړ دی او له قرآن سره سمون خوري.
- د صحيح حديث او د قرآن ترمنځ هيڅكله تعارض نشي راتلی، هيڅ مسلمان په دې خبرې كې شك نلري، د چا چې پر خدای او پيغمبر ايمان و ي د پيغمبر عليه السلام له هيڅ وينا سره به اختلاف ونكړي، كه څوك له يوه روايت سره اختلاف كوي وجه ئې دا وي چې په ثقه والي ئې باور نه لري، يو حديث د يوه محدث له نظره صحيح وي خو بل ئې ضعيف ګڼي، مګر تاسو نه ګورئ چې د ډېرو څرګندو مسئلو په هكله د محدثينو او فقهاوو تر منځ اختلاف شته، د اختلاف وجه همدا

ده چې يوه ته يو روايت صحيح معلوم شوی او بل ته ضعيف، د پيغمبر عليه السلام نږدې اتلس زره لمونځونه په زرهاوو خلکو په مدينه منوره کې ليدلي، خو سره له دې ګورو چې د رفع اليدين، آمين بالجهر، د بسم الله الرحمن الرحيم قرائت، اقامت ... په هکله اختلاف شته، د پيغمبر عليه السلام په ژوند کې په زرهاوو کسانو د حجاب څرنګوالی په خپلو سترګو ليدلی، خو دا دې ګورئ چې په دې هکله اختلاف شته، د فقهاوو ترمنځ هم او د محدثينو تر منځ هم، دا نن په سعودي کې د الباني او مرحوم ابن باز او د دوی د پلويانو تر منځ اختلاف شته !! که د داسې څرګندو قضاياوو په هکله د اختلاف (حتی ژور اختلاف) شاهد يو، نو د قرآن د آيتونو د تفسير په اړه به اختلاف رأی څومره وي؟ !! په دې هغه څوك ښه پوهېږي چې د خاص مسلك او په هغه پورې د مربوط تفسير په اړه تعصب ونلري، او په سړه سينه مختلف تفاسير له نظره تېر کړي، او وګوري چې د يوه آيت په اړه يوه راوي ته متعدد متعارض روايات منسوب شوي !! مونږ چې کله وايو د صحيح حديث او د قرآن ترمنځ هيڅکله تعارض نشي راتلی، معنا ئې دا ده چې کله کوم روايت داسې ومومو چې له قرآن سره تعارض لري بايد ووايو چې دا په هيڅ صورت کې د پيغمبر عليه السلام حديث نشي کېدی . او د دې معنا دا نه ده چې نعوذبالله مونږ په کوم راوي د درواغو ويلو تور لګوو، معنا ئې دا ده چې د مطلب په انتقال کې حتماً چېرته اشتباه شوې، اوربدونکی په مطلب سم نه دی پوه شوی، د الفاظو په انتقال کې ترې اشتباه شوې .... د هر مؤمن او غير متعصب محقق له نظره بايد قرآن د هر څه لپاره، د رواياتو په شمول، معيار او ملاك وي، يوازې هغه روايت ومني چې له قرآن سره تعارض ونلري، کوم روايت چې له قرآن سره اړخ نه لګوي بايد په احترام سره ئې يوې خوا ته کېښېږدو، نه ئې وليکو او نه استناد پرې وکړو. بايد له دې وېره ولرو چې پيغمبر عليه السلام ته هغه څه منسوب کړو چې هغه نه دي ويلي، د داسې چا ځای د جهنم اور دی . ابوبکر رضي الله عنه له همدې وېرې ونه غوښتل چې له ده نه ليکلي احاديث پاتې شي، له همدې وېرې صحابه وو د احاديثو د ليکلو جرأت نه کاوو، د احاديثو موجود کتابونه نږدې درې نسله

وروسته ليکل شوي او دا هم د يوه ستر مجبوريت په وجه، او په دې خاطر چې په لکونو موضوعي احاديث په خلکو کې خواره شول . کاش داسې څوک راپيدا شي چې د احاديثو او رواياتو په اړه هغه کار وکړي چې عثمان رضي الله عنه د قرآن عظيم الشأن د مختلفو نسخو په اړه وکړل . په دې سره به هم د امت تر منځ د اختلاف يوه لويه وجه له منځه ولاړه شي او هم به بېل بېل مذاهب او فرقې متحد شي. دا يوازې مسلمانان نه دي چې د مختلفو رواياتو په وجه په اختلاف اخته شول، تېر امتونه هم د رواياتو په وجه په اختلاف اخته شوي، د همدغو رواياتو په وجه دوی د الله تعالی کتاب شا ته غورځولی او په جعلي رواياتو پسې تللي، تاسو که بايبل وګورئ نو ډېر ژر به متوجه شئ چې دا د څو قصو او رواياتو مجموعه ده، له خرافاتو ډکې قصې، داسې قصې چې هيڅ عقلمند انسان ئې نشي منلی، انسان حيران پاتې شي چې مسيحيان څنګه دا د يوه مقدس الهي کتاب په څېر مني، باور وکړئ چې د دې کتاب په سلو کې تر اتيا زياتې برخې ئې مسخره روايات او بې بنسټه قصې دي، څه چې په دې کتاب کې ډېر لږ تر ستر ګو کېږي نو هغه د انجيل او د الهي کتاب لارښوونې دي

- هغو درنو شخصيتونو چې احاديث ئې راغونډ کړل، وئې چڼل، صحيح، ضعيف او موضوعي ئې سره بېل کړل، هر يوه له لکونو احاديثو څخه يوازې څو زره غوره او وليکل، دوی په امت لوی احسان کړی، الله تعالی دې دوی ته ستر اجر او د جنت لوړې درجې ورکړي، خو بايد دا ګمان ونکړو چې د پيغمبر عليه السلام ټول احاديث په بشپړه توګه نقل شوي، دا خبره يوازې هغه څوک کولی شي چې له غلو او افراط نه وېره نه لري . د مدينې منورې په لسو کلنو کې پيغمبر عليه السلام څومره د جمعې او اختر لمونځونه کړي، چې په هر يوه کې ئې دوه خطبې ورکړې؟ د څومره جنګونو په اړه ئې خبرې او لارښوونې کړې؟ د څومره مهمو پېښو او مسئلو په اړه ئې وخت په وخت خطبې ورکړې؟ يوازې له دغو خطبو او لارښوونو نه ضخيم ضخيم کتابونه جوړېدی شول، خو په دې خاطر چې پيغمبر عليه السلام په خپل ژوند کې د احاديثو د ليکلو اجازه نه وه ورکړې، نن ئې د

احاديثو پـه كتـابونو كې نشـو مونـدلی. خـو د پيغمبر عليـه السـلام د ټولـو خطبـو نچوړ او خلاصه زمونږ پـه واك كې ده، هغـه مبارك چې څه ويلي خلاصـه ئې دغـه قرآن دی، د ده ويناوې د دغه قرآن شرح او تفصيل وو، د دغـه قرآن پـه رڼا كې ډېر پـه آساني سره قضاوت كولی شو چې پيغمبر عليه السلام به كومه خبره كړې وي او كومه نه‌الله دې د مخه چې د يـ وه روايت د اسنادو پـه هكلـه غـور وكړو بايـد پـه دې غور وكړو چې دا روايت له قرآن سره سمون خوري كـه نـه !! پـه اسنادو بـه ئې لـه دې وروسته بحث كوو.

- د جهاد په غېږ كې د افغانانو يو نوی نسل راوټوكېدو، هغه چې په خبرې د پوهېدو له ورځې تر ځوانۍ پورې ئې تل د قرآن، جهاد، شهادت او هجرت په څېر شعارونه اورېدلي، په خپلو وينو سره زخميان ئې ليدلي، د مهاجرينو قافلې ئې ترسترګو شوې، په كليو ئې وېرونكې بمبارۍ ليدلې، هره ورځ ئې د توپونو او ټانكونو غړونه تر غوږ شوي، په كور كې ئې خپل پلار او مشر ورور، په جومات كې ئې امام او خطيب او په سنګر كې ئې مجاهد ليدلی چې د قرآن آيتونه لولي او نورو ته د صبر او جهاد توصيه كوي، له قرآن سره ئې مينه راپيدا شوې، غواړي په قرآن پوه شي، د دې لپاره نه چې د كوم جومات امامت ترلاسه كړي او دا ئې د امرار معاش وسيله شي، بلكې د دې لپاره چې قرآن ئې لاربنود شي، په قرآن د پوهېدو تنده ئې ماته شي، مسلمان دی، له اسلام سره ئې مينه ده، له اسلام نه په كلكه دفاع كوي، د اسلام لپاره هرې قربانۍ ته چمتو دی، په عربي نه پوهېږي، صرفي او نحوي تحقيق ته ضرورت نلري، په ديني مدرسو كې ئې سبق ندی ويلی، زده كړې ئې په مكتب او پوهنځي كې كړې، ساينس، فزيك او كيميا ئې لوستي، خاصه ژبه، خاصه سليقه او ځانګړې پوښتنې لري، د هر آيت مطلب په ښنتو كې اورېدل غواړي، دې ته تږی دی چې پوه شي قرآن د هغو شيانو په هكله څه ويلي چې ده د كيميا او فزيك په كتابونو كې لوستي، دا ئې هم په مكتب كې له مخالفينو نه اورېدلي چې د قرآن ډېرې ويناوې له ساينس سره تعارض لري او هم ئې له خطيب او امام نه اورېدلي چې د معاصرو علومو ادعاګانو ته اعتناء مه كوئ، دا د قرآن

خلاف دي، غواړي پوه شي چې د قرآن او ساينس تر منځ تعارض او توپير شته که نه؟ ده د انسان، حيوان، نبات، ځمکې، آسمان او غرونو د پيدا ښت په اړه ډېر څه په خپلو درسي کتابونو کې لوستي، غواړي پوه شي چې په دې هکله قرآن څه ويلي؟ کله ئې له کمونيستانو سره مناقشه راشي او کله له غرب پالو لاابالي عناصرو سره، دواړه ئې په ګډه مقابله کوي، دوی دواړه له اخلاقي او فکري لحاظه يوه بل ته ورته دي، د شوروي اتحاد له زوال نه وروسته خو اوس کمونيست ديموکراتان غرب پاله ديموکراتان شوي او له هغوی سره ئې د اسلام په ضد ګډه جبهه جوړه کړې او د غرب پالو تر قومندې لاندې د اسلام په ضد جنګېږي، غربي استعماري ځواکونه د اسلام په ضد په خپل سياسي او فکري تهاجم کې ځومره چې په کمونيستانو او نشنلستانو ترکيز کوي او مفيده وسيله ئې ګڼي له غرب پالو ديموکراتانو نه هومره طمع نلري، د غربي فرهنګ په ډنډ کې لوېدلي لاابالي عناصر نه خاص فکر لري، نه د مسئوليت قبلولو ته غاړه ږدي، نه د کوم هدف لپاره زيار او زحمت ايستلو ته تيار دي، يوازې د اخلاقي فساد په خورولو کې له دوی نه ښه استفاده کولی شي، خو د اسلام په ضد په فکري مبارزه کې بايد له هغو نه کار واخلي چې د يوې مفکورې په نسبت د التزام دعوی کوي او په اسلام باندې د اعتراض مواد په واك کې لري. مسلمان ځوانان له دې مبارزې سره مخامخ دي، د مدرسو په کتابونو کې د مخالفينو د اعتراضاتو ځوابونه نشي موندلی، د دغو مبارزو ځوانانو لپاره د قرآن داسې ترجمه او شرحه ضروري وه چې د دوی تنده رفع کړي، که زه په دې موفق شوم چې د دغه ځوان نسل تنده څه نا څه رفع کړم نو دا به پر ما د الله تعالی ډېره لويه پېرزوينه وي.

- هغه مسلمان ليکوال، خطيب، واعظ، داعي او مدرس ډېره لويه اشتباه او جفا کوي چې درسونه، ليکنې، خطبې او موعظې ئې له قرآن نه پرته له بلې چينې نه خړوبېږي او له قرآن نه پرته بل څه ته بلنه ورکوي. اسلامي امت تر هر څه د مخه قرآن ته د راګرځېدو يوه تند او ځپانده خوځښت ته ضرورت لري، راشئ په دې تحريك کې برخه واخلو، په بل څه يوازې هغه وخت مصروف شو چې له قرآن نه فارغ شوي

وو خو که دا ممکن وي، په مدرسه کې باید لومړی او اساسي مضمون قرآن وي او نور ټول ثانوي، ضمني او ممد مضامین، نه دا چې قرآن وروستی مضمون او صرف، نحو، فقه، حدیث، منطق او فلسفه لومړي او اساسي مضامین، داسې نه چې قرآن هم د صرف او نحوې د تمرین لپاره ولوستل شي!! د نشراتو اساسي برخه باید د قرآن په رڼا کې څېړنې او تبصرې وي نه دا چې په یوه ګوښه کې ئې د څو آیتونو تحت اللفظي ترجمه د تبرك لپاره او یا په دې غرض راشي چې وښيي دا نشریه اسلامي ده!! د خطیب او واعظ وینا باید د قصو او ضعیفو روایاتو په ځای، په قرآني آیتونو مستنده وي او خلکو ته د ژوند د ټولو ورځنیو مطرحو قضایاوو په اړه د قرآن په استناد لارښوونې وکړي، دا همغه کار دی چې پیغمبر علیه السلام او د ده صحابه وو رضوان الله علیهم اجمعین کاوو او په همدې کار سره هغوی اسلام د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوو.

- قرآن له هره پلوه مکمل دی، وینا ئې تر هرې وینا مؤثره، استدلال ئې تر هر استدلال قوي او وعظ ئې تر هر وعظ اغېزناك، څومره چې په قرآن سره کولی شئ خپل مخاطب قانع کړئ په بل څه ئې نشئ قانع کولی.

اللهم ارنا الحق حقاً وارزقنا اتباعه
و ارنا الباطل باطلاً وارزقنا اجتناب

بسم الله الرحمن الرحيم

# النبأ

## د سورې معرفي:

د دې مبارکې سورې نوم النبأ (هماغه مهم خبر) دی، چې د سورې له دوهم آیت نه اخیستل شوی، ۴۰ آیتونه لري، د سورې له مضامینو ، د آیتونو له ترکیب او د بیان له سبك نه په څرګنده معلومېږي چې دا سوره د مکي دور د ابتدائي مرحلې له سورتونو څخه ده، د بحث هغه اساسي او محوري موضوع چې دا سوره ئې په اړه بحث کوي د آخرت اثبات دی.

د دې سورې آیتونه د نورو مکي سورتونو په څېر لنډ لنډ ، قاطع او جامع او شعارونو ته ورته دي، چې ډېر ښاېسته او خوندور وزن لري، د آیتونو طول په سر کې ډېر لنډ ، بیا ورو ورو زیات شوی او وروستی ئې د لومړیو آیتونو نږدې دریو برابره شوی، خو داسې چې دري بېلې فقرې لري او د هرې یوې اوږدوالی د لومړیو آیتونو په اندازه، له لومړي آیت نه تر پنځم پورې د آیتونو فواصل د یتساءلون، مختلفون او سیعلمون هموزنه صیغې دي او له شپږم آیت نه د سورې تر پایه مهاداً او ازواجاً ته ورته صیغې دي. په دې سورې کې د بحث اصلي او محوري موضوع،

د آخرت مسئله او د هغه اثبات دی، دلته د آخرت ورځې ته يوم الفصل ويل شوي او ښيي چې د آخرت دغه د پرېکړې او بېلتون اړخ په کې ځېړل شوی، يعني په دې ورځ د مؤمنانو او کافرانو، د نېکانو او بدکارانو، ترمنځ وروستۍ پرېکړه کېږي، هر يو به خپله مناسبه سزا او جزا ګوري.

که د قرآن په ځېړنو او بحثونو کې لږ دقت وکړو نو څو ټکي زمونږ توجه ځان ته جلبوي:

الف: قرآن تر ټولو دقيق او مفصل بحثونه د قيامت، آخرت، بيا ژوندون، حساب و کتاب او د عملونو د اخروي مجازات او مکافات په هکله لري، تر هرې بلې موضوع ئې په دې اړه زيات بحث کړی او د دغې قضيې مختلف اړخونه ئې ځېړلي.

ب: د قرآن لومړيو مخاطبينو ته د (آخرت) بحث تر بلې هرې موضوع عجيب، له اعتراضه ډك او د نه منلو وړ برېښېدو، په دې هکله ئې ډېرې زياتې پوښتنې درلودې او زښت زيات اعتراضات ئې کړي، هغوی په الله باور درلود، د الله طرف ته له بلنې سره ئې زيات حساسيت نه ښودو او هغه ئې د حيرت او تعجب وړ خبره نه ګڼله، په دې هکله د دوی اساسي اشکال يوازې دا وو چې خپل ګڼ شمېر خدايان، دا د دوی د پلار ، نيکه نه پاتې لرغونی ميراث پرېږدي او د هغوی په ځای د يوه خدای عبادت وکړي، د پيغمبر عليه السلام په رسالت باندې د اعتراف په اړه ئې هم په دې خاطر جدي ستونزه نه درلوده چې هغه کوم ناپېژانده شخصيت نه وو، د هغه د لوړ شخصيت، عظمت او د ده روښانه سوابق ترې پټ نه وو، ټولو ښه پېژاندو، د هغه په لوړ او امتيازي شخصيت ئې باور درلود، پر ده ئې تر هرچا زيات اعتماد کاوو، دی ئې امين او رښتونی شخصيت ګاڼو، د ده راتلونکې ته ئې ډېر توقعات درلودل، خو له مرګ نه وروسته بيا ژوندون، آخرت، قيامت، د عملونو اخروي مکافات او مجازات، يوه داسې قضيه وه چې د قريشو مشرکينو په آسانۍ نه منله، کله به ئې په حيرت او تعجب سره او کله د تمسخر او استهزاء په توګه ويل: آيا دا ممکنه ده چې پس له هغه به بيا راژوندي کېږو چې ومرو، هډوکي مو وراسته

شي، ټول وجود مو تجزيه او خاورې شي؟!! كه دا خبره رښتيا وي ولې د مخكنيو نسلونو څخه تراوسه هيڅوك بېرته نه دى راژوندى شوى؟!! ولې ترننه د خپلو پلرونو او نيكونو څخه د كوم يوه د بيا راژونديكېدو شاهد نه شوو؟!

ج: په قرآن كې تر ټولو زيات دلايل په دې اړه ګورو چې خلكو ته آخرت، د الله لورې ته بېرته ګرځېدل، بيا ژوندون، الهي محاسبه، مكافات او مجازات ثابت كړي، داسې دلايل چې ډېر دقيق، مضبوط او ژور دي او د هر شك او شبهې مجال ختموي او هر باضميره او با انصافه انسان پرې قانع كوي.

د نبأ په مباركې سورې كې له دغو دلايلو څخه يو ئې له كافي شرحې سره زمونږ مخې ته اېښودل شوى. دا مباركه سوره په دې آيتونو پيل شوې:

۱- له څه نه يو بل پوښتي.

۲- له آسترې خبرې.

۳- كوم چې دوى په كې په خپله مختلف دي.

د دغو آيتونو له فحوا نه معلومېږي چې دوى تر ټولو زياتې پوښتنې د دغې سترې خبرې په اړه درلودې، خو ټولو ګډه او مشتركه رأى نه درلوده او پر يوې خبرې متفق نه وو، هر چا د قيامت او بيا ژوندون په هكله خپل مستقل تشويش او خپله بېله رأيه لرله، چا قيامت نه مانو، چا بيا ژوندون او چا محاسبه او مكافات او مجازات، قرآن په دې مباركې سورې كې د دوى هغه ډله مخاطب كړې او پوښتنې ته ئې ځواب وايي چې فصل، محاسبه او مكافات او مجازات نه مني، د دوى لپاره ئې د قيامت ورځ د (يوم الفصل) په نامه نومولې او د اثبات لپاره ئې فرمايلي:

د ځمكې او آسمان هر څه د دې شهادت وركوي چې هر څه د يوه خاص ضرورت او مصلحت له مخې او د يوه مقصد لپاره پيدا شوي او يوه تشه پرې ډكه شوې او يوه ضرورت ته پرې ځواب ويل شوى، له دې په ډاګه معلومېږي چې هيڅ څه خوشې او بې هدفه نه دى پيدا شوى، د هر څه په پيدا ښت كې خاصه محاسبه په پام كې نيول شوې، له قيامت او حساب، كتاب نه د انكار معنا خو يوازې دا كېدى شي چې دا عالم له كوم سوچ او دقت نه پرته، خوشې او بې هدفه پيدا شوى،

خو دا بې بنسټه باور له هغه څه سره په کلکه تصادم کوي چې د عالم هرڅه پرې شهادت ورکوي. آیا نه ګورئ چې دا ځمکه مو تاسو ته زانګو ګرځولې، هغه مو داسې پیدا کړې چې تاسو ته ئې په خپلې مهربانې غېږ کې ځای درکړی، ستاسو د پالنې او روزنې او ستاسو د رزق او روزي وسائل درته برابروي، ستاسو له فطري غوښتنو او طبیعي جوړښت سره موافق، ستاسو ټولو اړتیاوو او غوښتنو ته ځواب وایي او د ژوند ټول ضروري سامان درته مهیا کوي.

آیا دې ته نه ګورئ چې دا غرونه مو د ځمکې میخونه ګرځولي، داسې میخونه چې ځمکه له خوځېدو خوندي ساتي، که غرونه نه وی نو ځمکه به مسلسل خوځېده، مونږ به نه د واورو او اوبو زېرمې درلودې، نه نهرونه، چینې او کارېزونه، دا غرونه دي چې په ځمکه د بېلو بېلو موسمونو باعث شوي او د یوې سیمې هوا او موسم ئې له بلې نه بېل کړی، هرې سیمې ته ئې ځانګړې هوا او خاص موسم ورکړی او د خاصو دانو او مېوو د راټوکېدو شرایط ئې پکې برابر کړي.

آیا دې ته پام نه کوئ چې تاسو مو جوړه جوړه، نر، ښځه پیدا کړئ او په دې سره مو ستاسو د نسل دوام تضمین کړ، آیا د شپې او ورځې په تلو راتلو کې مو غور نه دی کړی چې یوه په بلې پسې منظم او په خپل ټاکلي وخت ځي راځي، یوه ئې ستاسو د آرام، استراحت او خوب لپاره لازم او ضروري شرایط برابروي او بله ئې د دانې او مېوې د راټوکېدو او تاسو ته د رزق او روزي د راپیدا کولو باعث او د ښه او بد، او د مفید او مضر د ښه پېژندو وسیله ګرځي، تاسو خوب ته ضرورت لرئ ترڅو په ورځنیو کارونو کې خپل مصرف شوی توان، طاقت مو جبران کړئ، خپل ستومانه او ناآرامه اعصاب مو تسکین کړئ او د راتلونکې ورځې هلو، ځلو ته ځان تیار کړئ، دا کار یوازې د خوب له لارې ترسره کېدی شي او تاسو د خوب لپاره تیارې او خاموشۍ ته ضرورت لرئ او دا دی الله تعالی ځمکه او آسمان او زمونږ د شمسي نظام د بېلابېلو اجرامو ترمنځ واټن او د دوی حرکت ئې داسې تنظیم کړي چې کله د ځمکې پر سر شپه وي او کله ورځ، که داسې نه وی او د دوی تر منځ فاصلې او د دوی حرکت له اوسني حالت سره لږ توپیر درلودی نو د ځمکې پر سر به

ژوند ممکن نه وو!

آیا دې ته نه ګورئ چې دا اوه ګونې آسمانونه ئې ستاسو د کور چت ګرځولې، د ځمکې پر سر د شهاب ثاقب د راپرېوتو مخه نیسې، نه پرېږدي چې د لمر مضر وړانګې ځمکې ته راورسي او ستاسو ژوند له سخت ګواښ سره مخامخ کړي، د ځمکې تودوخه ساتي، ورېځې په خپلې غېږ کې خوندي ساتي او د خورېدو مخه ئې نیسي او د واورې او باران په څېر ئې بېرته په تاسو وروي.

آیا دغه روښانه او تود لمر ته پام نه کوئ، چې آسمان په خپلې غېږ کې نیولی او تاسو ته هم رڼا درکوي او هم تودوخه او په منظمه توګه ستاسو ځمکې ته خپلې وړانګې لېږي، د ځمکې پر سر ژوندون د رڼا او تودوخې مرهون دی، همدا لمر دی چې د بحرونو د اوبو د تبخیر او تصفیې باعث شي، آیا لږ مو دغو ورېځو ته توجه نه ده کړې چې څنګه د بحر له سطحې رااوچتې شي، د یوه اسفنج په څېر د اوبو بخارات له ځان سره واخلي، د آسمان په غېږ کې لامبو پیل کړي، په زرهاو میله لرې، د وچو ځمکو او بېدیاوو په لور وخوځېږي، تږو کروندو، بوټو، ونو او حیواناتو ته چې یوه تېز باران ته سترګې په لار دي اوبه رسوي، مړه ځمکه راژوندۍ کړي او له زړه ئې دانه او مېوه راوټوکوي، کلیو او ښارونو ته چې د باران د ورېدو په وجه ئې هوا ناصافه او ګنده شوې او راز راز ناروغۍ پکې خورې شوې، د ژوند او صفایۍ پیغام له ځان سره وړي، مړاوې څېرې روښانه، مأیوس زړونه ډاډمن او وچې ځمکې ښېرازه کوي.

آیا نه ګورئ چې د ځمکې او آسمان هرڅه بامقصده او هدفمند او هر یو ئې د یوه خاص او ځانګړې ضروري کار د ترسره کولو لپاره پیدا شوی، هر یو په دې خور او پراخ عالم کې یوه تشه ډکوي، هر یو ئې په یوه خاص کار لګیا او د یوه ځانګړې هدف د تحقق لپاره په کار مصروف دی، په ټول عالم کې هیڅ خوشی او بې مقصده شی نشو موندلی، ټول ستا په خدمت کې، ټولو یوه بل ته لاس ورکړی چې ستا مرسته وکړي، ستا غوښتنو ته ځواب ووایي او ستا ضرورتونه او اړتیاوې پوره کړي. ما ته ووایه: که له دغو کوم یو ئې خپله دنده ترسره نکړي، له هغه کاره لاس

واخلي چې ورسپارل شوی، طغیان وکړي، بې لارې شي، خپل فطري او طبیعي مسیر بدل کړي، له خپل برید او حد نه تجاوز وکړي، په دې عالم کې به څومره ستره بدنظمي رامنځته شي او څومره سترې سترې ستونزې به راولاړې کړي؟ څومره بده ورځ به پر انسان راولي؟ بې له شکه چې په دې سره به د کائنات نظم متلاشي شي او د ځمکې پر سر د ژوند امکان به له منځه ولاړ شي.

نو ما ته ووایه:

الف: آیا دا سمه ده چې ووایو: د دې خور او پراخ عالم هر څه سم او بامقصده پیدا شوي، خو انسان هسې عبث او بې هدفه پیدا شوی؟!! په آخرت او اخروي محاسبې عدم باور په دې معنا ده چې انسان، دا اشرف المخلوقات، هغه چې د کائنات هر څه د ده لپاره پیدا شوي او د ده په خدمت کې ګمارل شوي، د هیڅ لپاره، خوشې او عبث پیدا شوی!! داسې غلط تصور خو نه د انسان له عقل سره اړخ لګوي، نه ئې واقعیتونه تائیدوي او نه ئې هیڅ با شعوره او باضمیره انسان منلی شي.

ب: که د عالم په چارو، نظم، ترکیب او ترتیب کې یو بسیط او عادي تغییر او د ځمکې او آسمان ترمنځ په دې یووالي او ژور تنسیق کې معمولي تبدیلي او توپیر د ځمکې پر سر د ژوند امکان ختموي او د موجود نظم د متلاشي کېدو باعث ګرځي، نو څنګه ګمان کوئ چې دا علم به تلپاتې وي، قیامت به نه راځي او هیڅ بدلون به پکې نه رامنځته کېږي، د دې سخیف او بې بنسټه باور لپاره څه دلیل لرئ، څه شي په دې هکله ډاډه کړي یئ؟!!

ج: سره له دې چې ګورې له آسمانه په یوه باران سره مړه ځمکه وخوځېږي، د ژوندي موجوداتو زړي په خوځښت راشي، ژوندي شي، وده وکړي، د ځمکې سخت او کلك قشر وسپړي او د شنه او سمسوره بوټي په څېر له ځمکې سر رااوچت کړي، پاڼه او ګل وکړي او دانه او مېوه راوټوکوي، دا صحنې هره ورځ په خپلو سترګو ګورې، څنګه له مړینې وروسته ژوندون مستحیل ګڼې او انکار ترې کوې؟!!

د: که ته له چا سره احسان وکړې، خو ورځې ئې د یوه ګران مېلمه په څېر له

ځان سره وساتي او د ده لپاره يو مهربان کوربه او مېلمه پال شي، په ډېر تکريم او عزت سره ئې مېلمه پالنه وکړي او په دې موده کې ئې ټولې اړتياوې پوره او ټول ضروريات ئې ترسره کړي، خو هغه نه يوازې ستا د دې مهربانيو او پېرزوينو پاس ونه ساتي، بلکې له تاسره د دښمنۍ لار ونيسي، ستا احسانونه هېر کړي، څه چې تا ورکړي، ټول ستا په ضد او ستا د رضا او خوښې خلاف وکاروي، ستا له دښمنانو سره لاس يو کړي او ستا له دوستانو سره دښمنۍ ته ملا وتړي، ما ته ووايه چې د دې ناشکره او بې پاسه انسان په هکله به ستا قضاوت څه وي؟ د کومې سزا او بدلې مستحق به ئې ګڼې؟! که هغه ستا قضاوت ته وړاندې کړی شي، آيا د دې وړ به ئې وګڼې چې بيا ئې د مېلمه په څېر ومنې؟! آيا د ده په هکله به ستا قضاوت دا نه وي چې هغه د تکريم او تعظيم وړ نه دی؟! ما ته ووايه: د داسې قضاوت استعداد چا درکړی؟ چا درښودلې چې له داسې کس سره مخکنی سلوك بيا تکرارول مناسب نه دی؟ که ته ځان ته د دې قضاوت او پرېکړې حق ورکوې، آيا هغه ذات چې په تاکې ئې د قضاوت دا ماده اېښې، ته او ستا هغه بې پاسه مېلمه ئې پيدا کړي يئ، د داسې قضاوت حق نه لري؟! او هغه به له خپلو ناشکره بندګانو سره همغه څه نه کوي چې ته او هر انسان ئې له داسې کسانو سره مناسب ګڼئ؟!!

نو (يوم الفصل) به حتماً راځي، ټول خلك به بيا راژوندي کېږي، هر څوك به له خپل خپل قبر نه راپورته کېږي، ډلې ډلې به د الله په لور درومي، الهي محاکمې ته به وړاندې کېږي،د دوی د عملونو په هکله وروستۍ عادلانه پرېکړه به کېږي، ځينې به د کفران او طغيان په وجه په هغه جهنم کې پرېوځي چې د سرکښو او ناشکره انسانانو لپاره مناسب دائمي تمځی دی، نه به په هغه کې د څښلو يو غوړپ اوبه موندی شي او نه يوه لويشت سيوری او نه يوه شېبه له تودوخې آرام، خوراك او څښاك ئې تودې اوبه او نو، د دوی د عملونو او حرام خوراك، څښاك مناسبه سزا، خو ځينې نور به د خپلې تقوا او پاك لمنۍ په سبب د جنت مستحق ګڼل کېږي، دوی د خپل رب د نعمتونو پاس وساتو، له حرام خوراك او څښاك نه ئې ډډه وکړه، له ناولو کړو وړو ئې ځان لرې وساتو، د بل په حق له تېري نه ئې اجتناب

وکړو، د دوی بدله به جنت وي، د دوی عملونو ته ورته بدله.

i j k

ž. ÇÌÈ bqãûÂG/ê ï‹ï ûã “ï‰$ÇÌÈ Ó‹àè$ßÎ6Z9$Çã ÇÌÈ bq®ä$ ¡ Ff Ñã

ÇÎÈ bqçè‹™ ž. ÓêÇÍÈ bqçè‹™

۱- له څه نه يو بل پوښتي. ۲- له هغې سترې خبرې. ۳- کوم چې دوی پکې په خپله مختلف دي. ۴- نه، داسې نه ده، ژر ده چې به پوه شي. ۵- بيا هم داسې نه ده، ژر ده چې به پوه شي.

۳ـ۱ : څو اساسي مطالب په دې آيتونو کې ځان ښيي:

الف: قريشو د قيامت په اړه ډېرې پوښتنې يو له بله درلودې، له کومې ورځې چې دوی دا خبره واورېده چې پيغمبر عليه السلام دوی په آخرت باندې ايمان ته رابلي او ورته وايي: دا عالم د پای يوه ثابته نېټه لري، قيامت به راځي، د نړۍ دا موجود نظام به متلاشي کېږي، بله دنيا به له بلې ځمکې او آسمان سره راپيدا کېږي، ټول انسانان به بيا راژوندي کېږي، ټول به د الله په لوري درومي او د خپلو عملونو له ثواب او عقاب سره به مخامخ کېږي، قريشو به کله په حيرت او تعجب سره او کله په تمسخر او ملنډو سره له يوه بله پوښتنه کوله: آيا اورېدلي مو دي چې ستاسو دا ملګری څه وايي؟.!! آيا دا خبره د منلو ده چې له مرګه وروسته او پس له هغه چې هډوکي مو وراسته او په خاورو بدل شو، بېرته به راژوندي کېږو؟!! که دا خبره رښتيا وي نو زمونږ له پلرونو او نيکونو څخه خو کوم څوک بايد تراوسه

راژوندی شوی وی!!

قرآن د دوی دا پوښتنې داسې بیانوي:

قَالَ مَن يُحيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ * يس : ۷۸

وئې ویل: څوك به دا هډوکي له هغه وروسته راژوندي کوي چې وراسته وي؟

وَقَالُواْ مَا هِيَ إِلاَّ حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلاَّ الدَّهْرُ وَمَا لَهُمْ بِذَلِكَ مِنْ عِلْمٍ إِنْ هُمْ إِلاَّ يَظُنُّون * الجاثیه : ۲۴

او وئې ویل: (حقیقت) له دې پرته بل څه نه دی چې یوازې همدا زمونږ دنیوي ژوند دی، مرو او راژوندي کېږو او له زمانې پرته مو بل څه نه وژني، په داسې حال کې چې په دې هکله هیڅ علم نه لري، دوی هسې ګمان کوي.

وَقَالُواْ إِنْ هِيَ إِلاَّ حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ * الانعام : ۲۹

او وئې ویل: دا نه دی مګر زمونږ دنیوي ژوند او مونږ بیا راژوندي کېدونکي نه یو!!

ب: دوی د قیامت په هکله ثابت او واضح دریځ او رایه نه لري، هر یو ئې د خپل تخمین او ګمان له مخې بېله خبره کوي، په خپلو کې ژور اختلاف لري، ځینې دې قضیې ته له یوه اړخه ګوري او یوه برخه ئې مني او ځینې له بله اړخه ورته ګوري او بله برخه ئې مني، ځینې په بشپړه توګه ترې انکار کوي او ځینې په نسبي توګه.

ج: څوك چې د ژوند د قضایاوو په هکله د ګمان او تخمین له مخې او د خپلې سلیقې او هوا او هوس په حکم قضاوت کوي او خاص او ځانګړې رأیه وړاندې کوي او د خپلو باورونو او انګېرنو لپاره نه عقلي دلایل لري او نه علمي بنسټونه، تل او د هرې قضیې په اړه به دې ته ورته اختلافاتو سره لاس او ګرېوان وي.

د: داسې نه ده چې دوی ګمان کوي، (قیامت) به حتماً راځي، ډېر ژر او هرو مرو به د هغه په حقیقت پوه شي، جهل او ناپوهي دوی مخالفت ته هڅولي، تراوسه ئې داسې دلایل نه دي اورېدلي او داسې شواهد ئې نه دي موندلي چې د آخرت په اړه د دوی ظن او ګمان په یقین بدل کړي او د دوی شکوك او شبهات رفع کړي، خو دا دلائل او شواهد به ډېر ژر او حتماً د دوی مخې ته راشي، د دوی کمزوری نظر او

مرږواندی عقل به په دې حقيقت پوه شي چې د قيامت خبره رښتيا ده، خو که د دلايلو او شواهدو له ليدو سره سره ئې ايمان رانه ووړ، ډېر ژر به قيامت په خپلو سترګو وګوري او په حقيقت به ئې پوه شي.

**۴-۵**: په څلورم او پنځم آيت کې که څه هم الفاظ تکرار شوي خو دوه بېل بېل مطالب افاده کوي، په لومړي کې دا ويل شوي چې د قيامت په اړه دلايل او شواهد به هرومرو د دوی مخې ته راشي او په حقيقت به پوه شي، په دې مبارکې سورې کې هم او د قرآن په نورو سورتونو کې به هم، کافي او قانع کوونکي دلايل وړاندې شي. او په ورپسې آيت کې په همغو الفاظو سره دې مطلب ته اشاره شوې چې که د دلايلو له مخې د قيامت راتګ ونه مني نو قيامت به په خپله راشي، دوی به ئې په خپلو سترګو وګوري او په حقيقت به ئې پوه شي. له قريشو نه ډېرو هغو کسانو چې مخکې ئې قيامت محال او ناممکن بللو او له هغه ئې په کلکه انکار کاوو، د قرآن د مضبوطو دلايلو په اورېدو سره قانع شول او په آخرت ئې ايمان راووړ، د دوی ايمان د همدې څلورم آيت مصداق وو. دې مطلب ته مو بايد پام وي چې (س) يوازې د نږدې راتلونکې لپاره نه راځي، بلکې ډېر ځله يوازې د تأکيد لپاره راځي، متأسفانه ځينو کسانو اورېدلي چې (س) يوازې د نږدې مستقبل لپاره کارول کېږي، حال دا چې دا خبره په ځينو مواردو کې صحيح ده نه په ټولو کې او دا يوازې د ځينو مفسرينو رأيه ده ، نه د ټولو، دلته هم په څلورم آيت کې د نږدې راتلونکې لپاره راغلی او په پنځم آيت کې يوازې د تأکيد لپاره، ځکه قيامت نږدې مستقبل نه دی. مونږ بايد د صرف او نحوې قواعد هم د قرآن له مخې زده کړو، نه دا چې د يوه نحوي عالم ځانګړې رايه خامخا پر قرآن تحميل کړو.

---

ÇÌÈ %[ °rø ðB»Ÿ}þ z r ÇÌÈ #Š$?#« A$7ø@r ÇÌÈ #%»gÌB Ú ðF $È@èµÎ Ó9«

$Ø$èB '$K]9$$Züè _r ÇÌÈ $Ü$7Ï Ÿð@$$Züè _r ÇÌÈ $?%7B' ðBBöR $Züè _r

ÇÌÈ

۶- آیا نه ده ګرځولې مو دا ځمکه یوه زانګو؟ ۷- او دا غرونه، څه مېخونه؟ ۸- مګر نه مو کړئ پیدا جوړه جوړه؟ ۹- ستاسو خوب مو کړ لامل د هوساینې؟ ۱۰- او دا شپه مو کړه په څېر د یوه پوښاك؟ ۱۱- او دا ورځ مو کړه مهال د ژوند او ژواك؟

**۶.** لږ دغې ځمکې ته وګوره چې په غېږ کې ئې ژوند کوې او پر اوږو ئې درومې، ستا لپاره یوه زانګو، نه ډېره سخته او کلکه، هومره چې د استفادې وړ نه وي او نه هومره نرمه او پسته چې نه پرې تګ ممکن وي او نه د اوسېدو وړ، نه ډېره توده او نه له اندازې زیاته سړه، ستا له طبیعي جوړښت سره متناسبه، هوا ئې معتدله، ستا د اوسېدو لپاره جوګه، تیاره یوه زانګو، داسې چې که ئې وضعیت لږ تر دې بدل وی، د تودوخې درجه ئې زیاته یا کمه، فشار ئې لږ یا ډېر، د ورښت اندازه ئې زیاته یا کمه او بله هره عادي تبدیلي او تغییر ئې نظم له منځه وړي، ستا ژوند له جدي ګواښ سره مخامخ کوي او دا زانګو ستا لپاره ګور ګرځوي!!

**۷.** د ځمکې له اوارو نه لږ د لوړو په لور، غرونو ته سترګې واړوه، آیا دې ته دې پام شوی چې دا غرونه ستا د ځمکې مېخونه دي او ونډه ئې د ځمکې د زانګو په راټینګولو او تمولو کې هومره ده لکه د کېږدۍ په درولو کې د مېږویو او د یوه صندق په جوړولو کې د مېخونو، هو دا د ځمکې مېخونه دي، په څو معنا:

الف: داسې مه انګېره چې دا غرونه یوازې د ځمکې پر سر لوړې دي، ګمان مه کوه چې د ځمکې پورتنۍ برخه ګونځې شوې او دا لوړې او ژورې په کې راپیدا شوې، تا ته به غرونه د خاورو او تیږو لوړې غونډۍ برېښي، خو حقیقت داسې نه دی، غرونه د مېخونو په څېر د ځمکې په زړه کې ننوتي، لویه برخه ئې د ځمکې په زړه کې او وړه برخه ئې راوتلې او د ځمکې پر سر ده. او آیا پوهېږئ چې دا د قرآن یو

بل ستر علمي اعجاز دی، انسان اوس او په شلمه پېړۍ کې په دې پوه شو چې واقعاً غرونه هسې د ځمکې د سر لوړې نه دي، بلکې د مېخونو په څېر ئې لويه برخه د ځمکې په زړه کې او وړه برخه ئې د ځمکې پر سر ده.

ب: دغو سترو او درنو غرونو د ځمکې بېلې بېلې برخې په خپلو کې سره کلکې نښلولي، داسې لکه د اوسپنې تختې چې د ولډنګ په ذريعه په خپلو کې سره ونښلي، دا غرونه د ځمکې پر سر هغه درانه پېټي وګڼئ چې نه پرېږدي د ځمکې هغه کلك او ډبرين پوستکی چې تر خاورو څو کيلومتره لاندې دی، د هغه فشار په وجه مات شي چې د ځمکې له زړه نه د خوټېدونکو موادو نه راولاړېږي، په دې ترتيب غرونه د ځمکې د زلزلو مخنيوی کوي، انسان له ډېرو علمي څېړنو نه وروسته نن په دې حقيقت پوه شوی چې د ځمکې تر خاورين قشر لاندې، د کلکې ډبرې پربړ پوستکی راتاو شوی او د ځمکې په زړه کې د ډېر فشار او تودوخې په وجه هر څه ويلي او د خوټېدو په حالت کې دي، له دې نه چې کوم فشار راپيدا کېږي هغه داسې وګڼئ لکه په سره اور پروت، د خوټېدو په حال کې د بخار د بګ چې له داخله تر سخت فشار لاندې وي، د ځمکې ډبرين پوستکی هم دې ته ورته د ډېر ستر فشار لاندې وي، که دا غرونه او د دوی زيات وزن نه وی نو د دې فشار په وړاندې به ئې د مقاومت تاب نه درلود او دلته هلته به يو په بل پسې ماتېدو او زلزلې به راولاړېدې. دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دی چې غرونه ئې د (مېخونو) او (لنګر) په نامه ياد کړي او دا هغه حقيقت دی چې انسان فقط په دې پېړۍ کې ورباندې پوه شو. قرآن دا حقيقت هم بيان کړی چې د غرونو له راپيدا کېدو د مخه ځمکه خوځېده، له پرله پسې زلزلو سره مخامخ وه، الله تعالی غرونه ورباندې راپيدا کړل او دا خوځښت ئې سنبال شو او دا هم د غرونو په ارتباط يو بل ستر علمي حقيقت دی چې انسان اوس ورباندې پوه شوی.

ج: په دې هم پوهېږو چې غرونه د اوبو زېرمې په خپلې سينې کې ساتي، د واورې ستر ستر ذخاير له فوري ويلي کېدو ساتي، نهرونه، چينې او کارېزونه له همدې غرونو نه رابهېږي، د مختلفو سيمو د هوا او موسم په تغيير او د رنګ رنګ

نباتاتو په زرغونېدو کې د غرونو ونډه ډېره اساسي او ټاکونکې ده، نو غرونه له دې پلوه هم د ځمکې د خېمې لپاره د مېخونو حیثیت لري چې د ژوند د بقا او ژوندیو ته د رزق او روزي په برابرولو کې مؤثره ونډه لري.

۸ـ د اتم آیت په اړه باید څو اساسي ټکیو ته متوجه وو:

الف: انسانان جوړه جوړه، نر، ښځه پیدا شوي، یو د بل مکمل او بشپړ کوونکی، هر یو ئې د بل تر څنګ د ډاډ، اطمئنان، سکون او آرامۍ احساس کوي او یو له بله د بېلوالي په صورت کې د نقص، کموالي او د کوم ضروري او حیاتي شي د ورکولو احساس کوي، د دغو جوړو ترمنځ جاذبه او مینه له همدې احساسه راولاړېږي او همدا جاذبه او مینه د انسان د نسل د بقا لپاره ضروري ده، له دې پرته د انسان د نسل دوام ممکن نه وو.

ب: د قرآن له نظره انسان، حیوان او ټول ژوي او د عالم هر څه جوړه جوړه پیدا شوي، قرآن د طبیعت د ټولو توکو تر منځ (زوجیت) د کمال او دوام باعث ګڼي. دا دقیقه نظریه د هغه بې بنسټه او غلط تصور کاملاً خلاف ده چې د کمونستانو ماتریالستي فلسفه ئې د تکامل د عواملو په اړه وړاندې کوي، هغوی (تضاد) او د متضادو توکو ترمنځ دائمي (نزاع) د تکامل وسیله ګڼي!! دا په داسې حال کې چې ټول عالم د (ازواج) او جوړه جوړه توکو مجموعه ده، د دې خور عالم په هیڅ برخې کې د تضاد او عدم زوجیت بېلګه نشو موندلی، د عالم په هرې برخې کې د دې حقیقت شاهد یو چې تکامل د ازواج او جوړو ترمنځ د ګډ کار او ژور تنسیق نتیجه ده، په حیواناتو او نباتاتو کې په څرګنده ګورو چې یو ئې څه د (ورکولو) لپاره لري او بل ئې د (اخیستلو) لپاره، د یوه ورکول یوه اړتیا وي او د بل اخیستل، همدغه احساس یو بل ته نږدې کړي، یو د بل نقص او اړتیا ته ځواب وایي او ضرورت ئې رفع کړي، همدا د دواړو ترمنځ د راکړې ورکړې رابطه او تنسیق د نوي موجود د پیدا ښېنت باعث شي او د دغې (جوړې او زوج) د نسل دوام او بقا میسر او ممکن کړي. د طبیعت په عناصرو کې هم ګورو چې دوه توکي یوازې هغه وخت یو له بل سره ترکیب کېدی شي او نوی او ځوان توکی رامنځته کولی شي چې یو ئې د بل

مکمل وي، يو ئې د ورکړې لپاره کوم اضافي شی ولري او بل ئې د اخيستو لپاره تش ځای، دا دواړه يو بل ته لاس ورکړي، سره يو شي، يو د بل مکمل شي، يو ئې د بل بار په اوږو واخلي او بل ئې د خپلې جوړې تشه ډکه کړي او په همدې سره نوی ترکيب رامنځته کړي، د عالم ټول مرکبات همداسې جوړ شوي، د (تضاد) نظريه، واهي او بې بنسټه ده او په عالم کې د تکامل د عواملو له توجيه نه سخت عاجز او ناتوانه او د هيڅ څه د تکامل د څرنګوالي په اړه صدق نه کوي.

۹. تاسو خوب ته ضرورت لرئ، داسې يوه فرصت ته چې په ورځني کار کې خپله مصرف شوې انرژي او قوت جبران کړئ، دمه وکړئ، اعصاب مو لږ آرام وکړي او ستړيا مو رفع شي، الله تعالی تاسو داسې پيدا کړي يئ چې له څه وخت کار نه وروسته خوب درباندې غلبه وکړي، په خپله راشي، حتی ستا له اجازې او موافقې پرته راشي، لاس، پښې مو دروتړي او له ځان سره مو بيايي، د خوب مهار ئې ستا په واك کې نه دی درکړی، بلکې ستا مهار ئې د هغه لاس ته ورکړی، چې کله ستومانه شې او ستا ستوماني او ضعف هغه ځای ته ورسېږي چې نور نو هيڅ کار نشې کولی، ناڅاپه دې خوب خوا ته راشي، ستا کار درباندې متوقف کړي، ستا د وجود ببلابېلو برخو ته دا فرصت ورکړي چې خپلې نيمګړتياوې پوره کړي، خپله ستوماني رفع کړي او د راتلونکي پړاو لپاره کار ته ځان چمتو کړي، ګورې چې ( ستا په خوب) کې څومره ستر مصلحت او حکمت پروت دی!! که (خوب) نه وی او يا ئې مهار د انسان په واك کې وی، څومره ستر ستر مصيبتونه به ئې انسان ته راولاړ کړي وو؟!! حريص انسانانو به خپل ټول توان او ځواك په لنډې مودې کې مصرفاوو، خپله روغتيا به ئې په خطر کې اچوله او خپل ژوند به ئې د مرګ له ګواښ سره مخامخ کاوو!!

۱۰. تاسو د (خوب) لپاره دوو شيانو ته ضرورت لرئ: تياره او خاموشي، نه په رڼا کې سم او ژور خوب کولی شئ او نه له شور او ځوګ نه ډك محيط کې، ناڅاپي ګورې چې ستا مرستې ته شپه راشي، خپل تور وزر په هر څه او هر ځای خور کړي، غږونه خاموش شي، هر د غږ خاوند د خوب غېږ ته پناه يوسي او په دې

سره ستا د خوب لپاره مناسب شرايط برابر شي.

۱۱ـ تاسو د خپل ژوند مخکې بيولو او د خپل معاش او رزق، روزي د تأمين لپاره ورځې ته ضرورت لرئ، ترڅو د هغې په رڼا کې هر څه وپېژنئ، مفيد له مضر نه تفکيك کړئ، دوست له دښمن نه بېل کړئ او په خپل چاپېريال کې د شته توکو د کارولو امکان ترلاسه کړئ. د ځمکې او آسمانونو خالق ځمکه داسې جوړه کړې او د ځمکې او لمر ترمنځ فاصله او د ځمکې حرکت په خپل محور او د لمر په محور ئې داسې تنظيم کړی چې کله د ځمکې پر سره شپه وي او کله ورځ، نه شپه هومره اوږده وي چې ځمکه تر ضرورته زياته سړه شي او نه ورځ هومره اوږده چې ځمکه تر لازم حده زياته توده شي، بايد يوه په بلې پسې راشي، تر هغه ستا خوا ته پاتې شي چې ضروري وي، ستا اړتيا رفع کړي، خپل کارونه ترسره کړي، بېرته ولاړه شي او خپل ځای بلې ته خالي کړي!! که دا دقيق نظم نه وی، شپه او ورځ تر خپل اوسني وخت لنډه يا اوږده وی، د لمر او ځمکې تر منځ واټن کم يا زيات وی، د ځمکې چورلېدل او خوځېدل تند يا سست وی، نو د ځمکې پر سر به ژوند ممکن نه وو.

---

`Ë $ZØ/R&r ÇÌÈ %[ $ödr %[ #ŽÅ $Zùè_r ÇËÈ #Š#%Ï© $ÉYÖ™ NÖã%öqù $ZŠØ/r

$ùŠ$ÿØ BÎ»Z_r ÇÎÈ $Y$7Rr $[m ¾ïhÎ I Ì÷; ãÏ ÇÍÈ %[ $gR [$B ÏN ŽÅÇ èÆ3$ 

ÇÌÈ

---

۱۲- او له تاسو بر مو جوړ کړل کلك اوه ګوني. ۱۳- او جوړ کړی مو ځراغ دی روڼ او تود. ۱۴- او اوبه مو کړې راتوی له نښتېځونکو پرله پسې. ۱۵- چې راوباسو په دې سره څه بوټي څه دانې. ۱۶- او سمسوره ګڼ باغونه.

---

۱۲ـ د ځمکې پر سر ستاسو دا تمځی داسې دی چې د ځمکې سطح ئې ستاسو

د کور فرش اوه آسمانونه ئې چت، کهکشانونه او ستوري ئې فانوس، لمر ئې څراغ او سپوږمۍ ئې د شپې شمع ده. قرآن دې ته په اشارې سره چې ستاسو له پاسه مو محکم اوه ګوني پيدا کړي، څو اساسي خبرو ته اشاره کوي:

الف: يا خو زمونږ دا ځمکه اوه فضائي مدارونه لري او يا دا ټول عالم د آسمانونو په نامه اوه طبقو احاطه کړې. په قرآن کې کله ګورو چې له ځمکې نه برې فضاء ته آسمان ويل شوي او فرمايي چې باران له آسمانه وروو او معلومه ده چې باران له هغو وريځو راوريږي چې فاصله ئې زمونږ له ځمکې نه تر لسو کيلومترو کمه وي. او کله د ستورو موقعيت ته آسمان ويل شوي او وايي چې په ستورو سره مو د دنيا نږدې آسمان ښاېسته کړی، يعني ټول ستوري تر لومړي آسمان رالاندې دي.

ب: ګورو چې دا اوه ګوني طبقې ډېر مضبوط او دقيق نظام لري، ټول سماوي اجرام ئې په خپلې غېږ کې کلك نيولي، يو له بل سره د دوی له ټکر او تصادم نه مخنيوی کوي، نه پرېږدي چې يو د بل په مدار کې ننوځي، ستر ئې ووړ جذب کړي، هر يو په منظمه توګه، په خپل خپل مدار کې خوځي، هر يو په خپل خپل ځای کې ساتي، د دغو بې شمېره سماوي اجرامو دا دقيقه ساتنه ښيي چې زمونږ په فضاء کې يو مضبوط، ځواکمن او دقيق نظام حاکم دی.

ج: الله تعالی د ځمکې فضاء داسې جوړه کړې چې له يوې خوا د هغو مضر او تاواني وړانګو او پلوشو مخنيوی وکړي چې له لمر نه د ځمکې په لور رادرومي او له بلې خوا د يوه مضبوط چت په څېر پر ځمکې د شهاب ثاقب له راپرېوتو مانع شي، کوم شهابونه چې د ځمکې په لور راځي له دغې متکاثف او پربړې فضاء سره له ټکر او تصادم نه وروسته يا ويلي شي او يا ئې مسير بدل شي او له ځمکې نه ئې مخه بل لوري ته واوړي او د هوا همدا طبقه د ځمکې تودوخه ساتي او په لايتناهي فضا کې ئې د خوربدو مخه نيسي، هغه ستوري چې داسې متکاثفه او پربړه فضاء نه لري له يوې خوا په پر له پسې توګه شهابي تيږې ورباندې راپرېوځي او له بلې خوا ئې د شپې له پلوه هوا ډېره سړه شي.

۱۳ـ هغه حکيم ذات چې دا کائنات ئې پيدا کړي، لمر ئې داسې ګرځولی او فاصله ئې له ځمکې نه دومره ټاکلې چې زمونږ دوو اړتياوو ته ځواب ويلی شي: مونږ ته رڼا او تودوخه راکړي، زمونږ دا د ځمکې کور هم تود کړي هم روښانه، لمر ئې (سراج او وهاج) يعني (تود او ځلانده څراغ) ګرځولی، زمونږ دواړو جدي او حياتي اړتياوو ته ځواب ويونکی، د لمر د نور او حرارت په مقدار کې ډېر لږ تغيير او د ځمکې او لمر ترمنځ په اوسني واټن کې ډېره لږه تبديلي او د شپې او ورځې په اوسنۍ اندازې او د ځمکې په خپل محور چورلېدو او د لمر په محور خوځېدو کې ئې معمولي تبديلي د دې باعث کېږي چې د ځمکې پر سر دا موجود تعادل له منځه ولاړ شي او په هغې کې ژوند ناممکنه شي.

زمونږ ځمکه له لمر نه ۹۳ مليونه ميله فاصله لري، د لمر حجم د ځمکې د حجم ۱۰۹ برابره ده او د لمر د سطحې تودخه د سانتي ګراد په حساب ۱۴ مليونه درجې ده، سره له هغه اوږده واټنه چې له لمر نه ئې لرو، نشو کولی په عادي سترګو څو ثانيې لمر ته وګورو، د ځمکې په ځينو برخو کې چې د لمر وړانګې پر له پسې پرې لګېږي د حرارت درجه کله کله ۱۴۰درجو ته ورسېږي، که زمونږ ځمکه لږ لمر ته نږدې وی نو تودوخه به ئې هومره وه چې نه به انسان او حيوان پرې ژوند کولی شو او نه به بوټي ورباندې راشنه کېدی شول او که ئې فاصله له لمر نه تر دې زياته وی نو سختې يخنۍ به د ځمکې پر سر د ژوند مجال له منځه وړ، خو دا فاصله داسې تنظيم شوې چې مونږ د لمر له نور او حرارت نه د ضرورت په اندازه ګټه واخيستی شو.

۱۴ـ په دې مبارك آيت کې، وربځې د معصرات يعني زبېښېدونکي په نامه يادې شوې، په دې پوهېږو چې وربځې د اوبو متکاثف او راغونډ شوي بخارات دي، چې د هوا د فشار او تودوخې په تغيير سره د اوبو په څاڅکو واوړي او د باران، واورې او ژلۍ په څېر ورېږي، د لمر وړانګې د دې باعث شي چې د سيندونو اوبه تبخير شي، په وربځو واوړي، بادونه ئې په خپل سر واخلي، لرو لرو سيمو ته ئې انتقال کړي، د غرونو پر جګو څوکو د واورې په څېر او په اوارو او معتدلو برخو د

باران په څېر ووربږي، که دا نظام نه وی نو ځمکه به د ژوند لپاره وړ نه وه، د دې موضوع په اهميت هلته ښه پوهېدی شو چې څو اساسي ټکيو ته پام وکړو:

لومړی- که د بحرونو اوبه تبخير نشي او د وربځو په توګه فضاء ته پورته نشي، ځينې برخې ئې په فضاء کې، ځينې ئې په غرونو او سړو سيمو کې د واورو د سترو سترو زېرمو په شکل کې او ځينې ئې د ځمکې لاندې برخې کارېزونو او چينو کې او يوه برخه ئې د ځمکې پر سر د نهرونو په څېر خوندي نشي، ټوله ځمکه به په اوبو کې غرق او ټولې وچې به تر اوبو لاندې شي.

دوهم- د څښاك هيڅ پاکې اوبه به مو نه درلودې، له لنډې مودې وروسته به ټولې اوبه د سيندونو د اوبو په څېر تروې، ناولې او تېزابي کېدې او د څښلو وړ به نه وې.

درېيم- د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو لپاره چې هره ورځ څومره اوبه په کار دي، دا لوی مقدار صافي او د استفادې وړ اوبه برابرول له بلې هيڅ لارې او په بلې هيڅ عمليې سره ممکن او مقدور نه ده، د (ثجاج) لفظ چې د پرېمانه او پر له پسې په معنا ده د همدې لپاره په دې مبارك آيت کې راغلی او همدغه حقيقت ته اشاره کوي.

څلورم- محتاجو او اړو سيمو ته د دې مقدار اوبو انتقال هومره پراخو امکاناتو ته ضرورت لري چې د انسان له توانه ډېر ډېر اوچت دی، آيا په دې پوهېږئ چې يوه واړه ښار ته پاکې اوبه رسول، څومره ګران کار دی او څومره مصارف غواړي، د دې پوښتنه له هغو ملکونو وکړئ چې د بحر خوا ته پراته او د ځمکې لاندې اوبه ئې تروې دي او دې ته اړ چې د بحر اوبه تصفيه کړي ترڅو خپلو خلکو ته د څښاك صافي اوبه برابرې کړي.

پنځم- دا وربښت دی چې د ځمکې هوا تصفيه کوي، فضاء له زهرجنو او مضرو ګازونو، مکروبونو او ګندګيو نه تصفيه کوي او استنشاق او تنفس ته ئې تياروي، له وربښت نه پرته له بلې لارې د ځمکې د سر د ټولو حيواناتو او انسانانو د ضرورت وړ دومره زياته صفا هوا برابرول ممکن نه ده، په بلې هيڅ عمليې دا کار نشي

کېدی.

**۱۲-۱۵**: په دې دوارو آيتونو کې د ورښت هدف ته داسې اشاره شوې: له آسمانه په دې ورېدونکو اوبو سره ستاسو له ځمکې نه بوټي او ونې او دانې او مېوې راباسو، آسمان ستاسو لمر په خپلې غېږ کې نيولی، د ځمکې په لور خپلې وړانګې خوروي اوبه تبخيروي، دا بخارات په ورېځو بدل شي، لرو لرو سيمو ته انتقال شي، له بره پر تاسو باران وروي او په همدې باران سره د ځمکې له زړه نه دانه او مېوه راپيدا کوي، آيا دا تاسو ته په ډېر صراحت او وضاحت سره نه وايي چې د ځمکې او آسمان تر منځ دقيق يووالی او تنسيق حاکم دی، دواړه يو بل ته لاس ورکوي او د يوې دقيقې منصوبې او طرحې له مخې په ګډه کار کوي او ستاسو اړتياوو ته ځواب وايي، بوټي او ونې د ځمکې ختې زېږوي، ستاسو د ضرورت وړ توکي جذبوي او له هغه نه داسې ښکلې دانې او مېوې جوړوي چې رنګ ئې ښايسته، خوند ئې لذيذ، بوی ئې ښکلی، شکل ئې جذاب او هضم ئې آسانه او همدا ستا غذا! دا بهير مونږ ته ښيي چې د ځمکې او آسمان د چارو تدبير له يوې مرجع ترسره کېږي او له دې بهير نه ثابتېږي چې څه په آسمان کې ترسره کېږي او څه پر ځمکه واقع کېږي، دا ټول د يوې دقيقې او منظمې منصوبې له مخې ترسره کېږي، دلته هر حرکت هدفمندانه دی، دلته هرڅه سم پيدا شوي او په سم لور خوځي، نه څه خوشې او عبث پيدا شوی او نه په خپل سر او بې مقصده لګيا دی.

---

%[ #qùü bqéÛFù ÍqÁ 9$ † Î ä¡ÿZãPöÿ ÇÊÈ $I») ‹Ë b%. ÈéÁÿ9$Pöÿ bÎ]

$I#Ž ÔMR%3ù ä$7ÅÈ$ÏNŽÉ'r ÇÊÈ $I°qä ÔMR%3ù ä$J¡ 9$ÏM sÏèr ÇÊÑÈ

ÇÊÈ

---

۱۷- بې شکه چې د پرېکړې ورځ ټاکلې يوه نېټه ده. ۱۸- هغه ورځ، چې پو به

شي شپېلۍ کې، نو راځئ به ډلې ډلې. ۱۹- او آسمان به پرانستی شي، نو شي به درې درې. ۲۰- او روان به کړی شي غرونه، نو شي به سرابونه.

---

۱۷ـ نو په دې حقيقت کې شك مه کوه چې (يوم الفصل)، ستاسو د ښو او بدو په هکله د قضاوت ورځ، د صالح او طالح تر منځ د تفکيك او توپير ورځ به راځي، ميقات ئې ثابت دی او نېټه ئې نه بدلېدونکې، حتماً او په ټاکلې وخت به راځي، ټول کائنات د دې خبرې په حقانيت شهادت ورکوي، د عالم په طول او سور کې هرې خوا ته موجود دقيق نظم او هدفمندي د دې ورځې د حتمي راتلو تقاضا کوي.

مګر نه ګورئ چې الله تعالی مړه ځمکه په يوه باران سره راژوندۍ کړي، همداسې به تا هم د ګور له خاورو نه ژوندی راباسي، آيا هغه ذات چې انسان ئې په لومړي سر کې هم له خاورو راپيدا کړ او بيا ئې د ده نطفه هم تل له خاورو جوړه کړه، په دې قادر نه ګڼې چې بيا به ئې له خاورو راپيدا کړي؟! آيا هغه ذات چې انسان ئې د يوې دقيقې منصوبې له مخې، جوړه جوړه پيدا کړ ترڅو د نسل بقا ئې تضمين کړي، له دې عاجز ګڼې چې بيا دې راژوندی کړي؟!!

په آخرت نه ايمان په دې معنا ده چې دا خور وور او ستر عالم نه د کوم څرګند او واضح هدف لپاره پيدا شوی او نه روښانه او واضحه پايله لري، خوشې او د هيڅ لپاره پيدا شوی، نه ئې د پيدا ښت لپاره کومه دقيقه منصوبه وه او نه کوم هدف او مقصد په پام کې!! دا غلط تصور او خطا انګېرنه داسې ده چې د عالم هيڅ څه ئې نه تائيدوي، د عالم له هر څه نه د يوه عقلمند او باشعوره انسان له انتباه سره تصادم کوي، مګر تاسو ونه ليدل چې قرآن په دغې مبارکې سورې کې د ځمکې او آسمان څومره شيان زمونږ مخې ته کېښودل او د هر يوه د پيدا ښت مقصد او هدف او د دوی ترمنځ ژور يووالی او تنسيق ئې مونږ ته بيان کړ؟! آيا د انسان عقل دا منلی شي چې د عالم هر څه دې هدفمند وګوري خو خپل پيدا ښت دې عبث او خوشې وګڼي؟! داسې چې ښه او بد ئې برابر او هر کار ئې عادي او طبيعي وګڼلی شي، که آسمان، ځمکه، لمر، ورېځې، بادونه، باران، دانه، نبات او ونه د خپل فطرت د

تقاضا او غوښتنو خلاف کوم کار وکړي او د خپلو دندو په ترسره کولو کې پاتې راشي، کوم خطرناك حالت به رامنځته شي؟ څنګه ومنو چې انسان په دې عالم کې یوه استثنا ده، کولی شي د خپل فطرت خلاف عمل وکړي او له هغه مسیر نه یوې خوا بلې خوا ته منحرف شي پرته له دې چې د خپلې غلطۍ له بدو پایلو سره مخامخ شي؟!!

۱۸ـ په هغه ورځ به په شپېلۍ کې له پو کېدو سره سم، ټول له قبرونو نه راپورته کېږئ او فوځ فوځ به د الله حضور ته وړاندې کېږئ. په شپېلۍ کې پو کېدل داسې وګڼئ لکه په یوې سترې نظامي اډې کې چې د ترم له غږ سره سم، ټول فوځیان له کاغوشونو او خېمو نه راوځي او په منډه منډه د تعلیم میدان ته ځان رسوي او یا ئې داسې وګڼئ لکه چې په آسمان کې د تالندې غږ اورو، له غږ سره سم خپلې سیمې ته د وربځو راتګ ګورو، د باران وربدل پیل شي، له دې باران سره متصل د ځمکې تر قشر لاندې د نباتاتو زړې وخوځېږي، وده وکړي او سر له ځمکې راوباسي، تاسو به هم د قیامت په ورځ په شپېلۍ کې د پو کېدو سره سم راژوندي کېږئ، له خپلو قبرونو نه به راپورته کېږئ او د خپل رب په لور به ډلې ډلې درومئ. دا ډلې ډلې به د خلکو د باورونو او عملونو له مخې جوړې شوې وي، هره ډله به له خپل خپل لارښود او مشر سره یوځای محشر ته ځي او د الله په وړاندې به ودرېږي.

۱۹ـ ۲۰ : دا مضبوط او محکم آسمان چې نن ستاسو د ډاډمن کور لپاره د یوه محفوظ چت حیثیت لري، د قیامت په ورځ به چاودونه پکې راپیدا شي، سوری سوری به شي، په هرې ګوښې کې به ئې پرانستې دروازې جوړې شي، د یوې داسې زړې خونې پرېوتې او سورې شوې چت ته به ورته شي چې د خونې منځ ته د هیڅ شي د راپرېوتو او توئېدو مخنیوی نشي کولی.

که څه هم ځینې محترم مفسرین په آسمان کې دا د دراوزو پرانیسته د قیامت د دوهمې مرحلې پېښه ګڼي، خو وروستی آیت په ډېر صراحت سره دا ښیي چې دا د قیامت د لومړۍ مرحلې یوه پېښه ده، دا ځکه چې د انسانانو بعثت او بیا ژوندون په هغې مرحلې کې ترسره کېږي چې لومړۍ مرحله تېره شوې، مخکنی نظام له منځه

تللی او نوې ځمکه او نوی آسمان پيدا شوی وي، هغه وخت به ځمکه د يوه خور او اوار ميدان په څېر وي، نه به لوړې ژورې وي او نه به ئې په آسمان کې چاودونه، په ۱۹او ۲۰ آيت کې چې کومو پېښو ته اشاره شوې، د غرونو خوځېدل او د آسمان چاودېدل په لومړۍ مرحلې کې او د انسانانو د بيا پيداښت نه مخکې رامنځته کېږي، انسان د قيامت په دوهمې مرحلې کې راژوندی کېږي، خو دا مجدد بعثت په دې دليل تر دغو دوو پېښو وروسته ذکر شوی چې د دې سورې د بحث اصلي موضوع همدا ده او مطلب په دې شکل بيان شوی: د وروستۍ پرېکړې ورځ به راځي، په شپېلۍ کې په يوه پو کېدو سره به تاسو ټول له خپلو قبرونو راپورته کېږئ او ډلې ډلې به د الله حضور ته درومئ، دا سفر به هغه وخت پيل شي چې آسمان دړې وړې شي، غرونه له خپل خپل ځايه وخوځېږي او سراب ترشا پرېږدي، دغه دنگ دنگ غرونه چې نن ستاسو د ځمکې مېخونه دي، داسې به ټوټه ټوټه او ذره ذره شي لکه دوړه په شګلن ميدان کې، لکه پاشل شوې وړۍ او لکه سراب چې لرې اوبه برېښي خو چې خوا ته ئې ورشې هيڅ نه وي، هغه ځمکه چې دا ستر ستر غرونه پرې پراته وو، په داسې اوار ميدان به بدله شي چې سرابونه به پکې ترسترګو کېږي.

---

ÇËÌÈ $YI$) ôm& $kŽÏi ûüŸÎ»©ÇËËÈ $YI$«B ûüó©Ö=j ÇËÂÈ #Š$ ¹ óÉ6MR%. OYg_ bÎ

$%$ùÍr ä#“_ ÇËÎÈ $]$¡¡ îr $VŠÏq žwÎ ÇËÍÈ $/#ŽŸ Ÿwr #Šö‘ $kŽÏi bqè%räƒ žw

ÇËÑÈ $Y#¤Ï. $ZÎ»ƒ$«Î (qç/¤.r ÇËÐÈ $YI$¡Ïm bqã_ö‘ Ÿw (qçR$Ÿ2 öNåkÎ ÇËÏÈ

ÇÌÉÈ $/#‹ã žwÎ Nä‰ƒÌR ` =ù (qè%räù ÇËÒÈ $YGÅ2 çm»YŠ|ÁômO &äó_ «@är

---

۲۱- بې شکه چې دوزخ دی کمين ځی. ۲۲- سرکښانو ته تمځی. ۲۳- په هغه

کې درنګ کوونکي اوږدې اوږدې پيړۍ. ۲۴- نه به په کې وڅکي څه سوړوالی، نه څه څښاك. ۲۵- مګر ګرمي او تودې اوبه او نو. ۲۶- برابره وړ سزا. ۲۷- دوی وو چې ئې هيله نه کوله د حساب. ۲۸- اودروغ به ئې ګڼلو آيتونه زمونږ په دروغو. ۲۹- او هر څه مو ګڼلي په ليکلو. ۳۰- نو وڅکئ چې درزيات به نکړو مګر بل عذاب.

---

۲۱ـ ۳۰: جهنم هغه کمينځی دی چې ځانګړتياوې ئې دا دي:

الف: ياغيان او باغيان، د خپل طغيان له پايلو بې خبره سرکښان، په ټوله بې باکۍ سره د هغه په لور درومي، نه پوهېږي چې څو ګامه مخکې دوزخ ورته کمين کې او د دوی لپاره منتظر.

ب: د سرکښانو لپاره وړ او مناسب ځای.

ج: دا د څو ورځو لنډمهاله تمځی نه دی، په پېړيو پېړيو به هلته پاتې وي، دا اوږده موده د هغه وخت په اندازه ده چې که دوی ته په دنيا کې مهلت ورکړی شوی وی نو له خپلې سرکښۍ به ئې لاس نه وو اخيستی، دوی مصمم وو تل او تر هغه چې کولی شي بغاوت او سرکښي وکړي، نو ځکه به اوس د تل لپاره دلته پراته وي.

د: هغه چې په دنيا کې ئې د الله تعالی د بې شمېره نعمتونو په وړاندې ناشکري وکړه، د پاك او حلال رزق په ځای ئې ناپاك او حرام رزق غوره کړ، د دې په ځای چې د نعمتونو وفرت او د دوی سوکالي په دوی کې د شکر او امتنان احساس راولاړ کړي، برعکس په دوی کې ئې د بغاوت او طغيان شوق راولاړ کړ، همدا نعمتونه ئې د ظلم، کبر، لوبيي او بغاوت په لار کې وکارول، نو خود به نن، چې د عادلانه پرېکړې ورځ ده، د دوی تمځی دائمي دوزخ وي، له دې نعمتونو نه محروم، نه به يوه شېبه د دوزخ له سرو لمبو نه کوم سوړ ځای ته د تلو موقع ورکول کېږي او نه به له جوشو اوبو او د خپلو زخمونو له نو نه پرته بل خوراك او څښاك ترلاسه کړی شي، همدا د دوی د کړو وړو مناسبه سزا، حسابي او دقيقه، نه کمه او نه زياته.

۲۷ـ۲۸ : د دوزخ د مستحقينو دوه عمده خصوصيات وو:

الف: نه يوازې دا چې په الهي محاسبې او د عملونو په مكافات او مجازات ئې باور نه وو، بلكې دا عدم باور ئې له دې راولاړ شوى وو چې الهي محاسبې ته ئې كومه طمع نه درلوده، عملونه ئې دومره قبيح او شنيع وو چې هيڅ عادلانه محاسبې ته ئې طمع نشوى كولى، هغه ځوك به څنګه د يوې عادلانه محاكمې نتايجو ته څه طمع ولري چې په جرم او جنايت كې ترستوني غرق وي، د دوى عملونه داسې وو چې له دوى نه ئې د الهي عادلانه محاكمې نېكو نتايجو ته امېد درلودو امكان سلب كړى وو.

ب: دوى الهي آيتونه تكذيب كړل، عمداً او په داسې حال كې چې حقيقت ئې ورته ښه ښكاره شوى وو، داسې نه وو چې نه پرې پوهېدل او عقل ئې نه وررسېدو او له درك نه ئې عاجز وو، قصداً ئې ترې انكار وكړ، دا ځكه چې له الهي محاسبې نه ئې څه طمع نه وه، دغې نااميدۍ دوى د قيامت تكذيب او د محاسبې انكار ته هڅول.

حسيب خداى، د دوى د عملونو دقيقه احصائيه اخيستې او د دوى د عملونو په كتاب او دوسيې كې ئې ليكلي، د دوى پابله به د دغې دقيقې احصائې له مخې ټاكل كېږي.

۳۰ـ دا له آخرت او الهي محاسبې نااميده كسان بايد نن الهي عذاب وڅكي او د عذاب له مزيد زياتېدو پرته بل څه ته سترګې په لار نه وي.

---

$Ü(ûr ÇÌÌÈ $Ï#•ø ‌= ã#q.r ÇÌÈ $YZã&r ,Í#%n ÇÌÈ #-$ÿB ûüÉFûü bÎ

ã$Üã 7Î¢ `Ï B ã#“_ ÇÌÎÈ $Ï°øL Ÿwr #Ïø9 $kŽÏù bqãJó„ žw ÇÌÍÈ $]$dÏ

ÇÌÏÈ $Ï$¡ Ïm

---

۳۱- بې شکه متقیانو ته ښه ځای دی د بریا. ۳۲- باغونه او انګور. ۳۳- او همزولې پېغلې حورې. ۳۴- او جامونه ډك تر ژۍ. ۳۵- نه به هلته بېهوده خبرې اوري نه درواغ. ۳۶- بدله ده ستا د رب ، پېرزوینه په حساب.

---

۳۱-۳۶ : (متقیان) به د سترې بریا شاهد وي، دا نېته د متقیانو د بریا نېټه ده او دا مکان؛ وروستي برې ته د دوی د رسېدو مکان دی، دوی ځان وساتو، خپل نفس او هوا او هوس ئې مهار کړ، د نفس او هوس له بندګۍ، د شیطان له متابعت، د بل په حق له تېري او حرام ته له لاس اوږدولو ئې (ځان ساتنه) وکړه، نو خود به نن هغه ځای ته درومي چې ورسره ښایي او د الهي عدالت له مخې ئې مستحق دي، هغه جنت ته به درومي چې مشخصات ئې دا دي:

الف: د ډول ډول مېوو باغونه، د انګورو له تاکونو او څېلو سره.

ب: ځوانې، همزولې او ځوانۍ ته نوې رسېدلې جوړې.

ج: تر ژۍ ډك جامونه.

د: نه به هلته بېهوده خبرې اوري او نه درواغ.

دا ټول ستا د رب پېرزوینه او عطا ده، خو حسابي او د متقیانو له کړو وړو سره وړ او متناسب. دوی په حلال رزق اکتفا وکړه او له حرام نه ئې ځان وساتو، نو ځکه نن د غوره رزق او رنګ رنګ مېوو مستحق ګڼل شوي، دوی له حرام څښاك نه ډډه وکړه، نن به ئې بدله دا وي چې د جنت په شرابو تر ژۍ ډك جامونه ئې مخې ته ایښودل کېږي، دوی په خپلو جنسي روابطو کې له طبیعي او جائز حد نه تېری ونه کړ او خپله لمن ئې په ګناهونو او ناروا جنسي تعلقاتو ونه لړله، خپل مهار ئې له لاسه ورنکړ او شیطان او خپل هوس ته ئې ونه سپارو، نه ئې د شیطان په تحریك او نه ئې د خپل هوس په غوښتنه پردي انسان ته خپله هغه غېږ پرانیسته چې په اصل کې د ده د جوړې حق وو، نو ځکه به ئې نن ځوانې او همزولې جوړې په برخه وي.

دلته (فیها) یا جنت ته راجع ده او مراد ئې دا چې په جنت کې به نه بېهوده خبرې اوري او نه درواغ او یا (کأساً دهاقاً) ته او مطلب ئې دا چې دا به د دنیا د

شرابو په خبر نه وي چې انسان بې خوده کړي، عبث او بېهوده خبرو او دروغو ته ئې اړ کړي، د ناآرامو اعصابو لپاره کاذب او دروغجن تسکين، په هر محفل کې چې ځنبل شوي يوه له بله له بېهوده وينا او دروغو نه پرته بل څه نه دي اورېدلي.

دا متقيان به په داسې جنت کې اوسېږي چې هلته به ئې نه کله بېهوده خبره ترغوږ کېږي او نه به ئې کوم دروغجن د درواغو ويلو په حالت کې ترسترګو کېږي، دا ځکه چې دوی په دنيا کې له عبث مشغولتيا او بېهوده خبرو او کارونو نه ځان ساتلی وو، نه ئې په خپله دروغ ويل او نه ئې له دروغجنو سره ناسته پاسته او ملګرتيا وه، له دوی نه ئې کرکه وه او خپلې اړيکې ئې ورسره شلولې وې، نو خود به د داسې مقام او مکان مستحق شمېرل کېږي چې له دروغو، دروغجنو او له عبث او بېهوده ويناوو فارغ وي او همدا ستا د رب له لوري د دوی بدله ده، هم د عطا او پېرزوينې په څېر او هم حسابي.

ÇÌÐÈ $I$ÜÅ ıçZË bqãÎ‡ Ÿ Ç»Hq$9$$Jå]÷/ $Br ÇÚ öR$ ÏN°q»J¡ 9$É §

ß»Hq$9$ã bËÎ& ôB žwÎ) šc qß=3Gƒ ž w $ÿ¹ pè3Í»=J9$ur ßr9$Bãqà)ƒ Pöqƒ

ÇÌÒÈ $/$«B ¾Ïi/u 4<Î) ‹ƒB$ä$© `Jù ‘,tø$Bãqx9$ 7Ï9ºŒ ÇÌÑÈ $Y#q|¹ A$%r

ãÏi%3$9$Aqà)ƒr ç#%ƒ ôMB£% $B âöJ9$ãÝZƒ Qöqƒ $Y/Ì% $I# ‹ ã Nä3»Rö‹R& $RÎ)

ÇÍÉÈ $R•ÈèMZä ÓÍ_Fø»ƒ

۳۷- رب د آسمانونو او د ځمکې او په دوی کې د هر څه، همغه رحمن ذات چې نه شي توانېدی د ده (له وېرې) په وينا. ۳۸- هغه ورځ چې جبرئيل او فرشتې به وي ولاړې ټول په ليکه، تکلم به نشي کړلی مګر هغه چې رخصت

ورکړي رحمن رب او کوي سمه وينا. ۳۹- دا رښتونې ورځ ده، نو څوك چې غواړي، غوره دې کړي لاره د ورتګ، په لوري د خپل رب. ۴۰- بې شکه چې انذار مو کړئ له يوه نږدې عذابه، له هغسې يوې ورځې چې هر کس به د خپل لاس لېږلي ګوري او وايي به کافر: ای کاش که زه وی خاورې!

**۳۸ـ۳۷**: ستا رب، د آسمانونو او ځمکې او د هر هغه څه رب دی چې په دې دواړو کې دي، د ده عظمت او هيبت هومره دی چې هيڅوك ئې په وړاندې د څه ويلو لپاره خوله نشي پرانيستی، مګر دا چې دی ورته اجازه ورکړي او دا په داسې حال کې چې دی بې انتها مهربانه دی، په دې ورځ به جبرئيل، د ا د ټولو ملائکو سرور او سالار او ټولې فرشتې صف تړلې ولاړې وي، د دوی له منځه به هم هيڅوك د څه ويلو جرأت نشي کولی، مګر دا چې اولاً له الله تعالی نه اجازه ترلاسه کړي او ثانياً سمه او د صواب وينا کوي، هلته به نه د ناصوابه او ناسمې خبرې کولو مجال وي، نه د بې ځايه سپارښتنې او نه د نامناسب شفاعت.

**۳۹**: دا ورځ، له دغو ځانګړتياوو سره حق ده، حتماً به تحقق مومي، نو د چا چې خوښه وي، د خپل رب لوري ته د ورګرځېدو سمه لار دې غوره کړي، هغه لار چې د الله خوا ته د غوره او ښايسته مقام په لاسته راوړو منتهي کېږي.

**۴۰**ـ تاسو الهي عذاب لرې ګڼئ، حال دا چې ډېر نږدې دی، له دې نږدې عذابه خبرداری درکوو، دا د هغې ورځې عذاب دی چې هرڅوك به خپلې لاس ته راوړنې ګوري او کافر به وايي: کاش خاورې وی، کاش بېرته نه وی راژوندی شوی او داسې ورځ مې په خپلو سترګو نه وی ليدلې!! دا به همغه کس وي چې ګمان ئې کاوو له مرګه وروسته او پس له هغه چې خاورې شو، هيڅکله به بيا راژوندي نشو، دغې غلطې انګېرنې او ناسم تصور له داسې پايلې سره مخامخ کړ چې اوس د دې تمنا کوي چې کاش خاورې وی او بېرته نه وی راژوندی شوی.

# النازعات

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم (النازعات) دی، چې له لومړي آیته اخیستل شوی، ۴۶ آیتونه لري، له مکي سورتونو څخه ده، د سورې له متنه په ډا ګه معلومېږي چې دا سوره د مکي دور په هغه پړاو کې نازله شوې چې پیغمبر علیه السلام، په ډېره نرمه لهجه قریش دې ته راوبلل چې له الله تعالی نه ووېرېږي، له ګنده کارونو او له حرامو نه ډډه وکړي، له شرك نه لاس واخلي، خو د قریشو فراعنه وو نه یوازې د ده دعوت ونه مانو بلکې خپل زور او ځواك ئې راغونډ او د مقابلې لپاره ئې ملاوتړله، ترڅو پر مکې او د مکې پر خلکو باندې خپله سلطه او واکمني ټینګه وساتي او پرې نږدي چې له دوی پرته د بل چا واکمني ته غاړه کېږدي، په دې مبارکې سورې کې د فرعون قصه او د موسی علیه السلام په خلاف د لښکرو راغونډولو ننداره ئې د همدې مطلب لپاره راغلې.

د سورې آیتونه لنډ لنډ، وزن ئې سره ورته او ډېر خوندور، آیتونه ئې ورو ورو اوږده شوي، د پای د آیتونو اوږدوالی ئې د لومړیو آیتونو نږدې درې برابره شوی، له لومړي آیت نه تر پنځم پورې د آیتونو فواصل د غرقاً، نشطاً، سبحاً، سبقاً او امراً هموزنه صیغې دي، له شپږمه تر څوارلسمه پورې راجفة او رادفة ته ورته هموزنه صیغې دي، له پنځلسم نه تر شپږویشتم پورې او له څلور دېرشمه تر یو

څلوېښتم پورې موسی او طوی ته ورته هموزنه صیغې، او نور ئې بناها او سواها ته ورته صيغې دي، يوازې د درې دېرشم آيت وزن داسې دی چې د مخکنيو او وروستنيو اوزانو لپاره يو خوندور توقف دی(متاعا لکم و لانعامکم).

د دې سورې د بحث اصلي موضوع هم د آخرت او بيا ژوندون اثبات او د دې لپاره قوي او مضبوط دلائل وړاندې کول دي. دا دلايل په درېو برخو کې تنظيم شوي:

الف: د پيدا ښت او خلقت هغه طبيعي مظاهر چې هره شپه ئې په خپلو سترګو ګورو، هره شپه له مړې خاورې د يوه ژوندي موجود د پيدا کېدو شاهد يو، تل مو هغه وربځې ترسترګو کېږي چې له ځمکې او سيندونو نه راپورته شي، يوې او بلې خوا ته وخوځېږي، بارانونه ترې راووربږي، مړه ځمکه په خوځېدو راشي، د ژوند زړي د مړو خاورو په تل کې حرکت وکړي، وده وکړي او سمسوره بوټي راوټوکوي، مګر دا مظاهر کافي نه دي چې د بيا ژوندون په اړه شك ونکړئ او په دې باور ولرئ چې تاسو به هم دې ته ورته بيا راژوندي کېږئ؟!

ب: تاريخي حوادث او پېښې ښيي چې دلته له هر چا سره محاسبه کېږي او پر عملونو مکافات او مجازات مرتب کېږي، آيا د موسی عليه السلام له عبرتونو ډکه قصه درته کافي نه ده، نه ګورئ چې هغه يو تنکی زلمی دی، تېښتې ته اړ شوی، فراري، وېرې اخيستی، د فرعون تر تعقيب لاندې، د اعدام پرېکړه ئې صادره شوې، کلونه کلونه ئې په شپنۍ کې تېر کړي، له ۸ - ۱۰ کلونو وروسته خپل هېواد ته راستنېږي، د لارې په نيمايي کې، په يوې تنګې او کړېچنې درې کې په پيغمبرۍ مبعوث کېږي او د فرعون مقابلې ته لېږل کېږي، له غلامۍ نه د بني اسرائيلو د ژغورنې لپاره، د ضعف او ناتوانۍ احساس کوي، دا درونډ مأموريت تر خپل وس اوچت ګڼي، د هېواد شرايط او د ولس وضع د ځان او د دې کار ترسره کېدو لپاره چمتو نه ګڼي او وايي: له يوې خوا د دښمن له لوري په قتل متهم يم او له بلې خوا زما مخاطبين بني اسرائيل به دا ګمان وکړي چې زه مشرۍ ته د رسېدو تلوسه لرم او دا شوق له هغه وخته زما په زړه کې راولاړ شوی چې زه د فرعون په

کور کې وم او د هغه د کورنۍ غړی ګڼل کېدم، داسې یو شخصیت له دغو ځانګړتیاوو سره د هغه چا مقابلې ته درومي چې خلکو ته وایي: زه ستاسو اعلی او ترټولو اوچت رب یم، باید ټول یوازې زما اطاعت وکړي، ټول به ده ته سرټیټوي، د ده ستاینه او لمانځنه به کوي، پر خپلې واکمنۍ مغرور او پر خپلو لښکرو دوکه شوی، راشئ وګورئ چې د دې دواړو طرفونو ترمنځ د تصادم نتیجه څه وه؟! تاریخ مونږ ته څه وایي؟ یو ډېر ځواکمن او په خپل قدرت مغرور خو د باطل مدافع، بل ئې ډېر ضعیف او ناتوانه، خو د حق حامي، یو ئې ظالم او مستبد او د ظلم او استبداد حامي او بل ئې کمزوری خو د مظلوم او بې وزلو مدافع، مګر نه ګورئ چې دا مغرور ظالم مؤاخذه شو، د عذاب متروکه ئې پر سر راپرېوته، له خپلو لښکرو سره یو ځای غرق شو، مګر ومو نه لېدل چې مظلوم او بې وزلی وژغورل شو او د ظالم د شتمنیو او خزانو وارث شو!! که په دنیا کې د مکافات او مجازات سلسله او د عملونو د بدلې سنت نه وی نو باید ځواکمن او زورور به تل پر اوضاع مسلط او د هر څه واکمن پاتې کېدل او هیڅکله به ئې د ظلم په وجه د اقتدار کرسۍ نه ړنګېده او تخت او تاج به ئې نه نسکورېدو او کمزوری به د تل لپاره بې وسه، ناتوانه او تر محکومیت او اسارت لاندې پاتې کېدو او هیڅکله به ئې د ځواکمن ظالم په مقابلې کې بریا نه په برخه کېده او د هغه د تخت او تاج او شتمنیو وراثت به ئې نه ترلاسه کاوو.

ج: آیا هغه ذات چې دا دومره ستر، خور او پراخ آسمان ئې پیدا کړی، مضبوط ئې ساتي، دقیق نظم ئې ورکړی، شپه او ورځ راولي، ځمکه ئې له دغو ځانګړتیاوو سره پیدا کړې اوبه ئې ترې راایستلې، ونې او بوټي راشنه کوي، غرونه ئې د ځمکې لپاره لنګر ګرځولي، په همدغو غرونو کې ستاسو او ستاسو د څارویو د ژوند ضروري توکي راپیدا کوي، آیا هغه ذات چې دا ټول کارونه د ده په اراده ترسره کېږي، له دې عاجز ګڼئ چې تاسو بیا راژوندي کړي؟! ووایئ: د دې ستر او بې انتها عالم خلقت ګران کار دی که ستاسو بیا پیدا ښت؟!

له دغو قوي دلایلو وروسته فرمایي چې د قیامت لویه پېښه به حتماً راځي،

په هغه ورځ به انسان ته هم خپل تېول کړه وړه ور په یاد شي او هم به په دې پوه شي چې د قیامت دا ورځ هومره هم لرې نه وه چې ده په دنیا کې انګېرله، په دې ورځ به ځینې جحیم ته درومي او ځینې جنت ته.

i j k

ÇÌÈ $[sÕ™ ÏM»sÎ»¡¡ 9$#ur ÇËÈ $VÜô±nS ÏM»ÜÏ±»Z9$#ur ÇÊÈ $]%öç î ÏM»ãÌ»Y9$#ur

ÇÎÈ #XöDr& ÏN»/În‰y‰ßJø9$$sù ÇÍÈ $ZYö7y™ ÏM»)Î»¡¡ 9$$sù

---

۱- قسم دی په ډوب شوو راوتونکو. ۲- قسم په خوشې شوو خوځېدونکو. ۳- قسم دی په لامبو لامبو وهونکو. ۴- بیا قسم دی په عجیبه مخکې تلو مخکې کېدونکو. ۵- بیا په هغه د ستر کار تدبیروونکو.

---

۱-۵: په دې آیتونو کې په پنځو شیانو لوړه شوې، په ډوب شوو راشکېدونکو، په خوشې شوو خوځېدونکو، په لامبو لامبو وهونکو، په عجیبه مخکې تلو مخکې کېدونکو او د یوه ستر کار په تدبیرونکو.

د دغو قسمونو ځواب او هغه مدعا چې په دې قسمونو سره ئې ثابتول غواړي، په ۱۳ او ۱۴ آیت کې داسې راغلی:

فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ *

نو دا به له یوې تندې چېغې پرته بل څه نه وي!

فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ *

ناڅاپه به بیا دوی وي په همغه خور میدان کې.

د دغو قسمونو او له ځواب سره ئې د تړاو په اړه لاندې مطالبو ته توجه ولرئ:

o (النازعات) د نازعة جمع ده چې که ریشه ئې (نزع) ونیسو نو معنا ئې

ایستونکی ده او که (نزوع) ئې ریشه وګڼو نو معنا ئې وتونکی کېږي. دلته ئې دوهمه معنا اخیستل په دې خاطر غوره ده چې په دې سره دا قسم له نورو سره ورته کېږي.

- د بیان له وضعې نه معلومېږي چې دلته د یوه خاص شي په مختلفو حالتونو لوړه شوې، د (فاء) په توري سره د ټولو آیتونو ربط او په پای کې دا خبره چې (ټول یو کار ترسره کوي) همدا مطلب افاده کوي. یعنې دا شی لومړئ (نازع)، بیا (ناشط) وروسته (سابح) او (سابق) او په پای کې (د یوه ستر کار، نه مختلفو کارونو، ترسره کوونکی) شي. (فالمدبرات امرا) همدا مطلب په ګوته کوي.
- په دې قسمونو کې ذکر شوي شیان باید د قرآن هر مخاطب ته د فهم او درك وړ وي او د لمر، سپوږمۍ، آسمان، شپه او ورځ او دې ته ورته نورو هغو شیانو په څېر وي چې د قرآن په نورو آیتونو کې وربانديې لوړه شوې او قرآن د خپلې ادعا د اثبات لپاره د شاهد په حیث وړاندې کړي.
- باید هر مخاطب په دې قانع کړی شي چې له مرګ نه وروسته ژوندون حق دی.
- دا باید داسې شی وي چې له اوبو نه د یوه غریق د راوتو په څېر راوځي. (النّزِعَتِ غَرْقاً) همدا مطلب افاده کوي.
- باید په لومړي سر کې د یوه راوتونکي غریق په څېر وي، بیا په نشاط سره پورته تلونکی، بیا د لامبو وهونکي په څېر خوځېدونکی، بیا له یوه بل نه مخکې کېدونکی او په پای کې د یوه ستر کار ترسره کوونکی.
- که قرآن ته رجوع وکړو او وګورو چې آیا قرآن په دغو صفاتو کوم څه معرفي کړي که نه، نو ګڼ شمېر آیتونه به مخې ته راشي چې په هغوی کې وربځې په همدې صفاتو یادې شوې. په کار خو دا ده چې خپله د قرآن تفسیر کافي وګڼو او له دې نه ډډه وکړو چې د خپلې خوښې او رأیې مطابق ئې تفسیر کړو.
- همداراز که خپلې شا او خوا ته پام وکړو او وګورو چې آیا زمونږ ماحول کې داسې څه شته چې دغه صفات ولري او هرڅوك ئې په همدې صفاتو وپېژني؟ نو وربځې په نظر راځي چې له اوبو نه د بخاراتو په څېر راووځي، آسمان ته پورته

شي، له يوې سيمې بلې ته وخوځېږي، سرعت ئې زيات شي، يو له بله سبقت کوي، په پای کې باران ووروي او په دې سره په طبيعت کې ترټولو د ستر کار، د مړې ځمکې د راژوندی کېدو، باعث شي. او قرآن په مکرره توګه او په ګڼ شمېر آيتونو کې په باران سره د مړې ځمکې او د نباتاتو په راژوندي کېدو استناد کوي او فرمايي چې تاسو به هم د قيامت په ورځ همداسې بيا راژوندي کېږئ.

o دا رأيه ضعيفه او کمزورې ده چې ځوك له دې نه د فرشتو بېل بېل اصناف مراد کړي، په څو دلايلو:

۱. د داسې تعبير لپاره کوم قرآني دليل نشي په ګوته کېدی، د قرآن په هيڅ آيت کې فرشتې په دغو صفاتو نه دي يادې شوې.

۲. دا تعبير د قسمونو په اړه د قرآن له عمومي قاعدې سره اړخ نه لګوي، نور قسمونه په ځرګندو شيانو شوي.

۳. په فرشتو باندې استناد سره به هغه ځوك څنګه قانع کړی شو چې نه بياژوندون مني او نه فرشتې؟!

o د نازعات د سورې قسمونه او دېته ورته قسمونه په دې خاطر په ملائکو نشو حمل کولی چې په عربي کې په (الف) او (تاء) سره يا حقيقي مؤنث جمع کېږي او يا د غيرذوی‌العقول صفت، قرآن په دې صراحت کوي چې ملائکې مؤنث ندي او د جمع لپاره ئې په قرآن کې اکثراً د جمع مذکر صيغه کارول شوې، لکه په دې آيت کې:

وَتَرَى الْمَلَائِكَةَ حَافِّينَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ * الزمر: ۷۳

په دې آيت کې د ملائکو لپاره د حافات په ځای د حافين صيغه راغلې چې د جمع مذکر صيغه ده.

د دغو قسمونو په هکله د مفسرينو ترمنځ ډېر اختلافات شته، ځينې ئې هغه فرشتې ګڼي چې د ارواح د نزع او قبضولو دنده ئې په غاړه ده، د کافر روح په سختۍ راباسي او د مؤمن سوکه او په آسانۍ سره، بيا په آسمان کې د لامبو وهونکو په څېر درومي، يوه له بلې نه د مخکې کېدو هڅه کوي او د چارو د تدبير دنده ورپه غاړه شوې. ځينې نور دا د انسان نفس او روح ګڼي چې د کافرانو په

سختۍ وځي او د مؤمنانو په ملایمت او نرمۍ. ځینې نور ئې ستوري ګڼي او وايي چې ستوري په سختۍ طلوع او په آسانۍ غروب کوي. متعدد نور نظریات هم شته. خو په ډېر لږ دقت سره معلومېږي چې نه خو د دې اطلاق په ملائکو صحیح ده او نه په روح او نه هم په ستورو، هغه مخاطب چې له بعثت او له مرګ نه بعد ژوندون نه منکر وي هغه په فرشتو او روح باندې په استناد سره نشي قانع کېدی، ځکه هغه نه ملائکې مني او نه په روح باور لري، قرآن به څنګه په هغه څه استناد کوي چې د ده مخاطب ئې اصلاً نه مني؟! او څنګه به له دې لارې په هغې خبرې د ده د قانع کولو هڅه کوي چې منل ئې ورته ګران برېښي؟! همدا راز په دې قسمونو کې ذکر شوي صفات په ستورو نشي تطبیقېدی، د ستورو طلوع او غروب یو شان وي، له یوه بل نه سبقت نه کوي، هغوي ته (مدبرات امور) هم نشو ویلی او په دوي باندې د استشهاد له لارې بیاژوندون نشي ثابتیدی او دا چې د دغوکمزورو او ضعیفو توجیهاتو لپاره په ټول قرآن کې هیڅ دلیل نشو ښودلی.

دا خبره هم د یادولو ده چې ځینو درنو مفسرینو د دې قسمونو ځواب محذوف ګڼلی چې دا رأیه په دوه دلیله کمزورې او ضعیفه ده:

۱- دا تحلیل د قرآن له ډېر اوچت بلاغت سره اړخ نه لګوي، دا سمه نده چې څوك لوړه وکړي خو ورپسې ونه وايي چې د قسم موخه ئې څه وه او په کوم مطلب باندې د تأکید لپاره ئې لوړه کړې!! آیا دا سمه ده چې ووایو: والله، بالله، بیا ساکت پاتې شو، هیڅ ونه وایو او زمونږ قسمونه هیڅ ځواب ونلري؟!

۲- د همدې سورې ۱۳ او ۱۴آیتونه په ډېر صراحت سره ښیي چې د پورتنیو قسمونو ځواب په کې پروت دی.

د دې قسمونو ځواب دا دی:

فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ * فَإِذَا هُم بِالسَّاهِرَةِ *

نو دا به له یوې تندې چیغې پرته بل څه نه وي. ناڅاپه به بیا دوی وي په همغه خور میدان کې.

یعني پورتني قسمونه دا خبره ثابتوي چې له مرګه وروسته ژوندون نه یوازې

مستحيل ندی بلکې فقط په يوې تندې چيغې سره به تاسو ټول له قبرونو نه راپورته شئ او په ستر آوار ډاګ کې به د حسيب خدای په وړاندې ودرېږئ. که قرآن ته رجوع وکړو نو په متعددو آيتونو کې به وګورو چې د بياژوندون د اثبات لپاره په ورېځو، باران او د بوټو په بيا راژوندي کېدو استناد شوی، پکار ده چې د نوموړو قسمونو تفسير د دغو آيتونو په رڼا کې ولټوو. دې لطيف ټکي ته مو هم بايد پام وي چې اکثراً بارانونه د تالندې له تندې چيغې نه وروسته پيل کېږي!! او قرآن وايي چې د قيامت په ورځ به ستاسو بياژوندي کېدل يوازې په يوې تندې چيغې سره ترسره شي. لدغو ټولو دلايلو نه په ډېر صراحت سره معلومېږي چې له النازعات، الناشطات، السابحات، السابقات او المدبرات نه يوازې ورېځې مراد دي نه بل څه. ځوك چې په بيا ژوندي کېدو باور نلري او هغه مستحيل ګڼي!! مګر هره ورځ د مړو د بياراژوندي کېدو صحنې نه ګوري؟ آيا په يوه باران سره د ځمکې ژوندي کېدل ئې نه قانع کوي؟ مګر نه ګورئ چې ناڅاپي په آسمان کې د تالندې غږ اوچت شي، ورپسې له ورېځو نه د باران ورېدل پيل شي او په دې باران سره د ځمکې په زړه کې د ژوندو توکو زړي وخوځېږي، وده وکړي او د ځمکې له سخت قشر نه سر رااوچت کړي!! د قيامت په ورځ به هم ټول په يوې چيغې سره له قبرونو نه رااوچت شي او هر کس به د خپل رب په لوري روان شي.

بايد وګورو چې آيا د النازعات د قسمونو په هکله د پيغمبر عليه السلام کوم حديث شته؟ آيا له صحابه وو نه واحد او موثق روايت لرو؟ که داسې حديث او روايت نه وي آيا مسلمانان د دې حق لري چې د قرآن د نورو آيتونو په رڼا کې په دې هکله کومه رايه ورکړي؟ په دې هکله لاندې عرايض لرو:

د دې آيتونو په هکله عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ته دوه رايې منسوب شوې:

١- هغه ملائکې چې روح قبضوي. په دې رايه کې ابن مسعود، سعيد بن جبير، مجاهد او ګڼ شمېر نور ورسره ملګري دي. په دې کې النازعات د ايستونکو په معنا راغلی.

۲- او په خپله روح، چې په دې کې هم مجاهد ورسره موافق دی. په دې کې النازعات د وتونکو په معنا نیول شوی.

قتاده او حسن النازعات او الناشطات ستوري او عطاء او عکرمة ئې لیندۍ ګڼي او عطاء ته په منسوب شوې بلې رایې کې د الله تعالی د لارې د مجاهدینو آسونه او په بلې کې کشتۍ ګڼل شوي. علي رضي الله عنه ته منسوب رایه کې هغه ملائکې ګڼل شوې چې پیغمبرانو علیهم السلام ته د وحي په راوړلو کې له شیطانانو نه سبقت کوي.

قال ابن مسعود وابن عباس ومسروق وسعيد بن جبير وأبو صالح وأبو الضحى والسدي "والنازعات غرقا" الملائكة يعنون حين تنزع أرواح بني آدم فمنهم من تأخذ روحه بعسر فتغرق في نزعها ومنهم من تأخذ روحه بسهولة وكأنما حلته من نشاط وهو قوله "والناشطات نشطا" قاله ابن عباس وعن ابن عباس "والنازعات" هي أنفس الكفار تنزع ثم تنشط ثم تغرق في النار. رواه ابن أبي حاتم وقال مجاهد "والنازعات غرقا" الموت وقال الحسن وقتادة "والنازعات غرقا والناشطات نشطا" هي النجوم وقال عطاء بن أبي رباح في قوله تعالى والنازعات والناشطات هي القسي في القتال. وقال عطاء هي الخيل في سبيل الله. قتادة والحسن: هي النجوم تسبح في أفلاكها, وكذا الشمس والقمر; قال الله تعالى: "كل في فلك يسبحون". عطاء: هي السفن تسبح في الماء. ابن عباس: السابحات أرواح المؤمنين تسبح شوقا إلى لقاء الله ورحمته حين تخرج. قال علي رضي الله عنه: هي الملائكة تسبق الشياطين بالوحي إلى الأنبياء عليهم السلام.

له دغو بېلابېلو آراوو څخه څو خبرې معلومېږي:

- له پيغمبر عليه السلام نه په دې اړه موثق حديث نشته. که داسې حديث وی نو هیڅکله به دا مختلف آراء نه وړاندې کېدل.
- که درنو مفسرینو د علي رضي الله عنه او عبد الله بن عباس رضي الله عنه په څېر صحابه وو ته منسوب آراء موثق ګڼلی هیڅکله به ئې بله رایه نه ورکوله.

- یوه شخص ته په یوې موضوع کې منسوب دوه متعارض آراء روایت تر سوال لاندې راولي.
- دا اختلاف نه یوازې له مونږ څخه غواړي چې په ټولو آراوو غور وکړو او تر ټولو مضبوطه او مستدله ئې انتخاب کړو، بلکې مونږ ته حق راکوي چې د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې د دغو آیتونو د اصلي معنا په لټه کې شو.

د دې لپاره چې د قسمونو په اړه مطلب ښه روښانه او د هر راز شك او شبهې مجال ختم شي دا غوره ګڼو په قرآن کې د قسمونو موضوع لږ په تفصیل سره وڅېړو

## قسم په قرآن کې:

د ځینو مهمو مسایلو د اثبات لپاره په قرآن کې دا اسلوب غوره شوی چې په داسې ځرګندو او واضح شیانو استناد او استشهاد وشي چې مخاطب ئې د یوه حقیقت په حیث مني او دا حقیقت د قرآن همدا مدعا ثابتوي، خو دا استشهاد د لوړې او قسم په څېر او صیغه شوی، په دغو مواردو کې اکثراً په هغو شیانو لوړه شوې چې کاملاً محسوس، مشهود او ځرګند دي او هر لیدونکي ته د فهم او درك وړ، او دا طبیعي او ضروري خبره ده چې د یوه داسې مهم او تر مناقشې لاندې مطلب د اثبات لپاره چې قرآن ئې ثابتول غواړي او د قرآن مخاطب د هغه په منلو کې ټکنی وي، تردید لري، مجرده ادعا نه مني او دلائلو ته منتظر وي، باید په داسې دلائلو استشهاد وشي چې د نزاع او اختلاف وړ نه وي او مخاطب ته کاملاً واضح او قابل درك وي. د اختلافي او قابل نقاش ادعا د ثبوت لپاره په یوه غیرملموس او غیر قابل فهم شي باندې استشهاد نشي کېدی. تاسو د قرآن د تلاوت په جریان کې حتماً دا مشاهده کوئ چې د طبیعت په ډېرو بارزو او ځرګندو شیانو لکه لمر، سپوږمۍ، آسمان، ستوري، ځمکه، فجر، شفق، شپه، ورځ او دې ته ورته شیانو لوړه شوې او بیا د قسمونو په پای کې او اکثراً له هغوی سره متصل یوه ستره او ډېره مهمه ادعا عنوان شوې او په حقانیت ئې تأکید شوی او همدغه قسمونه ئې د شاهد او دلیل په حیث وړاندې شوي. په ډېر لږ غور او دقت سره په

دي مطلب پوهېدی شو چې د قسمونو او د هغوی د ځواب ترمنځ ژور او دقيق ارتباط شته، داسې چې واقعاً مقسم به شيان د قسم د ځواب او له قسم نه وروسته د راتلونکې ادعا په حقانيت شهادت ورکوي. همدغه ژور ارتباط ته په پام سره مفسرين په دې عقيده دي چې د قرآن قسمونه د استشهاد لپاره دي نه د دغو شيانو په عظمت د اعتراف لپاره. خو د قرآن په څو محدودو آيتونو کې داسې قسمونه هم ګورو چې مقسم به ئې له دقت او غور نه وروسته او له قرائنو نه معلومولی شو، دلته داسې صيغې راغلې چې په ډېرو شيانو ئې اطلاق کېدی شي، په دغو ډېرو شيانو کې اصلي او مقصودي شی موندل د پوره دقت غوښتنه کوي، په سطحي نظر د هغه موندل ګران وي، دلته ده چې د مفسرينو ترمنځ شديد اختلاف راولاړېږي. د ځينو دغو قسمونو په اړه خو په تفاسيرو کې په لسهاوو آراء ګورو، د مثال په توګه د فجر د سورې په درېيم آيت کې په (الشفع والوتر: جفت او طاق) لوړه شوې چې تر ۳۲ نه زيات تفسيرونه ئې شوي، خو دې ته مو بايد پام وي چې په دې ټولو تفسيرونو او تعبيرونو کې يوازې يو ئې صحيح کېدی شي او بس، هماغه صحيح دی چې د آيت اصلي او دقيق مراد په ګوته کړي.

که په قرآن کې له داسې مواردو سره مخامخ کېږو چې د (مقسم به) لپاره استعمال شوې صيغه په ډېرو شيانو تطبيقېدی شي لکه (النازعات)، (الناشطات)، (السابحات)، ( المرسلات)، (الناشرات)، (الفارقات) او دې ته ورته، نو په هغه صورت کې بايد څو اساسي او مهمې خبرې په پام کې ولرو:

تر ټولو د مخه بايد د دغو الفاظو اصلي معنا او تفسير په قرآن کې ولټوو.

دا شيان بايد د قسمونو په اړه د قرآن د عام اسلوب په رڼا کې تفسير کړو، لکه څنګه چې په اکثرو مواردو کې (مقسم به) څرګند او واضح شيان او د قرآن هرمخاطب ته قابل فهم دي، په دغو محدودو مواردو کې هم بايد داسې شيان مراد وي چې څرګند، قابل فهم او قابل درك وي. نه به هغه له سترګو پټ او غيبي شيان ګڼو او نه داسې شيان چې د قرآن هر مخاطب ئې نه مني. د طارق په مبارکې سورې کې د دغسې مواردو په اړه مونږ ته ډېره غوره لارښوونه شوې، هلته په (الطارق: د

شپې لخوا څرګندېدونکي او ور ټکونکي) باندې لوړه شوې، د (الطارق) اطلاق په ډېرو شیانو کېدی شي، خو قرآن په دې پسې متصل فرمايي: آيا پوهېږې چې (الطارق) څه دی، (الطارق) ځلانده ستوری (النجم الثاقب) دی. که قرآن په خپله دا الطارق نه وی معرفي کړی نو معلومه نده چې د دې په تفسير کې به هم د مفسرينو ترمنځ څومره ژور اختلافات راولاړ شوی وو. په کار ده چې ټول دې ته ورته موارد د دغې لارښوونې مطابق تفسير شي.

قسمونه بايد له قسم نه وروسته ادعا ثابته او د قرآن هر مخاطب قانع کړی شي، هر هغه تفسير چې د قسم او ځواب ترمنځ ئې دا تړاو او رابطه په ګوته نکړی شي، هغه ضعيف تفسير او کمزورې توجيه وګڼئ.

د قرآن د الفاظو په ترجمه کې مخصوصاً هلته چې يو لفظ ډېرې معانې ولري او د ټولو له منځ نه د يوې غوره کول غور او دقت وغواړي بايد څو ټکي مراعات کړو:

لومړی بايد د هغو الفاظو په رڼا کې ئې مناسبه معنا غوره کړو چې ترې مخکې او وروسته راغلي او له هغوی سره ئې يو ځای خاص کلام جوړ کړی. د همدې خاص کلام مجموعي مطلب د هر لفظ معنا په خپله واضح کوي، که تاسو د يوه چا د وينا په اکثرو برخو پوه شئ نو د همدې په رڼا کې د ده د وينا په هغو برخو او هغو الفاظو هم پوهېدی شئ چې له دې نه مخکې ئې په معنا نه پوهېدئ. له يوه کلام نه روغه او سالمه انتباه د مبهمو الفاظو معنا واضح او مشخص کوي. بيا بايد له دې نه مخکې او وروسته آيتونو ته رجوع وکړو او د هغوی په رڼا کې ئې معنا معلومه کړو. که ونتوانېدو چې په مربوطه آيت او له هغه نه وروسته او مخکې آيتونو کې د هغه معنا پيدا کړو نو بايد په ټول قرآن کې ئې لټه وکړو، قرآن ته په مراجعې سره به حتماً د هغه شرح او تفسير بيامومو، ځکه د قرآن آيتونه يو بل تشريح کوي، مجمل آيتونه ئې په مفصلو کې تفسير او توضيح شوي، يو مطلب په يوه ځای کې په خاصو الفاظو په مجمل ډول ذکر شوی خو په بل ځای کې همدا مطلب په نورو الفاظو سره په مشرح او مفصل ډول راغلی، قرآن د الله کتاب دی،

مکمل او له هر نقص او عیبه منزه، هرڅه ئې واضح او مبین، قرآن له دې عیبه منزه دی چې په هغه کې دې داسې څه ویل شوي وي چې هرمخاطب ته ئې غامض وي او په خپله ئې وروسته یا مخکې د هغه وضاحت نه وي کړی. خو که احیاناً په ټول قرآن کې د هغه د شرحې په موندلو بریالي نشوو نو دا باید خپل عیب او نقص وګڼو او په دې باور وو چې مونږ په خپله کافي او لازم غور او دقت ندی کړی او په دې وجه په قرآن کې د هغه د شرحې او تفصیل په موندلو نه یو بریالي شوي که نه نو په قرآن کې حتماً د دې وضاحت شوی. بیا باید د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کې د هغه په مطلب د پوهېدو لټه وکړو، حدیث د قرآن شرح او تفسیر دی. لدې نه وروسته به دا ګورو چې آیا صحابه وو او د دوی دور ته نږدې مفسرینو په دې هکله څه ویلي که نه، د دوی په روایاتو او آراوو کې داسې رأیه شته چې له ثقه راویانو روایت شوې وي او په قرآن او حدیث مبتني وي؟

انسان چې کله د خپل مخاطب حالت داسې وګوري چې د ده د خبرې په منلو کې متردد دی، نو د هغه د تشویش رفع کولو او په خپلې خبرې د متقاعد کولو لپار ه په داسې څه قسم او لوړه کوي چې مخاطب ورباندې باور وکړي او دا یقین ئې راشي چې اوس نو دی حتماًرښتیا وایي. د الله په نامه د لوړې او قسم معنا دا ده چې مونږ الله په خپلو خبرو شاهد نیسو او په دې سره مقابل لوري ته ډاډ ورکوو چې رښتیا وایو. په قرآن کې هم د هغو مهمو مطالبو او سترو سترو خبرو د اثبات لپاره چې د قرآن مخاطب ئې له قوي دلائلو نه پرته نه مني، له دغه اسلوب نه کار اخیستل شوی. مونږ په داسې څه لوړه کوو چې مخاطب مو باور وکړي چې د دې (مقسم به) د عظمت په خاطر حتماً رښتیا وایو. خو په قرآن کې قسم د استشهاد لپاره راغلی، د (مقسم به) په عظمت د اعتراف لپاره نه بلکې د خپلې ادعا د اثبات لپاره د شاهد او ګواه په حیث وړاندې کېږي. عادتاً باید د یوه مطلب د اثبات او د مخاطب د اقناع لپاره په داسې څه استشهاد وشي چې د مخاطب له نظره کاملاً مسلم او منل شوی حقیقت وي او هغه ئې د واضح او څرګند دلیل په حیث ومني او په هغه کې هیڅ شك او تردید ونلري، هیڅوك په یوه نامسلم او نامنل شوي دلیل د یوې متنازع

فیها ادعا د اثبات هڅه نه کوي او طبعاً چې داسې هڅه نامعقوله او بې فایدې ده.

د قرآن د قسمونو په تفسیر کې د مفسرینو ترمنځ د رأیې شدید اختلاف ګورو، حتی د صحابه وو او د دوی دور ته د نږدې مفسرینو ترمنځ، په احادیثو کې په دې اړه هیڅ روایت نه لرو، د قرآن د تفسیر په هکله د احادیثو په کتابونو کې ډېر محدود روایات لرو، په صحیح ترمذي کې تر نورو کتابونو نه دا راز احادیث زیات نقل شوي خو د هغوی شمېر هم دومره دی لکه د قرآن د هرې سورې په اړه یوازې یو حدیث، د مفسرینو ترمنځ له دې اختلاف نه هم معلومېږي چې په دې هکله ثقه روایات محدود دي، ځکه چې د ثقه روایاتو په شته والي کې دوی اختلاف نشو کولی. نو دې حقایقو ته په پام سره په کار ده چې مونږ د درنو مفسرینو له آراوو نه د هغه چا رأیه غوره کړو چې په قرآن مستنده وي او د خپلې شرحې د اثبات لپاره ئې د قرآن په آیتونو استناد کړی وي.

---

ÇÌÈ þÿÅ#r 7ÍBöý Ò qèè ÇÌÈ þùŠ#$$$gã7K? ÇÌÈ þÿÅ#$$$ ã ö? Pöý

$Zä #Œä& ÇÌÈ ô•Ï$t ø$'î br&r&öJ9 $Rä& bq㍍ ÇÌÈ þèÈ» z $dã Á ô

ø‰h°r ø•ô – 'Ü $ÿÛù ÇÌÈ øÅ%{ ôS #[ 7 ü {q$% ÇÌÈ ž ÿU $V»äÏ

ÇÌÈ ô•Ü$¡ 9$ Nè #Œfù ÇÌÈ

---

۶- هغه ورځ چې ولړزېږي لړزېدونکې. ۷- بیا ورپسې راشي همغه پسې راتلونکې. ۸- پدې ورځ به ځینې زړونه مرتعش وي رېږدېدونکي. ۹- سترګې د دوی خړې ویرېدونکي. ۱۰- وایي: آیا مونږ یو مخکني حالت ته بیا ورګرځوونکي! ۱۱- که هر څو وو وراسته شوي څو هډوکي! ۱۲- وایي: دا خو به نو خود وي تاواني بیا ګرځېدنه! ۱۳- نو دا به په یقین سره، یوازې وي

يوه چيغه. ۱۴- ناڅاپه به بيا دوى وي په همغه خور ميدان كې.

۶ـ ۷ : دا مبارك آيتونه د قيامت د ابتدائي پړاو ځينو پېښو ته اشاره كوي او وايي: هغه ورځ به يوه لړزېدونكې ولړزېږي، په پرله پسې لړزېدو سره او ځينې زړونه به وېرې اخيستي وي او له وېرې به رپېږي، كه څه هم په آيت كې دا نه ده ښودل شوې چې څه به لړزېږي، خو د آيت له فحوا نه هم او له دې نه هم چې ځينې زړونه په رپېږي، معلومېږي چې دا لړزېدونكې ځمكه ده چې پر له پسې خوځېدل به ئې په انسانانو كې سخته وېره راولاړوي.

۸- ۱۲: ځينې زړونه به په سختې وېرې كې وي او له وېرې به رپېږي، سترګې ئې خړې او د وېرې او هيبت نښې ئې په څېرو كې څرګندې، دا وېرې اخيستي زړونه او سترګې به د هغه چا وي چې نن قيامت نه مني او له بيا ژوندون نه انكار كوي او وايي: آيا دا ممكنه ده چې كله ومرو او اوږده موده تر خاورو لاندې تېره كړو، هډوكي مو وراسته او هر څه مو په خاورو بدل شي، بېرته به راژوندي كېږو، له مرګه مخكې خپل لومړي حالت او شكل ته به راګرځو؟ او په ډېر تمسخر او استهزاء سره به ئې ويل: داسې بيا راګرځېدنه خو به خامخا زمونږ لپاره ډېره زيانمنه وي، ځكه هيڅ تيارى ورته نه لرو او هيڅ څه مو نه دي ورته زېرمه كړي، مونږ داسې راګرځېدنه مضر او بې ګټې ګڼو، نه ئې منو او باور پرې نه كوو.

۱۳ـ ۱۴: په دغو آيتونو كې چې د مخكنيو قسمونو ځواب دى، د بيا ژوندون منكرينو ته ويل شوي: تاسو چې بيا ژوندون محال ګڼئ او هغه زيانمن شمېرئ او ګمان كوئ چې تر خاورو لاندې د اوږدې مودې له تېرولو وروسته بېرته راژوندي كېدل مقدور او ممكن نه دى، په دې پوه شئ چې له قبرونو نه ستاسو راپاڅونه به يوازې په يوه ټكان او خوځښت سره ترسره شي، همدا يوه جټكه به د دې باعث شي چې بيا راژوندي شئ، له قبرونو نه راپاڅئ، وخوځېږئ او په يوه پراخ ميدان كې د الله مخې ته ودرېږئ، داسې لكه نن چې په آسمان كې د يوې تالندې په غږ سره، په ځمكې كې د ژوندون كاروان په حركت راشي، باران (دا د ژوند اصلي لامل) له

همدې غر سره متصل وربدل پيل کړي او د دغه حرکت باعث شي، د بوټو او دانو زرې راټوکېدو ته وهڅوي او مړه ځمکه په ښېرازه، سمسوره او ښاپسته بوټو وپوښي.

---

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

---

۱۵- آيا، د موسى د قصې حال دررسېدلى؟ ۱۶- کله چې ورغږ کړ د ده رب، په سپېڅلې آ کړې ورې درې کې: ۱۷- د فرعون په لوري لاړ شه چې ده کړې سرکښي ده. ۱۸- ورته ووايه چې دې ته دې خوا کېږي چې ته پاك شې؟ ۱۹- او هدايت دې کړم په لوري د خپل رب، چې بيا به نو وېرېږې. ۲۰- نو ئې وښودله ده ته هغه لويه ستره نښه. ۲۱- خو تکذيب او سرکښي ئې کړله خپله. ۲۲- بيا ئې شا کړه هاند کوونکى. ۲۳- بيا ئې غونډ کړل، نو ئې غږ کړ: ۲۴- نو ئې وويل: زه ستاسو اعلى رب يم! ۲۵- نو الله دى په وروستي ړومبي عذاب باندې اخته کړ. ۲۶- بې شکه دې کې پند دى هغه چا ته چې وېرېږي.

---

۲۰-۲۶: په دې مبارکو آيتونو کې د راغلې قصې په اړه څو اساسي ټکيو ته توجه ولرئ:

الف: تر دې قصې مخکې او وروسته آيتونو کې، د بيا ژوندون په هکله بحث شوی، د آيتونو ترمنځ تړاو دا غوښتنه کوي چې دا قصه به خامخا له همدې موضوع سره تړاو لري او بايد د مخکنيو او وروستيو آيتونو په څېر په دې کې هم د قيامت د اثبات دلايل وړاندې شوي وي، د هر بليغ کلام تقاضاء همدا ده. د قرآن اسلوب دا دی چې د خپلې مدعا د اثبات لپاره تل د عقلي دلايلو ترڅنګ او په څرګندو طبيعي شيانو له استشهاد نه وروسته، تاريخي پېښې د مخاطب مخې ته ږدي.

ب: دا قصه د موسی عليه السلام له بعثته پيل او د هغه شديد او عبرتناك عذاب په يادولو پای ته رسي چې فرعون پرې اخته شو. په دې قصې کې د موسی عليه السلام وضعيت داسې انځور شوی: موسی عليه السلام په يوې مقدسې او سپېڅلې تنګې او کږلېچنې درې کې روان دی، د خپل رب له لوري يو غږ اوري، وظيفه ورکوي چې د فرعون مقابلې ته لاړ شه، يوازې دی، نه د سفر کوم کاروان ورسره او نه د سنګر څه ملګري، په مبارزې مأمور شوی، دا ئې خپله غوښتنه او تلوسه نه ده، يو الهي مأموريت دی، يوې الهي ندا او غږ هڅولی، د پاکۍ او پاك لمنۍ طرف ته بلنه ورکوي، لارښود او مرشد دی، الله او له هغه نه وېرې ته خلك رابلي او د خپل رسالت او دعوت د حقانيت لپاره څرګندې نښې ورسره دي، خو فرعون چې سرکښ او باغي دی، تکذيب ته ملا تړي، دی دروغجن ګڼي او خبرې ئې دروغ، عصيان کوي، له حق نه مخ اړوي، د حق د مقابلې لپاره خپل ټول زور او ځواك کاروي، خپل پلويان او لښکرې د مقابلې لپاره راغونډوي او ادعا کوي چې د خلکو (اعلی رب) دی، بايد يوازې د ده اطاعت وشي او ستاينه او لمانځنه!! په دې قصه کې د دغو دواړو خواوو تر منځ دا مبارزه د هغه لوري په ماتې او نابودۍ منتج کېږي چې مغرور، عاصي، طاغي، د لښکرو خاوند او مطلق العنان او مستبد واکمن دی، په ستر او شديد عذاب اخته شوی، هم د هغو لپاره عبرتناك چې د ده د اقتدار په وخت کې ژوندي وو او دا صحنه ئې په خپلو سترګو ليدلې او هم د هغو لپاره چې له ده نه وروسته راغلي او د ده له بد عاقبت او پايلې خبر شوي. دا تاريخي قصه ښيي چې زمونږ په دې نړۍ کې د ظالمانو د مؤاخذې او محاکمې

سنت حاکم دی، له هغوی سره محاسبه کېږي او خپله سزا ګوري، دا دنیا بې خاونده ملك نه دی، ځان ته خاوند او مالك لري، له هر چا سره محاسبه کوي، عملونو ته بدله ورکوي، د مکافات او مجازات پرېکړه کوي، د قیامت د منکرینو تصور او انګېرنه بې بنسټه او کاواکه ده او له هغې انتباه سره تصادم کوي چې هر عاقل انسان ئې له تاریخي پېښنو څخه اخلي.

ج: د فرعون دا ادعا چې وایي: (زه مو اعلی رب یم)، دقت او څېړنه غواړي، باید وګورو چې د ده د خبرې معنا څه ده؟ په دې سره ئې خلکو ته څه ویلي، مقصد ئې څه دی او له خلکو نه څه غواړي؟!! آیا خلکو دی د اوچت او لوړ معبود په حیث منلی؟ آیا دا ممکن ده چې څوك دې د ځان په څېر یو انسان خپل معبود وګڼي او د ده په ستاینې او لمانځنې کې هغه ځای ته ورسېږي چې له هغه نه ځان ته تر ټولو لوړ او ستر معبود جوړ کړي؟!! ممکنه نه ده چې له دې خبرې به د فرعون مقصد دا وو چې ځمکه او آسمان ما پیدا کړي او زه هماغه خدای یم چې له آسمانه ځمکې ته راکوز شوی، حتماً به ئې مقصد له دې پرته بل څه وو او حتماً به دا هغه څه وو چې هر فرعون ئې وایي او هغه څه چې د هر فوعون بندګان، ملګري او هغه ته تسلیم شوي ئې مني. هغه ویناوې چې فرعون کړې او د قرآن له نظره هغه د الوهیت او ربوبیت له ادعا سره مترادف دي او قرآن هغه د فرعون له ویناوو رانقل کړې، هغه دا دي: زه د مصر او د مصر د خلکو او شتمنیو ټولواك یم، نهرونه او ځمکې ئې زما دي، هغه کار چې ما ئې د کولو اجازه نه وي ورکړې، ناجائز او د مؤاخذې وړ دی، قانون همغه دی چې زه ئې قانون ګڼم او لارښودنه همغه چې زه ورته لارښودنه وایم، نه به بله مرجع د قوانینو وروستۍ مرجع ګڼئ او نه بل څوك خپل لارښود، د دې ملك مطلق العنان واکمن زه یم، دلته به له ما پرته د بل چا اطاعت نه کېږي. هر څوك چې دا خبرې وکړي، هغه فرعون دی او ځان ئې د خلکو اعلی رب ګڼلی او هر څوك چې کوم واکمن په دې معنا خپل واکمن ومني، هغه د فرعون بنده دی او هغه ئې خپل اعلی رب منلی، که څه هم نه د ده فرعون په خپله خوله ووایي چې زه اعلی رب یم او نه دی ووایي چې دا مې اعلی رب دی. له دې معلومېږي چې ډېر چارواکي

فراعنه دي او ډېرو خلکو دا فراعنه خپل معبودان ګرځولي!!!

د: په **۲۵** آیت کې د فرعون پاېله الهي مؤاخذه او نکال الآخرة و الاولی، ښودل شوې، چې په دې اړه د درنو مفسرینو ترمنځ څو راېې مومو:

۱ـ الله تعالی د آخرت او دنیا په عذاب اخته کړ، له اولی نه د دنیا عذاب او له اخری نه د آخرت عذاب اخلي او د دې اعتراض په ځواب کې چې ولې د آخرت عذاب د دنیا له عذابه مخکې ذکر شوی، وایي دا په دې خاطر چې د آیتونو فواصل او قافیه سره ورته شي.

۲ـ الله تعالی هغه داسې مؤاخذه کړ چې د وروستنیو او مخکنیو لپاره د عبرت سبب شو.

۳ـ الله تعالی داسې مؤاخذه کړ چې هم ئې د خپلو مخکنیو ګناهونو سزا وګوري او هم د وروستنیو، هم د هغه طغیان سزا ورکړی شي چې د موسی علیه السلام له بعثت نه مخکې ئې کړی او هم د هغه مخالفت او بغاوت چې د ده له بعثته وروسته ئې کړی.

په دغو تعبیرونو کې لومړی تعبیر په څو دلایلو کمزوری او ضعیف دی: لومړی دا چې فرعون لا تراوسه د خپل طغیان او بغاوت اخروي عذاب نه دی څکلی. دوهم دا چې که له نکال الآخره څخه مراد اخروي عذاب وی نو حتماً له نکال الاولی نه وروسته راتلو، نه له هغه نه مخکې او درېیم دا چې نکال هغه عذاب ته ویل کېږي چې نورو ته د پند او عبرت باعث شي او هغوی له ګناهونو راوګرځوي، د نکال لغوي معنا ته په پام سره باید دا دواړه دنیوي عذاب او عقوبت وي نه اخروي. د مزمل په سوره کې هم دنیوي عذابونه د انکال په صیغه او اخروي عذاب د جحیم په نامه یاد شوی: (ان لدینا انکالاً وجحیماً)، له دې نه هم معلومېږي چې له نکال نه دنیوي عذاب مراد دی.

---

ÇËÑÈ $g1§¡ù $g3ð™ ìù' ÇËÐÈ $g8Y/ â$K¡¡ 9$ Ö& $)ùz ‰©& Ł$R&ä

ÇÌÈ $g8mŠ 7ÿ'Œ %è/ Ú ö¢$r ÇËÈ $g9té I •ž&r $g:ø | · Üô&r

ö8ã© $è¥»GB ÇÌËÈ $g9™ö A$7ø$r ÇÌÊÈ $g8ãöBr $dä$B $k]ÿB I •ž&

ÇÌÌÈ ö8ä3Ü»èR{ r

۲۷- تاسو به وئ ګران په پیدا ښت کې که آسمان چې جوړ ئې کړ؟ ۲۸- لوړتیا ئې کړه ورلوړه او ښه ئې برابر کړ. ۲۹- او شپه ئې کړه ورپټه او راوې ایسته غرمه ئې. ۳۰- او له دې نه وروسته ځمکه ئې خوره کړه. ۳۱- راوې ایستې اوبه ئې او واښه ئې. ۳۲- او ځای په ځای ئې ودرول دا غرونه. ۳۳- متاع ستاسو لپاره او ستاسو د څارویو.

۲۷- په تفسیرونو کې د دې مبارك آیت دوه د پام وړ تعبیرونه مومو:

الف: تاسو مضبوط پیدا شوي یئ که دا آسمان چې ښه ئې لوړ جوړ کړی او هر څه په کې منظم او په پوره دقت سره؟!! دا ولې لویې کوئ، مغرور یئ او په ځان غره شوي یئ؟!!

ب: آیا ستاسو بیا پیدا ښت به ګران کار وي که د دې آسمانونو چې له دې لوړوالي او دقیق نظم سره ئې پیدا کړي؟!! آیا هغه ذات چې دا آسمان ئې له دې عظمت، وسعت، ستروالي او لوړوالي سره پیدا کړی، هر څه ئې په کې ښه او دقیقاً تنظیم کړي، شپه او ورځ ئې په کې پیدا کړې، ځمکه ئې خورولې اوبه او واښه ئې په کې راپیدا کړي، غرونه ئې په کې ودرولي او هغه ئې له یوې خوا د ځمکې لپاره لنګرونه ګرځولي او له بلې خوا ئې په هغوی کې ستاسو او ستاسو د څارویو لپاره د رزق او روزي اسباب برابر کړي، آیا دا ذات په دې قادر نه ګڼئ چې تاسو بیا راژوندي کړي؟!! مګر خپل بیا پیدا ښت د آسمانونو او ځمکې تر پیدا ښت ګران او ناشونی کار ګڼئ؟!!

لومړی رأیه په دوه دلیله ضعیفه او کمزورې ده:

- دا توجیه نه د دې برخې له آیتونو سره اړخ لګوي، نه ئې له سیاق و سباق سره او نه له ټولې سورې سره.
- په مخکنیو او وروستیو آیتونو کې هغه مطلب نه مومو چې دا تعبیر ورته ګوته نیسي، د سورې د بحث اصلي موضوع د قیامت او بیا ژوندون اثبات دی، نه د انسان غرور، تکبر، لویې غوښتنه او ځان ترنورو لوړ او ستر ګڼل، په مخکنیو او وروستنیو آیتونو کې هیڅ داسې څه نه ګورو چې دا تعبیر تائید کړي، دا توجیه خو له دې مبارك آیت نه هغه معترضه جمله جوړوي چې له مخکې او وروسته سره ئې هیڅ ربط نه وي، خو دوهم تعبیر نه یوازې له ټولو آیتونو سره د دې آیت دقیق تړاو او ارتباط په ګوته کوي بلکې هغه د دې سورې د اصلي مدعا د اثبات لپاره د یوه قانع کوونکي، مضبوط او پیاوړي دلیل په توګه وړاندې کوي.

**۲۸ـ۲۹**: دا مبارك آیتونه د آسمان څلورو ځانګړتیاوو ته اشاره کوي:

الف: پیداکوونکي او پالونکي ئې د هغه لوړوالی ورلوړ کړ، دا د آسمان د لوړوالي د بیانولو لپاره ډېر دقیق او موزون تعبیر دی، د آسمان د لوړوالي د عظمت بیانولو لپاره تر دې موزون تعبیر نشو موندلی. د آسمان لوړوالی هومره دی چې زمونږ د شمسي نظام د اړوند کهکشان او ستور لیکو د ځینو ستورو نور له ملیونونو نوري کلونو نه وروسته زمونږ ځمکې ته رارسي او ځینې ئې په داسې سرعت سره له مونږ نه لرې کېږي چې نور ئې اصلاً ځمکې ته هیڅکله نه رارسي، زمونږ د اړوند ستور لیکې ترڅنګ په ملیونونو نور ستورلیکې شته چې د هر یوه قطر او سور په ملیونونو نوري کاله دی او زمونږ د کهکشان له آخري مدار نه ئې واټن په ملیونونو نوري کاله دی. مونږ د آسمان د لوړ والي د تعیین لپاره نه کوم د اندازې واحد په واك کې لرو او نه کوم رقم او شمېر، دا لوړوالی یوازې د دغه مبارك آیت دقیق ترکیب بیانولی شي.

ب: له ټول لوړوالي او ستروالي سره سره ئې هغه مضبوط او منظم جوړ کړی او د هغه په پراخې سترې غېږ کې ئې دا بې شمېره ستوري هر یو په خپل خپل ښاېسته

او مناسب ځای کې ایښی.

ج: آسمان ئې داسې ګرځولی چې له هر څو ساعتونو وروسته زمونږ د ځمکې فضاء تیاره شي او شپه راشي، سره له دې چې د آسمان په غېږ کې داسې ستوري شته چې نور او حرارت ئې په زرهاوو ځله تر لمر زیات دی، خو دا روښانه او تاوده ستوري ئې زمونږ له ځمکې نه په داسې واټن کې ایښي چې د شپې له خوا او کله چې لمر پرېوځي زمونږ مزاحم نشي او زمونږ د شپو تیاره او سکون له منځه یونسي.

د: زمونږ د ځمکې په آسمان کې ئې داسې لمر پیدا کړی چې مونږ ته رڼا او تودوخه راکوي، که دا لمر نه وی نو زمونږ ځمکه به د ډېرو نورو ستورو په څېر تل سړه او تیاره او د ژوند لپاره نامساعده وه.

۳۰-۳۱: دا آیتونه د ځمکې درې ځانګړتیاوې په ګوته کوي:

الف: ځمکه ئې د آسمان له تسویې او برابرولو وروسته اواره کړه، ځینو مفسرینو دا ګمان کړی چې د (بعد ذلك) نه ښایي مراد دا وي چې ځمکه او آسمان یو له بل نه وروسته په یوه زماني تفاوت سره پیدا شوي، لومړی یو او ورپسې بل، ځینو دا مخکې ګڼلی او ځینو بل، دا په داسې حال کې چې قرآن په ډېر صراحت سره فرمایي چې ځمکه او آسمان سره جوخت او یوه کتله وه او د یوې سترې چاودنې په ترځ کې سره بېل شوي او په یوه وخت کې راپیدا شوي، داسې نه ده چې لومړی یو او بیا بل پیدا شوی وي، کوم آیتونه چې تأخیر او تقدم افاده کوي هغه د ځمکې او آسمان د تسویې د څرنګوالي بېلو بېلو پړاونو ته اشاره کوي، نه د دوی د پیدا ښت نېټې ته، یعني تسویه او برابرول ئې یو په بل پسې ترسره شوي، لکه چې دلته په ۳۰ آیت کې ویل شوي چې د ځمکې اوارول د آسمان له برابرولو وروسته ترسره شوي.

ب: په ځمکه کې ئې اوبه خلق کړې او هغه ئې د ځمکې له زړه راوایستې، د دې معنا دا ده چې اوبه له بل ځای او له کومې بلې سیارې ځمکې ته نه دي راانتقال شوې، بلکې په خپله په ځمکه کې راپیدا شوې او له ځمکې راخوټېدلې.

ج: په ځمکه کې ئې د نباتاتو د راټوکولو استعداد ایښی، د اوبو له پیدا ښت

نه وروسته ئې د هغې نباتات راشنه کړل، نو دا نباتات هم له بله ځایه ځمکې ته نه دي راوړل شوي، بلکې د ځمکې له زړه راټوکېدلي.

دې ته مو باید پام وي چې دا دوه مسئلې (د ځمکې پر سر اوبه څنګه راپیدا شوې او نباتات څنګه راشنه شوي) له هغو مسایلو څخه دي چې له اوږدې مودې راایسې تحقیقات وربانديې روان دي او ساینس نن هغې نتیجې ته رسېدلی چې قرآن څوارلس سوه کاله د مخه بیان کړې، ساینس نن همغه خبره کوي او وایي چې اوبه او نبات په خپله په ځمکه کې راپیدا شوي او له بلې سیارې ځمکې ته نه دي راانتقال شوي.

۳۲- ۳۳: په دې مبارکو آیتونو کې د غرونو په اړه څو مطالب ویل شوي:

الف: غرونه د اوبو او نباتاتو له پیدا کېدو وروسته پر ځمکه راپیدا شوي.

ب: ځمکه د غرونو له پیدابښته مخکې لړزېدله، داسې لنګرونو ته ئې ضرورت وو چې لړزه ئې مهار کړي، الله تعالی غرونه پرې راپیدا کړل او په دې سره ئې د هغې نامنظم خوځښت ختم کړ.

ج: غرونه داسې پیدا شوي چې انسانان او حیوانات ئې له بې شمېره برکاتو نه ګټه واخلي، نهرونه، چینې او کاریزونه ئې له غرونو سرچینه اخلي، دا غرونه دي چې د ځمکې پر سر د بېل بېل موسم او هوا لامل دي او په همدې سره د ځمکې بېلو بېلو سیمو کې د مختلفو دانو او مېوو د راټوکېدو شرایط برابر شوي، که غرونه نه وی نو د ټولې ځمکې هوا به تر ډېره حده یو شان وه او له رنګ رنګ مېوو او دانو به محروم وو.

ÇÌÎÈ Ó4ë™ $B ß»¡RIŊI$ ã©×Gƒ Pöƒ ÇÌÍÈ 3‘ Ž0B9$ pB$Ö9$ Ïä!` #Œfù

$‹R‰9$o4Štø$•0#är ÇÌÐÈ Ó4öÛ `B $B'ù ÇÌÏÈ 3‘ •ƒ `Jï ÐŠÅgø$Ï–hç

‘gRr ¾ïhƒ P$)B $%{ ôB $B&r ÇÌÒÈ 3‘ rÙJ9$ ‘ï LìÅgø$bfù ÇÌÑÈ

Çã 7 Rqèó„ ÇÍÈ 3“ rÙJ$ ‘Ïd pŸgø$ bîù ÇÍÈ 3“ qlù$ Çã § ÿZ9$

ÇÍÍÈ $g9kJYã 7 ĥf 4‹ĵ ÇÎÎÈ $g1•øË `Ë MR& Lìü ÇÍÈ $g9™öã b$ƒ& þã$¡ 9$

ƒ& þS±ã žvĵ (þé7ù ó9 $kX•ƒ Pöƒ Ñå(. ÇÎÎÈ $g9±øt `B âÉZã MR& $JRĵ

ÇÎÎÈ $g9tèÏ

۳۴- نو چې راشي هغه ستره هنګامه. ۳۵- هغه ورځ چې انسان یاد کړي خپلې کړنې. ۳۶- او څرګند کړی شي دوزخ وهغه چا ته چې څه ویني. ۳۷- نو هغه چې ئې وکړه سرکښي. ۳۸- او د دنیا ژوندون ئی خوښ کړ. ۳۹- نو بې شکه چې جحیم به وي تمځی. ۴۰- او اما هغه چې په وړاندې د خپل رب له ودرېدو ووېرېدو او منع ئې کړ نفس، هوی هوس نه. ۴۱- نو بې شکه چې جنت به وي تمځی. ۴۲- تا پوښتي له ساعت نه چې دا کله به وي وخت د ودرېدو ئې؟ ۴۳- دا ته په څه (مقام) کې یې د دې د یادولو. ۴۴- پای خو ئې دی ستا د رب په لوري. ۴۵- ته خو یو منذر یې هغه چا ته چې لدې څخه وېرېږي. ۴۶- داسې به وي دوی په هغه ورځ چې وئې ګوري: چې ندي پاتې شوي مګر یوازې یو ماښام او یا غرمه ئې.

**۳۴ـ ۳۶**: د بیاژوندون او آخرت د اثبات لپاره هم د کائنات په غېږ کې مشهود او هرې خواته ترسترګو کېدونکي دلایل وړاندې شول، هم په تاریخي دلایلو استشهاد وشو او هم پر عقلي دلایلو استناد، د دغو ګڼ شمېر دلایلو له وړاندې کولو وروسته اوس د قیامت څو هیبتناکې صحنې انځوروي او زمونږ مخې ته ئې ږدي او فرمایي:

کله چې هغه ستره پېښه راشي، انسان به خپل ټول کړه وړه، ټول هغه څه را په یاد کړي چې په آخرت له نه باوره څرګند وګوري، هغه ځای چې دا باورونه او کړنې پرې منتج کېږي، همغه چې په دنیا کې ئې ترې انکار کاوو.

۳۷- ۳۹: د چا چې دا دوه خصلتونه وو، هستوګنځی به ئې جحیم وي:

الف: طغیان او سرکښي

ب: دنیا غوره کول او وروستی هدف ئې ګڼل.

۴۰ـ ۴۱: او چا چې دوه نور صفات درلودل هستوګنځی به ئې جنت وي:

الف: له الله سره له مخامخ کېدو، د هغه په وړاندې له ودرېدو او له الهي محاسبې نه په وېره کې وو.

ب: خپل نفس ئې مهار کړی وو او د هوی او هوس له بندګۍ نه ئې ځان ساتو.

په آخرت باور او ایمان په دې منتج کېږي چې انسان محتاط وي، هر ګام په احتیاط سره پورته کړي او د هوی او هوس له بندګۍ نه ځان وساتي او په آخرت عدم باور له ده نه لاابالي او بې باکه انسان او د هوس بنده جوړوي، پر آخرت د ایمان نښه تقوی او ځان ساتنه ده او په آخرت د عدم باور نښه د نفس بندګي ده. انسان له دغو دوو لارو نه یوه غوره کولی شي: یا به ئې اعتقاد او باور دا وي چې قیامت راتلونکی دی، د الله په لور به درومي او د خپلو کړو وړو به حساب ورکوي، دا اعتقاد به ئې دې ته اړباسي چې محتاط وي، خپلو ناروا نفسي غوښتنو ته تسلیم نشي، د خپل نفس د ارضاء لپاره د نورو په حق تېری ونکړي او له حرامو او ناروا لارو خپلې نفسي غوښتنې پوره نکړي او یا دا چې په آخرت به ئې باور نه وي، د خپل نفس بنده شي، هر هغه څه ترسره کړي چې د ده هوس ئې ترې غواړي، د حلال او حرام پروا ونلري، نه د نورو حق ورته معنا لري او نه ئې مراعات او په پام کې ساتل، له دغو دوو لارو څخه یوه جنت ته درومي او بله ئې دوزخ ته.

۴۲: اوس چې د آخرت منکرینو ته هیڅ بهانه نه ده پاتې، ټولې پوښتنې ئې ځواب شوې، د اندېښنو د ختمولو لپاره ئې کافي دلائل ترلاسه کړي، نو پوښتنه

کوي: د قيامت د راتلو نېټه به کله وي؟!! ولې تراوسه نه دی راغلی؟ ولې ځنډېدلی؟ له دې پوښتنې نه د دوی موخه دا نه ده چې د قيامت د راتلو دقيقه نېټه معلومه کړي، بلکې په دې سره غواړي بيا هم د انکار لپاره يو بل دليل وړاندې کړي، مقصد ئې دا دی چې: ډېر پيغمبران او دعوتګران راغلي او هريوه د قيامت د راتلو خبره کړې، خو تراوسه د هيڅ يوه وړاندوينه سمه ونخته او قيامت رانغی، نو ته مونږ ته دقيقاً ووايه چې: د قيامت د راتلو ثابته نېټه کومه ده او کله به واقع کېږي؟

ګورئ چې په دې مبارك آيت کې د (الساعة) لفظ راغلی، خو نه دی مشخص شوی، د (الساعة) د لفظ اطلاق په هر ساعت کېدی شي، خو د دې لپاره چې هغه په ځانګړې مضمون کې راغلی، معنا به ئې د همدې مضمون په ترخ کې لټوو، دلته په مضمون کې له الطامة الکبری (لويه هنګامه) نه بحث روان دی او دا لفظ د همدې بحث په ترخ کې کارول شوی او ځانګړې معنا افاده کوي، مراد ئې د (الطامة الکبری) د وقوع نېټه ده. همداسې بايد په نورو مواردو کې هم د الفاظو دقيقه معنا د کلام په متن کې ولټوو نه د لغت په کتابونو کې او د لغت له کتابونو نه يوازې هغه معنا ورته غوره کړو چې د آيت ټول متن او د کلام اړونده برخه ئې تائيدوي.

۴۳- ستا ئې له دې سره څه؟ ستا دنده دا نه ده چې د قيامت د راتلو دقيقه نېټه وښيې او په دې هکله وړاندوينه وکړې، ته په هغه موقعيت کې نه يې چې دا وړاندوينه وکړې او دقيقه نېټه ئې په ګوته کړې. له الله پرته هيڅوك په دې نه دی خبر. د اعراف د سورې په ۱۸۷ آيت کې دا مطلب مزيد توضيح شوی:

يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي لاَ يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلاَّ هُوَ ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ لاَ تَأْتِيكُمْ إِلاَّ بَغْتَةً يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ * الاعراف: ۱۸۷

د دې نېټې په اړه له تا پوښتي چې د وقوع وخت ئې کله دی؟ ووايه: علم ئې فقط زما له رب سره دی، له ده پرته ئې بل څوك په خپل وخت کې نه راڅرګندوي، په آسمانونو او ځمکې کې درنه شوې، درته نه راځي مګر ناڅاپي، تا داسې پوښتي چې ګواکې ترې خبر يې، ووايه: علم ئې يوازې له

الله سره دی،: خو اکثر خلك نه پوهېږي.

دا آیت په مکرره توګه د قیامت علم الله تعالی ته مختص کوي او پر دې تأکید کوي چې فقط الله به ئې په خپلې ټاکلې نېټې کې رابرسېره کوي او له دې پټ رازه به پرده اوچتوي، ناڅاپي او له مخکنۍ اطلاع نه پرته به تاسو نیسي، د دې لپاره چې د قیامت حادثه هومره ستره ده چې ټول آسمانونه او ځمکه به احتوا کوي، نو ځکه ئې په ټاکلې نېټې پوهېدل انسان ته ګران شوی. له پیغمبر علیه السلام نه ستاسو پوښتنې داسې دي لکه چې هغه ترې خبر وي، په داسې حال کې چې له الله پرته هیڅوك پرې نه پوهېږي.

**۴۴ـ** د دې آیت تحت اللفظی ترجمه دا ده: پای ئې ستا د رب په لوري دی. دا آیت یوازې او له مخکني سره له تړاو نه پرته کېدی شي ډېرې معاني ولري، خو مونږ مکلف یو یوازې هغه معنا ئې راواخلو چې د ټول کلام په ترڅ کې او له مخکني او ورستني آیت سره یو ځای ئې افاده کوي، مخکنی آیت په دې تأکید لري چې ته اې پیغمبره په داسې موقعیت کې نه یې چې د قیامت د ټاکلې نېټې په هکله څه ووایې، نو د ورپسې آیت چې وایي: پای او منتها ئې الله لره ده، دا مطلب افاده کوي چې په دې هکله څه ویل د الله کار دی، لومړۍ او وروستۍ خبره به هغه کوي، له الله پرته هیڅوك پرې نه پوهېږي، د قیامت پېښه کومه وړه پېښه نه ده چې انسان وکولی شي په دې پورې مربوط پوهه او علم باندې احتوا وکړي او په درك کولو ئې قادر شي، بلکې دا یوه داسې ستره پېښه ده چې په ټول کائنات، ځمکې او آسمانونو به احتوا کوي، د داسې یوې سترې پېښې چې لمن به ئې هومره خوره وي او دومره بې شمېره شیان به په خپلې غېږ کې نیسي، د دې پېښې په ټولو ابعادو پوهېدل، انسان ته له دې محدود عقل او کمزورو حواسو سره ممکن نه ده، دا علم یوازې له الله سره ښایي.

**۴۵:** دا مبارك آیت د قیامت په اړه د پیغمبرعلیه السلام وظیفه په دې کې راخلاصه کوي چې خلکو ته منذر او خبرداری ورکوونکی وي، باید خلك د دې ورځې له ناڅاپي راتلو نه ووېروي، که څه هم د پیغمبرعلیه السلام انذار او

خبرداری د ټولو لپاره دی، خو د دې لپاره چې سرکښ او بې باکه انسانان چې د هوی او هوس بندګان او د خپلو کړو وړو د پایلو په اړه بې پروا دي او هیڅ انذار او خبرداري ته اعتناء نه کوي، دوی ته د پیغمبرعلیه السلام انذار ګټه نه رسوي، نو ځکه دلته ویل شوي چې ته د هغو کسانو لپاره انذار او خبرداری ورکوونکی یې چې د قیامت له راتلو وېرېږي، ستا انذار یوازې دغو ته ګټه رسوي، نو په حقیقت کې ته یوازې د دوی لپاره منذر یې.

**۴۲**: د قیامت د منکرینو یو اعتراض، د (وخت او زمان) په اړه د دوی له غلط او خاطئ تصور او انګېرنې نه راولاړېږي، دوی وایي: پس له هغه چې ومرو او ډېره موده تر ځمکې لاندې تېره کړو، څنګه به بیا راژوندي کېږو او خپل لومړني حالت ته به ورګرځو؟ ولې تراوسه چې د انسانانو په لومړنیو نسلونو اوږده موده تېره شوې هیڅوك بېرته راژوندی نشو؟ که بیاژوندون رښتونی وی باید تراوسه حتماً ترسره او آثار ئې رابرسېره شوي وی!!

قرآن د دوی په ځواب کې فرمایي: کله چې هغه ورځ راشي او د آخرت نه منونکي له قبرونو نه راپاڅي او هغه ستره هنګامه په خپلو سترګو وګوري، نو د (زمان) په اړه به خپلې انګېرنې او معیارونه غلط ومومي، ټوله هغه اوږده موده چې دوی ترخاورو لاندې تېره کړې، دا به یوازې د یوې ورځې نیمایي ګڼي، یوه غرمه یا مازدیګری ئې!! اوس خو د (وخت) په اړه د دوی تنګ او محدود احساس، د دوی کمزوري حواس په خپلې لومې کې تړلي او د مجدد بعثت له منلو ئې عاجزه کړي، هغه موده چې په سترو سترو مقیاسونو کې له هیڅ سره برابره ده، ډېره اوږده او حتی بې انتهاء ګڼي او د بیاژوندون په وړاندې ئې ستره مانع بولي، دوی همدلته، د وخت د زندان په حصار کې په داسې حال کې پرېږده چې پر سترګو ئې د دغه قید پرده پرته ده او د عقل وزرونه ئې په دې زنځیر تړل شوي، د هغې ورځې په رارسېدو او د دغو پردو په راکوزېدو او د دغو زنځیرونو په شلېدو سره به په دې پوه شي چې د ځمکې ترلاندې د دوی پاتې کېدل هومره هم اوږد او طولاني نه وو چې دوی ګمان کاوو او هغه ئې له قیامت نه د انکار دلیل ګاڼو.

# عبس

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم (عبس) دی، چې دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دی چې له نورو نه پرې پېژندل کېږي او له لومړي آیته اخیستل شوی. ۴۲ آیتونه لري، له مکي سورتونو څخه ده، له مضامینو ئې معلومېږي چې د دعوت په لومړیو کې هغه وخت نازله شوې چې د قریشو مشرانو لا تردې وخته له پیغمبر علیه السلام سره خپلې خبرې آترې، ناسته پاسته او راکړه ورکړه نه وه قطع کړې او خپله دښمني ئې لا نه وه پیل کړې.

د دې سورې د شأن نزول په اړه ټول مفسرین متفق دي او وایي: یوه ورځ پیغمبر علیه السلام د ابوجهل، عتبه، اُبی ابن خلف، امیه بن خلف او شیبه په څېر د قریشو له سردارانو سره غونډه درلوده او هغوی ئې اسلام ته رابلل، ناڅاپه عبدالله بن ام مکتوم، د خدیجې رضي الله عنها ترورزی، د غونډې ځای ته راغی او وئې ویل: یا رسول الله! ارشدنی (اې د الله رسوله ما ته لارښودنه وکړه)، د ده ناڅاپي راتګ او د مجلس اخلال، پیغمبر علیه السلام ته نامناسب وبرېښېدو او پرې ناراضه شو، غوښتل ئې په دې حساس وخت کې ئې څوك مزاحم نشي، انتظار ئې دا وو چې که د قریشو له دغو مشرانو څخه هر څوك ئې ایمان راوړي نو د قریشو ډېر

کسان به له مخالفته لاس واخلي، له مسلمانانو سره به يو ځای شي، د ده دعوت به ومني او لږ ترلږه مخالفت به ئې راکم شي، دغه احساس د دې باعث شو چې پيغمبر عليه السلام د قريشو سردارانو او صناديدو ته اعتناء ولري او د عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه په اړه بې اعتنائي وکړي. الله جل شأنه چې د ټولو رب دی او د هغه سبحانه و تعالی په نزد کې د چا اجتماعي حيثيت اهميت نلري، د پيغمبر عليه السلام په دې حرکت ناراضه او يوه مکمله سوره ئې په همدې اړوند نازله کړه. پيغمبر عليه السلام د دغې سورې له نزوله وروسته وفرمايل: زه خپل رب د عبدالله بن ام مکتوم په وجه عتاب کړم، له دغې ورځې وروسته چې کله به هم عبدالله بن ام مکتوم د ده خواته راتلو نو خپل څادر به ئې ورته وغوړاوو او ډېر احترام او عزت به ئې کاوو، دوه ځله ئې په خپل غياب او د جنګ جبهو ته د تلو په وخت کې ئې هغه د مدينې منورې د چارو مسئول او خپل ځای ناستی ټاکلی. ښايي ډېرو لوستونکو ته به دا خبره عجيبه معلومه شي چې ولې يو بسيط او عادي حرکت دومره جدي نيول شوی او په اړه ئې يوه مکمله سوره، له عتابه ډکې لهجې سره نازل شوې؟!! خو که د دوست او دښمن او د دعوت د معاند او موئيد په اړه او د ټولنې د مختلفو ډلو د معرفي په ارتباط د قرآن لارښودنو ته لږ ځير شو، د دې پوښتنې ځواب په آسانۍ موندلی شو. قرآن په دې ارتباط خلك په دوو ډلو وېشي:

الف: مستکبرين:

هغه چې لويي غوښتونکي دي، ترنورو ځان لوړ ګڼي، پر ټولنې حاکم او مسلط دي او پر ټولنې حاکم اقتصادي او اجتماعي نظام بې شمېره امتيازات دوی ته ورکړي، د دوی رفاه، سوکالي او پرنورو برلاسي ئې تضمين کړې، د خلکو قيادت او زعامت ئې د دوی په واك کې ورکړی او د ټولنې شتمنۍ ئې د دوی په لمن کې اچولې دي، دا ډله چې کله ئې قرآن د ملأ (درباريان او سردارن) په نامه يادوي او کله ئې د مترفين (شتمن او سوکاله) په نامه، دوی تل او د هر پيغمبر د دعوت او بلنې او د هر مصلح د قيام په خلاف ودرېدلي، مستکبرين تل د حاکم نظام جدي حاميان او مدافعان وي، تل له باطل زاړه مذهب او د ولس له غلطو زړو

باورونو او معتقداتو او پر ټولنې د حاکم سياسي، اجتماعي او اقتصادي اړيکو او مناسباتو نه په کلکه دفاع کوي او هر بدلون خپلو ګټو ته جدي ګواښ ګڼي، د همدې لپاره د هر تحول او انقلاب په ضد مخالفت ته ملا تړي، قرآن په دې اړه فرمايي:

وَمَآ أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلاَّ قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُمْ بِهِ كَافِرُونَ * سبا: ۳۴

او هيڅ کلي ته مو کوم خبرداری ورکوونکی پيغمبر نه دی لېږلی مګر دا چې مترفينو ئې وويل: مونږ په قطعي توګه ستاسو له رسالته منکر يو.

شعيب عليه السلام ته د ده د قوم د ملأ او مترفينو ځواب دا وو:

قَالَ الْمَلأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُواْ مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يشُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ * الاعراف: ۸۸

د ده د قوم لويي غوښتونکو سردارانو وويل: اې شعيبه! يا به تا او هغه مؤمنان چې درسره دي حتماً له خپل کلي باسو او يا به هرمرو زمونږ مذهب ته بېرته راګرځئ، وئې ويل: که څه هم (ترې) کرکه ولرو؟!

د قرآن ټولن پوهنه او د اسلامي دعوت په وړاندې د جامعې د بېلابېلو پرګنو د عکس العمل په اړه د قرآن تحليل دا حکم کوي چې مؤمن او انقلابي دعوتګران بايد هيڅکله د ټولنې له دې ډلې نه د حمايت او تائيد انتظار ونلري او د هغو مخاطبينو په ضمن کې ئې ونه نيسي چې د موافقې او له صف سره د يو ځای کېدو طمع ترې کېږي.

ب- مستضعفين:

هغه چې په ټولنې حاکم نظام او واکمنان ئې دوی په ضعف او بې وزلۍ کې ساتي، محروم او محکوم دي، بې وسه، نادراه او ناتوانه دي، د قرآن له نظره د پيغمبرانو د دعوت اصلي مخاطبين همدا مستضعفين دي، پيغمبران د دوی د ژغورنې لپاره لېږل شوي، همدا دوی دي چې تل د پيغمبرانو په څنګ کې ودرېدلي او د دوی د دعوت د بريا لپاره ئې قربانۍ ورکړې.

موفق دعوتګر باید خپل مخاطبین د خپلې عقیدې په رڼا کې درجه بندي کړي، دوست له دښمنه تفکیك کړي، اصلي اعتناء او التفات ئې هغه مخاطب ته وي چې مخکې یا وروسته به له صف سره یوځای کېږي او د هغه چا په اقناع باندې خپل وخت ضایع نکړي چې لجوج او نه قانع کېدونکی مخاطب دی او په وروستي تحلیل کې د دښمنانو له ډلې دی او هیڅکله د دوستانو په زمره کې نه راځي، باید دې ته متوجه وئ چې مستکبرین او لویې غوښتونکي هیڅکله دا نه مني چې په ټولنې کې عدالت او برابري وي، دوی تل د ملګرتیا په مقابل کې امتیاز غواړي، شرایط وړاندې کوي، په دې اصرار کوي چې له نظام سره مخالفت ونشي او په وضعیت کې د بدلون هڅه ونشي، داسې نظام غواړي چې په هغه کې د خلکو ترمنځ تفاوت او نابرابري د یوه اصل په حیث منل شوی وي، د دوی برلاسي او لوړوالی تضمین کړي او دا هغه څه دي چې هیڅ الهي دین ئې نه مني. دغې طبقې ته اهمیت ورکول په دې منتج کېږي چې دعوتګران له خپلو فکري او اعتقادي مبادیو او اصولو تنازل وکړي، د لویې غوښتونکو شرایط ومني او په دې سره له اصلي مسیره منحرف شي او د خپل دعوت اساسي اصول او موازین مخدوش کړي. دغو اساسي ټکیو ته په پام سره د هغې غونډې بهیر جدي نیول شوی او یوه مکمله سوره له عتابي لهجې سره نازل شوې.

د دې موضوع اهمیت هلته لازیات راڅرګندېږي چې د عبدالله بن ام مکتوم خپلوي له پیغمبر علیه السلام سره هم په پام کې ولرو، عادتاً له اقاربو سره په چلند کې د پردیو په پرتله له ډېر تکلف نه کار نه اخیستل کېږي، مخصوصاً له پردیو مېلمنو نه د استقبال په وخت کې، که په داسې یوه محفل کې د پیغمبر علیه السلام هغه عدم التفات دومره جدي نیول کېږي، نو له دې نه دا معلومولی شئ چې دا قضیه د اسلام له نظره څومره اهمیت لري. دا جریان مونږ ته ښیي چې د اسلام په اند د یوه داعي چلند باید له دوست او دښمن او له هدایت طلب مخاطب او امتیاز طلب خصم سره څنګه وي، په دې کې هره اشتباه د مؤاخذې وړ اشتباه ګڼل کېږي، مؤمن دعوتګران باید متوجه وي چې په ایماني معیارونو کې یو عادي حقپال او

حقیقت لټوونکی، که څه هم په سترګو ړوند وي، تر سلو هغو لویې غوښتونکو غوره دی چې د حق او حقیقت په ځای د امتیازاتو په لټه کې وي، که څه هم قیصر، پاچا او وزیر وي، باید هغو کاذب او دروغجنو اعتباراتو او د ټولنې د سردارانو او سالارانو هغه جاه او جلال ته چې حاکم استبدادي نظام دوی ته ورکړی، ارزښت او اهمیت ورنه کړو، که ته په رښتیا یو مؤمن داعي یې نو ستا اصلي دنده دا ده چې همدغه نظام او د هغه کاذب ارزښتونه رانسکور کړې، ستا د ایمان او عقیدې غوښتنه همدا ده.

د دې مبارکې سورې د بحث اصلي موضوع همدا ده او ټول آیتونه ئې په همدې محور راڅرخي.

بسم الله الرحمن الرحیم

ﭑ ÇÌÈ #1"ƒ ¼ãã©9 7 ƒÍ 6ãã$Br ÇÊÈ 4 JãR{ $qçä! ` b& ÇËÈ #<q?r § 6ã

ÇÍÈ #" •øé!$qçèÿYGù ãã©« ƒ

۱- تریو ئې کړ تندی او مخ ئې واړولو. ۲- چې کله ورته راغی هغه ړوند. ۳- څه شي ته خبرکړې، ښایی (ده غوښتل چې) ځان تزکیه کړي. ۴- یا پند واخلي او پند ئې ګټور کړي.

۱ـ چا تندی تریو کړ او مخ ئې واړاوو؟ څوك د یوه ړانده په راتلو ناراضه شو او هغه ته ئې شا کړه؟ ولې خطاب مخامخ پیغمبر علیه السلام ته متوجه نه دی او داسې نه دي ویل شوي چې تا تندی تریو کړ او له هغه ړانده دې مخ واړاوو؟ ولې په سر کې له هغه چلنده د غایب په صیغه یادونه کوي او بیا لهجه بدلېږي او د وینا مخ پیغمبر علیه السلام ته اوړي؟

مفسرین په دې اړه بېل بېل تعبیرونه لري چې تر ټولو غوره او دقیق ئې دا دی: کله

چې د خپل يوه دوست کوم کار خوښ نکړو او د ده له شأن نه ئې لرې وګڼو او ده ته دا ويل وغواړو چې له تا نه مو دا انتظار نه وو او ورته ووايو چې ښايي د هغه کار د کولو په وخت کې به دا ته، له هغه اوچت شأن او له داسې کار نه ډېر لوړ شخصيت، په خپله نه وې!! معمولاً په دغسې يوې صيغې سره هغه ته خطاب کوو او خپله ناخوښي ښکاره کوو. پيغمبر عليه السلام له دغو آيتونو نه همدا انتباه اخيستې او فرمايي: عتبني ربي: رب مې عتاب کړم. د عبس (تندي ئې تريو کړ) او تولی (مخ ئې واړاوو) په الفاظو کې د عتاب او نارضايتې نښې له ورايه ښکارندې دي.

په ځينو نورو آيتونو کې هم دې ته ورته ښکارندونې ګورو: د انعام د سورې په ۵۲ آيت کې لولو:

وَلاَ تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ * الأنعام: ۵۲

او هغه کسان (له ځانه) مه شړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعا کوي، په داسې حال کې چې رضاء ئې لټوي، نه د دوی له حسابه څه پرتا دي او نه ستا له حسابه څه پر دوی، نو که وئې شړې له ظالمانو څخه به شې.

همدا راز د کهف د سورې په ۲۸آيت کې راغلي:

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلاَ تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلاَ تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا * الكهف: ۲۸

د هغو خلکو په څنګ کې صبر وکړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعا کوي، په داسې حال کې چې رضاء ئې لټوي او له دوی دې ستا سترګې بل پلو وانه وړي، د دنيوي ژوند د زينتونو په لټه کې او د هغه چا متابعت مه کوه چې د ده زړه مو له خپل ذکر نه غافل کړی او د خپل نفس او هوس متابعت کوي او کار ئې زياتی او افراط دی.

عجيبه ده چې ځينو په خپلو تعبيرونو کې نه هغه حديث ته پام کړی او نه دغو

آيتونو ته او د دې هڅه ئې کړې چې نه دا کار يوه اشتباه وګڼلی شي او نه دا الفاظ د عتاب الفاظ!! دا ځکه چې دوی ګمان کوي په بل صورت کې د پيغمبر عليه السلام عصمت تر سوال لاندې راځي، حال دا چې د عصمت حقيقت او څرنګوالی په دغو آيتونو کې ډېر ښه څرګند شوی او دا آيتونه مونږ ته ښيي چې پيغمبر عليه السلام د الهي مراقبت او عصمت په غېږ کې داسې ساتل شوی وو چې په هر ګام او هر حرکت کې ئې لارښوونه او مراقبت کېدو، که احياناً داسې کوم کار ترې کېدو چې د ده له شأن او رسالت سره مناسب نه وو، که څه هم عادي او بسيط کار به وو او د انساني طبيعت په حکم، سملاسي به الهي لارښوونې په پرېکنده او صريحو الفاظو سره د ده مخې ته ايښودل کېدې، د دې کار په اړه به ئې قضاوت کېدو، سمه لار او د ده اصلي دنده به ئې ورښوده. او د قرآن په اند عصمت همدا دی نه بل څه.

۲ـ پيغمبران عليهم السلام دوه اساسي ماموريتونه لري:

الف ـ (تزکيه)، د فرد او ټولنې پاکول له ټولو ناپاکيو څخه، د انسان له زړه او دماغه د خرافاتو او اوهامو پليدي پاکول، د ضمير له صفحې ئې د ګناهونو زنګ صافول او وجدان ئې له هر هغه څه نه پاکول چې د ده د فطرت روغوالی ئې له منځه وړي، د ضمير روښه صفحه ئې ورککړه کړې، هغه ئې د ګناه په ناولي ډنډ کې غورځولی او د فطرت نور او رڼا ئې ورتتنه کړې او بيا ئې روزنه، تربيه او معنوي ارتقاء او هغه ځای ته رسول چې له عملي او اخلاقي پلوه د ده سالم او روغ فطرت ئې غوښتنه کوي. د تزکيې په لفظ کې هم د پاکولو او صافولو معنا مضمر ده او هم د ودې، رشد او ارتقاء معنا.

ب ـ (تذکر)، وريادول او پند ورکول، تذکر هم وريه يادول افاده کوي او هم پند ورکول، يعني پيغمبران عليهم السلام د دې لپاره رالېږل شوي چې خلکو ته هغه حقايق وريه ياد کړي چې دوی هېر کړي، د انسان په ضمير، زړه او دماغ کې داسې استعدادونه او لارښوونې ايښودل شوې چې د روڼ څراغ په څېر انسان ته لار ښودلی او تيارې ورته روښانه کولی شي، که دا استعدادونه فعال کړی شي او انسان ئې وکارولی شي، د حقيقت په پېژندو کې به له هيڅ ستونزې سره مخامخ

نشي، پيغمبران عليهم السلام راځي او د انسان دغه استعدادونه هڅوي، له غفلته ئې راوېښوي او د ده په زړه او ضمير کې دا پراته فطري لارښوونې فعالوي.

د الله لوري ته هر بلونکی او دعوتګر بايد د دعوت په دوران کې دې ټکي ته تل او دقيقاً ملتفت وي چې څوك تزکيه کېدو ته چمتو والی لري، څوك د ګناهونو له ناولي دنګ نه د وتلو هڅه کوي، په چا کې د معنوي او اخلاقي ارتقاء تنده او تلوسه شته؟ د دعوتګر ورکه متاع همدا ده او اصلي مخاطب ئې همدغه، په چا کې چې د غفلت له خوبه د راويښېدو هڅه ګوري، څوك چې غواړي د خپل ضمير له صفحې نه د ګناهونو زنګ، غبار او ګردونه ورېږوي، غواړي خپل اصل او سالم انساني فطرت ته بېرته راوګرځي، بايد دغو ته اعتنا وشي. دا آيتونه پيغمبر عليه السلام ته وايي: د عبدالله بن ام مکتوم له ظاهره داسې برېښي چې هغه د (تزکيې) او (تذکر) په لټه کې دی، هغه راغلی چې (پاك) شي او (پند) واخلي، په ده کې دا استعداد شته چې ستا له پنده اغېزمن شي، ګټه ترې واخلي، ستا پيغمبرانه مأموريت دا ايجابوي چې د ده دغو دواړو ځانګړتياوو ته په پام سره دې ده ته ترجيح ورکړې وی او تر نورو دې ده ته زياته اعتناء او توجه وی، تر هغو نورو دی د زياتې اعتناء او پاملرنې وړ او مستحق وو. وروستي آيتونه په ډېر صراحت او وضاحت سره وايي چې د عتاب اصلي وجه همدا وه.

---

$B&r ÇÐÈ 41"ƒ žv& 7 øã $Br ÇÏÈ 3" £‰ Á ? ¼çµ9 MR'ù ÇÎÈ 4_øFŠ$Ç B $B&

ÇÊÈ 4 S=? çµZã MR'ù ÇÒÈ 4 ´ ø† qèdr ÇÑÈ 4ëó „ 8ä! ` `B

---

۵- خو چا چې استغناء به ئې کوله. ۶- نو ستا وه ورته خاصه پاملرنه. ۷- او څه پړه ئې پر تا نشته، که ځان نکړي تزکيه. ۸- خو څوك چې په تلوار راغلی ستا خوا ته. ۹- او وېرې وو اخيستی. ۱۰- نو تا کړه له هغه بې پروائي.

**۵-۱۰**: په دې آيتونو کې د هغو دوو ډلو څېرې انځور شوې چې د دعوت په وړاندې بېل بېل دريځونه لري او د دوی په اړه د دعوتګرانو ضروري چلند توضيح شوی:

الف ـ يوه ډله له هغو وګړو جوړه شوې چې د استغنا او بې نيازۍ احساس کوي، ځان پوره ګڼي، دا د استغنا احساس يا مال، ثروت او شتمنۍ په دوی کې راپيدا کړی يا جاه او جلال او اجتماعي حيثيت او اعتبار او يا د حقپالنې د تلوسې او د لارموندنې د تندې نشتوالي. دا ځکه چې نه د شتمنيو خاوندان د ټولنې په جوړښت او په ظالمانه او د عدالت خلاف مناسباتو او روابطو کې د بدلون ضرورت احساسوي او نه پر ټولنې مسلط واکمنان د مظلومانو او بې وزلو دردونه او کړاوونه درك کولی شي، طبيعي ده چې داسې خلك نه په ټولنې کې له بدلون سره توافق کوي او نه له هغو مبارزينو او انقلابيونو سره ملګرتيا کوي چې بدلون غواړي، د عدالت او برابرۍ مدافعان دي او د ظلم او بې عدالتۍ ټغر ټولول ضروري ګڼي. حساس او هوښيار دعوتګران بايد له دغو نه د ملګرتيا انتظار ونلري، همداراز هغه چې دې ته اهميت نه ورکوي چې حق او باطل وپېژني، له ګنده افکارو او اخلاقو نه ځان تزکيه کولو ته پام او اعتناء نلري، په خپل پرېوتي فکري او اخلاقي حالت راضي دی، په خپل ګنده محيط کې عادت شوی او بد بوی ئې نشي حس کولی، د خپل منفور شخصيت د کرکجنو برخو له پېژندو عاجز دی، نه په خپل حالت اعتراض مني او نه د ټولنې له بد حالت نه شکايت لري، مغرور دی، خپل هر څه سم ګڼي، د خپل حالت په اړه کلك تعصب لري، د خپلې وضعې د اصلاح ضرورت نه احساسوي، دعوتګرانو ته نه ښايي چې خپل ګران او قيمتي وخت د هغو خلکو د اقناع په کار کې ضايع نکړي چې د هدايت او لارموندنې استعداد په کې ځپل شوی، نه دا د دوی دنده ده او نه به له دې پوښتل کېږي چې دا مغرور لارورکي ئې ولې په سمه لار برابر نه کړل.

ب ـ دوهمه ډله هغه خلك دي چې د حقيقت په لټه کې دي، د حق پېژندو تنده او تلوسه لري، له وضعې ستړي او ستومانه دي، د خپل ځان او د ټولنې په وضعيت

کې د بدلون ضرورت په شدت سره احساسوي، د ټولنې په ګنده او متعفنې فضا کې ئې نفس تنګ شوی، له فساد او ګناه نه کرکه لري، د محرومانو او مظلومانو دردونه او کړاوونه درك کوي، د علاج په لټه کې دي، له دې ناولي او ګنده محیط نه د نجات لپاره لاره او لارښود لټوي، د ټولنې د روانې وضعې له خطرناکو پایلو او عواقبو نه وېره لري، هم په خپلې فکري او اخلاقي وضعې راضي نه دي او هم د ټولنې د نورو خلکو له حالت نه پرېشانه او اندېښمن دي، داسې خلك له خپلو دغو مواصفاتو سره د اسلامي دعوت اصلي مخاطبین دي، دوی ته د مسلمانو دعوتګرانو پیغام د فهم وړ دی او په مبارزه کې ئې ملګري، دغو ته باید توجه وشي. قرآن دا د هدایت ځلانده مشعل، د زړه سواندو دعوتګرانو لارښود، دغې ډلې ته بې اعتنائي او هغې بلې ته اعتناء او پاملرنه جدي او د عتاب وړ اشتباه ګڼي. نه ښايي چې په یوې جهل ځپلې ټولنې کې د وګړو اجتماعي موقعیت ته په پام سره له دوی سره چلند وشي، چا ته چې دې فاسد او غیرعادلانه نظام ښه موقعیت او امتیازي حیثیت او اعتبار ورکړی، نفوذ، رسوخ او وجاهت ئې ورپه برخه کړی، هغه ئې واکمن او ځواکمن ګرځولی، د مال او ثروت خاوند، داسې نه چې د دغې ټولنې د معیارونو تر اغېز لاندې راشو او دغو خلکو ته توجه او اعتنا وکړو او اهمیت ورکړو او په مقابل کې ئې هغه څوك بې اهمیته وګڼو او اعتنا او التفات ورته ونکړو چې له خاص اجتماعي حیثیت نه برخمن نه دی، له نظرونو لوېدلی، حاکم نظام د ده د ذلت او سپکاوي عوامل برابر کړي، بې وزله او ناتوانه دی، یو مؤمن دعوتګر باید داسې نه وي او هیڅکله دا غلطي ونکړي، که نه نو ستره او نه جبرانېدونکې اشتباه به ئې کړې وي، ځان او دعوت ته به ئې تاوان رسولی وي، باید دا عمل یو عادي او ساده حرکت ونه ګڼو، مګر نه ګورو چې په دې اړه یوه مکمله او له عتابه ډکه سوره نازل شوې؟!

قرآن د پیغمبرانو د الهي نهضتونو د څېړلو په بهیر کې په دې ټکي ډېر ترکیز کوي چې د تاریخ په اوږدو او د زمانې په هر پړاو کې تل د ټولنې مستضعفینو او محرومانو د پیغمبرانو ملګرتیا کړې، د ولس بې وزلي د دوی په خوا کې ودرېدلي

او ځوانانو پرې ایمان راوړی، خو مستکبرینو، مترفینو، ملاء، اشراف، صنادید او د قوم مشرانو د دوی مخالفت ته ملا تړلې، په دې ټکي جدي ترکیز ښیي چې دا د پیغمبرانو علیهم السلام او د دوی د تګلارې، کړنلارې او دعوت یوه مهمه ځانګړتیا او خصوصیت دی، د دوی پر خط تلونکي مؤمن مبارزین او دعوتګران باید د دغو لارښوونو مطابق، د دوست او دښمن په تفکیك او د آشنا او پردي په بېلولو کې په پوره بصیرت او زیرکتیا عمل وکړي، په دې ارتباط ناسم چلند او له تمییزه پرته له هر چا د ملګرتیا طمع درلودل، د دې باعث شي چې دعوتګر د دوست او دښمن په پېژندو کې اشتباه وکړي، د غلط او بې ځایه انتظار په وجه له یأس او نا امېدۍ سره مخامخ شي، هغه چا ته چې په اصل کې (دښمن) دی پر هغه چا ترجیح ورکړي چې وروسته یا مخکې به د ده د دوستانو او ملګرو په ډلې کې ودرېږي.

---

pãqèéŒ ÇÎÈ pBS3B 7# tç¾ ’Î ÇÊÈ ¼ç•.Œ ä$© `Jù ÇËÈ ó•Ïõ? $kXÎ) Hx.

ÇÏÈ ο‘•/ Q#•Ï ÇÎÈ ο•ÿ™ “Ï‰ƒr'Î ÇÍÈ ¥•gÜB

---

۱۱- نه، داسې نده، دا یوه یادونه ده. ۱۲- نو پند دې ترې نه واخلي څوك چې غواړي. ۱۳- په غوره غوره پاڼو کې. ۱۴- لوړې، پاکیزه، ۱۵- په لاس د سفراوو، ۱۶- مخور او نېك خصلته.

---

۱۱-۱۶: په دې مبارکو آیتونو کې د پیغمبرانو د رسالت او د دې رسالت د حاملانو ځانګړتیاوې بیان شوې او دا مطلب توضیح کوي چې دا دعوت هغه مخاطبان منلی شي چې خاص مواصفات ولري، په چا کې چې دغه ځانګړتیاوې و نه موندلی شي، نه د دې رسالت د حمل وړتیا لري او نه ئې د منلو، په دې شرح:

۱.دا دعوت په اصل کې یوه تذکره یعني یوه یادونه ده، خو د څه یادونه؟ خپل مخاطب ته څه ورپه یادوي؟ آیا انسان ته کومه داسې خبره شوې چې اوس ئې هېره

کړې او پیغمبر علیه السلام راغلی ترڅو دغه هېره شوې خبره ورپه یاد کړي؟! د قرآن ځواب دا دی چې هو ؛ انسان ته ډېر څه په هغه وخت کې ورښودل شوي چې دی ئې جوړاوو، دی ئې له ډېرو استعدادونو سره پیدا کړی، په ده کې ئې داسې لارښوونې، مَلَکې او استعداونه ایښې چې د ده د لارښوونې لپاره ضروري وو، د پیدا ښېت په همغه سر کې ئې ده ته د ډېرو نورو خبرو ترڅنګ دا هم ښودلې چې رب ئې څوك دی، ضمیر او فطرت ئې په دې شهادت ورکړی چې پیدا کوونکی ئې الله دی، د همدغې فطري لارښوونې په سبب ده چې هر انسان خدای مني، د انسانانو له پیدا ښېته تر نن پورې ډېر لږ کسان داسې لیدل شوي چې خدای نه مني، دا نه مننه ئې هم د انکار په توګه وي نه دا چې له زړه نه پرې قانع وي او د خپل انکار لپاره دلیل ولري، قرآن په دې خبرې سره چې دا یوه تذکره او یادونه ده، دې ته اشاره کړې چې قرآن انسان ته هغه حقایق ورپه یادوي چې ده هېر کړي، دا هغو کسانو ته یوه یادونه ده چې خپل (فطرت) ئې لړلی، د (ضمیر په صفحې) ئې زنګ لګېدلی، د همدې لپاره ئې خپل هغه خدای هېر کړی چې د ده فطرت پرې باور لري، د همدې لپاره حقایق په خپله ښه نشي لیدی، د سالم انساني فطرت غوښتنې ئې هېرې کړې، له خپل طبیعي او فطري مسیر نه بې لارې شوي، په دې یادونې سره غواړي هغه خپل اصل ته راوګرځي. د انسان په خټه کې ایښودل شوي استعداونه د انسان د لارښودنې لپاره کافي دي، په دې شرط چې انسان ئې وکاروي، له راکد پاتې کېدو او ځپلو ئې ځان وساتي او پرې نږدي چې خارجي عوامل ئې تر خپل اغېز لاندې ونیسي، خو انسان د خارجي عواملو تر اغېز لاندې راشي، خپل اصل هېر کړي، له الهي لارښودنو نه ډکه حافظه او په لارښودونکو استعداونو ځلانده ضمیر راکد پرېږدي، له کارولو ئې غافل شي، د ده د راویښولو لپاره پیغمبران علیهم السلام راشي، تر څو هېر شوي ورپه یاد کړي. دا فطري لارښوونې د انسان په شمول ټولو ژوو ته شوې، کېدی شي لاندې مثال دا موضوع تاسو ته ښه روښانه کړي: بحري کشپ له اوبو راووځي، د بحر په ژۍ کې یو مناسب ځای غوره کړي، شګمنه ځمکه وکني، هګۍ په کې واچوي، تر شګو ئې لاندې کړي، ښه ئې پټې کړي او بېرته د

بحر په لور لاړه شي. له څه مودې وروسته، په هګو کې ئې بچې راپیدا شي، هغه ماتې کړي او ترې راووځي، شګې یوې خوا بلې خوا ته وشیندي او په ډېر سرعت او منډه د بحر په لوري په همغه لار وخوځېږي چې د دوی له پیدا ښت نه مخکې د دوی مور پرې تللې وه!! غواړي له هیڅ ځنډه پرته ځان بحر ته ورسوي، په دې پوهېږي چې که بحر ته ځان ونه رسوي نو مرغان ئې خوري. ما ته ووایئ: چا د کشپ دغو بچیانو ته چې له هګیو د راوتو په وخت کې ئې خپله مور هم نه ده لیدلې او داسې څوك ئې هم نه دی موندلی چې دوی ته ووایي: ستاسو د اوسېدو ځای بحر دی او بحر ته د رسېدو لار دغه، ژر کوئ خپلې مور ته ځان ورسوئ که نه نو بحري مرغان مو خوري!! چا دغه لارښوونې د دوی په زړه او دماغ کې ایښې دي؟ د انسان په ذات او خټه کې چې کوم استعدادونه ایښودل شوي، دې ته ورته دي، فرق په دې کې دی چې د حیوان تل فعال وي او نه ئې هېروي خو انسان ئې کله په خپل لاس غیرفعال کړي او کله هم هېر، دا ځکه چې د انسان ظرفیتونه او استعدادونه تر حیواناتو زیات او پېچلي دي، د دغو حساسو، پراخو او پېچلو استعدادونو ترمنځ یووالی او تنسیق په ډېر لږ بې احتیاطي سره له منځه ځي، د یوه د انحراف او له بهرني محیط نه د اغېزمن کېدو په صورت کې یا د ټولو نظم ګډ وډ شي او یا ځینې راکد او غیر فعاله، دا داسې وګڼئ لکه یو ستر او حساس کمپیوتر چې د ډېرو دقیقو محاسبو او ګڼ شمېر کارونو ترسره کولو وړتیا لري، که د دې حساس کمپیوتر یوه برخه په ویروس ککړه شي، ټولې برخې ئې اغېزمنې شي، محاسبې ئې غلطې او کارونه ئې نیمګړي، لکه چې دا حساس کمپیوتر تر یوه ساده کمپیوتر چې یوازې څو محدود کارونه کولی شي، بیا بیا څارنې ته ضرورت لري، انسان هم دې ته ورته دی، دې ته ضرورت لري چې څارنه ئې وشي، هېر شوي ورپه یاد شي، راکد شوي استعداونه ئې فعال شي، ویده حافظه ئې راویښه کړی شي او د ضمیر له صفحې ئې ګردونه پاك کړی شي.

۲ـ خو دا تذکر او یادونه یوازې هغه چا ته ګټه رسولی او له خوبه ئې راویښولی شي چې په خپله د ویښېدو اراده او تلوسه لري، دا ځکه چې انسان آزاد

او د ارادې خاوند پيدا شوی، له دوو بديلونو څخه د يوه د انتخاب آزادي لري، کله چې د دوو لارو په سر ودرېږي کولی شي يوه ئې غوره کړي، دا په ده پورې مربوطه ده چې د دې تذکر په وړاندې څه عکس العمل ښيي، خوځېږي، وېښېږي، هېر رايادوي او پند اخلي که بې اعتنائي کوي، په خپلې وضعې راضي پاتې کېږي او خپل اصل ته له راګرځېدو ډډه کوي!!

**۳**ـ دلته د دې تذکر د اړوند صحيفو او د حاملانو ئې څو ځانګړتياوې بيان شوې: دا صحيفې مکرمې دي، لوړې او پاکيزه دي. او د داسې سفيرانو په لاس کې چې عزتمن او نېکوکار دي. سفرة د سافر جمع ده چې ځينو د ليکونکي او ځينو د سفير (استاځی او مصلح) په معنا اخيستې، د سفير معنا ئې دقيقه برېښي او په دې سره دغه مطلب ته اشاره شوې چې د دې صيحفو حامل فرشتې او يا د پيغمبر عليه السلام هغه صحابه چې د دې قرآن حاملان وو، عزتمن او نېك دي. په يوه روايت کې په دې هکله داسې راغلي:

عن عائشة رضي الله عنها: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: مثل الذي يقرأ القرآن وهو حافظ له, مع السفرة الكرام البررة; ومثل الذي يقرؤ القرآن وهو يتعاهده, وهو عليه شديد, فله أجران متفق عليه, واللفظ للبخاري.

له عائشې رضي الله عنهاروايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه مثال چې قرآن لولي او په داسې حال کې چې حافظ ئې وي، دی به له السفرة الکرام البررة سره وي او د هغه چا مثال چې لولي ئې او ساتنه ئې کوي، خو پرې ګران تمامېږي، ده لره به دوه اجرونه وي.

دلته د دې يادونې اړوند صحيفو ځانګړتياوې او د دې تذکر د رسوونکو سفراوو مواصفات د دې لپاره راغلي چې خصوصيات ئې ښه څرګند شي او مونږ ته وښيي چې څوك او له کومو ځانګړتياوو سره دا تذکر منلی شي او له چا نه بايد د دې کتاب د منلو انتظار ولرو، د موافقې او ملګرتيا طمع مو بايد له هغو وي چې پورتنۍ ځانګړتياوې په کې مومو، د قريشو هغه مشران چې نوموړې غونډې کې اهميت ورکړی شو د دې وړ نه وو چې پيغمبر عليه السلام ورته اعتناء کړې وی، په

دوی کې پورتني مواصفات نه وو، دوی په الهي معيارونو کې د عزت خاوندان نه بلکې ذليل دي، پاك نه ناولي دي، مخور نه سپك دي، بد قوله او بد فعله دي، نه نېك، وفادار او په خپلو ژمنو ولاړ، له دوی نه د ملګرتيا، د دعوت قبلولو او له صف سره د يوځای کېدو انتظار بې ځايه وو، بايد د دوی په ځای د داسې چا په لټه کې وو چې پورتنۍ وړتياوې په کې احساس کړو.

---

¼ç)=z þÿÖÞè`Ë ÇÑÈ ¼ç)=z äó« Ä & ôË ÇÐÈ ¼ç•ÿø& $B ß»¡ RÏÿ$Ÿ@Ïè

ä$© #Œ Ĵ Šê ÇËÈ ¼çž9%ø ù ¼ç?$B& Šê ÇËÈ ¼çž6ę Ÿ@‹î¡¡ 9$Šê ÇÐÈ ¼ç'%) ù

ÇÌÈ ¼ç•D& $B Çù ×ƒ $Œ9 ž× . ÇËÈ ¼çž ³ S&

---

۱۷- مرګ پدې انسان، دا څه شي دی کافر کړ؟ ۱۸- له څه ئې راپيدا کړ؟ ۱۹- له يوې وړې نطفې نه، پيدا ئې کړ او جوړ ئې کړلو سم په اندازه. ۲۰- بيا ئې ورته لار کړله آسانه. ۲۱- بيا ئې مړ کړ، نو ئې ښخ کړلو په ګور کې. ۲۲- بيا چې کله وغواړي هغه به منتشر کړي. ۲۳- نه، داسې نده، نه ئې کړو ترسره هغه څه چې دی الله وو پرې ګمارلی.

---

۱۷-۲۳: بايد وګورو چې په دې مبارکو آيتونو کې دا عتاب او ګواښ کوم انسان ته متوجه دی او څوك د الهي نعمتونو په اړه کافر او ناسپاسه ګڼل شوی؟ په لږ دقت او د آيتونو سَياق و سَباق ته په پام سره کولی شو په دې پوه شو چې دا همغه انسان دی چې په مخکنيو آيتونو کې پرې بحث شوی، هماغه چې پيغمبر عليه السلام ورته اعتناء کړې وه، په دې طمع چې دا التفات به باعث شي چې هغه د دې کريمانه چلند درناوی وکړي، پاس ئې ولري، خپل دريځ بدل کړي، له مخالفته لاس واخلي او د پيغمبر عليه السلام دعوت ته متمايل شي. خو د الهي نعمتونو په

اړه د ده کفران او ناسپاسي ته په پام سره پیغمبر علیه السلام او د ده د دعوت وارثانو ته ویل شوي چې له هغه انسانه دا طمع مه کوئ چې د خپل منعم رب د ټولو سترو سترو نعمتونو قدر نه کوي، ګمان مه کوئ چې ستاسو کریمانه استقبال او احترام به دوی له خپله مخالفته واړوي او ستاسو بلنې ته به مثبت ځواب ووايي.

مګر نه ګورئ چې دی د خپل هغه پالونکي رب په وړاندې ناشکري کوي چې دی ئې له یوې وړې نطفې راپیدا کړ، روغ، رمټ، نه یوازې دا چې پیدا ئې کړ، بلکې د ژوند طریقه ئې ورو ښوده، په ځمکې کې ئې د ژوند ټول ضروري شرایط ورته برابر کړل، د رزق او روزي بندوبست ئې ورته وکړ، که څوك له دغو ټولو نعمتونو سترګې پټوي، ناشکري ئې کوي، نه خپل رب مني، نه ئې حکم ته غاړه ږدي او نه ئې د نعمتونو قدر کوي، څنګه ممکن ده چې دا ناسپاسه انسان به ستا د یوې پاملرنې، اعتناء او درناوي قدر وکړي، ستا دعوت به ومني او ستا ملګرتیا ته به تیار شي؟!! په دې آیتونو کې لاندې نعمتونه د دوی مخې ته ایښودل شوي:

۱ـ د ده پیدا ښت له یوې نطفې.

۲ـ دی ئې متوازن او متعادل پیدا کړ، ټول ضروري استعدادونه ئې ورکړل، عمر، صورت او څېره ئې، جسمي ځواك او عقلي او فکري توان ئې، رزق او روزي ئې، دا ټول د ده پالونکي رب ورته ټاکلي.

۳- دنیا ته د راتلو لار ئې ورته آسانه کړه، د ښاېسته او سوکاله ژوندلارې ئې وروښودې او په ځمکې کې ئې د ده د ژوند ټول ضروري اسباب برابر کړل، ځمکه او د هغې وضعیت ئې داسې جوړ کړ چې د انسان له فطري اړتیاوو او غوښتنو سره متناسب وي او دی ئې داسې جوړ کړ چې د ځمکې پر سر خپل دې کور کې ژوند ورته ممکن وي.

۴ـ د مرګ سنت الله جل شأنه وضع کړ او په ګور کې ښخولو طریقه ده وروښوده، هم مرګ یو نعمت دی او هم په انسان کې دا احساس چې خپل مړي ښخوي، که مرګ نه وی له یوې خوا به نړۍ لا دمخه ډکه شوې وه، زما او ستا د راتلو لپاره به ځای نه وو او وار به نه رارسېدو، له بلې خوا به انسان د زړښت داسې بد

پړاو ته رسېدو چې تر ژونده به ئې مرګ په سلهاوو ځله غوره وو، په زړښت کې به د غوښې يوه بوی ناکه بوټۍ ترې جوړېده. همداراز دا ستا مرګ دا حقيقت درته په ګوته کوي چې دلته کوم ذات شته چې د مرګ پرېکړه د هغه له لوري صادرېږي!! ما ته ووايه: دا څوك دی چې ته ئې پيدا کړی يې او تا وژني؟!! انسان نه غواړي چې ناروغ او کمزوری شي، زوړ شي او ومري، د ځوانۍ د وخت ټول توان، ځواك، استعدادونه، شور او شوق له لاسه ورکړي، دا ولې هغه مجبور دی چې ومري، ولې له مرګه چاره نلري او خامخا د مرګ داعي ته لبيك وايي؟ ولې د مرګ چاره نشي کولی؟ نه ترې تښتېدی شي او نه ئې له منګولو ځان ژغورلی شي؟!! آيا د ده مرګ د دې لپاره څرګند دليل نه دی چې دلته کوم داسې ځواکمن او واکمن ذات شته چې دی ئې ارادې ته مقهور او محکوم دی او همغه د ده د مرګ پرېکړه صادروي؟!!

د مرګ قضيه له څو اړخونو د توجه وړ ده:

الف: کله چې انسان زوړ شي، خپل ځواکونه له لاسه ورکړي، ضعيف او ناتوانه شي، له پښو ولوېږي، د نورو د اوږو پېټی شي، مرګ ئې خوا ته راشي، دا وخت د ده په مرګ کې هم د ده خير او مصلحت پروت وي او هم د نورو، پالونکي رب، په عالم کې، د ټولو ژوو لپاره د مرګ سنت اېښی، ترڅو زاړه، کمزوري، ناتوانه، عمرخوړلي، ضعيف، بيماره او د نورو د اوږو پېټي توکي خپل ځای ځوانو، ځواکمنو، سمسورو، شېرازو، نشيط او خوځنده توکو ته پرېږدي، که دا حکيمانه الهي سنت نه وی، انسان او ټولنه به ئې له څومره بد برخليك سره مخامخ کېدو او څومره ستونزې او کړاوونه به ئې ورته راولاړ کړي وو؟!!

ب- د انسان مرګ ښيي چې هغه د يوه داسې ذات د قاهره او ځواکمنې ارادې په وړاندې مقهور او محکوم دی چې د عالم تغيير نه منونکي سنن ئې وضع کړي او پر ټولې هستي حکومت کوي. انسان نه غواړي بيمار، ضعيف او ناتوانه شي، ځواکونه او استعدادونه ئې ويلي شي او په پای کې په مرګ محکوم شي، ټول هغه وسايل او امکانات چې په واك کې ئې دي او ټول هغه تدابير چې ورته مقدور دي او هر هغه څه چې کولی ئې شي، په دې ټولو هڅه کوي چې خپل مرګ وځنډوي او

خپل عمر اوږد کړي، خو نشي کولی خپل اجل بدل کړي او څو شېبې نور په دنیا کې د پاتې کېدو موقع ترلاسه کړي، ناچار به مرګ ته تسليمېږي، سلاطين، شتمن او بډايان او هغه چې پراخ امکانات او ډېر ډېر وسايل او تسهيلات ئې په واك کې دي، په قصرونو، دنګو دنګو، کلکو، خوندي او مصئونو ماڼيو کې اوسېږي، حاذق حکيمان او طبيبان ئې په خدمت کې، مجهز روغتونونه، له مخکې تللو تجهيزاتو سره، ګرانې او آزمويل شوې دوا ورته ميسر، خو سره له دې ټولو د مرګ په وړاندې بې چاره!! ولې له مرګه د تېښتې چاره نه مومي؟ څه او د چا اراده ئې له مرګه تېښتې ته نه پرېږدي؟ د مرګ دا پياوړی، مضبوط او نه بدلېدونکی سنت چا وضع کړی او د مرګ پرېکړه څوك صادروي؟ قرآن وايي:

فَلَوْلاَ إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ * وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ * وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَكِن لاَّ تُبْصِرُونَ * فَلَوْلاَ إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ * تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ *

المجادلة: ۸۳-۸۷

کله چې ستاسو روح ستوني ته راورسېږي او تاسو دغه وخت (خپل مرګ يا د نورو مرګ) ګورئ او مونږ (الله تعالی) تر تاسو ورته نږدې، (له تاسو ټولو ئې طمع شلېدلې او هيلې ئې يوازې الله ته) خو تاسو (ما) نه وينئ، نو که تاسو (د الله د ارادې په وړاندې) مقهور او محکوم نه يئ، نو (دا روح) بېرته وګرځوئ، که رښتوني يئ!!

که ستا ادعا دا ده چې خدای نشته او دا عالم کوم قهار او جبار ټولواك نلري او ته ئې د قاهره سننو په وړاندې محکوم نه يې، که په خپلې دغې ادعا کې رښتونی يې، د خپل مرګ مخه ونيسه!!

ما ته ووايه: چا پيدا کړی يې، ستا په پيدا ښت، ستا د برخليك په ټاکلو او د هغو استعدادونو په تعيين کې چې په تا کې اېښودل شوي، له الله پرته د چا اراده دخيل ګورې؟!! نه تا په خپله پر هغه څه اغېز درلود او نه ستا مور او پلار، په خپل شکل، صورت، ځواکونو، استعدادونو، عمر، رزق او روزي کې له الله پرته څوك داسې مومې چې ونډه او اغېز په کې ولري؟! دانه او مېوه څوك راشنه کوي؟ ستا له

پيدا ښت نه مخکې، تا ته د مور په تې کې شيدې څوك راپيدا کوي؟ د چا په اراده دنيا ته راځې، ورو ورو وده کوې، کمال ته رسې، زوال دې پيل شي، زړښت ته ورسېږې او په مرګ محکوم شې؟

ج ـ دا مَلَکه او شعور هم الله تعالی په تا کې ايښې چې نه غواړې د خپل مړي ورور جثه پر ځمکه پرته، متعفن او بوی ناکه او د ځيرونکو حيواناتو په منګولو کې وګورې!! دا ولې انسان غواړي د خپل ورور جنازه دفن کړي، دا احساس چا په کې ايښی؟ کله چې د آدم عليه السلام د دوو زامنو تر منځ نښته وشوه او يو ئې ووژلی شو، قاتل چا او څنګه دې ته متوجه کړی شو چې بايد د خپل مقتول ورور جسد دفن کړي؟ قرآن وايي: يو کارغه ئې وليد چې ځمکه په خپلې منښو کې سپړي، تر څو څه تر خاورو لاندې کړي، دا صحنه هغه ته ښيي چې څنګه د خپل مړي ورور په ښخولو سره د ده په نسبت خپله عاطفه اشباع کړي، ګورئ چې يو تذکر او يادونه، د يوه مرغه په واسطه، دا د ده اړتيا وه، په همدې سره ئې لارښودنه وشوه.

**۵**ـ د انسان مرګ د ده د ژوندون پای نه بلکې له يوې مرحلې بلې ته انتقال دی، هغه خدای چې انسان ئې پيدا کړی او د ده د مرګ پرېکړه کوي، هغه به ئې بيا راژوندی کوي، دا د الهي نعمتونو يوه بله ښېلګه ده، چې د ده مرګ ئې تل پاتې مرګ نه دی ګرځولی، بلکې بيا ئې راژوندی کوي، که انسان بيا نه راژوندی کېدی او دې ژوندون ته ئې څه طمع او هيله نه وی، نه يوازې دا چې ده او د ده خپلوانو او مينه والو ته به د دې حالت ځغمل ګران وو او دا عالم به ورته خوشې، بې هدفه او بېهوده برېښېدو، بلکې له عدالت او انصاف نه لرې هم، په خپل ژوند کې ګوري چې ځينې ظلم کوي، د نورو په حقوقو تېری کوي، په ځمکه کې فساد خوروي، د بې وزلو او بې ګناه خلکو وينې تويوي، خو له دنيا داسې درومو چې نه ورسره حساب کتاب شوی او نه ئې د خپلو جنايتونو سزا ليدلې، نور ګوري چې ظلم پرې کېږي، مسلم انساني حقوق ئې تر پښو لاندې کېږي، خو په داسې حال کې مري چې چا ئې چيغې وانه ورېدې او خپل حق ئې ترلاسه نه کړی شو. د عدالت تقاضاء خو دا ده چې هم هغه ظالم خپله سزا وګوري او هم دا مظلوم خپل حق ترلاسه کړي، د

همدې لپاره الله تعالی د قیامت ورځ ټاکلې، په دې عالم کې دا دقیق نظم، تعادل او توازن، د هرڅه هدفمندي او د ټولو مخلوقاتو تر منځ یووالی او ژور تنسیق ښیي چې دا کائنات یو عادل او حکیم رب او پالونکی لري، د ده عدالت دا حکم کوي چې قیامت راولي او له خپلو بندګانو سره محاسبه وکړي، ظالم مجازات کړي او مظلوم ته خپل حق ورکړي، یقیناً چې په دې سره الله تعالی د انسان په نسبت یوه ستره پېرزوینه او لورېنه کړې.

و- خو وګورئ چې دا ناسپاسه او ناشکره انسان د خپل رب د د غو ټولو نعمتونو او پېرزوینو سره سره څه کوي، څومره بې شمېره پېرزوینې ئې پرې کړې، هم د ده په خپل ذات، جوړښت او پیدا ښت کې او هم د ده په غوره برخه لیك، تقدیر، استعدادونو او ځواکونو کې، هم د ځمکې پر سر ده ته د سوکاله ژوند د ټولو ضروري شرایطو په برابرولو کې او هم ئې په مرګ او بیا ژوندون کې!! د دغو سترو سترو نعمتونو په وړاندې هغه څومره بې پاسه دی، خپل منعم رب هېروي، له هغه نه بغاوت او عصیان کوي، له هغه چا چې د خپل رب په وړاندې داسې دی، څنګه له هغه نه دا طمع لرئ چې ستاسو د ورین تندي استقبال به ئې دې ته تیار کړي چې له مخالفته لاس واخلي او ستا دعوت ومني؟!!

---

$Zϕ) © Sê ÇËÎÈ $} ¹ ä$J9$$Zϕ ¹ $R& ÇËÍÈ ÿinB$èÛ 4<Ĵ ß» ¡ RÏM$ì ÝZ‹ù

Wϕr $Zq϶−r ÇËÑÈ $YÒ %r $WZã r ÇËÐÈ $}m $kŽü $ZK7R'ù ÇËÏÈ $y© Ú ö{ $

ÇÌËÈ öä3Ü»èR{ r ö3€$yèGB ÇÌÊÈ $|&r ¢g3Å»ùr ÇÌÉÈ $Wã , Í‰ nr ÇËÒÈ

---

۲۴- نو انسان دې خپل طعام ته نظر وکړي. ۲۵- چې په څنګه تویولو مو راتوې کړلې اوبه؟ ۲۶- بیا په څنګه شق کولو سره شق مو کړه دا ځمکه؟ ۲۷-

نو راشنه مو کړه په دې کې څه دانه. ۲۸- او انګور او ساګ سابه. ۲۹- او ونې د زیتون او د کجورو. ۳۰- او ګڼ سمسور باغونه. ۳۱- هم مېوه او هم واښه. ۳۲- یوه متاع ستاسو لپاره او ستاسو د څارویو.

۲۴-۳۲: په دې مبارکو آیتونو کې دغه ناسپاسه انسان د خپل رزق او روزي په اړه غور او فکر ته رابلل شوی او په دې هکله څو اساسي خبرو ته اشاره شوې:

الف ـ دا انسان دې وګوري چې رب ئې څنګه له آسمانه اوبه راوروي، په دې سره مړه ځمکه په خوځښت راولي، د هغې دننه د بوټو زړي خوځوي، وده ورکوي، د ځمکې سخت قشر چوي، تنکي بوټي له خاورو سر رااوچتوي، شنه او سمسوره شي، بهر راووځي، په خپل ساق ودرېږي، پاڼې او ګل وکړي، دانه او مېوه وکړي، وواییٔ: د آسمان او ځمکې، دا د انسان د کور فرش او چت ترمنځ، دا یووالی او ګډ کار چا رامنځته کړی؟ چا آسمان ته ویلي چې اوبه ووروه او ځمکې ته ئې ویلي چې په دې اوبو سره د انسان لپاره دانه او مېوه راوټوکوه؟ ښه پوهېږي چې په دې کار کې له الله پرته هیڅوک څه ونډه نه لري او هیڅوک له هغه سره په دې کار کې شریك نه دی.

ب ـ ته او ستا په خدمت کې څاروي د خپل ژوند لپاره خوراك ته ضرورت لرئ، د انسان او حیوان په جوړښت کې د همدې خاورې توکي کارول شوي، د بقا لپاره همدغو توکو ته بیا بیا اړتیا احساسوي، خو دا نشي کولی چې له دغو توکو نه مخامخ او په هغوی کې له ژورو تغییراتو پرته استفاده وکړي، ستا پالونکي رب دا ترتیب نیولی چې د خاورو دغه ضروري مواد د ونو او بوټو په ذریعه ستا خوراك او هضم ته برابر کړی شي، دا کار د ځمکې او آسمان ترمنځ د دغه ګډ کار په نتیجه کې ترسره شي، له بره باران ووربږي او د ځمکې زړه کې د ونو او بوټو ریښې د اوبو په مرسته دا توکي جذب کړي او ستا لپاره ئې په داسې خوندورې مېوې او دانې بدله کړي چې نه یوازې د هضم وړ وي بلکې ښایسته، جالب، لذیذ، پاك، نظیف، چې مینه دې پرې راځي، چې زړه دې تخنوي، له بوی او له رنګه ئې خوند اخلې، ... په

دغو دانو او مېوو کې اوسپنه، کاربن، کلسیم، مس او ګڼ شمېر منرالونه، ویتامینونه او د ژوند لپاره ضروري توکي تعبیه شوي، خو په یوه داسې تناسب سره چې ستا وجود ورته ضرورت لري او په داسې بڼه کې چې ته ئې هضمولی او جذبولی شې، هره دانه او مېوه ئې په ګڼ شمېر پوستکو پوښلې، تر څو پاکه او ستره وي او د مکروبونو او ستا ژوند ته له مضرو عواملو خوندي وي، چې کله د مېوه لرونکو ونو خوا ته تېرېږې، د پاڼو او ګلانو له ښکلا ئې خوند اخلې، ښاېسته بوی ئې ستا دماغ تازه کړي، رنګ، بوی ، شکل او جوړښت ئې تا ځان ته راکشوي، طعم ئې خوندور او هضم ئې آسانه!! ما ته ووایه: څوك دا ونې او بوټي، په دې ګماري چې د ځمکې په زړه کې سخت او کلك توکي، د خپلو نازکو رېښو له لارې جذب کړي او د ښاېسته، ښکلې، خوندورې او د هضم وړ مېوې او دانې په بڼه کې ئې تا ته وړاندې کړي؟!! څومره ظالم او بې پاسه دی هغه انسان چې له دغو ټولو نعمتونو نه ګټه اخلي، پرته له دې چې د خپل رب د نعمتونو او احساناتو قدر وکړي او د هغه د پېرزوینو مرهون وي!!! آیا له داسې کافر او ناسپاسه انسانه دا انتظار سم او په ځای انتظار دی چې معمولي اعتناء او التفات به ئې هومره اغېزمن کړي چې دا یو احسان وګڼي، ستا دعوت ومني او د الله په لوري په دې سفر کې ستا ملګرتیا وکړي؟!!

---

ÇÌÎÈ Ïh‹Î&r ¾ÏhBár ÇÌÍÈ Ïh‹Å& ôÏB âÏö$Ïƒ•ÿƒ PöÏƒ ÇÌÌÈ þÏz$ÏÁ 9$ŠÏNäl` #Œfù

ßqã_ã ÇÌÐÈ ÏhŠÏZóáÏbÙ© 7ÍBöÏƒ Ïôã]B <Ïó•ÏD$Ï©ÿ@a9 ÇÌÏÈ ÏhŠÏ/r ¾ÏhF7Å»|¹ r

ÏŽ9î $kŽÏæ >ÍBöÏƒ ßqã_ãr ÇÌÒÈ ÏŽÅ6óB p3Ïm$|Ê ÇÌÑÈ ÏŽ•ÿóB 7ÍBöÏƒ

ÇÍËÈ ä• f ÿ$ä•ÿ3$æ 7Í»9ré ÇÍÊÈ ôŽI%$gÏ)dä? ÇÍÉÈ

---

**۳۳**- نو کله چې راورسي هماغه تنده چیغه. **۳۴**- هغه ورځ چې هرڅوك تښتي له خپل وروره، **۳۵**- او له موره او خپل پلاره، **۳۶**- او له خپلې ښځې، خپل اولاده، **۳۷**- په دې ورځې به هر يوه د دوی ته داسې مشغولتيا وي چې په خپله به ئې بس وي. **۳۸**- په دې ورځې به ځينې څېرې سپينې او رڼې وي. **۳۹**- مُسکېدونکې، ښاد، خوشحاله. **۴۰**- او ځينې څېرې داسې چې دې ورځ کې به پراته وې پرې ګردونه. **۴۱**- توروالي او تيارو به وي پوښلي. **۴۲**- همدا دي آ بدکاره کافران.

---

**۳۳-۴۲**: په ځغلنده نظر سره، د دې آيتونو څو ظريف ټکي زمونږ پام ځانته جلبوي:

الف: ولې دلته د قيامت ورځ د صاخة (تنده او تېزه چيغه) په نامه ياده شوې، د دې نومولو او د سورې د اساسي مضامينو ترمنځ څه تړاو شته؟ دا تړاو موندل لږ غور غواړي او هغه داسې:

د سورې په سر کې د قريشو له سردارانو سره د پيغمبر عليه السلام هغې غونډې ته د عبدالله بن ام مکتوم د ناڅاپي ننوتو، د خبرو په منځ کې د ده مداخله او هغه غږ په ګوته شوی چې د پيغمبر عليه السلام د ناخوښۍ او خفګان باعث شو، د سورې په پای کې د مخاطب پام د قيامت د ورځې هغه حالت ته راګرځول شوی چې په صور کې له پو کېدو او له تندې او هيبتناکې چيغې سره به پيل شي، د دې ورځې له هيبته او د دغې چيغې له وېرې به هر څوك داسې وېرې اخيستی وي چې له ځانه پرته به ئې هيڅ ته پام نه وي، خپل نږدې دوستان به ئې هم هېر وي، ټولې مخکنۍ اړيکې به شلېدلې وي، له دې هيبتناکې صحنې به د تېښتې او پناه ځای لټوي، په لږ دقت سره راته جوتېږي چې د هغې مقدمې او دغې تتمې ترمنځ ژور ارتباط شته او مخاطب ته دا مطلب څرګندوي چې په هغې غونډې کې د عبدالله بن ام مکتوم هغه ناڅاپي غږ نه بلکې د قيامت د ورځې دا هيبتناك غږ بايد جدي وګڼلی شي، په هغه مجلس کې د قريشو د دغو مغرورو سردارانو د خفګان او

نارضايي په ځای باید د الله تعالی له محاسبې او له هغې ورځې اندېښنه ولرو چې په تندې چيغې سره به پيل کېږي، د دغو سردارانو کاذب جاه او جلال، غولوونکی ظاهر او په ټولنې کې د دوی وجاهت او نفوذ به هغه ورځ هيڅ ارزښت نه لري، د دوی د نفوذ او رسوخ ټغر به ټول شوی وي، ټولې مخکنۍ اجتماعي اړيکې به شلېدلې وي، دوست له دوسته، مطيع له مطاع نه، واکمنان له خپلو کمزورو پلويانو نه به تښتي، د څېرو واقعي ماهيت به راڅرګند شي، هغه څېرې چې نن ئې خړې، په ګردونو پټې او ستومانه ګوري، څوك ورته اعتناء نه کوي او په ټولنې د حاکم معيارونو له مخې ذليل، بې عزته او بې قدره ګڼل کېږي، خو د الهي معيارونو له مخې ښايسته مقام او منزلت لري، معزز او مکرم دي، په هغه ورځ به ئې څېرې روښانه، پر شونډو مسکا، ښاد او خوشحاله وي، خو هغه چې د کفر، ظلم، فساد او بدکارۍ په وجه په الهي معيارونو کې ذليل او سپك وو، خو د جهل ځپلې ټولنې غلطو معيارونو وجاهت او اعتبار ورکړی وو، په دې ورځ به ئې مختورن، ټيټ سري، شرمنده او ذليل وګوري، د دوی اصلي ماهيت او د زړونو توروالی او ناپاکي به راڅرګنده شي او د دوی دا په ظاهر کې سپين مخ به تور کړي.

ب ـ په دې ورځ به يو له بله يا د دې لپاره تښتي او د دوستۍ اړيکې به ئې شلېدلې وي چې مشر وو، نورو د ده اطاعت کاوو، دوی ئې غولولي او بې لارې کړي وو، نن به له دې وېرې تښتي چې پلويان ئې تر ګرېوانه ونه نيسي او ونه وايي چې تا مونږ بې لارې کړو او له دې بد عاقبت سره دې مخامخ کړو، تا په ګناه، کفر او عصيان کې پرېوتو ته اړ کړو او زمونږ سزا باید تا ته درکړی شي. او يا د دې لپاره چې په دنيا کې به ځينو له ده نه د شفاعت طمع درلوده او ګمان به ئې کاوو چې د ده لمن مو نيولې، دی به مو د الله له عذابه ژغوري، نن به وېرېږي چې داسې نه هغه غولېدلي پلويان ئې راشي، دی تر غاړې يا لمنې ونيسي، يا د شفاعت او سپارښتنې غوښتنه ترې وکړي او يا ئې الله ته د اصلي مجرم په حيث وړاندې کړي، نو ځکه به له هرچا تښتي. د دې ورځې هيبت به هومره وي چې هيڅوك به بل ته د اعتنا او التفات مجال نه لري، هر څوك به په خپل ځان مصروف وي او د نجات د

لارې په لټه کې. اجتماعي اړیکې او هغه روابط چې نن ئې یو له بل سره نږدې کړي، ځینو ته ئې وجاهت ورکړی، د نفوذ او اعتبار خاوند ئې ترې جوړ کړی او دوی ته ئې قدر او اعتبار ورکړی، دا خو پرېږده په هغه ورځ به دېرې مضبوطې او نږدې اړیکې هم شلېدلې وي، د ورور او ورور ترمنځ، د ښځې او مېړه ترمنځ، د پلار او زوی ترمنځ، دا ټولې اړیکې به شلېدلې وي.

ج ـ تاسو نن په خپلې ټولنې کې ځینې خلك په داسې حالت کې ګورئ چې پر مخونو ئې د فقر، لوږې او بې وزلۍ ګردونه پراته دي، په ځېرو او جامو کې به ئې د محرومیت او محکومیت نښې له ورایه ترسترګو کېږي، ژېړ او ګونځې ګونځې مخ، شلېدلې شلېدلې جامې، په ګردونو پټ وېښتان، سترې او ستومانه، داسې نه چې د دوی دا د ترحم وړ حالت ستا د بې اعتنائي موجب شي، بې اهمیته او بې قدره ئې وګڼې، ښایي د دغو خړو ځېرو، وېښتانو او جامو خاوندان په الهي معیارونو کې ستر، مخور او ارزښناك شخصیتونه وي، ښایي په دغو خړو جامو کې بیدار ضمیر، حساس وجدان، پاك زړه، قوي ایمان او مضبوط شخصیت پټ وي، حقیقت به ئې د قیامت په ورځ د ده په ځلانده او روښانه ځېرې کې راڅرګند شي، داسې نه چې د چا ظاهري وضع معیار وګرځوې او د دغو بې وزلو په ځای هغه چا ته اهمیت ورکړې چې ظاهر ئې ښاېسته او جالب، جامې ئې ښکلې او ګران بیه او په ځېرو کې ئې د سوکالي او تنعم آثار څرګند، پام چې ظواهر ملاك او معیار ونه ګرځوې او د دې له مخې له خلکو سره چلند ونه کړې!! د چا ظاهري ښه دې ونه غولوي، د چا اجتماعي موقعیت ته په پام سره د هغه قدر، منزلت او مقام مه ټاکه او د دې له مخې ورسره معامله مه کوه، هغه چې کافر شوی او د الهي نعمتونو په وړاندې کفران کوي، که څه هم ظاهر ئې جالب او جذاب وي، په الهي معیارونو کې ذلیل او سپك ګڼل کېږي، د قیامت په ورځ به د الله په وړاندې تورمخي، شرمنده او سرکوزي ودرېږي، پام کوه چې د پیغمبرانو په مکتب او مسلك کې ایمان او کفر، صالح او بد عمل معیار دی نه د چا اجتماعي حیثیت او اعتبار او په ټولنې کې د هغه وزن او قدر.

که غواړې د پیغمبرانو علیهم السلام په کرښه لاړ شې او موفق او بریالی دعوتګر وې نو د خپل مخاطب اجتماعي حیثیت او نفوذ ته په پام سره هغه ته اعتنا او اهتمام مه کوه او هغه څوك بې اهمیته مه ګڼه چې پر ټولنې حاکم سیاسي، اجتماعي او اقتصادي نظام په سپکه سترګه ورته کتلي، له نظرونو ئې اچولی، له فقر او لوږې سره ئې مخامخ کړی، د هغه د ذلت، سپکاوي او بې وزلۍ عوامل ئې برابر کړي، خو د حقیقت په لټه کې دی او د ارشاد او هدایت تږی، باید کفر او ایمان، فجور او تقوی درته معیار او ملاك وي، باید هغه چا ته اعتنا ولرې چې د کفر او فجور له بدو پایلو وېرېږي، دغه احساس هغه دې ته هڅولی چې د حقیقت په لټه کې شي او له دې حالته د وتلو لار پیدا کړي، هغه چې (کافر) او(فاجر) دي او له (حق او حقیقت نه) بې نیازه او ستا له بلنې او دعوت نه بې نیازي او استغنا کوي، که هر څومره مخور وي او د لوړ اجتماعي حیثیت خاوند ، هیڅ اهمیت او ارزښت نه لري، هغوی په الهي معیارونو کې ذلیل او حقیر دي، د دوی سپك مقام به د قیامت په ورځ ښه څرګند شي.

ګورئ چې دا مبارکه سوره له سره تر پایه، ټول په هماغه ځانګړې قضیې، چې په دعوت کې ډېر اهمیت لري، بحث کړی او د دعوت په کار کې د باایمانه دعوتګرانو او د پیغمبرانو علیهم السلام د وارثانو اسلوب ئې په ټولنې کې د بېلابېلو مخاطبینو په اړه توضیح کړی او د هر چا په ارتباط ئې د دوی کړنلاره او دریځ ښودلی.

# التكوير

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم التکویر (راتاوول) دی چې د همدې سورې له لومړي آیته اخیستل شوی، ۲۹ آیتونه لري، په مکه مکرمه کې نازل شوې، آیتونه ئې لنډ، وزن ئې ډېر جالب او خوندور، شعارونو ته ورته، په سر کې لنډ لنډ، چې ورو ورو اوږده شوي او د پای آیتونه د لومړنیو نږدې درې برابره شوي، له لومړي آیته تر څوارلسم پورې د آیتونو فواصل کورت ته ورته هموزنه صیغې دي، له پنځلسمه تر اتلسم پورې خنس ته ورته، بیا د سورې تر پایه کریم، مکین او مجنون ته ورته هموزنه صیغې راغلې، خطاب ئې پرېکنده او قاطع، د سورې له مضامینو سره ورته، لومړی د قیامت ابتدایي حالت، د لمر تورېدل، د ټولو ستورو تیاره کېدل، د غرونو خوځېدا او د عالم د اوسني نظام متلاشي کېدل انځوروي، بیا له قبرونو نه د راپاڅېدو صحنه او د الله لوري ته د تلو او الهي محاسبه او په دې کې د جاهلیت د دور تر ټولو ستره او شنیع ګناه، د نجونو ژوندۍ ښخول او ورپسې جنت او دوزخ تمثیلوي، چې په لیدو سره به ئې انسان دا درك کړي چې څه ئې دې ورځې ته راغونډ کړي وو او اوس به ئې ځای کوم وي، بیا په عالم کې د خورو نښو په استناد دا ادعا ثابتوي چې د قیامت په اړه د پیغمبر علیه السلام وینا رښتوني ده او په پای کې مخاطبینو ته ویل شوي چې که د پیغمبر علیه السلام وینا له نورو سره

مقایسه کړئ او قضاوت وکړئ، حتماً به ئې په حقانیت پوه شئ.

بسم الله الرحمن الرحیم

---

ÇÌÈ ðÎ ŽÉß' Â$7ç#Œ)r ÇÈ ðÎ '‰3R$ãqã ¥9$#Œ)r ÇÈ ðÎ 'èà ß K± 9$#Œ)

ðÎ•É ß' â$ s Î$#Œ)r ÇÎÈ ðÎ ŽÅãn Þ qãèø$#Œ)r ÇÍÈ M-Üã â$±Ï$#Œ)r

ÇÏÈ

---

۱- کله چې راتاو کړی شي دا لمر. ۲- او کله چې تیاره شي دغه ستوري. ۳- او کله چې روان کړی شي دا غرونه. ۴- او چې کله پربښودی شي بلاربې اوښې. ۵- او چې کله تَرېدونکي را غونډ کړی شي. ۶- او کله چې سیندونه تر ژۍ ډك شي.

---

۱-۶: په دې آیتونو کې د قیامت د لومړۍ مرحلې څو سترې سترې هیبتناکې صحنې انځور شوې:

۱- هغه وخت چې لمر به په خپل ځان راتاو کړی شي، داسې لکه څوك چې خپله پګړۍ پر سر راتاو کړي. د لمر دا وړانګې چې نن د شمسي نظام هرې خوا ته تر لرو لرو خورېږي، د قیامت په ورځ به ئې خورېدل بند شي او لمر به له سترګو پټ شي، د بیان دا انداز لړ عجیب غوندې برېښي، مفسرینو ئې بېل بېل تعبیرونه کړي، تر ټولو غوره تعبیر هغه دی چې وایي د لمر رڼا به پرې راتاو شي، نور به ئې رڼا نه خورېږي، د دې تعبیر په اهمیت هلته ښه پوهېدی شو چې د لمر او نورو ځلانده سترو ستورو په هکله د کائنات څېړونکو هغه تحقیقي نظریه واورو چې د شلمې پېړۍ په پای کې او له ډېرو تحقیقاتو وروسته وړاندې شوه. له دې آیت

نه دوه تعبیره درلودی شو:

الف - زمونږ لمر چې نن، ځلانده، رون او تود دی، ورو ورو به سوړ شي، ځلا او رڼا به ئې کمه شي، په پای کې به په سوړ او تیاره ستوري بدل شي، داسې لکه ډېر نور ستوري چې په سر کې ځلانده ول خو ورو ورو تیاره شوي، لکه زمونږ ځمکه چې له لمر او نورو ستورو نه د راجلا کېدو په وخت کې توده، ځلانده او روښانه وه، ورو ورو سړه شوه، چې نن خپله رڼا او تودوخه له لمره اخلي، یوازې په زړه او تل کې ئې خپل مخکنی حرارت ساتلی او هر څه په کې ویلې دي، خو بهرنۍ برخه ئې سړه او تیاره ده، لمر به هم په همدې برخلیك اخته شي، رڼا او تودوخه به ئې ختمه شي.

ب - کائنات څېړونکو د هغو تحقیقاتو په لړ کې چې د شلمې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې ترسره شول، داسې ستر ستر ستوري وموندل چې د جاذبې قوه ئې دومره زیاته او ځواکمنه ده چې خپل نور ئې هم نشي ترې وتلی، د نور وړانګې ئې بهر نشي خورېدی او د قوي جاذبې له منګولو ئې بهر نشي وتلی، مونږ دا ستوري په عادي سترګو نشو لیدلی، دغو ستورو ته ئې د بلیك هول (توره کنده) نوم ورکړی، دا تورې کندې په حقیقت کې تش او تور ځایونه نه دي بلکې ستوري دي چې جرم ئې ډېر ستر او کتله ئې ډېره متکاثفه او درنه، د جاذبې قوه ئې دومره قوي چې نور ترې تښتېدی نشي، د نور هره وړانګه چې ترې وتل وغواړي د همدې جاذبې په وسیله بېرته جذب کېږي. تحقیقات وایي چې ستر ستر ستوري په خاص حالت کې په دې برخلیك اخته کېږي. د قرآن له دغو الفاظو نه معلومېږي چې لمر به هم یو وخت له داسې حالت سره مخامخ شي چې رڼا به ئې په خپل ځان راتاوېږي او د خورېدو مخه به ئې نیول کېږي!! که لږ دقت وکړو نو ګورو چې په دې مبارکو آیتونو کې لومړی د لمر او بیا د ستورو تیاره کېدو ته اشاره شوې، خو د لمر لپاره د تکویر (راتاوول) لفظ کارول شوی او د ستورو لپاره د انکدار (تیاره کېدل) لفظ، له دې نه په واضح توګه معلومېږي چې لومړی به په لمر کې داسې بدلون راشي چې پلوشې به ئې له خپلې جاذبې نه بهر نشي وتلی او د وړانګو خورېدل به ئې متوقف شي، خو

داسې چې په خپله به د لمر په سر راتاو شي او بيا به ستوري د دې لپاره تياره شي چې د لمر وړانګې به ورته نه رارسي.

دا مبارك آيتونه د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز زمونږ مخې ته ږدي او له يوه داسې ژور او ستر علمي حقيقت نه پرده اوچتوي چې كائنات پوهان، له پېړيو پېړو تحقيق نه وروسته اوس او د شلمې پېړۍ په دغو وروستيو لسيزو كې پرې پوه شول او دا ئې د راتلونكو نورو تحقيقاتو لپاره د يوې دقيقې علمي نظريې په حيث ومنله. كه دغو آيتونو ته په سطحي نظر وګورو او د لمر او ستورو تياره كېدل د قيامت نښه وګڼو، خو د مطلب ټولو ابعادو او د آيتونو ټولو الفاظو ته عميقاً توجه ونكړو او مخصوصاً د يوه كائنات څېړونكي په ستركه ورته ونه ګورو، د دې وړاند وينې په اهميت نشو پوهېدی، خو كه يوه محقق، حساس او زيرك څېړونكي ته ووايو چې زمونږ قرآن څوارلس پېړۍ د مخه ويلي چې يو وخت به د لمر پلوشې په خپله د لمر په سر راتاو شي او خورېدل به ئې ودرېږي، هغه ته د قرآن د دغو آيتونو هر لفظ دقيقاً ورته ترجمه او توضيح كړو او ورته ووايو چې قرآن د لمر د تياره كېدو لپاره د تكوير لفظ كارولی او د ستورو د تياره كېدو لپاره ئې د انكدار لفظ كارولی، د دې الفاظو معنا ورته بيان كړو، هرومرو به حيران شي او په ډېر دقت سره به ستا خبرو ته ځير شي او حتماً به اعتراف وكړي چې په دې كې خامخا كوم ژور راز او سر پروت دی، دا هغه حقيقت دی چې ساينس پوهان له ژورو تحقيقاتو او له پېړيو پېړيو څېړنو نه وروسته پرې پوه شوي او لا د څېړنو په مقدمه كې دي او د قضيې په نورو اړخونو د پوهېدو لپاره په شدت سره مصروف دي، دا څنګه يوه انسان په څوارلسو پېړيو مخكې شرايطو كې داسې خبره كړې، څنګه په دې حقيقت پوه شوی، څنګه ئې دا ادعا كړې چې يو وخت به د لمر هغه ځلانده وړانګې چې هرې خوا ته خورېږي، په خپله د لمر په سر راتاو او لمر به تياره شي، هغه څنګه پوه شو، چا پوه كړ، له كومې مرجع ئې دا پوهه ترلاسه كړه چې دا لمر به يو وخت زمونږ ځمكې ته نه رڼا وركولی شي او نه تودوخه؟!!

۲- د قيامت په رارسېدو او د لمر د ځلا له بندېدو سره سم به ستوري تياره

شي، دا ګڼ شمېر ستوري چې نن ئې تاسو په آسمان کې ځلانده او روښانه ګورئ، ډېر ئې په اصل کې تیاره دي، خپله رڼا له نورو منابعو اخلي، نور ځلانده شمسي منظومې رڼا ورکوي او د دوی د ځلانده او روڼ معلومېدو باعث کېږي، د ستورو په یوې کړۍ کې یو ستر او ډېر ځلانده ئې په خپلې شا و خوا کې نورو تیارو ستورو ته رڼا ورکوي، لکه چې سپوږمۍ په اصل کې بې نوره ستوری دی، د لمر وړانګې ئې روښانه کوي، کله چې د نور او رڼا دا ځلانده سرچینې له ځلا ولوېږي، ستوري به ئې له سترګو پټ شي. قرآن د دې مطلب په ویلو سره چې لومړی به لمر له سترګو پټ او وړانګې به ئې پر ده راتاو شي او ورپسې به ستوري تیاره شي، یوه ستر علمي حقیقت ته اشاره کړې، داسې یو حقیقت چې انسان ډېر وروسته او په شلمې پېړۍ کې وربانديې پوه شو. څوارلس سوه کاله مخکې څوك په دې پوهېدی شو چې د سپوږمۍ او ډېرو نورو روڼو ستورو نور او رڼا خپله نه ده، بلکې له نورو سرچینو ئې اخلي؟ د دې وړاند وینې، د بیان اسلوب او د هغو الفاظو چې د دې مطلب د بیان لپاره کارول شوي، په اهمیت یوازې حساس او منصف محققین او پوهان پوهېدی شي.

۳- قرآن وایي: دا دنګ دنګ او درانه غرونه چې لویه برخه ئې د ځمکې زړه کې او کمه ئې د ځمکې پر سر او لوړوالي او ستروالي ته ئې په پام سره څوك ګمان نه کوي چې دا به کله هم له خپله ځایه وخوځېږي، داسې ورځ به راشي چې دا به نه یوازې وخوځېږي، بلکې له خپل خپل ځایه به رابېل او روان به شي. دلته هم د قرآن یو بل علمي اعجاز ترسترګو کېږي، د غرونو ښوېدل هم یوه نوې پېښه ده، چې وجه ئې د ځمکې د هغه قشر او پوستکي زړښت دی چې د ډبرې په څېر کلك دی خو ورو ورو او د هغو پر له پسې چاودنو په سبب سست شوی چې د ځمکې له زړه او له خوټېدونکې برخې ئې راولاړېدونکي فشار، برني فشار او نورو عواملو په وجه رامنځته کېږي او د زلزلو او د غرونو د ښوېدو باعث کېږي. دا بهیر او له هغه راولاړېدونکې پېښې به سوکه سوکه او د ځمکې له مزید زړښت سره متناسب زیاتېږي، نن مونږ په دې پوهېږو چې د ځمکې تر برني خاورین قشر څو کیلو متره

لاندې، یوه کلك ډېرین قشر د ځمکې زړه او منځنۍ برخه احاطه کړې، د ځمکې په زړه کې د حرارت درجه ډېره اوچته او هر څه په کې ویلې دي، د دوی له خوټېدو نه ستر فشار راولاړېږي، غواړي دا کلك قشر مات کړي او بهر راووځي، د پوستکي ضعیفې برخې مقاومت ونکړی شي، وچوي او دا ویلې مواد په ډېر شدت سره د ځمکې سر ته راووځي او مونږ ئې د اور شیندونکو په څېر ګورو، ډېر غرونه د همدغو چاودنو په وجه راپیدا شوي، انسان اوس په دې پوه شوی چې غرونه او د ځمکې دا برنۍ برخه او په هغه کې ټول جامد توکي په اصل کې د ځمکې د زړه په ویلې او خوځېدونکو موادو پراته دي، داسې لکه د اوبو پر سر د لرګي یوه تخته. د خاصو عواملو په وجه ئې د ثبات او استقرار بڼه غوره کړې، د استقرار او ثبات اوسنی حالت به د قیامت په ورځ له منځه ولاړ شي او غرونه به له خپله ځایه وښوېږي. د قرآن د دې څرګندونې په اهمیت هم هغه علما او محققین پوهېږي چې له ډېرو څېړنو وروسته په دې حقیقت پوه شوي.

۴ - د صحرایي او کوچي عرب تر ټولو غوره شتمنۍ د ده اوښ وو، په ځانګړې توګه نه میاشتنۍ بلاربه اوښه، چې بچې او شېدو ته به ئې سترګې په لاره وو، که وغواړې د اوسني انسان تر ټولو غوره شتمنۍ له هغې زمانې سره مقایسه کړې نو وایې به: د هغه وخت صحرایي عرب ته خپله اوښه داسې وه لکه د یوویشتمې پېړۍ انسان ته آخري ماډل موټر او تر دې هم زیات غوره او بااهمیته، د قیامت د ورځې د هیبتناکه صحنو له وېرې به انسان دې ته ورته خپل ټول غوره شیان هېر کړي، هیڅ څه ته به اعتناء نه لري، هر څه به پرېږدي او له هر چا به تښتي.

**۵.** هغه ورځ به ترېدونکې یو د بل خوا ته پناه وړي، هغه وحشي حیوانات چې یو له بله او له انسانه وېرېږي، د قیامت د ورځې وېره به دا یو له بله وېرېدل پرې هېر کړي، د دې ورځې له هیبته به یو د بل غېږې ته پناه وړي، دا ځکه چې د ځمکې ډېر هیبتناك او ځیرونکي حیوانات به هم د قیامت د ورځې له هیبته داسې ذلیل شوي وي چې په خپله به پناه ځی لټوي، بل به څنګه ترې وېره کوي، د دې ورځې هیبت به هومره وي چې په هر چا به ئې سیوری خور وي، د هر چا او هرڅه هیبت به ئې ختم

کړی وي، هیڅ تربدونکی به له هیڅ څیرونکي نه وېرېږي.

بنایي کله به مو وړې مرغۍ لیدلې وي چې د شاهین او بانبې د حملې په وخت کې هر هغه څه ته پناه وړي چې په خپلې خوا کې ئې مومي، که انسان وي او که حیوان، همداسې به د قیامت په ورځ تربدونکي سره راغونډ شي.

۲ - ځینو ژباړونکو تسجیر د سوزېدو او لمبه کېدو په معنا ترجمه کړی او له آیت نه ئې دا مطلب اخیستی: د قیامت په ورځ به په بحرونو اور ګډ شي او اوبه به ئې اور واخلي. د دې ډلې وروستنیو محققینو ویلي چې په اوبو کې دوه عنصره شته، هایدروجن او آکسیجن، چې یو ئې په خپله سوزي او بل ئې د سوزېدو په عملیه کې مرسته کوي، هایدروجن سوزېدونکی عنصر دی او آکسیجن د نورو توکیو په سوزېدو کې مرسته کوي، که آکسیجن نه وي نو د سوزېدو عملیه نشي ترسره کېدی، د حرارت په لوړو درجو کې همدا اوبه چې په عادي حالت کې ئې مونږ د اور د وژلو لپاره کاروو، په خپله به سوزېدونکې ماده شي. د دغو محققینو په اند دا آیت د قرآن یو بل علمي اعجاز ګڼل کېږي، انسان په شلمې پېړۍ کې په دې پوه شو چې دا د اور د وژلو وسیله په خپله د سوزېدو ماده ده. خو د تسجیر اصلي معنا ډکېدل دي او د دغې معنا له مخې د آیت مطلب دا دی: د قیامت په ورځ به بحرونه تر ژۍ ډك شي اوبه به ئې وچې ته راوبهېږي او ټوله ځمکه به تراوبو لاندې شي. مونږ نن په دې پوه شوي یو چې الله تعالی د ځمکې د اوبو نظام داسې برابر کړی چې یوه برخه ئې په بحرونو کې وي، بله ئې د پرېړو وربځو په بڼه کې د ځمکې او آسمان تر منځ ګرځي، بله ئې د واورو په شکل کې په لوړو لوړو غرونو، یخو سیمو او د شمال او جنوب قطبونو کې ذخیره وي او یوه برخه ئې تر ځمکې لاندې بهېږي، که دا دقیق نظام متلاشي شي، وربځې خپلې ټولې اوبه پر ځمکه ووروي، د غرونو واورې او د سړو سیمو یخونه ویلي شي او اوبه ئې د بحرونو لوري ته وبهېږي، ټوله ځمکه به تراوبو لاندې شي، ځمکه په یوازې سر د دومره اوبو ظرفیت نه لري. قرآن دا حقیقت د نوح علیه السلام د طوفان په ترڅ کې هم بیانوي، چې ټوله ځمکه په کې غرق شوه او مونږ نن د هغه ستر طوفان نښې او آثار

د جګو جګو غرونو په څوکو کې هم ګورو. دا دوهم تفسير هم دقيق دی او هم د قرآن د علمي اعجاز يوه بله بېلګه، دا ځکه چې د تسجير اصلي معنا ډکېدل دي، نه سوزېدل او د سوزېدو معنا د تسعير صيغه افاده کوي نه د تسجير، تاسو به د انفطار په سوره کې هم وګورئ چې د بحرونو ډکېدو ته داسې اشاره شوې:

وَإِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ

او کله چې روان کړی شي سيندونه.

دا دواړه آيتونه د بحرونو تر ژۍ ډکېدل او د وچې په لور بهېدل افاده کوي او دا هغه مطلب دی چې ۱۴ پېړۍ مخکې هيڅوك پرې نه پوهېدو، معلومه نه ده هغه وخت به څومره کسانو د پيغمبر عليه السلام په دې وينا استهزا کړې وي او په ملنډو ملنډو به ئې يوه بل ته ويلي وي: مونږ خو تل اوبه په داسې حال کې ګورو چې له وچې نه د بحر په لوري خوځي، خو محمد (عليه السلام) وايي چې يو وخت به دا اوبه له بحرونو نه د وچې په لورې وخوځېږي!! خو دا حقايق نن انسان ته څرګند شوي، آيا دا يوه عاقل او باانصافه محقق ته کافي نه ده چې ووايي: دومره ژور علمي حقايق بيانول، د داسې يوه انسان له وسه ډېر ډېر اوچت کار دی چې له اوسنۍ پېړۍ مخکې تېر شوی، که څه هم نابغه وي، له يوه پيغمبر نه پرته بل چا ته داسې خبره کول ممکنه نه ده.

---

ÑM=Ïè 5=ÌŒ ä 'Î ÇÑÈ ÑM=ÍÏS' äŠ¼âöJ9$#Œîr ÇÐÈ ÑM_Íã â¨ qãZ9$#Œîr

ãÅgøø$#Œîr ÇÊÈ ÑMÜÏ±ä â$K¡ 9$#Œîr ÇÊÈ ôNŽÅèß# ß•Á 9$#Œîr ÇÒÈ

ÇÍÈ ôNŽØ ôm& $B Ó§ øÿR ÑMHÍã ÇÌÈ ÑMÿÏèéèZgøø$#Œîr ÇËÈ ôN•ÌS'

---

۷- او چې کله سره جوخت کړی شي نفسونه. ۸- او چې کله ښخه شوې وپوښتی شي. ۹- په کومې يوې ګناه ده وژل شوې؟ ۱۰- او چې کله صحيفې

**خورې ورې شي. ۱۱- او کله چې له پوسته دا آسمان شي. ۱۲- او کله چې دوزخ (بل) په لمبو شي. ۱۳- او جنت چې کله راوستی نږدې شي. ۱۴- په خپلو حاضرکړو باندې پوه به هر یو نفس شي.**

په دې مبارکو آیتونو کې د قیامت د دوهمې مرحلې پېښې په اختصار سره داسې توضیح شوې:

۷ - نفسونه به سره جوخت شي، په دې هکله دوه د پام وړ تفسیرونه شوي:

الف : روحونه به له بدنونو سره یو ځای شي او مړي به راژوندي شي.

ب : ټول انسانان به په بېلابېلو ډلو کې سره یو ځای کړی شي او د محاسبې لپاره به د الله په لور بوتلی شي. هغه نفسونه چې په خپلو کې سره ورته دي او شبیه مواصفات لري، دوی به سره جوخت او نږدې کړی شي، ببله ببله ډله به ترې جوړه شي، کافران له کافرانو سره، منافقان له منافقانو سره، مؤمنان له مؤمنانو سره، هر پیغمبر له خپل امت سره او هر مشر له خپلو پلویانو سره.

په ځو دلایلو دوهمه توجیه دقیقه ده:

الف: په آیت کې دا نه دي ویل شوي چې روحونه به له کالبوتونو سره یو ځای شي، بلکې ویل شوي چې نفسونه به سره جوخت او جوړه کړی شي، له دې الفاظو کالبوت ته د روح راګرځېدل او اعاده نشو اخیستی، بلکې د ورته او شبیه نفسونو یو ځای کېدل او په ډلو ډلو کې راغونډېدل افاده کوي، په قرآن کې د ازواج لفظ په دغه معنا بل ځای هم راغلی:

احْشُرُوا الَّذِينَ ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ * الصافات: ۲۲

لاَ تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَى مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلاَ تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ * الحجر:۸۸

ټولو درنو مفسرینو دلته ازواج په امثال، اشباه او اصناف ترجمه کړی.

ب: وروستی آیت په ډاګه ښیي چې دلته له محاسبې نه مخکې حالت انځور شوی، هغه حالت چې ټول خلك به په ډلو ډلو کې راغونډ او د محاسبې لپاره به د

الله په لوري خوځول کېږي

۸-۹: له ژوندۍ ښخې شوې نجلۍ نه به پوښتنې شي چې دا په کوم جرم وژل شوې وه؟ پوښتنه به له دې وي خو په داسې صیغې چې مطلب به ئې دا وي: دا ستا په څېر مظلومې نجونې په کوم جرم او ګناه او په دومره بې رحمۍ او قساوت ژوندۍ ترخاورو لاندې کړی شوې وې؟!!

قرآن دلته د قیامت د ورځې د هیبتناکو او وېرونکو صحنو له انځورولو، د ټولو خلکو له راژوندي کېدو او په ډلو ډلو کې له راغونډېدو وروسته، تر ټولو د مظلوم انسان، د هغې نجلۍ د محاکمې جریان انځوروي چې له کومې ګناه او جرمه پرته، په ډېره بې رحمۍ او قساوت ژوندۍ ترخاورو لاندې کړی شوې، وایي: الهي محاسبه به لومړی او په سر کې په دې پیل شي چې د مظلومانو پوښتنه به کېږي، خو په دغو مظلومانو کې به تر هر چا د مخه (ژوندۍ ښخه شوې) راوړاندې کړی شي، د قیامت د ورځې محاسبه به له دې ځایه پیل شي، د دې صحنې د تمثیل الفاظ او د بیان څرنګوالی داسې دی چې د صحنې هیبت او رعب او د هغې ورځې د عادل قاضي قهر او غضب څرګندوي. د دې صحنې د هیبت ستروالی هغه وخت لازیاتېږي او په لیدونکي باندې لازیات رعب او وېره مسلط کوي چې دا صحنه د لمر او ستورو د تیاره کېدو، د غرونو د خوځېدو او ... او نورو سترو سترو حوادثو په ضمن کې ګوري.

د جاهلي نظام په ماهیت باندې د ښه پوهېدو لپاره د دغې یوې بېلګې وړاندې کول کافي دي، بې ګناه او معصومې نجونې به ئې فقط د دې لپاره ژوندۍ په خاورو کې ښخې کړې چې ولې نجلۍ پیدا شوې، چې سبا به د بل ښځه وي او دا ئې د پلار لپاره یو پېغور، چې په جګړو کې به په اسارت نیول کېږي او د کورنۍ سر به پرې ټیټ وي، چې په جګړو کې ئې ساتنه او حفاظت د کورنۍ د غاړې پېټی، ولې هغه یو هلك نه دی پیدا شوی چې مضبوطې متې ئې وی، جنګیالی او توریالی، چې هم له خپله ځانه، هم له کورنۍ او هم له قومه دفاع کولی شي!! د دې پیدا ښت به ئې ځان ته عار او ننګ ګاڼو، چې کله به په کورنۍ کې د لور د زېږېدو خبر ورکړی

شو نو تندی به ئې ګونځې ګونځې شو، غم او غصه به ئې په څېرې کې راڅرګنده شوه، د شرمندګۍ احساس به ئې کاوو، چا ته به ئې په جګو سترګو نشو کتلی!!
قرآن د دوی دا حالت څومره ښکلې او دقیق انځور کړی، هلته چې فرمايي:

وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ * يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ *
**النحل: ۵۸ـ۵۹**

او چې کله به ئې کوم يوه ته د نجلۍ (د زېږېدو) زيری ورکړی شو نو مخ به ئې تك تور شو او غمونه به ئې زغمل، د دې بد زېري په وجه به له قوم نه پټېدو، (او له ځان سره به ئې ويل) آيا په سپکاوي کې ئې وساتي او که ئې تر خاورو لاندې کړي!! څومره بد ده د دوی دا پرېکړه!!

د لور زېږېدا د پېغور خبره ګڼل کېده، د کورنۍ مشر به په دې خبرې د خجالت او شرم احساس کاوو چې په کور کې ئې لور زېږېدلې ده، له سيالانو سره به په لوړ سر نشو مخامخ کېدی او په جګو سترګو به ئې هغوی ته نشو کتلی، د مظلومې نجلۍ برخليك به يا په ذلت او سپکاوي کې ژوند وو او يا ژوندۍ تر خاورو لاندې کېدا، دواړه ئې مرګ، يو ئې تدريجي مرګ او بل ئې فوري او ناڅاپي، احتمالاً چې قرآن په دې آيت (باي ذنب قتلت: په کومې ګناه وژل شوې) سره دغو دواړوو مرګونو ته ګوته نيولې.

په ډېرو رواياتو کې د جاهليت د دور دغې مشخصې او د مشرکانو د قساوت او بې رحمۍ دغې بېلګې ته اشاره شوې:
يو ځلې د پيغمبر عليه السلام د يارانو له ډلې يو صحابي ورته راغی او ورته وئې ويل: يا رسول الله! ما له ايمانه مخکې ۳۲۰ نجونې له ژوندۍ ښخې‌دو ژغورلې او د هرې يوې په بدل کې مې دوه اوښان فديه ورکړي، آيا (د کفر په حالت کې) د دې نېك عمل څه اجر او ثواب به راته راکړی شي؟! پيغمبر عليه السلام ورته وفرمايل: هو! ستا اجر دا وو چې الله تعالی د ايمان راوړو توفيق درکړ. ګورئ چې په هغې جاهلي ټولنې کې دا ظلم هومره خور او عام وو چې يوه صالح انسان ۳۲۰ نجونې له ژوندۍ

ښخېدو ژغورلې، خو د هرې يوې په عوض کې ئې دوه اوښان فديه ورکړي!!
يو کس پيغمبر عليه السلام ته په داسې حال کې راغی چې ډېر کسان ئې خوا ته ناست وو، وئې ويل: يارسول الله، له ايمان راوړو مخکې مې په کور کې لور وزېږېده، مور ئې دا خبره له ما پټه وساتله، هغه ئې په بل کور کې ستره کړه، يوه ورځ ناڅاپي کور ته ننوتم، په يوې وړې او ښايسته نجلۍ مې سترګې ولګېدې، پوښتنه مې وکړه چې دا ښايسته نجلۍ د چا لور ده؟ مېرمنې مې وويل: زمونږ د ګاونډي لور ده، خو چې له نجلۍ سره ئې زما مينه او محبت وليد، وئې ويل: که رښتيا درته ووايم نو دا ستا خپله لور ده، چې ما له دې وېرې چې ونه وژل شي، له تا نه پټه ستره کړه!! د دې خبرې په اورېدو سره مې حالت بدل شو، جاهلانه حميت او غيرت مې راوپارېدو، دا مې د ځان لپاره د عار او پېغور خبره وګڼله چې سبا مې سيالان ووايي زما په کور کې لور زېږېدلې، له ځان سره مې وپتېله چې همدا نن شپه او د خلکو له خبرېدو د مخه ئې چېرې ترخاورو لاندې کوم، د شپې مې ترلاسه ونيوله او له ځان سره مې صحرا ته بوتله، په يوې ګوښې کې مې يو کوهی ومونډو، هغه مې په کې واچوله، کله چې مې هغه کوهي ته اچوله، هغې په دردناك او له مينې ډك غږ راته ويل: پلار جانه!! پلار جانه!! پيغمبر عليه السلام د دې دردوونکې قصې په اورېدو سره ډېر وژړل، له صحابه وو نه چا هغه سړی ملامت کړ چې ولې دې په دې قصې سره پيغمبر عليه السلام هومره وځوراوو چې اوښکې ئې توی شي، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: دی پرېږدئ چې دا قصه بيا تکرار کړي، د قصې په بيا اورېدو سره پيغمبر عليه السلام دومره وژړل چې مخ او ګرېوان ئې په او ښکو لوند شو.

د يوه بل صحابي رضي الله عنه په هکله روايت شوی چې ويلي ئې دي: د جاهليت له زمانې دوه خاطرې لرم، د يوې په رايادولو سره مې له سترګو اوښکې وبهېږي او د بلې په يادولو سره بې اختياره خندا راشي، يوه ئې زما د يوې لور په اړه ده، مور ئې د دې له زېږېدو خبر نه کړم، پټه ئې ستره کړه، يوه ورځ مې هغه په خپل کور کې وليده، مينه مې پرې راغله، په سر مې لاس راکښ کړ، له خپلې

مېرمنې مې پوښتنه وکړه چې دا څوك ده؟ هغې لومړی راته وويل چې د يوه دوست لور، له څه ځنډه وروسته ئې راته وويل: ستا خپله لور، چې يوه شوم دا په رښتيا زما خپله لور ده او مور ئې په پټه ستره کړې، ځمکه راباندې تنګه شوه، له دې وېرې چې سيالان مې پرې خبر نشي پرېکړه مې وکړه چې ژر ئې تر خاورو لاندې کړم، همغه شپه مې له ځان سره روانه کړه، يو څراغ او کلنګ مې راسره واخيست، د صحرا په لوري وخوځېدو، په يوې ګوښې کې د قبر په کندلو بوخت شوم، د کندلو په وخت کې مې په زېره ګردونه کښېنستل، لور مې رامنډې کړې او وئې ويل: پلار جانه پرېږده چې ستا د زېرې دا ګردونه درپاك کړم، ګردونه ئې پاك کړل او بېرته په خپل ځای کښېناسته، نه پوهېده چې دا قبر د څه لپاره کندل کېږي او څو شېبې وروسته به دا په کې ترخاورو لاندې کېږي، ما قبر وکندو، دا مې په کې واچوله او ډېرې خاورې او تيږې مې پرې واچولې، ... ګورئ! مونږ څومره بې رحمه او سخت زړي وو، لور مې زما په زېرې ګردونه نشو زغملی خو ما هغه تر خاورو او تيږو لاندې ښخه کړه!!!

د خندا خاطره مې دا ده چې د جاهليت په زمانې کې به چې کله په سفر تلو نو معمولاً به مو د کاروان د سر په اوښ باندې يو بت نصب کړ، تر څو د هغه د حمايې او ساتنې په طفيل مو دا سفر په خير وي او له کوم ضرر او کړاو پرته خپل مقصد ته ورسېږو، په يوه سفر کې په دې ونتوانېدو چې د لرګي يا ډبرې کوم بت جوړ کړو، مجبور شوو له کجورو ئې جوړ او د لومړي اوښ په شا ئې نصب او د هغه د حمايې تر سيورې لاندې خپل سفر پيل کړو، سفر راباندې اوږد شو، په صحرا کې مو لاره ورکه کړه، څه چې مو د خوراك او څښاك لپاره درلودل ټول ختم شول او کار مو هغه ځای ته ورسېدو چې ناچار دا د کجورو بت راکوز کړو او په خپلو کې ئې وویشو، خپل خدای مو وخوړ، هغه چې د ده د مرستې او حمايې په امېد مو دا سفر پيل کړی وو، د لارې په اوږدو کې، په هر تمځای کې به د هغه شا وخوا ته راغونډ شوو، د هغه لمانځنه به مو کوله او پښو ته به ئې په سجده پرېوتو، خو چې وږي شو نو نه يوازې هغه زمونږ مرسته ونکړی شوه بلکې دی مو وخوړ!!

د لوڼو ژوندی ښخول، د جاهلي ټولنې دا تر ټولو کرکجنه ځنډه خاص لاملونه درلودل چې ځینې ئې دا دي:

الف : له دې وېرېدل چې سیمه ئې د دښمن تر برید لاندې راشي او لوڼې ئې د دښمن په لاس کې پرېوځي او لوی دائمي پېغور ورته پرېږدي.

ب: دا ورته د عار او پېغور خبره برېښېده چې لور ئې د بل په نکاح کې راشي.

ج: د لور زېږېدا ئې د خپلې مېړاني د ضعف او کمزورۍ نښه ګڼله او په دې سره به ئې د سیالانو په قطار کې د شرمندګۍ احساس کاوو.

ځیني مفسرین په دې نظر دي چې له ښځو سره ظالمانه او له تبعیض او سپکاوي ډک چلند، د دوی انساني حقوق تر پښو لاندې کول او هغه له دې محرومول چې په ټولنې کې خپل انساني مقام ولري، خپل حیثیت ترلاسه او خپله دنده ترسره کړي، دا د ښځې له ژوندۍ ښخولو سره مترادف وه، دا ځکه چې له هغې سره د یوه ژوندي او شریف انسان په څېر معامله نه کېده، استعدادونه ئې ځپل کېدل، د خپلو وړتیاوو د تجلي مجال ئې نشو ترلاسه کولی او د یوه مړي او د نورو د غاړې د پېټي په څېر ګڼل کېده.

۱۰- له هر چا سره به محاسبه کېږي، هر چا ته به خپله عمل پاڼه په لاس کې ورکول کېږي، د محشر میدان به په هغو خورو ورو پاڼو ډک وي چې هر څوك به ئې په لاس کې لري.

۱۱- د آسمان دا شنه پرده به لرې کړی شي، څه چې نن دغې پردې زمونږ له سترګو پټ کړي، ټول به راڅرګند شي. دلته باید لږ توقف وکړو، الفاظ عجیب برېښي، آسمان به له پوسته شي!! یعني څه؟! آیا آسمان پوستکی لري؟ آیا زمونږ او آسمان تر منځ داسې کومه پرده شته چې د آخوا شیانو لېدا ئې راته ګرانه کړې؟!! راشئ دا پوښتنه هم له هغو محققینو وکړو چې په دې اړه څېړنې کوي، هغوی ته به ووایو چې زمونږ په قرآن کې د آسمان په هکله داسې ویل شوي، چې د آسمان دا تر سترګو کېدونکې فضا یوه پرده ده چې ډېر څه ئې زمونږ له سترګو پټ کړي؟!! دا محققین مونږ ته یو ځواب لري او هغه دا: هغه څه چې مونږ او تاسو ئې د یوې

پېروزه ئې پردې په څېر ګورو، دا د ځمکې چاپېر فضاء ده، د يوې پردې په څېر ده، دا پرده د دې باعث شوې چې مونږ د آسمان ډېر څه ونه ګورو، د نور ډېرې پلوشې داسې دي چې له دغې پردې نشي تېرېدای، هغه ستوري چې دا ورانګې خپروي د دغې پردې په وجه ئې نن نشو لېدی، که دا پرده نه وای نو مونږ به نن دا ټول ستوري هم په ښکاره لیدل. د قرآن دې آيت يو بل ستر علمي اعجاز زمونږ مخې ته ايښی او هغه حقيقت ئې بيان کړی چې انسان دا دی اوس او په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شو. د قيامت په ورځ به دا پرده څيرې شي، دا خنډ به لرې شي، د آسمان دا پوستکی به وشکولی شي او هر هغه څه به راښکاره شي چې دغه پرده او پوستکی ئې د ليدو مانع ګرځي.

۱۲- هغه دوزخ چې نن ستا له سترګو پټ دی، په هغه ورځ به ئې ښکاره وګورې.

۱۳ - کوم جنت چې لرې او محال ئې ګڼې هغه به رانږدې کړی شي، جنتيان به ئې په خپلې خوا کې ومومي.

۱۴- هر انسان به هم د خپلې عمل پاڼې په لوستو او ليدو سره په دې پوه شي چې څه ئې د دې ورځې لپاره له ځان سره راوړي او هم به په جنت يا دوزخ کې د خپل موقعيت له مخې پوه شي چې څه ئې کړي؟! ده په جنت يا دوزخ کې خپل ځای په خپل لاس جوړ کړی، دا د ده د کړو وړو محصول دی، د خپلو کړو وړو پايله به په خپلو سترګو په جنت او دوزخ کې وګوري.

---

ÇÈ § èóã #Œ] Èæø$r ÇÏÈ Ä§ Y3ø$ í #qgø$ ÇÎÈ Ä§ Zôø$ öå¨é Ix ù

“ Ë ‰ZÅ ygè “ Ë ÇÍÈ 5Ïf ì. ÅqßŠ ‘ Äö) 9 ¼çR] ÇÑÈ § ÿZ? #Œ] ËxöÁ 9$r

ÇËÈ &üB& §0 8$ÜB ÇËÈ &üÅB Ä¸ ©è$

---

**۱۵**- نو داسې نده، لوړه کړم پدغه بیا راتلونکو. ۱۲- په دا تلونکو پټېدونکو. ۱۷- او په شپې چې شي په تلو. ۱۸- او قسم د سباوون په سا ایستو. ۱۹- بې شکه دا وینا ده د استائي عزتمن. ۲۰- مخور د عرش خاوند ته او ځواکمن. ۲۱- هلته منل شوی او امین.

---

**۱۵-۱۸**: په دې آیتونو کې په څو شیانو لوړه شوې:

- په (خنس) د خناس جمع چې معنا ئې بیا بیا راتلونکی ده، شیطان ته پدې خاطر (خناس) ویل شوي چې هغه هم مکرر راځي، وسوسه کوي، بېرته درومي، له بلې ګوښې راوړاندې کېږي او بله وسوسه القاء کوي.
- د دې خناس لپاره دوه نور صفتونه هم ښودل شوي: الجوار: تلونکي او الکنس: پټېدونکي
- په شپه چې کله په تلو شي.
- او په سباوون چې په سا ایستو شي.

د قسمونو ځواب دا دي:

إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسولٍ كَرِيمٍ * ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى الْعَرْشِ مَكِينٍ * مُّطاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ * وَ مَا صاحِبُكم بِمَجْنُونٍ *

بې شکه چې دا د عزتمن استائي وینا ده. د عرش خاوند ته مخور او ځواکمن. هلته منل شوی او امین. او ستاسو دا ملګری مجنون نه دی.

د دغو قسمونو په معنا او د قسمونو له ځواب سره ئې د تړاو په څرنګوالي هلته ښه پوهېدی شو چې لاندې خبرې په پام کې ولرو:

له دغو دوو آیتونو نه (واللیل اذا عسعس) او (والصبح اذا تنفس)، په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې (الخنس، الجوار، الکنس) به هم خامخا داسې شیان وي چې له شپې سره تړاو لري او په شپې کې راتلونکي، خوځېدونکي او پټېدونکي، له ستورو پرته بل څه نشي کېدی، ځکه دا ستوري دي چې هره شپه بیا بیا راڅرګندیږي، په شپه کې ئې د آسمان په غېږ کې خوځېدل راڅرګند شي، له

شرق نه طلوع کوي او په غرب کې پرېوځي، د ورځې په رارسېدو سره ترشا شي او له سترګو پټ. که د (الخنس، الجوار او الکنس) الفاظ له دغو آيتونو نه بهر د لغت په کوم کتاب کې او په بل کلام کې وڅېړو نو بې شمېره مصداقونه ئې کېدی شي، خو که په دې خاص ځای او له دې نه مخکې او وروسته آيتونو په غېږ کې ئې معنا ولټوو نو له ستورو نه پرته بله معنا ترې نشو اخيستی، ټول مفسرين پدې خبرې متفق دي چې پدې الفاظو سره ستورو ته اشاره شوې.

د قيامت منکرين داسې ګمان کوي چې دا نړۍ نه بدلېدونکې، ثابته او ابدي نړۍ ده، په تحول او بدلون باور نه لري او دا خبره نه مني چې يوه ورځ به دا هرڅه له منځه ولاړ شي. دوی ته د پيغمبرانو عليهم السلام يوه اساسي خبره تل دا وه چې قيامت به راځي، دا ځمکه آسمان او د اوسنۍ دنيا اوسنی حالت به ختمېږي، نوې دنيا او نوې ځمکه او آسمان به پيدا کېږي، له انسان سره به د ده د ټولو کړو وړو محاسبه کېږي، سزا او جزا به ګوري. د دغې اساسي ادعا د اثبات لپاره دلته ويل شوي: شپه ورځ، د ستورو تګ راتګ، طلوع او غروب ئې دا حقيقت په ګوته کوي چې دلته د ثبات او د يوه حالت د دوام په ځای د بدلون او تحول شاهد يو، هره شېبه حالت بدلېږي رابدلېږي، تاسو څنګه دا د بدلېدو رابدلېدو په حالت کې نړۍ ثابته او تغيير نه منونکې ګڼئ؟!! په داسې حال کې چې تحول او بدلون د همدې دنيا يو عام او څرګند اصل دی، د دنيا هر څه هره شېبه بدلېږي، دا په آسمان کې خواره واره او څرګندېدونکي پټېدونکي ستوري او دا د شپې او ورځې تګ راتګ، د دې دائمي او مسلسل تحول او بدلون څرګندې بېلګې ستاسو مخې ته، لدې سره سره څنګه د عزتمن پيغمبر هغه خبره نه منئ چې وايي: يوه ورځ به دا لمر خپله رڼا له لاسه ورکړي، ستوري به تياره شي، غرونه به له خپله ځايه وخوځي او هرڅه به بدل شي؟ د ده پدې خبرې خو دا ده د هرې شپې ورځې دا تحولات شهادت ورکوي. د (ثبات) او (دوام) عقيده بې بنسټه عقيده ده چې د دنيا مسلسل بدلون ئې ردوي. دا ولې تاسو دغه خپل ملګري پيغمبر ته پدې خاطر مجنون وايئ چې د قيامت د راتلو خبره کوي؟!! ده خو د دې خبرې حقيقت په څرګند افق کې ليدلی، دغه افق ته د نظر

کولو لپاره تاسو ته هم بلنه درکوي، د شپې ورځې تلو راتلو ته وګورئ، د ستورو طلوع او غروب ته وګورئ، دا څه پیغام له ځان سره لري، د ثبات او دوام پیغام که د تحول او بدلون پیغام، د ده خبره تائیدوي که ستاسو؟!! دی خو نه د کاهنانو په څېر دی چې د (غیب) دروغجنې خبرې خرڅوي او په څرګندولو کې ئې سخت بخیل وي او هیڅا ته ئې وړیا نه وایي، شکرانې او نذرانې وربانديې اخلي!! د ده وینا د شیطان د ملګرو له وینا سره مقایسه کړئ، دی څه وایي او هغوی له شیطان نه په الهام اخیستو سره څه وایي؟! سره له دې څنګه د ده دا وینا نه منئ، په داسې حال کې چې دا د ده خپله وینا نه بلکې د رب العالمین له لوري د یوې عزتمنې، ځواکمنې او د نورو مطاع فرښتې په لاس ده ته لیږل شوې وینا ده او هر هغه چا ته لارښوونه کوي چې په سمې او مستقیمې لارې د تلو تکل کوي.

د پورتنیو قسمونو ځواب دا دی: انه لقول رسول کریم (بې شکه دا د عزتمن استاځي وینا ده) باید وګورو چې دا قسمونه څنګه په دې خبرې شهادت ورکوي او دغه دعوا ثابتولی شي چې دا د سورې په سر کې ویل شوې خبرې، د یوه عزتمن استاځي وینا ده؟! په دې هکله ډېر توجیهات شوي خو تر ټولو دقیق تفسیر ئې همغه دی چې مخکې بیان شو.

دغه مسلسل او پرله پسې تحولات او بدلونونه چې تل او هره شپه او ورځ ئې ګورو، همدا د پیغمبر علیه السلام د ادعا د اثبات لپاره ستر دلیل دی.

---

’?ã qèl $Br ÇËÌÈ ÈüÎ$È(Wî ¤ä‘ ô)9r ÇËËÈ 5qãó JÎ /ãöm$¹ $Br

ÇËÏÈ bqçdõ? ûøù ÇËÎÈ 5ŠÅ§9»Üø© Eö)Î qèl $Br ÇËÍÈ &üÏÒÎ É=øó$

brâ$±@ $Br ÇËÑÈ LìÉGó„ b& N3ZÏB ä$© `J Ï ÇËÐÈ ûüÏ>»èù Ïò2 ŽwÎ qèd bÎ

ÇËÒÈ šú üÏJ=»èø9$> ‘ ª! $ä$±„ b& wÎ

۲۲- او ستاسو دا ملګری مجنون نه دی. ۲۳- او بې شکه چې افق کې ئی لیدلی دی څرګنده. ۲۴- او ندی دی په غیب باندې بخیل. ۲۵- او نده دا وینا د رټل شوي کوم شیطان. ۲۶- نو چېرته درومئ تاسو؟ ۲۷- دا نده مګر ذکر ټول عالم ته. ۲۸- ستاسو هغه چا ته چې ئې غوښتي؛ مستقیم شي. ۲۹- تاسو غوښتی نشئ تر څو نه وي غوښتي خدای، رب د عالمونو.

---

۲۲ - هغه خبرې چې ستاسو ملګری پیغمبر علیه السلام ئې د قیامت په اړه کوي، پام چې دا د هغه چا د خبرو په څېر ونه ګڼئ چې پېریانو نیولی او هغوی د ده په ژبه د غیب په هکله خبرې کوي، دا د غیب خبرې نه دي، پیغمبر د خپلې دې وینا مصداق او نښې په افق کې څرګندې لیدلې، د ده وینا د کائنات په هکله له دقیق علم او پوهې سرچینه اخلي، که د ده په وینا کې لږ غور وکړئ او د ده دلایل واورئ نو په حقیقت به ئې پوه شئ، دا د پیغمبر علیه السلام خپله وینا نه ده، له ځانه ئې نه ده کړې، دوه بنسټونه ورته لري:

۱ - نښې او آثار ئې د آسمان په غېږ کې څرګندې لیدلې دي.

۲ - د هغه الله له لوري یوې فرشتې دا اطلاع ورکړې چې د عرش پالونکی او واکمن دی.

۲۳ - دلته دا نه دي ویل شوي چې پیغمبر علیه السلام څه د آسمان په کنارو کې څرګند لیدلي، په دې اړه درې توجیهات زمونږ مخې ته راځي:

الف: خدای ئې څرګند لیدلی!! دا توجیه نه د آیت له سیاق و سباق سره اړخ لګوي او نه د قرآن له نورو څرګندونو سره تطابق لري، برعکس دا د قرآن له مبادیو او اساساتو سره شدید تعارض لري، قرآن په ډېر صراحت سره وایي چې هیڅوك خدای نشي لیدی، د موسی علیه السلام په څېر یوه اولواالعزمه پیغمبر تمنا وکړه چې الله په خپلو سترګو وګوري، خو دا تمنا ئې په دې خاطر ترسره نه شوه چې په دنیا کې هیڅ انسان د الله د لیدو توان او استعداد نلري.

ب: په افق کې ئې داسې نښې او آثار تر سترګو شوي چې د قیامت په حتمي

راتلو دلالت کوي.

ج: د وحي حامل فرشته ئې د آسمان په غېږ کې په څرگنده ليدلې.

د دې آيت له فحوا او د مخکنيو آيتونو په رڼا کې معلومېږي چې دلته دغه دواړه مطالب افاده شوي. دا خبره ئې له هغې فرشتې اورېدلې چې د وحي حامل وه او ده په افق کې څرگنده وليده او دا هغه خبره ده چې ده ئې نښې په افق کې په واضح توگه ليدلې دي، دا د شپې ورځې پر له پسې بدلونونه، د ستورو تگ راتگ، راختل او پرېوتل، سقوط او هبوط، ښيي چې کائنات يوه ثابته او تغيير نه منونکې هستي نه ده چې له منځه تگ او متلاشي کېدل ئې محال وگڼو، هره شېبه د دې احتمال شته چې يو آني او ناڅاپي تصادم هر څه گډ وډ کړي.

۲۴ - دا آيت دوه مطلبه افاده کوي:

الف: څه چې پيغمبر عليه السلام د غيبي امورو او هغه څه په هکله وايي چې نه ئې انسان ليدی شي او نه درك کولی، دا د وحي له لارې ده ته ويل شوي او دی ئې په پوره احتياط او امانتدارۍ سره خلکو ته رسوي، نه څه سپماوی کوي او نه بخل، نه د کوم بخيل عالم په څېر دی چې نه غواړي نور خلك په هغه څه وړيا او ده ته له بدلې ورکولو پرته پوه شي چې دی پرې پوه شوی او نه د کوم کاهن او منجم په څېر چې د غيب خبرې خرڅوي او شکرانې پرې اخلي.

ب: د غيب په اړه د ده وينا د خپلو هغو کاهنانو، منجمينو او فال نيوونکو سره مقايسه کړئ چې د خلکو د غولولو لپاره د غيبي امورو په هکله يو څه بل څه وايي خو نه د صداقت او اخلاص له مخې، نه خلکو ته د کومې گټې رسولو لپاره او د دوی د لارښوونې او هدايت په غرض او نه مفت او وړيا، بلکې د (شکرانو) په بدل کې، اجوره پرې اخلي، له دې لارې خپله خېټه او جيب ډکوي، جاهل او ناپوه خلك غولوي، د غولېدلو خلکو جيب ته ئې سترگې وي.

خو تاسو گورئ چې پيغمبر عليه السلام د قيامت، حساب و کتاب، جنت او دوزخ په څېر د غيبي امورو په هکله په خپل بحث سره نه يوازې له چا څه بدله نه غواړي بلکې په پوره سخاوت او پرته له کومې طمعې ئې خلکو ته رسوي او په دې

لار کې کړاوونه ګالي.

که قرآن ته لږ ځیر شو نو ګورو چې دښمنانو کله پیغمبران علیهم السلام په سحر او جادو متهم کړي او د هر یوه په هکله ئې ویلي چې دا ساحر او جادوګر دی او کله ئې کاهنان ګڼلي! دا ولې؟ دا ځکه چې دوی په خلکو باندې د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت د ژور اغېز لپاره بله توجیه نشوی وړاندې کولی، دوی به خپلو پلویانو ته په دې هکله څه ویل چې دا ولې په دغو خلکو کې چې د پیغمبرانو علیهم السلام دعوت ئې منلی دومره ژوره تبدیلي راغلې، هر څه ئې بدل شوي، افکار ئې، عمل ئې، اخلاق ئې، وینا ئې، کړه وړه او سلوك ئې، هر څه ئې له بنسټه بدل شوي، په ژوند او شخصیت کې ئې ژور انقلاب راغلی، دا پیغمبر حتماً ساحر او جادوګر دی چې په خپلو څو خبر سره ئې په خپلو مخاطبینو کې، داسې ژر او دومره ژور تغییرات راوستي، د پرون ورځې له بې وزلو، غلامانو، ذلیل او بې زړه خلکو ئې داسې ستر ستر، انقلابي، مجاهد، زړه ور او مقاوم شخصیتونه جوړ کړل، هغه چې تر پرونه د خپلو بادارانو په وړاندې سخت مطیع، ذلیل او هر امر ته ئې تسلیم ول، دا دی اوس ئې بغاوت ته ملا تړلې، د نظام په وړاندې ودرېدلي، له مرګه نه وېرېږي، هر خطر په ورین تندي قبلوي!! آیا له یوه جادوګره پرته بل څوك دا کار کولی شي؟!!

او د دې لپاره به ئې هغوی ته کاهن ویل چې خلکو ته ووایي: دا د پیغمبرۍ مدعي چې وایي د الله له لوري ورته وحي شوې، په حقیقت کې زمونږ د دغو کاهنانو په څېر دی چې د بازار په هرې کوڅې کې ئې دوکان پرانیستی، فالونه اچوي، تعویذونه ورکوي، کوډې کوي، د غیب په اړه خبرې کوي او په دې سره له بې وزلو غولېدلو خلکو شکرانې اخلي، د څو پیسو لپاره دا کارونه کوي، کسب ئې غیب ویل او له خلکو پیسې شکول دی، که پیغمبران د غیب په هکله څه وایي، د جنت او دوزخ، بیا ژوندون، د خدای، فرشتو، روح او پېریانو په اړه خبره کوي،... د دوی دا ټولې خبرې زمونږ د کاهنانو په څېر دي، زیات اهمیت مه ورکوئ، نوې خبرې ئې مه ګڼئ او تر اغېز لاندې ئې مه راځئ.

د دغو خبرو په ځواب کې ویل شوي: نه ګورئ چې پیغمبر د کاهنانو په څېر نه دی، پر غیب بخیل او ممسك نه دی، له چا نه د بدلې او اجورې طمع نه لري، نه ئې له دین نه دوکان جوړ کړی، نه له غیب ویلو ځان ته حرفه او پېشه!! قرآن دا د پیغمبرانو او رښتونو دعوتګرانو یوه ستره ځانګړتیا ګڼي چې د خپل دعوت او مبارزې په مقابل کې له خلکو د بدلې طمع نه لري، خپل اجر له الله پرته له هیچا نه غواړي، قرآن دا یو دقیق معیار او ملاك ګڼي چې په هغه سره یو رښتونی او صادق دعوتګر له یوه حرفوي دعوتګر او دین خرڅوونکي دکاندار نه ښه پېژندی شو، وګورئ چې هغه د اجر په لټه کې دی که د اجورې په لټه کې، خپل اجر له الله غواړي که له خلکو؟ دی د خلکو لپاره قرباني ورکوي او که له خلکو غواړي چې د ده لپاره قرباني ورکړي؟!! آیا دی د خلکو د سوکالۍ او هوساینې لپاره خپله آرامتیا او هوساینه د دوی په پښو کې قرباني کوي او که له خلکو دا طمع لري چې د ده د هوسا او آرامه ژوند لپاره کړاوونه وګالي او خپله هوساینه د ده په پښو کې ذبح کړي؟!! که له خلکو ئې بدله غوښته، یو حرفوي دعوتګر دی، خو که د اجر طمع ئې یوازې له الله وه، د پیغمبرانو وارث دعوتګر دی، دا باید تل د یوه معیار او ملاك په حیث او د صادق او کاذب دعوتګر تر منځ د توپیر او تفکیك وسیله وګڼئ، د هغه چا متابعت او ملګرتیا وکړئ چې له ماسوی الله نه د اجر او اجورې طمع نه لري، په دې اړه د قرآن لارښودنه دا ده:

اتبعوا من لایسئلکم اجرا و هم مهتدون.

د هغه چا متابعت وکړئ چې له تاسو هیڅ بدله نه غواړي او هدایت شوي.

**۲۵**- راشئ د پیغمبر علیه السلام پیغام او وینا د هغه چا له وینا سره مقایسه کړئ چې د رټل شوي شیطان مطیع او د شیطان د وسوسو تر اغېز لاندې دی، وګورئ چې دا داعي څه وایي؟ له تاسو څه غواړي؟ خبرې ئې الهي رنګ لري که شیطاني؟ د یوه صادق داعي او ټګمار دعوتګر تر منځ د تفکیك او توپیر لپاره باید د دوی پیغام او د دعوت محتوا ته وګورو او دې ته پام وکړو چې هغوی خلکو ته د ویلو لپاره څه لري؟! چا چې په دوی ایمان راوړی او د دوی په لار تللي، په

شخصیت کې ئې څه تبدیلي راغلې، د دې دعوت اغېز د دوی په کړو وړو څنګه دی؟ صادق دعوتګر، د پیغمبرانو وارثان او د الله لوري ته بلونکي هغه دي چې حق، عدالت، صداقت، امانتداري، په خپلو ژمنو وفا، سخاوت، مروت، صبر، قناعت، تقوا او پاك لمنی ته بلنه ورکوي، د رښتوني دعوتګر د دعوت له محتوا په ځرګنده معلومېږي چې له الهي مرجع ئې الهام اخیستی او په مقابل کې ئې هغه دعوتګران چې د شیطان په لار رومي او له شیطاني وسوسو الهام اخلي، هغوی به وګورئ چې د فساد، ګناه، ظلم، خیانت، د نورو پر حق تجاوز او تېری، دروغ، خدعه، کرکه، نفرت، حرص، بخل، خپلې ژمنې تر پښو لاندې کول، د ناروا موخو لپاره حرامې لارې غوره کول، دا هغه څه وي چې دوی بلنه ورکوي او د دوی د پلویانو په شخصیت کې به دا ټول په ځرګنده وګورئ.

۲۶ - له دې ټولو سره سره څنګه د حق او باطل په تفکیك کې اشتباه کوئ، څنګه په دې نه پوهېږئ چې ستاسو دا ملګری پیغمبر دی، پیغام او دعوت ئې الهي، څنګه خدای او پیغمبر ئې پرېږدئ او د شیطان په لار درومئ؟!

فاین تذهبون؟ چېرې درومئ؟!

۲۷ - ګورئ چې د دې پیغمبر په الهي پیغام کې د عالمیانو لپاره پند او یادونه ده، له یوې خوا هغوی ته نصیحت کوي، خبرداری ورکوي او له ګناه او تېري ئې منع کوي، له بلې خوا هغه هېر شوي حقایق ورپه یادوي چې ریښه ئې د دوی په فطرت کې ده، ویده وجدان ئې راویښوي، هغه راکده حافظه ئې خوځوي او فعالوي چې د حقایقو د پېژندو زېرمه ده.

۲۸ - خو دا د هغه چا لپاره ذکر او پند دی چې په هغه کې تلوسه وي، د حق پېژندو تکل، د حقیقت موندو تنده او په حقایقو د پوهېدا تمنا، لکه څنګه چې ړوند له نور او رڼا ګټه نشي اخیستی، همداراز په چا کې چې حقیقت ته د رسېدو تلوسه نه وي هغه د پیغمبر له ذکر او یادونې ګټه نشي اخیستی، د ده ویده وجدان نشي راویښولی، څوك چې د مستقیمې لارې د پېژندو هڅه کوي، غواړي سمه لار له ناسمې تفکیك کړي، د هغه لپاره دا پیغام ذکر او پند دی، په دې سره به ئې په

سمه لار د تلو توفيق په برخه شي.

۲۹ - دلته يوې ډېرې مهمې اعتقادي موضوع ته اشاره شوې، داسې موضوع چې د مفسرينو ترمنځ د ډېر ژورو او پراخو بحثونو باعث شوې او هغو خلکو ته ئې ډېرې ډېرې پوښتنې راولاړې کړې چې له قرآني مفاهيمو سره آشنا نه دي، دوی وايي: که زمونږ مشيت د الله د مشيت تابع وي او تر څو د عالمونو رب نه وي غوښتي زمونږ اراده او غوښتنه بې تأثيره ده! تر څو الله نه وي غوښتي زمونږ په زړه کې نه کومه تلوسه او تمنا راولاړېږي او نه د کوم کار د کولو عزم او اراده، که خبره داسې وي چې مونږ څه غواړو او د کولو اراده او عزم ئې کوو، الله ئې زمونږ په زړه کې راولاړوي او مونږ د هغه کار کولو ته هڅوي، نو مونږ ولې بايد د داسې کار په اړه وپوښتی شو او د مکافات او مجازات مستحق وګڼلی شو؟! تر څو ئې الله ونه غواړي مونږ ئې نه شو غوښتی، تر څو الله د کوم کار د کېدو اراده نه وي کړې مونږ ئې نشو ترسره کولی، د هر څه غوښتنه او د هر کار د کولو اراده الله تعالی زمونږ په زړه کې اچوي، نو مونږ به ولې او په کوم دليل په کومې ګناه نيول کېږو؟!! دا موضوع د (قضا او قدر) په بحث پورې تړلې يوه اعتقادي موضوع ده او دې پوښتنې ته ځواب وايي چې آيا انسان (آزاد) او (مختار) پيدا شوی که (مجبور) او (محکوم)؟ آيا په خپلو کړو وړو کې له استقلال او خپلواکۍ برخمن دی که د هغو مقدراتو په وړاندې محکوم دی چې دی ئې په خپلو منګولو کې نيولی او د هر راز مخالفت او سرغړاوي امکان ئې ترې سلب کړی؟! او که د دې دواړو ترمنځ درېيمګړی حالت، نسبي آزادي او اختيار او نسبي محکوميت او مجبوريت؟ په دې مطلب د ښه پوهېدو لپاره په کار ده چې لومړی په دې موضوع پورې د تړلو مفاهيمو په معنا ځان پوه کړو او بيا د دوی ترمنځ ارتباط او تړاو درك کړو او په پای کې د موضوع په حقيقت پوه شو. په موضوع پورې تړلې مفاهيم دغه دي:

قضاء: له قضا نه هغه سنن او ضوابط مراد دي چې په ټول عالم او د کائنات په هرې برخې حکومت کوي، همغه چې مونږ ئې مظاهر په خپلو سترګو ګورو، ګورو چې هر څه د دغو سننو او ضوابطو په وړاندې محکوم او مقهور دي، هيڅ څه او هيڅوك له

دې ضوابطو نه د سرغړاوي مجال نشي ترلاسه کولی، په دې عالم کې هرکار د دغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، نه کوم ستر کار او نه کوم ووړ کار، نه کوم عادي خوځښت او نه پراخ او ستر حرکت، هیڅ څه دغو ضوابطو ته له کامل انقیاد نه پرته نشي ترسره کېدی، د عالم د هر ستر او ووړ توکي پیدا ښت، ارتقا، د کمال اوج ته رسېدا، له هغه ځایه ئې د ضعف او ناتوانۍ په لوري د خوځښت پیل، په مرګ محکومېدا او خپل ځای بل ته پرېښودل، دا ټول د هغو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي چې دا عالم ئې په خپلو منګولو کې نیولی، د قرآن په قاموس کې دغه سنن او ضوابط د (قضا) په نامه یادېږي چې دوه برخې لري:

الف: تکویني قضا، دا پر طبیعت حاکم سنن او ضوابط.

ب: تشریعي قضا، هغه قوانین او مقررات چې الله تعالی د انسان د فردي او اجتماعي ژوند د تنظیم لپاره ټاکلي.

انسان نن په دې حقیقت پوه شوی چې د دې پراخ او ستر عالم هر څه د خاصو قوانینو او ضوابطو په وړاندې منقاد دي او هر څه د دغو قوانینو مطابق ترسره کېږي، که دا د توکو پیدا ښت دی، په خپلو کې د عناصرو ترکیب دی، د ژوو زېږېدا، وده، زړښت، مرګ او تجزیه کېدل دي، د شیانو حرکت، سرعت، راپرېوتا او ویښتل دي او که هر بل کار او هر حرکت، دا ټول د هغو ضوابطو مطابق ترسره کېږي چې ساینس ئې د (فارمول) په نامه یادوي، قرآن ئې د قضا په نامه.

قدر: د قدر لغوي معنا اندازه، حد او توان دی او د قضا او قدر په مبحث کې په دې معنا راغلی چې الله تعالی هر څه په خاصه او معینه اندازه پیدا کړي، د مقدار لپاره ئې یو حد ورته ټاکلی، د ټولو شیانو د مقادیرو تر منځ ئې دقیق تناسب او تعادل رامنځ ته کړی، نه پرېږدي دا تعادل او توازن له منځه ولاړ شي، د توکیو ضروري مقدار کم یا زیات شي، د هر څه د پیدا ښت، دوام او فنا لپاره ئې خاص اجل او نېټه ټاکلې، د هر څه د حرکت لپاره ئې د پیل او پای مسیر ټاکلی او هره پېښه په خپل ثابت وخت کې رامنځ ته کېږي.

نن ساینس همدغه خبره کوي چې د دې عالم د هر څه مقدار او اندازه ثابته او

معینه ده، له ټولو هغو پرله پسې او مسلسل تحولاتو سره سره چې هره شېبه ئې هرې خوا ته ګورو، یو د تجزیې په حالت کې، بل د راټوکېدو په حالت کې، د یوه موجود شکل بدل شي او بل څه ترې جوړ شي، جامد په مایع او مایع په ګاز بدل شي، خو له دې ټولو سره سره نه دا ثابت مقادیر بدلېږي او نه ئې ترمنځ تعادل او توازن، په عالم کې شته (تقدیر) نه بدلېدونکی دی او په عالم کې ترسترګو کېدونکي تغییرات ئې نشي بدلولی. که په دې (تقدیر) کې ډېر لږ بدلون او تغییر راشي او دا شته توازن او تعادل له منځه ولاړ شي، نه به د ځمکې پر سر ژوند ممکن وي او نه به د دې عالم دوام، هر څه به متلاشي کېږي او دا ټول کائنات به له منځه ځي!! ساینس نن په جګ غږ اعتراف کوي چې د عالم هر توکی له پیدا ښت نه تر زړښت او مرګ پورې ثابت او معین مسیر پلی کوي..

اراده: د هوډ، عزم او قصد په معنا ده او په دې مبحث کې دا مفهوم افاده کوي چې د دې عالم هر څه د (قضا او قدر) مطابق او د الله تعالی په اراده ترسره کېږي، خبره یوازې دا نه ده چې د کائنات له پیدا ښته وروسته او په هغه کې د سننو او مقدراتو له وضع کولو وروسته، د دې عالم هر کار په خپله او له دغو سننو سره سم، د الله له تصرف او پرېکړې پرته سر ته رسي، داسې نه ده چې دا عالم خپلې مخې ته پرېښودل شوی وي او پېښې په خپل سر او د دغو ضوابطو او فورمولونو مطابق او د طبیعي بهیر په څېر رامنځ ته کېږي، برعکس خبره داسې ده چې که څه هم هر کار، هر خوځښت او هر بدلون او تحول د خاصو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي خو پیل او پای ئې د الله په اراده او إذن وي، دا الله دی چې لحظه په لحظه او هره شېبه ئې اداره کوي، جهت او مسیر ورته ټاکي او خاص نتایج پرې مرتب کوي. خو بایددې پوښتنې ته ځواب پیدا کړو چې په داسې حالت کې د انسان د نسبي استقلال او آزادۍ او له دوو لارو او دوو بدیلونو څخه د یوه په انتخاب کې د ده د اختیار معنا څه کېدی شي چې دلته د هر څه او هر کار لپاره له مخکې مقادیر او مقدرات ټاکل شوي، ثابت او تغییر نه منونکې سنن او ضوابط په ټول عالم حکومت کوي او هر کار د الله په اراده ترسره کېږي، دا باور خو د هر ډول خپلواکۍ

او استقلال مجال ختموي او له انسان او د عالم له هر څه نه مجبور او مقهور مخلوق جوړوي!!

تر ټولو د مخه په کار ده چې د قرآن ځینې هغه آیتونه له نظره تېر کړو چې وايي: انسان ته په يوې معینې دائرې کې دا اختیار ورکړی شوی چې یوه له دوو لارو او له ښه او بد څخه یو ئې انتخاب کړي، د ده دغه اختیار او استقلال ته په پام سره هغه د خپلو عملونو مسئولیت په غاړه لري او سزا به ئې ګوري: دا مطلب په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلی چې مونږ دلته په دوو بېلګو اکتفا کوو. د کهف په مبارکې سورې کې راغلي:

وَقُلِ الْحَقُّ من رَّبِّكُمْ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا للظَّالمينَ نَاراً أَحَاطَ بهِمْ سُرَادقُهَا وَإِن يَسْتَغيثُوا يُغَاثُوا بمَآءِ كَالْمُهْلِ يَشْوي الْوجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ وَسَآءَتْ مُرْتَفَقاً إِنَّ الَّذينَ آمَنُوا وَعَملُوا الصَّالحَات إِنَّا لاَ نُضيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلاً * الکهف: ۲۹ ـ ۳۰

او ووایه: دا ستاسو د رب له لوري يو حقیقت دی، نو څوك چې غواړي ایمان دې راوړي او د چا چې خوښه وي کافر دې شي، بې شکه چې مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تیار کړی چې دیوالونه به ئې پرې راتاو وي او چې کله د مرستې لپاره غږ کړي نو په داسې اوبو به ئې غږ ته ځواب ویلی شي چې خوټېدونکې، تورې او بویناکې دي او مخونه وریتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبی او بې شکه هغو چې ایمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضایع کوو چې د عمل له مخې ښه وي.

له دې مبارکو آیتونو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چې انسان ته دا اختیار او واك ورکړ شوی چې په خپله خوښه یا د ایمان او صالح عمل لار غوره کړي او یا د کفر او ظلم لار، د همدغه واك او اختیار په وجه او د خپل انتخاب د څرنګوالي له مخې به سزا ګوري، همداراز د النبأ په سوره کې لولو.

ذَلكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَن شَآءَ اتَّخَذَ إِلَى رَبِّه مَآبا النباء : ۳۹

دا ربښتوني ورځ ده، نو څوك چې غواړي، د خپل رب په لوري دې د ورتګ لار

غوره کړي.

یعني دا هم د انسان په انتخاب پورې اړه لري چې د خپل رب لورې ته د ورتلو لار اختیار کړي او د صالح عمل په نتیجه کې د الله خوا ته غوره مقام ترلاسه کړي.

خو دا چې د دې آیتونو تر څنګ قرآن دا هم ویلي چې: و ماتشاءون الا ان یشاء الله: تاسو غوښتی نشئ تر څو د عالمونو رب الله نه وي غوښتي. دا مطلب به څنګه د انسان له نسبي آزادۍ او اختیار سره متصادم نه ګڼو او څنګه به دا آیتونه سره همغږي ثابتوو، ځواب ئې دا دی:

که دا آیت او دې ته ورته، مستقل او له نورو بېل نه بلکې د ټولو هغو آیتونو ترڅنګ وڅېړو او ټول هغه آیتونه په پام کې ولرو چې د قضا، قدر، اراده، مشیت او اختیار مفاهیم په کې راغلي، نو په مطلب ئې پوهېدل آسانه او له خبط او خطا نه خوندي پاتې کېدی شو، متأسفانه بادي الرأی کسان او د لنډ نظر خاوندان دا آیت یوازې او نورو ته له پامه پرته څېړي، په همدې وجه په مطلب پوهېدل ورته ګران شي او ګمان کوي چې دا آیت د انسان په بې وسۍ، مجبوریت او عدم اختیار دلالت کوي، دوی دې ته نه دي متوجه چې په دې آیتونو کې د دې موضوع یوه څنډه څېړل شوې او نورې برخې ئې په نورو آیتونو کې، په کار ده په موضوع د ښه پوهېدو لپاره ټول اړوند آیتونه په پام کې ونیسو، د دغې غلطۍ په وجه ځینو کسانو د قضا او قدر په اړه داسې څه ویلي چې په موضوع د پوهېدو په ځای ئې هغه مزید ګرانه کړې، خلکو ته ئې شکوك او شبهات راپیدا کړي او دښمنانو ته ئې د دې خبرې کولو موقع ورکړې چې ووایي: قرآن هم انسان بې اختیاره او مجبور مخلوق ګڼي او هم ئې کړه وړه د محاسبې وړ، په داسې حال کې چې مجبور مخلوق د خپلو کړو وړو په اړه هیڅ مسئولیت نه لري، د مجبور مخلوق د ټولو کړنو مسئولیت د هغه چا په غاړه وي چې دی ئې ورته مجبور کړی!! ځینې نور بیا په دې هکله له څه ویلو ممانعت کوي او په دې ئې ټینګار وي چې د قضا او قدر موضوع باید مجمل ومنو او تفصیل ته ئې له ننوتو ډډه وکړو!! په داسې حال کې چې دا یوه مهمه اعتقادي موضوع ده او ایمان پرې ضروري، ایمان له علم او پوهې پرته نشي کېدی، ایمان په

حقیقت کې د پوهې انتهاء او پایله ده، قرآن د ګڼ شمېر آیتونو په ترڅ کې او په ډېر تفصیل سره دا موضوع څېړلې. که په قضا او قدر پورې مربوط ټول آیتونه د یوه بل څنګ ته کېږدو، د یوه لپاره بل له پامه ونه غورځوو او د ټولو په رڼا کې نتیجه راوباسو، نو نه به په اصل مطلب پوهېدل راته ګران وي او نه به له کوم مشکل سره مخامخ کېږو.

د دغې موضوع په ارتباط مو هم باید دې ته پام وي چې قرآن که له یوې خوا دا ویلي چې دلته تغییر نه منونکې قضاء او قدر شته، هر کار د قضا او قدر مطابق او د هغو سننو او ضوابطو په مراعات سره چې الله تعالی د دې عالم لپاره وضع کړي، د الهي مقدراتو په محدوده کې او د الله تعالی په اراده او إذن ترسره کېږي، له بلې خوا ئې دا هم ویلي چې انسان ته نسبي واك او اختیار ورکړی شوی، هغه کولی شي له دوو لارو یوه غوره کړي، کولی شي له دوو کارونو نه د یوه د کولو اراده وکړي، پر قرآن د ایمان غوښتنه دا ده چې مونږ به په دواړو خبرو ایمان لرو، نه دا چې یوه ئې ومنو او پر هغې ټینګار وکړو او له بلې سترګې پټې کړو او له پامه ئې وغورځوو. هغه چا ته چې په قرآن کې لږ غور وکړي، د دې دواړو خبرو تلفیق ګران کار نه دی او په ډېره آسانۍ سره دې نتیجې ته رسېږي چې انسان ته د نسبي اختیار او واك ورکول او له دوو بدیلونو څخه د یوه د انتخاب قدرت او صلاحیت ورکول، د همدې الهي (قضا) او (قدر) یوه برخه ده، الله تعالی دا سنت وضع کړی چې انسان کولی شي په ځینو مواردو کې او د یوې خاصې محدودې په انګړ کې د خپل مشیت او غوښتنې مطابق اقدام وکړي، که دا الهي سنت نه وی او د ده دا اختیار د قضا او قدر جزء نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر په کامله توګه محکوم او بې اختیاره وو، هیڅ څه به ئې په خپله خوښه نشو ترسره کولی!! خو د الله تعالی مشیت داسې تللی، الله تعالی داسې اراده کړې، الله تعالی داسې غوښتې چې انسان دې نسبي واك او اختیار ولري، د همدې لپاره وایو چې انسان هر څه کوي د الله په اراده، إذن او اجازه ئې کوي، الله تعالی ورته د یوې پرېکړې عزم او د یوه کار د کولو توفیق ورکوي. د (قضاء) او (قدر) معنا دا نده چې انسان بې اختیاره

او بې ارادې مخلوق دی، چې نه د انتخاب اختیار لري او نه په خپل تقدیر او برخلیك کې د ده اراده او عزم څه اغېز لري. دا د قضاء او قدر ډېر غلط او ناسم تعبیر دی، (قدر) یعني دا چې دلته د هر څه لپاره خاصه او تغییر نه منونکې اندازه ټاکل شوې او (قضاء) یعني دا چې دلته هرڅه د ثابتو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، انسان ته د همدغو سننو او مقدراتو په محدودې کې د انتخاب واك او اختیار ورکړی شوی، په سم انتخاب ئې سم نتائج مرتب کېږي او خراب انتخاب ئې خراب نتائج ورکوي.

د قضاء او قدر په اړه چې کوم آیتونه او روایات راغلي، په تعبیر کې ئې مسلمانان په درېو ډلو وېشل شوي:

١. هغه چې انسان د مقدراتو په وړاندې داسې بې واکه، مجبور او محکوم مخلوق ګڼي چې برخلیك ئې له مخکې ټاکل شوی، دی ئې د بدلولو توان نه لري، د ده افعال او کړه وړه نه د ده د خپلې ارادې زېږنده دي او نه ئې د خپل ذاتي توان او ځواك محصول، اراده ئې د الله تعالی د ارادې تابع او ځواك ئې الهي توفیق دی، دا ډله د جبریه په نامه نومول شوې. د دوی د عقیدې او باور خلاصه دا ده:

- انسان په خپلو افعالو کې خپلواك نه دی.
- ځینې انسانان سعید او بختور او ځینې شقي او بد بخت پیدا شوي.
- ځینې انسانان د جنت لپاره پیدا شوي او ځینې د دوزخ لپاره،
- جنتي به خامخا د جنت کارونه کوي او دوزخي د دوزخ، نه دا خپل برخلیك بدلوی شي او نه هغه!
- که الله تعالی څوك جنت یا دوزخ ته لېږي دا پوښتنه نشي ترې کېدی چې ولې؟

که ټول انسانان دوزخ ته ولېږي، ظلم ئې نه دی کړی او که ټول جنت ته ولېږي بې عدالتي ئې نه ده کړې. دا ځکه چې ظلم هغه څه ته وایي چې څوك د بل په مال او حق تېری وکړي، انسانان ټول د ده مخلوق او دی ئې ټولواك دی، د دوی په اړه هره پرېکړه د ده حق دی.

٢- هغه چې د پورتنۍ ډلې په مقابل کې ده، انسان په خپلو افعالو کې مستقل

او خپلواك ګڼي، د ده ټول افعال د ده د خپلې ارادې زېږنده بولي، د دوی له نظره جنت د مؤمن حق دی چې خامخا ئې باید ترلاسه کړي، او دوزخ د کافر د بدو عملونو سزا ده چې باید ورسره مخامخ شي، دوی د مخکنۍ ډلې عقیده او مجبورونکی تقدیر او برخلیك د الهي عدل خلاف ګڼي، دوی د قدریه په نامه یاد شوي، چې د باور خلاصه ئې دا ده:

- د انسان هر عمل په خپله د ده له لوري دی، هم بد عمل په خپله خوښه کوي او هم نېك عمل، مخکنۍ ډله د انسان ټول افعال الله تعالی ته منسوبوي او دوی ټول انسان ته منسوبوي.
- جنت ته به هغه څوك درومي چې د جنتیانو عمل ئې کړی وي، او دوزخ به د هغه ځا ځای وي چې د دوزخیانو عملونه ئې کړي.

دا دواړه ډلې د خپلې عقیدې په ملاتړ کې په خاصو او ځانګړو نصوصو استناد کوي او د مقابل طرف د استناد وړ آیات تأویلوي او روایات ئې یا نه مني او یا ئې د آیتونو په څېر تأویلوي.

۳- د دغو دواړو ډلو په مقابل کې درېیمې ډلې منځنۍ لار غوره کړې، د انسان په نسبي اختیار او نسبي محکومیت باور لري. دوی د اهل سنت و جماعت په نامه یادېږي او د امت اکثریت جوړوي.

اهل سنت و جماعت په دې عقیده دي چې انسان نه مجبور مطلق دی او نه مختار مطلق، بلکې په یوې محدودې کې د اختیار خاوند دی، د دوی له نظره د انسان په اړه دا عقیده درلودل چې هغه په مطلقه توګه محکوم او مجبور دی هم د واقع خلاف خبره ده، هم له ځرګندو نصوصو سره متصادم، او هم د الهي عدالت خلاف، عملاً ګورو چې انسان نه د جماداتو په څېر بې واکه او محکوم دی، او نه داسې فعال مایشاء چې هر څه ئې زړه وغواړي وئې کړی شي، خبره داسې نه ده بلکې د ځینو کارونو د کولو واك او اختیار لري، او د ځینو له کولو عاجز او ناتوانه، د همدغه واك او اختیار په وجه له هغه سره محاسبه کېږي، ده ته چې د کومو کارونو کول ممکن دي د هغوی له منځه د یوه انتخاب کولی شي، خو د ده په

دې انتخاب چې کوم نتایج مرتب کېږي، دی ئې په خپله نه بلکې الله تعالی ئې پرې مرتب کوي، په دې لار کې چې دی له کومو لوړو ژورو سره مخامخ کېږي دا ټول د ده له واکه بهر شیان دي، که هغه مجبور او بې اختیاره وی نو نه محاسبه ورسره صحیح وه او نه ئې مجازات، دا ځکه چې د هغه چا مجازات او تعذیبول د عدالت خلاف کار دی چې د اختیار او واك خاوند نه وي او د هر کار په کولو اړ شوی وي، الله تعالی په خپلو بندګانو ظلم نه کوي، څنګه به هغه څوك تعذیبوي چې بل ګناه ته اړ کړی وي، الله تعالی خو د مجبوریت او اضطرار په وخت کې حرام کار هم انسان ته روا کړي.

جبریه د خپلې عقیدې د اثبات لپاره په دې آیت تر هر څه زیات استناد کوي:

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ * الصافات:۹۶

چې ترجمه ئې داسې کوي:

او الله هم تاسو پیدا کړي یئ او هم ستاسو عملونه!

یعني دا تاسو نه یئ چې خپل عملونه ترسره کوئ بلکې ستاسو عملونه هم د الله تعالی له لوري پیدا کېږي!! د خپلو عملونو پرېکړه تاسو نه کوئ الله تعالی ئې کوي!!

د دغې ژباړې او استدلال په هکله باید ووایو:

- دا ژباړه ناسمه او د آیت د مراد او مقصد خلاف ده. راشئ د دې آیت الفاظو ته لږ ځیر شو او وګورو چې د آیت دقیقه او سمه ترجمه کومه ده؟ دا په اصل کې د ابراهیم علیه السلام د هغې جامع وینا یوه برخه ده چې خپل مشرك قوم ته ئې کړې، په صحیح ترجمې او معنا ئې په هغه صورت کې سم پوهېدی شو چې دا آیت او ترې مخکنی یو ځای په پام کې ونیسو، د دواړو آیتونو ترتیب داسې دی:

قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ * وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ * الصافات: ۹۵-۹۶

وئې ویل: آیا د هغه څه عبادت کوئ چې تاسو ئې (په خپله) تراشئ؟ حال دا چې الله تعالی هم تاسو پیدا کړي یئ او هم هغه څه چې تاسو ئې جوړوي.

په مخکني آیت کې د دوی بتان د ماتنحتون په نامه یاد شوي، او په وروستني

آيت کې همدا (ماتنحتون) د (ماتعملون) په صيغه راغلي، يعني الله تعالی هم تاسو پيدا کړي يئ او هم هغه بتان چې تاسو په خپل لاس جوړ کړي.
دلته (ما تعملون) داسې دی لکه په لاندې آيتونو کې چې راغلي:
أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ * يس: ٧١
آيا دې ته ئې پام نه دی کړی چې مونږ هغه څاروي ورته پيدا کړل چې زمونږ لاسونو جوړ کړي، او اوس ئې دوی خاوندان دي.
او يا دا آيت
لِيَأْكُلُوا مِن ثَمَرِهِ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ أَفَلاَ يَشْكُرُونَ يس: **٣٥**
ترڅو ئې مېوه او هغه څه وخوري چې دوی په خپلو لاسونو جوړ کړي، نو آيا شکر نه کوي؟!
د دې آيت (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ) دا الفاظ (وَمَا تَعْمَلُونَ) داسې تعبيرول چې الله تعالی د انسان عملونه پيدا کوي، غلط تعبير دی، صحيح تعبير ئې هماغه مخکنی تعبير دی چې په يوه حديث کې هم داسې اشاره ورته شوې: الله تعالی صانع او مصنوع دواړه پيدا کړي، يعني هم ئې انسان پيدا کړی او هم هغه څه چې انسان ئې جوړوي، له دې آيت نه دا انتباه اخيستل چې انسان په خپل عمل کې هيڅ راز استقلال نه لري ډېره بې بنسټه انتباه ده.
همدا راز دا ډله په دې روايت ډېر استناد کوي:
عن عبد اللّه قال: «حدثنا رسولُ اللّه صلى الله عليه وسلم قال: إن أحدكم يُجمَعُ في بطنِ أمِّهِ أربعينَ يوماً، ثم عَلَقةً مثلَ ذلك، ثم يكون مُضغةً مثلَ ذلك، ثمّ يَبعثُ اللّهُ مَلَكاً فيُؤْمرُ بأربع: برزقه وأَجَله، وشقيٌّ أو سعيد. ثم ينفخ فيه الرُّوح. فوَاللّه إنّ أحدكم ليَعملُ بعملِ أهلِ النار، حتى ما يكونُ بينه وبينَها غيرُ باعٍ أو ذراع، فيَسبقُ عليه الكتابُ، فيعمَلُ بعمل أهل الجنّة فيدخُلها. وإن الرجل لَيعملُ بعملِ أهلِ الجنّةِ حتى ما يكونُ بينَه وبينها غيرُ ذراعٍ أو ذراعين، فيَسبِق عليه الكتاب، فيَعمل بعملِ أهلِ النار فيدخلها». رواه البخاري
له عبد الله رضي الله عنه روايت دی چې رسولُ اللّه صلى الله عليه وسلم مونږ

ته دا خبره وکړه: یقیناً چې ستاسو هر یو د مور په رحم کې څلوېښت ورځې رایوځای کېږي، بیا همدومره موده ځوړند توکی وي، بیا همدومره موده ژوول شوې غوښې ته ورته وي، بیا الله تعالی یوه فرشته راولېږي او د څلورو شیانو (د لیکلو) امر ورته وشي: د ده رزق، اجل، او دا چې شقي (بد بخت) به وي که سعید (بختور)، بیا روح په کې پو شي، نو په الله قسم چې ستاسو یو کس به د دوزخیانو عملونه کوي، تر هغه چې د ده او دوزخ تر منځ به یوازې یو لاس (نیم ګز) واټن پاتې وي، خو (د مقدراتو) لیك پاڼه به ئې پرې وړاندې شي، نو د جنتیانو عمل به وکړي نو ورداخل به شي، او یقیناً چې یو کس به د جنتیانو عمل کوي، تر هغه چې د ده او جنت تر منځ به یوازې یو لاس (نیم ګز) واټن پاتې وي، خو (د مقدراتو) لیك پاڼه به ئې پرې وړاندې شي، نو د دوزخیانو عمل به وکړي نو ورداخل به شي.

د دې روایت په اړه لاندې ټکي د پام وړ دي:

- قدریه دا او دې ته ورته روایات د حدیث په توګه نه مني، نه ئې متن مني او نه ئې اسناد.
- دا د جبریه وو لپاره نه یوازې مستمسك نشي کېدی بلکې د دوی د عقیدې په بطلان دلالت کوي، دا ځکه چې دلته جنت او دوزخ ته تګ د انسان په عمل پورې تړل شوي، او په کې ویل شوي: **فیعمَلُ بعمل أهل الجنّة فیدخُلها**: نو د جنتیانو عمل به وکړي او د همدې عمل په وجه به جنت ته داخل شي، **فیعمل بعملِ أهلِ النار فیدخلها**: نو د دوزخیانو عمل به وکړي او د همدې په سبب به دوزخ ته داخل شي.
- د فرشتو دا کتابت، کتابت بالحکم نه ده کتابت بالوصف دی، لیکنه ئې داسې نه ده چې دا دې سعید یا شقي وي، بلکې داسې ده چې دا به سعید یا شقي وي، دا ځکه چې کتابت ئې له خلقته مخکې نه بلکې له خلقت او په ده کې د روح له پو کېدو وروسته شوی او دا داسې ده لکه په یوې فابرېکې کې چې کومه دوا یا خوراکي توکی تولید شي او د فابرېکې مربوط هیئت د هغه له پاسه د دې خبرو د لیکلو هدایت ورکړي چې: د دې خصوصیات، ګټه او تاوان به څه وي، عمر ئې

څومره او ترکومې نېتې وروسته خپل اصالت او خصوصيات له لاسه ورکوي او د استفادې وړ نه پاتې کېږي.

• له دې روایته یوازې دا خبره ثابتېږي چې د هر انسان په هکله به د فرشتو لیکنه رښتیا وخېژي او لکه چې دوی لیکلي همداسې به یا د خپل عمل په وجه دوزخ ته ځي یا جنت ته. د دې روایت له هیڅ لفظ نه دا نه معلومېږي چې انسان بې اختیاره او مجبور پیدا شوی.

جبریه په دې روایت هم ډېر استناد کوي:

عن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه وسلم قال احتج آدم وموسى فقال موسى أنت آدم الذي أخرجت ذريتك من الجنة قال آدم أنت موسى الذي اصطفاك الله برسالاته وكلامه ثم تلومني على أمر قد قدر علي قبل أن أخلق فحج آدم موسى. رواه البخاري

له ابوهريره رضي الله عنه روايت شوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آدم او موسی علیهما السلام په خپلو کې مناظره وکړه، نو موسی علیه السلام وویل: ته خو هغه آدم یې چې خپل اولاد دې له جنته وایستل، او آدم علیه السلام ورته وویل: ته هغه موسی یې چې الله تعالی په خپل رسالت او کلام سره تا ته غوره والی درکړ، خو بیا ما په هغه کار ملامتوې چې زما له پیدا ښېنته مخکې زما لپاره مقدر شوی وو! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې آدم علیه السلام؛ موسی علیه السلام پړ کړ.

د دې روایت په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

• دا روایت له بخاري نه علاوه د حدیث په نورو کتابونو کې هم راغلی، خو په الفاظو او راویانو کې له څه توپیر سره.

• جبریه وایي چې آدم علیه السلام د هغې مېوې په خوړلو اړ شوی، له مخکې د ده په تقدیر او برخلیك کې لیکل شوي وو چې دی دې حتماً دا مېوه وخوري، نو ځکه دی ملامت نه وو او موسی علیه السلام د اعتراض حق نه درلود.

• قدریه نه دا روایت مني او نه ئې اسناد صحیح ګڼي. وایي: آدم او موسی

علیهما السلام چېرې له یوه بل سره لیدلي او دا مناظره کله او چېرته واقع شوې؟ د دې ذکر نه په قرآن کې راغلی او نه په تورات کې.

- اهل سنت و جماعت د دې روایت په اړه د جبریه له تعبیر سره موافق نه دي او په دې تعبیر دا اعتراضات لري:

۱- په قرآن کې په ډېرو صریح الفاظو او په مکرره توګه آدم علیه السلام په دې کار ملامت کړی شوی، په خپله آدم علیه السلام او بي بي ئې هم دا کار ګناه ګڼي او له الله تعالی نه د معافي او مغفرت غوښتنه کوي.

۲- څنګه به الله تعالی له یوې خوا آدم علیه السلام ته د هغې مېوې د نه خوړلو امر کوي او له بلې خوا به ئې د همدې مېوې خوړلو ته اړ کوي؟ له داسې کاره خو یو شریف انسان هم ډډه کوي، څنګه الله تعالی ته د دې نسبت کوئ؟!!

۳- د آدم علیه السلام له ځوابه دا معنا نشو اخیستی چې هغه خپل ځان له ملامتیا بریٔ ګڼلی، دا ځکه چې په قرآن کې د ده اعتراف زمونږ مخې ته پروت دی، معنا ئې له دې پرته بل څه نشي کېدی چې له جنته ستاسو ایستل خو زما کار نه وو، دا پرېکړه خو الله تعالی کړې، الله تعالی به ولې زما د غلطۍ سزا تاسو ته درکوي؟.! او د هغه چا له شأنه خو داسې اعتراض کول ډېر لرې دی چې الله تعالی ورته د رسالت مقام او د کلام افتخار ورکړی وي!!

ښایي لاندې مثال له هغه چا سره مرسته وکړی شي چې د انسان نسبي اختیار، او له مخکې ټاکل شوي مقدرات؛ یو د بل منافي ګڼي او دا ورته ګرانه برېښي چې څنګه په لوح محفوظ کې لیکل شوي، تغییر نه منونکي مقدرات له انسانه اختیار او واك نه سلبوي؟:

تاسو د یوه داسې باغ خاوند یئ چې جګ جګ دیوالونه او دنګه مضبوطه دروازه لري، ښه ساتنه او حفاظت ئې کېږي، هیڅوك نشي کولی ستاسو له اجازې پرته دې باغ ته ننوځي، خپل یوه دوست ته اجازه ورکوئ چې باغ ته ننوځي او مېوه ئې وخوري، د دروازې کلي ورکوئ او ورته وایئ: دې باغ ته له دې کلي نه په استفادې سره ننوتی او هره مېوه ئې خوړلی شې، له دې وروسته د دې باغ اختیار

ستا په لاس کې دی، خو دې ته دې پام وي چې د باغ کيڼ لوري ته داسې ونې ولاړې دي چې د مېوو رنګ ئې ښاېسته او جالب، خوند ئې ښه، خو خوړل ئې د ګټې په ځای تاوان درته لري، ستا صحت او سلامتيا ته تاوان رسوي، که دغو ونو ته ورنږدې نشې او مېوه ئې ونه خورې نو دا به ستا په ګټه او زما د رضايت باعث شي، زما خوښه دا ده او دا مې پرتا پېرزو کېږي چې دا نورې هغه مېوې وخورې چې هم تا ته ګټورې دي او هم ئې زه درته خوشوم او پرې راضي کېږم او پدې سره به روغ رمټ له باغه ووځې. ستا دا دوست ستا په اجازه باغ ته ننوځي، هر څه چې په دې باغ کې کوي او هره مېوه چې خوري نو ستا په اجازه او له هغه اختياره په استفادې سره ئې خوري، چې تا ورکړی، په حقيقت کې هغه ستا په اراده، إذن او اجازه او له هغه اختيار او صلاحيت نه په استفادې سره عمل کوي چې تا ورکړی، که مضر او د ده روغتيا او سلامتيا ته تاواني او ستا د خوښې خلاف مېوه خوري او ستا د رضايت خلاف کار کوي او يا ګټوره مېوه خوري او هغه څه کوي چې ستا د رضايت باعث کېږي، دواړه کاره ئې ستا په إذن، اجازه، اراده او توفيق کړي، تا دا موقع، توان، توفيق او اجازه ورکړه چې باغ ته ننوځي او د خپلې خوښې مېوه وخوري، که تا دا اجازه نه وی ورکړې نه باغ ته ننوتی شو، نه ئې سم او بد کار کولی شو او نه ئې تاواني او ګټوره مېوه خوړلی شوه، غلطي ئې ستا په اجازه کړې خو مسئوليت ئې پر خپله غاړه دی، د دې لپاره چې په خپل انتخاب کې ئې اشتباه کړې، له اختيار او صلاحيته ئې غلطه استفاده کړې، هغو ونو ته نږدې شوی او مېوه ئې خوړلې چې د ده لپاره تاواني او د باغ د خاوند د خفګان باعث. باغ ته له ننوتو وروسته چې نوموړی کس هرڅه کوي مسئوليت ئې د ده په خپله غاړه دی، هم مفيده مېوه خوړی شي او هم مضره، دا ځکه چې د انتخاب واك ورکړی شوی، د خپل انتخاب نتائج به ګالي، ښه انتخاب ئې ښه نتائج لری او بد انتخاب ئې بد. د ځمکې په سر د انسان خلافت او د قضاء او قدر په وړاندې د هغه محکوميت او ده ته د (اختيار) او (انتخاب) صلاحيت او واك ورکولو معنا همداسې ده.

په دې مثال کې د باغ دېوالونه، دروازه او کلي ئې، د خاوند اجازه، خپل

دوست ته د انتخاب اختیار ورکول، د ممنوعه ونې د مېوې تاوان، د باغ د خاوند خوښي او ناخوښي له مفید او مضر مېوو نه د استفادې په صورت کې، هم (قضا)، (قدر)، ( د الله اراده)، له خپل بنده نه د الله تعالی رضایت او عدم رضایت، ښه توضیح کوي او هم (د قضا او قدر په محدوده کې د انسان اختیار او واك) ښه انځوروي، خو د دې قضیې د یوې خاصې څنډې له بیانولو عاجز دی او هغه دا چې: کله ستا دوست د باغ د دروازې کلي ترلاسه کړي او باغ ته ننوځي، نو ستا له واك او ادارې ووځي، له دې وروسته ته ورباندې هیڅ ډول سلطه او واك نه لرې، په داسې حال کې چې له بنده سره د الله تعالی معامله داسې نه ده، هیڅ شېبه د هغه له ساتنې، څارنې او ادارې نشي وتی، هر ګام چې مخکې ږدي د الله په توفیق او مرسته ئې ږدي، د ښه او بد کار توان هم هغه ورکوي.

دې ته مو هم باید پام وي چې که انسان له داسې څه سره مخامخ کېږي چې د ده له اختیار او واکه بهر دي، د ده عمر، د پیدا ښت او مرګ نېټه ئې، پېښې او حوادث او که داسې څه چې په خپل انتخاب او اراده ئې کوي، دا ټول له مخکې په لوح محفوظ کې لیکل شوي، ځینې کسان په لوح محفوظ کې دا لیکنه د انسان د نسبي واك او اختیار منافي ګڼي، چې دا یوه مغالطه ده، وجه ئې یا ناپوهي ده او یا له اسلام سره دښمني!! دوی دې ته نه ګوري چې په لوح محفوظ کې دا هم لیکل شوي چې انسان نسبي واك او اختیار لري، کولی شي له دوو لارو یوه د تلو لپاره غوره کړي او دا داسې ده لکه په پورتنې مثال کې چې ته د هغه دوست وضعیت ته په پام سره ده ته د کیلي ورکولو په وخت کې له ځان سره ولیکې: دی به په دې باغ کې څه څه وکړي او کومې کومې مېوې به وخوري، ستا دا لیکنه ستا د پوهې او علم څرګندونه کوي، هر څومره چې ستا علم او پوهه دقیق وي همدومره به د ده کړه وړه ستا د لیکنې موافق خېژي، ستا لیکنه نه د ده خپلواکي سلبوي او نه ئې په کوم کار اړ کوي، دا ځکه چې تا په خپله د باغ کیلي ورکړې او د هرې مېوې خو ړلو اختیار دې ورکړی، په لوح محفوظ کې لیکنه دې ته ورته ده، دا لیکنه د انسان د هغو عملونو په اړه چې په خپل اختیار او خپلې خوښې ئې ترسره کوي، تقدیر

بالوصف دی، نه تقدیر بالحکم، دی پرې اړ شوی نه دی بلکې د ده حالت په کې بیان شوی، دا د الله تعالی د بشپړ علم غیب ښودنه کوي، نه د هغه څه چې د انسان اختیار ترې سلب کړي او یو محکوم او مجبور مخلوق ترې جوړ کړي.

# الانفطار

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الانفطار: چاودېدل دی، چې د سورې له لومړي آیته اخیستل شوی، ۱۹ آیتونه لري، په مکي دور کې نازله شوې، د تکویر د سورې په څېر ئې آیتونه لنډ لنډ، وزن ئې ډېر ښاپسته او خوندور، شعارونو ته ورته، له آخري آیته پرته د ټولو طول او اوږدوالی یو شان دی، د درېو کلمو په اندازه، آخري آیت له دوو فقرو جوړ شوی چې د نورو آیتونو نږدې دوه برابره کېږي، خطاب ئې پرېکنده او قاطع او د سورې له مضامینو سره ډېر متناسب، له لومړي آیت نه تر پنځم پورې فواصل د انفطرت ته ورته وزن لري، خو په دې پنځو آیتونو کې د دې وزن الفاظ اوه ځله راغلي: انفطرت، انتثرت، فجرت، بعثرت، علمت، قدمت او اخرت دي، په شپږم، اوم او اتم آیت کې د غرّك، خلقك، عدلك او رکبك، وزن غالب دی او په ټولو الفاظو ئې سیوری غوړولی، له دولسم او نولسم آیته پرته د نورو آیتونو د پای صیغې دین او نعیم ته ورته وزن لري، دولسم آیت په تفعلون پای ته رسېدلی او د آخري آیت دواړه فقرې د شیئا او لله په هموزنو الفاظو ختمې شوې.

په لومړیو درېو آیتونو کې د قیامت د لومړۍ مرحلې درېو سترو سترو پېښو، د آسمان چاودېدو، د ستورو تیت پرك کېدو او د بحرونو روانېدو ته اشاره شوې،

په څلورم او پنځم آیت کې د قیامت د دوهمې مرحلې، دوه برخې د مړو په راژوندي کېدو سره د قبرونو سپړېدل او د هر چا سترګو ته د ده عملونه ودرېدل انځور شوي، وروسته هغه غولېدلی انسان مخاطب شوی چې خپل پالونکی رب ئې هېر کړی او له الله سره د مخامخېدو له حقیقته انکار کوي، له حیرانتیا نه په ډکې لهجې ترې پوښتنه کېږي چې: کوم څه د خپل هغه مهربان رب په اړه غولولی یې چې ته ئې پیدا کړې، متعادل او متوازن او په ښایسته صورت او غوره جوړښت کې، ولې د حساب و کتاب له ورځې انکار کوې؟! دا ورځ به خامخا راځي، ستاسو هر یو به خپله سزا ګوري، ځینې به جنت ته درومي او ځینې دوزخ ته.

بسم الله الرحمن الرحیم

---

ŏl•Ë èâ$sÎ%$#Œ)r ÇÊÈ ŏlŽYGR$Ü Ï#q3%$#Œ)r ÇËÈ ŏl•ÜÿR$ã$J¡ 9$#Œ)

ÇÎÈ ŏl•¨z&r ÏMB£‰%$B ÓG ÿR ÏMJîã ÇÍÈ ŏlŽÏèç/â q7)ø9$#Œ)r ÇÌÈ

---

۱- هغه وخت، چې دا آسمان چاود چاود شي. ۲- او کله چې، دا ستوري تېول تیت تیت شي. ۳- او کله چې سیندونه روان کړی شي. ۴- او کله چې قبرونه وسپړی شي. ۵- هر څوك به په کوم څه چې مخکې کړي، وروسته کړي ئې وو پوه شي.

---

۱-۲: قرآن د دې مطلب په بیانولو سره چې یو وخت به په آسمان کې چاودونه راپیدا شي او وروسته به ستوري خواره واره شي، یوه داسې ژور علمي حقیقت ته اشاره کړې چې تر دې پېړۍ د مخه انسان ته نه وو معلوم او ډېره لنډه موده کېږي چې کائنات څېړونکي پرې پوه شوي. لکه څنګه چې قرآن د عالم د پرله پسې او مسلسل پراخېدو خبره کوي، کائنات څېړونکي هم دې نتیجې ته رسېدلي چې دا کائنات ورځ په ورځ د پراخېدو په حالت کې دی، په هر ستور لیکي (کهکشان) کې

ستوري يو له بله او په خپله ستور ليکي يو له بله لرې کېږي، دا مسلسل پراخېدا به د دې باعث شي چې د ستورو او ستور ليکو ترمنځ دا د جذب او فرار اوسنی تعادل او توازن له منځه ولاړ شي او د دوی تر منځ اړيکې يا په دې دليل سستې شي او وشلېږي، چې د مرکز او لويو ستورو د جاذبې قوه کمزورې شي او يا د دې لپاره چې د دوی تر منځ واټن زيات شي او مرکز ئې نشي کولی په خپل ماحول کې ستوري په خپل خپل مدار کې ټينګ وساتي او همدا به د ټولو ستورو د خورېدو باعث شي.

نو ګمان مه کوئ چې د عالم دا موجود نظم تلپاتې او دائمي دی او هيڅ بدلون به په کې نه راځي، مګر نه ګورئ چې کله دلته يو ستوری راپرېوځي او کله هلته بل له خپله مداره ووځي او د پراخې فضا په غېږ کې د نامعلوم مسير په لوري وخوځېږي، د سماوي اجرامو دا هبوط او سقوط په ډاګه د داسې ورځې د راتلو خبر راکوي چې د ټولو ستورو ترمنځ به پيوندونه وشلېږي او په فضا کې به خواره واره شي. د قرآن د دې وړاندوينې په اهميت هغه څوك پوهېدی شي چې کلونه کلونه ئې په هغو رصدتونونو کې تېر کړي وي چې ستر ستر او په لويو لويو عدسيو مجهز تلسکوپونه لري او د دغو تلسکوپونو په مرسته توانيدلي چې د دې پراخ عالم په ځينو اسرارو پوه شي، هغه چې د نوميالیو کائنات څېړونکو نظريات ئې لوستي او له کلونو کلونو تحقيق نه وروسته دې نتيجې ته رسېدلي چې د عالم مسلسل او سريع پراخېدا به د دې باعث شي چې د ستورو ترمنځ اړيکې کمزورې شي، له خپل خپل مداره ووځي، يو له بل سره تصادم وکړي او همغه حالت راشي چې قرآن ئې وړاندوينه کړې.

۳ - کله چې د دې عالم په فضا کې موجود نظم مختل شي، د ځمکې په نظم کې به هم اختلال راپيدا شي، د دې اختلال يوه نښه به دا وي چې د اوبو رسولو دا اوسنی نظم چې د انسانانو او ټولو نورو ژوو ژوند ورپورې تړلی دی، دا به مختل شي اوسنی نظام د دې باعث ده چې د ځمکې د اوبو يوه برخه په بحرونو کې، بله د واورو په بڼه کې په غرونو او د شمال او جنوب قطبونو کې، يوه لويه برخه ئې د

وربځو په شکل کې د آسمان او ځمکې ترمنځ وي، بله ئې تر ځمکې لاندې او يوه برخه ئې د خلکو د استفادې لپاره په نهرونو، چينو او کارېزونو کې بهېږي، په دې دقيق نظام کې اختلال به د دې سبب شي چې ټولې اوبه بحرونو ته راکوزې شي، د بحرونو کاسې تر ژۍ ډکې او د وچې په لورې ئې د اوبو رابهېدل پيل شي او ټوله ځمکه تر اوبو لاندې شي. دا هم د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دی، د دې په اهميت هم يوازې حساس ساينس پوهان ښه پوهېږي، هغه چې د يوويشتمې پېړۍ تر ټولو لويه مسئله دا ګڼي چې د ځمکې تودوخه په دې خاطر ورځ په ورځ زياتېږي چې د ازون هغه پرده ځای ځای پرې شوې چې د ځمکې د هوا په متوازن ساتلو کې هم لويه ونډه لري او ځمکې ته د خطرناکو او تاواني وړانګو د راتلو په مخنيوي کې هم او دا د هغو ګازونو په وجه ده چې له ځينو فابريکو نه آسمان ته پورته کېږي. دوی وايي چې په تېرو سلو کلونو کې د ځمکې حرارت څو درجې زيات شوی او که عاجل ګامونه وانه خيستلی شي نو څو لسيزې وروسته به د ځمکې پر سر ژوند ممکن نه وي، دوی د وروستيو کلونو شديد بارانونه، سېلابونه، طوفانونه او د بحرونو د اوبو د سطحې لوړېدل هم د دغه اختلال پايلې ګڼي!!

۴ - دلته د قيامت د دوهمې مرحلې هغه صحنه زمونږ مخې ته ايښودل شوې چې ټول قبرونه به وسپړل شي او مړي به له قبرونو رااوچت شي، هر څوک چې چېرې دفن شوی له همغه ځايه به راپورته شي او د محشر په لورې به وخوځېږي، له يوه سايق او بوونکي سره چې دی مخ پروړاندې بيايي او له يوه شاهد سره چې د ده پر ټولو کړو به شهادت ورکوي. او دا به وروسته له هغه وي چې د مخکني متلاشي شوي نظام په ځای به نوی نظام، له نويو سننو او ضوابطو سره او له نوې ځمکې او آسمان سره راپيدا شي، بيا به ټول مړه انسانان بېرته راژوندي کېږي، خپل قبرونه به سپړي او بهر به راوځي، داسې لکه په هر پسرلي کې د بوټو هغه مړه زړي چې ترخاورو لاندې دي، په يوه باران سره وخوځېږي، وده وکړي، د ځمکې زړه وچوي او د ښاپسته بوټي په بڼه کې بهر راووځي.

۵ - په دې ورځ به انسان ته د ده ټول عملونه، له څرنګوالي، ځای او نېټې سره

ئې، له څه کم زیاته پرته، په دقیقه توګه، د ده په وړاندې کېښودی شي او دی به د خپلو عملونو په فهرست کې ټول خپل (ما قدمت و اخرت)وګوري او د دې معنا ده چې:

الف: کوم کوم کار ئې څه وخت ، څه وخت کړی، کوم مخکې او کوم وروسته.

ب: ترسره شوي عملونه ئې کوم دي او هغه ئې کوم چې د کولو اراده ئې درلوده خو د مرګ او نورو عواملو په وجه پرې موفق نه شو، ترې پاتې شول او د کولو فرصت او توان ئې ترلاسه نه کړ.

ج: نه یوازې هغه کارونه به وګوري چې په خپل ژوند کې ئې ترسره کړي بلکې هغه څه به هم وګوري چې د ده له مرګه وروسته د ده په کړو وړو مرتب شوي، کوم مسجد، روغتون، پل او سرك ئې جوړ کړی وو، د خلکو د لارښوونې او هدایت او د ښېګړو لوري ته د دوی د بلنې لپاره ئې کوم کتاب لیکلی وو، داسې څه ئې په میراث پرېښي چې راتلونکي نسلونو ترې ګټه اوچته کړې او دی ئې په ثواب کې ورسره شریك شوی او یا داسې څه ترې پاتې شوي چې نور خلك پرې بې لارې شوي او دی ئې په ګناه کې ورسره شریك شوی، دا ټول به ئې په وړاندې مجسم شي.

(ما قدمت و اخرت) دا ټول مطالب افاده کوي.

---

7 1§¡ù 7 )=z "ï‰$ ÇÏÈ Ý¯ì 6 ‰$ 7ĥÎ 8ŀî $B ß»¡RÏ‰$ $k‰š»ƒ

ÇÑÈ š• 7© ä$© $B 9‘qß ä & þÎ ÇÐÈ 7 9‰èù

---

۶- آی! اې انسانه! د خپل رب په اړه څه ئې غولولی؟ ۷- هغه چې پیدا ئې کړې او ښه ئې برابر کړې. ۸- په هرې بڼې چې غوښتل، ترکیب ئې کړې.

---

۶ - له دې مبارك آیته دوه انتباه او تعبیر درلودی شو:

الف: خدای هېرونه یو فریب او غولونه ده، خاص عوامل د دې باعث شي چې

انسان وغولوي، بې عقله ئې کړي او الله ورباندې هېر کړي. که انسان د دې غولونې او فريب تر اغېز لاندې رانشي، الله به په خپلو ټولو مشاعرو سره درك کړي. د ده خپل وجود او هغه تعادل او توازن چې د ده په جوړښت کې مراعات شوی، هغه ښاېست او ښکلا چې ده ته ورکړی شوې، هغه بې شمېره پېرزوينې چې د ده مهربان او کريم رب پرې کړې، دا ټول به د ده زړه او دماغ، عقل او شعور د الله په شته والي متقاعد کړي.

ب: له قيامته انکار او هغه دروغ ګڼل او دا باور چې د انسان پيداکوونکی رب به قيامت نه راولي، له خپلو بندګانو سره به محاسبه نه کوي، مکافات او مجازات به نه وي، انسان ته به د خپلو کړو وړو سزا نه ورکوي، دا داسې انګېرنه ده چې د الله په اړه له يوه فريب او اشتباه نه راولاړه شوې، له يوې داسې دوکې چې د انسان عقل تر خپل اغېز لاندې نيسي او د قيامت انکار او تکذيب ته ئې اړ کوي. که نه نو هغه دقيق تعادل او توازن او د ښاېست، ښکلا او کمال هغه مظاهر چې د انسان په ښکلي او متوازن جوړښت کې ترسترګو کېږي، هغه کريمانه او له پېرزوينو ډکه پالنه چې د ده د پيداېښت له لومړۍ نېټې نه د ژوند ترپايه د ده په برخه ده او هغه مهربان نامرئي لاسونه چې تل د ده پالنه کوي، وده ورکوي، کمال ته ئې رسوي، ډېر ظريف او حساس استعدادونه، وړتياوې او ځانګړتياوې ئې په برخه کوي، دا ټول په خپله ثابتوي چې الله تعالی به حتماً انسان له خپلو کړو وړو پوښتي، د انحرافاتو، له حد او خط نه د عدول، د نورو په حق د تېري او تجاوز سزا به ورکوي. د انسان عقل څنګه کولی شي دا خبره ومني چې الله به له انسان سره محاسبه نه کوي، په داسې حال کې چې د حکيم او کريم خدای د دقيق او حکيمانه تصرف نښې په خپلو سترګو ګوري، په ټول عالم کې دا دقيق تعادل او توازن، هغه تعادل او توازن چې انسان ئې مظاهر، نښې او بېلګې په خپل جوړښت کې ګوري، سره له دې چې ګوري هر څه سم پيدا شوي، د الله په مخلوقاتو کې خلأ، نقص او عدم توازن نشي موندلی، دا الله به څنګه په دې راضي شي چې د ده په بندګانو دې ظلم او تېری وشي او دی ئې پوښتنه ونه کړي، د ده بنده دې د جفا او ظلم مرتکب

شي او دی دې ورسره محاسبه ونه کړي؟!! دا خاطيء انګېرنه له هغه تعادل او توازن سره اړخ نه لګوي چې د دې پراخ عالم په هرې برخې کې ئې ګورو.
له دغو دواړو تعبيرونو نه دوهم ئې په دې دليل دقيق او سم دی چې د آيت سياق او سباق په همدې دلالت کوي او په دې سره دا آيت له مخکنيو او وروستنيو سره ورته کېږي، له دې آيته مخکې او وروسته آيتونه د قيامت په اړه بحث کوي، هولناکې صحنې ئې انځوروي، د يوم الدين د مکافات او مجازات خبره کوي او وايي چې هر څوك به خپل عملونه ګوري، طبيعي ده چې د دې آيت د بحث موضوع به هم نوروته ورته او د قيامت په اړه وي، د آيتونو تر منځ د تنسيق او يووالي تقاضا دا ده چې دلته به هم د قيامت د اثبات دلايل وړاندې شوي وي نه د الله د شتون د اثبات دلايل.
۷ - په دې مبارك آيت کې د انسان د پيدا ښښت په اړه درېو مسئلو ته اشاره شوې:
الف: د انسان خلقت او پيدا ښښت.
ب: سم او برابر جوړښت ئې.
ج: هغه تعادل او توازن چې د ده په جوړښت کې مراعات شوی.
دا انسان څنګه د خپل هغه رب په اړه اشتباه کوي چې دی ئې پيدا کړی، وده ورکوي، کمال ته ئې رسوي، دا ټول استعدادونه ئې ده ته ورکړي، د دغو استعدادونو د ودې او ځلا لپاره لازم شرايط ورته برابروي، د ده رزق او روزي او د ده د بقاء او دوام وسائل او ضروريات تأمينوي؟! مګر د ده خلقت او پيدا ښښت په دې شهادت نه ورکوي چې هرمرو يو پيداکوونکی لري؟!! مګر هغه صفات، وړتياوې او غوره استعدادونه چې ده ته ورکړی شوي په دې دلالت نه کوي چې رب او پالونکی ئې له داسې ذاته پرته بل څوك نشي کېدی چې په همدغه غوره صفاتو په اتمه او اکمله توګه متصف دی؟! دا په هيڅصورت کې ممکن نه ده چې په مخلوق کې داسې کوم غوره صفت وي چې د ده په پيدا کوونکي کې دې هغه په اتم او اکمله توګه نه وي، کوم عقل دا خبره منلی شي چې دا انسان دې په خپله، له کوم خالقه پرته او يا د ړوند، کوڼ او بې عقله طبيعت په لاس پيدا شوی وي؟!!

نه یوازې دا چې انسان ئې پیدا کړ، بلکې هغه ئې سم او سالم، روغ او رمټ پیدا کړ، ټول هغه ضروري استعدادونه ئې ورکړل چې ورته اړ وو، د ده سلامتیا او بقا ئې غوښتنه کوله او د ځمکې پر سر د ژوند لپاره ئې ورته ضرورت درلود، نه ئې په جوړښت کې عیب او نقص موندی شو او نه کوم څه اضافي او غیرضروري.

په دې سربېره ئې هغه متوازن او متعادل جوړ کړ، دا تعادل هم د ده په جوړښت کې ګورو او هم د ده په شکل او صورت او څېرې کې او هم ئې د ده په انساني خصلتونو او استعدادونو کې. دا دقیق تعادل او توازن هغه وخت ښه احساسولی شو چې د انسان د وجود په کومې برخې کې مختل شي، مثلاً د باړوګانو څو تارونه ئې وسوزي، فقط څو نازك وېښتان، ګورې چې په دې سره نه یوازې د ده ښاېست ته سخته صدمه ورسېږي بلکې د ده حساسې او نازکې سترګې له داسې ساتونکو بې برخې شي چې تل ویښې ولاړې وي او له تاواني شیانو ئې ساتي، که ئې غوږ پرې شي، نه یوازې د ده ښکلا او ښاېست ته تاوان رسي بلکې د ښه او بد، مفید او مضر غږ سمت او استقامت دقیقاً نشې تشخیصولی، که ئې لاس قطع شي، تعادل او توازن ئې له منځه ځي او د ډېرو کارونو په کولو کې له ستونزو سره مخامخ کېږي، که ئې غصه پر زړه سوي او مهربانۍ غلبه وکړي، که ئې کرکه او کینه پر مینې او محبت درنه شي، که ئې وېره پر جرأت او زړه ورتیا غالبه شي، که ئې د دغو او ګڼ شمېر نورو خصلتونو او خصوصیتونو ترمنځ تعادل او توازن له منځه ولاړ شي، یو پر بل غلبه وکړي، یو د بل د ځپلو باعث شي، معلومه نه ده چې انسان به له کومو کومو خطرناکو پاېلو سره مخامخ کړي!! او څه به ترې جوړ کړي؟!! انسان خو پرېږدئ دا ضروري تعادل او توازن د دې پراخ عالم په هرې برخې او ټولو ژوو کې ګورو، مګر دغو ونو ته مو پام نه دی کړی چې که ئې یو ښاخ ښې اړخ ته راوټوکېږي بل ئې څو سانتي متره بر کیڼ اړخ ته راوټوکېږي او په دې سره ئې تعادل تأمین شي، لوړه شي او یوې خوا ته له کږېدو خوندي پاتې شي، که ئې له یوه اړخه کوم ښاخ پرې کړې نه یوازې خپل پرهار په داسې موادو وپوښي چې له مکروبونو او تاواني حشرو ئې ساتي او هغه مومیایي کوي بلکې ډېر ژر په همغه اړخ کې نوی ښاخ راوټوکوي تر

ځو هغه تعادل چې د يوه ښاخ د پرې کېدو په وجه له منځه تللى بېرته جبران شي او بل لوري ته د کږېدو منخيوي وکړي.

الله تعالى دا ځمکه داسې جوړه کړې چې د انسان د ژوند لپاره مناسب ځاى وي او انسان ئې داسې جوړ کړى چې د ځمکې په دې کور کې چې آسمان ئې چت او ځمکه ئې فرش ده، سوکاله او آرامه ژوند وکولى شي، د ده جوړښت، فطرت او طبيعت ئې داسې ګرځولى چې په دې تمځي کې ژوند کول ورته مقدور او ممکن وي، که د ده جوړښت بدل کړى شي، يا د ده د دې تمځي او محيط په شرائطو کې تبديلي راشي او د دې دواړو ترمنځ دا شته تعادل او توازن له منځه ولاړ شي، د انسان ژوند له جدي ګواښ سره مخامخ کېږي. دا ولې انسان نشي کولى په بل هغه ستوري کې ژوند وکړي چې هلته شرايط د ځمکې په څېر نه دي؟! دا ځکه چې په هغه محيط کې د ژوند کولو ضروري او لازمي استعدادونه نه لري، د دې خبرې معنا دا ده چې انسان ئې داسې جوړ کړى چې د ده په خټه او فطرت کې ئې د ځمکې پر سر د ژوند کولو ټول ضروري استعدادونه ايښي او هر هغه څه ئې ده ته ورکړي چې په دې تمځي که ئې ورته ضرورت درلود.

٨ – څنګه چې الله تعالى په خپله غوښتل، انسان ئې په همغه شکل او صورت کې جوړ کړ، د انسان د ښاپسته او ښکلي صورت ترکيب او د جذابې او جالبې څېرې د ظريفو خطوطو ترسيم، د رنګوني هغه ژور او لطيف هنر چې د ده د څېرې د بېلابېلو برخو په رنګونه کې کارول شوى او له ده ئې تر ټولو ښاپسته او کامل مخلوق جوړ کړى، دا ټول د الله تعالى پېرزويني دي، دا ښکلې، موزونه او ښاپسته څېره الله تعالى ورکړې، هغه اشرف المخلوقات پيدا کړ، نه ئې د پلار او مور اراده په دې کې څه اغېز درلود او نه په ټول عالم کې له الله تعالى پرته بل چا، نو اې غولېدلې انسانه!! ولې دې خپل رب هېر کړى؟! ولې دا اشتباه در ته پيدا شوې چې هغه به دې بيا نه راژوندى کوي او له تا سره به محاسبه نه کوي؟

ÇĚ ûüĉŀ». $Ď#•Ï ÇĚ ûüȁÿ»t: ÑŠøæ ƀĴr ÇĚ ȄÏȁ!$ĵ bqߨÉ3ęÇ/ ž .

ÇĚ bqèȉ9? $B bqlçĚ/

٩- نه، داسې نده، بلکې تاسو دغه دين تکذيبوئ. ١٠- حال دا چې ګمارل شوي دي پر تاسو حافظان. ١١- عزتمنده ليکوالان. ١٢- په هغه څه پوهېږي چې کوئ ئې.

٩ – په حقيقت کې خبره داسې نه ده چې انسان ته د خپل رب پېژندل ګران دي او يا د عملونو په مکافات او مجازات باندې باور کول ورته محال او ناممکن او د ده د عقل خلاف خبره، داسې نه ده چې په دې هکله څه جدي ستونزه لري، له اشتباه او مغالطې سره مخامخ کېږي، برعکس د ده عقل نه بلکې د ده هوی او هوس دی دې ته اړ کړي چې حقيقت (تکذيب) کړي او عمداً دروغ ووايي او له هغه حقيقته انکار وکړي چې د ده زړه او دماغ پرې قانع دی، د ده بده او له ګناهونو ډکه سابقه او په راتلونکي کې د فسق او فجور د ارتکاب عزم او قصد ئې دې ته اړ کوي چې د مکافات او مجازات اصل ترديد او (تکذيب) کړي او د دې لپاره جعلي او دروغجن دلايل جوړ کړي.

١٠ - خو بايد په دې پوه شې چې ستا ترديد او تکذيب هيڅ ګټه نشي دررسولی، نه د قيامت راتګ ځنډولی شي او نه ستا د حتمي او قطعې محاکمې مخنيوی کولی شي، پر تا داسې ساتونکي او څارونکي ګمارل شوي چې تل او په هر ځای کې درسره دي، ستا ټول کړه وړه په دقت څاري او ستا د ښو او بدو مراقب دي.

١١- دا څارونکي نه يوازې ستا څارنه کوي او ستا د ټولو عملونو مراقب دي، بلکې ستا هر کار دقيقاً او له ټولو کوايفو سره ئې ليکي، دوی داسې مخور ليکوالان دي چې په خپلو ليکنو کې نه څه زياتی کوي او نه کمی، هر څه په ډېر

دقت سره ليکي، ستاسو هر لوی او ووړ عمل او ستاسو د زړه هر حرکت ليکي.

۱۲- پر دې ټولو سربېره دوی ستاسو د عملونو او کړو وړو له ټولو کوايفو خبر دي، محرکات ئې ورته معلوم، په هدف او مقصد ئې پوهېږي، نه ئې ماهيت ترې پټ دی او نه ارزښت، داسې نه دي چې ستاسو د عملونو غولوونکې ظاهري بڼې ته په پام سره خپل راپور جوړوي، ښايي عام وګړي ستا هغو عملونو ته ښه ووايي چې په ظاهر کې ښه ښکاري او د عمل ظاهري بڼې ته په پام سره ګمان کوي چې ته ښه انسان يئ او عمل دې ښه او صالح، خو ښايي د دې غولونکي ظواهرو ترشا ناولې موخې او بد اغراض مضمر وي، چې د لنډنظره خلکو له سترګو پټ دي، خو د دغو پوه څارونکو له نظره پټ نشي پاتې کېدی.

که د اوسنۍ پېړۍ هغه څېړنې او نتايج ئې په پام کې ونيسو چې د فضا په څپو او امواجو کې د غږ، حرکت او مناظرو د ثبت په اړه شوې او وايي چې د انسان هر غږ او حرکت د فضا په څپو کې دقيقاً ثبت کېږي او د تل لپاره په فضا کې پاتې کېږي، که د ساينس دا کشف د قرآن له دغې وينا سره څنګ په څنګ کېږدواو قضاوت وکړو، زمونږ او د هر با انصافه انسان قضاوت به څه وي؟ دا څنګه نن علم همغه خبره کوي چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې او په داسې شرايطو کې کړې چې انسان ته په داسې حقايقو پوهېدل ممکن نه وو، کله چې د ساينس دا کشف د قرآن د هغې وينا سره ورته مومو چې د انسان ټول کړه وړه د ( پوه څاروونکو او ليکوالانو) په واسطه ضبط او ثبت کېږي، آيا له دې پرته بل څه ويلی شو چې: دا قرآن حتماً له داسې مرجع راغلی چې د عالم له ټولو اسرارو خبر دی؟!!

---

[illegible]

[illegible]

[illegible]

---

ÇÊÒÈ ٩ 7ÍBöf

۱۳- بې شکه چې نېکان به وي نعیم کې. ۱۴- او بې شکه بد کاران به وي جحیم کې. ۱۵- د سزا په ورځ به ننوځي هغه کې. ۱۶- او، غائبېدونکي به ترې نه وي. ۱۷- او څه شي ته خبر کړې چې دا ورځ د سزا څه ده. ۱۸- بیا څه شي ته خبر کړې چې دا ورځ د سزا څه ده. ۱۹-آ ورځ چې څوك به نه لري بل چا ته څه په واك کې او (واك به د هر) کار وي په دې ورځ مختص الله ته.

۱۳ - ۱۴ دلته په ډېر تأکید سره ویل شوي چې نېکان به خامخا په هغه جنت کې وي چې له نعمتونو ډك دی او بدکاران به حتماً په هغې کندې کې وي چې له اوره ډك دی، یعني محاسبه به هرمرو ترسره کېږي، هر څوك به خامخا د خپلو عملونو سزا ګوري او خپل مناسب ځای ته به درومي. آیا دا ادعا چې په دومره تأکید او قاطعیت سره شوې، یوازې یوه ادعا ده او که د اثبات لپاره ئې دلایل هم وړاندې شوي؟! د دې مدعا د اثبات لپاره څه دلیل لرو؟ څنګه کولی شو ثابته کړو چې نېکان به خامخا جنت ته درومي او بدکاران هرومرو دوزخ ته؟

مونږ په هر انسان کې د (قضاوت) خصلت ګورو، چې د نورو د ښه او بد عمل په هکله قضاوت کوي، که دوه نفره د ښښتې او جګړې په حال کې وګوري، چې یو ئې ظالم او بل ئې مظلوم وي، فوراً د ظالم په نسبت په خپل زړه کې کرکه او نفرت احساسوي او د مظلوم په هکله عاطفه او زړه سوی، که د مداخلې توان او فرصت ولري حتماً له مظلومه د دفاع لپاره وروړاندې کېږي او مرسته ئې کوي او ظالم له لاسه نیسي، ملامتوي ئې او له ظلمه ئې راګرځوي، دا د (قضاوت) خصلت، له ظالمه کرکه، له مظلوم سره خواخوږي، د ظالم ملامتول او له مظلومه دفاع، د انسان دغه خصلت مونږ ته دا حقیقت په ګوته کوي چې حتماً به هغه ذات هم په دې صفت متصف وي چې انسان ئې پیدا کړی او دا خصلت ئې په ده کې ایښی، که

مونږ د نورو د کړو وړو په اړه قضاوت کوو، نېکان ستايو، د دوی قدر کوو، غواړو وئې نازوو، انعام ورکړو او بدکاران ملامتوو، غواړو وئې رټو او سزا ورکړو، ځينو ته (ابرار) او ځينو ته (فجار) وايو، زمونږ دا خصلت او صفت د هغه ذات د صفاتو مظهر او بېلګه ده چې مونږ ئې پيدا کړي يو او دا خصلت ئې مونږ ته راکړی، څنګه ومنم چې ته قضاوت کوې او ستا رب به قضاوت نه کوي؟!! زه خو هره شېبه او په هر مصنوع او مخلوق کې دا ګورم چې د هر (جوړ شوي شي) خصلتونه د (جوړوونکي) د صفاتو مظهر او هېنداره وي، مونږ د مصنوع او مخلوق په څېره کې د صانع او خالق د صفاتو نښې ګورو، هغه خدای چې انسان ئې پيدا کړی او د (قضاوت کولو) صفت او خصلت ئې ورکړی، هغه به هرومرو د انسان د کړو وړو په هکله قضاوت کوي، نېکان به جنت ته او بدان به دوزخ ته بيايي.

**۱۵** - الله تعالی په دنيا کې هم انسان ته د خپلو عملونو سزا ورکوي، دلته هم نسبي مکافات او مجازات ترسره کېږي، خو د کامل او بشپړ مکافات او مجازات لپاره ئې داسې نېټه ټاکلې چې د (يوم الدين) په نامه ئې نومولې، فجار او بدکاران به په دې ورځ او له الهي محاسبې وروسته په جهنم کې لوېږي..

۱۶ - جهنم او لمبې به ئې داسې پرې راتاو شي چې نه به يوه شېبه ترې غايبېدی شي، نه به په کې مري چې له عذابه ئې خلاص شي او نه به داسې سوزي چې نور نو د سوزېدو درد احساس نه کړي.

۱۷ – پوهېږې چې دا (يوم الدين) څه دی؟ دا د الله له لوري د حساب و کتاب او الهي محاسبې لپاره ټاکل شوې نېټه ده چې دوه عمده خصوصيتونه لري:

الف: هر څوک به په خپل ځان مصروف وي، د خپل ځان د ژغورنې هڅې به داسې مصروف کړی وي چې نه به بل ته د پام او اعتنا کولو مجال لري او نه د بل د ژغورنې او مرستې توان، نه به چا ته ګټه رسولی شي او نه به کوم عذاب ترې دفع کولی شي، د بل په ګټه د هيڅ کار د کولو اختيار او توان به نه لري.

ب: واکمني او اختيار به مختص الله لره وي، هغه به يواځنی ټولواك وي، د ټولو کارونو اختيار به له ده سره وي، له ده پرته به هيڅوك نه په واکمنۍ کې څه

ونډه لري او نه د کارونو په ترسره کولو کې، که نن او په دنیا کې دا حالت ستاسو تر سترګو کېږي چې د عالم په يوې برخې کې هغه څه ګورئ چې کاملاً مقهور او محکوم دي، په خپل خپل کار بوخت او په خپله خپله فطري لار درومي، که خپل کار پرېږدي او له خپلې لارې منحرف شي له تباهۍ سره مخامخ کېږي، خو بلې خوا ته انسان ګورئ چې (واك) او (اختيار) ورکړی شوی او هغه له دغه واك او اختياره په استفادې سره ظلم کوي، فساد خوروي، د ګناه او عصيان مرتکب کېږي، خو د هغو نورو په څېر فوراً او په بشپړه توګه خپله سزا نه ګوري، د دې وجه دا ده چې الله تعالی نه غواړي د انسان هغه نسبي واك او اختيار ترې سلب کړي، فوري سزا د هغه نسبي واك او اختيار منافي کار ده چې انسان ته ورکړی شوی، د الله تعالی دغه پرېکړه چې انسان کولی شي په خپله خوښه خپله لار غوره کړي، په دنيا کې د فوري او بشپړ مکافات او مجازات مانع ده، خو د قيامت په ورځ به دا لړۍ پای ته ورسېږي، د انسان د هغه مخکني واك او اختيار موده به پوره شي، هغه ورځ به ټول واك او اختيار د الله په لاس کې وي، هغه ورځ به له الله پرته نه بل واکمن وي او نه د اختيار خاوند چې د مکافات او مجازات مانع شي او د عدالت د پلې کېدو خنډ.

# المطففین

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم المطففین (کموونکي) دی، چې له لومړي آیته اخیستل شوی، مکې سوره ده، آیتونه ئې تر دوو مخکنیو سورتونو لږ اوږده خو د سورې له اوږدوالي سره متناسب دي او اکثراً له دریو کلمو او څلورو غږونو جوړ شوي، لومړي دوه آیتونه په مطففین او یستوفون ختم شوي، پاتې ټول آیتونه هم د دغو دواړو د وروستۍ کلمې په وزن سره پای ته رسېدلي، کله د مطففین په وزن او کله د یستوفون په وزن، خو کله د (ن) په ځای (م) راغلی، لکه عظیم او مرقوم، چې دا دواړه هم د غږ له پلوه مطففین او یستوفون ته ورته دي، د غږ او اوزانو مد او جذر ئې ډېر ښایسته او خوندور دی، د سورې له مضامینو په ډاګه معلومېږي چې د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې، هغه وخت چې د مسلمانانو شمېر ډېر کم وو، قریشو به پرې ملنډې وهلې، بې لارې، باغي او د خپل پلار نیکه له دینه اوښتي به ئې ګڼل او په سپکه سترګه به ئې ورته کتل. ځینې محترم مفسرین ګمان کوي چې دا سوره باید په مدینه منوره کې نازله شوې وي، دا ځکه چې د پلورلو او پېرودلو په څېر د اجتماعي امورو په هکله احکام او لارښوونې یوازې په مدني سورتونو کې موندلی شو، دوی په دې عقیده دي چې له تطفیف نه مراد په تللو او پیمانه

کولو کې کمی مراد ده، خو دا رایه په څو دلیله کمزورې ده:

الف: اکثر روایات په دې تأکید کوي چې دا سوره په مکه کې نازله شوې. جمهور علماء ئې مکي ګڼي او هغه روایات نه مني چې دا سوره مدني شمېري.

ب: تطفیف یوازې د جنس په تللو او پیمانه کولو کې کمي او د پلورونکي او پېرودونکي په حق کې تېري ته نه وایي بلکې په نورو مواردو کې د کمښت او نقصان لپاره هم استعمالېږي، لکه چې په یوه روایت کې د هغه چا لپاره دا لفظ کارول شوی چې په لمانځه کې اهمال کوي، یا ئې حرکاتو او الفاظو ته پوره اهتمام نه کوي او یا ئې له خشوع، خضوع او د زړه په حضور سره نه ادا کوي، قرطبي لیکي:

روی عن سالم ابن أبي الجعد قال: الصلاة مکیال فمن وَفّی وُفِّي له، ومن طَفَّفَ فقد علمتم ما قال الله في الـمُطَفِّفِين؛ الزهد لابن مبارك و المحلی

له سالم بن ابي جعد نه روایت شوی چې وئې ویل: لمونځ هم په پیمانې سره دی، چا چې ئې پیمانه پوره کړه، اجر به ئې پوره ورکړی شي، خو چا چې څه کمی په کې وکړ، نو په هغه څه خو پوهېږئ چې الله تعالی عز وجل فرمایلي: (ویل للمطففین) افسوس په کموونکو!!

همدا راز (وزن) او(کیل) هم یوازې د مادي توکیو او شیانو د کمیت او مقدار لپاره نه کارول کېږي، بلکې د معنوي ارزښتونو او شیانو د اهمیت، قدر او قیمت لپاره هم استعمالېږي، لکه دا چې مونږ د چا په هکله وایو: ډېر دروند سړی دی، له دې مو مقصد دا نه وي چې پربړ دی او وزن ئې زیات دی او یا وایو فلانی سپك سړی دی، هیڅوك زمونږ له دې وینا څخه دا مطلب نه اخلي چې د نوموړي وزن سپك دی، بلکې دا مطلب ترې اخلي چې بې وقاره او بې اعتباره سړی دی، د دروند او سپك الفاظ د چا د وقار، اجتماعي اعتبار، متانت، هیبت او حیثیت لپاره کارول کېږي، د قیامت په ورځ د اعمالو وزن کېدل ښیي چې دا لفظ د معنوي ارزښتنو د معلومولو او تعیین لپاره هم استعمالېږي.

ج: د سورې متن په ډېر صراحت سره شهادت ورکوي چې د (تطفیف)، (وزن) او

(کیل) الفاظ د خلکو د معنوي قدر او منزلت د تعیین لپاره کارول شوي، ټوله سوره او ټول آیتونه ئې پر دې راڅرخي چې له یوې خوا فجار (بدکاران) او د دوی بد خصلتونه او بدې پایلې رانبیي او له بلې خوا ابرار (نېکان) او د دوی صفات او نېك عاقبت په ګوته کوي، د سورې په هیڅ آیت کې د پېرلو او پلورلو یادونه نه صراحتاً شوې او نه تلویحاً. د اسلام له نظره تر دې چې د چا مال په ناحقه وخورې دا ډېره ستره ګناه ده چې په عزت ئې تېری وکړې، لکه څنګه چې د انسان ترټولو غوره شتمني د ده عزت او شرف دی، تر ټولو ستر تېری هم د ده پر عزت او حیثیت باندې تېری دی، ترټولو ناکاره او بد مطفف هغه دی چې یو شریف انسان تحقیر کړي، هغه ته په سپکه سترګه وګوري، ځان تر ده اوچت وګڼي، د ده د (ذاتي وړتیاوو) او (اجتماعي اعتبار) په اړه په خپل قضاوت کې تېری او تجاوز وکړي، د ده وزن کم وښیي او ارزښت ئې ناڅیزه، خو هغه وخت چې د ځان او د خپلو وړتیاوو او په ټولنې کې د خپل وزن، اعتبار او حیثیت په هکله د نورو قضاوت غواړي، نو انتظار ئې دا وي چې ښه ډېره ستاینه ئې وشي، پیمانه ئې ورډکه کړي، له هر عیب او نقص نه ئې پاك او مبرا ، اجتماعي حیثیت ئې ډېر لوړ او ذاتي وړتیاوې ئې ډېرې اوچتې وګڼي. په دې سوره کې دغه خطرناکه بیماري او ستره ګناه څېړل شوې.

بسم الله الرحمن الرحيم

#Œ]r ÇÌÈ bqèöGó„ Ä $Z9$ ’?ã (q8$Gø$#Œ] ûüÏ%©!$ ÇÊÈ ûüÏÿÏeÜyJù=Ïj9 @÷ƒur

ÇÍÈ bqèOqãèö6B Nåk¨Xr& 7Í»9'ré& `Yàt ŸwÎr& ÇÌÈ brçŽÅ£øƒä† öNèdqçRy—r r& öNèdqä9$.

ÇÏÈ ûüÏJn=»yèø9$# Éb>tÏ9 â¨$¨Z9$# ãPqà)tƒ tPöqtƒ ÇÎÈ 8LìÏàtã BQöqu‹Ï9

١- وای وای د کموونکو په (حال). ٢- آ چې کله ځان په نورو تلي، ډکه ډکه

پیمانه غواړي. ۳- او چې نور یا پیمانه کړي یا ئې وتلي، کمی کوي. ۴- آیا دغه ډله ګمان نکړي چې حتماً به پاڅوی شي. ۵- د یوې سترې ورځ لپاره. ۶- هغه ورځ چې، رب العالمین ته به ودرېږی خلك.

۱-۳: د دې سورې د لومړیو دریو آیتونو په اړه په معتبرو تفسیرونو کې درې د پام وړ تعبیرونه مومو:

الف: ځینې وایي: له مطففین نه مراد هغه خلك دي چې د پېر پلور او راکړې ورکړې په وخت کې د خلکو حق پوره نه ورکوي، په پټه او چل ول سره په وزن او پیمانه کې کمی او غبن کوي،او په تلې او پیمانې کې ډنډې وهي، له نورو نه د څه اخیستو په وخت کې پیمانه ډکه غواړي خو نورو ته د څه ورکولو په وخت کې حتماً څه راکموي. د درنو مفسرینو دا ډله د (کالوهم) او (وزنوهم) الفاظ د (کالوا لهم) او (وزنوا لهم) په معنا اخلي او دلته (ل) مقدر ګڼي او آیت داسې ترجمه کوي، کله چې د نورو لپاره پیمانه کول او تلل کوي نو تاوان رسوي او څه کموي!! خو که په الفاظو کې هیڅ تصرف ونشي او د (ل) له راوړو او مقدر ګڼلو نه ډډه وشي نو د آیت د خپلو الفاظو دقیقه ترجمه دا ده: کله چې دوی پیمانه کوي او یا ئې تلي نو تاوان رسوي.

ب: د درنو مفسرینو دوهمه ډله په دې باور ده چې د (ل) زیاتول او مقدر ګڼل نه یوازې صحیح نه ده بلکې د احتیاط خلاف کار دی، صحیح نه ده چې کالوهم د کالوا لهم په معنا واخلو او وزنوهم د وزنوا لهم په معنا ترجمه کړو، د الله په کلام کې چې هم د معنا له مخې بشپړ او کامل دی او هم د الفاظو له مخې، دا ډول تصرف یو ناسم کار، بې ځایه جرأت او حتی بې باکي ده، دوی دلته هم او په نورو مواردو کې هم، دې ته ترجیح ورکوي چې د قرآن په الفاظو کې له هر ډول تصرف نه ډډه وشي، هر تصرف نامناسب کار او د الهي بلیغ کلام په شأن کې بې احترامي ګڼي او په دې تأکید کوي چې د قرآن الفاظ بایدله څه کمي او زیاتي پرته او په پوره احتیاط سره ترجمه شي. دوی وایي: دلته د (کالوهم) او (وزنوهم) صیغې ځکه کارول شوې چې د قضیې یوه ظریف اړخ په ګوته کړي او هغه دا چې: په خلکو پورې د

مربوط شیانو او د دوی په لاس د جوړ شوو توکیو پیمانه کول او تلل په حقیقت کې په خپله د دوی تلل او پیمانه کول دي، دا ځکه چې په تولید کې ئې د دوی ذهن او فکر، هنر او کمال، تجربه او پوهه کارول شوې، د هر هغه څه ستاینه چې انسان جوړ کړی په حقیقت کې د هغه د جوړوونکي او تولیدونکي ستاینه ده او هغه ته د هر عیب او نقص منسوبول په حقیقت کې د هغه جوړوونکي ته عیب او نقص منسوبول دي، دا ډله مفسرین که څه هم (وزن) او (کیل) د پېر او پلور تلل او پیمانه کول ګڼي او په دې هکله له لومړۍ ډلې سره متفق دي خو (ل) مقدر نه ګڼي.

ج: د مفسرینو درېیمه ډله په دې نظر ده چې د دې آیتونو د بحث موضوع په پېر پلور کې د تطفیف موضوع نه ده، بلکې د یوه انسان ظالمانه قضاوت د بل انسان په هکله څېړل شوی او په دې سره د انسان یوې ډېرې خطرناکې رواني بیمارۍ ته اشاره شوې، (خپل ځان معیار ګڼل)، (ځان دروند او نور سپك ګڼل)، (له نورو د ستاینې انتظار په داسې حال کې چې د هغوی په ټولو وړتیاوو سترګې پټوي)، کله چې د خپل ځان او خپلو وړتیاوو او ځانګړتیاوو په هکله له نورو قضاوت غواړي نو انتظار او توقع ئې دا وي چې د ده د معیارونو مطابق به ئې ستاینه کوي، پیمانه به پوره او د ده له انتظار سره سم ډکه ورکوي، خو کله چې د نورو په هکله قضاوت کوي، د دوی د ذاتي استعدادونو او اجتماعي وزن او اعتبار په هکله څه وایي نو حتماً پیمانه کموي او په تلې کې ډنډې وهي، غبن او خیانت کوي، دا ډېره خطرناکه بیماري ده، چې قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې پرې بحث او دا مبارکه سوره ئې ورته مختص کړې.

د درېیم تعبیر او تفسیر په تائید کې څو مضبوط دلایل لرو:

الف: د آیتونو د الفاظو دقیقه ترجمه همدا تعبیر تائیدوي.

ب: دا تفسیر د سورې له ټولو آیتونو سره اړخ لګوي، په څرګنده ګورو چې ټوله سوره په همدغې موضوع بحث کوي، مخصوصاً له **۲۹** تر **۳۳** آیته چې په ډېر صراحت سره د لومړیو آیتونو شرح او تفصیل وړاندې کوي او فرمایي: ګنهګارانو به پر هغو خندل چې ایمان ئې راوړی وو او چې کله به پر دوی تېرېدل نو په خپلو

کې به ئې سترګکونه وهل او چې خپلې کورنۍ ته به راوګرځېدل نو په خندا خندا به راوګرځېدل او چې هغوی به ئې ولیدل ویل به ئې: دوی لاروركي دي، حال دا چې دوی پرې څارونكي نه وو لېږل شوي!!

ج: دا سوره په مکه مکرمه کې نازله شوې او مكي سورتونه اكثراً په داسې قضایاوو تر نورو زیات تركیز لري چې د كافرانو لخوا د مؤمنانو تحقیر او توهین او د دوی په لاس د مظلومو مسلمانانو تعذیب او ربړول په کې ځېړل شوي، په پېر پلور کې د غبن او خیانت په څېر قضایا په دې سورتونو کې نشو موندلی.

د: كه د قرآن د آیتونو لفظ په لفظ ترجمه واضح او صریح مفهوم افاده كوي، دا سمه نه ده چې له دې واضح مفهومه تېر شو او د الفاظو له ایطار او محدودې نه پښه آخوا وغځوو، د آیت په تركیب کې لاسوهنه وكړو، څه مقدر وګڼو او ګمان وكړو چې د آیت اصلي تركیب او الفاظ داسې نه دي لكه اوس چې زمونږ مخې ته پراته دي، اصلي بڼه ئې بله ده، داسې لكه زه چې وایم، د خاص مصلحت په وجه ځینې توري او كلمات حذف شوي او اوسنۍ بڼه ئې غوره كړې!! دا كار هلته كېدی شي د منلو و ړ وي چې لفظ په لفظ ترجمه څه اشكال ولري او د اشكال د رفع كولو لپاره (تقدیر) ته اړ وو او له دې پرته بله چاره ونلرو چې ووایو: دلته دا توری مقدر دی، حذف شوی، باید په ترجمه کې مراعات شي!! د الله د كلام په بلاغت او عظمت باندې د ایمان او اعتراف تقاضا خو دا ده چې په پوره احتیاط او دقت سره او له هر راز كمي او زیاتي پرته ئې ترجمه كړو. د مطففین د سورې د دغو آیتونو په ترجمه کې دې ته هیڅ ضرورت نه لرو چې (وزنوهم) (وزنوا لهم) ترجمه كړو او (كالوهم) د (كالوا لهم) په معنا واخلو، مګر مونږ تل د انسانانو په هكله په خپلو قضاوتونو کې دې ته ورته الفاظ نه كاروو؟ كله چې تاسو د يوه چا د وجاهت او اجتماعي اعتبار او حیثیت په هكله قضاوت كوئ او وایئ چې مخور دی، په خلكو کې نفوذ او رسوخ لري، خلك ورته احترام لري، ټول ئې قدر كوي او خبرې ئې اوري، په دې الفاظو سره په حقیقت کې تاسو هغه پیمانه كړئ او كله چې وایئ: ښه انسان دی، پوه، هوښیار، د حوصلې خاوند، زړه سواند او د ده نور ذاتي صفات بیانوئ په دې

سره تاسو هغه تللى. د نورو په اړه هر له عدالته لرې او ظالمانه قضاوت، تطفيف دى چې د اسلام له نظره ستره ګناه، لوى تېرى او ظلم ګڼل کېږي، لکه په دې حديث کې چې راغلي:

عن سعيدبن زيد عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: من أربى الربا الاستطالة في عرض مسلم بغير حق. رواه احمد

له سعيد بن زيد رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د مسلمان په عزت په ناحقه تېرى ستر سود دى.

يعنى دا ګناه د اسلام له نظره تر ربا او سود هم ستره ده، په سود سره بل ته مالي تاوان اړوې خو په دې کار سره د ده عزت تر پښو لاندې کوې او اعتبار او حيثيت ته ئې تاوان اړوې، مخصوصاً که دا کار د خپل اعتبار او حيثيت اوچتولو لپاره وکړې، د بل عزت د ځان د عزت لپاره قرباني کړې، د کاذب حيثيت او اعتبار ګټلو لپاره د بل حيثيت ترپښو لاندې کړې او يا په دې حالت کې وي چې د ځان په اړه له هر چا داسې قضاوت غواړې چې پيمانه تر ژئ ډکه کړي او په هغو صفتونو مو وستايي چې په تاسو کې نشته، لکه چې قرآن فرمايي:

وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا ... آل عمران:۱۸۸

او دا خوښوي چې په هغه څه وستايل شي چې نه ئې دي کړي.

په ټولو هغو مواردو کې چې ما تراوسه په کې تحقيق کړى د هغو کسانو رأيه مې د پورتني مورد په څېر ضعيفه او کمزورې موندلې چې د آيت په الفاظو کې تصرف کوي، کله څه زائد ګڼي، کله ئې مقدر او محذوف شمېري او کله ئې په اصلي معنا نه اخلي او غير اصلي معنا ئې غوره کوي.

**۴-۷**: د دې بيمارۍ جرړې له هغه اعتقاده خړوبه کېږي چې دوى ئې د آخرت او مکافات او مجازات په هکله لري، په آخرت او مکافات او مجازات نه باور دوى په دې بيمارۍ اخته کړي، په دې باور نلري چې د الله په وړاندې به ودرېږي او له الهي محاسبې سره به مخامخ کېږي، دغه کافرانه انګېرنه د دې لامل شوې چې په خپلو قضاوتونو کې بې باکه وي او دا ګمان وکړي چې د نورو په باب د دوى هر قضاوت

به ځای نیسي، خلك به ئې مني او داسې څوك نشته چې د دوی د دروغجنو او ظالمانه قضاوتونو او افتراءاتو حقیقت بربنډ کړي.

---

Ò»GÏ ÇÌÈ ÛüÞ$B 71'Š$Br ÇÌÈ ÛüÉÅ 'Å Í$4f ßüß$=»GÏ bÎ ÌÎ.

ÇÌÈ Èb!$P¢xÎ bq/É3ã ûïÎ%$ÇÌÈ ûüÎÉ3Ïj 7ÍB@/ ®#r ÇÌÈ Pq®©È

A$% $ZÞ/#ä Ïøã 4?Gê #ŒÎ ÇÌÈ ÆŠÖ& %Gèä @ä ¼Î ÿïÎ Ü/É3ã $Br

ÌÎ. ÇÌÈ bq¶Åõ/ {q¶. $B NÍÍqèe4?ã b#' @/ ž. ÇÌÈ ûüÏrF$ŠÜ»™&

Ñê ÇÌÈ ËÅ gø${q$Á9 Ná Ñê ÇÌÈ bq/qã é®7ÍB@/ Níf§ `ã Ná

ÇÌÈ bq/É3ê¾ÏÎ Lä "Ï%$#‹»d Ä$)ã

---

۷- نه، داسې نده، بې شکه چې لیك پاڼه د بدکارو وي سجین کې. ۸- او څه په دې خبر کړې، چې څه دی دا سجین؟ ۹- یو لیکل شوی کتاب. ۱۰- وای په دې ورځ په دروغ گڼونکو. ۱۱- آ چې دروغجنه ئې گڼله د سزا ورځ. ۱۲- او نه ئې گڼي دروغ، مگر هر تېری کونکی گنهگار. ۱۳- چې کله ولوستی شي آیتونه مو ورباندې، وایي: کیسې د مخکنیو!! ۱۴- نه، داسې نده، بلکې زنگ وهلی دی د دوی په زړونو، د دوی لاس ته راوړنو. ۱۵- نه، داسې نده، بې شکه په دې ورځ به وي محجوب له خپله ربه. ۱۶- بیا به وي ننوتونکي په جحیم کې. ۱۷- بیا به وویل شي: دا همغه څه دی چې، دروغ به مو گڼلو.

---

۷ – په دې آیت کې مطففین د فاجر او بدکار په صیغه یاد شوي او ښیي چې د

تطفیف عمل د هغه چا کار دی چې د بدکارۍ او فجور په وجه د حقارت احساس کوي او د نورو په عزت او حیثیت په تېري سره او د دوی له ښېګړو او ورتیاوو نه د انکار له لارې غواړي دا د حقارت احساس ختم او خپل کمښت جبران کړي، په حقیقت کې د نورو په شخصیت تېری د هغه چا کار دی چې سپك او بې شخصیته وي، باعزته او با شخصیته خلك نه دې ته څه ضرورت احساسوي چې نور ئې ستاینه وکړي او نه د نورو په وړاندې د حقارت او ټیټوالي احساس کوي تر څو د دوی پر عزت او حیثیت د تېري له لارې خپل حیثیت اوچت کړي او په ټولنې کې کاذب وجاهت ترلاسه کړي. د دغو بدکارو مطففینو د کړو وړو دوسیه زندان ته تللې او په هغه کتاب کې درج شوې چې د زندان په دفتر کې پروت وي او د زندانیانو نومونه او د دوی د جرمونو کوايف په کې لیکل شوي وي.

۱۰-۱۳: له ۱۰ تر ۱۳ آیته د دې ډلې څو نور کرکجن خصلتونه په ګوته شوي:

الف: دوی دروغجن دي، د نورو په هکله په خپلو دروغجنو قضاوتونو سره د تطفیف جرم او ګناه کوي.

ب: نه یوازې د نورو په باب دروغ وايي، افتراء کوي او په عزت او حیثیت ئې تېری کوي، بلکې (یوم الدین) هم تکذیبوي او دروغ ئې ګڼي.

ج: (تعدي: تېری) او (اثم: ګناه) دوی هغه ځای ته رسولي چې (یوم الدین: د سزا ورځ) دروغ وګڼي، یعني دوی په دې وجه له آخرت او د عملونو له مکافات او مجازات نه انکار نه کوي چې کافي، قانع کوونکي او معقول دلایل ورته نه لري، بلکې وجه ئې دوه نورې خبرې دي: یوه ئې دا چې دوی په خپل حق او حد قانع نه دي، مخکې ئې د بل په حق تېری کړی او په راتلونکي کې هم د تېري اراده لري او بله ئې دا چې په ګناهونو لړلي دي، تر دې د مخه ئې هم ګناهونه کړي او له دې وروسته هم د ګناه اراده لري، دغه (تېری) او (ګناه) له آخرته د دوی د انکار لامل دی.

د دې آیت په وړاندې چې وايي فقط (معتد) او (اثیم) له آخرت او الهي محاسبې انکار کوي، باید لږ توقف وکړو او وګورو چې دا څنګه او ولې یوازې تېری کوونکی او ګناهګار له الهي محاسبې انکار کوي؟!! څنګه تېری او ګناه

انسان هغه ځای ته رسوي چې د مکافات او مجازات حقیقت ونه مني او آخرت دروغ وګڼي؟!! له دې آیته معلومېږي چې د تېرې کوونکي او ګناهګار انسان لپاره په آخرت نه باور او له الهي محاسبې انکار، ذهني محرك لري نه عقلي دلیل، هغه له داسې ستونزې سره مخامخ دی چې باید ځان ته دا خبره تلقین کړي چې نه آخرت شته، نه حساب او کتاب او نه مکافات او مجازات، دی قیامت د ځان لپاره یوه خطرناکه پېښه ګڼي، چې عواقب او پایلې به ئې ده ته ډېرې دردناکې وي، په آخرت د باور تصور ئې سخت ځوروي، ناچار باید په دروغجنو تلقینونو سره له دې اضطراب او پرېشانۍ ځان وژغوري، انسان عادتاً په اغفالوونکو او غولوونکو تلقینونو سره محتمل خطر نفي کوي او په دې سره ځان له ذهني اضطراب او پرېشانۍ ژغوري.

د: دا کسان نه یوازې له خلکو سره په خپل چلند کې مطفف دي، بلکې له ځرګندو الهي آیتونو سره په معامله کې هم مطفف دي، دا دی ګورئ چې الهي آیتونه اساطیرالاولین ګڼي، په څو معناوو:

۱ – دا د آخرت آخرت خبرې مو ډېرې اورېدلې، ډېرو دا خبره کړې چې قیامت راتلونکی دی، بېرته به راژوندي کېږئ او د خپلو عملونو سزا به ګورئ، خو تر اوسه نه قیامت راغی او نه د دوی وعد او وعید ترسره شو.

۲ - قرآن ئې د تېرو قومونو د قصو مجموعه ګڼلې، یوه تاریخي کتاب ته ورته!! دا یوازې دوی نه دي چې د الله لارښود کتاب ته ئې اساطیرالاولین ویلي، مخکنیو امتونو هم له الهي کتابونو سره دغه معامله کړې، دا دی وګورئ له تورات او انجیل سره هغو خلکو څه معامله وکړه چې په همدې کتابونو د ایمان دعوا کوي، راشئ بایبل وګورئ چې د مسخره کیسو مجموعه ترې جوړه شوې، داسې مسخره کیسې چې هر هوښیار او عاقل انسان ته خندا پرې ورځي، انسان د هغه چا عقل او شعور ته حیرانېږي چې دا له مسخره کیسو ډك کتاب د الله تعالی له لوري په پیغمبرانو نازل شوی کتاب ګڼي، له قرآن څخه هم ډېرو هغو خلکو اساطیرالاولین جوړ کړی چې د ایمان دعوا کوي، څوك چې د قرآن بحثونه، وعد او

وعيد ئې په هغې زمانې پورې محدودوي چې دا کتاب په کې نازل شوی او ګمان کوي چې په قرآن کې دا له مؤمنانو سره د الهي تأييد او نصرت وعدې، د هجرت او جهاد احکام، د برې او فتح زېرې، د دښمن د حتمي ماتې او د مؤمنانو د حتمي بريا او برلاسي وړاندوينې، ټولې په همغې زمانې پورې مربوط ګڼي، د موسي عليه السلام او فرعون او نورو تاريخي څېرو او د دوی د زمانې د پېښو په هکله د قرآن بحثونه تاريخي بحثونه ګڼي، نه د الهي ثابتو سننو لپاره تاريخي بېلګې، په حقيقت کې دغو هم له قرآنه اساطيرالاولين جوړ کړی، قرآن دا څېرې او په دوی پورې اړوند قصې د تاريخي بېلګو په څېر وړاندې کوي، پيغمبر عليه السلام ابوجهل د خپل امت فرعون ګڼي:

عن ابن مسعود ... قال فلما وقف عليه صلى الله عليه وسلم قال هذا فرعون هذه الأمة رواه الطبراني

له ابن مسعود نه روايت دی چې وئې ويل: کله چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ده د جسد خوا ته ودرېدو نو وئې ويل: دی د دې امت فرعون وو.

هو! هره زمانه ځان ته فرعون لري او په مقابل کې ئې يو موسی، د پيغمبر عليه السلام د امت فرعون ابوجهل وو.

يعنی فرعون يوه تاريخي څېره نه بلکې يوه تاريخي بېلګه ده، د ظلم، استبداد، اختناق، فساد او کفر بېلګه، د تاريخ فرعون مړ شوی خو د قرآن فرعون په هره زمانه کې شته، نن هم شته او سبا به هم وي، د کلي په کچه هم، د هېواد په کچه هم او د ټولې نړۍ په کچه هم، پرون برېژنف يو فرعون وو او نن جورج بش يو فرعون دی. عمر رضي الله عنه ته اطلاع ورکړی شوه چې فلانې د پخو خښتو دوه منزله کور جوړ کړی، وئې ويل: ګمان مې نه کاوو چې د محمد عليه السلام په امت کې به هم کوم فرعون راپيدا شي، هماغه چې هامان ته ئې وويل: د پخو خښتو قصر راته جوړ کړه!! ګورئ چې صحابه وو فرعون يوه تاريخي څېره نه بلکې يوه تاريخي بېلګه ګڼله، د دوی په اند د قرآن په قصو کې د قرآن مفاهيمو ته عيني تجسم ورکړی شوی، الهي سنن په کې تمثيل شوي، عقايدو ته ترسترګو کېدونکي

هيکلونه ورکړی شوي، د هرې قصې په ترڅ کې يوه مفهوم ته ژوندی او عملي مثال وړاندې شوی، ترڅو ښه څرګند شي او هرچا ته پرې پوهېدل آسانه شي. قرآن د دې لپاره چې خپل مخاطب په دې ښه پوه کړي چې د حق او باطل ترمنځ نزاع او د ظالم او مظلوم ترمنځ جګړه يو دائمي سنت دی، دا جګړه پرون وه، نن شته او سبا به وي، خو تل به ئې نتيجه د حق غلبه او د باطل زوال او د حق پالو بريا او د باطل پالو ماتې وي، خو دا مطلب او ټول جوانب ئې خپلو مخاطبينو ته د فرعون او موسی عليه السلام د قصې په ترڅ کې مجسم کوي.

۱۴- د دغو مطففينو د ضمير صفحه لړلې او زنګو وهلې ده، فجور، کذب، اعتدا، اثم او نورو بدو عملونو او ګناهونو د دوی پر زړه او دماغ داسې توره او پربړه پرده غوړولې چې د دوی ټول معيارونه ئې ورته بدل کړي، د دوی قضاوتونه ئې تر خپل اغېز لاندې نيولي او د دوی کار ئې هغه ځای ته رسولی چې د الله تعالی څرګند آيتونه اساطيرالاولين وګڼي، څوك چې د الله له آيتونو سره دا معامله کوي، هغه ته دا ډېره عادي خبره ده چې قيامت دروغ وګڼي، د خلکو له ښېګړو او وړتياوو سترګې پټې کړي او په خپلو قضاوتونو کې د تطفيف مرتکب شي.

۱۵- دوی به د قيامت په ورځ، هغه وخت چې د محاسبې لپاره حاضر کړی شي او د الله تعالی په وړاندې ودرېږي، محجوب وي، يا په دې معنا چې سترګې به ئې له شرمه ټيټې اچولې وي، پورته به نشي کتی، له دې ناولي مخ، تور زړه، لړلي وجدان، د ننګينو عملونو پېټي پر اوږو او زنګ وهلي زړه سره به څنګه جرأت کوي چې الله تعالی ته بر وګوري؟! په محکمو کې به مو مجرمان ليدلي وي چې د قاضي په وړاندې څنګه ولاړ وي؟ سر ټيټ، غاړه کږه، سترګې د ځمکې په لور، د پورته کتو جرأت نه کوي او د قاضي په لور د سترګو له اړولو ډډه کوي!! او يا په دې معنا چې عمل پاڼه به ئې له شا نه په کيڼ لاس کې ورکړی شي او يا په دې معنا چې په دنيا کې د دوی پر زړونو زنګ وو، پر سترګو ئې پردې، د قيامت په ورځ به دا پرده د دوی او الله تر منځ حجاب شي.

۱۶- ۱۷- د دوی لپاره مناسب ځای جحيم دی، خپل ګناهونه به ئې دې ځای

ته رسوي او هلته به ورته ویل کېږي: دا دی همغه چې دروغ مو گڼلو، تاسو د عملونو په مجازات باور نه کولو، دا ئې ستاسو د عملو سزا، تاسو دوزخ نه مانو، دا ئې تاسو او دا ئې دوزخ، تاسو له الهي محاسبې انکار کولو، دا ئې ستاسو عمل پانې!!

---

Ô»GÏ ÇÌÈ bq•Ïä $B 7 1‘Š $Br ÇÌÈ šú üÎÏe ’Å í#•ôÏ $= »GÏ bÎ Ï.

Å Ì‘ F $’?ã ÇÌÈ ©‹Ïè ’Å ‘#•ôÏ $bÎ ÇÌÈ bq ß) §$ç‹ Ï ƒ ÇÌÈ Pq‹ôÏ

9‹ïm§ `Ï bö) ó ç ÇÌÈ ÉŠÏè Z9$ oŽôØ R óÎgÏd q ã ’Î ß í è? ÇÌÈ br ãÝZƒ

ÇÌÈ bqÝ Ï»YG ß $ Ä§ ù$ZK‹ù 7 ó Œ ’Îr Ô ó Ï ¼çG »F Å ÇÌÈ Pq ç‹÷ B

ÇÌÈ šc q ß) § $Î Ü Žô „ $Z ã ÇÌÈ ©Š Î ó @ `Ï ¼ç ã #– É r

---

۱۸- نه، داسې نده، بې شکه عمل پاڼه د نېکانو به وي، په لوړو لوړو کې.
۱۹- او څه یې ته پوه کړی، چې څه دي دا لوړ لوړ؟ ۲۰- لیکلی یو کتاب.
۲۱- تماشا به ئې کوي مقربین. ۲۲- بې شکه چې ابرار به وي نعیم کې. ۲۳- پر تختونو باندې ناست به تماشا کړي. ۲۴- په څېرو کې به ئې مومې تازه والی د نعیم. ۲۵- خړوبېږي په خالصو سرمُهر شوو شرابونو. ۲۶- مُهر به ئې مشك وي، نو په دې کې دې سیالي وکړي سیالان. ۲۷- او له تسنیم ئې گډونه. ۲۸- آ چینه چې ئې په خوا کې څښل کا مقربین.

---

۱۸- دا بد عمله مطففین دې پوه شي چې په خپلو ناروا قضاوتونو سره نه د نېکانو او ابرارو ښېگړې او وړتیاوې اغېزمنې کولی شي او نه ئې مقام او منزلت

راټیټولی شي، د دوی عمل پاڼه تر لوړ نه لوړ ځای ته رسېدلې او د دوی مقام ئې دومره لوړ کړی چې نه د چا لاس وررسي او نه تغییر او بدلون په کې راوستی شي، تاسو نشئ کولی په خپلو ناروا تبلیغاتو سره د دوی لوړ مقام او مرتبه راټیټه کړئ.

**۱۹-۲۱**: پوهېږې دا (علیین) چې د ابرارو عمل پاڼه په کې ساتل کېږي، څه دی؟ دا هغه لیکل شوی کتاب دی چې د الله تعالی د دربار مقربین ئې په تماشا بوخت وي، هر یو غواړي تر بله ئې مخکې وګوري، د نېکانو عمل پاڼه په لوړ کتاب کې درج شوې او د الله په وړاندې مقربین ئې شاهد او ناظر، نو ووایه: په دې صورت کې به ستا پوچ تبلیغات څه تأثیر پرې وکړي؟

فرشتې د نېکانو عمل پاڼې په سرعت او تلوار پورته وړي، چې کله د عرش خوا ته مقربې فرشتې دا عمل پاڼې او په هغه کې د انسان نېك عملونه وګوري په دې خاطر حیرانې شي چې انسان څنګه له ټولو هغو غرایزو او محرکاتو سره چې دی د عصیان، ګناه او بدي لور ته هڅوي او په داسې حال کې چې شیطان په هرګام کې ورته کمین نیولی او هره شېبه ئې وسوسه کوي، خو هغه له ګناه او عصیان نه ځان ساتلی، الله ئې غوره کړی، نه د شیطان د وسوسو تر اغېز لاندې راغلی او نه خپل هوی او هوس ته تسلیم شوی، روژه ئې نیولې، لمونځ ئې کړی، خپل مال ئې د الله لپاره وقف کړی، خپل ځان ئې د الله په لار کې قرباني کړی، دې ته به حیرانې شي او دا پاڼې به په خپلو کې یوه بل ته ښیي.

**۲۲-۲۴**: کوم نېك بندګان چې په دنیا کې له فقر او مسکنت سره مخامخ وو او یا ئې د دنیا مال او متاع ته ډېره اعتنا نه درلوده، خپلې شتمنۍ ئې د الله په لار کې وقفولې او په لږ څه به ئې قناعت کاوو او په همدې سبب به فاجر او بدکارو مطففینو ملنډې پرې وهلې او د دوی حالت به ئې د خندا او تأسف وړ ګاڼو، نن به هغوی له نعمتونو ډکو جنتونو کې وي، په لوړو شاهانه تختونو ناست، راز راز نعمتونو به احاطه کړي وي او په څېرو کې به ئې د نعمتونو ننبې راڅرګندې وي.

**۲۵**- څښاك ئې له داسې شرابو چې سر به ئې مهر وي، له دوی مخکې به ئې نه چا خوند څکلی وي او نه به ئې شونډې پرې لګېدلې وي، هلته به د انسان دې

تمایل ته هم ځواب ویل کېږي چې غواړي له ده مخکې څوك د ده په جام او پیالې خوله کښېښږدي، هلته به نه یوازې د جنتیانو د څښاك د لوښو او جامونو سرونه بند وي بلکې د پاسه به مهر هم پرې وهل شوی وي.

۲۶- خو مهر او لاك به ئې د مشکو عطر وي، نه عادي لاك. دا هغه څه دي چې انسان ته ښایي له نورو سره په کې سیالي او رقابت وکړي، نه د دنیا کاذب وجاهتونه او بې پاښته او بې ارزښته مال متاع ئې، ولې د جنت د دغو سترو سترو نعمتونو د لاس ته راوړو لپاره په خپلو کې سیالي نه کوئ.

۲۷-۲۸: دلته ځینې مفسرین (بها) د (منها) یا (عنها) په معنا نیسي او آیت داسې ترجمه کوي، مقربین به د دې چینې اوبه څښي، خو مونږ د هغو درنو مفسرینو رأیه مضبوطه ګڼو چې الفاظ په خپله اصلي معنا کې رااخلي او دلته وایي: د ابرارو په رحیق مختوم کې به د دې چینې یوه برخه ورګډوي خو مقربین به د دغې لوړې چینې خوا کې خپل خاص څښاك څښي، تسنیم لوړ او اوچت ځای ته وایي، دا چینه به په یوه لوړ ځای کې وي او اوبه به ئې له همغه لوړ ځایه لاندې راپربوځي، هغه څه چې انسان ته ډېر جالب او ښایسته برېښي او خوند ترې اخلي، دا هم یو انساني تمایل دی چې له لوړو لوړو ځایونو د اوبو د راپربوتو له منظرې خوند اخلي، په جنت کې به د ده دا تمایل هم اشباع او دا تنده به ئې هم ځواب شي.

---

{r•B #Œĵr ÇÌÈ bqã s ò ƒ {qãB#ä ûïÏ‰$ `Ë {qç. {qã•ô & šú ïÏ‰$b)

#Œĵr ÇÌÈ ûüĝå ù {qç) R$ Ðĝîd& #‹ĵ {bç) R$ #Œĵr ÇÌÈ brãB$óGƒ Ïií

ÇÌÌÈ ûüÎàÿ»m Ïiõã {qèÅóé$Br ÇÌÈ bq9$Ò9 ãlwà d b) {bÅ% Ïèr&‘

brãÍZƒ Å Í‘Ł $’?ã ÇÌÍÈ bqã s ò ƒ Í$ÿã$ `Ë {qãB#ä ûïÏ‰$Pö%Å

ÇÌÏÈ bqèÿ/ {qÞ. $B âšyãÎ$ > ìÎ@d ÇÌÎÈ

۲۹- بې شکه هغو خلکو چې ئې کړي وو جرمونه، خندل به ئې پر هغو چې ایمان ئې وو راوړی! ۳۰- چې خوا ته به ئې تېرشول، سترګك به ئې وهلو په خپل منځ کې. ۳۱- او چې کله به خپل اهل او کهول ته ګرځېدلو، په خندا به ګرځېدلو. ۳۲- او چې کله به ئې ولیدل، ویل به ئې: دا دوی خو بې له شکه دي لاروركي. ۳۳- حال دا چې پردوی نه وو لېږل شوي څارکوونکي. ۳۴- نو نن به پر کفارو باندې خاندي هغه خلك چې ایمان ئې وو راوړی. ۳۵- پر تختونو باندې ناست به تماشا کړي. ۳۶- آیا ورکړی شو کفارو ته ثواب د هغه څه چې دوی کولو؟

۲۹- دا آیت په ډېر صراحت سره ښیي چې په لومړي آیت کې له (تطفیف) نه مراد همدغه (تضحیك)، تمسخر او ملنډې) دي. په ګناهونو کې غرق مطففینو به پر نېکانو او ابرارو ملنډې وهلې، دوی به ئې سفیه، حقیر، سپك او ضعیف ګڼل او د هر ظلم او تېري وړ به ئې بلل.

۳۰- چې کله به د مؤمنانو په څنګ کې تېرېدل، نو یوه به بل ته د استهزاء او تمسخر لپاره سترګك واهو، له دې او مخکنیو آیتونو نه په ډېره آسانۍ معلومولی شو چې دا مبارکه سوره باید په داسې شرایطو کې نازل شوې وي چې:

الف: مسلمانان له هغې مرحلې تېر شوي چې خپل ایمان به ئې پټاوو او اوس په داسې شرایطو کې دي چې خپل ایمان ئې څرګند کړی او کافران ئې ښه پېژني.

ب: کافرانو یوازې په تمسخر، استهزاء او ملنډو بسنه کوله او د دوی په تعذیب، وهلو ټکولو ئې لاس نه وو پورې کړی.

دا ځانګړتیاوې د مکي دور له خاصې مرحلې پرته په نورو مراحلو کې نشو موندلی او دا د هماغه ابتدائي مرحلې وروسته پړاو دی چې مسلمانان د یوه نوي

دين د پلويانو په څېر راڅرګند شول. په دې کې د هيڅ شك مجال نه پاتې کېږي چې دا سوره به په همدغې مرحلې کې نازل شوې وي. د قرآن د سورتونو يوه ستره ځانګړتيا دا ده چې له محتوا ئې هم شأن نزول معلومېدی شي او هم د نزول مرحله او له يوه بليغ او بشپړ کلام سره همدا ښايي. انسان ډېر تعجب کوي چې څنګه ځينو درنو او نوميالیو مفسرينو دا د مدني دور سوره ګڼلې. مګر په مدينه کې چا دا جرأت کولی شو چې په مؤمنانو باندې ملنډې ووهي؟!!!

۳۱- د مؤمنانو له توهين او تحقير وروسته او پس له هغه چې پر دوی به ئې ډېرې ملنډې وهلې وې، خپلې کورنۍ ته به په داسې حال کې راوګرځېدل چې په جګ غږ به ئې خندل، په خپلو کړو به ئې د خپلې کورنۍ په وړاندې فخر کاوو او دا به ئې له خپل پلرني دين او مذهب نه دفاع او د نيکونو په ميراث او پاتې شونو د غيرت کولو نښه ګڼله!!

۳۲- د مؤمنانو په خوا کې به په ډېر غرور او تکبر تېرېدل او دوی به ئې بې لارې او لاروركي ګڼل او يوه بل ته به ئې ويل: دغو بې عقلو لار ورکه کړې، د خپل پلار نيکه دين ئې پرېښی، دنيا ته ئې شا کړې، د پوچ او مبهمو اهدافو لپاره خپل هر څه له لاسه ورکوي، د هيڅ لپاره خپل ژوند په خطر کې اچوي، له دې ټول ضعف او کمزورۍ سره سره ګمان کوي چې پر خپلو ځواکمنو او زورورو دښمنانو به برلاسي شي او خدای به ئې مرسته وکړي!! عجيبه ناپوهي او سفاهت!! ګورئ چې د کافرانو او بد ضميره مجرمينو په اند دا ناپوهي او سفاهت دی چې څوك د لوړو لوړو او سپېڅلو اهدافو لپاره خپلې آرامتيا او سوکالي ته له پامه پرته عمل وکړي او خپل شته د الله په لار کې او سپېڅلو اهدافو ته د رسېدو په لار کې قرباني کړي.

۳۳- مګر دوی ته چا د مؤمنانو د څارنې او د هغوی پر کړو وړو د مراقبت دنده سپارلې؟!! آيا د دوی وظيفه دا ده چې د نورو د عملونو څارنه وکړي او د هغه په هکله قضاوت وکړي؟! چا ورته ويلي چې مؤمنان تر مراقبت لاندې ونيسئ او څارنه ئې کوئ چې داسې ورپسې دي او د دوی په هکله تبليغات کوي؟! له دغو مؤمنانو څه تاوان دوی ته رسېدلی چې يوه شېبه ئې آرام نه پرېږدي، ملنډې پرې

وهي او بې لارې ئې ګڼي؟!!

**۳۴-۳۵**: نن او له هغه وروسته چې دا کافر او مغرور بدکاران به د خپل انتظار خلاف، مؤمنان په جنت کې ګوري، پر شاهانه لوړو لوړو تختونو ناست او ځان به د دوزخ په تل کې او د هر چا د کړو وړو ماهيت او پايلې راڅرګندې شوې، نو مؤمنان به د هغو کافرانو دردناکه وضع د خندا وړ ګڼي چې په دنيا کې ئې ځان په حقه ګاڼو، له خپلې وضعې راضي وو او په هغه ئې فخر کاوو او غوره پايلو ته ئې منتظر وو، نن به د مؤمنانو پر شونډو د فتحې او بريا موسکا وي او د دښمنانو د رسوايۍ تماشا به کوي.

**۳۶**- آيا کافرانو د خپلو عملونو ثواب ترلاسه کړ؟!! دلته د (ثواب) کلمه يوه ډېره ظريفه او لطيفه توجيه لري او هغه دا چې: ثواب هغې بدلې جزاء ته وايي چې د ښه عمل په مقابل کې ورکول کېږي، کافرانو له ټولو هغو ناروااوو او تېريو او تجاوز نه د ښې بدلې او ثواب طمع درلوده چې د مؤمنانو په حق کې ئې کول، که ئې هغوی ځورول، که ئې ملنډې پرې وهلې، که ئې د دوی پر مال، ځان او عزت تېری کاوو، ټول ئې د ثواب کارونه ګڼل، ځان ئې په حقه، خپل مذهب ئې سم، له خپلو کړو وړو ئې په دنيا او آخرت کې د ښو پايلو طمع درلوده، نو آيا دا ثواب ئې ترلاسه کړ؟ آيا هغه په زړه پورې نتايج ورپه برخه شول؟! (جهنم) همغه (ثواب) چې دوی ته ئې انتظار کاوو!!

# الانشقاق

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الانشقاق (شلېدا) دی چې له لومړي آیته اخیستل شوی، دا د سورې نوم دی نه د سورې د مضامینو لپاره عنوان، **۲۵** آیتونه لري، د مکي دور په لومړيو کې نازل شوې. آیتونه ئې لنډ لنډ، له شپږم او پنځه ویشتم آیته پرته د ټولو اوږدوالی او د غړونو شمېر سره ورته دی، خو شپږم او پنځه ویشتم آیتونه هم د څو داسې غړونو مجموعې دي چې د نورو آیتونو په څېر دي. تر پنځم آیته فواصل انشقت ته ورته هموزنه صیغې دي، شپږم او اووم آیت د (ملقیه) او (یمینه) په دوو هموزنو صیغو پای ته رسېدلي، که لسم او یولسم آیت یو ځای ولوستی شي نو له اتمه تر پنځلسمه پورې فواصل یسیرا ته ورته هموزنه صیغې دي، که څه څوارلسم آیت د یحورَ په صیغه ختم شوی خو که د قرائت په دوران کې توقف ونکړو غږ ئې یسیرا ته ورته کېږي، له شپاړسم نه تر نولسم پورې وزن د شفق او وسق په څېر دی او که ۲۴ او **۲۵** آیت یو ځای قرائت شي نو د پای د آیتونو وزن د یسجدون په څېر دی.

د سورې په پیل کې د آسمان شق شق کېدا ته چې د قیامت له لومړیو نښو څخه ده اشاره شوې، بیا د ځمکې اوارېدا او له خپلې سینې د هر څه بهر راایستو او

تشېدا ئې، د انسانانو بیا راژوندي کېدا، د الله تعالی په لورې د دوی تګ او د عمل پاڼو د ورکړې صحنې انځور شوې، داسې چې یوې خوا ته کافران ګورې چې پاڼې ئې په کیڼ لاس کې تر شا ورکول کېږي او بلې خوا ته مؤمنان چې پاڼې ئې په ښي لاس کې ورکړی شوې، يو په خپلې عمل پاڼې خوښ دی او د خپلې کورنۍ غړو ته خوشحاله او له موسکا سره راګرځي او بل ئې دومره پرېشانه چې د مرګ هیله به کوي. وروسته د دې ادعا د اثبات لپاره ډېر مضبوط او قوي دلایل وړاندې شوي چې قیامت هرومرو راتلونکی دی او مرګ د ژوند پای نه دی. او بیا له قیامته منکر انسان ته په ډېرې حیرتناکې لهجې دا پوښتنه راجع شوې چې څنګه او ولې له دغو ټولو دلایلو سره سره ایمان نه راوړي او د با عظمته قرآن قوي استدلال ته سر نه ټیټوي!! او په پای کې وایي چې دا منکرین په دې وجه له قیامته انکار نه کوي چې عقلي دلایل ئې مخې ته نه دي راغلي، بلکې عمداً او په حقیقت ئې له پوهېدو وروسته انکار کوي او درواغو ته په پناه وړو سره هغه تکذیبوي، د دوی بد عملونه ئې دغه دروغو ته اړ کوي.

بسم الله الرحمن الرحیم

---

ÇÌÈ ô‰ ÏÈ û‰BƒÈ ÚR ºŸÄ ‰B‡ ÇÌÈ ô‰ ÏÈ û‰ ÚË ÇÌÈ ô‰ ÏÈ ±ÊŸÄ ‰BƒÈ ÚR ºŸÄ ‰B‡

ÇÎÈ ô‰ ÏÈ û‰ ÚË ÇÎÈ ôŸ‰ fBr $kŽü $B ô‰ )ä‰r

---

۱- کله چې آسمان ټوټې ټوټې شي. ۲- او خپل رب لره به غوږ شي او همدغه ورته ښایي. ۳- اوکله چې خوره کړی شي دا ځمکه. ۴- او راواچوي هر څه چې وي په دې کې او خالي شي. ۵- او خپل رب لره به غوږ شي او همدغه ورته ښایي.

---

۱-۲: دغه آسمان چې نن زمونږ د کور د چت په څېر دی او ټول هغه ستوري چې په خپلې غېږ کې ئې نیولي او په خپلو کې له تصادم او ټکره ئې مخنیوی کوي، د قیامت په رارسېدو سره به شق شق او ټوټې ټوټې شي او ستوري به ئې خواره واره، لکه څنګه چې نن د الله په وړاندې منقاد او تسلیم دی او د الهی اوامرو اطاعت کوي او په کامل انقیاد سره، د هغو ضوابطو او سننو مطابق خپله دنده ترسره کوي چې الله تعالی وضع کړي، د قیامت په ورځ به هم د الله تعالی حکم ته غاړه کېږدي او ټوټې ټوټې به شي، له ده سره همدا ښایي.

**۳-۵**: ځمکه به خوره او اواره کړی شي، په دوه معنا:

الف: د ځمکې دا اوسنۍ لوړې ژورې او دا جګ جګ غرونه چې يوه سیمه ئې له بلې جلا کړې او د خلکو تر منځ حایل شوي، دا به له منځه ولاړ شي او ځمکه به په پراخ او اوار میدان بدله شي.

ب: ځمکه به تر اوسنۍ کچې زیاته پراخه شي او په داسې پراخې ځمکې به بدله شي چې په خپلې غېږ کې ټولو هغو انسانانو ته ځای ورکړی شي چې د انسان له پیدا ښېښته د قیامت تر ورځې پیدا شوي.

قرآن وايي چې د ځمکې او آسمان د اوسني نظام له متلاشي کېدو وروسته به نوی آسمان او نوې ځمکه پیدا کړی شي، په نوي نظام کې به له يوې خوا ځمکه اواره وي او له بلې خوا تر اوسنۍ کچې ډېره پراخه، راشئ د دې مطلب په وړاندې هم لږ توقف وکړو او وګورو چې ننی علم او ساینس په دې هکله څه وايي؟ آیا له اوسني مقداره د ځمکې د مزید پراخېدو امکان ردوي او که ئې تائیدوي؟!! محققین او د ژور نظر خاوند څېړونکي دې حقیقت ته په پام سره چې کائنات په مسلسل او پرله پسې توګه پراخېږي، دې نتیجې ته رسېدلي چې که مونږ هر څومره شا ته نظر وکړو او څو ملیونه کاله مخکې د کائنات حجم معلوم کړو نو دا به راته جوته شي چې هر څومره شا ته درومو د کائنات پرخوالی او حجم ووړ مومو، په دې شا ته تګ کې به سلهاوو او زرهاوو ملیونه کاله مخکې ټول کائنات د يوې وړې کُرې په اندازه او تر هغه مخکې د فټبال د يوه توپ په اندازه او له هغې ستړې

چاودنې څو ثانيې وروسته به ئې د يوې منې په اندازه ومومو چې د دې عالم د تکوين او جوړېدو په سر کې شوې. دا عالم له هغې شېبې تر اوسه او تر پايه به په مسلسل او پرله پسې توګه پراخېږي، دوی له څپلو ژورو او پراخو څېړنو وروسته دې نتيجې ته رسېدلي چې که د اتم د زړه او هغو الکترونونو تر منځ چې په چاپېر ئې راچورلي، موجود واټن لږ زيات کړی شي، نو زمونږ د ځمکې حجم به له اوسني مقداره په مليونهاوو ځله زيات شي او که دا واټن لږ له اوسني مقداره راکم کړو نو حجم به ئې د اوسني حجم مليونمه برخه شي.

قرآن په دې هکله فرمايي:

وَالسَّمَآءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ * الذاريات: ۴۷

او آسمان مو په خپل لاس جوړ کړ او مونږ ئې پراخوونکي يو.

هر با انصافه عالم او هر باشعوره انسان به په دې اعتراف وکړي چې دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دی، دا هغه حقيقت دی چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ويلی او انسان د شلمې پېړۍ په وروستيو کې پرې پوه شوی.

۴ ـ د نوي نظام له راتلو وروسته به زمونږ دا ځمکه (چې له اوسني مقداره به ډېره پراخه شوې وي) ټول هغه څه له خپلې سينې بهر راوباسي چې الله تعالی ئې د راايستلو امر ورته کوي او تشه به شي، لکه څنګه چې نن خپل پالونکي رب ته مطيع او منقاد ده، خپلې دندې په بشپړ انهماك سره سر ته رسوي، په هغه باران سره چې له آسمانه ورېږي، په خپلې سينې کې د ژوند زړي راوېښوي، وده ورکوي، په خپلې غېږ کې ئې پالي، ښکلي او سمسوره بوټي او ونې راټوکوي، دانه او مېوه توليدوي، زمونږ لپاره رزق او روزي برابروي، مونږ ته ئې په خپلې غېږ کې ځای راکړی، هر څه ئې زمونږ په خدمت کې، مونږ ته مسخر او رام، د قيامت په ورځ به د خپل رب حکم ته غاړه کېږدي، د انسانانو ټول هغه مړي به ژوندي بهر راوباسي چې په خپلې سينې کې ئې تر خاورو لاندې ساتلي، له ځمکې سره همدا ښايي او اوسنۍ وضع ئې په دې شهادت ورکوي چې همدا کار به کوي.

څوك چې بيا ژوندون محال ګڼي او دا ورته ګران برېښي چې خاورې شوی

انسان به بېرته راژوندی کېږي، مګر دا هره ورځ د بیا ژوندي کېدو صحنې په خپلو
سترګو نه ګوري؟!! مګر دې ته ئې پام نه دی چې دا ځمکه تل هغه مړه توکي بېرته
ژوندي بهر راباسي چې ومري او تر خاورو لاندې شي؟ د دغو صحنو له لیدو سره
سره څنګه او په کوم دلیل له آخرت او بیا ژوندونه انکار کوي؟!!

---

št ÎrœôB $B'ù ÇÏÈ ïŠÉ=Bù %[n%. 7Ïf 4<Ĵ ÎyŠ%. 7Rĵ ß» ¡ RÏJ$$gƒ'»ƒ

¾ïÎd& #<ĵ Ü î)Zƒr ÇÑÈ #ŽÅ„ $Y$ ¡ ïm Ü ™$tã $ ö¡ ù ÇÐÈ ¾ïÏŠÜ‹Î ¼çƒ7»GÏ

#Yqç6è(qãƒ $ ö¡ ù ÇÉÈ ¾ÍÌôß ä!‘r ¼çƒ7»GÏ ’ÎrœôB $B&r ÇÈÈ #Yrçô B

`9©b& £ß ¼çRĵ ÇÌÈ #‘rçôB ¾ïÎd& þÎ b%. ¼çRĵ ÇËÈ #Ž•Ïè™ 4?Á ƒr ÇÊÈ

ÇÎÈ #ŽÅ / ¾ÏÎ b%. ¼ç/‘ bĵ #?/ ÇÍÈ ‘qç

---

۶- آی اې انسانه! بې شکه چې دا ته یې د خپل رب په لور په هڅه
هاندکوونکی، نو مخامخېدونکی به ئې وې. ۷- نو هغه چې په ښي لاس کې
ئې ورکړی شي لیك پاڼه. ۸- نو ژر به محاسبه شي په آسانې محاسبې. ۹- او
ورګرځي به خپل اهل ته خوشحاله. ۱۰- او هغه چې له شا نه به ئې ورکړی شي
لیك پاڼه. ۱۱- نو ژر ده چې مرګی به ځانته بولي. ۱۲- او لمبو کې (د دوزخ)
به ننوځي. ۱۳- دی خو خپل ټبرکې وو خوشحاله. ۱۴- ده ګمان کاوو چې وبه
نګرځي هیڅکله! ۱۵- هوکې ولې نه چې، رب ئې وو د ده لیدونکی!

---

۶ – په دنیا کې ستا هڅه او هاند په حقیقت کې د الله په لوري ستا د حرکت
یوه هڅه ده، هر ګام چې مخکې ږدې او هره لوړه ژوره چې په زحمت سره ترې اوړې،

په حقیقت کې د الله په لور درومې، د هغه په وړاندې د ودرېدو لپاره یو واځې پلې کوې، د دې شاق او ستونزمن سفر په پای کې، که دې باور وي او که نه، که وغواړې او که نه، خدای ته رسې او د هغه په وړاندې ودرېږې او ورسره مخامخ کېږې.

۷-۹: چا ته چې په دغه ورځ خپله عمل پاڼه په ښي لاس کې ورکړی شي، محاسبه به ئې آسانه وي، خوښ او سر لوړی به خپلوانو ته راګرځي. دا آسانه حساب به څنګه وي؟ ابن عمر رضي الله عنه ئې توضيح کوي:

عن بن عمر قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول يدنى المؤمن يوم القيامة من ربه عز وجل حتى يضع عليه كنفه فيقرره بذنوبه فيقول هل تعرف فيقول أي رب أعرف قال فإني قد سترتها عليك في الدنيا وإني أغفرها لك اليوم فيعطى صحيفة حسناته. رواه مسلم والبخاري

له ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې وايي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې واورېدل چې فرمایل ئې: د قیامت په ورځ به یو مؤمن بنده خپل رب ته نږدې کړی شي، حتی چې الله تعالی به خپل لاس پرې واچوي او په خپلو ګناهونو به اعتراف ترې واخلي او ورته وبه وايي: آیا دا او دا (ګناه) دې پېژنې، وبه وايي: هو؛ زما ربه، پېژنم ئې، الله تعالی به وفرمايي: په دنیا کې مې پرده پرې واچوله او دا دی نن ئې درته بخښم، نو د ښېګړو پاڼه به ئې ورکړی شي.

په دې مبارك حدیث کې د مخلص بنده په اړه د مهربان رب پراخ عنایت او ستر لطف انځور شوی، چې د محاسبې په وخت کې به هغه خپلې خوا ته راوغواړي، ښه به ئې ځان ته نږدې کړي، داسې به ئې ورنږدې کړي لکه څوك چې یو ګران دوست د دې لپاره خپل تخرګ ته ورنږدې کوي او خپل لاس پرې اچوي چې یوه پټه مهمه خبره ورته وکړي، داسې چې بل څوك ئې وانه وري، الله تعالی به په دغسې حالت کې هغه ته خپل اشتباهات ورپه یاد کړي، ټول به ورته وبخښي، هیڅوك به پوه نشي چې د ده او رب تر منځ ئې څه تېر شول، عمل پاڼه به ئې ورته ورکړي خو یوازې ښېګړې به په کې درج وي او اشتباهات به ئې ترې حذف شوي وي، خوښ او په

ځګو سترګو به خپلوانو ته راوګرځي.

پيغمبر عليه السلام فرمايي: زما د امت له اوياوو زرو سره به آسان حساب وشي:

... فتنجو أول زمرة وجوههم كالقمر ليلة البدر سبعون ألفا لا يحاسبون. رواه البخاري

لومړۍ ډله به وژغورلی شي، مخونه به ئې د څوارلسم سپوږمۍ په څېر ځلېږي، هيڅ حساب به ورسره نه کېږي.

عن عائشة قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من حوسب يوم القيامة عذب فقلت أليس قد قال الله عز وجل فسوف يحاسب حسابا يسيرا فقال ليس ذاك الحساب إنما ذاك العرض من نوقش الحساب يوم القيامة عذب. رواه البخاري

له عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له چا سره چې د قيامت په ورځ محاسبه وشي نو عذاب به ئې په برخه شي، ما ورته وويل: مګر الله تعالی نه دي فرمايلي چې ژر به آسانه محاسبه ورسره وشي، وئې فرمايل: دا محاسبه نه ده، دا فقط (خپل عملونه ئې) ورښودل دي، له چا سره چې د حساب مناقشه وشي عذاب به ئې په برخه شي

عن أبي هريرة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال لن ينجى أحدا منكم عمله قال رجل ولا إياك يا رسول الله قال ولا إياي إلا أن يتغمدني الله منه برحمة ولكن سددوا. رواه البخاري

له ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسو هيڅ يو به داسې نه وي چې خپل عمل ئې وژغوري، چا ورته وويل: يا رسول الله حتى تا هم؟! وئې فرمايل: حتى ما هم، مګر دا چې الله تعالى مې په خپل رحمت کې ونغاړي، خو ځان سم کړئ.

عن ابي هريرة يقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يدخل الجنة من امتي

سبعون الفا بغير نجاسة فقال عكاشة يا رسول الله ادع الله ان يجعلني منهم فدعا له. صحيح ابن حبان

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زما د امت اويا زره به له هره نجاسته پاك جنت ته ننوځي، عكاشه رضي الله عنه وويل: يا رسول الله! دعا راته وكړه چې زه له دغو څخه وم، پيغمبر عليه السلام ورته دعا وكړه.

۱۰-۱۱: خو هغه څوك چې عمل پاڼه به ئې له شا وركړی شي، د مرګ تمنا او هيله به كوي، وايي به كاش نه وی راژوندی شوی، كاش خاورې وی، كاش مرګ مې په برخه شوی وی او دا صحنه مې نه وی ليدلې، دا به هغه څوك وي چې له الله تعالی سره د مخامخ كېدو ورتيا نلري، مجرم، خائن، عاصي، بدكار، سركښ، مشرك او له الله تعالی او د هغه له نعمتونو منكر دی، الله تعالی هم نه غواړي د ده ناولی مخ وګوري، عمل پاڼه به ئې له شا او په كيڼ لاس كې وركول كېږي.

۱۲- د دوزخ د سره اور لمبو ته به ننوځي.

۱۳- دا ځكه چې په دنيا كې ئې په بشپړه بې باكۍ او بې پروايۍ كې غيرمسئولانه ژوند كړی، په ګناه كې خوښ وو، نه ئې له الهي محاسبې څه اند ېښنه وه او نه د دوزخ له اوره څه وېره.

۱۴- ګمان ئې دا وو چې هر څه په همدې دنيوي ژوند كې راخلاصه كېږي، نه د الله لوري ته ورتګ شته او نه د آخرت او حساب و كتاب ورځ.

۱۵- د ده د دې غلطې انګېرنې خلاف به خامخا د الله په لور درومي او حتماً به له الهي محاسبې سره مخامخ كېږي، دا ځكه چې الله تعالی ئې د عملونو ناظر دی، مونږ چې مخلوق يو او زمونږ هر استعداد الهي وديعه او امانت دی، چې كله مو د چا ښه او بد تر سترګو شي، حتماً سزا وركوو، كه نور هيڅ نه وي ښه ئې ستايو او بدو ته ئې بد وايو، غواړو د ده ښو ته ښه بدله وركړو او بدو ته ئې بده سزا، كه مونږ دا كار كوو مګر هغه خدای چې بصير دی او مونږ ته د قضاوت مَلَكه او استعداد هم ده راكړی، هغه به د خپلو بندګانو د عملونو په هكله قضاوت نه كوي،

ځینې به جنت او ځینې به دوزخ ته نه بیایي؟!!

---

ûã.ž!9 Ç︎È ,¡ @$#Œ︎]︎ ì J)ø$r Ç︎È ,™r $Br ÈÒø$r Ç︎È Èÿ±9$# ãÅ%Ø\x ù

Ç︎È 9︎7Û `ã $)7Û

---

۱۲- نو نه، زما دې لوړه په شفق وي. ۱۷- او په شپې او څه چې ونیسي په غبرګ کې. ۱۸- لوړه په سپوږمۍ چې مکمله شي. ۱۹- حتماً به له یوه پوړه؛ بل پوړ ته او چت درومئ.

---

۱۲-۱۹: د شپې او سپوږمۍ بېلابېل حالت د دې ننبه ده چې مرګ د ژوند پای نه؛ بلکې د ابدیت په لوري یو پړاو دی، د دغه ادعا د اثبات لپاره په دې آیتونو کې په لاندې شیانو لوړه شوې:

په شفق: د آسمان د ژۍ هغه سره ګاره چې د لمر په لوېدو پسې راڅرګنده شي، په شپه او هغه څه چې په خپلې غېږ کې ئې نیسي او خپل تور وزر ورباندې غوړوي او په سپوږمۍ چې کله بشپړه شي.

د دغو دریو قسمونو ځواب او هغه مطلب چې پدغو قسمونو سره ئې اثباتول په نظر کې دي، دا دی: تاسو به حتماً له یوې پوړې بلې ته پورته کېږئ.

راشئ وګورو چې دا قسمونه له ځواب سره څه ارتباط لري او څنګه دا خبره ثابتوي چې انسان به حتماً له یوه حالت نه بل ته خوځېږي؟

دې پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره باید لاندې خبرې په نظر کې ولرو:

د انسان د مرګ په اړه دوه انګیرنې او تحلیلونه درلودی شو:

الف: مرګ د توقف او رکود حالت دی، په مرګ سره انسان له خوځښت او حرکت نه ودرېږي او کار ئې پای ته رسي، مرګ د ده د ژوند او خوځښت وروستی پړاو دی.

ب: مرګ یو مقطعي حالت دی؛ د انسان د هغه مسلسل او پای نه منونکي خوځښت یو حالت چې انتهاء نه لري، مرګ له یوه حالت نه بل حالت ته یو حرکت دی، مرګ د یوه ژوندون پای او د بل پیل دی، په مرګ سره د هغه چا په لوري درومو چې دا ژوند ئې مونږ ته راکړی.

څوك چې له بیاژوندونه انکار کوي هغه پدې باور وي چې مرګ رکود او سکون دی، په مرګ سره ژوند پای ته رسېږي او حرکت ئې په ټپه ودرېږي، له هغه وروسته بله مرحله او بل پړاو نشته، په مرګ سره د انسان د بدلون او له یوه حالت نه بل ته د خوځېدو سلسله ئې متوقف کېږي، دوی پدې عقیده دي چې د انسان هغه ژوند چې له یوې نطفې پیل شي، وده وکړي، د یوه ماشوم په څېر دنیا ته راشي، ځوانی ته ورسېږي، زوړ شي، زوال ئې پیل شي، په مرګ محکوم شي او په همدې مرګ سره ئې هر څه پای ته ورسېږي.

خو الله تعالی دوی ته په ځواب کې فرمایي: داسې نده، نور پړاوونه هم په مخکې لرئ، حتماً به له یوه حالت نه بل ته د تلو لړۍ دوام کوي، له مرګ نه وروسته نور مراحل هم په مخ کې لرئ، له یوه پوړه به بل ته پورته کېږئ، د بې نهایت په لوري دوامدار او مستمر حرکت کې به نور مراحل هم پلي کړئ. د دغې ادعا د اثبات لپاره په څو مشهود او ملموس طبیعي شیانو استشهاد شوی:

۱- په شفق چې د ورځې پای او د شپې پیل اعلانوي. ۲- په شپه چې هر څه له سترګو پټوي. ۳- په سپوږمۍ چې له مختلفو پړاوونو تېره او بشپړه شي.

تاسو پدې نړۍ کې د مسلسل بدلون شاهد یاست، ګورئ چې ورځ پای ته ورسېږي، د آسمان لمنه سره شي، شفق راڅرګند شي، شپه راورسېږي، خپل تور وزر په هرڅه وغوړوي، څو ساعته وروسته ختمه شي او خپل ځای ورځ ته پرېږدي، آیا دا صحیح ده چې د هرې شپې ورځې مرګ د هغه دائمي پای وګڼو او ووایو: بله شپه او ورځ به رانشي؟ سپوږمۍ ګورو چې د میاشتې په پیل کې رابره شي، وړه وي، په تدریج سره ستره شي، مکمله شي خو بیا په تدریج سره وړه شي، داسې چې د میاشتې په پای کې له سترګو پټه شي. آیا دا سمه ده چې د سپوږمۍ له مؤقتې

پتہېدو نه دا ګمان وکړو چې بیا به طلوع نه کوي او راڅرګنده به نشي؟

د شپې ورځې تګ راتګ، د سپوږمۍ طلوع او غروب او ستربېدل وربېدل، پتہېدل او څرګندبېدل ئې دا ښيي چې دا نړۍ د مسلسل او مستمر تحول او بدلون صحنه ده، هر څه له يوه حالت نه بل حالت ته درومي، په هيڅ مقطع او هيڅ نقطه کې توقف او سکون نشئ موندی، د بيا ژوندون منکرين هسې او بې ځايه، مرګ ته د سکون او توقف او د بدلون د پای په سترګه ګوري، دا انګېرنه له هغه څه سره ټکر او تصادم کوي چې د نړۍ له مشاهدې نه ئې ترلاسه کوو. د دې غلطې او بې بنسټه انګيرنې د اثبات لپاره هيڅ دليل، د دې ټولې پراخې نړۍ له هيڅ ګوټ نه نشو وړاندې کولی.

---

è@/ ÇÈ ) br‰ã ó„ Ÿw ã#äò$Ï÷ã —Ì%ê#Œ)r ÇÈ bqã#sãŸw Ÿωç $Jù

NèŽÅ7ù ÇÌÈ šc qãqã$JÎ ã-æ& ª!$#r ÇÈ šc qç/É3ã(rãŸ. ûïÏ%$#

ŽöîŠíô‰Ï& óΟßγs9 ÏM»ysÎ=Á9$#(qè=Ïãr (qãΖtΒ#ä ûïÏ%$#ωÎ) ÇÍÈ AΟŠÏ9& A>#‹yèÎ/

ÇËÎÈ ¥βqãΖøÿxΒ

---

۲۰- نو څه شوي په دوی چې ايمان نه راوړي؟ ۲۱- او چې قرآن پرې ولوستی شي سجده نه کوي؟ ۲۲- بلکې دروغ ئې ګڼي هغه چې کافر شول. ۲۳- او الله خو ډېر ښه پوه دی په هر څه چې غونډوي ئې. ۲۴- نو ورکړه ورته زيری د دردناك عذاب. ۲۵- مګر هغه چې ايمان ئې وي راوړی او ښه ښه عملونه ئې وي کړي، چې دوی ته به وي اجر نه غوڅېدونکی.

---

۲۰-۲۱: د دغو حقايقو ليدو او د دغو مضبوطو دلايلو له اورېدو سره سره

څنګه ایمان نه راوړي، څنګه پرې کافر شوي؟!! ولې الله ته له ورګرځېدو منکر دي او مرګ د خپل سفر پای ګڼي؟!! ولې د قرآن د دومره قوي دلایلو په وړاندې سر نه ټیټوي، دا حقیقت نه مني او له لجاجته لاس نه اخلي؟!!

له یوې خوا دا عالم چې د الله تعالی (مشهود کتاب) دی، هره پاڼه او هر توکی ئې په دې شهادت ورکوي چې د منکرینو دا عقیده باطل او سراسر غلطه ده چې مرګ د ژوند پای او د خپل سفر آخري منزل ئې ګڼي او تلپاتې رکود او خمود ئې شمېري، له بلې قرآن دا د الله تعالی هغه مقروء کتاب چې د عالم هر څه ئې د مدعا تائید کوي او په حقانیت ئې شهادت ورکوي، دوی ته وایي چې مرګ د دائمي رکود او توقف پیل نه دی بلکې د نوي سفر پیل دی، په مرګ سره د الله په لوري درومئ، سره له دې ولې باور نه کوي، د قرآن د عظمت په وړاندې سر نه ټیټوي او الله ته سجده نه کوي؟!!

یعنی هم د دې خور او پراخ عالم هر څه څرګنده نښه او آیت دی چې انسان په دغه حقیقت باور ته رابلي او هم د قرآن آیتونه مونږ ته دا حقیقت ثابتوي او د ایمان بلنه راکوي، دا دواړه او په ګډه، هر سترګور انسان دې ته رابلي چې الله ته غاړه کېږدي او په آخرت باور وکړي.

دا مبارك آیت د قرآن جلال او عظمت بیانوي او مونږ ته وایي: د باعظمته قرآن ترڅنګ به په بې اعتنائي او بې باکۍ نه تېرېږئ، بلکې د دې عظیم الشأن کتاب د آیتونو په اورېدو سره باید د هغه رب په وړاندې سرونه ټیټ او تندی پر ځمکه کېږدئ چې دا لویه پېرزوینه ئې پر مونږ کړې او دا کتاب ئې رالېږلی. د احنافو له نظره د قرآن څوارلس آیتونه داسې دي چې په اورېدو او لوستو سره ئې سجده راباندې واجبه کېږي او دا آیت یو له هغو څخه دی. څوك چې دا آیتونه تلاوت کړي یا ئې واوري باید د تلاوت سجده وکړي، خو که په یوه مجلس کې ئې څو څو ځله واوري، یا ئې د تدریس، حفظ او تلاوت په دوران کې په یوه وخت کې څو ځلې تلاوت کړي یا ئې واوري، نو د ټولو په پای کې یوه سجده ورته کفایت کوي، خو په بیا تکرار سره نوې سجده لازمېږي، که له مجلسه ووتې او په بیا راتلو سره هغه

آیت بیا تکرار شو بیا به د تلاوت سجده کوې. (امام شافعی رحمه الله ئې څوارلس سنت سجدې، امام مالك رحمه الله ئې ۱۱ او امام احمد ئې پنځلس ګڼي.

۲۲- خبره داسې نه ده لکه چې د آخرت منکرین ئې وایي او ادعا کوي چې نه د کائنات او عالم څرګندو نښو قانع کړي او نه د قرآن آیتونو دوی ته قناعت ورکړی، بلکې اصلي خبره دا ده چې دوی له دې حقیقته عمداً او قصداً انکار کوي، زړه او دماغ ئې پرې قانع دي خو هوی او هوس ئې انکار او تکذیب ته اړ باسي.

۲۳- الله تعالی ښه پوه دی په هغه څه چې دوی ئې راغونډوي او دا په څو معناوو:

- ټول هغه افکار، نظریات، عزایم او د زړونو غوښتنې ئې چې دوی په خپلو سینو کې راغونډ کړي.
- د دوی د ټولو عملونو حاصل او نتایج چې دوی ترلاسه کړي.
- هغه مال او دولت ئې چې راغونډ کړی ئې دی.

لومړی معنا په دې دلیل تر نورو دقیق او موزون ده چې له مخکنیو آیتونو سره ئې یوالی همدا غوښتنه کوي او په ګډه دا مطلب افاده کوي چې: له آخرته انکار کوونکي عمداً او قصداً له دې حقیقته انکار کوي، په داسې حال کې چې زړه او دماغ ئې د هغه په حقانیت شهادت ورکوي، د دوی په هکله دا قضاوت د هغه علیم او پوه ذات له لوري دی چې د دوی د سینو اسرار ترې پټ نه دي، ښه پوهېږي چې دوی په خپلو سینو کې څه راغونډ کړي.

۲۴-۲۵: له آخرته دا انکار کوونکې ډله، له خپل دې دروغجن باور او له خپل هغه دریځ او کړو وړو چې له دې باوره څرګندېږي، د ښو پایلو او غوره نتایجو انتظار لري، ګمان کوي چې تل به ښه زېری پرې کېږي، خو د دوی د غلط انتظار خلاف د دردناك عذاب زیری ورکړه.

انسان کله داسې شي چې له خپلو بدو کړو وړو او غلطو تګلارې هم د ښو پایلو انتظار کوي او پرې راضي وي، لکه چې قرآن فرمایي:

كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ

هره ډله په هغه څه خوښه وي چې ورسره دي.

دغې ډلې ته ووايه: ستاسو د توقع او انتظار خلاف، دردناك عذاب درته منتظر دی، له دې دردناك عذابه يوازې هغه څوك ژغورل كېږي چې ايمان راوړي او نېك عملونه وكړي، چې په دې صورت كې به تلپاتې، پای نه موندونكی او نه شلېدونكی اجر ترلاسه كوي.

# البروج

## د سورې معرفي

د (البروج) مبارکه سوره په مکه کې او د (الشمس) له سورې وروسته نازل شوې، ۲۲ آیتونه لري، د سر آیتونه ئې لنډ لنډ دي چې ورو ورو اوږده شوي او منځني ئې لږ اوږده دي، خو دا اوږده هم هر یو له څو داسې فقرو جوړ شوي چې وزن او اوږدوالی ئې لنډو آیتونو ته ورته دی، بیا ورو ورو بېرته رالنډېږي او د پای آیتونه ئې د لومړنیو په څېر کېږي، د لومړیو اوو آیتونو فواصل ئې بروج ته ورته هموزنه صیغې دي، له اتمه د سورې تر پایه اکثراً حمید ته ورته دي خو د ۱۴، ۱۷، ۱۸او آخري آیت ئې بروج ته ورته د ودود، جنود، ثمود او محفوظ صیغې دي. د اوزانو مد او جذر آیتونو ته ډېر ښایسته وزن او غږ ورکړی. د سورې له مضامینو او لهجې په وضاحت سره معلومولی شو چې دا سوره په څنګه شرایطو کې نازل شوې او هغه وخت د پیغمبر علیه السلام او د ده مؤمن یاران له څنګه حالت سره مخامخ وو او دښمنانو څه ورسره کول. د دې سورې خلاصه دا ده چې ظالمان بې الهي انتقامه نه پاتې کېږي.

په دې سوره کې ګورو چې د داسې خندقونو خاوندان په کې انځور شوي چې ستر اور ئې بل کړی او د خپل دور مظلوم او بې وزلي مؤمنان په دې خاطر په کې

اچوي او سوزوي ئې او د دوی له سوزولو خوند او لذت اخلي، چې ولې ئې په مالك الملك خدای ايمان راوړی!!

د دې قصې رانقلول او د سره اور د هغو خندقونو د خاوندانو پاڼلې ځېړل چې بې وزلي مؤمنان ئې په کې سوزول او دوی د ستر عذاب وړ ګڼل، په خپله دا ښيي چې د دې مبارکې سورې د نزول په وخت کې پيغمبر عليه السلام او ياران ئې له ورته حالت سره او د خپلو مخکنيو باايمانو ورونو په څېر له کړاوونو سره مخامخ وو.

د بروج د مبارکې سورې په آيتونو کې په لږ غور سره دا خبره راته جوته کېږي چې دا سوره په داسې شرايطو کې نازل شوې چې مؤمنانو ته د مکې تنګه وادي د اور په يوه خندق بدله شوې وه، چې د ظلم او تجاوز لمبو ئې له هرې خوا دوی احاطه کړې وو، ابولهب (د اور د لمبو پلار) اورونه ورته بل کړي او مېرمنه ئې (حمالة الحطب) شوې، خس او خاشاك په اوږو راوړي، په دې اور ئې اچوي او لمن ورته وهي، دوی دواړو او د دوی په څېر ډېرو نورو هرې خوا ته د فتنو اورونه بل کړي، لګيا دي د مکې مشرکان هڅوي، د پيغمبر عليه السلام او د ده د يارانو په ضد د خلکو غصه او قهر راپاروي او نه پخلا کېدونکې عداوت، جدي مخالفت او پرېکنده اقدام ته ئې تياروي، د امت فرعون ابوجهل (د جهالت پلار) د شرك او جهل مدافعين دې ته تيار کړي چې د مکې دا تنګه وادي د مؤمنانو لپاره د تعذيب او کړولو په ډګر بدله کړي، تور زندان ترې جوړ کړي او د ژوند مجال پرې تنګ کړي، د اختناق، وېرې او خوف فضاء جوړه کړې، هلته بلال د اميه بن خلف مريی ګورې چې د جزيرة العرب، د ډېرې ګرمې ورځې په تکنده غرمه کې ئې، بربنډ څملولی، داغ او درنې تيږې ئې پر سينه ورايښې، پرله پسې ئې په درو وهي چې يا په الله له ايمانه لاس واخلي او يا د خپل آقا له دينه د بغاوت سزا وڅکي!! او په دې سره د ده د آقا (اميه بن خلف) غصه سړه شي او د قهر د اور لمبې ئې کښېني!! په بلې ګوښې کې خباب بن ارت ګورې چې بربنډ ئې د اور په سکروټو پرېستی او تر هغه ئې پرېښې چې دا سکروټې د مظلوم خباب د تڼاکو نو مړې کړې او هغه بلې خوا ته د آل

یاسر (دیاسر کورنۍ) ګورې چې له ګڼ شمېر نورو مظلمو مؤمنانو سره د صحرا په هغه زندان کې ساتل کېږي چې له تودوخې تنور ته ورته دی، هر سبا او ماښام درې خوري، له تودوخې، تندې او عذابونو مري، د یاسر د مېرمنې، سمیه، دا د اسلام لومړنۍ شهیده، سینه ئې د ابوجهل په نېزې سورۍ کېږي او په شهادت رسېږي ... او ....

د ابتلاءاتو او کړاوونو په دې سخت حالت کې دا لنډه سوره، له جازمو پرېکړو، پرېکنده قضاوتونو او قاطع ګواښونو سره نازلېږي. د دې مبارکې سورې آیتونه له یوې خوا د قریشو بې رحمه او ظالمو مشرانو ته چې بې وزلې مسلمانان ځوروي دا وایي چې د ظلم پایلې ئې وخیم او خطرناکې دي او له هغه عاقبت سره به ئې مخامخ کړي چې مخکنې ظالمان، اصحاب الاخدود، فرعون او ثمود ورسره مخامخ شوي وو، له خپل زور، ځواك نه په استفادې سره او د موحدینو او خدای پالونکو په کړولو او ځورولو سره نشي کولی له دې بدو پایلو ځان وژغوري او د حق د برې مخه ونیسي. له بلې خوا مؤمنانو ته، هغو ته چې د تاریخ په دې پړاو کې له حق او عدل نه دفاع او د ایمان طرف ته د بلنې بیرغ ئې پورته کړی وایي چې د ایمان لار له لوړو ژورو او کړلېچونو ډکه ده، په اغزو پوښل شوې، په دې لارې تګ صبر او زغم غواړي، عزم او همت غواړي، هغه ځوك پرې تلی شي چې قربانۍ ته تیار وي، خطرونه ګاللی شي، هره پېښه په ورین تندي منلی شي، د دې لارې په اوږدو کې ښایي کله داسې حالت هم راشي چې پر مخکنیو راغلی وو، پر هغو چې د سره اور په کندو کې وسوزول شول، ښایي تاسو هم دې ته له ورته کړاوونو او ابتلاءاتو سره مخامخ شئ، له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په وخت کې باید د خپلو مخکنیو ورونو په څېر صبر وکړئ، د هغو په څېر شئ چې د اور کندو ته لوېدل ئې ومنل خو کفر ته تسلیمېدل نه، په پوره مېړانې، صبر او استقامت سره په خپل ایمان ټینګ پاتې شول. د دوی په څېر به دښمن ته له تسلیمېدو، په هره بیه چې وي، ډډه کوئ، په دې پوه شئ چې د الله تعالی نیونه ډېره سخته ده، د هرڅه او هر حالت پیل او پای د ده له لوري دی، هر بدلون د ده په اراده راځي، له اوسني حالت

نه مخکښي ته ګرځول د ده په حکم ترسره کېږي، که ئې څوك واکمن کړ، واك او ځواك ئې ورکړ، د ضعف او کمزورۍ له حالته ئې د قوت او ځواکمنۍ حالت ته ورساوو، بايد په خپل زور ځواك مغرور نشي، په نورو لوېي او کبر ونکړي او له خپله ځواکه د مظلومانو او بې وزلو په کړولو او سپکولو کې کار وانخلي، په دې دې پوه شي چې دا طاقت او قدرت ئې تلپاتې او دائمي نه دی، زوال ورپسې دی، دې ته ئې بايد پام وي چې دا هستي داسې پالونکی رب لري چې د هر څه د پيل او پای پرېکړه هغه کوي، هغه چې بخښونکی او ودود دی، له باايمانه بندګانو سره مينه لري، يوازې ئې نه پرېږدي، دا نشي منلی چې د ده مخلص بند ګان دې د تل لپاره تر ظلم لاندې او له کړاوونو سره مخامخ وي، حتماً به خپل رعايت، عنايت او ولايت د دوی په حال شاملوي، هغه د ټول عالم مالك او ملك دی، هم ټولواك او هم د هر څه خاوند، ټوله هستي د ده تر عرش لاندې او هر څه د ده د ارادې په وړاندې محکوم او مقهور دي، چې څه وغواړي هغه کولی شي، هيڅ ځواك د ده د ارادې مخې ته نشي خنډ کېدی، تاريخ ته رجوع وکړئ او وګورئ چې د فرعون او ثموديانو په څېر د مغرورو او عاصي ځواکونو شوم عاقبت څنګه وو؟!! همغه چې خپل زور ځواك او خپلو فوځونو او تجهيزاتو غولولي وو.

آيا دا کافران په دې لټه کې دي چې د الله تعالی قطعي او حتمي وعدې تکذيب کړي او د تحقق مخه ئې ونيسي؟! مګر په دې نه پوهېږي چې الله پرې احاطه لري، د هغه د ارادې په وړاندې مقهور دي، په داسې ځای کې اوسېږي چې الله ئې ټولواك او مالك دی او حکم ئې پرې مسلط، يو ضعيف او کمزوری بنده چې د الله د ارادې مقهور دی څنګه به په دې وتوانېږي چې د الله تعالی د قطعي پرېکړو د تحقق مخه ونيسي؟!! په دې پوه شئ چې د قرآن وعد او وعيد، قاطع او جازم پرېکړې او قضاوتونه، خامخا پلې کېږي، قرآن باعظمته دی، له هر تکذيب او لاسوهنې خوندي، چې نه ئې د باطل پلوي ځواکونه وعيد ځنډولی شي او نه ئې د جاهل او ناپوهو مکذبينو هلې ځلې د وعدو د تحقق مخه نيولی شي.

بسم الله الرحمن الرحيم

ÿÏFè ÇÌÈ Šqãåî Br ‰ Ïd$©r ÇÌÈ Ïšqãöqù$Q ö x9$#r ÇÌÈ Æ Erçšš$# ÏN #Œ ä!$K¡ 9$#r

Nèdr ÇÏÈ Šqãè$Ï%æ $ pköŽn=tã öNèd øŒÎ) ÇÎÈ ŠqèŠqø9$# ÏN #Œ Í$Z9$# ÇÍÈ Ïšr߉÷{W{$# Ü=»ptõ¾r& Ÿ@ÏFè%

ÇÐÈ Šqßå ûüÏZÏB÷sßJø9$$Î/ bqè=yèøÿt $tB 4?ã

۱- قسم د برجونو په خاوند آسمان. ۲- او په هغې موعود ورځې. ۳- او په هر شاهد، مشهود. ۴- هلاك شول خاوندان د خندقونو. ۵-(خندقونه د سره) اور او د ډېر سوند. ۶- چې ئې دوی پر غاړه ناست وو. ۷- او شاهد د هغه څه چې مؤمنانو سره دوی کړل!!

۱-۳: لکه چې ګورئ په دريو لومړنيو آيتونو کې په څلورو شيانو قسم ياد شوی: (د برجونو په خاوند آسمان)، (هغه موعود او ټاکلې ورځ)، (هر شاهد) او (هر مشهود). د قسمونو ځواب په څلورم آيت او ورپسې دريو آيتونو کې پدې صيغه مومو:

هلاك شول خاوندان د خندقونو. (خندقونه د سره) اور او د ډېر سوند. چې ئې دوی پر غاړه ناست وو. او شاهد د هغه څه چې مؤمنانو سره دوی کړل!!

بايد وګورو چې د دغو قسمونو معنا څه او څنګه دا ثابتوي چې د خندقونو خاوندان هلاك شول؟!

لاندې ټکيو ته پام وکړئ:

(بروج) له (برج) نه اخيستل شوی چې معنا ئې څرګندېدل او ښکاره کېدل دي، په قرآن کې په دغه معنا څو ځايه راغلې، لکه:

وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى * الاحزاب: ۳۳
او د مخکني جاهليت د ځان ښودنې په څېر ځانونه مه ځرګندوئ.
تَبَارَكَ الَّذِي جَعَلَ فِي السَّمَآءِ بُرُوجاً وَجَعَلَ فِيهَا سِرَاجاً وَقَمَراً مُّنِيراً *
فرقان: ۲۱

مبارك دی هغه ذات چې په آسمان کې ئې بروج (ستوري) رامنځته کړل او په هغه کې ئې روڼ څراغ (لمر) او روښانه سپوږمۍ راپيدا کړه.

وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجاً وَزَيَّنَّاهَا لِلنَّاظِرِينَ * الحجر: ۱۲

او بې شکه چې په آسمان کې مو بروج (ستوري) پيدا کړل او هغه مو ليدونکو ته ښاېسته کړ.

له دغو ورستيو دوو آيتونو په ډاګه معلومېږي چې له بروج نه مراد ستوري دي.

د قرآن له دغو ځرګندو لارښوونو سره سره، متأسفانه ځينو مفسرينو له بروج نه د ستورو په ځای، د يوناني فلسفې هغه دولس ګونې موهومې بروج اخيستې چې د دوی په فلکي اصطلاحاتو کې د لمر د مختلفو منازلو لپاره ټاکل شوي، يونانيانو، د کال په هر فصل کې د لمر دغه منازل او بروج، د خپلو مختلفو خدايانو په نامه مسمی کړي او هر برج ته ئې د خپل يوه خدای نوم ورکړی وو، دا اصطلاحات له يونان نه هغو اسلامي ملکونو ته راکوز شول چې له يونان سره همسرحده وو، ځينې علماء ترې متأثره شول او هغه ته ئې اسلامي رنګ ورکړ.

- د (الْيَوْمِ الْمَوْعُودِ) په هکله د مفسرينو دوه رأيې لرو: ځينې ئې د قيامت ورځ ګڼي او ځينې ئې د مؤاخذې او عذاب هغه ورځ چې الله تعالی په دنيا کې کافرانو او ظالمانو ته ټاکلې. په دوه دليله د مفسرينو د دوهمې ډلې رأيه ارجح او غوره ده: لومړی دا چې په همدې مبارکې سورې کې د دوو باغي او عاصي ډلو بد عاقبت ته اشاره شوې، د فرعون او ثمود ډلو ته چې له مهلت نه وروسته د الله تعالی له شديد بطش او مؤاخذې سره مخامخ شول. لدې نه معلومېږي چې له (الْيَوْمِ الْمَوْعُودِ) نه هغه تاريخي ورځې مراد دي چې دوه بېلګې ئې د فرعون او ثمود په قصه کې ګورو.

او دوهم دلیل دا چې د قیامت په ورځې استشهاد سره دا نشي ثابتیدی چې د اصحاب الاخدود پاېله تباهي او هلاکت دی. دا ځکه چې د قرآن کافر مخاطب نه د قیامت په موعود ورځ باور لري او نه پدې باندې استناد سره دا ادعا مني چې د اور د کندو خاوندان به د هلاکت له پاېلې سره مخامخ شي. (یوم الموعود)) باید داسې ورځ وي چې د قرآن هر مخاطب هغه د یوه مسلم او انکار نه منونکي حقیقت په حیث ومني او په هغه باندې استناد دی قانع کړي چې واقعاً د اصحاب الاخدود په هکله شوې ادعا یو حقیقت دی. که دلته له (یوم الموعود) نه هغه ورځ مراد شي چې ظالمانو ته ئې د رارسېدو خبر ورکړی شوی، په تاریخ کې په وار وار تکرار شوې، هر پیغمبر خپل قوم د هغې له رارسېدو ویرولی، هیڅ مخاطب له هغې انکار نشي کولی، هر څوك چې تاریخ ته رجوع وکړي د دې ورځې څرګندې بېلګې به ئې مخې ته راشي، همغه ظالمانو ته د مهلت وروستۍ ورځ، په دنیا کې د دوی د مؤاخذې ورځ، پدې صورت کې د قسم او ځواب ترمنځ ئې ارتباط کاملاً جوت کېږي.

پدې توګه د لومړي قسم ارتباط له ځواب سره داسې دی: دا له بې شمېره ځلاندو ستورو نه ډك آسمان، پدې حقیقت شهادت ورکوي چې دا کائنات حتماً یو داسې ځواکمن مالك او قهار سلطان او واکدار لري چې دا ټول بې شمېره اجرام ئې اداره کوي، هر یو په خپل خپل ځای او خپل خپل خاص مسیر کې ساتي، د دوی ترمنځ د تصادم او ټکراو مخه نیسي، هر یو په منظم او مستمر طور په همغه ثابت مدار کې خوځوي چې ورته مشخص شوی. دا خور او پراخ آسمان له دغو ټولو بې شمېره خوځنده اجرامو سره او لدې محکم نظم او ضبط سره، پدې شهادت ورکوي چې دا کائنات هسې بې واکداره ملك نه دی، له مهاره وتلی او د ساتونکي او پالونکي واکمن له سلطې او سیطرې فارغه دنیا نده چې په هغې کې هرڅوك هرڅه وکړي، نه پوښتنه وي نه ګرویږنه، نه له ظالم سره حساب وشي او نه د مظلوم لاس نیوی او پوښتنه، نه په نورو تېرې کوونکي مجازات شي او نه له خپل حق نه د محروم شوو چیغې واورېدی شي. د دې هستې ساتونکی او مالك خدای به حتماً د اور د کندو له خاوندانو نه د دې انتقام اخلي چې د ده مظلوم مؤمن بندګان ئې په الله

د ایمان په جرم د اور په کندو کې اچول او هغه به حتماً د دغو مظلومو مؤمنانو پوښتنه کوي او د دوی مظلومانه استغاثه به اوري.

د همدې سورې په څو آیتونو کې الله تعالی د (ملك)، (ذوالعرش المجید)، (فعال لمایرید) او (محیط) په صفاتو ستاېل شوی، داسې چې د سورې په ټولو مضامینو ئې سیوری غوړولی، دا په خپله ښیي چې د برجونو په خاوند آسمان باندې د قسم موخه دا مطلب ثابتول دي چې دا کائنات داسې باعظمته ساتونکی او پالونکی واکمن لري چې د عرش خاوند دی، په هر څه محیط دی، چې څه وغواړي ترسره کوي ئې. دغه مطلب د الطارق په سورې کې له مزید وضاحت سره راغلی، هلته هم د آسمان په ځلاندو ستورو استناد شوی او د دې ادعا د اثبات لپاره وړاندې شوی چې هرڅوك د الله تعالی د رعایت او حفاظت تر سیوري لاندې دی، داسې لکه د آسمان دا بې شمېره ځلانده ستوري.

د دوهم قسم ارتباط د قسمونو له ځواب سره داسې دی: (همغه پېژندل شوې موعود ورځ)، شهادت ورکوي، (هغه ورځ چې هرڅوك ترې خبر دی)، (هغه چې په تاریخ کې په وار وار تکرار شوې)، (هغه چې د ظالمانو د ظلم تغر پکې ټولېږي او الهي عذاب پدوی نازلېږي)، (د مهلت او فرصت وروستۍ ورځ)، (د ظالمانو د ظلم او تېري د پای ورځ)، دا شهادت ورکوي چې د اصحاب الاخدود پای به هم دې ته ورته وي، آیا نه ګورئ چې د مهلت د پای ته رسېدو نه وروسته له ظالمانو سره څه شوي او مالك الملك خدای څنګه په شدت سره مواخذه کړي، هرڅه ئې پدوی رانسکور کړي، تخت او تاج ئې، قصرونه او بنګلې ئې، داسې چې اوس د دوی وران او ویجاړ قصرونه پدې شهادت ورکوي چې د ظلم پای وخیم او عبرتناك دی، د ظالمانو د تېري لپاره حد او پای شته، خو د داسې کندې چې په یوم الموعود کې هلته رسي او پکې نسکورېږي. ټولو پیغمبرانو او زړه سواندو داعیانو خپل قومونه لدې ورځې وېرولي، لکه چې هود علیه السلام خپل قوم ته وایي:

إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ * الشعراء: ۱۳۵

یقیناً چې زه د لوئې ورځې له عذاب نه په تاسو وېرېږم.

د غافر د سورې په ۳۱ آيت کې د فرعون د کورنۍ د هغه مؤمن کس خبره لولو چې فرعونيانو ته په خطاب کې وايي:

يقَوْمِ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِّثْلَ يَوْمِ الأَحْزَابِ * مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَالَّذِينَ مِن بَعْدِهِمْ وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْماً لِّلْعِبَادِ * غافر: ۳۱

ای زما قومه! زه خو يقيناً چې د نورو ډلو د عذاب د ورځې په څېر د کومې ورځې له رارسېدو نه پر تاسو وېرېږم، د نوح د قوم، د هود او د عاد او لدوی نه وروسته قومونو د پايلې او عاقبت نه او الله خو په خپلو بندګانو د ظلم اراده نه لري.

دربېيم قسم په هر شاهد او ليدونکي شوی، هر د سترګو خاوند چې تاسو ئې پدې دنيا کې ګورئ، د ده د ليدو دا استعداد پدې خبرې دلالت کوي چې د ده پيدا کوونکی به حتماً داسې ذات وي چې د ليدو په صفت به متصف وي، دا نشي کېدی چې مخلوق او مصنوع دې داسې صفت ولري چې د ده خالق او صانع دې همدا صفت ونلري، هر مخلوق او مصنوع په اصل کې د خالق او صانع د صفاتو مظهر وي، پده کې د صانع صفتونه راڅرګند شوي وي، چا چې د نړۍ سترګورو ته سترګې ورکړې او په هغوی کې ئې د ليدلو استعداد ايښی، هغه حتماً بصير (ليدونکی) دی. نو د هر شاهد او ليدونکي وجود د داسې ذات په شته والي شهادت ورکوي چې شاهد او بصير دی، دا صفت هغه د ځمکې پدې شاهدانو کې ايښی، پدې هکله قرآن په بل ځای کې څومره ښه وينا لري:

أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُ أَحَدٌ * أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ * وَلِسَاناً وَشَفَتَيْنِ * وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ* البلد: ۷ـ۱۰

آيا ګمان کوي چې نه دی چا ليدلی؟ آيا ده ته مو ورنکړلې دوې سترګې ؟ او يوه ژبه او دوې شونډې؟ او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟

څنګه ګمان کوي چې نه به د ده د عملونو څارنه کېږي او نه به ئې د کړو وړو په اړه قضاوت، نه ئې اعمال د چا ترسترګو لاندې دي او نه داسې څوک شته چې مکافات يا مجازات ئې کړي؟! په داسې حال کې چې دی په خپله د يوه مخلوق په حيث

سترګې لري، د بصيرت خاوند دى، د خپل مافي الضمير د انعكاس لپاره او د خپلو مشاعرو، عواطفو او احساساتو د بيان لپاره او د خپلو قضاوتونو او پرېكړو د اصدار لپاره د ژبې او دوو شونډو په څېر وسايل په واك کې لري، د نورو د عملونو څارنه کوي، د هر ښه او بد په هكله په خپل زړه کې ملاك لري او په ضمير کې لارښود، (ښه) ور ته (معروف)، له هغه سره آشنا، د هغه په هكله ښه احساس په زړه کې او (بدي) ورته (منكر)، د هغه په اړه په خپل زړه کې د کرکې احساس کوي او له خپل طبيعت او مزاج سره ئې ناآشنا مومي، كه په مخلوق کې دا صفات وي، د ده خالق به څنګه دا صفات ونلري؟! دا له شكه وتلی حقيقت دی چې هر ليدونكی او د سترګو خاوند پدې شهادت وركوي چې د ده پالونكی خدای تر ده زيات ليدونكی، د ده د کړو وړو شاهد او د ده د عملونو څارونكی او قاضي دی. د همدې سورې په ۹ آيت کې همدې مطلب ته اشاره شوې او ويل شوي: او الله په هر څه باندې شاهد دی (وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيد).

o د څلورم قسم ارتباط له ځواب سره دا سې دی: هر مشهود، هر هغه څه چې په سترګو ليدل كېږي، د دې ادعا په حقانيت ځكه شهادت وركوي چې په ټول كائنات کې هيڅ عبث، خوشې، بې فائده او بې هدفه شی نه موندل كېږي، هرې خوا ته چې سترګې ورغړوو، هرڅه ته چې پام وکړو، نظم ګورو، هرڅه سم پيدا شوي، د خاص هدف لپاره پيدا شوي، په هېڅ ځای کې خلا، قصور او فطور نشو ليدی، قرآن ګواښ کوي چې هيڅوك د نړۍ په هيڅ ګوټ کې چاود او خلاء نشي په ګوته كولی:

مَّا تَرَى فِي خَلْقِ الرَّحْمَنِ مِن تَفَاوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَى مِن فُطُورٍ * ثُمَّ ارجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ إِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئاً وَهُوَ حَسِيرٌ * الملك: ۳-۴

د رحمن په مخلوقاتو کې بېلوالی لېدی نشې، نو ورغړوه سترګې، آيا ګورې كوم يو چاود ؟ بيا هم ورغړوه سترګې په وار وار، راګرځي ستا په لور به دغه سترګې نامراده او وي به ارمانجنې.

ښه غور وکړه، خپل ټول توان ځواك وكاروه، هرې خوا ته سترګې ورغړوه، د الله په مخلوقاتو کې ژوره څېړنه وکړه، وګوره چې په دې ټول عالم کې كوم چاود،

خلاء، نقص او قصور په سترګو درځي؟! پدې خور او ستر عالم کې د داسې عیب او نقص د موندلو په طمع به هر محقق او څېړونکی د خپلو سترګو له ستړیا نه پرته بل څه ترلاسه نکړی شي. نو انصافاً ووایئ: څنګه ومنو چې په ټول عالم کې دې کمال، ښاېست، نظم او هدفوالی وي، د ضوابطو التزام، نه دې چېرته خلاء وي او نه قصور او فطور، خو د انسان دا وړه دنیا، دغه چې د ټول کائنات په نسبت له هیڅ سره برابره ده، دلته دې سراسر بې نظمي وي، انسان دې خپل سر ته پرېښودی شوی وي، داسې چې نه ئې د بدو پوښتنه وشي او نه د ښو تپوس، نه مکافات شي نه مجازات، هغه دې حدود مات کړي، ضوابط او قواعد دې ترپښو لاندې کړي، له حق او حقیقت نه دې انکار وکړي، خو نه دې محاسبه ورسره وشي، نه دې پوښتنه ترې وشي او نه دې د کړو وړو سزا ورکړی شي!! دا بې بنسټه او واهي تصور، له هر مشهود نه د هر شاهد له انتباه سره منافات لري او د کائنات د هغه حمید پالونکي رب په نسبت یوه کرکجنه افتراء ده کوم چې د عالم ذره ذره د ده په شته والي او د هر څه په سم او ښه پیدا کولو شهادت ورکوي. دا له انصاف نه لرې ظالمانه قضاوت دی!! داسې غلطه انګېرنه او تصور خو پدې معنا ده چې پدې عالم کې نه نظم شته، نه ضوابط او قواعد، حال دا چې هر مشهود په رسا غږ وايي: دلته هرڅه سم دي، هرڅه ښه او ښاېسته پیدا شوي، په سم تقدیر او میزان، هر څه پدې خبرې شهادت ورکوي چې دا عالم د یوه (عزیز) او (حمید) ذات له لوري اداره کېږي! د دې عالم ساتونکی او پالونکی رب له دې عیبه منزه دی چې د ده په ملك کې دې څوك ظلم وکړي، د ده مظلوم بندګان دې په ناحقه وځوروي، هغوی دې بې وزله او ضعیف وګڼي او له حق نه د لاس اخیستو لپاره دې هغوي تعذیب کړي، حق او د الله د ملك ضوابط دې ترپښو لاندې کړي، له الهي سننو نه دې سرغړونه وکړي، خو الله دې نه له ده سره محاسبه وکړي او نه د مظلوم پوښتنه!! نه دې له ظالم نه انتقام واخلي او نه دې د مظلوم استغاثې ته ځواب ورکړي!! الله تعالی لدې نه منزه دی چې ذات ته ئې کوم عیب او نقص راجع شي یا افعالو ته ئې کوم اعتراض. نو پدې کې شك نشته چې د اور د کندو خاوندانو ته له تباهۍ او هلاکت نه پرته بل څه انتظار نه کوي.

Û• ùÃ¼ç9 “ Ÿ¨$ÇÑÈ Ÿ‰‹Ütø$Í ƒÎè$« $Î (qãZÏB÷sãƒ b& wÎ) óOßg÷YÏB (qßJs)tR $Br

ÇÒÈ î‰‹Íky &äóÓx« Èe@ä. 4’n?tã ª!$#ur 4 ÇÚö‘F{$#ur ÏNºuq»yJ¡¡9$#

۸- او عیبناکه ئې ونه ګڼه له دوی نه مګر دا چې په ستاېلي عزیز خدای ئې ایمان راوړ. ۹- هغه ذات چې د دې ځمکې، آسمانونو واکمني د ده او الله دی په هر څه باندې شاهد.

۸-۹: دغو ظالمانو پر مظلومو مؤمنانو له دې پرته بل اعتراض نه درلود چې ولې ئې په هغه ستاېل شوي عزتمن الله ایمان راوړی چې د آسمانونو او ځمکې ټولواك دی!!

په دغو دوو آیتونو کې د الله تعالی څلور صفتونه ذکر شوي: عزیز، حمید، مالك او شهید، په لومړیو آیتونو کې هغه څلور شاهدان چې لوړه پرې شوې د الله تعالی په دغو څلورو صفتونو شهادت ورکوي او دا ثابتوي چې الله تعالی د آسمانونو او ځمکې مالك دی، عزیز او حمید دی، پر هر څه شاهد او ناظر. او د دې شرحه داسې ده:

د آسمان په پراخې غېږ کې دا بې شمېره ځلانده ستوري په دې خبرې شهادت ورکوي چې پیدا کوونکی او پالونکی ئې د قوت، غلبې او عزت خاوند دی.

هغه موعود ورځ چې د ظالمانو د مؤاخذې او نیونې ورځ او دوی ته د مهلت ورکولو وروستۍ نېټه، هغه چې د تاریخ په اوږدو کې په وار وار راغلې، دا ورځ د دې خبرې شهادت ورکوي چې دا عالم بې څښتنه ملك نه دی چې هر څوك هر څه غواړي وئې کړي، نه پوښتنه وي او نه ګروېږنه، بلکې یو عادل ټولواك او مالك لري، محاسبه کوي او مجرمینو ته سزا ورکوي.

هر مشهود، هر څه چې په دې عالم کې ترسترګو کېږي، په دې شهادت ورکوي چې پیداکوونکی ئې حمید او ستاېل شوی دی، د کمال په صفاتو متصف او له هر

عیب او نقصه منزه.

او هر شاهد او لیدونکی، هر هغه څه چې د لیدو استعداد په کې ایښودل شوی، هغه او د ده دا استعداد په دې خبرې شهادت ورکوي چې پیدا کوونکی ئې، هغه ذات چې ده ته ئې دا استعداد ورکړی، حتماً بصیر او لیدونکی دی. دې ته مو باید پام وي چې د شاهد او مشهود په اړه هم د مفسرینو تر منځ کافي اختلاف شته او هم په دې هکله نقل شوو روایاتو کې، دا اختلاف ښیي چې په دې هکله داسې موثق روایت نشته چې ټولو پرې اتفاق کړی وي او د بېلابېلو آراوو او تعبیرونو نه ئې ډډه کړې وي.

نو آیا په هغه عزیز، مالك الملك، شهید او حمید خدای باندې ایمان راوړل جرم دی چې د عالم ذره ذره ئې په حقانیت شهادت ورکوي او پر هغه ایمان ته بلنه ورکوي؟!! آیا تر دې د ستر ظلم تصور کېدی شي چې څوك دې په دې الله د ایمان راوړو په وجه د اور په خندقونو کې واچولی شي؟!! څومره ستر جرم! څومره نه بخښونکی جنایت! څومره ستره بې باکي او جرأت چې څوك د عزیز، حمید، مالك الملك، شاهد او ناظر خدای په وړاندې د ده پر بې وزلو بندګانو داسې ظلمونه کوي؟!! قهار خدای چې د دغو صحنو شاهد دی، قسی القلب او بې رحمه ظالمان به خامخا د خپلو جنایتونو په سزا رسوي او د وحشیانه تېریو مناسبه جزا به ورکوي.

---

Ü#‹ã Ó§ù (q̧q̧f Ó9 Ѕê ËM»ŸË s3%r ûüŸË s3%$(qã ù ûïŸ%$žc Î

b̧ç ËM»sî»Á 9$(qèå r (q2B#ä ûïŸ%$!bÎ ÇÈ Ę/ítø$Ü#‹ã b̧çr Lò@g_

ÇÈ ţî3%$ãøy%$7 Ÿ⁰Œ ãk¥Ř $$kÉB `Ë "ÌgB ¥M»Z_

---

۱۰- بې شکه چا چې واچول فتنو کې باایمانه نارینه، مؤمنې ښځې، بیا ئې

ونکړه توبه، د دوزخ عذاب دی دوی ته او د اور عذاب دی دوی ته.
۱۱- بې شکه، هغو چې ایمان ئې وي راوړی، ښه کارونه ئې وي کړي، داسې جنتونه به وي دوی ته، چې ترې لاندې ئې ویالې بهېږي، همدا ستره بریا ده.

---

۱۰- کومو بې رحمه ظالمانو چې بې وزلي مؤمنان ئې د اور په خندقونو کې واچول، منتقم خدای به ئې د جهنم په اور کې ګوزار کړي او چا چې دوی د اور په سرو لمبو تعذیب کړل، حسیب خدای به هم د اور په عذاب سره له دوی انتقام واخلي.

ښايي (و لهم عذاب الحريق) د تأکید په غرض او د دې لپاره راغلی وي چې د دوزخ عذاب مزید توضیح کړي، په دې معنا چې په دوزخ کې به تل د اور په لمبو سره تعذیب کېږي او یا دا چې (عذاب جهنم) د دوی اخروي سزا او (عذاب الحريق) ئې دنیوي سزا وه، لکه څنګه چې په ځینو روایاتو کې راغلي چې (اصحاب الاخدود) د هغه اور په لمبو کې راګیر شول چې په خپل لاس ئې بل کړی وو، د هغې دردناکې صحنې د تماشا لپاره چې څوك راغونډ شوي وو، ټول د همدې اور په کومې کې پرېوتل.

دلته د آیت په متن کې او د دغو سترو ظالمانو د سزا د بیان په ضمن کې، د توبې لفظ ګورو، چې د رحمان خدای بې انتهاء رحمت او لطف انځوروي، ګورو چې الله تعالی د دغو لپاره هم د توبې دروازه پرانیستې پرېښې، د هغو لپاره هم چې د ده مظلوم بندګان په دومره قساوت او بې رحمۍ تعذیبوي!! هو؛ الله رؤف او رحمان دی، یوازې هغه وخت د توبې دروازه بندوي او انتقام اخلي چې د ګناهګار بنده بېرته راګرځېدنه مستحیل شي، پر خپل کفر، ظلم، جهل او فساد تر هغه ټینګار وکړي چې مهلت ئې پای ته ورسېږي.

ملك الناس خدای که له یوې خوا بې ایمانه ستمګران له خپلو بدو پایلو سره مخامخ کوي، له بلې خوا هغه په دې خاطر چې ستایلی او حمید دی هیڅکله په دې نه راضي کېږي چې د ده په ملك او د ده تر واکمنۍ لاندې نړۍ کې دې عدل تأمین

نشي، د ده د مستضعفو مؤمنانو استغاثه دې وانه ورېدی شي، هغوی ته دې د خپلو نېکو عملونو عادلانه بدله ورنکړی شي، الله تعالی له داسې عیبه منزه دی، په سزا او جزا کې تأخیر د دې لپاره دی چې الله تعالی له یوې خوا عاصي بنده ته مهلت ورکوي او له بلې خوا عابد بنده آزمويي. د مهلت او آزموينې په پای کې به خامخا هر چا ته خپله مناسبه سزا ورکوي.

۱۱- په دې آیت کې مؤمنانو ته ویل شوي: که تاسو د ایمان په لارې کې له ستونزو سره مخامخ یئ، د سختو ابتلاءاتو او آزموینو په لوړو ژورو کې ژوند کوئ او د ظالمانو تر تعذیب او ځورونو لاندې یئ، خو له دې سره سره صبر کوئ، پر خپل ایمان ټینګ ولاړ یئ، له ناسمو عملونو ډډه کوئ، نه دښمن ته تسلیمېږئ او نه له لارې منحرف کېږئ او نه له ستونزو او کړاوونو د وتلو لپاره غلطې لارې غوره کوئ، نو باید ډاډه او مطمئن وئ چې تر ټولو ستره بریا به مو په برخه شي او دا ستره بریا هغه جنت دی چې د ونو او بنګلو لاندې ئې ویالې بهېږي، که احیاناً په دنیا کې مو بریا وځنډېده، تاسو په خپلو سترګو ونه لیده او ستاسو د ملګرو او یا بل نسل په برخه شوه، نو په دې خاطر ئې پروا مه کوئ چې د دې په بدل کې داسې ستره بریا درته انتظار کوي چې یقیني ده، د دنیا هیڅ ځواك ئې د تحقق مخه نشي نیولی، جنت، واقعي بریا، ستاسو وروستی هدف، ستاسو د ټولو هڅو اصلي موخه، د دنیا قریب الوصول اهداف د ماتې او بریا وروستی معیار نه دی، چې که چا ترلاسه کړل بریالی دی او که ترې محرومه شو نو نامراده او ناکامه دی، کېدی شي دلته په ظاهر کې د کوم چا موقتي بریا په برخه شي، خو دا حقیقي بریا نه بلکې د ماتې مقدمه وي او کېدی شي دلته څوك موقتاً له ماتې سره مخامخ شي، د لارې په نیمائي کې د خپل هدف قرباني شي، خو دا د ده او د ده د آرمان د بریا مقدمه او وسیله وي، د ماتې او بریا وروستۍ پرېکړه به په (یوم الفصل) کې د الله تعالی له لوري کېږي، فائز او بریالی هغه دی چې په هغه ورځ د بریا سند ترلاسه کړي، په دوزخ کې له پرېوتو وژغورل شي او د جنت مستحق وګڼلی شي او خاسر او نامراد هغه څوك دی چې په دغه ورځ ئې د ناکامۍ او نامرادۍ سند په کیڼ لاس کې

ورکړی شي، له جنته محروم او د دوزخ په اور کې پرېوځي. د ایمان په لار کې قرباني شوي مؤمنان به جنت ته درومي، هغه ستره بریا به ئې په برخه کېږي او په دنیا کې به ئې آرمانونه د دوی د هغو ورونو په لاس ترسره کېږي چې د دوی په لارې درومي او د دوی د آرمانونو وارثان دي، په دې ترتیب به ئې د دنیا او عقبا بریا په برخه کېږي.

په وروستیو آیتونو کې د ایمان او کفر تر منځ د نزاع دواړو خواوو ته ویل کېږي چې د الله تعالی نیونه شدیده ده، پیل او پای د ده په واك کې او هغه بخښونکی او ودود دی.

---

âqŷóå$qèr ÇÌÈ ß‹èãr ä–Ï‰Ǿã qèd ¼çR̂ ÇÊÈ ‰ƒÏ‰±9 7În | · ßö/ b̂

ÇÏÈ ßƒÌãå$J̈ÿ A$ëù ÇÎÈ ßŠÉRÚÖ$Ä ëèå$rê ÇÍÈ ŠrŠqŠå$

---

۱۲- بې شکه چې نیونه ستا د رب ده حتماً سخته. ۱۳- دا خو دی دی چې پیلول کوي او بیا راګرځول. ۱۴- او دی دی آ بخښونکی مینه ناك. ۱۵- ستر د عرش خاوند. ۱۶- کوونکی د هر څه چې وئې غواړي.

---

۱۲- په دې مبارکو آیتونو کې له یوې خوا مؤمنانو او د الله د لارې هغو مجاهدینو ته چې د ظالمانو په لاس کړول کېږي، ویل شوي چې باید ډاډه وي، د ظالمانو د بدو پایلو په اړه شك ونکړي، ستاسو رب به ئې حتماً نیسي، د الله تعالی نیونه سخته ده، دوی نشي کولی چې د منتقم خدای له سختې نیونې وژغوري، پام کوئ چې بې حوصلې نشئ، داسې نه چې د دوی له ځورونو او کړولو نه د ځان ژغورنې لپاره هغه څه وکړئ چې خپل رب ناراضه کړئ، د هغه له تائیده محروم شئ او د الله تعالی له سختې مؤاخذې سره مخامخ شئ، باید له الهي نیونې او عذابه ستاسو وېره هومره وي چې د دښمن دا ځورونې او کړاوونه هیڅ وګڼئ، اصلي وېره

مو د دښمن له ځورونو نه بلکې د الله له سختې نيونې وي.
او مغرورو ستمګرانو ته چې بې وزلې مؤمنان ځوروي ويل شوي: ګورئ چې د الله له لوري دا مهلت او فرصت مو ونه غلوي، بايد پوه شئ چې دا مهلتونه او فرصتونه پای لري، په پای کې ئې د الله تعالی سخته نيونه او مؤاخذه درته سترګې په لار، آيا ګمان کوئ چې د اصحاب الاخدود قصه به تکرار نه شي او تاسو به هم له ورته عاقبت سره مخامخ نه شئ، آيا په دې نه پوهېږئ چې هم د هر څه پيلول د الله له لوري دی او هم ئې بيا تکرار!! إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ*
**۱۳**- د دې مبارک آيت څو تعبيرونه په تفسيرونو کې مومو:
الف: د هر کار پيل او د تاريخ په اوږدو کې ئې په وار وار تکرار او د پېښو او حوادثو بيا بيا تکرار، د الله تعالی په اذن او اراده ترسره کېږي، کوم څه چې مخکې اصحاب الاخدود وکړل او له کومو پايلو سره چې هغوی مخامخ شول او څه چې د دوی وارثان ئې د کفر، جهل او ظلم په لارې کې کوي او هريو ئې له مشابه پايلو سره مخامخ کېږي، دا ټول د الله تعالی د ثابت او نه بدلېدونکو سننو مطابق ترسره کېږي، د يوه شنيع جرم د پيلوونکو مؤاخذه او نيونه او بيا په راتلونکې کې د دې جرم د نورو تکرارونکو نيونه د هغه الله جل شأنه کار دی چې مبدئ او معيد دی.
ب: آيا په آخرت عدم ايمان، دا جنايتکاران جرئ او بې باکه کړي او د داسې سترو سترو جناياتو د کولو جرأت ئې ورکړی؟ مګر نه ګوري چې د هر څه لومړنی پيدا ښت هم او بيا بيا پيدا ښت ئې هم د الله تعالی له لوري دی؟ مګر هغه ذات چې انسان ئې په ابتداء کې پيدا کړ او بيا ئې نسل د ده له هغې نطفې په دوامداره توګه راپيدا کوي چې د خاورو له مړو اجزاوو جوړېږي او تاسو هره ورځ د دې بيا بيا پيدا ښت شاهد يئ، مګر هغه د انسان په بيا راژوندي کولو قادر نه دی؟ په کوم دليل دا وروستۍ اعاده چې تر لومړي پيدا ښت ډېر آسان کار دی محال او ناممکن ګڼئ؟!! له الهي محاسبې انکار کوئ او د داسې بې رحمانه جناياتو مرتکب کېږئ؟
ج: ټول موجودات د رب العالمين خدای په قدرت او دائمي تصرف سره په پرله پسې توګه، له لاندې بر درومي، له ټيټو لوړو ته خېژي او بېرته لاندې

راپرېوځي، له ضعف او ناتوانۍ، قوت او ځواکمنۍ ته رسي او بېرته د ضعف لومړني حالت ته ورګرځي، پيل ئې له هيڅ وي، کمال ته ورسېږي او له څه مودې وروسته بېرته په شا راشي او په زوال محکوم شي، هر څه د الله تعالی په اراده له يوه حالته بل ته اوړي راواوړي. هغه چې نن ځواکمن او د قدرت خاوندان دي، زر او زور په واك کې لري، مغرور شوي او بې وزلي انسانان د ضعف او ناتوانۍ په جرم ځوروي، بايد پوه شي چې مبدئ او معيد رب به ئې د اقتدار له مسنده لاندې رانسکور کړي، له ذلت سره به ئې مخامخ کړي او هغه تر اقتدار د مخه ورځې به پرې راولي.

دا درې سره تعبيرونه سم برېښي، خو لومړی او دربيمه توجيه په دې خاطر دقيقې دي چې مخکني او وروستني آيتونه او د دې سورې د بحث موضوع د همدې غوښتنه کوي.

۱۴- لکه څنګه چې د مغرورو ظالمانو په اړه د الله تعالی نيونه سخته ده، د هغو په اړه چې ايمان راوړي او خپله تګلاره د ايمان په رڼا کې وټاکي، ډېر بخښونکی، مهربان او محبت کوونکی دی، د دوی له نيمګړتياوو تېرېږي، خبط او خطا ئې ورته بخښي، د دوی پالنه او روزنه کوي، په محبت او مينې سره ئې پالي، د خپل رحمت وزر پرې غوړوي، کارونه ئې ورته سموي، په ستونزو او کړاوونو کې ئې يوازې نه پرېږدي، مرسته ئې کوي او د خپلو عملونو نېکه بدله ورکوي.

۱۵: او د محبت او پېرزوينې دا رابطه د هغه ذات له لوري ده چې د مجد او عظمت خاوند او د هغه عرش مالك دی چې آسمانونه او ځمکه ئې تر سيطرې لاندې دي، هماغه با عظمته ټولواك.

په اووه ګونو صحيح قرائتونو کې د دې آيت دوه قرائتونه زمونږ مخې ته راځي: ځينې (المجيد) د دال په کسر سره او ځينې ئې په رفع سره ادا کوي، په لومړي صورت کې (المجيدِ) د عرش صفت کېږي او په دوهم صورت کې (المجيدُ) د ذوالعرش صفت، خو که د مخکې او وروسته آيتونو فواصلو ته نظر وکړو، ټول له المجيدُ مرفوع سره هموزن دي، د دې لپاره دوهم قرائت دقيق ګڼو او د آيت ترجمه

داسې ده: هماغه د عرش خاوند باعظمته ذات.

۱۶: د هر هغه څه ښه ترسره کوونکی دی چې وئې غواړي، د ده د ارادې په وړاندې هيڅوك او هيڅ څواك نشي خنډ كېدى، دا هستي د ده ملك دى چې په هرې خوا او هر كار كې ئې د ده حكم چلېږي، نو ته اې د الله د دين سپاهي! اې د ايمان د تود سنګر ساتونكيه! ډاډه اوسه او خپلې راتلونكې ته هيله من چې ودود خداى به تا د ابليس د لښكرو د دې بريدونو په وړاندې يوازې نه پرېږدي.

او ته اې مغرور ظالمه، ته چې مؤمنان ضعيف او بې وزلې ګڼې، د دوى دښمنۍ ته دې ملا تړلې، د بريدونو لاندې دې نيولې، د دوى د څورولو لپاره دې متې رابډوهلې، آيا پوهېږې له چا سره دښمني كوې او جګړه دې له چا سره ده؟ د الله د جند له سپاهيانو سره، ستا جنګ په حقيقت كې د مستضعفانو له رب سره ده!! پوهېږې چې د دې جنګ پايله به څه وي او تا به له كوم شوم عاقبت سره مخامخ كړي؟!!

---

’Î {rãÿ. ûïï‰$S@/ ÇÑÈ ŠqãZã_r böqãöÏù ÇÊÑÈ ŠqßJrO $¨Ζ{ ƒÏ‰m 7 9?& @d

8yq9 ’Î ÇËÈ ÓÝÅÏtB öNÍÍ‘!#uur ÏBur Ò7BÉ @/ ÇËÊÈ ÓŠÏdC NÎÎ‘r `Ïã ª!$#r ÇËÉÈ 5=ƒÉ‹õ?

ÇËËÈ 8âqøÿøC

---

۱۷- آيا تا ته رسېدلې دی خبر د آ لښكرو؟ ۱۸- د فرعون او د ثمود؟ ۱۹- خو په لټه د تكذيب كې دي هغه چې كافران شول. ۲۰- او الله دى د دوى چار چاپېر محيط. ۲۱- بلكې دا خو دى قرآن باعظمته. ۲۲- په يوې خوندي صفحې كې.

---

۱۷-۱۸: آيا د پيغمبرانو عليهم السلام او د دوى د رښتونو پلويانو په خلاف

د فرعونيانو او ثموديانو له هلو ځلو خبر يې؟ آيا پوهېږې چې د دوی لښکرې له کومو پايلو سره مخامخ شوې؟ او د دغو لښکرو خاوندانو ته ئې څه لاس ته راوړنې درلودې؟ تاريخ ته رجوع وکړه، وګوره هغه چې خپل زور ځواك ئې د حقپالو په ضد کارولی او د دې هڅه ئې کړې چې د حق د برې او د حقپالو د برلاسي مانع شي، له کومو پايلو سره مخامخ شوي او د دوی د ناولو هلو ځلو نتيجه څه وه؟ فرعون له خپلو لښکرو سره د هغه بحر په څپو کې غرق شو چې موسی عليه السلام او ملګرو ته ئې د روغ رمټ تېرېدو لار ورکړه، تخت او تاج، باغونه او قصرونه، زر او ځمکه ئې مستضعفو اسرائيلو ته په ميراث پاتې شول، ثموديان په شديدالهي عذاب اخته شول، له تيږو تراشلې ماڼۍ ئې د راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت وسيله شوې.

د کائنات د پرانيستي کتاب آيتونه او د انسانيت د تېر تاريخ په پاڼو کې درج عبرتناك آيتونه، په ډېروضاحت سره دا خبره اعلانوي چې د کفر، ظلم، بغاوت او عصيان پايلې ډېرې خطرناکې دي، خو کافران د پند او عبرت په ځای په دې لټه کې دي چې دا حقايق تکذيب کړي او له دې سننو انکار وکړي.

۱۹-۲۰: که دا کافران نه د کائنات د پرانيستي کتاب له آيتونو پند اخلي او نه له تاريخي پېښو او نه د فرعون او ثمود په څېر د کافرو ځواکونو له بدو پايلو عبرت اخلي او دا هڅه کوي چې حق تکذيب کړي او له الهي سننو سره مخالفت وکړي، په داسې حال کې به دوی له خپل انکار او ترديد نه څنګه کومه نتيجه ترلاسه کړي چې الله تعالی پرې احاطه کړې او د قهار او جبار خدای د قاهره ارادې په وړاندې محصور او مقهور دي ؟! دوی او هلې ځلې ئې د الله د سيطرې او سلطې له دائرې بهر نه دي چې د خپلې خوښې نتايج پرې مرتب کړی شي، د الله تعالی له استاځو سره له مخالفت او د ده له حق دين سره له دښمنۍ سره سره دوی د الله جل شأنه په ملك کې اوسېږي او د ده د ارادې مقهور او د هغو سننو او ضوابطو محکوم دي چې الله جل شأنه وضع کړي او په ټول عالم کې نافذ او حاکم دي!! نو دا محکوم او مقهور انسانان او دا د الهي سننو په زندان کې محصور زندانيان به څنګه په دې وتوانېږي چې د الله تعالی پرېکړې تکذيب کړي او له پلي کېدو ئې مانع شي؟!! هغه

حقایق چې دا لجوج او د حق منکر ډله ئې د تکذیب په لټه کې ده داسې څه نه دي چې څوك ئې د تکذیبولو توان ولري؟

۲۱-۲۲: او دا د قرآن پرېکړې دي، د هغه قرآن چې مجد او عظمت ئې تر دې ډېر لوړ دی چې دا ذلیل عناصر ئې د تکذیب توان ولري او د هغه د مدعا، پرېکړو، قضاوتونو، بشارتونو، وعدو، وعیدونو او انذارونو د تحقق مخنیوی وکړی شي. دا (با عظمته قرآن) هغه رب العالمین رالېږلی چې (ذو المجد) او (ذوالعرش) دی او هغه خپل قرآن له هر راز لاسوهنې، تکذیب او تحریفه خوندي کړی. په داسې حال کې چې (مالك الملك) خدای، (مجید او د عرش خاوند) او (په هر چا او هر څه محیط) رب، دا (با عظمته) قرآن په (خوندي صفحه) کې ثبت او صیانت ئې تضمین کړی، نو څوك به په دې وتوانېږي چې د دې قرآن قطعي او محتومې وعدې او وعیدونه په خپلو بې حاصله هڅو سره تکذیب کړي او د تحقق مخه ئې ونیسي؟!!

بې له شکه هغه څه چې عظیم الشأن قرآن د (اور د خندقونو) د خاوندانو او د مؤمنانو د ځورونکو د بدو پایلو په هکله ویلي او د خپلې ادعا د اثبات لپاره ئې له ځلاندو ستورو ډك آسمان، (یوم الموعود) او (هر شاهد) او (هر مشهود) د شاهدانو په څېر وړاندې کړي او د فرعونیانو او ثمودیانو د لښکرو په بدو پایلو ئې استناد کړی، دا به هرو مرو ترسره کېږي، د قرآن مجید دا قاطع او جازم حکم له هر تکذیبه (مصئون) دی، د باطل پالو له ټولو هڅو او د مکذبینو له ټولو هلو ځلو سره سره به حتماً او له شك او تردیده پرته ترسره کېږي.

# الطارق

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم (الطارق) دی چې له لومړي آيته اخيستل شوی، ۱۷ آيتونه لري، لومړي درې آيتونه ئې دوه دوه غړونه، ورپسې ديارلس آيتونه ئې درې درې غړونه او وروستی ئې څلور غړونه لري، که پنځ او شپږم آيت يو ځای ولوستی شي نو له لومړي آيته تر لسم پورې د آيتونو فواصل الطارق ته ورته وزن لري، له يولسمه تر څوارلسم پورې رجع او فصل ته ورته وزن او ورستي درې آيتونه ئې د کيدا په وزن دي، هم ئې د ورته آيتونو غږ ډېر ښکلی او جالب دی او هم ئې په بېلو بېلو برخو کې د غړونو مد او جذر ډېر خوندور دی، دا سوره په مکه مکرمه کې او هغه وخت نازله شوې چې د قريشو سردارانو د پيغمبر عليه السلام دعوت د ځان او د خپل زعامت لپاره جدي ګواښ وګاڼو، د خطر احساس ئې وکړ او د مقابلې لپاره ئې د لارو چارو لټول پيل کړل او دا هڅه ئې کوله چې د دې دعوت د خورېدو مخه ونيسي. د دې مبارکې سورې د بحث اساسی موضوع د دې مطلب ثابتول دي چې دلته د انسان د کړو وړو څارنه او مراقبت کېږي، محاسبه په مخکې لري، بېرته راژوندی کېږي او له الهي محاکمې سره به مخامخ کېږي. څوك چې دا حقيقت نه مني، خپلو غلطو انګېرنو غولولی، خپل زور ځواك مغرور کړی، په مکافات او

مجازات باور نلري، هغوی ته وايي: دغه له ځلاندو ستورو ډك آسمان ته نظر وكړئ، ووايئ چې دا بې شمېره ستوري څوك په خپل خپل ځای كې ساتي؟ څوك دا اوبه د ورېځو په بڼه كې له ځمكې آسمان ته پورته كوي؟ او څوك له آسمانه اوبه راوروي؟ او په دې اوبو سره دا ځمكې چوي او دانه او مېوه راشنه كوي؟ آيا دا شواهد تاسو ته دا خبره نه ثابتوي چې دا هستي يو مراقب ټولواك لري؟ او دا د الهي مراقبت ادعا او د مجدد بعثت او د محاكمې او محاسبې خبره، مجرده، خوشې او بې دليله ادعا نه ده، بلكې يوه داسې واقعي ادعا ده چې ټول عالم او د كائنات دا نظام ئې په حقانيت شهادت وركوي، دا بې شمېره ځلانده ستوري چې څوك ساتي هغه د ټولو ساتونكی او څارونكی دی. كه څوك دا ټول حقايق نه مني او د حق په مخالفت كې او له باطل نه د دفاع لپاره له كيد او مكر نه كار اخلي، څو ورځې دې انتظار وكړي، ډېر ژر به د خپل كيد او مكر پايلې او د الهي مكافات او مجازات حقيقت، په دنيا او آخرت كې په عين اليقين سره وګوري.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

bĵ ÇÌÈ Ü ï$W9$Ńõ Y9$ÇÌÈ äí $Ö9$$B 7 1‘Š& $Br ÇÌÈ Éí $Ö9$r ä$K¡ 9$r

ÇÍÈ âï%n $kŽæ $®<s ÿR @ä

---

۱- لوړه په آسمان او دا د شپې وَر ټكونكي. ۲- څه شي خبردار كړې چې څه دی دا د شپې وَر ټكونكی؟ ۳- ستوری ځليدونكی. ۴- هيڅوك داسې نشته چې پر ده نه وي ساتونكی.

---

۱-۴: پدې آيتونو كې په (آسمان) او (الطارق) لوړه شوې او هغه د دې ادعا د اثبات لپاره د شاهدانو په حيث وړاندې شوي چې (هر نفس يو ساتونكی او حفيظ)

لري. د دې لپاره چې پوه شو د قسمونو معنا څه ده او څنګه د دغې لويې ادعا په حقانيت شهادت ورکوي، بايد لاندې ټکيو ته توجه وکړو:

د (الطارق) لغوي معنا په شپه کې راڅرګندېدونکی او ور ټکوونکی ده، چې اطلاق ئې په ډېرو شيانو کېدی شي، خو وروستی آيت ئې مشخص کوي او وايي: (النجم الثاقب: ځلانده ستوری) او لدې نه مقصد هر ځلانده ستوری دی چې په شپه کې راڅرګند شي، نه کوم خاص ستوری. دلته (النجم) د جنس لپاره ده او ټول ستوري افاده کوي.

که څېرې قرآن په خپله دا (الطارق) نه وی معرفي کړی او تفسير ئې مونږ ته پرېښی وی، نو معلومه نده چې لدې نه به څه عجيب او غريب تعبيرونه شوي وو؟! څومره مختلف، بېلابېل او يو له بل سره متصادم آراء او نظريات به وړاندې شوي وو، څومره د اصلي معنا مغاير معاني او مفاهيم به ئې ورته تراشلي وو، څومره (بطون) او (راز رموز) به ئې له رسا ذهن، رمز پېژندونکې او (بطن فهم) سليقي ورته راايستلي وو؟! مخصوصاً هغو کسانو چې بيمار ذهن لري، په څرګندو توکيو، روښانه او واضح الفاظو او ځلانده حقايقو، قناعت نه کوي، ظاهر ورته کافي نه وي، د (سر او راز) او (مخفي او بطن) رابرسېره کېدو ته انتظار کوي او اعجاز ته منتظر وي!!

مونږ په مذهبي فرقو کې داسې يوه فرقه هم لرو چې ځينې مفسرين ئې وايي: له الطارق نه مراد هغه سوالګر دی چې يو ماښام ئې د اميرالمؤمنين علي رضي الله عنه د کور دړه وټکوله او هغه په داسې حال کې چې خپله ئې يوه يا دوه ورځې څه نه وو خوړلي، خپل خواړه ئې دې سوالګر ته ورکړل!! او په همدې خاطر دا سوره نازل شوه!! دوی وايي چې همدا د دې آيت بطن دی او د قرآن په بطن له ائمه وو پرته بل څوك نه پوهېږي!! د قرآن د ډېرو نورو آيتونه په اړه دې ته ورته پوچ او بې بنسټه تعبيرونه لري. که د يوه داسې څرګند آيت په اړه د دوی تعبير دومره غلط او له اصلي مطلبه په فرسخونو لرې وي نو د هغو آيتونو په هکله به ئې تعبيرونه څنګه وي چې د تأويلاتو مجال په کې وي؟!!

قرآن د دغه بیمار (ذهنیت) د ښه معرفي لپاره د حضرت ابراهیم علیه السلام په قصه کې څومره ښه فرمايي: ابراهیم علیه السلام وویل: (رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ) زما رب همغه دی چې راژوندي کوي او وژني او همغه چې لمر له مشرقه راپورته کوي، ګورئ چې د ابراهیم علیه السلام لپاره مرګ او ژوند او د شپې ورځې تګ راتګ قطعي دلیل دی، له همدې نه خپل رب پېژني، د عالم د همدې ملموس او مشهودو مظاهرو نه د خپل رب په لوري هدایت کېږي او نور کسان هم په همدې شیانو په استناد سره د الله تعالی په لوري رابلي، خو نمرود دا استدلال نه مني، هغه کافي نه ګڼي او وايي: (أنا أُحْيِي وَأُمِيتُ) دا د ژوند او مرګ پرېکړه خو زه هم کولی شم!!
همدا راز قرآن فرمايي:

وَ قَالُوا لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتى تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الأَرْضِ يَنبُوعاً * أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نخيلٍ وَ عِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الأَنْهَرَ خِلَلَهَا تَفْجِيراً * أَوْ تُسقط السمَاءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسفاً أَوْ تَأْتىَ بِاللَّه وَ الْمَلَئكَة قَبِيلاً * أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَى فى السمَاء وَ لَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتى تُنزِّلَ عَلَيْنَا كِتَباً نَّقْرَؤُهُ قُلْ سبْحَانَ رَبى هَلْ كُنت إِلا بَشراً رَّسولاً * وَ مَا مَنَعَ النَّاسَ أَن يُؤْمِنُوا إِذْ جَاءَهُمُ الْهُدَى إِلا أَن قَالُوا أَ بَعَثَ اللَّهُ بَشراً رَّسولاً * قُل لَّوْ كانَ فى الأَرْضِ مَلَئكَةٌ يَمْشونَ مُطمَئنِّينَ لَنزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ السمَاء مَلَكاً رَّسولاً * الاسراء: ۹۰-۹۳

او وئې ويل: هیڅکله به پر تا ایمان رانه وړو ترڅو لدې ځمکې یوه چینه راوبهوې او د خرما او انګورو داسې باغ دې وي چې ویالې په کې وبهوې او یا د خپل ګمان مطابق دا آسمان پر مونږ ټوټې ټوټې راپرې باسې او یا الله او ملائکې مونږ ته مخامخ راولې او یا تا لره مجلل کور وي او یا آسمان ته وخېژې او په ختلو دې هم ترهغه باور نه کوو چې پر مونږ یو داسې کتاب رانازل کړې چې مونږ ئې لولو، ورته ووایه: پاکي ده زما رب لره، آیا زه له یوه بشر استاځي نه پرته بل څه یم؟! او کله چې خلکو ته هدایات راغلي نو دوی له ایمان راوړلو نه بل څه منع نه کړل مګر دې خبرې چې ویل ئې: آیا الله یو انسان د پیغمبر په حیث مبعوث کړی؟ ورته ووایه: که په ځمکه کې ملائکې وی او

ډاډه په کې ګرځېدی نو مونږ به حتماً له آسمانه یوه فرشته د پیغمبر په حیث رالېږلې وه.

بیمار ذهنیتونه دغسې وي، خدای په (اعجازونو)، (خارق العاده پېښو) او (فوق طبیعي اسرارو) کې لټوي، دا په طبیعت کې خواره بې شمېره نښې او شواهد ورته کافي نه وي، دا د الله له لوري نه ګڼي، طبیعي پېښې ئې بولي، غواړي خدای د داسې پېښو له مخې ثابت کړي چې غیرطبیعي وي، په (رازونو) او (رموزونو) سره نه په (ښکاره وو) او (څرګندو) سره!! خو د قرآن اسلوب بېل دی، قرآن د هستي هرڅه او هر حرکت د الله تعالی د ذات او صفاتو نښه او مظهر ګڼي، په همدغو څرګندو شیانو استناد کوي او په دې سره خپله ادعا ثابتوي، په همدې څرګندو، په طبیعت کې خورو ورو شیانو باندې لوړه کوي او د خپلې مدعا لپاره ئې د شاهد په حیث وړاندې کوي. د الطارق په سوره کې ګورئ چې د آسمان ترڅنګ په الطارق یعني د شپې لخوا راڅرګندېدونکي، هغو ستورو لوړه کوي چې په شپه کې د آسمان په غېږ کې راڅرګند شي، د آسمان په څېر څرګند، مشهود او ښکاره. دغه توضیح او شرح باید د قرآن د نورو قسمونو لپاره د یوه لارښود اصل او اسلوب په حیث ونیسئ، چېرته چې د (مقسم به) په پېژندلو کې له ابهام او اشکال سره مخامخ شوئ، نو د دغه اصل په رڼا کې ابهام او اشکال رفع کولی شئ. لکه چې (الطارق) یو جلي، مشهود او څرګند شی دی: ځلانده ستوري، همدا راز په نورو مواردو کې هم (مقسم به)) د (الطارق) په څېر مشهود او قابل درك شی وګڼئ او هغې رأيې ته هیڅ اعتناء مه کوئ چې له دې نه غیبي او له سترګو پټ شیان مرادوي. دا د قرآن له اسلوب سره مخالف رأيه په دیوال ووهئ.

باید دا واضح کړو چې آسمان او په هغه کې ځلانده ستوري څنګه دا ثابتوي چې هر نفس د یوه ذات تر مراقبت او حفاظت لاندې دی؟

په دې پوهېږو چې د دې ستر عالم بې انتها عظمت د شپې لخوا راڅرګند شي، د ورځې لخوا ټول سماوي اجرام له سترګو پټ وي، د لمر له لوېدو او د شپې له رارسېدو سره سم، ستوري یو په بل پسې راښکاره شي، په خپلو پلوشو سره

زمونږ ستر ګې هڅوي، زمونږ د سترګو په وړاندې ودرېږي، مونږ د کائنات د عظمت او پراخوالي تماشا ته رابلي او دا پوښتنه زمونږ په ذهن کې راولاړوي چې په دې خور وور، پراخ بې انتهاء عالم کې دا بې شمېره آسماني اجرام څوك اداره كوي؟ څوك ئې ساتي؟ دا كوم ځواك دى چې هر يو په خپل خپل مسير کې خوځوي او د دوى ترمنځ له ټكر او تصادم نه مانع کېږي؟ بې شكه چې دا آسمان او د هغه په غېږ کې دا بې شمېره ځلانده ستوري په دې شهادت وركوي چې دا عالم يو ځواكمن او مقتدر ساتونكى او پالونكى لري چې هر جزء ئې په خپل خاص ځاى کې ساتي، له تشتت او بد نظمي ئې او په خپلو کې د دوى د تصادم مخنيوى كوي.

ګورئ چې قرآن د هغه چا د اقناع لپاره څه وايي چې ګمان كوي دا عالم په خپله پيدا شوى او هرڅه ئې طبيعت ته سپارل شوي، نه كوم مراقب لري او نه ساتونكى او محافظ، حوادث په تصادفي توګه او په خپله رامنځته کېږي، نه واكمنه اداره شته او نه خاص ضوابط او سنن، قرآن هغه ته بلنه وركوي چې د آسمان په لوري سترګې واړوه، د هغه وسعت او عظمت ته ځير شه، هغو بې شمېرو ستورو ته پام وكړه چې د دې بې انتهاء فضاء په غېږ کې ئې حفاظت او ساتنه کېږي، په همدې استدلال كوي او انسان ته وايي: هغه ذات چې دا هستي اداره كوي او د هر جزء او ذرې ساتنه ئې په واك کې لري، همدا ذات ستا مراقب او ساتونكى هم دى.

---

Èii/ .`Ï ß ãþ ÇÏÈ 9ìï#Š ã$B `Ï ,îã ÇÎÈ ,îã §Ï ß»¡ RMß$Î ŠÅY‹ù

ÇÐÈ É=Í‡Ž©9$# É ùÁ 9$

---

۵- نو دا انسان دې وګوري، له څه دى پيدا شوى؟ ۶- له ټوپ وهونكو اوبو دى پيدا شوى. ۷- راوځي د سينې او ملا له منځه.

---

۵-۷: انسان دې خپل پيدا ښت ته لږ ځير شي، له يوه څاڅكي ټوپ وهونكې

اوبو پيدا شوی، د مني دغه کرکجن څاڅکی چې کمال ئې ټوپ وهل ښودل شوی، څنگه ورو ورو وده وکړي، علقه شي، د غوښې يوه ټوټه شي، يو ماشوم ترې جوړ شي او په پای کې په يوه ځواکمن، مضبوط او د دغو ټولو وړتياوو خاوند انسان بدله شي!! څوك ئې د ضعف او حقارت له هغه حالته د قوت او کمال دې حالت ته رسوي؟!! د چا تر نظارت او مراقبت لاندې له دغو مراحلو تېرېږي؟ لومړی دې ووايي: چا پيدا کړی؟ آيا له کوم (خالق) او پالونکي پرته پيدا شوی؟ او يا په خپله د ځان خالق او پيدا کوونکی دی؟ مگر مور پلار ئې په دې هيئت او کيفيت کې د ده د پيدا کولو پرېکړه کړې وه؟ آيا مور پلار ئې دا استعدادونه په ده کې ايښي؟ د ده نطفه چا په هغو ټوپ وهونکو اوبو کې تياره کړې وه؟ پلار مور خو له دې پرته بل څه نه دي کړي چې يوه داسې تياره (دانه) ئې په يوې ځمکې کې کرلې چې د هغه په جوړېدا کې د دوی عقل، پوهې، غوښتنې، ارادې هيڅ ونډه نه درلوده. دوی د دې دانې (حارث) دي نه (زارع)، د نطفې پيدا ښت او تر بشپړ انسان پورې هغه ته وده ورکول د هغه ذات کار دی چې د ټول عالم رب او پالونکی دی.

د انسان عقل نه دا خبره منلی شي چې (انسان) له پيدا کوونکي پرته پيدا شوی او نه دا چې دی په خپله د خپل ځان پيدا کوونکی دی، نو دی چا پيدا کړی؟

قرآن فرمايي چې له الله پرته هيڅوك نشي کولی څه راپيدا کړي او يا پيدا شوی شته شی معدوم کړي. ساينس د قرآن دغه خبره تائيدوي او وايي: انسان فقط دومره کولی شي چې په طبيعت کې موجود توکي له يوې بڼې بلې ته واړوي، خو هيڅکله نشي کولی څه خلق يا ئې معدوم کړي. کولی شي لرگی وسوزوي، په ايرو، گاز، حرارت او د لرگي په نورو اجزاوو ئې بدل کړي، خو دا وس او توان نه لري چې د لرگي اجزاء په بشپړه توگه له منځه يوسي، هغه په سوزولو سره لرگی تجزيه کړی، ختم او معدوم کړی ئې نه دی. ساينس ادعا کوي چې انسان نه د يوې وړې ذرې د پيدا کولو توان لري او نه ئې د ختمولو. نو پوښتنه کوو: که انسان، دا اشرف المخلوقات، دا تر ټولو مخلوقاتو کامل، د هيڅ څه د پيدا کولو توان نه لري، نو دا ټول مخلوقات چا پيدا کړي؟!! هيڅ عقل دا خبره نشي منلی چې دا ټيپ ريکارډر په

خپله او له جوړوونکي او صانع پرته پیدا شوی!! دا مانې په خپله او له کوم معمار او مهندس پرته جوړه شوې!! د پلاستیك یوه ټوټه په یوې ګوښې کې پر ځمکه پرته مومې چې خاص شکل او رنګ لري حتماً له ځان سره وایې: د پلاستیك دا ټوټه د یوه غوري برخه ده، جوړوونکی ئې مهندس، رسام، هنرمند او د پلاستیك په خواصو پوه انسان دی، دا ځکه چې تا په هغه کې د هنر او علم نښې موندلې دي. په لار درومې، پر ځمکه پلونه ګورې، ستا عقل حکم کوي چې په دې لارې له تا مخکې څوك تللی او دا د هغه پلونه دي. همدا راز مونږ په دغې شنې ونې کې د ښکلا، ښایست، هنر، علم او حکمت آثار ګورو، په جوړښت او وظایفو کې ئې د دقیقې او حکیمانه طراحي نښې ګورو، داسې نامرئي لاسونه په خپل عقل سره احساسوو چې دا ونه له یوې وړې دانې راپیدا کوي، وده ورکوي، کمال ته ئې رسوي، پاڼه، ګل او مېوه ورکوي، ښایسته ئې مومو، متعادل او متوازن، د خاص کار لپاره پیدا شوې، په دې توانېږي چې له ځمکې خاص او ضروري مواد جذب کړي، پاڼه، ښایسته ګل او خوندوره مېوه ترې جوړه کړي، که ئې د تنې د کومې برخې پوټکی وشکوې نو فوراً په هغه ځای ملهم ږدي او پټۍ لګوي او په سرښناکې د مکروب ضد مایع ئې پوښي، چې د ېر ژر کلکه پټۍ ترې جوړه شي، که ئې د یوې خوا کومه څانګه پرې کړې، ډېر ژر په هماغه اړخ کې بله څانګه راوټوکوي تر څو خپله موازنه حفظ کړي او یوې خوا ته له کږېدو خوندي پاتې شي، د لمر د وړانګو استقامت پېژندی شي او خپلې څانګې په همغه لوري غځوي!! آیا د علم، حکمت او هنر د دغو ټولو نښو له لیدو سره سره زمونږ عقل اجازه راکوي چې ووایو: دا ونه په خپله او هسې له کوم علیم او پوه پیدا کوونکي پرته پیدا شوې؟!!
قرآن څومره ښه فرمایي:

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ * الطور: ۳۵

آیا بې څه (له خالق او پیدا کوونکي) پرته پیدا شوي او یا په خپله پیداکوونکي دي؟!

له دغو دواړو خبرو څخه یوه ئې هم د انسان عقل نشي منلی، نه بې خالقه

خلقت مني او نه دا چې انسان په خپله د ځان خالق دی!!

يعني انسان دې غور وکړي چې چا پيدا کړی، چا له يوه څاڅکي اوبو، يوې وړې ذرې، د يوه څاڅکي تر يو په يو مليارد هم وړه، پيدا کړ، وده ئې ورکړه او کمال ته ئې ورساوو؟!! آيا د انسان پيدا ښت په ډېر صراحت سره شهادت نه ورکوي چې خامخا يو محافظ او مراقب لري؟! هم له ځلاندو ستورو ډك آسمان په دې خبرې شهادت ورکوي او هم د انسان پيدا ښت د اوبو له يوه څاڅکي.

۷ـ دا (ټوپ وهونکې اوبه) د (ملا او سينې له منځه) راوځي، بايد وګورو چې د دې خبرې معنا څه ده، په داسې حال کې چې دا اوبه له ملا او سينې پرته په بل ځای کې جوړېږي او په خاص ځای کې ساتل کېږي او د اړوند غړو اداره ئې د مغز د ځانګړې برخې لخوا ترسره کېږي چې د ملا په تير کې د غځېدلو عصبي رشتو له لارې ئې اداره کوي او د دغو اوبو د ټوپ وهلو باعث کېږي. په دې هکله د مفسرينو ترمنځ ګڼ شمېر تعبيرونه او توجيهات ګورو خو دوه ئې د پام وړ دي:

الف: که څه هم د دې اوبو د توليد او ساتنې او بيا ټوپ وهلو دنده د مغز د ځانګړې برخې کار دی، خو نور مهم غړي چې د ملا د تير او سينې ترمنځ پراته دي، لکه زړه، ينه، سږي او هغه عصبي رشتې چې د سينې او ملا ترمنځ ئې جال غوړېدلی، ټول د دغو اوبو په توليد او مخصوصاً ټوپ وهلو کې ونډه لري، د همدې لپاره دلته ويل شوي چې دا اوبه د سينې او ملا له منځه راوځي.

ب: د مور په رحم کې د انسان د پيدا ښت په لومړيو ورځو کې د دغو اوبو د پيدا کولو او ساتلو اړوند غړی د سينې او ملا ترمنځ وي، د ماشوم له لوئيدو سره سم دا غړی ورو ورو خپل لومړنی موقعيت پرېږدي او لاندې راشي او د دوو پښو ترمنځ ځای ته ځان ورسوي. په دې آيت کې د دې غړي لومړني او اصلي ځای ته اشاره شوې او دا هغه ستر حقيقت دی چې علماء نن پرې پوه شوي.

Ẅr ǫ§è `Ë ¼ç9 $Jù ÇÌÈ ãÍ‡Ž©e9$ ’?Ïè Pö/ ÇÑÈ ÓÎ$)9 ¾Ïnèô ‘ 4?ã ¼çR]

ÇÈ ŽÂ $R

۸- بې شکه چې هغه ئې دی په بیا راګرځولو توانا. ۹- هغه ورځ چې (ټول) رازونه به بربنډ شي. ۱۰- نو نه به ئې څه توان وي، نه ملاتړی.

۸: په (انه) کې ضمیر الله جل شأنه ته راجع دی، که څه هم په مخکنیو آیتونو کې نه دی ذکر شوی، خو د کلام له فحوا معلومېږي او په (رجعه) کې انسان ته راجع دی چې په مخکنیو آیتونو کې ورته اشاره شوې او له بیا راګرځولو ئې مراد له مرګه وروسته بیا ژوندون دی او ارتباط ئې له مخکنیو آیتونو سره داسې دی: هغه ذات چې انسان ئې له یوه څاڅکي اوبو راپیدا کړ په بیا پیدا کولو ئې هم قادر دی، هماغه ذات چې د آسمان په دې بې انتهاء غېږ کې دا بې شمېره ستوري ساتي او انسان ئې د داسې اوبو له یوه څاڅکي پیدا کړ چې ترې کرکه لري، هغه اوبه چې د انسان له سترګو پټ، د سینې او ملا ترمنځ ئې راپیدا کېږي او د غړو د هغه نظام په ذریعه تولید او ساتل کېږي چې انسان پرې کامل تسلط نلري، له دغه څاڅکي جوړه شوې نطفه چې د کوم چا په اراده په کامل انسان بدلېږي همغه ذات ئې په بیا راژوندي کولو هم قادر دی.

۹: د انسان (رجع) او بیا ګرځېدنه به په هغه ورځ ترسره شي چې ټول رازونه به په کې ښکاره او ټول اسرار به په کې بربنډ شي، دا اسرار او رازونه د ځینو مفسرینو له نظره د انسان هغه پټ عزایم او هغه ګناهونه دي چې د نورو له سترګو ئې پټ ترسره کړي، خو که دا آیت د مخکنیو آیتونو په رڼا او له هغوی سره په ارتباط کې تفسیر شي نو له سرایر نه باید مراد هغه حقایق وي چې نن د انسانانو له نظره پټ دي او د قیامت په ورځ به راڅرګند شي، دا ځکه چې په مخکنیو آیتونو کې لاندې څو هغو حقایقو ته اشاره شوې چې د کافر انسان له نظره پټ دي او د اثبات لپاره ئې استدلال شوی:

لومړی: هر نفس يو ساتونکی او څارونکی لري.

دوهم: هغه ذات چې انسان ئې د اوبو له يوه څاڅکي پيدا کړی، د ده په بيا پيدا ښت هم قادر دی.

دوهمه توجيه په څو دلايلو قوي ده:

۱ـ (ال) په (السرائر) کې ښيي چې دا اسرار بايد له دې د مخه توضيح شوي وي.

۲ـ د انسان خپل اسرار او رازونه که له نورو انسانانو پټ وي، نو له الله او کرام الکاتبين څخه پټ نه دي او اسرار نه ګڼل کېږي.

۳ـ د آيتونو ترمنځ يووالی او همغږي په دغې توجيه سره تأمين کېږي او لومړۍ توجيه دا تنسيق او يووالی له منځه وړي.

۱۰ـ د دې آيت په اړه هم دوه تعبيرونه مومو:

الف: د قيامت په ورځ او په الهي محاسبې کې به د انسان ټول اسرار بربنډ شي، هم به د خپلو ځرګندو بدو عملونو مناسبه سزا ګوري او هم د پټو، نه به خپله له الهي نيونې او عذابه د ژغورېدو او تېښتې توان لري او نه به داسې مرستندوی مومي چې له دې شوم عاقبته ئې وژغوري.

ب: هغه مستکبرين چې ځان ورته ډېر ځواکمن او قوي برېښېدو، د سرتېرو لښکرې ئې په واك کې، خپل ظاهري اقتدار او د پلويانو او سپاهيانو کثرت او ډېرښت مغرور کړي وو، نه ئې خدای مانو او نه د آخرت د ورځې مکافات او مجازات، له پيغمبرانو عليهم السلام سره ئې د مخالفت ملاتړله، پټې توطئې او دسيسې به ئې کولې، په دې ورځ چې ټول (تر پردو شا ته) حقايق به رابرسېره او اسرار به بربنډ شي، وبه ګوري چې نه ئې څه (قوت) شته او نه کوم (مرستندوی او ملاتړی)، د ځواکمنۍ انګېرنه ئې پوچ او بې بنسټه وه او هسې يو خيال او ګمان وو او پلويان او حاميان ئې داسې کسان نه وو چې په سختو ورځو مخصوصاً په دې ورځې کې د دوی مرسته وکولی شي، دا دی اوس د الله تعالی په وړاندې (ضعيف) او (ذليل) ولاړ دی، پلويان او حاميان ئې ترې بې زاره او متنفر.

په لږ دقت سره پوهېدی شو چې دوهمه توجيه ډېره دقيقه او غوره ده، هم له

مخکني آیت سره اړخ لګوي او هم د سورې له تتمې او وروستي آیت سره چې د دغو کفارو (کید) ته ګوته نیسي.

---

@Á ù Aö)9 ¼çR] ÇËÈ ÆÁ 9$ÑN #Œ ÇÚ ôR$ ÇËÈ Æõ_S9$ÑN #Œ ä$K¡ 9$r

èûJù ÇÏÈ #%ø. ß‹Ï &r ÇÎÈ #%ø. brß‰Šå Ná] ÇÍÈ É“ìÿ qèd $Br ÇÌÈ

ÇÐÈ #´‰÷dâ Nßgù=÷Br& ûïÍÿ»3ø9$

---

۱۱- لوړه په آسمان دا پر له پسې راګرځونکی. ۱۲- او په ځمکې چاودېدونکې. ۱۳- بې شکه چې دا پرېکنده وینا ده. ۱۴- او نه ده هغه خوشې بېهوده. ۱۵- دوی خو کاروي څه تدبیرونه. ۱۶- او زه هم کاروم څه تدبیرونه. ۱۷- نو پرېږده کافران ، لږ غوندې ئې پرېږده.

---

۱۱-۱۲: دلته په دوو شیانو لوړه شوې:

په آسمان چې پر له پسې راګرځوونکی دی او په ځمکې چې چاودېدونکې ده.

د قسمونو ځواب دا دي:

إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ * وَمَا هوَ بِالْهَزْلِ *

بې شکه چې دا پرېکنده وینا ده. او خوشې بېهوده نه ده.

د قسمونو او ځواب شرح دا ده:

o په لومړي قسم کې آسمان ته ذَاتِ الرَّجْعِ: پر له پسې راګرځوونکی، ویل شوي، د کلام له فحوا او د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې په دې پوهېږو چې دلته په (ذَاتِ الرَّجْعِ) سره باران ته اشاره شوې، دا باران دی چې د اوبو د بخاراتو په بڼه کې له ځمکې د آسمان په لوري وخوځېږي او آسمان ئې بېرته د ځمکې په لوري راوګرځوي.

o پـه دوهم قسم کې ځمکې ته ذَاتِ الصَّدْعِ: د چاودېدوواله، ویل شوي چې مراد ئې د نباتاتو په رازرغونېدو سره د هغې چاودل دي.

o د قسم په ځواب کې دا خبره نه ده واضح شوې چې له دې پرېکنده وینا نه کومه وینا مراد ده؟ خو که لږ غور وکړو نو ګورو چې له قسمونو نه مخکې په اتم آیت کې ویل شوي: إِنَّهُ عَلَى رَجْعِهِ لَقَادِرٌ : بې شکه چې هغه ئې په بیا راګرځولو توانا دی. د دغې ادعا د اثبات لپاره دا قسمونه راغلي او ورپسې ویل شوي چې دا پرېکنده وینا ده او هسې بېهوده خبره نده.

o له آسمانه د اوبو په راورېدو سره د ځمکې له زړه نه د نباتاتو رازرغونېدل ښیي چې الله تعالی د مړو په بیاژوندي کولو قادر دی، تاسو تل دا بیاراژوندي کېدل په خپلو سترګو ګورئ، نو څنګه د بیاژوندون خبره یوه بابیزه او خوشې خبره ګڼئ؟!! مګر له آسمانه د اوبو راورېدل او په دې سره د مړې ځمکې ژوندي کېدل او د رنګ رنګ نباتاتو رازرغونېدل د دې ادعا څرګند او قطعي ثبوت نه دی؟!

له مجدد ژوندون نه خو هغه چا باید انکار کولی چې په خپل ټول ژوند کې ئې د دې کومه بېلګه نه وی لیدلې، ته خو هره شېبه ګورې چې د اوبو یوه (قطره) په نطفې او انسان بدله شي، له مړې او ژوول شوې دانې او مېوې نه د انسان په بدن کې ژوندی نطفه جوړه شي، مړه ځمکه په یوه باران سره وخوځېږي او ګڼ شمېر ژوندي توکي راشنه کړي. نو ته څنګه بیاژوندون محال ګڼې؟!!

دلته هم ګورئ چې هغه څه په څرګند ډول نه دی ښودل شوی چې آسمان ئې بېرته راګرځوي، خو په دې خاطر وایو چې له دې نه مراد د اوبو بخارات دي چې د آسمان په لوري درومي او هغه ئې بېرته د باران او واورې په بڼه کې راګرځوي، چې لومړی له دې پرته بل داسې څه نه شو په ګوته کولی او دوهم دا چې د دې بېرته راګرځېدونکي او د ځمکې د چاودېدو تر منځ باید څه ارتباط وي او درېیم دا چې دا باید بیا ژوندن ثابت کړی شي، له بارانه پرته بل داسې څه نه مومو چې دا کار کوي.

- ځینو درنو مفسرینو په (انه لقول فصل) کې ضمیر قرآن ته راجع ګڼي او وایي:

یقیناً چې د قرآن وینا قاطع او پرېکنده ده. په داسې حال کې چې د دې توجیه لپاره نه یوازې کوم دلیل نشو وړاندې کولی بلکې په دې سره د آیتونو ترمنځ همغږي هم له منځه ځي، په ډېر لږ دقت سره دا خبره راته جوته کېږي چې له دې (قول فصل) نه مراد هغه قول دی چې د همدې سورې په ۸ آیت کې راغلی او د باران ورېدل او له ځمکې د بوټو راټوکېدل ئې د همدې قول د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې کړي، په دې معنا چې بیا ژوندون او دا چې الله تعالی د مړو په بیا احیاء قادر دی، خوشې او بېهوده خبره مه ګڼئ، مګر نه ګورئ چې الله تعالی له آسمانه اوبه راوروي او په دې سره مړه ځمکه راژوندۍ کوي!! ستا (رجع) او بیاراګرځونه به هم دغسې وي. (ذات الرجع) آسمان او (ذات الصدع) ځمکه په دې خبرې شهادت ورکوي چې الله تعالی ستا په (رجع) قادر دی.

**۱۵-۱۷**: د دغو مبارکو آیتونو په اړه څو ټکیو ته پام ولرئ:

الف: له دغو آیتونو په څرګنده معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې دښمنانو د اسلام او مسلمانانو په ضد توطئو او دسیسو ته ملا تړلې وه.

ب: پیغمبر علیه السلام او ټولو مؤمنانانو ته ډاډ ورکړی شوی چې د دښمن له کید او مکره وېره او تشویش مه لرئ، هیڅ تاوان نشي دررسولی، الله تعالی ستاسو ولي او مرستندوی دی، هغه به د دوی توطئې شنډوي.

ج: داسې نه چې د کفارو په نیونې کې ځنډ او تأخیر ستاسو د اندېښنې او تشویش باعث شي، دا (مهلت) زیات او اوږد نه دی، ډېر ژر به پای ته ورسېږي او الهي عذاب به ډېر ژر پرې نازل شي.

# الاعلی

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الاعلی (هماغه لوړ) دی، چې له لومړۍ آیته ئې اخیستل شوی، ۱۹ آیتونه لري، له اووم آیته پرته نور ټول له درېو درېو ورته غړېونو جوړ شوي، خو اووم آیت هم دوه فقرې لري چې هره یوه د سورې د آیتونو په څېر ده، د ټولو آیتونو فواصل د اعلی په وزن دي، دا وزن له فواصلو علاوه په نورو الفاظو کې هم ګورو، چې سورې ته ئې ډېر ښاېسته او خوندور سجع ورکړې، د سورې له متنه مخصوصاً له شپږمه آیته معلومېږي چې دا سوره د مکي دور په لومړیو کې نازله شوې، هغه وخت چې لا پیغمبر علیه السلام د وحي په ترلاسه کولو کې مشکلات درلودل او دا اندېښنه به ورسره وه چې داسې نه څه ترې هېر شي، لا ورسره عادي شوی نه وو، په دې سوره کې ده ته په دې اړه ډاډ ورکړی شوی. په لومړیو پنځو آیتونو کې د توحید او خدای پېژندنې اساسات او مبادي څېړل شوي، بیا پیغمبر علیه السلام ته اطمئنان ورکړی شوی چې:

۱ـ د الله د رعایت او عنایت په وجه به د قرآن وحي ترې نه هېرېږي.

۲ـ د الله لوري ته د بلنې مأموریت ئې ورته آسانه او په دې کې را خلاصه کړی

چې یوازې د هغه چا د لارښوونې او هدایت هڅه وکړي او پند ورکړي چې د بلنې د منلو وړتیا په کې موندل کېږي.

**۳ـ** څوك چې بې باکه او لاابالي نه وي، د خپلو عملونو د ښو او بدو پایلو په هکله بې اعتناء نه وي، په ځان او له خپله عاقبته وېرېږي، د ځان او د ټولنې د غلطو عقایدو، بدو افکارو او نظریاتو له پایلو وېره لري، په خپلې ټولنې کې د ظلم، فساد او بې عدالتۍ عواقب خطرناك ګڼي او د نجات لارې لټوي، د دې الهي دعوت اصلي مخاطب همدغه دی، داسې څوك به حتماً دا پیغام د زړه په غوږونو اوري او دې بلنې ته به لبیك وایي، خو شقي او بدبخته انسان به له دې ډډه کوي.

**۴ـ** څوك چې خپلې فکري او اخلاقي تزکیې ته اهتمام او التفات لري، خپل پالونکی رب رایادوي او لمونځ کوي، فلاح او بریا به ئې په برخه شي.

**۵ـ** خلك د دنیا ژوند غوره ګڼي، ژر او آسانه ترلاسه کېدونکي، ټیټ او پرېوتي اهداف ځان ته ټاکي، حال دا چې دنیا او دنیوي اهداف بې پایښته او ناڅیزه دي او آخرت غوره دی او تل پاتې.

**۶ـ** ستا رسالت د ابراهیم او موسی علیهما السلام په څېر د اولوالعزمه پیغمبرانو د رسالت ادامه ده، همغه چې د سترو سترو مدنیتونو بنسټونه ئې اېښي، د سترو سترو انقلابونو لارښوونه ئې کړې او د تاریخ لوی لوی مستکبرین د دوی په لاس رانسکور شوي، ستا او د دوی پیغام یو دی او د دعوت او مبارزې پایلې مو ورته.

بسم الله الرحمن الرحیم

---

**3' ‰gù '£‰ "Ï‰Œ$r ÇÌÈ 3' §¡ù ,={ "Ï‰Œ$ÇÌÈ '?ãR{$7 ĥ Oð™$Ëĥm™**

**ÇÎÈ 3' qôm& ä$Wâ ¼ã#èÚù ÇÍÈ 4çöü$I •¬z & ü"Ï‰Œ$r ÇÌÈ**

---

**۱- یاد کړه په پاکۍ سره نوم د خپل اعلی رب. ۲- هغه چې پیدا ئې کړل (هرڅه) او برابر ئې کړل. ۳- او آ چې اندازه او هدایت ئې کړل. ۴- او هغه چې دا بوټي ئې راوایستل. ۵- بیا ئې زرغونه او توربخن کړل.**

۱ـ دا آیت دوو مطالبو ته اشاره کوي:

الف: ستا پالونکی رب (لوړ) دی، لوړ تر هر هغه څه چې په دې عالم کې ستا تر سترګو کېږي، لوړ تر دې چې ستا په خیال، وهم او ګمان کې وګرځي، په دې پراخ عالم کې هیڅ څه هغه ته ورته نه شې موندلی.

ب: د خپل لوړ رب نوم په پاکۍ یادکړه، په څو معنا:

اولاً: پام چې د الله جل شأنه په هکله د بحث په دوران کې کوم عیب او نقص ورته منسوب نه کړې، الله تعالی تر دې لوړ دی چې په ذات او صفاتو کې ئې څه کمی او عیب وي.

ثانیاً: الله تعالی په داسې نامه مه یادوه چې د ده له عظمت او شأن سره نه ښایي، الله تعالی غوره نومونه لري، په دغو غوره نومونو سره ئې یادوه، باید پوره محتاط وې چې د الله د یادولو او ذکر په وخت کې داسې نوم ونه کاروې چې د الله تعالی په شأن کې بې ادبي ګڼل کېږي، د الله ذکر خاص ادب او ځانګړی فرهنګ او قاموس لري، د ځان پاکوالی، د زړه حضور او د روح خشوع، د دې مقدس مقام آداب دي، څوك چې له دې پرته بل حالت ولري، بې ادبي ئې کړې، همدارازد ذکر په دوران کې هغه نومونه کارول چې له دې خاص او ځانګړي قاموس څخه نه وي اخیستل شوي، الحاد او له اصلي لارې کږېدل دي، څوك چې د مستۍ او بې خودۍ په حالت کې، له جذبې او ساز او سرود سره الله یادوي بې ادبي کوي، څوك چې الله د ساقي، صنم، دلبر، معشوق، پیرمغان او ... په نامه یادوي بې فرهنګه دی، د الهي ذکر له قاموسه بې خبره او د الله تعالی د ذکر له آدابو بې برخې.

۲ـ ستا پالونکی رب همغه دی چې دا ټول پیدا شوي ئې پیدا کړي، نه یوازې دا چې هغه ئې پیدا کړي بلکې (سم) ئې پیدا کړي، د دې عالم هر څه ښه، ښایسته،

موزون او دقیق پیدا شوي، له یوې خوا د دوی (وجود او شته والی) په دې دلالت کوي چې حتماً یو (پیدا کوونکی) لري، له بلې خوا د دوی سم، دقیق او موزون خلقت په دې شهادت ورکوي چې (پیدا کوونکی) ئې (اعلی) او (لوړ) دی.

د هر څه پیدا ښت له نشته پیل کړي، ورو ورو ئې کمال او د سموالي وروستي پړاو ته ورسوي.

له (پیدا ښت) او (تسویې) علاوه دوې نورې ځانګړتیاوې هم د ده په مخلوقاتو کې ګورو:

الف: هغه ثابته او معینه اندازه چې د دوی په (مقدار) کې مراعات شوې.

ب: هغه لارښوونې چې د هر څه په فطرت او خټه کې ایښودل شوې.

د دې عالم خالق او پالونکي رب هر څه د ضرورت په اندازه پیدا کړي، نه تر ضرورته کم او نه زیات، هیڅوك نه شي کولی د دې پراخ عالم په غېږ کې کوم داسې (اضافي) او (غیرضروري) شی ومومي چې هسې او بې له کومې ګټې ئې دلته کوم (ځای) اشغال کړی!! همداراز نه شي کولی د داسې کوم څه نوم واخلي چې په دې عالم کې ئې ځای تش او خالي دی، د دې عالم د توکیو په (مقدار) او د دوی ترمنځ (تناسب) کې چې کومه (اندازه) مراعات شوې دومره دقیقه ده چې په هغه کې ډېر لږ تغییر او تعدیل د ټول عالم د متلاشي کېدو باعث کېږي!! هر شئ په خپل ځای او مقدار کې داسې دقیق پیدا شوی چې که له منځه ولاړ شي او یا ئې اندازه او مقدار کم او زیات شي، د ټول عالم بقا له ګواښ سره مخامخ کوي.

پالونکي رب چې هر څه پیدا کړی، هغه ته ئې لارښوونه او (تلقین) کړی چې دنده ئې څه ده او دلته به د خپل شتون په دوران کې کوم کوم کارونه ترسره کوي، کوم خالي ځای به ډکوي، په کوم مسیر کې به خوځي، کوم نتایج به وړاندې کوي. مګر نه ګورئ چې لمر په خاص وخت کې له خاص ځایه راخېژي، په معین مسیر کې درومي، د یوې معینې مسافې له پلې کولو وروسته، په خاص وخت کې، په داسې ځای کې پرېوځي چې له مخکې ورته ټاکل شوی، خپل مأموریت ترسره کوي، تاسو ته رڼا او تودوخه درکوي، ستاسو، حیواناتو او نباتاتو اړتیاوو ته ځواب وایي،

ستاسو په خدمت کې دی، د دانې او مېوې په پيدابښت کې ممد او د رزق او روزي په درکولو کې درسره مرسته کوي، سپوږمۍ د شپې رابره کېږي، ستاسو تياره شپې روښانه کوي او ستاسو لپاره په تيارو شپو کې روښانه او څرګند تقويم، چې د شپو ورځو حساب پرې معلوموليی شئ.

ونې ګورئ چې شپه ورځ په کار بوختې وي، زيار باسي، مضر ګازونه جذبوي او ستاسو د اړتيا وړ اکسيجن توليدوي، د ځمکې له خاورو نه په خپلو نازکو جرړو سره هغه حياتي مواد جذبوي چې ته ورته ضرورت لرې او د لمر د وړانګو په مرسته له دغو موادو تا ته ښاېسته او خوندورې مېوې جوړوي.

د شاتو موچۍ ګورئ چې له دې وړوکتوب او نازکتوب سره سره څومره منظم او ښاېسته کور ځان ته جوړوي، داسې منظم کور چې د نړۍ ستر مهندسين ئې په ډېرو مجهزو وسايلو هم له جوړولو عاجز دي، له داسې توکيو ئې جوړوي چې د شاتو په څېر شی په کې تر اوږدې مودې خوندي او روغ رمټ ساتلی شي، په دې پوهېږي چې څنګه د خپلې خوښې (ملکه) او (واکمن) ځان ته غوره کړي، د زور پاچايي نه مني، په ډېر ښه شان خپل وظايف په خپلو کې وېشي او دا استعداد لري چې په خپل ملك کې دقيق نظم پلي کړي، په کوم کې چې هم د دندو وېش عادلانه وي، هم د نظافت او صفايي خيال ساتل شوی وي او هم د پرديو او د هغو موچيو له ننوتو مخنيوی وشي چې له ناپاکو وزرونو او پښو سره د دوی پاك او صفا کور ته ننوتل وغواړي، د کور په دروازه کې حساس او هوښيار پهره داران ودروي او هر ننوتونکی څاري او يوازې په هغه صورت کې د ننوتو اجازه ورکوي چې (خپل) وي او (پاك ستره) وي، په دې پوهېږي چې څنګه د ګلانو عصاره وزبېښي او شات ترې جوړ کړي، داسې شات ترې جوړ کړي چې د کلونو کلونو په تېرېدو هم نه ګنده کېږي، د انسان د ډېرو بيماريو لپاره درمل دی او انسان تر اوسه له خپل ټول مخکې تګ او مجهزو لابراتوارونو سره سره د هغه له توليده عاجز دی، خو همدا وړه حشره ئې هم پيدا کولی شي او هم ئې تر اوږدې مودې صفا، ستره او روغ رمټ ساتلی شي!! چا به حتماً دې ته په غوږ کې ويلي وي چې څنګه والوزي، څنګه له

هغه وروسته خپل کور ته بېرته راستنه شي او لار ورکه نکړي چې په پراخې فضا کې څو څو کیلومتره لرې د ګلانو په لټه کې ځي، بېرته راګرځي او له کومې اشتباه او غلطۍ پرته د خپل کور دروازه پیدا کوي!!

مونږ داسې مرغان هم مومو چې بچوني ئې هیڅکله خپله مور نه ګوري، مور ئې د زېږښت په وخت کې، په یوه خوندي ځای کې، څو پوړېزه ځاله جوړه کړي، داسې چې کافي نور او حرارت وررسېدی شي، په هرې برخې کې یوه هګۍ واچوي او خوا ته ئې د خپل بچوني اړتیا وړ کافي مقدار خوراك کېږدي، بیا د هرې ځالې خوله وربنده کړي، دا د خپلو بچونو له راوتو مخکې ومري، بچوني ئې له هګیو راووځي، په هماغه خوراك تر هغو ګوزاره کوي چې ستر شي او د الوتو جوګه، نو د ځالې خوله پرانېزي، بهر راووځي او د خپلې مور په څېر ئې ژوند او خوی او عادت وي او د ژوند په پای کې د خپلې مور په څېر ځاله جوړه کړي، هګۍ په کې واچوي، خولې ئې وربندې کړي او ومري. وواییئ: څوك دغو مرغانو ته چې خپله مور ئې نه ده لیدلې، معلم او استاد هم نه لري، لارښوونه کوي او ورته وایي چې ستا د پلار نیکه د ژوند طریقه دا وه؟! یقیناً چې الله تعالی هر څه پیدا کړي او هر یوه ته ئې د خپل فطرت او طبیعت مطابق لارښوونه کړې.

د عالم په ټولو مخلوقاتو کې یوازې انسان داسې مومو چې د هغو فطري لارښوونو تر څنګ چې د ده په ضمیر کې ایښودل شوې هم مور ته شدیداً اړ وي او هم مرشد او لارښود ته. له دې پرته نه سم ژوند کولی شي او نه کمال ته رسېدی شي.

د غرڅه بچی په دې پوهېږي چې څه وخت د واښو خوړل پیل کړي او د غرونو په پراخو لمنو او لویو دښتو کې، چې له راز راز بوټو ډکې وي، کوم بوټی وخوري او د کوم یوه له خوراکه ځان وساتي. خو د انسان (بچی) تر اوږدې مودې، نه شي کولی چې په خپل وړوکي کور کې ښه او بد وپېژني او مفید له مضره بېل کړي، هم اور ته لاس غځوي او هم ډبره، لوټه او حتی زهر په خوله منډي. نه اور ته له ځان اچولو ډډه کوي او نه اوبو ته، (لارښود) او مرشد ته اړتیا د ده د فطرت مقتضا ده.

**۴**- ستا رب هماغه ذات دی چې بوټي راشنه کوي، هماغه ذات چې په اراده ئې

د ځمکې له کلك او سخت پوټکي، نازك او ښاپسته بوټي راټوکوي او هيڅوك د دغو رنګ رنګ بوټو په پيدا کولو کې د ده د فعل شريك نه دی، همدا ستا رب دی. ته ځمکه وسپړې، مړه دانه په کې وکرې او ستا رب ئې د شنه او ښاپسته بوټي په څېر راوباسي چې ژوندی دی، احساس لري، وده کوي، د خپل نسل د دوام بند وبست کوي او څو دانې په عوض کې درکوي.

**۵**.د دې مبارك آيت په هکله د درنو مفسرينو ترمنځ دوه رأيې مومو:

الف: ځينې (غثاء) د خس او خاشاك په معنا اخلي او (احوی) د هغه خوسا شوي بوټي په معنا چې رنګ ئې توربخون شي. دوی **۴** او **۵** آيتونه داسې ترجمه کوي:

ستا رب همغه دی چې له ځمکې بوټي راشنه کوي، چې بيا ئې وچ او خوسا کړي.

ب: ځينې نور ئې (غثاء) د ستر شوي بوټي او (احوی) له شينوالي توربخون شوي په معنا اخلي او نوموړي دوه آيتونه داسې ژباړي:

تنکي واښه له ځمکې راباسي، بيا ستر بوټي ترې جوړ کړي او له ډېر شينوالي ئې توربخون کړي.

په لږ دقت او د آيتونو سياق او سباق او له مخکنيو او وروستنيو آيتونو سره ئې ارتباط ته په پام سره په دې پوهېدل راته آسانه کوي چې دوهمه رأيه دقيقه ده او د آيتونو ترمنځ نږدې ارتباط څرګندوي او لومړۍ رأيه دا تنسيق او يووالی له منځه وړي.

---

4"÷ ƒ $Br •ĝ f ß$D=èƒ ¼çR̂ ª! $ä$© $B žv̂ ÇÏÈ ǿ¤Y? Ẍù š• êŷã™

`B ã©¤‹™ ÇÌÈ 3‘ •øë!$ ÏMèÿR bÎ ëJ ‹ù ÇÑÈ 3‘ Žô ãü 8ţÅŠçr ÇÐÈ

Ẅ ßê ÇÊÈ 3‘ Ž0ß$‘$Z9$’?Á ƒ “Ï%$ÇÊÈ ’+ôR{ $$kãZ f Gƒr ÇÊÈ 4´ ø

ÇÌÈ Ǿ•ÞŢ Ŵr $kŽïi ßl qß3ƒ

۶- ژر به ئې پرتا لولو، داسې چې ئې هېر نکړې. ۷- مګر دا چې الله وغواړي، بې شکه دی پوهېږي په ښکاره او په هغه چې پټېږي. ۸- او تا به کړو روان په دې آسانه، آسانۍ سره. ۹- نو وکړه یادونه، که تذکار وو ګټور. ۱۰- هغه چې وېرېږي، ژر به پند ورځخه واخلي. ۱۱- او هغه چې ترټولو زیات شقي وي، لدې به شي په ډډه. ۱۲- همغه چې ستر اور کې به داخل شي. ۱۳- بیا خو به، نه مري هلته او نه خو به ژوندون کړي.

۶. د دې آیت په ترڅ کې پیغمبر علیه السلام ته اطمئنان ورکړی شوی چې له جبرئیل علیه السلام نه د وحي ترلاسه کولو په وخت کې دا اندېښنه ونه لري چې ترې هېر به شي، پیغمبر علیه السلام د وحي د پیل په لومړیو ورځو کې او مخکې له هغه چې په دې کې پوره مهارت پیدا کړي، له جبرئیل علیه السلام نه د وحي له اورېدو سره سم به ئې هغه په وار وار تکراراوو چې ښه ئې حفظ کړي، په دغه آیت سره هغه ته ډاډ ورکړی شو چې د وحي د هېرېدو په هکله تشویش مه کوه، قرآن به داسې پر ده لوستل کېږي چې هیڅکله ئې هېر نه کړي. دا آیت څو ظریفو ټکیو ته اشاره کوي:

الف: دا سوره هغه وخت نازله شوې چې لا پیغمبر علیه السلام د وحي په اخیستو کې پوره او بشپړ مهارت نه درلود او له دې په ښکاره معلومېږي چې دا سوره د بعثت په لومړیو کې نازله شوې.

ب: انسان ته د خطاب او څه ورته ویلو داسې طریقه هم شته چې که مراعات کړی شي نو مخاطب به ئې د ده وینا د تل لپاره په یاد ساتي، انسان ته په دې خاصې او ځانګړې توګه څه ویل د دې باعث شي چې هغه ئې خپلې حافظې ته داسې وسپاري چې هیڅکله ترې هېر نه شي.

۷ـ دلته د (الاما شاء الله) فقره دوه مطلبه افاده کوي:

الف: د قرآن داسې ډاډمن حفظ ستا خپل ذاتي کمال نه دی، بلکې د الله تعالی د عنایت او توفیق نتیجه ده. که دا الهي عنایت ستا په حال شامل نه وي او الله تعالی وغواړي چې څه ستا له حافظې زایل کړي، ټول به هېر کړې، دا همغه مطلب دی چې د قرآن په بل آیت کې په دې صیغه راغلی:

وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ الاسراء : ۸۶

او که وغواړو نو ټول هغه څه به زایل کړو چې تا ته مو وحي کړي.

ب: که مؤقتاً او احیاناً ځینې برخې هېرې کړې، نو دا هېرونه د هغه قطعي تضمین مغایر نه ده چې د نه هېرولو په هکله شوی، الهي سنت داسې دی چې کله کله انسان هغه څه هم هېروي چې دقیقاً او په ډاډمنه توګه ئې حفظ کړی وي، خو په یوې عادي اشارې سره ئې بېرته راپه یاد کړي. د دې آیت په ترڅ کې چې د کوم څه تضمین شوی هغه دا ده چې ترلاسه کړې وحي به هیڅکله په دائمي توګه نه هېروې. د موقت هېرولو یوه بېلګه ئې په صحیح بخاري کې هغه روایت دی چې وایي:

یو ځل پیغمبر علیه السلام د فجر په لمانځه کې د یوه آیت لوستل هېر کړ، له لمانځه وروسته ابی بن کعب رضي الله عنه ترې وپوښتل یارسول الله ! آیا دا آیت منسوخ شوی؟ وئې فرمایل: نه رانه هېر شو.

د (انه یعلم الجهر و مایخفی) فقره چې د هر پټ او ښکاره څه په هکله د الله تعالی مطلق علم بیانوي، دلته او د نوموړي آیت د مخکنۍ برخې په ارتباط دا مطلب په ګوته کوي چې که د وحي د اخیستو په وخت کې، په ژبه یا په خپل زړه کې د وحې الفاظ تکرار کړې، که خپله اندېښنه ښکاره کړې یا ئې په خپل زړه کې وساتې، الله تعالی پرې پوهېږي، همدا راز دا مطلب په ګوته کوي چې دا ډاډېنه د هغه الله تعالی له لوري ده چې ستا له پټو او ښکاره استعدادونو خبر دی او په دې پوهېږي چې په کومه بڼه کې تا ته وحي وکړي تر څو ئې هیڅکله هېره نه کړې.

۸ ـ۹: دا دوه آیتونه د (فاء) په توري سره په خپلو کې تړل شوي او دا مطلب افاده کوي چې: اې پیغمبره! د الله تعالی او د ده د دین په لوري د دعوت او بلنې په

دې کار کې مو ستا دنده آسانه کړې او کوم داسې درونډ پېټی مو ستا په اوږو نه دی اېښی چې ورېل ئې درته ګران وي، له تا سره مو آساني کړې او ستا مأموریت مو په دې کې راخلاصه کړی چې یوازې د هغو خلکو دعوت او بلنې ته اهتمام او التفات ولرې چې ستا له تذکر او یادونې ګټه اخیستی شي، خو هغه چې (ذکر) کومه ګټه نه وررسوي، وجدان ئې د مرګ په خواب بیده دی او په هیڅ نعرې او چیغې که څه هم د ډېر زړه سواند داعي له کومې راوتلې وي، نه راویښېږي، هیڅ دعوت که هر څومره د عقل او شعور راپاروونکی او که هر څومره په پېرزوینې او زړه سوي مبتني وي اغېز پرې نه کوي، ته مکلف نه ئې چې دوی به خامخا هدایتوې او په سمه لار به ئې برابروې، یعنی ستا مأموریت مو داسې آسانه کړی چې هدایت کېدونکو ته لارښوونه او یادونه وکړه خو هغه چې د باطل ناولې لمن ئې کلکه نیولې، له حق او حقیقته مستغني او بې نیازه دي او یادونه او ذکر ګټه نه وررسوي، د دوی په هکله د هیڅ مکلفیت احساس مه کوه او ځان په کړاو کې مه اچوه.

۱۰ـ څوك چې وېرېږي هغه حتماً پند اخلي! چې په دې هکله دوه توجیه مومو:

الف: څوك چې له (الله تعالی) وېرېږي، هغه به خامخا ستا له یادونو پند اخلي، ویده ضمیر او وجدان به ئې راویښ شي او حق او حقیقت به درك کړي.

ب: څوك چې بې باکه نه دی، خپلې موجوده وضعې او د خپلې ټولنې اوسني حالت مشوش کړی، د ځان او د خپلې ټولنې د نورو وګړو د افکارو، عقایدو او عملونو پایلې ډېرې خطرناکې ګڼي، مضطرب او پرېشانه دی او د نجات لارې لټوي، دوی به حتماً ستا د دعوت په هېنداره کې د نجات لار بیامومي او خپله ورکه شوې متاع به پیدا کوي.

دوهمه توجیه دقیقه او تر لومړۍ ډېره غوره ده، لومړۍ توجیه په دې دلیل کمزورې او ضعیفه ده چې ترڅو انسان خپل رب سم ونه پېژني له هغه نه وېرېږي، له الله تعالی وېره له هغه وروسته د انسان په زړه کې راپیدا کېږي چې هغه سم وپېژني، خو دا توجیه د دې برعکس وایي چې د الله په لوري ستا بلنه به هغه څوك

مني چې له الله تعالی وېرېږي!!

۱۱ـ تر ټولو بدبخته انسان به له (ذکره) ډډه کوي، په دوو معناوو:

الف: څوك چې ډېر بدبخت او شقي وي او د نېکۍ ټول استعدادونه په کې خپل شوي وي، هغه به له دې (ذکر) او يادونې ډډه کوي. په دې توجيه کې شقاوت او بدبختي د اجتناب او ډډه کولو لامل ښودل شوی.

ب: څوك چې له دې (ذکر) او يادونې ډډه کوي هغه به ډېر شقي او بد بخته انسان وي. او په دې کې له دې ذکر او يادونې نه ډډه کول د شقاوت او بدبختۍ باعث ښودل شوی.

۱۲-۱۳: د دې بدبخت او شقي انسان پاېله دا ده چې په ستر اور کې به لوېږي او د تل لپاره به په کې پاتې کېږي، د نه مړ او نه ژوندي په بڼه کې، ژوند به ئې داسې دردناك او مرګونی وي چې مرګ به يو ستر نعمت ورته برېښي او تل به ئې تمنا کوي، چې ژغورنې ته ئې راورېږي او له دې دردناك ژونده ئې وژغوري، خو تمنا به ئې نه ترسره کېږي.

---

o¢Šs$$bräïsê@/ ÇÎÈ 4©Áù ¾ïÎ!$Î/ OŠ$•.Œr ÇÍÈ 4ì“? `B x=øù& ô‰%

ÇÑÈ 4‹rV$É 8s•Á 9$’Å9 #‹»d bÎ) ÇÐÈ #+ör ŽöZ äe Å Fy$r ÇÏÈ $‹R‰9$

ÇÒÈ 4 › qã r Lìd°•ö) É tç¾

---

۱۴- يقيناً برياله شو چا چې ځان کړو تزکيه. ۱۵- او ورياد د خپل رب نوم شو، نو ودرېد په لمانځه. ۱۶- خو تاسو غوره وئ د دنيا ژوند. ۱۷- حال دا چې آخرت دی هم غوره هم تل پاتې. ۱۸- بې شکه چې دا (ثبت) دی مخکنيو صحيفو کې. ۱۹- د ابراهيم او د موسی په صحيفو کې.

---

**۱۴**- هغه څوك به فلاح او بریا تر لاسه کوي چې لومړی له ناولي فکر او عقیدې او له ګنده کړو وړو ځان لرې وساتي، له حرام خوراك څښاك، له پلیتو اخلاقو او له بدو کړنو ډډه وکړي، ځان تزکیه کړي او خپلې روزنې او تربیې ته اهتمام وکړي.

**۱۵**- ثانیاً خپل رب رایاد کړي او په لمانځه ودرېږي، لمونځ ئې د ځان له تزکیې او د الله له رایادولو وروسته وي. ګورئ چې په دې مبارك آیت کې د الله د نوم ذکر له لمانځه مخکې راغلی چې څو مطالب ترې اخیستل کېږي:

الف: باید د الله رایادونه تا لمانځه ته وهڅوي، چې کله درپه یاد شي، د ده جلال او عظمت او د ده هغه بې شمېره نعمتونه چې پر تا ئې پېرزو کړي، دا باید تا دې ته وهڅوي چې په وړاندې ئې ودرېږې، مننه او شکر ئې په ځای کړې، د اطاعت او بندګۍ ژمنه وکړې، په مخکې ئې رکوع او سجده وکړې او په پښو کې ئې ولوېږې.

ب: د لمانځه تر ټولو مهمه او اساسي برخه د الله ذکر دی، هم ئې بنسټ دی او هم پیل او مقدمه.

ج: لمونځ به د الله تعالی د نامه په یادولو سره پیلوو.

نو لمونځ نه څه شکلي او تشریفاتي مراسم دي، نه بې روح او بې مقصده حرکات، نه بې مفهومه کښته پورته کېدا او نه شرق او غرب او یوې بلې خوا ته بې محتوا مخ اړونه، بلکې بامقصده او بامحتوا حرکت دی، چې د الله له ذکره خړوبېږي، هغه لمونځ چې د الله له یاده غافل زړه سره، له ناولو افکارو او عزایمو سره، له حرامو ډکو سلولونو سره، له ناپاکو او ګنده او له حرامو لارو تر لاسه شوو جامو سره، ادا شوی وي یو بېهوده او په الهي معیارونو کې بې ارزښته حرکت دی.

**۱۶- ۱۷**: تاسو د دنیا په ژوند پورې زړه تړلی، پښو ته لوېدلې، ټیټ او بې ارزښته موخې او اهداف مو ځان ته غوره کړي او په دنیوي مال متاع پسې ښتې یاست، حال دا چې آخرت هم ترې غوره دی او هم تلپاتې، دې غوره او تلپاتې هدف ته د لمانځه له لارې رسېدی شئ.

۱۸- ۱۹: په دې وینا سره چې (دا مطلب په لومړنیو صحیفو کې راغلی)، یا مخکنی آیت ته اشاره شوې، یا د (قد افلح من تزکی) آیت ته او یا ټولې سورې ته، په دې معنا چې د دې سورې مطالب د توحید، رسالت، د دعوت مؤیدین او معاندین او د دنیا او آخرت تر منځ دا مقایسه د ابراهیم او موسی علیهما السلام په څېر د دوو سترو پیغمبرانو په صحیفو کې هم راغلي. د دې دعوت موافقین او مخالفین دې خپلې پاڼلې د دغو سترو سترو شخصیتونو د قصو په هینداره کې ولټوي چې هر یوه ئې د سترو انقلابونو لاربنودنه کړې، ستر ستر امتونه ئې جوړ کړي، د شرك، جهل او ظلم ټغر د دوی په لاس ټول شوی، ستمګران او مستکبران د دوی په لاس رانسکور شوي او د هغو لویو لویو بریالیو قیامونو لاربنوونه ئې کړې چې بې وزلو او مستضعفو پرګنو د خپلې آزادۍ او نجات لپاره ترسره کړي.
که وغواړو چې د (ان هذا لفي الصحف الاولی) په آیت کې د (ان هذا) اشاره تر ټولو نږدې مطلب ته مربوط وګڼو نو تر دې مخکې آیتونو کې ویل شوي (قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى * وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى * بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا * وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى * او دا هغه اساسي مطالب دي چې په ټولو الهي کتابونو کې راغلي، همدا راز د دې سورې ټول مطالب داسې اساسي مطالب دي چې په نورو کتابونو کې هم راغلي دي. ابن جریر لومړی قول غوره ګڼي او ابن عباس د یوه حدیث په استناد دوهم قول.

د لمانځه په اړه چې په دې مبارکې سورې کې څه ویل شوي، دوه ئې غور او دقت غواړي:

۱ـ پیغمبر علیه السلام وروسته له هغه چې د دې مبارکې سورې دا لومړی آیت (سبح اسم ربك الاعلی) پرې نازل شو، صحابه وو ته ئې وفرمایل: د (سبحان ربی الاعلی) تسبیح د خپلو سجدو د تسبیحاتو برخه وګرځوئ.

عن عقبة بن عامر الجهني "لما نزلت فسبح باسم ربك العظيم قال لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم اجعلوها في ركوعكم، فلما نزلت "سبح اسم ربك الاعلی" قال اجعلوها في سجودكم. اخرجه احمد و ابن ماجه و ابوداؤد

۲ـ لکه څنګه چې په دې سوره کې د (الله د نامه ذکر) تر لمانځه د مخه راغلی،

پیغمبر علیه السلام هم دا لارښوونه کړې چې لمونځ باید د الله اکبر په ویلو سره پیل شي.
له دغو دواړو خبرو معلومیږي چې پیغمبرعلیه السلام د لمانځه ټول حرکات، الفاظ او ترتیب ئې د قرآن له اشارو او څرګندونو څخه اخیستي، چې په ځینو ئې اکثر خلك پوهېدی شي او په ځینو ئې یوازې پیغمبر علیه السلام پوه شوی او نور ئې پرې پوه کړي.

# الغاشية

## د سورې معرفي

د دې مبارکې سورې نوم الغاشية (پوښوونکې) ده چې له لومړۍ آيته اخيستل شوی، ۲۲ آيتونه لري، ټول آيتونه ئې د طول او د غږونو د شمېر له مخې سره ورته دي، د لومړيو پنځو آيتونو فواصل ئې د غاشيه او خاشعه په وزن دي، شپږم او اووم آيتونه ئې د ضريع او جوع په صيغو پای ته رسېدلي، بيا له اتمه تر دولسمه پورې ټول د لومړنيو په څېر د ناعمة او راضية په هموزنو الفاظو ختم شوي، له ديارلسمه تر شپاړسمه پورې د مرفوعة په څېر هموزنو صيغو او له اوه لسمه تر شلمه آيته د څلورو آيتونو په پای کې د خُلِقَت او رُفِعَت هموزنه صيغې راغلې او بيا څلور ورپسې آيتونه د مُذکِّر، مسيطر، کفر او اکبر په صيغو ختم شوي او د پای دوه آيتونه ئې د ايابهم او حسابهم په هموزنو صيغو پای ته رسېدلي. د آيتونو اوزان او مد و جذر ئې ډېر ډېر ښاپسته او خوندور دی. د مکې دور په لومړيو کې نازله شوې، د بحث محوري موضوع ئې د قيامت هغه هيبتناکه ورځ ده چې آثار او نښې به ئې د هر چا په څېرو کې څرګندې وي، د دې ورځې د هيبتناکو پېښو آثار هم، د الهي محاسبې د رعب او هيبت آثار هم او د هر چا د عملونو په هکله د وروستۍ پرېکړو د اصدار اغېز به هم د هر کس په څېره کې ښکاره وي، ځينې به

ګورې چې د ذلت، سپکاوي، وېرې، خوف، ندامت او پښېمانۍ نښې به ئې په څېرو کې له ورایه وینې، د جهنم سرو لمبو ته به په ننوتو اړ شي، د جهنم د خوټېدونکې چینې د جوشو اوبو په څښلو به مجبور شي، د اغزنو بوټو داسې خواړه به ئې مخې ته کېښودی شي چې نه څوك سوربوي او نه ئې لوږه رفع کوي، د دوی په مقابل کې به نور داسې وګورې چې په خوښو او خوشحاله څېرو کې به ئې د نعمتونو آثار ګورې، په لوړو لوړو جنتونو کې په جګو جګو تختونو ناست.

هغه چې د دې عالم په څرګندو آیتونو او نښو کې ئې غور ونه کړ، له هغو واضح او روښانه لارښود نښو ئې پند وانه خیست چې د دوی چارچاپېر خورې وې، نه ئې د دې آسمان په پیدا ښت کې غور وکړ او نه د هغو بې شمېره ستورو چې دې پراخ آسمان په خپلې غېږ کې ساتلې، د دوی لمر ئې په خپلې غېږ کې ورته نیولی وو رڼا او تودوخه ئې ورکوله، پر دوی ئې باران وراوو او د ځمکې په سر د رزق او روزي په تأمین کې ئې د دوی مرسته کوله، دې ته ئې هم پام ونه کړ چې د اوښ په څېر ستر ستر حیوانات ئې ده ته رام او مسخر کړي وو، سره له خپل ستروالي او ځواکمنۍ ئې تر ځان ډېر ضعیف انسان ته غاړه ایښې وه، ورته مطیع وو او د ده خدمت ئې کاوو، دې ځمکې ته ئې ونه کتل چې د ده د کور فرش ئې ترې جوړ کړی وو، دی ئې په خپلې غېږ کې نیولی وو او له خپلې سینې ئې ده ته خوندورې دانې او مېوې راټوکولې، دې دنګو دنګو غرونو ته ئې هم توجه ونه کړه چې د ده چینې، کارېزونه او ویالې ترې رابهېدې، د دغو ټولو څرګندو نښو له لیدو سره سره ئې خپل رب ونه پېژاندو او هدایت نه شول، دوی تر حیواناتو ډېر بې عقله دي، تر دې اوښ هم، د قیامت په ورځ به د دغه اوښ خواړه ده ته ورکول کېږي، اغزي به ئې خوراك وي، د اوښانو په خواړو به ئې استقبال کېږي.

د سورې په پای کې پیغمبرعلیه السلام ته ویل شوي چې د دغو کم عقلو او بې شعورو مخالفینو له مخالفتونو مه تشویش کوه او مه د ستړیا او ستومانتیا احساس، خپل کار ته په ډاډه زړه ادامه ورکړه، ته مذکر او پند ورکوونکی یې، خپله دنده ترسره کړه، دوی ته خپل نصیحت وکړه، هېر حقایق ورپه یاد کړه، ته د

دوی د حتمي هدايت او لارښوونې مسئول نه يې، کومه سلطه او سيطره ورباندې نه لرې، الله ته به ورګرځي او هغه به ورسره محاسبه کوي.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

þ6Ï¹ $R ×#Ë%æ ÇËÈ þèË»z ÞÍBöÿ þqã ãÇËÈ þ‹Ë»óßß$ß ƒ‰m 7 9?& ©d

žvÎ þ$èÛ ÞÇ; § ¨©ÇÎÈ þ‹Ï#ä Þ‹ã ôË 4+ó ©ÇÍÈ þ‹Ë%n #‘$R 4?óÁ ? ÇÌÈ

ÇÐÈ 8qã `Ë ÓÍóãÿr ßÜó çž ÇÏÈ 8ƒÎÏ `Ë

---

۱- آيا تا ته رسېدلې دی خبر د آ پوښونکې؟ ۲- څه څېرې به په دې ورځ وي وېرېدونکې. ۳- سترې او ستومانه. ۴- ننوځي به سره اور کې. ۵- څړوبېږي به له يوې تودې چينې نه. ۶- نه به وي خوراك دوی لره پرته له اغزن بوټي.۷- نه به سوربولی شي او نه خو به د لوږې چاره کړلی شي.

---

۱. بايد وګورو چې (هاغه پوښونکې) څه ده؟ او څه به پوښي؟ له ورستيو آيتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې له دې پوښونکې نه مراد د قيامت ورځ ده، چې په هر څه به خپل وزر وغوړوي، هر څه به احاطه کړي، د هيبت اغېز به ئې په هر چا او هر څه پروت وي، نښې به ئې په هرې څېرې کې راڅرګندې وي. آيا د دې ورځې له څرنګوالي خبر يې؟

۲.۳ په دې هيبتناکې ورځ کې به ځينې مخونه داسې مومې چې د سختې وېرې او خوف نښې به له ورايه پکې برېښي، سپك او ذليل به وي، يوې بلې خوا ته منډو به سخت ستومانه کړي وي، د هغې ورځې د کړاوونو په وجه به سخت سترې وي، د دوزخ د سرو لمبو په ليدو سره به له وېرې پوړېږي.

**۴.** د دوزخ په سره او تاوده اور کې به ننوتو ته اړ شي.

**۵.** د جهنم د خوټېدونکې چينې د جوش اوبو په ځښلو به مجبور شي. د دوی په مقابل کې به نور داسې وګورې چې په خوښو او خوشحاله څېرو کې به ئې د نعمتونو آثار ګورې، په لوړو لوړو جنتونو کې په ځګو ځګو تختونو ناست.

**۶ـ۷** د اغزنو ترخو بوټو داسې خواړه به ئې مخې ته کېښودی شي چې نه څوك سوربوي او نه ئې لوږه رفع کوي.

دوی په دنيا کې د الله تعالی د نعمتونو کفران او ناشکري کوله، نو ځکه به اوس له ټولو هغو نعمتونو محروم وي چې په دنيا کې ئې ورکړي وو، دوی په دنيا کې د حيوان په څېر ژوند وکړ، نو خود به نن د دوی طعام هغه تريخ او اغزن بوټي وي چې اوښان ئې خوري.

---

ßJó@ žv ÇÌÈ þ7‹ÿ‰æ þZ_ ’Î ÇÒÈ þ«Ê#‘ $kÈ¡ÿ ÇÑÈ þå$R 7ÍBöf þqã_ã

Ò#qør ÇÌÈ þãqèöB Óßs $kŽÏ ÇÊÈ þ/f‰` èã $kŽÏ ÇËÈ þ‹ÿ9 $kŽÏ

ÇÏÈ þ0qèöB •î#‘–r ÇÎÈ þùqãóÁ B äíŸ$ÿVr ÇÍÈ þãqâÊ öB

---

۸- پدغه ورځ به ځينې څېرې خوښې وي. ۹- راضي په خپلو هڅو. ۱۰- عالي شانه جنتونو کې. ۱۱- نه به اوري هلته بېهوده وينا. ۱۲- په دې کې وي جاري چينې. ۱۳- په دې کې لوړ تختونه. ۱۴- او جامونه هرې خوا ته ايښودلي. ۱۵- او په ليکه ږدول شوي بالښتونه. ۱۶- او خواره نفيس فرشونه.

---

**۸.** جنتيان به داسې مومې چې د نعمتونو آثار به ئې په ځلانده او روښانه څېرو کې له ورايه برېښي، خوښ، خوشحاله او په شونډو ئې موسکا.

۹ـ په دنیا کې په خپلو کړو عملونو او هلو ځلو راضي او په پایلو ئې خوشحاله.

۱۰ـ دوی به لوړو او عالي شانه جنتونو کې وي، جنتونه به ئې هم له معنوي لحاظه لوړ وي او هم د مستوی له لحاظه، دا هم د انسان یو فطري تمایل دی چې دنګ او جګ کور، په لوړ او مرتفع ځای خوښوي، په جنت کې به د انسان دغه تمایل هم اشباع او دغې فطري غوښتنې ته به ئې هم ځواب وویلی شي.

۱۱ـ په هغه کې به هیڅ بېهوده خبره نه اوري، دا ځکه چې په دنیا کې ئې هم په خپله له بېهوده خبرو ډډه کوله او هم ئې له نورو نه خوښوله. او دا یو ستر الهي نعمت دی چې انسان د داسې شریفو او درنو خلکو په منځ کې ژوند وکړي چې نه بېهوده خبره واوري او نه ئې بېهوده کار ترسترګو شي. او د یوه شریف او درونډ انسان لپاره تر ټولو لوی روحي عذاب دا دی چې د بدخولو او بدژبو خلکو په ټولنې کې ژوند وکړي او له هرې خولې ګنده خبرې، دروغ، بد و رد، ښکنځلې او د خدعې او دوکې خبرې واوري.

۱۲ـ انسان هغه باغ او سمسوره سیمه خوښوي او خوند ترې اخلي چې چینې په کې بهېږي، جنت به همداسې وي.

۱۳ـ ۱۶: په جنت کې به په لوړو لوړو تختونو ناست وي، د رنګ رنګ ځښاک جامونه به ئې هرې خوا ته تیار پراته وي، د ناستې په ځای کې به ئې بالښتونه او تکیې په منظمه توګه ایښودل شوي وي، قیمتي، نفیس او فاخره فرشونه به ئې تر پښو لاندې غوړېدلي وي، د هر یوه ژوند به د ځمکې د پاچایانو تر ژوند ډېر ډېر لوړ.

Mèlâ # øŸ2 ä$K¡ 9$’‹Îr ÇÈ M)îä # øŸ2 èÎIM$’‹Î brãÅÝ¯ƒ Ÿxù&

ÇÈ M sÜß # ø. ÇÚ öF$’‹Îr ÇÈ M6ÅÁ ç # ø. É$6gÅ$’‹Îr ÇÈ

۱۷- مګر نه ګوري اوښانو ته چې څنګه پيدا شوي؟ ۱۸- او آسمان ته چې دا څنګه لوړ کړی شوی؟ ۱۹- او دې غرونو ته چې څنګه نصب کړی شوي؟ ۲۰- او دې ځمکې ته چې څنګه غوړول شوې؟

۱۷-۲۰ هغه چې له (آخرت)، (د عملونو له مکافات او مجازات) او له (جنت او دوزخ) نه منکر دي، آيا خپلې شاوخوا ته ئې پام نه دی کړی، د دغو ټولو بارز او ځرګندو مخلوقاتو د پيدا ښت څرنګوالي ته ئې توجه نه ده کړې، دا چې هره شېبه ئې ترسترګو کېږي: آسمان، غرونه، ځمکه او اوښان؟! مګر صحرايي عرب چې تر ټولو غوره شتمني ئې خپل اوښ وو، د دغه ستر، ځواکمن، صبور حيوان د پيدا ښت په څرنګوالي ئې غور نه دی کړی؟!! چا داسې پيدا کړی چې د ده په خدمت کې وي، ده په پراخو، وچو، بې وابنو او بې اوبو دښتو کې د خپلو درنو درنو پېټو د وړلو لپاره د اوښ په څېر يوه حيوان ته ضرورت درلود، الله تعالی ورته راپيدا کړ، ورته رام او مسخر ئې کړ، داسې چې د ده يو وړوکی ماشوم کولی شي د دوی لوی کاروان هرې خوا ته چې وغواړي بيايې ئې.

آيا دغه شنه آسمان ته نه ګوري چې څنګه د ده ځمکه شپه او ورځ روښانه کوي، د لمر په شمول ئې ستر ستر سماوي اجرام په خپلې غېږ کې کلك نيولي، هم رڼا درکوي هم تودوخه، په خپلو نامرئي لاسونو د وربځو لويې لويې کتلې له يوې سيمې بلې ته وړي او په هغه ځای کې چې انسان او نور ژوي واورې او باران ته ضرورت لري، واوره او باران وروي، ستا د ضرورت وړ هوا د خپلې سينې په قفس کې درته ساتي. آيا دغو دنګو دنګو غرونو ته نه ګورې چې ستا د اړتيا وړ واوره په خپلې غېږ کې درته ساتي او ستا نهرونه، چينې او کارېزونه ترې رابهېږي او دې ځمکې ته چې له خپل زړه دانې او مېوې درته راباسي اوبه له آسمانه اخلي، رڼا او تودوخه له لمره او په دې سره ستا د ژوند ضروري مواد د ښاېسته، خوندورې، پاکې، ستره او د هضم وړ مېوې په بڼه کې تا ته وړاندې کوي، مګر له هغه هدفمندۍ چې د ځمکې، آسمان، غرونو، حيواناتو او نباتاتو په پيدا ښت کې

مضمره ده، عبرت نه اخلي؟! او دې ته نه متوجه کېږي چې دا عالم عبث او بېهوده نه دی پیدا شوی. په آخرت نه باور په دې معنا ده چې ته دا هستي يوه بېهوده او عبث ملعبه او لوبه ګڼې، حال دا چې د دې پراخ عالم هر توکی د دې بې بنسټه او غلط باور او انګېرنې په بطلان او غلط والي شهادت ورکوي!!

دا دی ګورئ چې د خپلې مدعا د اثبات لپاره د قرآن اسلوب او طريقه څنګه ده؟ او د هغو فيلسوف مآبانو له اسلوبه څومره فرق لري چې دلايل ئې غامض، مبهم او دومره پېچلي وي چې نه په خپله پرې قانع وي او نه مخاطب قانع کولی شي، مخاطب ئې نه پوهېږي چې دا له کومې نړۍ راغلي او په کومه ژبه خبرې کوي؟! د دغو برعکس قرآن داسې دلايل وړاندې کوي چې هر څوك پرې پوهېدی شي، په هغه څه استناد کوي چې د ټولو مخې ته پراته دي، ملموس او مشهود، د فرد فرد سترګو مخې ته ولاړ؛ آسمان څنګه پيدا شوی؟ ځمکه څنګه؟ غرونه او ستا په خدمت کې حيوانات څنګه؟

---

4kq? `B žvĵ ÇËÈ @ÜžÁ ßĴ Oĝøæ Mó©ÇËÈ Ö2 ‹ã MR& $JRĵ ӧ ‹ù

bĵ Sê ÇÊÈ Nå$ƒĵ $Zøĵ bĵ ÇÍÈ Ž9øF$ > # ‹è$ª! $ǫÉèã ÇÌÈ •ÿ.r

ÇÏÈ Nå$ ¡ Ïm $Zžøã

---

۲۱- نو وریاد کړه چې ته يې وريادوونکی. ۲۲- نه ئې ته پر دوی سلطه کوونکی. ۲۳- مګر هغه چې ئې شا کړه او کافر شو. ۲۴- نو الله به ئې په لوی عذاب تعذيب کړي. ۲۵- بې شکه چې راتګ ئې زمونږ په لور دی. ۲۶- بيا يقيناً چې حساب خو ئې په مونږ دی.

---

۲۱ـ ۲۲: ته اې پيغمبره! يوازې يو پند ورکوونکی او وريادوونکی يې، هيڅ

واك او سيطره پرې نه لرې، ستا دنده پند وركول او تذكر دى، نه د دوى واكمن گمارل شوى يې او نه ئې مراقب او څارن. له تا به خپل امت ته د (پند او ذكر) په اړه پوښتنه كېږي نه د دوى د ردالعمل په اړه.

**۲۲-۲۳** څوك چې مخ واړوي او په دې حقيقت كافر شي، الله تعالى به ئې په ستر عذاب سره تعذيب كړي، ستا دنده دعوت او بلنه ده، له دوى سره محاسبه او سزا وركول زمونږ كار دى، بيا راگرځېدنه ئې زمونږ په لور ده او محاسبه ئې زمونږ په ذمه.

# الفجر

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الفجر (سباوون) دی، چې له لومړۍ آیته ئې اخیستل شوی، ۳۰ آیتونه لري، آیتونه ئې لنډ لنډ، جامع او شعارونو ته ورته، ادعا ئې پرېکنده او قاطع، غږ ئې ډېر ډېر ښکلی او خوندور، لومړي پنځه آیتونه ئې (فجر) او (عشر) ته ورته صیغو باندې پای ته رسېدلي، له شپږمه تر څوارلسمه آیته فواصل د عاد، عماد او عذاب هموزنه دي، د پنځلسم او شپاړسم آیتونو د پای صیغې د (اکرمن) او (اهانن) هموزنه الفاظ دي او ورپسې د اوه لسم او اتلسم آیتونو پای د (یتیم) او (مسکین) هموزنه الفاظ، له نولسمه تر درویشتم پورې فواصل د (لمّا) او جمّا) په وزن دي، څلرویشتم آیت په خپل منځ کې د (لیتني) او (حیاتي) هموزنه صیغې لري او له آخري دوو آیتونو سره هموزنه پای، د پنځه ویشتم او شپږویشتم آیتونو فواصل احد دی او د اوه ویشتم او اته ویشتم (مطمئنة) او (راضیة). د دې سورې خلاصه دا ده: د هرې شپې په پای کې سباوون دا خبره کوي چې ستا رب ظالمانو ته په کمین کې دی او د دوی د اقتدار توره شپه به حتماً ختموي.

د سورې له مضامینو په ډاګه معلومېږي چې د مکي دور په لومړیو کې او هغه وخت نازله شوې چې دښمن زور زیاتي ته ملا تړلې وه، په خپل زور ځواك مغرور او

مسلمانان ئې پرې وېرول، الله تعالی مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چې د دغو مغرورو سردارانو د اقتدار توره شپه به ډېر ژر پای ته ورسېږي او د هغو قومونو په برخليك به اخته شي چې تر دوی د مخه په خپل کثرت او قوت مغرور شوي وو، خپلې غولوونکې ظاهري وضعې او تمدن او مخکې تللو وسلو او تجهيزاتو دوکه کړي وو، اقتدار او واکمني د دوی د فساد او طغيان لامل وو، د پيغمبرانو عليهم السلام مخالفت ته ئې ملا تړلې وه، په ځمکې کې د فساد باعث او د بې وزلو په ځورولو بوخت وو، د همدې په وجه الهي عذاب ناڅاپي پرې نازل شو، اقتدار ئې نسکور او ټغر ئې ټول شو. بايد ډاډه وئ چې دغو ستمګرانو ته هم شديد العقاب رب په کمين کې دی، پرېږدئ چې په غرور او بې باکۍ سره لږ نور هم مخکې ولاړ شي او هغه ځای ته ورسي چې کمين ورته نيول شوی او د الهي عذاب متروکه به ئې پر سر راپرېوځي. بيا فرمايي چې مغرور ظالمان غلط معيارونه کاروي، دنيوي مال او متاع او په جهل ځيلې ټولنې کې کاذب وجاهت او اعتبار د واقعي اعزاز او اکرام نښه ګڼي او ګمان ئې دا دی چې که له هرې لارې دا ترلاسه شي عزت او فضيلت ئې په برخه شوی او څوك چې ترې محروم شو، ذليل او سپك دی او د تحقير او اهانت مستحق، د همدې لپاره ګورئ چې د دوی په ټولنې کې (يتيم) که څه هم د يوې شريفې او مخورې کورنۍ نه يتيم پاتې شوی وي او که څه هم د دوی د خپلوانو او دوستانو يتيم وي، له نظره لوېدلی وي او څوك ورته توجه او اعتنا نه کوي، بې وزلی او مسکين سپك ګڼل کېږي، څوك ئې پروا نه کوي او يو بل دې ته نه هڅوي چې د مرستې لاس وراوږد کړي او له فقر او لوږې ئې وژغوري، ميراث د ځواکمنو لخوا غارت شي او ضعيفان ترې محروم شي، له سرو سپينو زرو او له مال متاع سره افراطي مينه داسې د دوی پر زړه او دماغ خپل سيوری غوړولی چې هر ظلم او جنايت ئې ورته ښاېسته کړی او هر سپك او ذليل کار ئې د هوښيارۍ او عقلمندۍ کار ورته ګرځولی.

بيا مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چې خبره داسې نه ده لکه دغه مغرور ستمګران چې ئې انګېري، نه قيامت مني او نه الهي محاسبه او نه د ظلم د بدو

پاېلو سره حتماً مخامخېدل، هرو مرو به د حسيب خدای په لور درومي او هغه به ورسره محاسبه کوي، حتماً به له هغې ورځې سره مخامخ شي چې په خپلو غلطيو ئې پوه کړي، اشتباهات ئې ورپه ياد کړي او د جبران لارې به ئې لټوي، خو هغه ورځ به دا رايادونه، ندامت او پښېماني، هيڅ گټه نه شي وررسولی، لاس پښې به ئې کلك کلك تړلي وي او د خپلو عملونو سزا به گوري. خو هغه چې نه خپل زر او زور مغرور کړل او نه تنگسې او د مال متاع کمښت مأيوس، په ستونزو او کړاونو کې صابر او ثابت پاتې شوي، په هيڅ حالت کې ئې وېره، اضطراب او يأس په زړه او دماغ خپل سيوری نه دی غوړولی، تل ئې په ډاډه زړه، آرامو اعصابو او سړه سينه د ستونزو مقابله کړې، د الله پېرزوينو ته هيله من او عنايت ته ئې سترگې په لارې، د دوی پاېله به دا وي چې الله تعالی به له دوی او دوی به له الله تعالی راضي وي، جنت ته به ننوځي او د الله د صالح بندگانو په ډلې کې به نيول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

@d ÇÍÈ Î6„ #Œ] È@ø$r ÇÌÈ Ì2q$r ÄŠyø±9$$r ÇËÈ Ÿ9$ ã @$‹9r ÇÊÈ Ìô ÿ$$r

ÇÎÈ @ø5 “ Ï%k×Ž % 7 Ï9Œ ’Î

۱- قسم په سباوون. ۲- او په هرو لسو شپو. ۳- او په دغه جفت او طاق. ۴- او په شپې چې شي روانه. ۵- آيا دې کې به قسم وي پوهيالو ته؟

۱-۵ په دې آيتونو کې په لاندې شيانو لوړه شوې:
په سباوون، په هرو لسو شپو، په جفت او طاق او په شپې چې روانه شي.
له قسمونو نه وروسته دا خبره شوې:
هَلْ فى ذَٰلِك قَسمٌ لِّذِى حِجْرٍ *

آيا پوهيالیو ته به پدی کې څه قسم وي؟
بيا د عاد، ثمود او فرعون تباهي او هلاکت ته پدې ډول اشاره کوي:
ودې نه ليدو چې ستا رب له عاد سره څرنګ چلند وکړ؟ د ارم (عاد)، هماغه د جګو ستنو خاوند. هغه چې په ښارونو کې دوی ته ورته نه وو پيدا شوي او له ثمود سره چې په درو کې ئې تيږې وتراشلې. او له فرعون سره، آ د ميخونو خاوند. هغه خلك چې په ښارونو کې ئی سرکښي وکړه. او فسادونه ئې په کې ډېر کړل. نو رب دې د عذاب متروکه پرې راپربښوده.
او ورپسې د قسمونو ځواب پدې صيغه راغلې:
إِنّ رَبّكَ لَبِالْمِرْصَادِ *
بې شکه چې ستا رب په کمين کې دی.
پدې مبارکو آيتونو کې په څلورو شيانو د لوړې شاهد يو، راشئ وګورو چې په څه څه لوړه شوې او د قسمونو ځواب څه دی؟ د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ارتباط څنګه دی؟ او د کومې ادعا د اثبات لپاره په دې شيانو لوړه شوې؟
که لږ دقت وکړو نو متوجه کېږو چې له قسمونو نه وروسته په اتو آيتونو کې د درېو باغي او عاصي ډلو: عاد، ثمود او د فرعون د قوم شوم او کرغېړن عاقبت ته اشاره شوې، دا هره ډله په خپل خپل وخت کې پيداوړې، ځواکمنه او په وسايلو سنبال ډله وه، چې د فساد، ظلم او طغيان په وجه مؤاخذه شول او په الهي دردناك عذاب اخته. په ۱۴ آيت کې د يوې ډېرې مهمې ادعاء شاهد يو، چې په ټول قاطعيت او تأکيد سره مطرح شوې او هغه دا چې (ستا رب حتماً په کمين کې دی). دغه ادعا د مخکنيو قسمونو ځواب دی، د هغې د اثبات لپاره په دغو قسمونو او پورتنيو تاريخي مثالونو استناد شوی. د دې لپاره چې پوه شو دا قسمونه څنګه دا ادعا اثباتوي چې ستا رب د شر او فساد ځواکونو ته په کمين کې دی، بايد لاندې خبرو ته توجه وکړو:
د قسمونو په سر کې دالفجر (سباوون) ذکر او ورپسې ليال عشر (لسګونې شپې) او په پای کې ئې د الليل اذا يسر (او په شپې چې شي روانه) دا ښيي چې په

منځنیو قسمونو کې هم باید د شپې په اړه خبره شوې وي او له (الشفع و الوتر) نه هم باید جفت او طاق شپه مراد وي نه بل څه، د بیان له فحوی نه په ټول صراحت سره معلومېږي چې له سباوون نه هر سباوون، له لسګونو شپو د هرې میاشتې لسګونې شپې او له جفت او طاق نه هره جفت او طاق شپه مراد ده. د الهي بلیغ کلام دقیق نظم او یووالی همدا ایجابوي، په بل څه د هغوی اطلاق، بې بنسټه او بې ځایه تعبیر دی چې هیڅ دلیل ورته نشو وړاندې کولی.

د دغو آیتونو الفاظ عام دي، دا سمه نده چې تر خاص سباوون او خاصو شپو ئې محدود کړو، د آیتونو په الفاظو کې هیڅ داسې نښه نه ګورو چې اختصاص ترې ثابت شي.

د الهي کلام بلاغت دا تقاضا کوي چې د نومړو قسمونو او ورپسې تاریخي مثالونو او د قسمونو د ځواب ترمنځ باید ژور او دقیق ارتباط وي.

ته چې هر سحر، د (شپې) د ختمېدو او د سباوون د راختو شاهد یې، هره جفت او طاق شپه ګورې چې پای لري، سره له دې چې په هغوی کې د تیارې او روښنائي له اړخه او د اوږدوالي او لنډوالي له پلوه او په هغوی کې د سپوږمۍ د شکل او هیئت له لحاظه تفاوت وي، خو هره یوه پای مومي او خپل ځای ورځې، رڼا او روښنائي ته پرېږدي. د هرې میاشتې لسیزې ګورې چې په لومړۍ کې ئې سپوږمۍ وړه وي او ورو ورو ستره شي، د شپو لومړۍ برخې ئې سوکه سوکه تر مخکې زیاته روښانه وي، په منځنۍ لسیزې کې د شپو ډېره برخه روښانه او د سپوږمۍ زیاته برخه څرګنده وي او په ورستۍ لسیزې کې سپوږمۍ وړه وي او رڼا ئې ضعیفه، د شپو لومړۍ برخه تیاره او وروستۍ ئې نسبتاً روښانه. تر هغه چې د وروستۍ لسیزې په وروستۍ شپه کې سپوږمۍ له سترګو پټه شي، میاشت پای ته ورسي او خپل ځای بلې میاشتې ته پرېږدي. همداراز چې هر سحر د شپې تیاره زړه په روڼ فجر سره څیرې شي، د سباوون ځلانده توره د شپې په تور سر راپرېوځي، د شپې توره پرده څیرې او فجر طلوع کوي، باید مطمئن وې چې د جهل، ظلم او فساد توره شپه به همداسې ختمېږي.

ډېره ډېره عجیبه او د حیرانتیا وړ خبره ده چې ځینو درنو مفسرینو رحمهم الله، له (فجر) او (لیال عشر) نه خاص اوقات او له جفت او طاق نه له شپو نه پرته نور څه مراد کړي!! ځینو له الفجر نه د ذي الحجې د لسمې سباوون او ځینو د جمعې د ورځې او ځینو د محرم د لومړۍ ورځې سباوون، ځینو له (لیال عشر) نه د ذي الحجې لومړۍ لسیزه، ځینو د روژې د میاشتې لومړۍ لسیزه او ځینو د محرم لومړۍ لسیزه، ځینو له جفت او طاق نه د ذي الحجې اتمه او نهمه، ځینو د لمونځونو جفت او طاق رکعتونه او ... او ... ترې مراد کړي، د جفت او طاق په هکله خو تر **۳۲** زیات توجیهات شوي!! په دغو مختلفو آراوو کې به څو اساسي ستونزې وګورئ:

- عام الفاظ ئې خاص کړي.
- دې ته ئې پام نه دی کړی چې لیال عشر په نکره صیغه راغلې، په هرو لسو شپو ئې اطلاق کېږي او خاصې لسې شپې ترې مرادول اصلاً صحیح نه ده.
- دلته د شپو ذکر راغلی نه د ورځو، خو دوی د روژې، ذي الحجې او محرم ورځې ترې جوړې کړې!!
- شیعه مفسرینو خو دې ته هم پام نه دی کړی چې د دې آیت د نزول په وخت کې حسین رضي الله عنه لا پیدا شوی هم نه وو، د ده له شهادت سره به ئې څنګه ارتباط وي؟!!
- د قسمونو او ځواب ترمنځ ارتباط ئې له پامه غورځولی.
- داسې ئې انګېرلې چې دا قسمونه د (مقسم به) په عظمت د اعتراف په څېر ذکر شوي نه د استشهاد او استناد لپاره، حال دا چې خبره برعکس ده، الله له دې ډېر لوړ دی چې د کوم څه د عظمت لپاره په هغه لوړه وکړي، دا کار له انسان سره ښايي نه له رب العالمین سره، د قرآن قسمونه د استشهاد لپاره او د مدعا د اثبات په منظور راغلي.
- که (فجر)، (لیال عشر) او (الشفع و الوتر) خاص اوقات ونیسو، نو په هغوی باندې لوړه دا مدعا څنګه ثابتوي چې ستا رب ظالمانو ته په کمین کې دی؟!! او دا

به د فرعون، عاد او ثمود د قومونو له تباهۍ سره څه تړاو لري؟!! پداسې توجیه سره خو د الله له بلیغ کلام نه بې ربطه جملات جوړېږي، یووالی او دقیق نظم ئې له منځه ځي.

دا آیت (هل فی ذلك قسم لذی حجر) په ډېر وضاحت سره ښیي چې په مخکنیو آیتونو کې راغلي قسمونه عقلي (دلائل) او (شواهد) دي، نه مجرد قسمونه. (عقل) ئې مخاطب کړی او وایي چې (د عقل خاوندان) ئې په حقیقت پوهېدی شي، (ذی حجر) د دغو قسمونو د مدعا حقیقت درك کولی شي. د دې قسمونو اساسي (مدعا) دا مطلب ثابتول دي چې (الله تعالی ظالمانو ته په کمین کې دی)، د دغې مدعا د اثبات لپاره لومړی د هرې شپې په پای کې د سباوون په راختو استناد شوی او ویل شوي چې هره شپه، څه جفت څه طاق، څه د میاشتې د یوې لسیزې څه د بلې لسیزې، بالآخره د فجر په راختو پای ته رسي، همداراز به د ظلم شپه ختمېږي او تېغر به ئې ټولېږي، د هغو لپاره چې (د عقل خاوندان) وي همدا دلیل کافي دی، بیا په دې پسې متصل، د پورتني حقیقت او الهي سنت څو تاریخي بېلګې رااخلي او د مخاطب مخې ته ئې ږدي او همدغه ادعا د تاریخ په پاڼو د استناد له لارې ثابتوي. دا دی تاریخ شاهد دی، د عاد، ثمود او فرعون پایله څه وه؟ متمدن، ځواکمن، مسلح، د زر او زور خاوند، خو ظالم، مفسد، عاصي او طاغي!! یو ئې ذات العماد (د لوړو لوړو جثو او جګو جګو بنګلو خاوند) بنګلي ئې د ضرورت لپاره نه، بلکې عبث، خوشې او د خپل قدرت او زور ځواك د ښودو لپاره، بل ئې ثمود چې تیږې به ئې تراشلې او په غرونو کې ئې ځانته مجلل کورونه جوړول، درېیم ئې فرعون چې د خپلو مخالفینو په لاس پښو کې ئې مېخونه ټکوهل، نه یوازې د عادي مخالفینو، حتی د خپلې مېرمنې په لاس پښو کې هم!! په دوی ټولو د الهي عذاب متروکه راپرېوته، د دنیا له صفحې حذف شول، د دوی د هلاکت دوه اسباب وو: الف- طغیان او سرغړاوی ئې وکړ او زر زور مغرور کړل. ب: په ځمکه کې د ډېر فساد باعث شول.

نو که د طغیان او فساد په وجه په مخکنیو ظالمانو الهي عذاب نازل شوی،

نو اې ظالمانو! په دې پوه شئ چې ستاسو پابله هم دې ته ورته ده. په دې پوه شئ چې الله تعالی هر ظالم ته په کمین کې دی، مهلت ورکوي خو غافل کېږي نه، لکه یو ښکاري چې د خپل ښکار لپاره کمین نیسي، ښکار ته موقع ورکوي چې بې باك او بې اعتناء د کمین په لوري وخوځي، په خاص وخت او ځای کې ئې مناسبه چاره کوي، همداراز الله تعالی ظالمانو ته مهلت ورکوي، تر خاص وخت پورې ورته انتظار کوي، ظالم له خپل عاقبت نه بې خبره، په الهي مهلت او فرصت غولېدلی، په ظلم، فساد او طغیان کې مخکې درومي، ناڅاپه له الهي کمین سره مخامخ کېږي او د عذاب متروکه په سر خوري.

---

$gèëB ÷=ƒà ÷9 ÓÉ$Ç‌È Š$JèŠN #Œ P‘Î ÇÏÈ Š$èÎ 7ƒ‘ ®èù #ø. •? ÷9&

“Ë böãdïr ÇÎÈ Š#qŠ$ •÷ Á9$ (qç` ûïÏ%$ Šq߉0r ÇÑÈ ‰»=ŠŠ$ ’Î

╒ Áù ÇÊÈ Š$ ¡ ÿŠ$$kŽü (rãVø'ù ÇÊÈ ‰»=ŠŠ$ ’Î (qóÛ ûïÏ%$ÇËÈ Š$?‘R $

ÇÍÈ Š$ ¹ öÜŠ9 7ƒ‘ b) ÇÌÈ A#‹ã Þq™ 7ƒ‘ óOgŠæ

---

۶- ودې نه لیدو؛ عادیانو سره څه وکړل ستا رب؟ ۷- د ارم (عاد)، آ خاوند د جګو ستنو. ۸- آ چې نه وو پیدا شوي دوی ته ورته په ښارو کې. ۹- او ثمود سره چې تیرېږې ئې درو کې وتراشلې. ۱۰- او فرعون سره خاوند د آ میخونو. ۱۱- هغه (خلك) چې ښارونو کې ئې وکړه سرکښي. ۱۲- فسادونه ئې ډېر کړي په هغو کې. ۱۳- نو رب دې پرېږې راپرېښوده متروکه د عذاب. ۱۴- بې شکه چې ستا رب دی په کمین کې.

---

۶-۹ د تاریخ پاڼې راواړوئ، د عاد بد برخلیك ته لږ ځیر شئ، همغه (عاد

اولی)، د ارم اولاده، چې نیکه ئې سام او غور نیکه ئې نوح علیه السلام وو او د الله یو زړه سواند او هوښیار پیغمبر هود علیه السلام په کې مبعوث شوی وو، هغه قوم چې هیڅ قوم ورسره سیالي نه شوی کولی، ځواکمن، متمدن او ذات العماد، په دوه معنا:

لومړی: جګ او دنګ قد، له پیاوړو او مضبوطو متو سره.

دوهمه: له لوړو لوړو ستنو جوړ شوي قصرونه ئې وو، دا همغه قوم وو چې په لومړي ځل ئې له تیږو جګې جګې ستنې جوړول او په خپلو لوړو لوړو قصرونو کې کارول ئې اختراع کړ، قرآن د لوړو لوړو، مضبوطو او په جګو جګو ستنو ولاړو ماڼیو په جوړولو کې د دې قوم د مهارت په اړه فرمایي چې دوی به تر خپلې سلطې لاندې سیمو کې په هرې لوړې داسې دنګې دنګې ماڼۍ جوړولې چې ګواکې د تل ژوند کولو لپاره ئې جوړوي نه د خپل ضرورت رفع کولو لپاره او حتی عبث، بېهوده او د خپل زور ځواك ښوونې لپاره. خو قرآن فرمايي چې د دغو دنګو دنګو ماڼیو بنسټ په ظلم او د نورو په حق تېري اېښودل شوی وو، یعنې د دوی د هرې ماڼۍ تر شا به د ظلم لاس وګورې، حقیقت همدا دی چې اکثراً د جګو جګو ماڼیو خاوندان هیڅکله دا ماڼۍ د خپل لاس په تناکو او د خپلو خولو له حاصله نه بلکې د نورو د وینو او خولو په بیه جوړوي. دغه ځواکمن او متمدن قوم هم د ظلم او تېري لار غوره کړه، له خپل پیغمبر هود علیه السلام سره ئې مخالفت ته ملا وتړله، نو الهي عذاب ونیول، تنده سیلۍ پرې راغله اوه شپې او اته ورځې، داسې تنده سیلۍ چې د دوی ټولې کلکې ماڼۍ ئې رانسکورې کړې، د دوی جرړې ئې داسې له بېخه وایستې چې هرې خواته د خرما د هغو ونو په څېر خواره واره پر ځمکه پراته وو چې له جرړو ایستل شوې وي، مګر ودې نه لیدل چې ستا د رب عذاب څنګه د عادیانو پر سر نازل شو او هغوی ئې له کوم برخلیك سره مخامخ کړل. دا قوم په خپل ځواك داسې مغرور وو چې قرآن له دوی نه په دغو الفاظو نقل قول کوي:

فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ * فصلت: ۱۵

او عاد خو په ناحقه په ځمکې کې لويي غوښتنه او جاه طلبي وکړه او وئې ويل: څوك به تر مونږ زيات قوي او ځواکمن وي؟ آيا دې ته ئې پام ونه کړ چې هغه الله تر دوی ډېر قوي دی چې دوی ئې پيدا کړي او زمونږ له آيتونو ئې انکار کاوو.

که دا قوم له خپل هغه مادي پر مختګ، برلاسی، ترقي، تمدن، قوت او ځواکمنی چې هيچا ورسره سيالي نه شوی کولی، خو د فساد، طغيان، ظلم او له پيغمبرانو عليهم السلام سره د مخالفت په وجه له هغه دردناك برخليك سره مخامخ شو او د ټولو متمدنو ظالمانو او ستمګرانو لپاره د عبرت وسيله شول اوسني ستمګران بايد د دغه قوم د بد برخليك په هېنداره کې خپل برخليك او راتلونکې وګوري، د دوی د ظلم توره شپه به هم پای ته رسي او الهي عذاب به ئې رانيسي.

ثموديان هم چې د سام بن نوح عليه السلام د اولادې يوه څانګه او صالح عليه السلام په دوی کې مبعوث شوی وو، نه قبيلې ئې وې، په فساد اخته او زعامت ئې د نهو مفسدو سردارانو په لاس کې، په وادي القری کې اوسېدل، د غرونو د ډډې لوی لوی کمرونه به ئې تراشل او په هغوی کې به ئې ځان ته مجلل کورونه جوړل. له دې او نورو آيتونو معلومېږي چې په ډېرو کې داسې مجلل کورونه جوړول د لومړي ځل لپاره د دغه قوم په لاس پيل شوي، د دوی د تمدن آثار تر ننه پاتې دي. دغه قوم هم طغيان وکړ، په الهي عذاب اخته شول، په مرګ محکوم شول او هغه مجلل کورونه ئې د نورو لپاره د عبرت درس شو.

۱۰ـ : په دې هکله چې د اوتاد (مېخونو) مراد څه دی چې فرعون او فرعوني نظام پرې مجهز وو، د مفسرينو تر منځ څو آراء مومو:

الف: مراد ئې هغه مېخونه دي چې فرعون به د نظام مخالفين پرې تعذيبول او د دوی په لاس پښو کې به ئې ټکوهل. نه يوازې خپل عادي مخالفين، بلکې حتی په خپلې ښځې ئې هم رحم ونه کړ، هغه چې پر موسی عليه السلام د ايمان په جرم ئې هومره وکړوله چې په لاس پښو کې ئې د اوسپنو مېخونه ټکوهل، خو دغه باايمانه مېرمن د تعذيب په همدې سخت حالت کې نه يوازې په خپل ايمان ټينګه او ثابته

پاتې شوه بلکې ویل ئې: اې زما ربه! په خپلې خوا کې، په جنت کې راته کوم کور را، له فرعون او کړو وړو ئې ما وژغوره او له دې ظالمه قومه نجات را.

ب: یا ئې مراد د فرعون د فوځ هغه بېل بېل قطعات دي چې د فرعوني نظام د خېمې لپاره ئې د مېخونو حیثیت درلود او له رانسکورېدو ئې مخنیوی کاوو.

ج- او یا په دې مېخونو سره د فرعون هغو لښکرو ته اشاره شوې چې کله به کومې سیمې ته ولاړل، ځای په ځای به شول او خپلې خېمې به ئې ودرولې، پراخه سیمه به ئې په مېخونو ډکه کړه.

وګورئ هغه فرعون چې طغیان او سرکښي ئې هغه ځای ته رسېدلې وه چې د خپلو مخالفینو په لاس پښو کې ئې د اوسپنیزو مېخونو له ټکوهلو هم ډډه نه کوله، پابله ئې څه وه او له کوم برخلیك سره مخامخ شو؟!! هغه غربیان چې نن پر عیسی علیه السلام د ایمان دروغجنه دعوا کوي، پلرونو ئې د عیسی علیه السلام د بې وزلو پلویانو په لاس پښو کې همداسې د اوسپنو مېخونه ټکوهل، د افغانانو او هغو خلکو لپاره چې کمونستان پرې مسلط شوي، داسې سزاوې د حیرانتیا او تعجب خبره نه ده، کمونستانو هم خپل مسلمان مخالفین د نوکانو په ایستو، د بدن نازکې برخې په سکروټو او سرو تیلو داغل، د ګوتو بندونو کې ستنې ورمنډل، برقي شوکونه... کړول.

۱۱ـ۱۲ هغه قومونه چې دوې ځانګړتیاوې ئې وې:

الف: طغیان او سرکښي ئې کوله، خپل زر او زور مغرور کړي وو.

ب: په ځمکې کې ئې فساد خورولو.

هغه چې کبر او لویي ئې کړې، نور ئې حقیر او ذلیل ګڼلي، انساني حدود ئې تر پښو لاندې کړي، د الله په وړاندې ئې طغیان او عصیان کړی، تر خپلې سلطې لاندې سیمو کې ئې فساد خور کړی، د دوی له لاسه نه د خلکو سر او مال خوندي او نه ئې عزت او ناموس مصئون وو، نه ئې په بې وزلو زړه سوی کړی او نه ئې د اخلاق، ترحم او عاطفې په نامه څه پېژندل او نه ئې له الله تعالی وېره وه، وګورئ چې د دوی د فساد او طغیان پابله څه وه؟

**۱۳-۱۴** ستا د رب د عذاب متروکه ئې پر سر سر راپرېوته، نو اې ستمګرانو ! اې د شر او فساد مغرورو څواکونو! په دې پوه شئ چې ستاسو د طغیان او فساد پایلې له دې پرته بل څه نشي کېدی، د منتقم خدای متروکه به خامخا ستاسو پر سر هم راپرېوځي.

قرآن چې له دغو تاریخي پېښو کومه نتیجه راباسي او دا ئې نتیجه ګڼي چې ستا رب ظالمانو ته په کمین کې دی، له دې نه په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې په فجر، لسګونو شپو، جفت او طاق شپو او د هرې شپې په پای ته رسېدو له لوړې نه هم دغه پورتنۍ نتیجه راباسي او دا خبره راته مزید توضیح کوي چې له دغو قسمونو نه همغه څه ثابتول په نظر کې دي چې دغه تاریخي قصې ئې ثابتوي. یعني که د قرآن کوم مخاطب ته د دغو قسمونو موخه مبهم پاتې شوه، له کومې اشتباه سره مخامخ شو او د هدف او مقصد له پوهېدو ئې عاجز شو، نو دا قصې او ترې اخیستل شوې نتیجه به د دوی مرسته وکړي، تشویش به ئې رفع او پوښتنو ته به ئې ځواب ووایي. د قرآن د ټولو قسمونو په اړه باید دې ته ورته چلند وشي، لومړی باید په مخکې وروسته آیتونو کې، بیا په ټوله سوره کې او بیا په ټول قرآن کې د هغوی په مطلب د ښه پوهېدو هڅه وکړو، له تفسیر بالرأی نه ډډه وکړو او له داسې تعبیر او توجیه ځان وساتو چې د سورې له مضامینو او د بحث له اصلي موضوع سره هیڅ اړخ نه لګوي. داسې لکه دلته چې د نوموړو تاریخي قصو په رڼا کې په فجر او شپې د لوړې موخه او هدف مونږ ته مزید راڅرګندوي او په هدف ئې ښه پوهېدل مونږ ته آسانه کوي، دلته له قسمونو وروسته قصې راغلې او د دواړو په پای کې مخاطب ته ویل شوي چې د طغیان او فساد توره شپه به خامخا پای ته رسي، لکه څنګه چې په هرې شپې پسې ورځ راځي، همداسې به د ظالمانو د طغیان او فساد په توري شپې پسې د بې وزلو د نجات ورځ راځي، د ظلم، جهل، شرك او کفر تیاره شپه به خپل ځای د عدل، انصاف او توحید روڼ فجر ته پرېږدي، تاریخ په دې حقیقت شهادت ورکوي، مګر ودې نه لیدل چې ستا رب له عاد سره څه وکړل؟ له ثمودیانو سره ئې څه وکړل؟ د مېخونو خاوند فرعون او فرعونیانو سره ئې څه

وکړل؟ مګر دوی ټول د خپل ظلم او طغیان په پای کې په ستر الهي عذاب اخته نشول؟ دا د ظلم تورې شپې ښايي يوه له بلې څه توپير ولري، توروالی او خوروالی ئې، د سپوږمۍ د رڼا ضعف او قوت ئې، کم او زيات وي، خو د ټولو پايله يوه ده، سپين سباوون ئې تور ټغر ورټولوي. (بې شکه چې ستا رب په کمين کې دی)، همدا د پورتنيو قسمونو نتيجه او د دغو تاريخي قصو خلاصه ده.

(مرصاد) هغه کمينځي ته وايي چې ښکاري ئې د دې لپاره جوړوي چې خپل ښکار په لومې کې واچوي، ښکار ئې (له کمينه غافل) په بې باکۍ او بې اعتنائۍ درومي او ناڅاپي په دام کې لوېږي، الله تعالی هم دغسې ظالمانو ته په کمين کې دی، مهلت ورکوي، تر خاصې نېټې ورته انتظار کوي، ستمګران چې د خپل ظلم له پايلو بې خبره او په بې باکۍ او جسارت مخکې درومي، الهي مهلت غولولي، په طغيان او سرکښۍ کې له وروستۍ پولو هم د تېرېدو تکل کوي، خو ناڅاپه له الهي کمين سره مخامخ شي او د عذاب متروکه په سر وخوري.

**ÇB•ø& ú† Ĥ ÂAqà)Šù ¼çJèRr ¼çB•ø'ù ¼çš' ç9=G‹GS$B #ŒÎ ß»|¡RlÿM$$B'ù**

**ÇÏÈ Çϒ»d& þÎÍ ÂAqà)Šù ¼ç%ø‹ ïŒøã '‰)ù ç9=G‹GS$B #ŒÎ $B&r ÇÎÈ**

۱۵- نو دا انسان چې کله ئې خپل رب وآزمويي او عزت او نعمت ورکړي، نو وايي به چې رب مې عزت راکړ. ۱۶- او چې کله ئې بيا وآزمويي (داسې) چې روزي پرې کړي محدوده، نو وايي به چې خدای مې اهانت کړم.

۱۶-۱۵ دا طاغي او مفسد انسان داسې دی چې په خپلو قضاوتونو کې تل مادي معيارونه کاروي، که الله تعالی ئې د اعتبار او عزت خاوند کړي، مال او دولت ورکړي، جاه، جلال او اقتدار ئې په برخه کړي، په ولس کې وجاهت، رسوخ او نفوذ ترلاسه او په نعمتونو ئې ونازوي نو ګمان کوي چې حقيقي عزت او

سرلوړي ئې ترلاسه کړې، حال دا چې الله تعالی دا پېرزوينې د ده د (اکرام) او (اعزاز) لپاره نه بلکې د ابتلاء او آزموينې لپاره ده ته ورکړې او که په بل حالت ئې وآزمويي، رزق او روزي پرې تنګه او محدوده کړي، په تنګسې ئې وآزمويي، نو وايي به: رب مې په سپکه راته کتلي او زه ئې اهانت کړی يم، په داسې حال کې چې دا حالت، د ده د اهانت او سپکاوي لپاره نه بلکې د ده د ابتلاء او آزمويلو لپاره ئې پرې راوستی، دا دواړه حالتونه د ابتلاء او آزمېښت لپاره دي، اشتباه مه کوئ، په رزق کې پراخوالی د خپلو عملونو بدله مه ګڼئ او تنګوالی ئې سپکاوی او الهي اهانت مه شمېرئ، دواړه د آزمېښت لپاره دي، کله دې الله تعالی د مبارزې په سنګر کې آزمويي، کله د اقتدار په حالت او په (قصر) کې، تر څو وليدی شي چې د رزق او روزي د پراخوالي او د امکاناتو د وفرت او کثرت په وخت کې د خپل رب د پېرزوينو شکر کوي او که برعکس دا ستا د کبر، غرور، سرکښې او طغيان باعث کېږي او کله چې ئې ستا رزق درته محدود کړ آيا په خپل محدود رزق قانع او راضي وې او د الله تعالی شکر په ځای کوې، شکوه او شکايت نه کوې د رزق د لاس ته راوړو حرامې لارې نه لټوې؟ يا برعکس پر حلال رزق د قناعت او اکتفا په ځای حرامو ته لاس غځوې او حرامې لارې غوره کوې؟

د قرآن له نظره دا يوه ستره اشتباه او خاطئ قضاوت دی چې څوك د يوې طاغي او مفسدې ټولنې مادي پرمختګ او سوکالي معيار وګڼي او د امکاناتو وفرت او کثرت ئې د هغې د وړتيا او ښه والي نښه ونيسي او دې ته ئې پام نه وي چې دا امکانات ئې له کومې لارې ترلاسه کړي!! ډېر کم عقله کسان همداسې قضاوت لري، د غرب مادي پرمختګ او د غربيانو مرفه ژوند د دوی د ښه والي نښه ګڼي او دې ته پام نه کوي چې غرب د بې وزلو آسيائي او افريقائي ملکونو د غارت له لارې دا امکانات ترلاسه کړي، د دوی د رفاه لپاره د دې هېوادو مظلوم وګړي قرباني شوي. قرآن د دغه غلط او خاطئ قضاوت لامل داسې بيانوي:

ÈüÅóÜ$Ü$èÛ 4ã šc qÒ»tB Ÿwr ÇÈ O‹Ï‹$bqãÒ¯»ptrB Ÿwr ÇÈ ÇÈ zÏ3Ïè¯z @/ žx .

$tJ_ ${ãn A$J9$šc q7ÏtäBr ÇÈ $tJ9©Wò2 & ^#Z9$šc qè2 ù'r ÇÈ

ÇÈ

---

۱۷- نه، داسې نده، بلکې نکوئ عزت د یتیمانو. ۱۸- او نه هڅوئ یو بل په اطعام د مسکینانو. ۱۹- او د بل د میراث برخه خورئ په زښته زیات خوړلو. ۲۰- او مینه کړئ له مال سره، مینه ډېره کلکه.

---

۱۷ـ داسې نه ده لکه تاسو چې انګېرلې، دا د عزت او سپکاوي معیارونه نه دي، چا ته چې الله تعالی پراخ رزق ورکړی دا په دې معنا نه ده چې الله تعالی ورته عزت ورکړی او د چا روزي چې ئې محدوده کړې نو هغه ئې توهین کړی، دا خو ستاسو هغه غلط قضاوت دی چې ستاسو له خپل ناسم اجتماعي حالته راخوتېدلی، ستاسو په ټولنې کې چې څوك بې وزلی، کمزوری او له خپلې دفاع عاجز وي، نو له نظرونو لوېدلی وي، څوك ورته اعتناء نه کوي او له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم وي، دغه حالت په تاسو کې دا غلط ذهنیت او قضاوت راولاړ کړی، ستاسو په ټولنې کې هیڅوك د یتیم درناوی او احترام نه کوي، تر هغې ورځې چې پلار ئې ژوندی وو، حامي او مدافع ئې درلود، هغه به دې په غېږ کې نیولو، په مخ تندي به دې ښکلولو، پر سر به دې د مهربانۍ لاس راښکو، خو اوس چې ضعیف اوناتوانه دی، حامي او مدافع نه لري، نو نه یوازې څه اعتناء او التفات ورته نه لرې بلکې مال ئې غصبوې، په حق ئې تېری کوې، که څه هم دا (یتیم) د هغه چا اولاد دی چې ستا دوست او خپلوان دی، د هغه په ژوند کې دې ورته احترام درلود او د ده د دوستۍ ډېره دې په سینه وهله، ستاسو دا (قضاوت) له دغه وضعیته خړوبېږي، د دې (مادي قضاوتونو) جرړې باید ستاسو په (بد

اجتماعي وضعيت) کې ولتېوو، په هغې ټولنې کې چې يتيم تحقير او توهين شي او سپك وګڼلی شي او حقوق ئې تر پښنو لاندې شي، طبيعي ده چې هلته به (قضاوتونه) همداسې وي!!

۱۸ـ تاسو بخيلان يئ، عاطفه، زړه سوی او ترحم مو ځپل شوی، نه د يتيم په اړه زړه سوی او ترحم درکې پاتې دی او نه د مسکين په اړه عاطفه او مهرباني، نه د يتيم عزت کوئ او نه مسکين ته يوه مړی ډوډۍ ورکوئ، د بې رحمو، قسی القلب او بخيلو خلکو قضاوت به خود همداسې وي.

۱۹ـ تاسو چې د ميراث په وېش کې بې عدالتي کوئ، زورور او خوله ور ټول ميراث غصب کړي، د کمزورو وارثانو حق وخوري او له خپلو ټولو حقوقو ئې محروم کړي، له مړي پاتې شتمنۍ ټولې د ځان کړي، د دې پروا ورسره نه وي چې دا نور هم د ده نږدې خپلوان دي، د دې په ځای چې د خپلې برخې له ميراث نه له بې وزلو او غريبو خپلوانو سره مرسته وکړي، برعکس د دوی مسلم حق خوري!! نو د دې خلکو قضاوت به خود داسې وي.

۲۰ـ له مال دولت سره افراطي مينه، د دې غلط قضاوت بل لامل دی.

په دې آيتونو کې د دوی د غلط قضاوت څلور اصلي عوامل په ګوته شول: يتيم ته اعتنا نه کول، يو بل مسکينانو ته د مرستې لپاره نه هڅول، د ميراث بې دربغه خوړل او له مال دولت سره افراطي مينه. ستاسو ټولنه په دغو خطرناکو بيماريو اخته ده او په تاسو کې ئې دا غلط او ناسم قضاوت راپارولی.

---

ÇËÈ $ÿ ¹ $ÿ ¹ ã7 =J## 7 ﺉ' ä! ` r ÇËÈ %yŠ %yŠ Ùß ö{$ÏM©Ž#Œ) ﺥ.

---

۲۱- نه، داسې نده، هغه وخت چې په ټکولو، ټکولو اواره کړی شي ځمکه.

۲۲- او رابه شي ستا رب او وي به فرشتې ليکه په ليکه.

۲۱- خبره داسې نه ده لکه چې تاسو انګېرلې، ستاسو د غلطو انګېرنو حقيقت به هغه وخت ښه څرګند شي چې قيامت د ځمکې په درنو درنو جټکو او لړزېدو سره پيل شي، لوړې ژورې ئې له منځه ولاړې شي، په پراخ آوار ډاګ بدله شي، ټول انسانان له خپلو خپلو قبرونو راپورته شي، ټول د الله تعالى د قضاوت په وړاندې ودرېږي او الهي محاسبه پيل شي.

۲۲ـ د دې مبارك آيت په وړاندې بايد لږ توقف وکړو او د هغو الفاظو په معنا ئې ځان ښه پوه کړو چې غور غواړي، په دې اړه لاندې ټکيو ته ستاسو توجه رااړوم.

الف: قرآن دا عالم په دوو برخو ويشي: (مشهود) يعني هغه څه چې انسان ئې په خپلو حواسو ليدی او درك کوی شي او (غيب) يعني هغه څه چې د انسان له نظره پټ دي او په خپلو حواسو ئې نشي درك کولی. د انسان ژبه، فرهنګ او قاموس له هغو نومونو او الفاظو جوړ شوی چې ده د (مشهود) شيانو لپاره وضع کړي، دا نومونه او الفاظ د هغه څه له بشپړې معرفي نه عاجز دي چې د (غيب) په محدوده کې دي، قرآن د انسان په ژبه نازل شوی، د غيبي حقايقو د معرفي لپاره ئې هم د انسان د ژبې هغه الفاظ کارولي چې په اصل کې انسانانو د مشهود شيانو لپاره وضع کړي، خو قرآن دلته د تشبيه فن کارولی او له دې لارې ئې د غيبي حقايقو فهم خپل مخاطب ته آسانه کړی، د قرآن هغه آيتونه چې د تشبيه فن په کې کارول شوی او د (مشهود) شيانو لپاره وضع شوي الفاظ ئې د (غيبي) حقايقو لپاره راوړي، دې ته آيات (متشابه) وايي او هغه چې د (تشبيه) فن په کې نه دی کارول شوی (محکم) آيتونه بولي.

ب: په دغو مواردو کې راغلي الفاظ به په متبادر او متداول معنا نه نيسو او هغه انتباه به ترې نه اخلو چې د مشهود شيانو په اړه ئې ترې اخلو.

ج: په دې آيت کې د (جاء) لفظ راغلی، مونږ په خپلو محاوراتو کې او د مخلوقاتو په اړه دا لفظ له يوې نقطې بلې ته د تګ لپاره کاروو، خو له دې لفظ نه د الله تعالى په اړه همدغه متداوله معنا نشو اخيستی، د الله تعالى د راتګ څرنګوالی هيڅ مخلوق ته ورته نه دی، الله تعالى نه په خپل ذات کې کوم مخلوق ته

ورته دی او نه په خپلو افعالو کې، د قیامت په ورځ به الله تعالی راځي، خو دا راتګ په مخلوقاتو کې د متداول او متبادر راتلو په معنا نه دی.

د: په داسې مواردو کې هم باید له تأویل نه ډډه وکړو او هم له تشبیه او تمثیل نه او هم په بله معنا د لفظ له تعبیر او توجیه نه، داسې نه چې ووایو: (جاء) معنا ظاهرېدل دي، همداراز سمه نه ده چې ووایو الله تعالی به له یوه ځایه بل ځای ته راځي، د عرش، کرسي، ید، اصابع، سمع، بصر، جاء، نزل، اخذ، اعطی او دې ته ورته کلمات به هم نه تأویل کوو، دا ځکه چې په تأویل ئې له الله پرته بل څوك نه پوهېږي او نه به ئې په متبادر او متداولي معنا اخلو، دا ځکه چې داسې کار له مخلوق سره د الله تعالی په تشبیه کولو منتج کېږي. دا الفاظ به په خپله کاروو او تأویل به ئې الله ته محول او مفوض کوو.

دا بیان او الفاظ ئې د دې لپاره راغلی چې د قیامت د ورځې د الهي محاسبې څرنګوالی انسان ته د فهم وړ وګرځي، په حقیقت ئې تر زیات نه زیات پوه شي او دا مفهوم ئې ذهن ته ښه رانږدې کړی شي چې د قیامت په ورځ به ټول خلك د الله تعالی په وړاندې ودرېږي، فرشتې به صف صف منظمې ولاړې وي، داسې لکه په یوه مجلل دربار کې چې کوم واکمن راڅرګندېږي او د تشریفاتو د قطعې فوځیان دواړو خواوو ته منظم په لیکه ولاړ او دربار د ده د استقبال لپاره سترګې په لار وي.

په دې پوهېږئ چې ټول الهي کتابونه او قرآن دا بلیغ الهي کلام، د انسانانو په متداولو الفاظو نازل شوی، د انسان د فهم محدوده په کې مراعات شوې، د انسان فهم محدود دی، الفاظ ئې هم قاصر او محدود، دا الفاظ کولی شي د الله تعالی ځینې صفات څه ناڅه معرفي کړي، خو د الله تعالی د ذات له معرفي عاجز دي، اسلام تا ته وایي چې د الله تعالی د غوره صفاتو او لوړو افعالو په هکله ښه او ترکومه چې کولی شې غور وکړه، خو د ذات او افعالو د څرنګوالي په هکله ئې د فکر کولو هڅه مه کوه، نه د الله تعالی ذات پېژندا ستا د وس او توان خبره ده او نه ئې د افعالو څرنګوالی. د انسان استعدادونه هومره ضعیف او کمزوري دي چې د یوې نازکې پردې او دېوال تر شا چې څه تېرېږي پرې نه پوهېږي، د ده په فضاء کې

د غرب بې شمېره څپې خورې وې خو دی ئې نه اوري، د نړۍ د ګڼ شمېر راډیوګانو او تلویزیونونو څپې خوځي، د ده تلویزیون او راډیو ئې رااخیستی شي، خو دی ئې په خپلو سترګو او غوږونو له دغو وسایلو پرته نه لیدی شي او نه اورېدی، ستا فضاء د جاذبې د قوې له امواجو ډکه ده خو ته ئې له لیدو عاجز یې، ستا د لید توان او ستا د درك او احساس محدوده ډېره تنګه ده، ځوك چې الله تعالی له داسې څه سره تشبیه کړي چې دی ئې په خپلو کمزورو او محدودو حواسو درك کوي، په حقیقت کې ئې خپله پښه له خپله حده آخوا غځولې او بېهوده کار ئې کړی.

---

ÇËÌÈ 2” •øë!$ã 4T&r ß» ¡ RÏYÍ$ãž2 ‹Gƒ 7ÍBöqÿ OYgg2 ¥ÍBöqÿ äü (Ér

ÇËÎÈ Ón& ÿjç/#‹ ã Ü Éèãž 7ÍBöqxù ÇËÍÈ ’Î$‹tÎ àMB£‰ ÓÍ_Gø»ƒ Aqàƒ

ÇËÏÈ Ón& ÿjç%$Or ßÏqãÿr

---

۲۳- او دوزخ به راوستی شي په دې ورځ او وریاد به شي انسان ته په دې ورځ، خو له کومه به ئې وي پند اخیستنه؟ ۲۴- وایي به: ای کاش چې څه مې کړي وی دغه خپل ژوندون ته. ۲۵- نو هیڅوك به په دې ورځ، د ده عذاب ته ورته، کړول نشي کولی. ۲۶- او هیڅوك به د ده کلك تړلو شانته، کلك تړل نشي کولی.

---

۲۳ـد (جهنم د راوستو) په څرنګوالي اوس مونږ نه شو پوهېدی، قرآن د دې په ځای چې ووایي جهنم به (راځرګند) شي او یا دوزخیان به د جهنم په لوري بوتلی شي، د جهنم د راوستو خبره کوي، په بل ځای کې هم دې ته ورته الفاظ کاروي او فرمایي:

وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ * وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ * الشعراء: ۹۰-۹۱

او جنت به متقيانو ته نږدې راوستى شي او جحيم به بې لارو ته څرګند کړې شي.

ښايي (جنت او جحيم) به له بله ځايه د جنتيانو او دوزخيانو د اقامت محل ته راوړلى شي، لکه څنګه چې په يوه مبارك حديث کې ورته اشاره شوې:

عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يؤتى بجهنم, لها سبعون ألف زمام, مع كل زمام سبعون ألف ملك يجرونها. رواه مسلم

له عبدالله بن مسعود نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: جهنم به راوړلى شي اويا زره واګې به ئې وي، له هرې واګې سره اويا زره فرشتې چې راکشوي به ئې.

او يا په دې الفاظو سره دوزخيانو ته ويل شوي: هغه څه چې تاسو په دنيا کې د خپلو کړو وړو په وجه ورروان وئ، دا دى نن هغه په خپله ستاسو خوا ته راځي او ستاسو مخې ته ودرېږي او دروازې ئې ستاسو پر مخ پرانستل کېږي.

په هغه ورځ به انسان خپله ماضي او ټول تېر کړه وړه په ياد راوړي، پرې نادم او پښېمانه به وي، خو دا رايادونه او ندامت به څه ګټه نشي ررسولى.

**۲۴**- د جهنم په ليدو سره به وايي: اى کاش د دغه اصلي ژوند لپاره مې څه بندوبست کړى وى او اى کاش داسې صالح عمل مې وى چې نن ئې د دوزخ له عذابه ژغورلى وى.

**۲۵**- هغه ظالمان چې خپل مخالفين به ئې په ډول ډول عذابونو کړول، تر دې چې په پښو او لاسونو کې ئې مېخونه ورټکوهل او د اور په کندو کې ئې غورځول، نن به په داسې ستر الهي عذاب اخته وي چې څوك ئې تصور هم نشي کولى.

**۲۶**- که تاسو خپل مخالفين په وېروونکو او مخوف زندانونو کې اچوئ، د اوسپنو په قفسونو کې، په لاس پښو کې ئې زنځيرونه او زولنې، اړيکې ئې له هر چا سره شلوئ او د تېښتې ټولې لارې پرې تړئ، خو دا نشئ کولى چې ژوندى روحيه ئې په قيد او بند کې واچوئ او مړاوې ئې کړئ، د آزاد ذهن چاره ئې نشئ کولى، ډېر ئې داسې ګورئ چې اکثراً د خيال په عالم او د رؤيا په نړۍ کې د زندان

له حصاره ووځي او د راحت احساس کوي او ډېر نور ئې داسې چې په زندان کې هم د عزت او سرلوړۍ احساس کوي، د زندان قيد او بند ئې ژوندۍ روحيه تراغېز لاندې نشي راوستی، ډېر صابر او ثابت قدمه مبارزين ګورو چې د زندان تياره قفسونه ئې نه عزم ماتولی شي او نه ئې راتلونکې ته هيلې مړاوې کولی شي، د زندان په تنګو او تيارو خونو کې راضي وي، نه يوازې هلته د عزت او سرلوړۍ احساس کوي بلکې له زندان نه د مبارزې تود سنګر جوړوي، هغه د ځان لپاره يوه مدرسه ګڼي. يوسف عليه السلام کلونه کلونه په زندان کې تېروي، خو په پای کې کله چې د مصر د پاچا قاصد ورته راځي او د پاچا دا پيغام ورته راوړي چې ليدو ته ئې منتظر دی، د رد ځواب ورکوي او وايي: خپل بادار ته دې بېرته ورشه، ورته ووايه: زما په اړه هغه اتهام څنګه شو؟ هغه ښځې چې خپل لاسونه ئې د مېوو په چړو پرې کړل، څنګه شوې؟

ظالمانو! په دې پوه شئ چې د قيامت په ورځ به د الله تعالی (تړل) داسې سخت وي چې هيڅوك ئې اوس تصور هم نشي کولی، د دوزخ په سر پوښلو قفسونو کې، په غاړه، لاس پښو کې اوږده اوږده زنځيرونه، په ستنو پورې تړلي، د تېښتې ټولې لارې پرې بندې، روح او ذهن به ئې هم په داسې قيد کې چې د خيال او خوب په عالم کې هم يوه شېبه د آزادۍ او آرامۍ احساس ونکړی شي، نه خو يوازې د خپل بې وزلي دښمن جسد په زندان کې واچوې او لاس پښې ئې په زنځيرونو وروتړې، خو د ده روح نشې زنداني کولی، خو الله تعالی به د دوزخيانو روح هم په قيد کې واچوي.

---

ÇËÑÈ ¡ÅšÊ ó£ ¡ÅšÊ #‘ Åx Î ĥ 4‹ÿ ÓéÅ ö$ ÇËÐÈ ¡ÅZÍ JÖ03$ ß ÿZ9$ $k¦‘»ƒ

ÇÌÈ ÓÉZ _ ’ íä{ Š$ ÇËÒÈ “ Ÿ‰»6Ä ’Î ’ íä{ Š$u

---

**۲۷- آی اې ډاډه نفسه! ۲۸- د خپل رب په لورې ګرځه راضي شوی، راضي کوونکی. ۲۹- نو زما په بندګانو کې شامل شه. ۳۰- او جنت ته مې داخل شه.**

---

**۲۷-۳۰**: قرآن، انساني نفس درې ډوله ګڼي او داسې ئې معرفي کوي:

الف: لوامه نفس: هغه نفس چې انسان په خپل بد کار کې ملامتوي، د ګناه په هر هغه کار کې پرې اعتراض کوي چې انسان ئې کولو ته ملا تړي.

ب: امارة بالسوء نفس: هغه چې انسان بدو کارونو ته هڅوي، د ګناه هر کار، هر ناولی او کرکجن عمل، ظلم او د بل په حق تېری ورته ښاېسته کوي او ترسره کولو ته ئې تیاروي.

ج: مطمئنه نفس: مطمئن، ډاډه، آرام، قانع او راضي نفس، هغه چې سمه لار ئې غوره کړې، حقیقت ئې پېژندلی، زړه ئې پرې ډاډه شوی، نه د حقیقت په پېژندو کې مضطرب او پرېښانه وي او نه ئې په متابعت او پلې کولو کې، هیڅ حالت ورته شك او شبهه نشي پیدا کولی، په خپل جائز حق قانع او راضي وي.

قرآن فرمايي چې دا د زړه ډاډ او اطمئنان او د روح سکون او آرامښت یوازې د الله تعالی په ذکر سره ترلاسه کېدی شي.

الَّذِينَ آمَنُواْ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكْرِ اللّهِ أَلاَ بِذِكْرِ اللّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ*

الرعد: ۲۸

هغه چې ایمان ئې راوړی او د الله په ذکر سره ئې زړونه ډاډه کېږي، پام چې د الله په یادولو سره زړونه ډاډه کېږي.

مطمئن نفس همغه دی چې رابطه ئې له خپل رب سره ټینګه ساتلې، زړه ئې د الله په یاد سره ډاډه کېږي، د الله تعالی په پرېکړو راضي او قانع وي او خپل خیر په هغه کې لټوي، څوك چې خپل رب نه پېژني، خپله رابطه ئې له الله تعالی سره شلولې، تل په وېرې، اضطراب او پریشانۍ کې ژوند کوي، نه ئې زړه ډاډه وي او نه ئې روح آرامه، اضطراب او پرېشاني به حتماً د هغه روح او زړه په برخه وي چې

خپل رب ئې هېر کړی، دا اوس تاسو په غربي ټولنو کې ګورئ چې هرې خوا ته او د هر چا په څېره کې د ژور اضطراب او ناآرامۍ نښې له ورایه ګورئ، د غربي ټولنې اکثر وګړي له خوب راوړونکو او مسکن دوا پرته خوب نشي کولی، غواړي په شراب، چرس، سګرېټ، هیروئین، موروفین او نورو مخدره موادو خپل روحي اضطراب علاج کړي او څو شېبې خپل ناآرامه زړه ته کاذب ډاډ او سکون ورپه برخه کړي، ورو ورو ئې کار هغه ځای ته ورسېږي چې له سخت روحي اضطرابه د نجات لپاره ځان وژنې ته ملاتړي، دا پراخې ځان وژنې چې په هر غربي هېواد کې ئې ګورو او حکومتونه ئې له مخنیوي عاجز او راتلونکې ته سخت پرېشانه، ټول په خدای له عدم باور او له الله سره د خپلو اړیکو د شلولو نتیجه ده، دا ځان وژنې ښیي چې غربي تمدن، افکار، عقاید، د ژوند طریقه او اسلوب ئې د انسان له سالم فطرت سره اړخ نه لګوي، نشي کولی انسان روحي آرامي او د زړه سکون ورپه برخه کړي، په دې غیر فطري او په الحاد او بې دینۍ ولاړ تمدن کې انسان د اضطراب او پرېشانۍ احساس کوي، روح ئې ناآرامه، هیڅ څه ئې نشي ډاډه کولی، زغم، حوصله، صبر او استقامت نشي ورکولی، د معمولي کړاو په نتیجه کې له ژونده بې زاره شي، یا مخدره موادو ته پناه وړي او یا ځان وژني ته. دا ولې آسیائي او افریقائي انسان په سختو ستونزو او کړاونو کې، په فقر او لوږې کې، په ژوند راضي وي او له کړاوونو نه د نجات لپاره ځان وژنې ته پناه نه وړي، په یوه ستر آسیایي هېواد کې یو کال دومره کسان ځان وژنه نه کوي لکه چې د غربي هېوادونو په یوه یوه ښار کې تر دې په کمه موده کې ځان وژنې کېږي، دا ولې؟ آیا د دې لپاره کومه بله توجیه موندلی شو؟ آیا له دې پرته بل څه ویلی شو چې هلته زړونه له ایمانه تش شوي او دلته پر خدای باور په یوه او بله بڼه کې شته!! مخدره او نشه ئې موادو ته د پناه وړلو اصلي او بنیادي وجه روحي اضطراب دی، په دې خطرناکې بیمارۍ هغه څوك اخته کېږي چې له روحي سکونه محروم وي، د دې بیمارۍ علاج له دې پرته په بل څه نشي کېدی چې انسان بېرته الله ته راوګرځي، له الله تعالی سره خپلې شلېدلې اړېکې ټینګې کړي. عظیم الشان قرآن دلته د جنت

مستحق مؤمن بنده د نفس مطمئنة په نامه يادوي او په دې سره مونږ ته لارښوونه کوي چې فقط ايمان کولی شي انسان ته ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کړي، ايمان د انسان روح ته سکون او زړه ته ئې ډاډ ورکوي، عقل ئې قانع کوي، پوښتنو ته ئې ځواب وايي، په ټولنې کې ئې عدالت راولي او له اضطراب او پرېشانۍ ئې ژغوري.

يا ايتهاالنفس المطمئنة: اې مطمئن او ډاډه نفسه! (ارجعی الی ربك) د خپل رب لوري ته وګرځه، (راضية مرضية: راضي شوی او راضي کوونکی)، ته له الله تعالی راضي او الله تعالی له تا راضي، تا ته چې څه درکوي ته پرې راضي او ستا له کړو وړو دی جل شأنه راضي. الله تعالی به ورته خطاب کوي: زما په بندګانو کې شامل شه او جنت ته مې داخل شه.

# البلد

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم (البلد) دی چې له لومړۍ آيته اخيستل شوی، ۲۰ آيتونه لري اوه لومړي آيتونه ئې بلد او احد ته په ورته هموزنو صيغو باندې پای ته رسېدلي، ورپسې درې آيتونه د عينين، شفتين او نجدين په هموزنو صيغو او پاتې لس آيتونه ئې د عقبة او ميمنة په څېر هموزنو کلمو ختم شوي، غږ او مد و جذر ئې ډېر ښکلی او خوندور دی. د سورې له متنه په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره د مکي دور په هغو ورځو کې نازله شوې چې د قريشو سردارانو د پيغمبرعليه السلام او د ده د رسالت په ضد د مخالفت او دښمنۍ کلکه ملا تړلې وه او د ده په ضد ئې هره جفا او ظلم جائز ګڼلو.

د سورې په پيل کې د دې مطلب د اثبات لپاره چې (له ستونزو او کړاوونو سره مخامخېدل يو طبيعي بهير دی او الله تعالی انسان داسې پيدا کړی چې خامخا به له ستونزو سره مخامخ کېږي)، په (هذالبلد) او (هر پلار) او (هر زوی) لوړه شوې، يعني د مکې مکرمې په تېر تاريخ او په هر پلار زوی تېر شوي کړاوونو باندې استشهاد کوي او همدا مطلب ثابتوي، بيا هغه مغرور او متکبر انسان ته خبرداری ورکوي چې خپل زور ځواك غره کړی، ګمان کوي دومره ځواکمن دی چې هيڅوك

پرې برلاسه کېدی نشي او په ډېر غرور او مستۍ سره وايي: د پیغمبر علیه السلام او د ده د دعوت په خلاف مې ښه ډېر مال دولت مصرف کړی! دې مغرور دښمن ته وايي: گمان مه کوه چې الله تعالی درنه غافل دی، ستا د کړو وړو څارنه نه کوي او د ظلم او تېري سزا به درنکړي. او بیا د دې مهم او اساسي مطلب لپاره چې (د انسان رب، بصیر او د ده د عملونو شاهد او ناظر دی، حتماً به ئې د ټولو کړنو په هکله قضاوت کوي) په داسې ډېر مضبوط او ډېر څرگند دلیل استناد کوي چې هیڅوك ترې انکار نشي کولی، د انسان خپلې سترگې او د لیدو استعداد؛ د دلیل په توگه وړاندې کوي او فرمایي: ستا دا دواړه سترگې شهادت ورکوي چې ستا پیدا کوونکی حتماً (بصیر) دی او ستا د ټولو کړو وړو شاهد، د (مخلوق هر صفت) د دې نښه ده چې (خالق) ئې حتماً په دغه صفت په بشپړه او اکمله توگه متصف دی، په انسان کې د تکلم په صفت او د ده په ژبې او دوو شونډو استناد کوي او فرمایي: ستا رب هم حتماً د تکلم په صفت متصف دی او خامخا به ستا د عملونو په اړه پرېکړه کوي او ستا د عقایدو او افکارو په هکله به قضاوت کوي. د انسان په وجود کې د (ښه او بد) په اړه د ده په هغه احساس او قضاوت استناد کوي چې ښه ورته ښه ښکاري او خوښوي ئې او بد ورته بد ښکاري او کرکه ترې لري، نېکي ورته معروف برېښي، منل شوی او پېژندل شوی حقیقت ئې بولي او له خپل فطرت سره ئې آشنا گڼي، خو بدي ورته منکر ښکاري، کرکجنه ئې گڼي او د خپل فطرت منافي ئې بولي، له ښو دفاع کوي او له بدو کرکه لري، که دوه انسانان د نښتې په حال کې وگوري، یو ئې ظالم بل ئې مظلوم، غواړي د مظلوم مرسته وکړي او ظالم په خپل ځای کښېنوي، په ده کې دا د (قضاوت استعداد) د دې نښه ده چې د ده (پالونکی او پیدا کوونکی) ذات، هغه چې ده ته ئې دا استعداد ورکړی، هرومرو په دغه صفت متصف دی، حتماً به د انسان د عملونو په هکله قضاوت کوي، د مظلوم لاس نیوی به کوي او ظالم ته به سزا ورکوي. بیا فرمایي: دغه غولېدلی انسان د دین لار په دې خاطر غوره نه کړه چې گرانه او له لوړو ژورو ئې ډکه ومونده، له گړنگونو او کړاوونو ئې ووېرېدو، هغه صبر، ثبات، زغم او د قربانۍ جذبه چې په

دې لار د تلونکو لپاره ضروري ده، هغه ئې په خپل ځان کې ونه لیده، خپل وزرونه ئې له دې دنګو دنګو غرونو د اوړېدو لپاره وړ او جوګه ونه موندل، دین د مظلومانو د آزادۍ په لار کې مبارزې ته بللو، د خپلوان یتیم او محتاج مسکین مرستې ته ئې هڅاوو، هغه هم د سختې قحطۍ په کال کې او هغه وخت چې دی په خپله له سختې لوږې سره مخ وي، د بې وزلې او مظلوم انسان په هکله ئې ترحم او زړه سوي ته بلنه ورکوله، ده ته په دې لار تګ او د عظمت او عزیمت دغو لوړو څوکو ته رسېدل ګران وبرېښېدو، نو له انتخابه ئې ډډه وکړه.

په پای کې خلك په دوو ډلو وېشي او فرمايي:

الف: ځینې بختور دي او د بختورو ځای ته به درومي، دا هغه صابر او باعزمه مؤمنان دي چې د ایمان هغه لار ئې غوره کړه چې په اغزو پوښل شوې، په هر ګام کې ئې لوړې ژورې دي او له ګواښونو او خطرونو سره ډغرې وهل، په دې لارې وخوځېدل، صبر ئې وکړ او نور ئې صبر ته رابلل، په خپله زړه سوانده وو او په نورو ئې زړه سوی او ترحم درلود او نور ئې ترحم او زړه سوي ته رابلل.

ب: ځینې ئې بې بخته او بدبخته دي او ځای ئې د بدبختو کرغېړن ځای، دوی هغه خلك دي چې الهي آیتونه ئې تکذیب کړل، له هغو څرګندو نښو ئې عمداً انکار وکړ چې د حق او حقیقت په لوري د انسان لارښوونه کوي، د دغه تکذیب او انکار په وجه به دوزخ ته درومي.

د دې مبارکې سورې خلاصه دا ده: له ستونزو او کړاوونو سره مخامخېدل د الله له رعایت نه د محرومیت نښه نده، برعکس دا یو ثابت او عام الهي سنت دی.

بسم الله الرحمن الرحیم

ÇÌÈ $!r $Br $Î#rr Ç¡È Ï$#7ø$# ‹»kÍ @ïh |MR&r Ç¡È Ï$#7ø$# ‹»kÍ ßΑÅ%éw

ÇÍÈ %6. 'Î `» ¡ $IYI$$Z}=z $6)9

---

۱- نه، قسم مى په دې ښار. ۲- او دې ښار کې ته حلال ګڼلى کېږې. ۳- او لوړه په هر پلار او په هر زوى. ۴- بې شکه چې انسان دى پيدا شوى په سختۍ کې.

---

۱-۴- دلته څو خبرو ته پام وکړئ:

ځيني ګمان کوي چې د قسم نه مخکې (لا) اضافي ده او ځينې نور وايي چې دا د قسم د نفي لپاره ده، پدې معنى چې لوړه نه کوم، دا دواړه توجيهات کمزوري دي، په قرآن کې نه اضافي څه شته او نه کم او دا دوهمه توجيه خو تر دې هم ډېره کمزورې او خرابه چې د غير ضروري خبرې له کولو سره ئې مترادف کوي، که معنى ئې دا وي چې پدې ښار لوړه نه کوم نو د دې خبرې د کولو ګټه څه شوه؟!! غوره او دقيقه توجيه دا ده چې پدې (لا) سره د مخاطب وينا او دعوى رده شوې او د ده د ذهنيت له ردولو نه وروسته، مختصر مکث دى او بيا ويل شوي چې پدې ښار مې قسم، يعني داسې نده چې تاسو ئې ګمان کوئ، زما دې پدې ښار او په هر پلار زوى قسم وي چې انسان په کړاو او ستونزو کې پيدا شوى. د قرآن په ډېرو ځايونو کې کلام په (لا) او (فلا) پيل شوى، په انساني محاوره کې هم د دې شاهد يو چې معمولاً انسان د خپل مخاطب خبره په لا او نه سره ردوي او ورپسې خپله خبره کوي.

o د دې خبرې (پدې ښار کې ته حلال يې) معنى دا ده چې: د مکې پدې ښار کې چې د (بيت الحرام) محدوده ده، جنګ پکې حرام دى، پدې کې خلك د خپل پلار له قاتل نه هم د غچ اخيستو هڅه نه کوي، د بوټو او ونو له شکولو ئې ډډه کوي، د ځناورو او حشراتو له وژلو هم ځان ساتي، ښکار پکې حرام ګڼي، د هرڅه حرمت پکې ساتل کېږي، خو اې پيغمبره!! دلته ستا هتك حرمت، له تا سره دښمني او مخالفت، ستا د يارانو تعذيب او وژنه، نه يوازې جائز ګڼل کېږي بلکې د ثواب کار

ئې شمېري!! ټول د (حرمت) په (حريم) کې دي، خو ته له حرمت نه محروم او حلال!! که د سورې په متن کې او د قسمونو او ځواب ترمنځ ارتباط ته لږ ځير شو نو پدې خبرې پوهېدل به راته آسانه شي چې له (أنت حِلٌ بهَذَا الْبَلَد) نه مراد همدا مطلب دی نه بل څه.

o په دربيم آيت کې (والد و ما ولد) د نکيره په صيغه راغلي او معنی ئې هر پلار او زوی دی، نه خاص پلار او زوی.

له قسمونو وروسته ويل شوي:

لَقَدْ خَلَقْنَا الانسنَ فى كَبَدٍ*

بې شکه چې انسان مو پيدا کړی په سختۍ کې.

دا د مخکنيو قسمونو ځواب دی، بايد وګورو چې دا قسمونه څه مطلب افاده کوي او څنګه د دې ادعا په حقانيت شهادت ورکوي چې (الله تعالی انسان په محنت او مشقت کې پيدا کړي) او په (هذا البلد) او (والد و ماولد) باندې د لوړې او ځواب ترمنځ ئې څه رابطه ده؟ پدې خبرو د پوهېدو لپاره لاندې نقاطو ته توجه وکړئ:

هغو خلکو چې د پيغمبر عليه السلام او د ده له دعوت سره مخالفت ته ئې ملاتړلې وه، خپل ټول وسايل او امکانات ئې د دې الهي نهضت د مقابلې لپاره کارول او د پيغمبر عليه السلام ياران ئې د مکې په مبارکې وادي، دا د الله د کور حرم کې، ترشديد تعذيب لاندې نيولي وو، ويل به ئې: په دې خبرې څنګه باور وکړو چې محمد عليه السلام د خدای پيغمبر دی، د ټولو ملائکو مطاع جبرئيل د الله له لوري ده ته د الهي وحي قاصد دی، دا ادعا کوي چې لار ئې حقه او الله ئې مل دی!! پداسې حال کې چې دی او ياران ئې له دغو سختو کړاوونو او ستونزو سره مخامخ دي، په هرګام کې مصيبتونه او ابتلاءات ورته منتظر، تعذيب کېږي، له ملك نه شړل کېږي او وژل کېږي!! دا ولې د ده خدای د ده مرسته نه کوي؟ ولې ملائکې د ده مرستې ته نه راځي؟ ولې د ده مخالفين د الله په عذاب نه اخته کېږي؟ الله جل شأنه پدغې مبارکې سورې کې دوی ته دا ځواب ورکوي: له کړاوونو او

ستونزو سره مخامخېدل يو ثابت الهي سنت دی، خدای جل شأنه انسان داسې پيدا کړی چې خامخا به د راز راز محنتونو او مشقتونو له کړلېچونو نه تېرېږي، لوړې ژورې به ګوري، کړاوونه به ګالي، له مصيبتونو سره د چا د مخامخ کېدو معنی دا نده چې هغه د الله له تائيد نه محروم او لاره ئې ناسمه ده!! تاسو سخته اشتباه کړې چې دا انګېرنه مو د خپلو قضاوتونو لپاره ملاك او معيار ګرځولی، مګر د دې ښار د جوړېدو له قصې خبر نه یاست چې څنګه ستاسو جد ابراهيم عليه السلام د خدای خليل، خپله ناتوانه مېرمن، هاجر رضي الله عنها او خپل وړوکی ماشوم زوی، اسمعيل عليه السلام پدغې سوزنده وادي کې هغه وخت يوازې پرېښودل چې نه پکې د څښاك اوبه وې، نه ونه او بوټي، نه سيوری، نه حيوان او انسان، وېرونکې وچه دره او سپېره ډاګ، دواړه ئې د الله تعالی په حکم دلته يوازې پرېښودل، څومره ستره ابتلاء، هم پلار ته او هم مور او زوی ته!! څومره سختې ورځې ورباندې راغلې؟ که ابراهيم عليه السلام دا د کعبې معمار او زوی ئې اسمعيل ذبيح الله، هغه دوه ستر شخصيتونه چې تاسو اې قريشو! ځان ورته منسوبوئ او پدې انتساب فخر کوئ، که دوی لداسې ابتلاءاتو سره مخامخ شوي او تاسو دا نه واياست چې ولې ستاسو جد لداسې سختو ورځو سره مخامخ شوی نو د محمد عليه السلام په اړه ولې دا خبره کوئ؟ د پيغمبرانو د ابتلاءاتو قصې خو دا حقيقت ثابتوي چې دا يو ثابت الهي سنت دی.

o د هر انسان د ژوند بهير ته پام وکړئ، که پلار وي او که زوی، د هرچا ژوند له لوړو ژورو ډك، کمزوری، ضعيف او محتاج دنيا ته راشي، بل ته په هرڅه کې اړ، لاس پښې وهي، له يوه نه بل اړخ ته نشي اوښتی، بل څوك بايد د ده مرسته وکړي، خپله غذا په اوښکو، ژړا او چېغو ترلاسه کوي، چې له ځمکې د پورته کېدو شي نو هرګام په ډېر زحمت پورته کوي، په هر قدم کې پر مخ لوېږي، له راز راز بيماريو سره د دوامدارې مقابلې لړۍ ئې په مخ کې، دردونه او رنځونه، تر څو ځوان شي، د ژوند بهير ئې نوی پړاو پيل کړي او ستونزې ئې نوې بڼه او پېچلې ابعاد، له يوې نزاع لا نه وي فارغ شوی چې په بلې سر شي، يو مشکل ئې لا نه وي

حل چې له بل سره مخامخ شي، له يوې بيمارۍ روغ شي په بلې اخته، دغه دی د انسان د ژوند حقيقي انځور، له ستونزو سره مخامخ کېدل ئې د ژوند طبيعي بهير، د الهي سننو مطابق او د ژوند لازمه. خدای جل شأنه انسان داسې ندی پيدا کړی چې تل به د ګلانو د پاڼو په بستر ځملي، الله د ګلانو ترڅنګ اغزي پيدا کړي، د خندا تر څنګ ژړا، د خوشحالۍ ترڅنګ غم، د سوکالۍ ترڅنګ ستونزې.

---

Ü|¡tzł& ÇÏÈ #‰79-ZV$B M8=d& Aqà)ƒ ÇÎÈ Ón& Ïøã ‘‰)ƒ `9©b& Ü|¡tzł&

ÇÐÈ ‰n& çjp•ƒ N9©b&

---

۵- آيا دی انګېري، داسې چې، هيڅکله به څوك نشې پرې قادر؟ ۶- وايي: ډېر مال مې کړ تباه! ۷- آيا دی انګېري داسې چې هيچا ليدلی ندی؟

---

**۵- ۷**: دا څوك او کوم انسان دی چې ځان ورته دومره ځواکمن او قدرتمن برېښي چې ګمان کوي هيڅوك به پرې برلاسی نشي؟! که څه هم په آيت کې ورته په ځرګنده ګوته نه ده نيول شوې خو د کلام له فحوی په واضح توګه معلومېږي چې دا همغه مغرور انسان دی چې د پيغمبرعليه السلام هتك حرمت ته ئې ملا تړلې او د الله تعالی د کور په حرم کې پر ده هر تېری او تجاوز جائز او حلال ګڼي، هماغه چې خپل ټول زور ځواك ئې د پيغمبرعليه السلام او د ده د دعوت په مخالفت کې کارولی او ادعا کوي چې که پيغمبرعليه السلام په حقه وی او الله تعالی او فرشتې ئې د ده ملاتړي وی نو له د غو کړاوونو او ستونزو سره به نه مخامخ کېدو!! او د ده مخالفينو بايد هيڅکله دا فرصت نه شوی ترلاسه کولی چې له ده سره په عناد او دښمنۍ لاس پورې کړي، دی وځوروي او د ده ياران او ملګري وربړوي او سره له دې د الله تعالی له نيونې او مؤاخذې خوندي وي! دغو مغرورو سردارانو ته ويل شوي چې آيا ستاسو زور ځواك دا د غرور او کبر احساس درکې راولاړ کړی؟ آيا د

پیغمبر علیه السلام او د ده د دعوت په ضد ستاسو پراخو هلو ځلو او ډېرو وسایلو کارولو او زیات مال دولت مصرفولو په تاسو کې دا ذهنیت راپیدا کړی، چې هیڅوك پر تاسو برلاسه کېدی نشي؟

۷ـ آیا داسې انګېري چې چا نه دی لیدلی؟ مګر ګمان کوي چې بصیر خدای، د ده د ناروا او ظالمانه هلو ځلو او ښکاره او پټو هڅو ناظر او شاهد نه دی؟ سخته اشتباه کوي، هیڅ څه ئې له هغه الله تعالی پټ نه دي چې بصیر دی او د دې حقیقت د اثبات لپاره په لاندې مضبوطو دلایلو استناد کوي:

---

ÇÈ ÈÐ‰ÓZ9$ç Ÿ#‰dr ÇÈ Éú ü6ÿ©r $Þ$ ¡ Ïr ÇÈ ÈZžã ¼æ©@èÞÙ Ó9&

---

۸- آیا ده ته مو ورنکړلې دوې سترګې؟ ۹- او یوه ژبه او دوې شونډې؟ ۱۰- او ده ته مو ونښودې دوې لارې؟

---

۸ـ د دې حقیقت د اثبات لپاره چې د (انسان پیدا کوونکی رب) حتماً بصیر دی او د ده د کړو وړو ناظر او شاهد، د انسان په دوو سترګو استدلال کوي او فرمایي: ته مخلوق یې، خالق لرې، بل پیدا کړی یې، ستا ټول استعدادونه ستا پیداکوونکي درکړي، ستا دوې سترګې هم د هغه ودیعه ده، ستا عقل څنګه دا خبره مني چې په تا کې به دا صفت وي خو ستا پیدا کوونکی به ترې محروم وي؟!! د عقل حکم خو له دې پرته بل څه نشي کېدی چې ستا خالق باید په دې صفت په اکمل او بشپړه توګه متصف وي؟!! آیا ممکن ده په مصنوع او مخلوق کې داسې غوره صفت وي چې د هغه په خالق او صانع کې نه وي؟!! د انسان بصر او بصیرت په دې شهادت ورکوي چې الله تعالی بصیر دی. مونږ چې د عالم پیدا کوونکی رب په کومو صفتونو یادوو مظاهر ئې په عالم او د ده مخلوقاتو کې ګورو، که وایو الله تعالی بصیر دی دا ځکه چې د ده په مخلوقاتو کې د دې بېلګه ګورو، که وایو الله

تعالی سمیع او اورېدونکی دی، دا د دې لپاره چې د سمع د صفت مظهر د ده په مخلوقاتو کې ګورو، که وایو: الله تعالی علیم دی دا ځکه چې د (علم) په مظاهر د عالم د هر څه په پیدابښت کې ګورو او زمونږ عقل راته وایي چې دا عالم حتماً داسې ذات پیدا کړی چې په څه ښه پوهېږي.

**۹ـ** ستا ژبه او دوه شونډې د تکلم وسایل دي، ته له دغو وسایلو نه په استفادې سره خپل مافي الضمیر بیانوې، خپل قضاوتونه منعکس کوې او خپلې پرېکړې صادروې، په تا کې د دغه استعداد شته والی په دې شهادت ورکوي چې ستا رب حتماً د تکلم په صفت متصف دی. حتماً به ستا د کړو وړو په هکله قضاوت کوي، وروستۍ پرېکړه به صادروي. په انسان کې د دغه صفت شته والی مونږ د الله تعالی د دغه صفت په څرنګوالي پوهوي. ټول عالم د الله تعالی د صفاتو مظهر دی، د الله تعالی د صفاتو مظاهر په ټول عالم کې ګورو، له مظاهرو څخه مونږ الله تعالی او د هغه صفات پېژندی شو.

۱۰ـ الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې د ده په فطرت او خټه کې ئې د (ښه او بد) د پېژندو لپاره خاص معیارونه او استعداونه ایښي، د (فجور) او (تقوی) خبره ئې د ده د ضمیر په صفحې انځور کړې، د دغه فطري استعداد په وجه ښه ورته ښه ښکاري او خوښوي ئې او بد ورته بد ښکاري او کرکه ترې لري، نېکي ورته معروف برېښي، منل شوی او پېژندل شوی حقیقت ئې بولي او له خپل فطرت سره ئې آشنا ګڼي، خو بدي ورته منکر ښکاري، کرکجنه ئې ګڼي او د خپل فطرت منافي ئې بولي، له ښو دفاع کوي او له بدو کرکه لري، داسې ملکې او غرېزې ئې ورکړې چې دی ښېګړو ته هڅوي او له بدیو ئې منع کوي او په هر بد کار کې ئې ملامتوي، دغه استعداد د دې لامل دی چې انسان د هر ښه او بد عمل په اړه قضاوت کوي، غواړي سزا او بدله ورکړي، که دوه انسانان د نښتې په حال کې وګوري، یو ئې ظالم بل ئې مظلوم، غواړي د مظلوم مرسته وکړي او ظالم په خپل ځای کښېنوي، په ده کې دا د (قضاوت استعداد) د دې ننبه ده چې د ده (پالونکی او پیدا کوونکی) ذات، هغه چې ده ته ئې دا استعداد ورکړی، هرومرو په دغه

صفت متصف دی، حتماً به د انسان عملونو په هکله قضاوت کوي، د مظلوم لاس نیوی به کوي او ظالم ته به سزا ورکوي.

دا دی ګورئ چې قرآن د الله تعالی د صفاتو د اثبات لپاره د همدغو صفاتو په هغو مظاهرو او ښېلګو استناد کوي چې د ده په مخلوق کې ئې ګورو، هغه چا ته چې ګمان کوي: الله تعالی د خلکو له عملونو سره هیڅ کار نه لري او د دوی د ښو او بدو عملونو په اړه قضاوت نه کوي، فرمايي: ستا دا دوه سترګې، شهادت ورکوي چې خدای بصير دی او ستا د عملونو ناظر، ستا دوې شونډې او ژبه په دې شهادت ورکوي چې ستا رب به حتماً ستا د عملونو په هکله قضاوت کوي، د ښه او بد په هکله ستا دا احساس د دې ننښه ده چې الله تعالی به هم ستا عملونه په دوو برخو وېشي، ښه ته به ښه او بد ته به بده سزا ورکوي.

---

ﻻ& ÇÌÈ þ6%‘ ’7 ù ÇÏÈ þ7)è$ $B 71‘Š& $Br ÇÏÈ p7)è$ N s F$ Ÿ ù

þ7/ŽB #Œ $ZŠÅó Ÿ ﻻ& ÇÎÈ þ/•ÿB #Œ $VŠÏf ÇÍÈ þ7óó B “ Ë 5ö/ ’Î Ò»èôÎ

ÇÊÐÈ þHqëK$Î (ö ¹ #q?r ÎöÁ 9$Î (ö ¹ #q?r (qãB#ä ûïÏ%$ `Ï B b%. OÉ ÇÊÏÈ

Ü »sô & Nè $Z Ï»f$«Î (rãy. ûïÏ%$r ÇÊÑÈ þZJoÏ$ Ü »tó¾& 7Í»9ré

ÇËÉÈ 8%¹ sB Ö‘R öNÍkö ã ÇÊÒÈ þJ«ô J$

---

۱۱- وېې نه دانګلو دغې سختې لار ته. ۱۲- څه شي يې پوه کړی چې دا سخته لاره څه ده؟ ۱۳- د غاړو پرانستل. ۱۴- او د لوږې په ورځ ورکړه د طعام. ۱۵- د خپلوۍ خاوند يتيم ته. ۱۶- يا په خاورو سپېره شوي کوم مسکين ته. ۱۷- بیا له هغو شي چې ایمان ئې دی راوړی او په صبر او

زړه سوي باندې ئې کړې سپارښتنه. ۱۸- دوی به وي د بختور ځای خاوندان. ۱۹- او زمونږ په آيتونو چې کافر شول، دوی به وي د شقاوت ځای خاوندان. ۲۰- ګمارل شوی سرپوښلی اور پر دوی.

---

۱۱ـ۱۸ د (اقتحام) معنا دانګل، برید او په سخت کار کې سریع او تند ننوتل دي او (عقبة) هغې لارې ته ویل کېږي چې د غره په اړخ کې تېره شوې وي، لوړې ژورې او کړلېچونه ولري. وروستي آيتونه (عقبة) داسې معرفي کوي:

- له قید او بند نه د غاړو آزادول.
- خپلوان يتيم او بې وزلي مسکين ته په داسې ورځو کې طعام ورکول چې قحطي او لوږه خوره وي.
- ايمان او د ايمان په لارې صبر او استقامت.
- نور صبر او استقامت ته رابلل.
- خلك پېرزوينو، زړه سوي او ترحم ته رابلل.

هغه چې د پيغمبرعليه السلام او د ده دعوت په ضد په خپلو هڅو او بې دريغو مالي لګښتونو وياړي، د ايمان لاره ئې سخته، کړلېچنه او ګرانه موندلې، په دې کې له اقتحام نه ځان عاجز ګڼي، په خپل زړه کې هغه قوت او ځواك نهويني چې د دې لوړ غره څوکو ته رسېدل ورته ممکن وبرېښي، په خپل پرېوتي ځای کې پاتې شو، د غلامۍ، بخل، حرص، قساوت، بې رحمۍ او د کفر او بې ايمانۍ په حضيض کې پاتې کېدل ئې غوره وګڼل، د خپلې مخکنۍ وضعې لمن ئې داسې ټينګه ونيوله چې د دوام لپاره ئې خپل ټول زور ځواك او ټول امکانات وکارول، له دې لوړو آخوا بختور ځای ته د رسېدو لپاره ئې په (عقبه) کې له (اقتحام) نه ډډه وکړه، دی د هغو کسانو په څېر نه دی چې واقعي سعادت ته د رسېدو لپاره په ګرانو او سختو لارو د تلو جرأت او همت لري، نه د لارې له لوړو ژورو وبرېږي او نه د سفر له اوږدوالي، لوی زړه او چت عزم، صبر او زغم، پیاوړي او مضبوط وزرونه لري.

سره له دې چې انسان په هرصورت کې او د خپل ژوند لپاره چې هر مقصد غوره کړي او مقصد ته د رسېدو لپاره چې هره لار اختيار کړي، حتماً به له (کبد) ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کېږي، که ئې د ايمان په لار د تلو پرېکړه وکړه او که د شيطان او نفس د متابعت او غلامۍ په لار. داسې نه ده چې د نفس په بندګۍ او د شيطان په غلامۍ کې به اوږدې لارې پرې لنډې او د ژوند کړاوونه به ورته آسانه شي، هسې د ده ذليل نفس او مکار شيطان د آزاد او سرلوړي ژوند په ځای د غلامۍ او مرييتوب ژوند ورته آسان او ښاېسته کړي، له محتاجو خپلوانو او بې وزلو انسانانو سره د مرستې په ځای د حق په مقابله کې خپل مال مصرفول ورته غوره او د وياړ وړ کار وبرېښوي، دغه د نفس او شيطان دوکه د دې باعث شي چې په حق او حقيقت له ايمان او اعترافه ډډه وکړي، د ايمان په ځای د کفر لار، د ترحم او زړه سوي په ځای د بې رحمۍ او قساوت او د قناعت او صبر په ځای د حرص اوبخل لار غوره کړي.

بې مناسبته ئې مه ګڼئ چې د يوه لوړ غره په ځنګل کې د يوې تروږمۍ شپې د تګ قصه دلته راواخلم: د امريکايانو په ضد د جهاد په لومړيو شپو ورځو کې چې زمونږ د اوسېدو سيمه د دوی تر سخت مراقبت لاندې وه، هم ئې له لاندې څارله او هم له بره په جاسوسي طيارو او سپوږمکيو، يوه شپه له يوې سيمې بلې ته تلو، سخته تياره وه، له رڼا او څراغ نه مو استفاده نه کوله، يوه ملګري راته وويل چې الله تعالی دې د دغو کړاوونو د تحمل اجر درکړي، ورته ومې ويل: خلك د دنيوي مقاصدو لپاره تر دې ډېر زيات کړاوونه ګالي، زحمتونه قبلوي او شپه ورځ خولې تويوي، څو شېبې وروسته مو مخې ته داسې کس راغی چې په همغه تياره کې ئې، د هغه لوړ غره په ډډه کې يوه لويه څټه په يوازې تن راکښوله، ورونو ته مې مخ کړ چې ګورئ دا کس به څه وخت راوبيښ شوی وي، د غره سر ته به ئې ځان رسولی او د دې ستې راکښول به ئې پيل کړي وي، خپل زحمت له دې سره مقايسه کړئ.

له انس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: جنت د مکاره او ناخوالو په پردو پوښل شوی او دوزخ د شهواتو او

نفسي غوښتنو په پردو.

عن أنس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم حفت الجنة بالمكاره وحفت النار بالشهوات رواه مسلم

یعني ستا او جنت ترمنځ داسې پردې حایل دي چې ستا نفس ته ترې تېرېدل ګران او ستونزمن برېښي، له دغو پردو په تېرېدو سره جنت ته رسېدی شې، خو ستا او دوزخ تر منځ داسې پردې ځړېږي چې ستا نفس ته ښاېسته او راښکونکې برېښي، که د خپل نفس خبره دې ومنله او له دغو پردو تېر شوې په دوزخ کې پرېوځې.

د دې مبارکو آیتونو دوو ظریفو ټکیو ته ستاسو پام رااړوم:

الف: د (فك رقبة) او (اطعام فی یوم ذی مسغبة) ذکر له ایمانه مخکې راغلی او دا ښيي چې (ایمان راوړل) د هر کس او ناکس کار نه دی، څوك چې له (قیدونو او بندونو) نه وي آزاد شوی، د اسارت او غلامۍ د زنځیرونو شلولو ته ئې ملا نه وي تړلې، په خپله له الله پرته د بل بندګۍ ته سر ټیټوي، نور د اسارت او غلامۍ په دردناك حالت کې ګوري خو احساسات ئې نه راپاروي، داسې ضعیف النفسه خلك د ایمان راوړو وړتیا او اهلیت نه لري، ذلیل او غلام فطرته انسانان دا د عزت او سرلوړۍ لار نشي غوره کولی، قرآن دا مطلب په بل ځای کې په دې صیغه رااخلي:

فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ* البقرة: ۲۵۶

نو څوك چې له طغیان کوونکي نه انکار وکړي او بیا په الله ایمان راوړي نو په داسې کلکې کړۍ ئې منګولې ټینګې کړې چې شلېدل ئې نشته او الله خو ډېر پوه اورېدونکی دی

په دې مبارك آیت کې هم ګورئ چې په طاغوت کافر کېدل پر الله له ایمان راوړلو نه مخکې ذکر شوی، د دې معنی دا ده چې لومړی به له طاغوته انکار کوې، بیا به پر الله د ایمان راوړلو جوګه کېږې، تر څو له طاغوته انکار ونکړې او د هغه له منلو خپل برائت اعلان نکړې، الله ستا د ایمان دعوی نه قبلوي، د توحید په کلمه کې هم

تا ته د همدې درس درکړی شوی، لومړی له الله پرته بل هر اله نفی کوې، بیا د الله د اثبات خبره کوې: لا اله الا الله، وایې، ډېر خلك داسې وي چې پر الله د ایمان دعوی کوي، ګمان ئې هم دا وي چې پر الله ایمان لري، خو طاغوت ئې نه وي نفی کړی، له طاغوت نه ئې طمع او وېره وي، د هغه واکمنۍ ته سر ټیټوي، خپل منازعات او شخړې د حل و فصل لپاره هغه ته وړاندې کوي او د هغه پرېکړو ته غاړه ږدي، د داسې کسانو په هکله قرآن په مکرره توګه او پرېکنده الفاظو وایي چې د ایمان دعوی ئې دروغجنه ده.

ب: ایمان دوه مهمې او اساسي تقاضاوې لري: (صبر) او (ترحم). د انسان صبر او زړه سوی ښیي چې په زړه کې ئې (ایمان) شته، (ایمان) د صبر او ترحم مقدمه ده، همغسې لکه د غلامۍ او بې عدالتۍ په ضد د مبارزې هوډ او عزم چې د ایمان لپاره مقدمه ده. ځکه نو دلته (فك رقبة) او (اطعام فی یوم ذی مسغبة) له ایمانه مخکې ذکر شوي.

۱۹-۲۰: هغه چې په کفر راضي شوي او د ایمان لار ورته عقبة برېښېدلې او له دانګلو او (اقتحام) نه ئې ډډه کړې او له هغو الهي آیتونو ئې انکار کړی چې دوی د ایمان (سعادت تون) ته رابلي او د کفر په (شقاوت تون) کې پاتې شوي، تمځای به ئې دوزخ وي، د اور په داسې اوږدو اوږدو منځ تشو ستنو کې به پراته وي چې په سر به ئې برغولې وي، نه به ئې تودوخه کمېږي او نه به دوی ته د وتلو او فرار مجال میسر وي او نه د آزاد تنفس فرصت.

# الشمس

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الشمس (لمر) دی، چې له لومړۍ آيته ئې اخيستل شوی، **۱۵** آيتونه لري، ټول آيتونه ئې په هموزنو صيغو او د (ها) په غږ پای ته رسېدلي، د دې وزن صيغې له فواصلو علاوه د آيتونو په منځ کې هم راغلې او ټولې سورې ته ئې ډېر ډېر ښکلی او خوندور غږ ورکړی. د سورې له مضامينو معلومېږي چې دا د مکې دور په هغه زمانه کې نازله شوې چې د پيغمبر عليه السلام په خلاف د مکې د سردارانو مخالفت خپل اوج ته رسېدلی وو.

د دې مبارکې سورې خلاصه دا ده چې: که بريا غواړې خپل نفس تزکيه کړه. د بحث اساسي موضوع ئې هم دا مطلب ثابتول دي چې د (انسان د فلاح او بريا) څرنګوالی د ده د نفس په (تزکيې او تدسيې) پورې مربوط دی، که انسان شقي او بدبخته کېږي نو د دې شقاوت او بد بختۍ عوامل دې په خپل نفس کې ولټوي او که غواړي سعادت او نېك بختي ئې په برخه شي نو د دې (سعادت) لوازم دې په ځان کې راپيدا کړي.

د انسان خالق او پالونکي رب ده ته وينښ او حساس ضمير ورکړی او د ده په شعور کې ئې روڼ او لاربنود څراغ ايښی، ده ته ئې د (تقوی) او (فجور) د پېژندو

الهام کړی، که دی په دې وتوانېږي چې دا څراغ روښانه وساتي، د دپ کېدو مخه ئې ونیسي، د لارې په موندو او د ښه او بد په پېژندو کې ترې کار واخلي، بلنې ته ئې لبیك ووایي، لارښوونو ته ئې اعتناء وکړي، د خپل ضمیر صفحه له ککړېدا خوندي وساتي، خپل وجدان ژوندی او فعال وساتي او له ځپل کېدو او مړاوېدو ئې مخنیوی وکړي، فلاح او بریا ترلاسه کوي، خو که د (فجور) او (طغیان) لار غوره کړي، په خپله به هم بدبخت شي او خپله ټولنه به هم له شقاوت او بدبختۍ سره مخامخ کړي.

د دغې سترې ادعا د (اثبات) لپاره د عالم څو مشهود او څرګند شواهد، (لمر او سپوږمۍ)، (شپه او ورځ) او (آسمان او ځمکه) د شواهدو په توګه وړاندې کوي او فرمایي: لکه څنګه چې په (آسمان) کې روڼ لمر ګورې، چې ستا د ځمکې رڼا او تودوخه له هغه ده، چې کله ستا (ځمکه) له هغه مخ واړوي، سړه او تیاره شي او چې مخ ورواړوي، (توده) او (روښانه) شي، د (لمر په پرېوتو) سره شپه راځي، هلته (سپوږمۍ) ګورې چې حرارت نه لري او رڼا له لمره اخلي. ستا په ضمیر کې هم دې ته ورته لمر او څراغ ایښودل شوی، ستا حساس وجدان ستا د ضمیر روڼ لمر دی، (ښه) او (بد)، مفید او مضر، حق او باطل درښیي، له بدو دې منع کوي، نېکیو ته دې هڅوي، په ګناه او بد کار کې دې ملامتوي، چا چې خپل وجدان ته ځلا ورکړه، مثال ئې د ځمکې هغه حالت ته ورته دی چې لمر ته مخ واړوي، رڼا او تودوخه ئې په برخه شي، د خوځښت، ژوند، ارتقاء او ودې لړۍ په کې پیل شي او چا چې د خپل وجدان صفحه ولړله او دا څراغ ئې مړ کړ، مثال ئې د ځمکې هغه حالت ته ورته شي چې شپه خپل تور وزر پرې وغوړوي، له نور او حرارته محرومه شي.

د سورې په پای کې دغه پورتنۍ حقیقت د یوه تاریخي بهیر په ترځ کې بیانوي او د ثمودیانو په قصې کې ئې انځوروي او فرمایي: په دې قوم کې د دوی د یوه (ډېر شقي انسان) (طغیان) او پاڅون د دې باعث شو چې دا قوم خپل زړه سواند پیغمبر صالح علیه السلام تکذیب کړي، د هغې (ناقة الله) لاس پښې قطع کړي چې د دوی د پیغمبر (معجزه) وه، په شدید الهي عذاب اخته شول او د کورونو چتونه ئې پرې

راپرېوتل.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

È@ø$r ÇÌÈ $g9=¯_ #Œî í$k]9$r ÇÊÈ $g9=? #Œî ìJ)ø9$r ÇËÈ $g8té ï r Ä§ ø±¤9$r

<§ ÿRr ÇÏÈ $g8 sÛ $Br ÇÚ ö‘F{$r ÇÎÈ $g9^/ $Br ä!$K¡ 9$r ÇÍÈ $g8±óøtƒ #Œî

ÇÑÈ $g8©- `B x=øùr& ô‰s% ÇÐÈ $g1qø)?r $d‘qègé $gJl ùù'sù ÇÏÈ $g1§™ $Br

ÇÊÉÈ $g9™Š `B >%{ ô‰s%r

---

۱- قسم په دغه لمر او په غرمه ئې. ۲- قسم په دې سپوږمۍ چې شي ورپسې. ۳- قسم پدغې ورځ چې ئې ځرګند کړي. ۴- قسم پدغې شپې چې ئې راونغاړي تياري کې. ۵- قسم په دې آسمان او په دا هسې جوړېدو ئې. ۶- قسم پدغې ځمکې او دا هسې خورېدو ئې. ۷- قسم په دغه نفس او په دا هسې سمېدو ئې. ۸- چې الهام ئې ورته وکړ د فجور او ځان ساتو ئې. ۹- بې شکه بريالی شو هغه څوك چې پاك ئې کړلو. ۱۰- او بې شکه نامراد شو هغه څوك چې ويې لړلو.

---

۱-۸: له لومړي آيت نه تر ۸ پورې په څو شيانو لوړه شوې او ورپسې ويل شوي:

قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّاهَا * وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّاهَا *

بې شکه بريالی شو هغه څوك چې پاك ئی کړلو،او بې شکه نامراد شو هغه څوك چې وئې لړلو.

بايد وګورو چې د دغو قسمونو او ځواب تر منځ ئې څه رابطه شته، دا

قسمونه څنګه دا خبره ثابتوي چې: هغه کس بریالي شو چې خپل نفس ئې تزکیه کړ او هغه نامراد شو چې ککړ ئې کړ) ځواب دا دی:

لکه څنګه چې د دې عالم حکیم خالق، ستا د ځمکې د روښانه کولو لپاره داسې لمر پیدا کړی چې نه یوازې ستا د ځمکې (کور) ته رڼا ورکوي بلکې حرارت هم ورکوي، د لمر له (حرارت) او (نور) نه پرته به ستا په تیاره او سړې ځمکې باندې ژوند ممکن نه وو، همداراز ئې ستا د لارښوونې لپاره ستا په نفس کې د سالم فطرت او حساس ضمیر روڼ څراغ ایښی، داسې لارښود چې هم تا ته (فجور) درښیي او هم (تقوی)، ښه درته ښا ښسته او آشنا کړي او بد درته منکر او کرکجن.

ته په آسمان کې ګورې چې سپوږمۍ د (لمر) له پرېوتو وروسته راڅرګنده شي، دا سپوږمۍ چې د شپې ښېښه ده، نه له ځانه نور لري او نه حرارت، که لدې نه ستا د ځمکې په لور د نور پلوشې رادرومي، نو دا په خپله د دې نه بلکې د لمر وړانګې دي چې دا ئې د یوې آئینې په څېر ځمکې ته منعکس کوي. که لمر پرېووت سپوږمۍ راځي او د شپې راتګ اعلانوي، همداراز که ستا د ضمیر څراغ خړ او مړ شو، نو نامراده شوې او تیاره دې په برخه شوه.

o ته ورځ ګورې چې لمر راڅرګند کړي، ورځ د ځمکې هغه حالت دی چې لمر ته مخه کړي، پدې سره روښانه شي، رڼا او حرارت ئې په برخه شي، هر څه پکې ویښ شي، وده، حرکت او خوځښت پکې پیل شي. او ته شپه ګورې چې لمر پټ کړي، شپه د ځمکې هغه حالت دی چې لمر ته شا کړي او پدې سره له نور او حرارت نه محرومه او تیاره ئې په برخه شي، د خوځښت او حرکت ځای رکود او جمود ونیسي، ستا د (نفس) هم دغه حالت دی، که دې (تزکیه) کړ او پاك صاف دې وساتو، بریالی شوې او که دې (ولړلو) نو ناکام او نامراد شوې. که تا د خپل نفس لمر (دا حساس ضمیر) او (دا لارښود څراغ) روښانه کړ نو (رڼا)، (ژوندون)، (وده) او (ویښتیا) به دې په برخه شي او که دې خړ او دپ کړ نو (تیاره)، (خوب) او (رکود او جمود) به درته مخه کړي.

o دلته دې مطلب ته اشاره کول هم ضروري برېښي چې دا ولې قرآن د دې په

ځای چې وواېي: د لمر په تلو راتلو سره شپه او ورځ راځي، برعکس وايي: ورځ لمر راڅرګند کړي او شپه ئې پټ کړي؟! د بيان پدغه اسلوب سره قرآن يوه داسې ستر حقيقت ته اشاره کړې چې انسان يوازې څو کاله د مخه په ۱۹ پيړۍ کې ورباندې پوه شو. انسان مخکې پدې نه پوهېدو چې شپه او ورځ په اصل کې د ځمکې دوه خاص حالتونه دي چې د ځمکې په حرکت پورې ارتباط لري، نه د لمر په حرکت پورې، دا د ځمکې حرکت دی چې کله د لمر د څرګندېدو باعث شي او کله ئې د پټېدو، د بيان دا دقيق اسلوب نه يوازې د قسمونو له ځواب سره ژور ارتباط لري بلکې له يوه ستر علمي حقيقت نه هم پرده اوچتوي. لکه چې د ځمکې د شپې او ورځې باعث په خپله ځمکه ده، ستا د نفس د شپې ورځې باعث هم په خپله ستا نفس دی.

همدا راز ته په خپلې فضاء کې لوړ او اوچت آسمان ګورې او تر خپلو پښو لاندې پرېوتې ځمکه، ستا نفس هم دې ته ورته دوه حالته درلودی شي، يا به لوړ درومي يا به له ځمکې سره نښلي، يا به د ارتقاء او رشد لار نيسي او عزت، رفعت او سرلوړۍ ته به رسي، يا به د ځوړ، سقوط، هبوط او پرېوتو لار غوره کوي او د ذلت او سپکاوي په کنده کې به پرېوځي. قرآن په ډېرو نورو ځايونو کې هم دې ته ورته د ځمکې په لوري دروند کېدل، په ځمکې پسې نښتل او د هبوط او سقوط اصطلاحات هلته کاروليي چې ذلت، رذالت او سپکاوی افاده کړي، ذلت ته غاړه اېښودل او په سپك ژوند د انسان رضايت تمثيل کړي او پورته تګ ئې د معنوي ارتقاء او روحي رشد لپاره کارولی.

په ۵، ۶او ۷ آيت کې د (مابناها، ما طحٰها و ماسوٰها) په اړه د مفسرينو دوه رأيې زمونږ مخې ته راځي چې دقيقه او ارجح ئې دا ده: پدې آيتونو کې (ما) مصدري ده او د آيتونو ترجمه داسې ده: قسم پدی آسمان او دغه رنګه جوړېدو ئې. قسم پدغې ځمکې او داهسې خورېدو ئې. قسم په دغه نفس او دا هسې سمبېدو ئې . د دې رأيې د ترجيح دلائل دا دي:

د کلام بلاغت او د آيتونو ترمنځ نظم او تړاو دا تقاضا کوي چې د مخکنيو او

وروستنيو آيتونو په څېر دلته هم بايد په څرګندو شيانو لوړه شوې وي، لکه چې په نورو آيتونو کې په لمر او غرمه ئې، په سپوږمۍ چې په لمر پسې راشي، په ورځ چې لمر څرګند کړي، په شپه چې لمر پټ کړي، په آسمان او په ځمکې لوړه شوې، په (مابناها، ما طحٰها و ماسوٰها) کې هم بايد څرګندو شيانو ته اشاره شوې وي، د قرآن اسلوب دا دی چې (مشهود) او (ملموس) شی د (غيب) او له سترګو پټو شيانو د اثبات لپاره شاهد راوړي.

که (ما) د (مَن) په معنا ونيولی شي نو د قسمونو معنا به دا شي چې په ټولو کې په الله لوړه شوې، چې پدې سره له يوې خوا د بلاغت مغاير تکرار راځي او له بلې خوا په الله تعالی باندې لوړې سره (کافر) مخاطب پدې نشي قانع کېدی چې د نفس تزکيه په بريا منتج کېږي او تدسيه ئې په خسران او نامرادۍ.

نو پدې قسمونو سره انسان ته ويل شوي: که ستا نفس همت وکړ اوچت او لوړ اهداف ئې غوره کړل، له تيارو د وتلو تکل ئې وکړ، له ځمکنيو ټيټو جاذبو نه ئې ځان وژغورو، د لوړو په لوري ئې د الوتو پياوړي وزرونه پيدا کړل، بريا دې په برخه کېږي، خو که دې نفس په تياره، ناپاکۍ او پليدۍ کې پاتې شو، له هغه نه د وتو همت او جرأت ئې ونه کړ، ذليل، زبون، شقي او بدمرغه به شي. لکه چې په طبيعت کې روڼ او تود لمر ګورې،او سپوږمۍ چې په خپله تياره ده او لمر ئې روښانه کوي، شپه او ورځ ګورې چې يوه لمر متجلي او څرګند کړي او بله ئې پټ، لوړ آسمان او ټيټه پرته ځمکه ګورې، په خپله د انسان دننه د (تقوی) الهام او د (فجور) د وسوسې شاهد يې، نو پدې پوه شه چې ستا د روح او نفس هم دوه حالته دي: يا به هغه تزکيه کوې، وده به ورکوې، لوړ به ئې بيايې، ارتقاء به ورکوې او پدې سره به بريا ترلاسه کوې او يا به ئې په کثافاتو لړې، لاندې به ئې غورځوې، له اوچت تلو به ئې راګرځوې، پرېږدې به ئې چې تپ او زنګ وهلی پاتې شي چې پدې سره به ئې په خسران او نامرادۍ اخته کوې.

دا مطلب هم د يادولو وړ دی چې د يوې مذهبي فرقې په ځينو تفاسيرو کې د (الشمس)، (القمر) او دې ته ورته الفاظو داسې تفسيرونه شوي چې له قرآن سره د

دوی چلند او د قرآن په غلط تفسیر کې د دوی جسارت او بې باکي ته انسان حیران پاتې شي!! د مثال په طور وايي: الشمس يعني علي، والقمر يعني فاطمه!! يعني د الشمس او القمر معنی هغه نده چې عام خلك ورباندې پوهېږي، له الشمس نه مراد علي رضي الله عنه دی او له القمر نه مراد فاطمه رضي الله عنها!! دوی د قرآن د الفاظو هغه معنی اخیستل سم نه ګڼي چې د عربو په محاوراتو کې معموله وه یا ئې د لغت په کتابونو کې موندل کېده!! د قرآن د الفاظو ظاهري او متداوله معنی اخیستل، له الشمس نه لمر، له القمر نه سپوږمۍ، له اللیل نه شپه او له النهار نه ورځ، له السماء نه آسمان او له الارض نه ځمکه او ... دا صحیح نه ګڼي، وايي: د دې الفاظو د ظاهري معنی تر شا بله باطني معنی مضمره ده چې په هغې یوازې اهل بیت او د دوی ائمه پوهېږي او بس!! دوی وايي: د قرآن په درې سوه آیتونو کې علي رضي الله عنه ته اشاره شوې، پداسې حال کې چې هر په قرآن پوه انسان حتی هغه چې ډېر محدود او سطحي پوهه هم ولري پدې ښه پوهېږي چې په ټول قرآن کې یو داسې آیت هم نشته چې په هغه کې صراحتاً او یا اشارتاً او تلویحاً علي رضي الله عنه ته اشاره شوې وي!! د دوی په مقابل کې بیا ځینې نور داسې دي چې د تفسیر او ترجمې په دوران کې د یوه لفظ ټولې هغه معاني رااخلي چې د لغت په کتابونو کې ئې بیامومي او د مختلفو معانیو له مخې د آیت ګڼ شمېر ترجمې او تفاسیر وړاندې کوي، پرته لدې چې یوې ته په بلې ترجیح ورکړي او دا ووايي چې پدې خاص ځای کې کومه ځانګړې معنی مراد ده!! دوی ګمان کوي چې د یوه کلام کمال پدې کې دی چې ډېرې معاني ولري!! حال دا چې بلیغ کلام هغه دی چې معنا ئې څرګنده وي، مخاطب مشخص، محدد او واضح مفهوم ترې واخلي، دا شك ورته راپیدا نشي چې د کلام د خاوند هدف څه دی، برعکس د وېناوال هدف په صراحت او آسانۍ سره درك کړي. قرآن خو خپل ځان داسې معرفي کوي چې مبین، آسان، له شك نه فارغ او څرګند دی، یوه برخه ئې په بل سره توضیح شوې، په واضح عربي ژبې کې لېږل شوی، ابهام او اغماض پکې نشته او د هرڅه تفصیلي بیان پکې راغلی.

۸.۷ : د نفس تسويه په داسې بڼې کې چې هم د (تقوی) الهام ورته شوی او هم د (فجور)، په دې پوهېږي چې له څه (ځان ساتنه) وکړي او هغه (حدود) کوم دي چې مراعات ئې ورته ضروري دی، هغه چې ترې اوړېدل او راښوېدل فطري حدود ماتول او له طبيعي پولو تېرېدل او (فجور) دی، د انسان په ضمير کې دا د تقوی او فجور پېژندا د دې ښې ده چې د نفس تزکيه او معنوي رشد او ارتقا ئې او د دغه فطري استعداد وده د ده فلاح او بريا تضمينوي او د دې استعداد تدسيه او ځپل د انسان په شقاوت او بد بختۍ منتج کېږي. هر څوك په دې پوهېږي چې د انسان په بقا او فلاح کې دوه شيان اساسي او مهمه ونډه لري: ۱- له هغه څه (ځان ساتنه) چې تاوان ورته لري، ۲- او د هغو پولو مراعات چې د انسان سالم طبيعت ئې د مراعات غوښتنه کوي. که په انسان او بل هر ژوي کې له مضر نه د (ځان ساتنې)استعداد نه وای او تاواني شيانو ته د تمايل په وخت کې د ده د ضمير په تل کې يوه غرېزه نه راپارېدی او دی ئې نه منع کولی، د ژوند دوام او بقاء ئې ممکن نه وه. همدا راز که ئې له خپلو طبيعي پولو څخه فطري پېژندنه په برخه نه وی، له دغو پولو د اوښتو په وخت کې خپل ضمير دا غږ پرې نه کولی چې ودرېږه او له دې ليکې آخوا مه تېرېږه او دا حد مه ماتوه او دلته ئې هغه له (فجور) او حد ماتولو نه منع کولی، د ځمکې پر سر ئې د ژوند بقا ممکن نه وه. که د ټولو هغو شخړو او فتنو جرړې ولټوو چې د انسان ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي او د هغو شخړو عوامل وڅېړو چې په خونړيو نښتو منتج کېږي، د ټولو تر شا به يا عدم (تقوی) او ځان نه ساتنه وګورو او يا (فجور) او له پولو تېرېدل او طغيان ومومو. په رښتيا چې د انسان فلاح او بريا د نفس په تزکيې او شقاوت او بدبختي ئې د نفس په تدسيې پورې تړلې.

کوم درانه مفسرين چې ګمان کوي دلته (ما) د (مَن) په معنا راغلې، دا استدلال کوي چې په دې آيت (فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا) کې الهام کوونکی او د الهام د فعل فاعل نه دی په ګوته شوی او په مخکنيو آيتونو کې هم له (ما) پرته بل فاعل نه مومو نو ځکه بايد دا الهام کوونکی هماغه ذات وي چې د انسان نفس ئې سم او برابر پيدا کړی، د دوی په ځواب کې بايد ووايو:

لومړی: د اسې آيتونه په قرآن کې ډېر زيات وينو چې فاعل په څرګندو الفاظو نه دی ښودل شوی خو د کلام له فحوا نه په واضح توګه هغه پېژندی شو، لکه د النازعات د سورې په ۲۷ - ۳۲ آيتونو کې داسې افعال راغلي چې فاعل ئې يوازې د قرائنو له مخې پېژندی شو:

أَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقاً أَمِ السَّمَآءُ بَنَاهَا * رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّاها وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَاهَا * وَالأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا * أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَاهَا * وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا* مَتَاعاً لَكُمْ وَلأَنْعَامِكُمْ*

تاسو به وئ ګران په پيدا ښېت کې که آسمان چې جوړ ئې کړ؟ لوړتيا ئې کړه ورلوړه او ښه ئې برابر کړ. او شپه ئې کړه ورپټه او راوې ابسته غرمه ئې. او له دې نه وروسته ځمکه ئې خوره کړه. راوې ابستې اوبه ئې او واښه ئې. او ځای په ځای ئې ودرول دا غرونه. متاع ستاسو لپاره او ستاسو د څارويو.

په دغو ټولو آيتونو کې (فاعل) فقط له قرائنو معلومولی شو. نه په خپله آيتونو کې په څرګندو الفاظو راغلی او نه په نږدې مخکنيو آيتونو کې.

دوهم: په داسې ضعيف دليل سره نه شو کولی هغه ترجمه توجيه کړو چې په کلام کې د رکاکت باعث او د آيتونو ترمنځ د تړاو لړۍ شلوي او يووالی ئې له منځه وړي.

۹-۱۰: د مخکنيو قسمونو ځواب په دغو دواړو آيتونو کې راغلی، مخکنۍ شرحې ته په پام سره په واضح توګه ګورو چې د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ژور او ډېر نږدې تړاو او ارتباط شته، لکه څنګه په دې عالم کې روڼ او تود لمر ګورې او سپوږمۍ چې تودوخه نه لري او رڼا له لمره ترلاسه کوي، شپه او ورځ ګورې چې يوه ئې لمر راڅرګند کړي او بله ئې پټوي، لوړ آسمان ګورې او پرېوتې ځمکه او لکه څنګه چې د انسان په ضمير کې د الهام شوې (تقوی) او (فجور) شاهد يې، نو ستا د روح او نفس تمايلات هم دوه حالته لري، يا به ئې تزکيه کوې، پاکيزه به ئې ساتې، وده او ارتقا به ورکوې او فلاح او بريا ته به رسې او يا به ئې لړې، ټيټ له ځمکې سره به ئې ښښلوې، د ودې او ارتقا مخه به ئې نيسې، دې ته به ئې پرېږدې چې تت

شي او زنګ پرې پرېوځي، چې په دې صورت کې به ئې له تباهۍ او نامرادۍ سره مخامخ کوي.

---

«l $šAqßš‘ bÏç; A$)ù ÇÊÈ $g8)Ô& ]è7RÎ$šÈÎ ÇÊÈ $g1qøÜÎ ŠqßJrO ôMt/¤x.

NßgÎôŠ ‹Î OßgšŠ ôÓÌŠæ P%Ô‰ù $drã)èù çmqç/¤3ù ÇÌÈ $g»ŠyßšŠr «l $p%$R

ÇÎÈ $g»6ãyã ß$sƒ† Ÿwr ÇÍÈ $g1§¡ù

---

۱۱- په خپلې سرکښۍ خو ثموديانو تکذيب وکړ. ۱۲- هله چې راپورته شو ترټولو لوی بدبخت ئې. ۱۳- نو دوی ته وويل د خدای رسول چې پام، د الله په دغې اوښې او وار د اوبه خور ئې. ۱۴- خو دروغجن ئې وګڼلو او د اوښې لاس او پښې ئې قطع کړلې، نو په وجه د ګناه ئې د دوی رب پرې غضب وکړو او ښه ئې برابر کړل. ۱۵- او پروا ئې د پای نکړي.

---

۱۱-۱۵: په دغو مبارکو آيتونو کې د پورتنۍ سترې مدعا لپاره يوه مجسمه تاريخي بېلګه وړاندې شوې او د تاريخ په لوړو ژورو کې ئې دا حقيقت ثابت کړی چې د (نفس د تدسيې) او له (تزکيې) نه د امتناع پايلې څومره خطرناکې دي او انسان له کوم عاقبت سره مخامخ کوي؟ د ثموديانو د باغي او سرکښ قوم قصه زمونږ مخې ته ږدي او فرمايي: (ثموديانو) سرکښي او طغيان وکړ، دا (طغيان) باعث شو چې الله تعالی او آيتونه ئې، پيغمبر او دعوت ئې (تکذيب) کړي، د دې (تکذيب) او له (حق) نه د انکار اصلي عامل د دوی (طغيان) وو، تر ټولو شقي انسان په دوی کې راڅرګند شو، راپاڅېدو، د طغيان لپاره ئې ملا وتړله، قوم ورپسې اقتدا وکړه، د تکذيب او طغيان لاره ئې غوره کړه، له خپل پيغمبر صالح عليه السلام نه ئې د معجزې غوښتنه وکړه او وئې ويل: تر هغه به ستا دعوت ونه منو چې

ځرګنده معجزه رانه وړې، صالح عليه السلام دعا کوي، الله جل شأنه د اتمام حجت لپاره له لويې ډبرې داسې اوښه راپيدا کوي چې کولی شي تول کلي ته شيدې ورکړي، پيغمبر ئې ورته وايي: دا ئې ستاسو غوښتې معجزه، خو اوس به د دې څاه اوبه يوه ورځ ستاسو وي او يوه ورځ د اوښې، هم به د اوښې پام ساتئ او هم ئې د اوبه خور، د تېرې په صورت کې به الهي عذاب درباندې راپرېوځي. څه موده ئې دې وېش ته غاړه کېښوده، خو ډېر ژر ئې د صبر او قناعت لمن پرېښوده، ترټولو شقي انسان ئې راپاڅېدو، د اوښې وژلو ته ئې متې رابډوهلې، د خپل پيغمبر ګواښ ته ئې اعتنا ونکړه، هغه ئې تکذيب کړ، د اوښې لاس پښې ئې قطع کړې، الهي عذاب پرې نازل شو او حسيب خدای د حجت له اتمامه وروسته هر څه پرې رانسکور او له خاورو سره برابر کړل. دا دی ګورئ چې د (نفس طغيان) انسان (تکذيب) ته هڅوي، له معجزو انکار ته ئې تياروي، طاغي او باغي نفس ته تر ټولو ځرګنده معجزه هم اهميت نه لري او ګټه نه وررسوي، د حجت او معجزې لاس پښې قطع کوي.

الهي سنت داسې دی چې د عذاب د وروستۍ پرېکړې له صادرولو مخکې اتمام حجت کوي، مهلت ورکوي، پيغمبر لېږي، ځرګندې نښې د انسان مخې ته ږدي او په پای کې خپله وروستۍ پرېکړه صادروي، لکه چې بني اسرائيلو ته ئې د (هاروت او ماروت) په نامه دوه فرشتې د انسان په بڼه کې ولېږلې، د لوط عليه السلام قوم ته ئې فرشتې د تنکيو زلميانو په څېر ولېږلې او ثموديانو ته ئې (ناقة الله) د اتمام حجت لپاره راپيدا کړه. الله تعالی د دې باغي قوم د ګناهونو په وجه هر څه پرې رانسکور کړل او د پايلو پروا ئې نه وه، الله تعالی د دنيا د هغو واکمنانو په څېر نه دی چې د مجرم د مجازات په وخت کې زړه نا زړه وي، احتياط کوي، دا انديښنه ورسره وي چې داسې نه د مجرم قوم، قبيله، حزب او ډله ئې عکس العمل ونه ښيي، خو قدير او شديد العقاب خدای د دې (طاغي) او (مجرم) قوم د نيونې او مؤاخذې د پايلو هيڅ پروا نه وه.

# اللیل

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم اللیل دی، له لومړۍ آیته ئې اخیستل شوی، **۲۱** آیتونه لري، ټول آیتونه ئې د لومړي آیت په څېر طول او وزن لري او (**یغشی**) ته په ورته او هموزنو صیغو پای ته رسېدلي، د الشمس له سورې سره ډېر شباهتونه لري او د سورې له متنه داسې معلومېږي چې د الشمس له سورې مخکې نازله شوې، دا ځکه چې دلته هغه ګواښونه نه ګورو چې د الشمس په سورې کې د ثمودیانو د قصې په ترڅ کې د قریشو باغي او طاغي سردارانو ته متوجه وو او له دې نه په واضح توګه معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې د سردارانو شدید مخالفت لا نه وو پیل شوی.

د بحث محوري موضوع د دې مطلب ثابتول دي چې د انسان عملونه د ماهیت او پایلو له مخې په خپلو کې ژور توپیرونه لري او داسې نه ده لکه بې ایمانه وګړي چې ئې انګېري او په آخرت باور نه کوونکي ګمان کوي چې د انسان (اعمال) یوازې د ظاهري بڼې له مخې له یوه بله توپیر لري، خو په اصل کې او د ماهیت له مخې هیڅ توپیر سره نه لري، یعني دا نه مني چې د انسانانو ځیني عملونه ښه دي، د ښې بدلې وړ او په آخرت کې ئې د ښو پایلو باعث او ځیني ئې بد ، د بدو بدلو وړ او په

آخرت کې د بدو پایلو باعث، دوی د انسان د عملونو په هکله د تفاوت او توپیر باور هسې یو بې بنسټه تصور او خیال ګڼي، د دوی په اند کوم عمل ته ښه یا بد او ښکلی یا کرکجن ویل د انسان د موسمي او مقطعي باورونو زېږنده ده، نن یوه کار ته ښه وایي خو څه موده وروسته همدا کار بد ګڼي!! دا سوره د دغه غلط ذهنیت د تصحیح لپاره فرمایي: لکه څنګه چې شپه او ورځ په خپلو کې ژور توپیرونه لري، یوه ئې په بشپړ سخاوت سره رڼا او تودوخه درکوي، ستا مخه درته روښانه کوي، د ګټورو او مفیدو شیانو د پېژندو او له هغوی د ګټې اخیستو امکان درکوي، بد او مضر شیان درمعرفي کوي او له هغو د ځان ساتلو امکان په لاس درکوي، بله ئې هم رڼا له تا سپموي او هم تودوخه، په تیاره کې ئې نه دوست له دښمنه بېلوی شې او نه مفید له مضره. ستا عملونه دې ته ورته دي، له یوه بله متفاوت، ځینې ئې د ورځې په څېر، چې پکې ورکړه، پېرزوینه، ځان ساتنه، د ښه او ښاېسته پېژندنه ده او ځینې ئې د شپې په څېر چې په کې بخل، سپما، استغنا، د ښه او ښکلي نه پېژندا ده، همداسې چې شپه او ورځ د ماهیت له مخې سره توپیر لري او نتائج ئې سره ورته نه دي، د انسانانو دا دوه ډلې له دوو ډوله عملونو سره په هیڅ صورت کې او د هیڅ معیار له مخې سره برابر نه دي.

لکه څنګه چې (نارینه) او (ښځینه) انسانان د جوړښت له پلوه سره توپیر لري، د انسانانو دوه ډلې هم د بېلابېلو او متفاوتو عملونو له مخې سره ورته نه دي، هغه چې خپلې شتمنۍ د الله تعالی په لار کې لګوي او تقوی او ځان ساتنه لري، ښېګړه تصدیقوي، هغه به هرومرو په هغې آسانې لارې د تلو توفیق ترلاسه کوي چې د ده سالم فطرت ئې غوښتنه کوي او هغه چې بخل او استغنا کوي، ښېګړه تکذیبوي، خامخا به هغې سختې لارې ته راښکل کېږي چې د ده د فطري غوښتنو سره مغایرت لري او له داسې برخلیك سره به مخامخ کېږي چې نه ئې مال او دولت ترې ژغورلی شي او نه ئې زور او ځواك.

د هغه شقي او بدبخت انسان لپاره چې د (تکذیب) لار غوره کوي او له حق او حقیقته ډډه کوي، د جهنم سرې لمبې انتظار کوي، خو هغه چې د (تقوی) لار غوره

کوي او خپل مال د عاطفې او ترحم په حکم، د خپلې روح او نفس د تزکيې لپاره لګوي او موخه ئې د الله تعالی رضا ترلاسه کول وي او له ده پرته له هيچا طمعه او توقع نه لري، له دې اوره به خوندي وي او له داسې برخليك سره به مخامخ کېږي چې د ده د رضايت او خوښۍ باعث به وي.

د دې سورې خلاصه دا ده چې د انسان اعمال (ښه) او (بد) لري او مکافات او مجازات ايجابوي.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

bĵ ÇÌÈ ǿ\RWŴr •.%l$,={ $Br ÇÈ 4@B #Œĵ í$k]9$r ÇÈ 4´ ǿf #Œĵ è@æ$

ÇÍÈ 4®±9 ö3‹è™

---

۱- قسم پدغې شپې چې کله ونغاړي تياره کې. ۲- قسم په دغې ورځې چې ځلانده کړي (رڼا کې). ۳- قسم دی په دا هسې پيدا ښت د نر او ښځې. ۴- بې له شکه بېلابېلې مو دي هڅې.

---

۱-۴: دلته د قسمونو په پای کې ويل شوي:

إِنّ سعۡيَكمۡ لَشتى *

بې له شکه چې ستاسو هڅې بېلابېلې دي.

د قسمونو او ځواب شرح او تفصيل داسې دی:

o دلته په درېو شيانو لوړه شوې: په شپه چې کله خپل تور وزر په هر څه وغوړوي او له سترګو ئې پټ کړي، په ورځ چې هرڅه راڅرګند کړي او د نر ښځې د پيدا ښت په څرنګوالي.

o	د دغې ادعا د اثبات لپاره چې د انسانانو هڅې او مساعي يوه له بلې توپير او تفاوت لري او د ماهيت، ارزښت او نتايجو له مخې يو شانته نه دي، په مخکنيو دريو خبرو استناد شوی: د (شپې) او (ورځې) ترمنځ تفاوت او د (نارينه) او (ښځې) ترمنځ تفاوت.

لومړی بايد دا خبره واضح شي چې د انسان د هڅو او مساعي ترمنځ د تفاوت معنی څه ده؟ بيا بايدوګورو چې دا قسمونه څنګه د دغې ادعا په حقانيت شهادت ورکوي؟ د انسان د کړو وړو په اړه دوه تصور او انګېرنې درلودی شو:

د انسان اعمال (ښه) او (بد) لري او مکافات او مجازات ايجابوي.

د انسان اعمال ښه او بد نلري، نبايد هغه د ښه او بد په معيارونو وزن کړو، ځينو ته ښه او ځينو ته بد ووايو او په مکافات او مجازات ئې باور ولرو.

څوك چې په خدای او آخرت باور نلري، د انسان د عملونو په اړه ئې انګېرنه دا ده چې د انسان ټول اعمال يو شانته دي او د هغوی ترمنځ په تفاوت باور نه لري، فقط هغه عمل (بد) ګڼي چې بل ترې متضرر شي، دا (عمل) هم پدې دليل بد ندی چې (ذاتاً) او (اساساً) بد وي، نه، بلکې د هغه چا له نظره بد دی چې ترې متضرر شوی، په يوه عمل کې د دواړو ذيدخلو خواوو د رضايت په صورت کې هرکار جائز او سم ګڼي. دا تصور د دې باعث کېږي چې انسان د عملونو مکافات او مجازات نفی کړي او په هغه باور ونه لري، د دغې انګېرنې له مخې (ښه) او (بد) د انسان د (خيال) زيږنده ده، د انسان له ځانګړو تصوراتو نه راولاړ شوی، اساساً (ښه) او (بد) نشته، دا په خپله تاسو ياست چې (ښه) او (بد) مو جوړ کړي.

قرآن د دغه غلط ذهنيت او ناسم تصور د ترديد او تصحيح لپاره وايي: لکه چې شپه او ورځ سره متفاوت دي، يوه توده او روښانه او بله تياره او سړه، يوه په ټول سخاوت سره نور شيندي، هرڅه درته ځرګندوي او په خپل حرارت سره د هر محتاج مرسته کوي، بله د نور او حرارت مانع شي، په هرڅه تياره پرده وغوړوي او پېژندل ئې ګران کړي، څوك چې د ورځې لخوا کار کوي خپل هرګام په پوره سوچ سره اخلي او په خپل ځای ئې ږدي، خو څوك چې د شپې لخوا خوځېږي هم د خپل

حرکت د سمت او استقامت په تعیین کې له ستونزو سره مخامخ وي او هم د ګام ایښودو موزون ځای په غوره کولو کې. ستا عملونه هم یو له بله دومره تفاوت لري لکه دا د طبیعت دوه بېلابېلې شېبې، شپه او ورځ!! لکه چې (نر او ښځه) په هر خاص نوع ژوي کې په خپلو کې ژور تفاوتونه لري، هم د جوړښت له اړخه او هم له مقابل لوري سره په خپل تعامل کې، یو ئې اخیستلو ته تیار وي او بل ورکولو ته، یو ورکړه کوي او بل اخیستنه، د انسان په عملونو کې دې ته ورته تفاوتونه شته.

د انسان په کړو وړو کې تفاوت هومره ژور دی چې یو د بل مقابل کې، لکه د شپې او ورځې د تفاوت په اندازه او حتی تر دې هم زیات، یو ایثار کوي، د مظلوم او بې وزلي د ژغورنې لپاره خپل مال وقف کوي، له (بخل) نه ځان ساتي، د بل په حق له تجاوز او تېري نه ډډه کوي، له هغه څه نه چې ده یا د ده همنوع ته صدمه رسوي امتناع کوي، د اوچتو اولوړو انساني اهدافو لپاره قربانۍ ورکوي او (حسنی) (تصدیقوي)، یعنی (ښه) او (ښایسته) پېژني او په هغه اعتراف کوي، د ښه او ښایسته د پېژندو استعداد لري، د (ښه) او (بد) تفکیك کولی شي، له ټولو سره ورته چلند نه کوي، دا تمییز لري چې د انسان تر ټولو غوره عمل کوم دی او ترټولو بد ئې کوم. ټول یو برابر نه ګڼي. د دې کس عمل د ورځې په څېر دی؛ روښانه او ښایسته. ده ته د ښېګړو په آسانه لار تګ آسانه شي، د انساني سالم فطرت د غوښتنو سره سم چلند ورته سهل او غوره برېښي، نه له ښه عمل نه ستومانه کېږي او نه پښېمانه کېږي، د دې په مقابل کې بل انسان داسې وي چې (بخل) کوي، د خپل مظلوم او بې وزلي همنوع د ژغورنې لپاره د خپل شته له انفاق نه ډډه کوي، دا ضرورت نه احساسوي چې د محتاج انسان مرسته وکړي، لدې نه ځان بې نیازه ګڼي چې د کوم لوړ انساني هدف لپاره څه قربانۍ ورکړي، د ښه او بد عمل ترمنځ د تفکیك او تمییز استعداد پکې ځپل شوی وي، له فضایلو نه انکار کوي، هر (معنوي ښایست) نفي کوي او د عمل په بدلې باور نه لري، د دې کس کړه وړه تورې شپې ته ورته دي چې د نور او حرارت مانع کېږي او د ښه او بد او مضر او مفید د پېژندلو په وړاندې خنډ شي. دې کس ته د بدو او کرکجنو کړو وړو (سخته) لار

ښاېسته او آسانه وبرېښي، د انساني سالم فطرت مغاير عمل ورته ښاېسته معلوم شي او د بدو په ډنډ کې مزيد غرق شي. مګر دا کافي نده چې اعتراف وکړو د انسان عمل هم د کيفيت له لحاظه او هم د پاېلو او عاقبت له لحاظه تفاوت لري؟

ÇÐÈ 3' Žô ãü ¼ņçå•ã¡ ù ÇÏÈ 4_ó ţø$Î -ƒ ¹ r ÇÎÈ 4+?$r 4 Üã& ôB $B'ù

ÇÉÈ 3' Žô ãü ¼ņçå•ã¡ ù ÇÌÈ 4_ó ţø$Î > ¤ . r ÇÑÈ 4_óGó$r Ÿ@j2 . ` B $B&r

**۵**- نو هغه چې ئې ورکړه او تقوی وکړه. **۶**- او رښتيا ئې وګڼله غوره پاېله. ۷- نو ژر به ئې آسانۍ ته آسان کړو. ۸- او چا چې استغناء او بخل وکړ. **۹**- او دروغ ئې وګڼله غوره پاېله. ۱۰- نو ژر به ئې آګرانۍ ته آسان کړو.

**۵-۶**: ستاسو د کړو وړو ترمنځ توپير دومره ژور دی چې يو د بل ضد او مقابل، د شپې او ورځې ترمنځ د توپير په څېر او حتی تر دې هم زيات، يو ايثار کوي، د خپل همنوع د لاس نيوي لپاره خپل مال وقف کوي، له بخل او حرص نه ځان ساتي، د بل په حق تېری نه کوي، له هغه څه ډډه کوي چې ده يا د ده همنوع ته تاوان رسوي. (حسنی) تائيدوي، چې څو تعبيرونه ئې شوي: د عمل په ښې بدلې باور لري، په ښاېسته جنت باور لري، موحد دی ښه عقيده لري او تر ټولو غوره تعبير ئې دا چې: ښاېست پېژني او اعتراف پرې کوي، د ښه او بد، ښاېسته او ناښاېسته تر منځ د تفکيك توان لري، له ټولو سره ورته چلند نه کوي، د انسان تر ټولو غوره او ښکلی عمل، له هغه ښېلولی شي چې تر ټولو بد او کرکجن دی، ټول يوشانته او برابر نه ګڼي، د دې انسان عمل د ورځې په څېر ښکلی او ښاېسته دی، الله تعالی به ئې هغې آسانۍ لارې ته هدايت کړي چې د ده د روغ او سالم فطرت مقتضا ده، په دې لار تګ به ورته آسانه کړي.

قرآن له يوې خوا د ايمان لار (سهل) او آسانه ګڼي او له بلې خوا ئې ګرانه،

سخته او (عقبه)، دا ځکه چې ځینو ته آسانه وي او ځینو ته ګرانه او سخته برېښي. دا لار ستا لپاره (فطري) لار ده، په هغې کې به د زړه ډاډ او د روح تسکین ترلاسه کړې، وجدان به دې راضي او عقل به دې قانع وي، که څه هم په دې لار کې لوړې ژورې او کړلېچونه شته، له ډول ډول ابتلاءاتو سره توأم ده، د شر او فساد له ځواکونو سره ټکرونه پکې دي، له ګواښونو سره مخامخېدل، زندان ته تګ، قرباني ورکول، هجرتونه، شهادتونه، محرومیتونه او محاصرې له ځان سره لري، هم آسانه ده او هم ګرانه.

د لومړۍ ډلې په مقابل کې بله ډله داسې ده چې بخل کوي، د بې وزلي انسان او د خپل همنوع ورور د لاس نیوي لپاره د خپل وخت، شتمنیو او امکاناتو له مصرفولو ډډه کوي او د داسې کار هیڅ ضرورت نه احساسوي، نورو ته له اعتنا او التفاته ځان بې نیازه ګڼي او بې پروائي کوي، فضایل او ښېګړې تکذیبوي، د (کرکجن) او (ښه) عمل ترمنځ د تفکیك استعداد نه لري، معنوي ښکلا او ښایست نفي کوي او د عملونو په نېکې بدلې باور نه لري. د دوی عملونه د تورې شپې په څېر تك تور وي، نه چا ته رڼا ورکوي او نه تودوخه، الله تعالی به دا خلك پرېږدي چې د خپل سالم انساني فطرت مغایر لارې باندې وخوځېږي، همدا غیر فطري او ګرانه لار ورته آسانه او ښایسته وبرېښي او په شور او شوق سره پرې روان وي. کوم څوك چې د لومړي ځل لپاره د ګناه اراده کوي، سخت مشوش وي، وېرېږي، داسې احساس کوي چې یوه ژور ګړنګ ته ځان اچوي، خو ورو ورو ئې دا احساس کمزوری کېږي او خبره هغه ځای ته ورسېږي چې همدغه ګناه ورته عادي برېښي، څوك چې د لومړي ځل لپاره دروغ وایي، خولې پرې راماتې شي، وېرېږي، دا وېره او اندېښنه ئې په څېرې او حرکاتو کې له ورایه معلومېږي، خو ورو ورو ئې کار هغه ځای ته ورسېږي چې دروغ ویل ورته آسانه شي، په دروغو کې داسې مهارت ترلاسه کړي چې نه ئې په څېرې کې کوم خاص تغییر راځي او نه ئې په حرکاتو کې، دروغ ورته کمال برېښي او د هوښیارۍ نښه ئې ګڼي!! ګورئ چې د انسان عملونه هم د کیفیت له لحاظه توپیرونه لري او هم د پایلو او عاقبت له لحاظه.

o•Å E 9 $Z9 bÎr ÇÈ 3 ‰gù $Yøã bÎ ÇÈ # Š•? #ŒÎ yã$B ßçz¨ã ÓÍ_øóã$Br
ÇÎÈ 4‹r\Wr$

۱۱- او مال به ئې څه دفع کړي لده نه، کله چې نسکور شي؟ ۱۲- بې شکه چې پر مونږ ده لارښودنه. ۱۳- او له شکه پرته پای او پیل دی زمونږ.

۱۱- د دې آیت لپاره دوه ترجمې مو مو:

الف: کله چې ومري او د قبر په غېږ کې پرېوځي، مال به ئې هیڅ څه له ده دفع نکړی شي، هغه مال چې ده له حرامو لارو راغونډ کړی وو، پرته له دې چې د پاك او ناپاك او جائز او ناجائز تر منځ فرق وکړي اوس به د ده په هیڅ درد ونه خوري، څه به له ځان سره قبر ته هم نه وړي، دولت او ثروت، زر او ځمکه، باغونه او بنګلې، وسایل او تجهیزات، ... هرڅه به ترې پاتې وي، خالي لاس او د ګناهونو له پېټي سره به د الله په لوري درومي. په دې تعبیر کې (تردی) په قبر کې د نسکورېدو په معنا اخیستل شوی.

ب: په دوهم تعبیر کې (تردی) د معنوي او اخلاقي سقوط په معنا اخیستل شوی او وايي: کله چې دی له اخلاقي او معنوي لحاظه سقوط وکړي، نو هغه مال او متاع به ئې څه ترې دفع کړی شي چې له حرامو او ناروا لارو ئې راغونډ کړی؟ د ده کومه مهلك او خطرناکه فردي او اجتماعي بیمارۍ به مداوا او علاج کړی شي؟ کله چې د ده کار هغه ځای ته ورسېږي چې ښه او بد ورته برابر وبرېښي، له اخلاقي او معنوي لحاظه داسې سقوط وکړي چې نور نو ښېګړه او فضیلت نفي کړي، ښاېسته او ناښاېسته یو شانته ګڼي، نو په دې حالت کې به مال او دولت څه ګټه ورورسولی شي؟ غربي ټولنه د دې الهي قضاوت ډېر عبرتناکه بېلګه ده، هلته خلك اوچت مرفه ژوند لري، هومره چې له نورو ملکونو سره ئې مقایسه ګرانه ده، خو دا مرفه ژوند ئې له دې لارې په برخه شوی چې دا خوومه پېړۍ ده چې دوی د ټولو

افريقائي او آسيائي ملکونو د شتمنيو په غارت او لوټمار بوخت دي، په دغو ملکونو کې د فقر او لوږې ستر او اساسي عامل هغه وضعيت دی چې غربي ملکونو د دې هېوادو د اشغال په وخت کې پرې مسلط کړ، لومړی ئې دا هېوادونه د فوځونو په زور ونيول او د دوی د شتمنيو د غارت لړۍ ئې پيل کړه او بيا هغه وخت ترې ووتل چې په خپلو مستعمراتو ئې د خپلې خوښې نظام، اداره، فوځ، پوليس او چارواکي مسلط کړل او اوس په غيرمستقيمه توګه حکومت پرې کوي او شتمنۍ ئې غارت کوي، خو دا دی ګورئ چې غرب اوس او له معنوي او اخلاقي لحاظه د سخت سقوط په وجه له کوم خطرناك حالت سره مخامخ دی؟ اوس په غربي ټولنې کې د حلال او حرام توپير له منځه تللی، هرڅوك له هرې لارې مال ترلاسه کولی شي، حتی د خپل عزت او ناموس د پرودلو له لارې، نه په پټه بلکې ښکاره او د دولت په رسمي اجازې سره، هلته خيانت، تېری او ګناه عامه شوې، د نورو ولسونو په سر، مال او عزت تېری عادی او جائز کار ګڼل کېږي، هرې خوا ته تشويش او اضطراب خور شوی، په فرد او ټولنې مسلط اضطراب او پرېښاني هغه ځای ته رسېدلې چې خلك د چرس، شراب او هيروئينو په څېر مخدره موادو ته پناه وړي، ځان وژنې، جنسي انحرافات، د کورنۍ متلاشي کېدا، د کورنۍ له جوړولو بې زاري داسې خطرناك پړاو ته رسېدلې چې زړه سواند مفکرين ئې د ډېرې بدې راتلونکې خبرداری ورکوي، دلته معيارونه بدل شوي، د انسان د کړو وړو په اړه د (ښه) او (بد)، (ښاېسته) او (ناښاېسته) اعتقاد له منځه تللی او خپل ځای ئې د فضايلو او اخلاقي او معنوي وړتياوو نفي ته پرېښی، د غربي هېوادو تر ټولو د ستر هېواد جمهور رئيس په (اخلاقي انحراف او د بل په ناموس تجاوز) متهم کېږي، د استنطاق په وخت کې دروغ وايي او د قاضي په وړاندې په دروغو لوړه کوي، د دغې (رسوا ماجرا) له افشا وروسته د دې په ځای چې فرد فرد ئې ورټي، سپك او ذليل ئې وګڼي، حيثيت او اعتبار ئې ختم شي او په ولس کې د ده د محبوبيت کچه راکمه شي، برعکس د ده محبوبيت په هغې پربوتې او لړلې ټولنې کې لازياتېږي، د ده ځای ناستی خپل ولس او ټولې نړۍ ته پر عراق د حملې په اړه

ستر دروغ وايي، ادعا کوي چې عراق اتمي وسايل او ګڼ وژني وسلې لري، خو له برید وروسته ټولې نړۍ ته معلومه شوه چې ده خپل قوم او نړۍ ته عمداً دروغ ویلي وو، خو د دې په ځای چې دا ښکرور دروغ ئې اعتبار ختم کړي برعکس یو ځل بیا د جمهور رئیس په توګه ټاکل کېږي!! دغه مال او دولت نه یوازې د دوی اساسي ستونزې نشي حل کولی بلکې له مزید خطرناکو ستونزو سره ئې مخامخ کوي.

۱۲- د دې آیت تر ټولو غوره تفسیر دا دی چې حکیم خدای، د خپل پراخ رحمت په وجه دا په خپلې ذمې اخیستې چې په هر صورت کې د انسان لارښودنه وکړي، د لیدو اورېدو، پوهېدو، احساس او ادراك توفیق ورکړي، غوږونه ئې له اورېدو، سترګې ئې له لیدو، عقل او شعور ئې له فهم او پوهې محروم نکړي، د کفر او بې ایمانۍ په حالت کې هم د ده دا استعداونه نه ځپي، ځینې مفسرین ئې دا تفسیر غوره ګڼي چې الله تعالی دا په خپله ذمه اخیستې چې د خپلو بندګانو د هدایت لپاره (لارښود پیغمبر) او (لارښودونکی کتاب) ولېږي، خو د آیت له فحوی او سیاق و سباق نه ئې معلومېږي چې لومړۍ توجیه دقیقه او غوره ده.

۱۳ـ دا آیت وايي چې پیل او پای د الله دی، په څو معنا:

الف: الله تعالی ستاسو د (دنیا) او (عقبا) مالك دی، د خپلې دنیا او آخرت خیر او سعادت د الله تعالی خوا کې او په الهي لارښوونو کې ولټوئ.

ب: نه په دنیا کې د الله تعالی له نیونې او مؤاخذې خلاصېدی شئ او نه په آخرت کې، دا ځکه چې الله تعالی د دنیا او آخرت څښتن او مالك دی.

ج: که ئې منې او که ئې نه منې الله تعالی د دنیا او آخرت مالك دی، نه په الله تعالی ستا باور او عقیده او د الهي لارښوونو متابعت د ده د اقتدار او واکمنۍ لمن پراخولی شي او نه ئې ستا انکار او عصیان راکمولی شي، په هر صورت الله تعالی د دې ټول عالم او د دنیا او عقبا بلامنازع ټولواك دی.

د: هم د هر کار پیل د ده په توفیق سره دی او هم ئې پای او پایله هغه تعیینوي.

که له مخکنیو آیتونو سره د دې آیت ارتباط ته لږ ځیر شو په آسانۍ سره په دې خبرې پوهېدی شو چې څلورمه توجیه ډېره دقیقه او له نورو آیتونو سره ئې د تړاو

تقاضا همدا ده.

4‹q?r >¤. “Ï‰$Ç ÎÈ ’+ÔR{$žv) $g9=óÁ ƒ Ÿ Ç ÍÈ 4 ã=? #Y$R ‹Bêö‹ R'ù

¼ç‰Yã %n k{ $Br Ç ÑÈ 4î”I ƒ ¼ã$B ’Îsã “ Ï‰$Ç ÐÈ ’+Ø{$$kâZ f ã™r Ç ÏÈ

Ç ËÈ Ó Ì öƒ $ ö¡ 9r Ç ÊÈ 4?ãR{$ïhƒ ïhô r ä$óï/$žv) Ç ÒÈ #“ “gé 7Jèb`Ë

۱۴- نو ومو ویرولئ له آ اوره چې لمبې کړي. ۱۵- ننوځي پکې نه مګر همغه چې ترټولو وي بدبخته. ۱۶- همغه چې تکذیب ئې کړ او شا ئې واړوله. ۱۷- او تر ټولو متقي به ترې ساتلی شي په ډډه. ۱۸- هغه چې خپل مال ورکوي، ځان تزکیه کوونکی. ۱۹- هیڅا لره، لده سره کوم داسې نعمت نه وي چې بدله ئې ورکوی شي. ۲۰- مګر لټونه د خپل لوړ رب د رضاء. ۲۱- نو خود به ژر راضي شي.

۲۱ـ۱۴ په دغو مبارکو آیتونو کې د انسان د عملونو دوه متضادې او متباینې بېلګې د یوې بلې خوا ته ږدي او د دواړو پاېله سره مقایسه کوي او فرمایي:

له هغه اوره خبرداری درکوم چې لمبې ئې پورته کېږي، دا د سرو او لوړو لمبو اور د هغه چا ځای دی چې تر ټولو زیات (بدبخت او شقي) انسان دی، ترټولو بدبخت انسان همغه دی چې دې ستر اور ته به ننوځي او دا شقي او بدبخت انسان همغه دی چې د حق د تکذیب او له هغه نه د اعراض لار ئې غوره کړه، له دغه وېروونکي، مخوف او مهیب عاقبته به هغه څوك ژغورل کېږي چې تر ټولو زیات ( متقي او پرهېزګار) وي، خپل مال د خپلې روح او نفس د تزکیې لپاره انفاقوي او د دې لپاره هم د خپل مال یوه برخه انفاقوي چې په دې سره خپل مال له هغې ناولتیا

پاك كړي چې ښايي په كوم حرام او ناولي ګټې سره به ئې لړلی وي، دا انفاق ئې د دې لپاره هم نه وي چې بل ته د كومې مرستې يا ښېګړې بدله وركړي، د هيچا د داسې كومې پېرزوينې او احسان پوروړی نه وي چې عوض به ئې وركوي او د هيچا لپاره له ده سره داسې څه هم نه وي چې د بدلې طمع ئې وركړې ته وهڅوي، له كومې طمعې پرته له نورو سره مرسته كوي، يوازنی هدف ئې دا وي چې د خپل رب رضا ترلاسه كړي، عطا او بخښنه ئې له هرې شائبې پاكه وي، خپل رب له دې ډېر لوړ ګڼي چې د ده ترڅنګ د بل رضا ولټوي او يا له بله د بدلې طمع ولري. آيا كېدی شي له داسې ښكلا، قداست او نزاهت نه ډك نېك عمل د هغه دروغجن، بخيل، له حق او حقيقته منكر انسان له كركجن عمل سره ورته وګڼو او په ورته پاېلې ئې باور ولرو؟!! نه، داسې هيڅكله نشي كېدی، يو د اور د لمبو مستحق دی او بل ئې له دې د خوندي پاتې كېدو مستحق، دا بايد داسې بدله ترلاسه كړي چې پرې راضي شي. له داسې چا الله تعالی راضي كېږي، خود به د ده د خوښې او رضا وړ بدله وركوي.

# الضحی

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الضحی (غرمه) ده، له لومړۍ آیته ئې اخیستل شوی، ۱۱ آیتونه لري، لومړي اته آیتونه ئې د (ضحی) په څېر هموزنو صیغو پای ته رسېدلي، دوه ورپسې آیتونه ئې د (تقهر) او (تنهر) هموزنه فواصل لري، د آخري آیت د پای د صیغې وزن دوو مخکنیو ته ورته د (فحدث) صیغه ده. ډېر ښکلی غږ او خوندور مد او جذر لري. دا سوره د مکې دور په هغو شپو ورځو کې نازله شوې چې له یوې خوا پیغمبر علیه السلام د قریشو له سخت مخالفت سره مخامخ وو او له بلې خوا د لنډې مودې لپاره د وحې راتګ وځنډېدو، له یوې خوا د وحې موقتي انقطاع د ده د سختې پرېښانۍ او اندېښنې باعث وو او نه پوهېدو چې د وحې د ځنډېدو سبب څه دی، داسې نه چې کومه اشتباه ترې شوې وي، داسې نه چې خپل رب ترې ناراضه شوی وي او له بلې خوا د دښمن له پراخو تبلیغاتو سره مخامخ وو، چې یوه بل ته به ئې ویل: هغه خدای، محمد (علیه السلام) پرېښی او خپلې اړیکې ئې ورسره شلولې چې ده به ځان د هغه استازی ګاڼو، له هغه سره ئې د ارتباط دعوا کوله او قرآن ئې د هغه له لوري وحي ګڼله!! دا د الله تعالی له لوري وحي نه بلکې شیطاني وسوسې وې، دغه شیطان ترې بېل شوی او دی ئې یوازې پرېښی. د دغو تبلیغاتو او

اندېښنو په دوران کې دا مبارکه سوره نازله شوې او په ترڅ کې ئې پیغمبرعلیه السلام ته ډاډ او اطمینان ورکړی شوی چې نه خو خپل رب یوازې او ګوښی پرېښی او نه ترې ناراضه شوی، بلکې د وحي په مؤقتي ځنډ کې خاص حکمتونه مضمر دي، لکه څنګه چې د تکنده غرمې او د ورځې د سختې ګرمۍ وروسته د شپې راتګ ضروري دی، انسان نشي کولی په دوامداره توګه د لمر تودوخه وزغمي، باید څو ګنټې د لمر له پلوشو یوې خوا ته شي، شپه خپل وزر پرې وغوړوي، اعصاب ئې آرامه شي او بایللی صبر او زغم بېرته ترلاسه کړي، همداسې د وحي موقت ځنډېدا ضروري وه، ته اې پیغمبره! لا تر اوسه د وحي د مسلسل او پرله پسې ترلاسه کولو لپاره پوره او بشپړ تیاری نه لرې، دا کار درباندې ګران تمامېږي، څه موده باید وځنډېږي تر څو د بیا ترلاسه کولو لپاره کافي چمتووالی ومومې، مطمئن اوسه چې تر مخکې لا ښه راتلونکې درته انتظار کوي، ستا رب به داسې پېرزوینې درپه برخه کړي چې ستا د بشپړ رضایت باعث شي، نه یوازې دا د شپې ورځې تګ راتګ باید تا ډاډه او مطمئن کړي او د وحي د راتلو موقتي انقطاع داسې وګڼې لکه له ورځې وروسته د شپې راتګ، بلکې د الله تعالی هغه پېرزوینې او عنایات باید ستا د اطمئنان لپاره کافي وي چې تر دې د مخه ستا په برخه شوي، مګر ته ئې یو یتیم ونه موندې او د ټېکې ځای او مأوی ئې درکړ؟ مګر ته ئې لارورکی او مشوش ونه موندې او ستا لارښوونه ئې ونه کړه؟ آیا نېستمن ئې ونه موندې او شتمن ئې کړې؟ د دغو الهي پېرزوینو تقاضاوې دا دي چې:

الف: په یتیم غصه نشې،

ب: سائل ونه رټې،

ج: او د خپل رب نعمتونه بیان کړې.

د دې مبارکې سورې خلاصه دا ده: لکه چې کله غرمه وي او کله تیاره شپه، همداراز کله به سوکالي وي او کله ستونزې.

بسم الله الرحمن الرحيم

ë•Å Ez 9r ÇÌÈ 4?% $Br 7 ﻻ‘ 7 ãŠr $B ÇÈ 4Ö™ #Œ) è@ø$ ÇÈ 4ÕÒ 9$

ÇÎÈ ó# Ì ž#ù 7 ﻻ‘ • ‹Üèã $ ö¡ 9r ÇÍÈ 4‹r{W$`Ï 7 ©žö{

١- قسم په دې غرمه. ٢- قسم پدغه شپه چې شي تیاره. ٣- نه پرېښی یې خپل رب ، نه ئې ګڼلی یې دښمن. ۴- او پابله تا ته غوره ده له پیل نه.۵- او ژر به دې خپل رب، هومره درکړي چې راضي شې.

١-۵: په لومړیو دوو آیتونو کې په غرمه او په شپه چې کله تیاره شي، لوړه شوې او ورپسې په دریو آیتونو کې پیغمبر علیه السلام ته د لاندې خبرو ډاډ ورکړی شوی:

نه خپل رب پرېښی یې او نه ئې دښمن ګڼلی یې. تر پیل به پابله درته غوره وي. او رب به دې ژر دومره درکړي چې پرې راضي شې.

د (ما ودعك ربك) له فقرې معلومېږي چې دښمن د پیغمبر علیه السلام په خلاف دا تبلیغات کول چې که دی پیغمبر او الله تعالی د ده مل وی نو دی به ئې په دې سختو شپو ورځو کې یوازې نه پرېښودو ، چا ته به ئې د دې موقع نه ورکوله چې دی او یاران ئې وځوروي، الله تعالی دلته ډاډ ورکوي چې نه الله تعالی یوازې پرېښی یې او نه له تا بې پروا شوی.

د دې لپاره چې پوه شو د قسمونو او ځواب تر منځ ئې څه ارتباط شته، لاندې خبرو ته توجه وکړئ:

د قسمونو او ځواب ترمنځ ئې ارتباط هغه وخت ښه درك کولی شو چې هم د

ټولې سورې مجموعي مضمون په پام کې ولرو او هم هغه خاص شرائط چې دا سوره پکې نازله شوې.
که د دې مبارکې سورې مضامینو ته لږ ځیر شو نو ګورو چې دلته د پیغمبر علیه السلام د ژوند ځینو لوړو ژورو ته اشاره شوې او ورته ویل شوي: مګر ته ئې یو یتیم ونه موندلې او د ټېکې ځای ئې درکړ؟ مګر ته ئې یو لاروړکی ونه موندلې او لار ئې درونښودله؟ او نیازمند ئې ونه موندلې، خو غنا ئې درپه برخه کړه؟ که ستا په تېر ژوند کې دا لوړې ژورې راغلې، له ستونزو سره مخامخ شوی یې، خو الله تعالي ترې ژغورلی یې، نو که نن له ستونزو سره مخامخ یې، باید مأیوس نشې، باید ډاډه وې چې د تېر په څېر به دا حالت هم پای ته ورسېږي، مګر نه ګورې چې الله تعالی کله ټکنده غرمه راولي او کله تکه تیاره شپه، په تیاره شپو کې باید د رڼا ورځې او تودې غرمې راتلو ته امېدوار وې.
همدا راز دا سوره پس له هغه نازل شوه چې د څه موقت وخت لپاره پیغمبر علیه السلام ته د وحي راتګ متوقف شو، پیغمبر علیه السلام لدې ناحیې سخت پرېشان وو، کله کله دا تشویش ورسره راپیدا کېدو چې مبادا الله تعالی ترې ناراضه شوی وي، مبادا کومه اشتباه ترې شوې وي او همدا د وحي د قطع کېدو باعث شوې وي، د دښمن شدید تبلیغات د ده تشویش لازیاتولو، یاران به ئې هره ورځ منتظر وو چې نوې هدایات به ئې ترلاسه کړي وي، څو اونۍ تېرې شوې، نوې الهي لارښودنه ئې د منتظرو یارانو لپاره نه درلوده، دې وضعیت د ده پریشاني مزید زیاتوله، په همدې شرایطو کې دا مبارکه سوره نازله شوه. د دې سورې په قسمونو کې پیغمبر علیه السلام دې ته متوجه کوي چې کله غرمه وي، لمر تودې وړانګې خوروي، که دا حالت د زیات وخت لپاره دوام وکړي، انسان ئې نشي زغملی، حکیم خدای، ورځ او په هغې کې د تودو وړانګو خورېدل پای ته ورسوي، د څه وخت لپاره لمر ترشا کړي، د تودو وړانګو خورول ئې متوقف کړي، په ځای ئې شپه راولي چې هم سړه وي او هم تیاره او هم پکې چوپه چوپتیا، دا طبیعي تحول د دې باعث شي چې انسان خپل تعادل له لاسه ورنکړي او د ځمکې په سر ژوند کول

ورته آسانه شي، همدا راز په پیغمبر علیه السلام د بعثت په لومړیو شپو ورځو کې د (وحي) مسلسل راتګ ده ته دومره ستونزمن او مشکل وو لکه په ټکنده غرمه کې لمر ته دوامدار ودرېدل، دې ته اړ وو چې د وحي دا پلوشې د څه وخت لپاره متوقف شي، ترڅو پیغمبرعلیه السلام د وحي د لړۍ بعدي څپو ته تیار شي، د دغه مطلب د اثبات لپاره د شپې په تګ راتګ استناد شوی او پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې نباید د وحي له موقت توقف نه پرېشانه شې، دا داسې وګڼه لکه له یوې تودې غرمې نه وروسته چې ورځ ورو ورو پای ته ورسېږي او شپه راشي! ستا رب نه پدې خاطر د وحي نزول مؤقتاُ متوقف کړي چې تا ته اعتناء نلري او نه پدې خاطر چې له تا ناراضه شوی، برعکس ستا د (خیر) او مصلحت لپاره ئې دا کار کړی.

**۴**ـ د دې آیت څو تفسیرونه زمونږ مخې ته راځي:

الف: آخرت تر دنیا درته غوره دی.

ب: تر (تېرې زمانې) غوره راتلونکې درته انتظار کوي.

ج: له دې موقت ځنډ نه وروسته به پر تا باندې د وحي راتګ تر مخکې په ښه او آسان حالت کې وي. له دې وروسته به هغه ستونزې نه لرې چې مخکې دې درلودې. په روایاتو کې راځي چې د وحي د راتلو په وخت کې به په پیغمبرعلیه السلام باندې کله کله داسې حالت راغی چې په سخت ژمي کې به خولې ترې بهېدې.

که ټولې سورې ته ځیر شو او له نورو آیتونو سره د دې آیت ارتباط ته پام وکړو نو دوهمه توجیه دقیق برېښي، دا ځکه چې هم په راتلونکې کې د وحي ښه او آسانه ترلاسه کول افاده کوي او هم پیغمبرعلیه السلام ته هغه ډاډېنه چې د راتلونکې حالت په هکله ئې ورکوي.

**۵**ـ که وروستنیو آیتونو ته چې د (الهي نعمتونو) تفصیل په کې راغلی، پام وکړو، په وضاحت سره معلومېږي چې دلته د الله تعالی له (عطا) نه مراد هم مادي عطایا دي او هم معنوي او د آیت معنا دا ده: ستا رب به دومره مادي او معنوي نعمتونه ستا په برخه کړي چې ته به پرې راضي او قانع شې!! او دا په حقیقت کې

یوه الهي وړاندوینه وه چې ډېر ژر ترسره شوه، د دغې سورې د نزول په وخت کې شرایط داسې وو چې هیچا دا تصور هم نشو کولی چې پیغمبرعلیه السلام او یاران به ئې له دغې ستونزمنې او سختې مرحلې ډېر ژر سرلوړي او بریالي تېر شي، د ضعف او ناتوانۍ دا مرحله به پای ته ورسېږي او داسې راتلونکې به ئې په برخه شي چې د دوی زړه ئې غواړي او کاملاً به پرې راضي وي، هره ورځ چې په دغه الهي نهضت تېرېږي نوې نوې بریاوې به ترلاسه کوي، نن به ئې تر پرون غوره وي او سبا تر نن، دا نني مشکلات به ئې ټول له مخې لرې شي، خو همداسې وشول، لاډېره موده نه وه تېره شوې چې دا الهي وعدې ټولې یوه په بلې پسې ترسره شوې او همغه حالت راغی چې پیغمبر علیه السلام او یاران ئې پرې راضي شول.

---

Wí!æ 8‰ ` rr Ç̣È 3ʻ ‰gù w$|Ê 8‰ ` rr ÇÏÈ 3ʻ r$«ù $VŠÏƒ 8ŝÉ‡ N9&

$B&r ÇÈ ö‡? Ÿxù Ÿ@Í$¡ 9$$B&r ÇÈ öy? Ÿxù OŠÏŠ#$$B'ù ÇÈ Ý_ô'ù

ÇÈ ô ¨ÛÙù 7În þJèÏÎ

---

۶- مګر نه ئې وموندلې یو یتیم او د تېکي ځای ئې درکړ؟ ۷- مګر نه ئې وموندلې یو لارورکی او لار ئې وښودله؟ ۸- او نیازمند ئې وموندلې، خو غنا ئې کړه په برخه. ۹- نو یتیم باندې قهر مه کړه. ۱۰- او مه رټه سائل. ۱۱- او په وینا شه د خپل رب په نعمتونو.

---

۶- پیغمبرعلیه السلام یتیم دنیا ته راغی، پلار ئې د ده له تولد نه څو میاشتې د مخه وفات شوی وو، تر شپږ کلنۍ پورې خپلې مهربانې مور په خپلې غېږ کې وروزو، خو له دې مهربانې غېږې هم محروم شو، مور ئې هم وفات شوه، درووند

نیکه ئې د ده روزنه په غاړه واخیسته، له ده سره ئې ډېره مینه وه او تل به ئې دا خبره تکراروله چې که خدای کول زما له دې لمسي به ستر شخصیت جوړ شي، د ده ساتنې او روزنې ته ئې خاص پام او اهتمام کاوو، خو دوه کاله وروسته هغه هم وفات شو او دی د دغه درونډ او زړه سواند شخصیت له پالنې او روزنې هم محروم شو، له دې وروسته ئې پالنه د خپل تره ابو طالب په غاړه شوه او هغه تر یوه مهربان پلاره هم زیاته د ده پالنه او روزنه کوله او د ژوند تر پایه ئې په ډېره مېړانه او شهامت له ده دفاع کوله، وروسته له هغه چې پیغمبرعلیه السلام په رسالت مبعوث شو او د قریشو زعماوو او سردارانو د ده دعوت او بلنه د خپل اقتدار لپاره جدي ګواښ وګڼلو، ابوطالب ئې تر فشار لاندې ونیولو چې باید محمدعلیه السلام د دوی د مذهب له مخالفته او د دوی د بتانو او اصنامو له هتك حرمت نه منع کړي، خو ابوطالب دې فشارونو ته تسلیم نشو، د ده له مرستې او حمایې ئې لاس وانه خیست، فشارونو، ګواښونو او سختو محاصرو او بندیزونو د ده کلك عزم سست نه کړ او د خپل ګران وراره یوازې پرېښودو ته تیار نشو.

په دې آیت کې دې خبرې ته اشاره شوې چې پیغمبر علیه السلام یتیم دنیا ته راغی، د مهربانې مور له پالنې محروم شو، خپل زړه سواند نیکه ئې هم له لاسه ورکړ، خو هر ځل الله تعالی د خپل رحمت او پېرزوینې وزر پرې خور کړی، که له یوې مهربانې غېږ محروم شوی بله ئې ورته برابره کړې، که له یوه پالونکي محروم شوی بل ئې ورکړی، دی ئې یوازې او بې پالونکي نه دی پرېښی، دا بهیر باید دی ډاډه او مطمئن کړي چې الله تعالی به ئې یوازې او مهمل نه پرېږدي، که له یوې مأوی محروم شي د بلې بند وبست به ورته وکړي.

۷ـ په دې آیت کې د (ضال) صیغه د پیغمبرعلیه السلام د هغه حالت د بیان لپاره کارول شوې چې له بعثت نه مخکې ئې درلود او دا ئې د (هدایت) په مقابل کې کارولې، باید وګورو چې د دې آیت معنا څه ده او د دغه لفظ د ترجمې په اړه څه وکړو چې هم د دې (لفظ) حق په سمه ادا شي، هم د پیغمبرعلیه السلام په شأن کې بې ادبي ونکړو او هم په الهي کلام کې له بې ځایه تأویل او تحریف نه مصئون پاتې

شو؟

په عربي کې د (ضال) لفظ په څو معانیو راځي:

الف: لار ورکی

ب: څوك چې د څو لارو په سر ولاړ وي او نه پوهېږي هغه مستقیمه او سمه لار کومه یوه ده چې دی مخامخ خپل هدف ته رسوي.

ج: ورك شوي ته ویل کېږي.

د: هغې ونې ته هم ویل کېږي چې په صحرا کې یوازې راشنه شوې وي او خوا ته ئې نورې ونې نه وي.

هـ: د غفلت په معنا هم راځي.

و: او کله د ضایع شوي مفهوم هم افاده کوي.

دلته به له دغو معانیو نه کومه یوه رااخلو، کومه معنا ئې داسې ده چې په هغې سره مو هم د الله تعالی د کلام په ارتباط له ادب نه پښنه آخوا نه وي غځولې او هم مو د پیغمبرعلیه السلام په شأن کې بې ادبي نه وي کړې. داسې نه چې د پیغمبرعلیه السلام د احترام لپاره هغه څه ونکړو او داسې څه ونه وایو چې د الله د کلام په نسبت له بې ادبۍ او بې احترامۍ سره مترادف وي، که مونږ له یوې خوا په دې مکلف یو چې د خپل ګران پیغمبر په شأن کې به له هرراز بې ادبۍ او بې احترامۍ ځان ساتو او د ده په هکله د بحث په دوران کې به دې ته متوجه وو چې له خولې مو داسې الفاظ ونه وځي چې د هغه د لوړ شأن په نسبت بې ادبي ګڼل کېږي، له بلې خوا په دې هم مکلف یو چې د الله تعالی د کلام په وړاندې به د ادب زنګون پر ځمکه ږدو او الفاظ به ئې په ډېر احتیاط او دقت سره ترجمه کوو، د خپلې خوښې معاني به نه ترې اخلو او د خپلې خوښې جامې به نه ور اغوندو. هغه څه به وایو چې الله تعالی په خپله ویلي او د خپل امین پیغمبر په ژبه ئې مونږ ته بیان کړي، داسې نه چې د هغه په ویلو کې زړه نازړه وو او د اصلي لفظ او د هغه د دقیقې معنا په ځای بل څه ووایو. دلته (ضال) د (هدایت) په مقابل کې راغلی او ویل شوي: ته ئې (ضال) وموندې او (هدایت) ئې کړې.

قرآن فرمايي چې (انسان) د وحي له لاربښوونو پرته او مخکې له دې چې الهي لاربښوونې ورته لار وښيي، ظلوم (ډېر زيات ظالم) او جهول (ډېر زيات نادان او جاهل) دی، د وحي له لاربښوونو نه پرته هغه په خپلو قضاوتونو کې حتماً ظلم کوي، لږ هم نه ډېر ظلم او د حقايقو په ښه پېژندو کې پاتې راځي او لار ترې ورکېږي، انسان له وحي پرته ډېر جاهل او لار ورکی او ډېر ظالم او ستمګر دی (انه کان ظلوماً جهولاً)

پيغمبرعليه السلام له وحي مخکې د لوړ، شفاف او وتلي شخصيت خاوند وو، پاك لمنی، صادق، رښتونی، امين، له شرك او خرافاتو بې زار، د مکې ټولو اوسېدونکوپه درنه سترګه ورته کتل، د ده په لوړ شخصيت ئې اعتراف کاوو، هيڅوك نشي کولی د ده په پاکه لمن او شفاف شخصيت د کومې ګناه او کوم بد کار داغ په ګوته کړي، د خپلې ټولنې له خراب وضعيته سخت ځورېدو، د نجات لار ئې لټوله، د خلکو په نسبت د ده زړه سوی او پر ټولنې د مسلطې دردونکې وضعې له ليدو د ده دردمن احساس دی شپه ورځ په اندېښنو کې اچولی وو او دا احساس د يوه داسې دروند پېټي بڼه غوره کړې وه چې د قرآن په وينا نږدې وو د ده ملا ماته کړي، تر هغه چې پر ده وحي نازله شوه، د وحي ځلانده مشعل د ده اندېښنې پای ته ورسولې، خپله ورکه متاع ئې پيدا کړه، کمال ته د انسان د رسېدو لار ئې ومونده، له ظلم او جهل نه د نجات لار ئې پر مخ پرانيستل شوه.

د پيغمبر عليه السلام په دوو حالتونو کې، له وحې د مخه او له وحي نه وروسته حالت کې حتماً داسې ژور توپېرونه شته چې قرآن ئې په دغې صيغې يادوي: (وجدك ضالاً فهدی)، نه يوازې له وحي نه وروسته حالت ئې له مخکني نه متمايز دی او ژور توپيرونه په کې شته؛ بلکې له بعثت نه وروسته ابتدائي حالت ئې له وروستي حالته دومره تفاوتونه لري لکه د ځمکې او آسمان ترمنځ دا اوږد واټن، هغه په تدريج سره لوړ تللی او هغې لوړې څوکې ته رسېدلی چې هيڅ انسان ئې کنارو ته نشي رسېدی. متأسفانه ځينې ناپوه او جاهل کسان د پيغمبر عليه السلام په هکله داسې غلو کوي لکه نصاراوو چې د عيسی او مريمې عليهما

السلام په هکله وکړه، وایي چې پیغمبر علیه السلام د بعثت له لومړۍ ورځې حتی تر دې هم د مخه په هرڅه پوهېدو، په غیب پوهېدو، د ټول قرآن علم په لومړۍ ورځ ورکړی شو، نه یوازې دی په غیب پوهېدو بلکې دا پوهه له ده نه د ده لمسیانو ائمه ته په میراث رسېدلې!! حتی شپږ کلن کړوسی ئې امام زمان، عالم بالغیب او متصرف في الکون دی!!

۸- پیغمبرعلیه السلام ته له پلاره هیڅ څه په میراث نه وو پاتې شوي، هغه نه یوازې د مهربان پلار له پالنې د محرومیت درد څکلی وو او په شپږ کلنۍ کې د مور له تودې او مهربانې غېږې محروم شو، بلکې خپله ځواني ئې په تنګسې او ناداری کې پیل کړه اوږده موده ئې شپني وکړه، خو لاډېر وخت نه وو تېر شوی چې د قریشو تر ټولو شتمنې او صالح مېرمنې لومړی د تجارت په چارو کې ورسره شریك کړ، بیا ئې د ازدواج وړاندیز ورته وکړ او په دې سره ئې له تنګسې د وتلو لار پر مخ پرانستل شوه.

۹-۱۱: د دې لپاره چې الله تعالی ته یتیم وموندې او مأوی ئې درکړه، لارورکی ئې وموندې او لارښودنه ئې وکړه، محتاج ئې وموندې شتمن ئې کړې، نو د دغو نعمتونو تقاضاوې دا دي:

الف: پر یتیم غصه مه کوه، له یتیم سره په خپلې معاملې او چلند کې هغه ورځې رایادوه چې یتیم وې او متولي او پالونکي ته محتاج.

ب: ځوك چې د هدایت کېدو تلوسه لري، د لار موندو په لټه کې وي، ستا مرستې ته اړ وي، خپله مرسته مه ترې سپومه، باید په ډېر زړه سوي سره د هغه لارښوونه وکړې، مګر الله تعالی ته هدایت ته محتاج ونه موندې او پرتا ئې پېرزوینه ونه کړه؟ د دې نعمت شکر دا تقاضا لري چې هیڅ سوال کوونکی او د لارښوونې محتاج انسان ونه رټې او د نه ځواب ورنه کړې، که څه هم د پوښتنو په وخت کې بې ادبي ترې وشي او د لارښود د احترام له پولو واوړي.

که څه هم دا آیت (و اما السائل فلاتنهر) په مستقله توګه او له مخکنیو آیتونو سره له ارتباط پرته بله معنا هم ورکولی شي او کېدی شي داسې ترجمه شي: او

سوالګر مه رټه، که کوم فقیر او محتاج انسان له تا مرسته وغواړي، یا مرسته ورسره وکړه او که د مرستې توان نه لرې نو په خوږه ژبه ئې ځواب کړه او له رټلو ئې ډډه وکړه. خو د دې لپاره چې دلته د مخکنیو او وروستنیو آیتونو ترمنځ خاص تړاو شته او دا درې وروستي آیتونه د مخکنیو دریو په مقابل کې په مرتب ډول اود هغوی د فرعې او مقتضا په څېر راغلي او دا لسم آیت (واما السائل فلا تنهر) د اووم آیت (و وجدك ضالا فهدی) په مقابل کې راغلی، نو ځکه له (سائل) نه د ګدا او سوالګر معنا نشو اخیستی.

ج: د دې لپاره چې د کلام په ترتیب کې دا آیت د اتم آیت (و وجدك عائلا فاغنی) په مقابل کې ذکر شوی، باید د همدې تړاو په رڼا کې توضیح شي. او معنا ئې دا ده: ته خپل رب له احتیاج او فقره وژغورلې، شتمن ئې کړې، له حلالو لارو ئې ستا اړتیاوې پوره کړې، د دې الهي نعمتونو په مقابل کې پر تا لازم ده چې:

الف: خپله غنا او شتمني به الهي نعمت او پېرزوینه ګڼې، نه د خپل هنر، پوهې او هڅو نتیجه، دا ځکه چې ستا هنر، کمال او تکل هم الهي پېرزوینه او عنایت دی نه ستا شخصي او ذاتي وړتیا. څوك چې خپله شتمني الهي عنایت او پېرزوینه وګڼي، شاکر بنده ترې جوړ شي، په نعمتونو کې د تصرف په وخت کې احتیاط کوي او د حرامو موخو لپاره ترې کار نه اخلي، خو څوك چې خپله شتمني خپل ذاتي کمال وګڼي او خپل مال او دولت د خپلو هڅو او کمال نتیجه وګڼي، د قارون په څېر به شي، شتمني به ئې مغرور کړي، ، پر نورو به د لوېي احساس کوي، نور به د مال دولت نه درلودو په وجه سپك او حقیر ګڼي، فساد ته به ملا تړي او خپل دولت به د فساد خورولو په لار کې کې کاروي.

ب: باید دهغه چا په څېر نشې چې نه په ژبه د نعمت شکر په ځای کوي او نه ئې په څېرې کې آثار راڅرګندېږي او نه ئې په تصرفاتو کې نښه، یا ئې پټوي او یا ئې حقیر شمېري او د یادولو او شکر کولو وړ ئې نه ګڼي. که په دې باور یې چې د هر څه ورکړه د الله له لوري ده، نو په نعمتونو ئې اعتراف کوه او د محرومیتونو یادول او شکوه او شکایت کول پرېږده.

# الشرح

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الشرح (پرانستل) دی، اته آیتونه لري، د آیتونو اوږدوالی، وزن او غږ ئې سره ورته او ډېر ښکلی او خوندور دی، د لومړيو څلورو آیتونو فواصل ئې د (صدرك) هموزنه صيغې دي، ورپسې دوه آیتونه په (يسراً) پای ته رسېدلي او دوه وروستي آیتونه ئې د (فانصب) او (فارغب) په الفاظو پای مومي. دا هم په مکي دور کې نازله شوې سوره ده، متن او محتوا ئې او د (الضحی) له سورې سره ئې همغږي او ورته والی ښيي چې دا دواړه سورې په يوه وخت کې يوه په بلې پسې، لومړی (الضحی) او ورپسې (الشرح) نازله شوې، د دې سورې له آیتونو هم معلومېږي چې په دې وخت کې پيغمبرعليه السلام د سختو ستونزو او کړاوونو په محاصره کې وو، د فشارونو، ګواښونو او مشکلاتو په دې تورې او ستونزمنې شپې کې لومړی د الضحی د سورې په ترڅ کې ده ته ډاډ او اطمئنان ورکړی شو چې دا تياره شپه پای ته رسي، د روښانه راتلونکې رڼ سباوون به راځي او هره راتلونکې ورځ به دې تر مخکې غوره وي، ورپسې د الشرح په سوره کې راغلي چې آيا الله تعالی تا ته (انشراح صدر) درپه برخه نه کړه؟ آيا هغه (ملا ماتونکی بار) ئې ستا له اوږو لرې نکړ؟ آيا ستا کار ته مو رونق ورنکړ؟ او ستا نوم او شهرت مو لوړ

نکړ؟ لکه څنګه چې تر دې د مخه ئې ستا ډېرې ستونزې حل کړې، باید ډاډه وې چې پاتې ستونزې به هم حتماً حل شي.

بسم الله الرحمن الرحيم

Ù )R& ûŕ Ï½Ë$ÇÌÈ 8‘ǿŕ š• Zã $Zè Êrr ÇÌÈ 8‘ô ¹ 7 9 ŧyŽô S ó9&

Îôãø$ ì B ÷bÎ) ÇÎÈ #Žô¡çÎô ãø$ ì B ÷bî ù ÇÍÈ 8•øË 7 9 $Zèù‘r ÇÌÈ 8•ôß

ÇÑÈ = î ö$ù 7 În 4<Îr ÇÐÈ ó= Á R$ù Mø•ù #Œî ù ÇÏÈ #Žô¡ç

۱- آیا ستا سینه مو نکړه درته پراخه؟ ۲- او آیا کوز مو له تا نکړ ستا درونددبار؟ ۳- هغه چې ئې ستا ملا ماتوله. ۴- او درته لوړ مو کړ ستا ذکر. ۵- نو بې شکه هرې ستونزې سره وه یوه آساني. ۶- نو بې شکه هرې ستونزې سره وي به آساني. ۷- نو کله چې فارغ شې، بیا هاند پیل کړه. ۸- او په لوري د خپل رب دې رغبت وکړه.

۱- د (انشراح صدر) دقیقه معنا باید لومړی په خپله په قرآن کې ولټوو، که په دې موفق شوو چې واضح او څرګند مفهوم ئې په قرآن کې ومومو، نو باید په همدې اکتفا وکړو او بلې مرجع ته له رجوع ډډه وکړو، قرآن حکیم داسې دی چې یوه برخه ئې بله برخه تشریح کوي، د (شرح صدر) په اړه څو آیتونه په قرآن کې داسې راغلي:

فَمَن يُرِدِ اللّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلإِسْلاَمِ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقاً حَرَجاً كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ كَذَلِكَ يَجْعَلُ اللّهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ. الانعام: ۱۲۵

څوک چې الله تعالی ئې لارښوونه وغواړي نو سینه ئې اسلام ته پرانېزي او د چا بې لارېتوب چې وغواړي نو سینه ئې ورتنګه کړي، داسې لکه آسمان ته

چې خېژي، همداراز الله پر هغو ناپاکي تپي چې ایمان نه راوړي.

أَفَمَن شَرَحَ اللَّهُ صَدْرَهُ لِلإِسْلاَمِ فَهُوَ عَلَى نُورٍ مِّن رَّبِّه ... الزمر: ۲۲

آیا هغه چې الله ئې سینه د اسلام لپاره پراَنیستې او د خپل رب له لوري رڼا کې دی...

د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کې هم دا لفظ کارول شوی، هغه وخت چې دی د مظلومو بني اسرائیلو د ژغورنې لپاره د فرعون مقابلې ته په تلو مأمور شو، نو هغه خپله ناتواني په دې صیغه اظهار کړه:

قَالَ رَبِّ إِنِّي أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ * وَيَضِيقُ صَدْرِي وَلاَ يَنطَلِقُ لِسَانِي فَأَرْسِلْ إِلَى هَارُون * الشعراء: ۱۲-۱۳

وئې ویل: اې زما ربه! زه وېرېږم چې تکذیب به مې کړي، سینه مې تنګېږي او ژبه به مې سمه نه خوځېږي، هارون ته ئې ولېږه.

بیا وایي:

قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي * وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي * وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي * يَفْقَهُوا قَوْلِي* طه: ۲۵-۲۸

وئې ویل: اې زما ربه! سینه مې راته پرانېزه، کار مې راته آسانه کړه، د ژبې عقده (غوټه) مې راته وسپړه، تر څو مې په خبره پوه شي.

په لومړیو آیتونو کې شرح صدر د سینې د تنګوالي په مقابل کې راغلې او معنا ئې د هر ډول تشویش، ذهني اضطراب او هر راز شك او شبهې رفع کول او د اسلام د منلو لپاره د ده زړه تیارول او په دې ئې قانع کول دي چې د اسلام لاره حق ده او څه چې اسلام د عقیدې، اخلاق، عدالت، تمدن او تهذیب په اړه ویلي سل په سلو کې حقیقت لري.

او په وروستیو آیتونو کې شرح صدر د سینې د هغې تنګوالي په ارتباط راغلې چې وېره او خوف ئې لامل وي، د خپلې دندې او مأموریت له ستروالي وېره، له دې وېره چې د دې دروند بار د وړلو توان به ونه لري، له دې وېره چې مخاطب به پرې بد ګماني وکړي، په خبره به ئې سم پوه نکړی شي، د پراخې حوصلې او د

ضروري فصاحت او د ژبې ښه طلاقت د نشتوالي وېره.

د انشراح صدر دغو معانيو ته په پام سره د دې سورې د لومړي آيت تفسير دا دی:

پيغمبرعليه السلام له بعثت نه مخکې په ټولنې له حاکم وضعيته، له شرك، جهل، فساد او ظلم نه، سخت پرېشانه او مضطرب وو او له دې دردناك حالته د خلکو د ژغورنې د لارو چارو په لټه کې وو. د وحي په نزول سره هغه خپل ورك مشال وموندو، اضطراب او پرېشاني ئې رفع شوه، زړه ئې ډاډه او مطمئن شو چې له دغې لارې او په دغو لارښوونو سره کولی شي خپله ټولنه له تباهۍ وژغوري او د دنيوي او اخروي سعادت په لوري ئې هدايت کړي.

نو د دې وينا چې آيا ستا سينه مو درته پراخه نکړه؟ معنا دا ده چې آيا تا ته مو پراخه حوصله درنکړه؟ آيا ستا تشويشونه مو رفع نکړل؟ آيا ستا زړه مو ډاډه او مطمئن نه کړ؟ آيا تا ته مو راسخ عزم او مضبوطه اراده درنکړه؟

پيغمبرعليه السلام د دغې (انشراح صدر) په وجه وتوانېدو چې د رسالت دا دروند پېټی پر خپلو اوږو يوسي، د سترو سترو مخالفتونو، عنادونو او حسادتونو په وړاندې ثابت قدمه پاتې شي، د ستونزمن دعوت او اوږدې او ملاماتوونکې مبارزې ستونزې او لوړې ژورې ئې راسخ عزم او مضبوط هوډ کمزوری او متزلزل نکړی شي، د جهل وهلي او شرك ځپلي قوم د جهالتونو او لجاجتونو په وړاندې په سړه سينه او پراخه حوصله ودرېږي، د هيڅ ځواك فشارونه او ګواښونه ئې له خپلې لارې منصرف نکړی شي، هيڅ کله مأيوس نشي، په ډاډه زړه او د حق په حتمي بري بشپړ باور او اطمئنان او په الهي مرستې کامل اعتماد سره مخکې ولاړ شي، نه ئې د ناپوه مخاطبينو له حيرت او تعجب ډکې سترګې پرېشان او مأيوس کړي او نه ئې د کينه کښو او حسود مخالفينو قهرجنې سترګې له خپله ځايه وخوځوي..

۲ - ۳: دلته کوم دروند پېټی داسې ګڼل شوی چې نږدې وه د دې اولوا العزم پيغمبر ملا ماته کړي؟ که څه هم په آيت کې نه دی ښودل شوی خو له قرائنو په

واضح توګه معلومېږي چې دا دروند پېټی د هغه درد، پرېشانۍ او تشویش دروند پېټی وو چې پیغمبر علیه السلام له دې بابته احساساوو چې خلك ئې په شرك، جهل، ظلم او فساد کې لیدل او د ده حساس ضمیر ئې ځوراوو، د شرك او خرافاتو بازار ګرم وو، خلك ئې لیدل چې په خپل لاس به ئې مجسمه جوړه کړه او په وړاندې به ئې سجده کوله، فحشاء، بې‌حیائي او اخلاقي فساد هره خوا تر سترګو کېدو، خیانت، دوکه او ظلم عام شوي وو او د ټولنې په ټولو مناسباتو ئې خپل تور وزر غوړولی وو، زورور ظالم او کمزوری مظلوم او له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم وو او هیچا ئې د مظلومیت چیغې نه اورېدې، لوڼې ژوندې ښخېدې او ښځې په ذلت او سپکاوي کې ساتل کېدې، په ناروا قومي او نژادي نښتو کې د بې ګناه خلکو وینې توئېدې، د دوو قبیلو ترمنځ به یوه وړه پېښه په داسې خونړیو جګړو بدله شوه چې تر پېړیو پېړیو به ئې دوام وکړ او په زرهاوو بې ګناه خلك به پکې ووژل شول، چا چې وسله او لښکر نه درلود او د ځان دفاع ئې نه شوی کولی نه به ئې سر خوندي وو او نه مال، عزت او ناموس، پیغمبرعلیه السلام د دغه دردناك وضعیت له لیدو سخت ځورېدو او تل په دې لټه کې وو چې د نجات لار ورته پیدا کړي، د اندېښنو او تشویشونو په دغه حالت کې وحي پرې نازله شوه او الهي لارښوونو ئې مخه ورته رڼا کړه، په دې سره ئې د اندېښنو او تشویشونو هغه دروند پېټی له اوږو کوز شو، د خلکو د ژغورنې او نجات رمز په لاس ورغی او مطمئن شو چې توحید، په معاد ایمان او په رسالت باور او د الهي لارښوونو متابعت ته د خلکو په رابلو سره به نه یوازې د عربو جهل ځپلې ټولنه له دې درناك حالته ژغورل کېږي بلکې له دې لارې ټوله انساني نړۍ ژغورلی او سعادت ته ئې رسولی شي.

له دې مبارك آیته معلومېږي چې پیغمبرعلیه السلام د خپل امت په اړه څومره زړه سواند وو، په (انسان) ئې څومره زړه سوی او د ده له ژغورنې سره ئې څومره مینه وه؟ خپل رب ئې څنګه پېژاندو او د یوه پیغمبر په حیث ئې د خپل دروند مسئولیت په هکله څه احساس درلود؟ هره شېبه ئې څه حالت او څه احساس وو؟ دلته قرآن فرمایي چې دغه احساس نږدې وو د ده ملا ماته کړي، په بل ځای کې

فرمايي:
لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ أَلاَّ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ * الشعراء: ۳
ښايي ته خپل ځان وژنې د دې لپاره چې دوی ايمان نه راوړي، يعني د دوی د ايمان نه راوړو په وجه دومره اند ښنې کوې چې نږدې ده له اند ښنو ومرې؟
کله چې دا آيت نازل شو: (فاستقم كما امرت)، داسې استقامت وکړه لکه چې پرې گمارل شوی يې، وئې ويل: دې آيت مې ملا راکړوپه کړه!! يعني خپل مأموريت ورته هومره دروند او حساس برېښېي چې په بشپړه توگه ئې ترسره کول تر خپل وس او توان اوچت گڼي.
قرآن په بل ځای کې فرمايي:
عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ * التوبه:۱۲۸
څه چې تاسو ځوروي پر ده گران تمامېږي، ستاسو پر (هدايت او لارښوونې) حريص دی او د مؤمنانو په اړه ډېر زړه سواند او مهربان.
د درد او مسئوليت دغه احساس، د خلکو د هدايت او لارښوونې ژوره تلوسه، د مؤمنانو په اړه زړه سوی او مهرباني همغه دروند پېټی جوړ کړی وو چې د پيغمبرعليه السلام پر اوږوئې داسې دروندوالی کاوو چې نږدې وه د دې اولوالعزم پيغمبر ملا ماته کړي.
ډېره د حيرانتيا خبره ده چې ځينو نوميالیو مفسرينودلته (وزر) د گناه په معنا اخيستې او په شرح کې ئې دا آيت رااخيستی چې الله تعالی خپل پيغمبر عليه السلام ته فرمايي:
ليغفر لك الله ما تقدم من ذنبك وما تأخر: تر څو الله تا ته مخکني او وروستني گناهونه وبخښي
دوی ته په ځواب کې وايو:
الف- له دې آيت نه وروسته آيت خو په ډېر صراحت سره وايي چې له دې وزر نه مراد (عسر) يعني ستونزې او کړاوونه دي نه گناه.
ب - پيغمبر عليه السلام له بعثت نه مخکې کومه داسې ستره گناه کړې چې له

دروندوالي ئې نږدې وه د ده ملا ماته شي؟!!

ج - نه یوازې د الشرح د سورې د نزول په وخت کې دا آیت نه وو نازل شوی، بلکې دا آیت د مدني دور په وروستیو کلونو کې او د حدیبیې له معاهدې وروسته نازل شوی.

همدا راز متأسفانه ځینو درنو مفسرینو (شرح صدر) د (شق صدر) په معنا اخیستې، دوی په خپل ضعیف تعبیر کې نه د شرح صدر هغې معنا ته اعتناء کړې چې د قرآن په ګڼو آیتونو کې راغلې او نه ئې هغه مطلب ته توجه کړې چې دا آیت ئې له وروستیو سره په ګډه افاده کوي، دې ته ئې نه دي کتلي چې که دا د شق صدر په معنا واخستی شي نو باید په وروستي آیت کې د (وزر) معنا هم د وجود کوم غړی وي او دا خبره نه کوم قرآن پوه کولی شي او نه ئې کوم عربي قاموس مني!!

۴- د دې آیت په اړه څو خبرو ته توجه ولرئ:

الف: دښمن هڅه کوي د پیغمبر علیه السلام په ضد خپلو تبلیغاتو سره د دعوت مخه ئې ونیسي او خلك په ده او د ده په دعوت له ایمان راوړو منع کړي، چې څوك به مکې ته راتلو دوی به ورته ویل: دلته د محمد (علیه السلام) په نامه یو څوك راپاڅېدلی، د مکې په خلکو کې ئې شخړې راپیدا کړې، د پلار او زوی، ورور او ورور، ښځې او مېړه ترمنځ ئې اختلافات راولاړ کړي، له خپل پلرني دینه ئې بغاوت کړی، جادوګر دی، خبرو ته ئې غوږ مه نیسئ، د ده خوا ته مه ورځئ، داسې نه چې د جادو تر اغېز لاندې ئې راشئ او بې لارې شئ، دغه تبلیغات د دې په ځای چې د ده او خلکو ترمنځ حایل شي او د ده خوا ته د خلکو د ورتلو مانع شي برعکس ئې خلك دې ته هڅول چې پلټنه وکړي او ځان په دې پوه کړي چې دا محمد (علیه السلام) څوك دی؟ څه غواړي؟ ولی ئې قریش مخالفت کوي؟ څوك چې د ده تر اغېز لاندې راغلي څه بدلون ئې په ژوند او افکارو کې راغلی؟ د دښمن دا معاندانه تبلیغات د دې باعث شو چې نوم ئې تر هر چا ورسېږي، شهرت ئې له مکې بهر ووځي او له مکې بهر هم خلك د ده له نامه سره آشنا شي.

ب: دلته د (رفعنا ذکرك) په ځای (رفعنا لك ذکرك) راغلی او دا ښیي چې دغه

شهرت له ده سره مرسته وکړه، خلکو ته د ده د دعوت په رسېدو کې ئې ګټه درلوده، د ده کار ئې ورته آسان کړ، خلك ئې وهڅول چې د ده خوا ته راشي، د ده خبره واوري او د ده په دعوت ځان پوه کړي، د دښمن تبليغاتو د دې په ځای چې ده او د ده دعوت ته کوم تاوان ورسوي او د خلکو د راتلو مانع شي برعکس ئې خلك د ده خوا ته راوستل، هغه ځای ته چې د ده لاس نه رسېدو او هغو خلکو ته چې د ده غږ نه رسېدو، د (رفع ذکر) او د ده شهرت لوړېدو په نتيجه د نورو سيمو خلك هم د ده له نامه او له هدف او دعوت سره آشنا شول. که څه هم ځينو درنو مفسرينو له (رفع ذکر) نه دا مراد کړې چې تر قيامته به د الله تعالی د نامه ترڅنګ د محمد عليه السلام نوم اخيستل کېږي، په آذانونو کې به يادېږي او درودونه به پرې ويل کېږي، خو دلته او د سورې د بحث له موضوع سره په ارتباط کې ئې ښه او دقيق تعبير مخکنی تعبير دی.

ج: دا الهي وړاند وينه ترسره شوه، چا ګمان کاوو چې د پيغمبرعليه السلام او د ده د دعوت کار به له ضعف، ناتوانۍ، د يارانو او پلويانو کمښت، د قوم شديد مخالفتونو، ګواښونو، فشارونو، محاصرو، سره سره داسې ژر هغې مرحلې ته ورسېږي چې د عربو ټوله پراخه سيمه به د ده تر سلطې لاندې راشي، د سيمې ټول قومونه به د ده دعوت ومني، له ده سره به ملګري شي، د ده د الهي اهدافو لپاره به هرې قربانۍ ته چمتو شي، ټول به د الله تعالی د نامه ترڅنګ د ده نوم ياد کړي، په مليوناوو او ملياردونو انسانان به تر قيامته په ده درودونه لېږي، د ده په نامه به افتخار کوي او خپل نوم به د ده په نامه ښاېسته کوي.

**۵ - ۷**: په دغو دواړو آيتونو کې څو ظريفو نقطو ته توجه وکړئ:

الف: د دې په ځای چې وويلی شي: له هرې ستونزې وروسته به يوه آساني وي، ويل شوي: له هرې ستونزې سره به يوه آساني وي، يعنې د ستونزې او آسانۍ ترمنځ فاصله او واټن نشته، خوا په خوا کې دي، آساني د ستونزو په منځ کې ولټوئ، سختې ورځې ډېرې اوږدې نه وي، ژر پای ته رسي، آساني به ئې په خوا کې ومومئ.

ب: په دوو آيتونو کې د دې مطلب تکرار ښيي چې يو ئې په تېرې زمانې پورې اړه لري او بل ئې په حال او راتلونکې پورې، په دې معنا: لکه څنګه چې دې مخکې ولېدل چې ډېرې ستونزمنې شپې ورځې تېرې شوې، په هرې ستونزې پسې آساني راغله، همداسې به اوسنۍ سختې ورځې هم تېرې شي او د بريا او خوشحالۍ ورځې به راشي، (کان مع العسر يسرا ، سيکون مع العسر يسراً)

او يا دا چې العسر (کړاو) په دواړو آيتونو کې د معرفه په صيغه راغلی او مراد ئې يو دی، خو يسر (آساني) په دواړو آيتونو کې د نکره په صيغه راغلې، چې بېلې بېلې آسانۍ افاده کوي، يعنی له هرې ستونزې سره دوه آسانۍ جوخت وي، يوه ئې په دنيا کې او بله ئې په آخرت کې، نو بايد ډاډه وې چې له هرې ماتې سره برياوې شته، په هرې تورې شپې پسې رڼا ورځ شته، مأيوس او ناهيلې کېږه مه، ستا رب په هر کړاو پسې د دوو آسانيو وعده درکړې، داسې نه چې خپله روحيه له لاسه ورکړې، مأيوس او نااميده شې، سست شې، شور، شوق او نشاط دې له لاسه ورکړې، د سختو ورځو په ليدو سره د ناتوانۍ او ضعف احساس وکړې، هيله من اوسه چې له هرې ستونزې وروسته دوه آسانۍ درته انتظار کوي، دا د الله تعالی قطعي او نه بدلېدونکې وعده ده.

۷- دا آيت مونږ ته وايي چې دنيا د قرار او فراغت ځای نه دی، د مسلسل، پر له پسې او ستړيا نه منونکو هاند او هڅو ځای دی، د اسلام له نظره دنيا د کار او زيار ځای دی، چې کله له يوه کاره فارغ شې بل ته بايد متې رابډوهې، بايد تل هڅه وکړې، سخته هڅه، دوامداره او په بشپړ انهماك سره، د الله تعالی په لار کې هڅه، کله د الله تعالی په عبادت کې، کله د دعوت په کار کې، کله د تعليم او تربيې په کار کې، کله د حلال رزق او روزي راپيدا کولو په کار کې، د قرار او آرام دار او کور جنت دی نه دنيا.

ډېره عجيبه ده چې ځينو د آيت ترکيب او سياق او سباق ته له پام کولو پرته، په ډېر تکلف سره او د مذهبي تعصب په حکم، د (فانصَب) لفظ (فانصِب) کوي، (ص) ته د (زور) په ځای (زېر) ورکوي او د نصبولو معنا ترې راباسي او وايي: په دې

سره پیغمبر علیه السلام ته امر شوی چې له فارغېدو وروسته علي رضي الله عنه خپل ځای ناستی وټاکه!! دغو جنابانو ته چې د قرآن په اړه ئې بې باکي ته انسان حیران پاتې شي، وایو:

الف- دلته د (فانصب) لفظ د (فرغت) په مقابل کې راغلی، داسې لکه له دې مخکې چې یسر د عسر په مقابل کې راغلی، معنا ئې د فراغت عکس یعني زیار ایستل ده، نه بل څه، بله معنا ترې اخیستل له کرکجن تکلف نه پرته بل څه نشي کېدی. همدا راز د (فانصب) وزن باید (فارغب) ته ورته وي، د بلاغت تقاضا همدا ده، له دې نه (فانصِب) جوړول همغږي له منځه وړي.

ب- د دې آیت د نزول په وخت کې علي رضي الله عنه لا بالغ شوی هم نه وو.

ج - د پیغمبر علیه السلام عظمت او حقانیت له دې خبرې هم معلومېږي چې هغه په داسې حال کې رحلت وکړ چې هیڅوك ئې خپل ځای ناستی ونه ټاکو، مخصوصاً له خپلې کورنۍ څخه، راشدینو خلفاوو هم له خپلې کورنۍ څخه څوك ځای ناستی ونه ټاکو، که دوی دا کار کړی وی نو نن به هر ظالم پاچا خپل زوی، لور او مېرمن په دې نامه د تخت او تاج وارث او د ځان ځای ناستی او ولي عهد ټاکو چې د پیغمبر علیه السلام په سنت عمل کوي او ډېرو دین پلورونکو مفتیانو به دا فتوا ورکوله چې د اعلیحضرت همایوني دا کار د شریعت او سنت مطابق کار دی!! ډېر ناپوه او د دین له حقیقت او روح نه بې خبره انسان به په دې نه پوهېږي چې هر موروثي نظام ظالمانه او د عدل او انصاف مغایر نظام دی، دین د دې لپاره راغلی چې دغه ظالمانه موروثي نظامونه او د زور حکومتونه رانسکور کړي او د خپل زعیم د ټاکلو اختیار ولس ته ورکړي.

د - محال ده چې پیغمبر علیه السلام ته د الله تعالی له لوري د چا د نصبولو امر شوی وی او هغه دا کار نه وی کړی او محال ده چې د ده په لاس روزل شوو صحابه وو د ده له لوري د نصب شوي کس په ځای بل څوك غوره کړی وی!!

ه - که پیغمبر علیه السلام ته د الله تعالی له لوري د ځای ناستي د نصبولو امر شوی وی، نو دا امر به په داسې صریح الفاظو په قرآن کې راغلی وو لکه د موسی

علیه السلام په څنګ کې چې د هارون علیه السلام ذکر شوی، په ټول قرآن کې خو نه صراحتاً د علي رضي الله عنه نوم راغلی او نه اشارتاً د ده په اړه څه ویل شوي.

۸- په هر حالت کې باید ستا رغبت د الله تعالی په لوري وي، داسې نه چې په کوم کار کې مشغولتیا تا د خپل رب له یاده غافل کړي، د الله تعالی یاد به تل ستا په ژبه او زړه وي، یوه شېبه به نه ترې غافله کېږې، په هر کار کې به د ده رضا لټوې او د زړه میلان به دې تل د الله تعالی په لوري وي.

که په دې وروستیو مبارکو آیتونو کې راغلي دوه مطلبه (دوامداره او سترړیا نه منونکې هڅه، د الله په لوري رغبت) د ټولې سورې د آیتونو په رڼا کې وڅېړو، معنا به ئې دا وي:

ستونزې به هرومرو پای ته رسي، ډاډه اوسه چې د آسانۍ او خوشحالۍ ورځې راتلونکې دي، خو داسې نه چې د سختو ورځو د پای ته رسېدو او له ستونزو او کړاوونو نه د فراغت په وخت کې له خپلو هڅو لاس واخلې، خپله مبارزه متوقف کړې او د دنیا زرق و برق ته متمایل شې، بر عکس باید خپلو دائمي او سترړیا نه منونکو هڅو ته دوام ورکړې او رغبت دې یوازې د الله تعالی په لوري وي.

# التين

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم التين (انځر) دى، چې له لومړي آيته اخيستل شوى، ۸ آيتونه لري، د آيتونو فواصل ئې د لومړي آيت د دوو صيغو په څېر دى، لومړى او شپږم آيت ئې د زيتون او ممنون په صيغو پاى ته رسېدلي، نور ئې (التين) ته ورته صيغو باندې، د څلورم آيت د پاى صيغه، تقويم ده چې د غږ له پلوه التين ته ورته دى. په مكه مكرمه كې نازله شوې، د بحث محوري موضوع ئې د دې مطلب ثابتول دى چې الله تعالى (احكم الحاكمين) دى او عملونو ته عادلانه بدله وركوي. د دې ادعا د اثبات لپاره د انساني شخصيتونو دوه بېلگې او د دوى د عملونو پاېلې زمونږ مخې ته ږدي، يو هغه چې تر ټولو ټيټ او پرېوتي مقام ته رسېدلى، له اخلاقي او معنوي پلوه د الله تعالى تر ټولو مخلوقاتو ټيټ تللى، دومره ټيټ پرېوتى چې هر څه ترې لوړ او اوچت دي. بل ئې هغه مؤمن بنده دى چې عملونه ئې صالح او نېك دي او د خپلو نېكو عملونو غوره بدله په دوامداره او پر له پسې توگه ترلاسه كوي. دا په داسې حال كې چې الله تعالى دا دواړه انسانان، له هغو ټولو ژورو توپيرونو سره چې د دوى په كړو وړو كې شته، په ډېر غوره جوړښت او تقويم كې پيدا كړي، ډېر غوره او ښاېسته استعدادونه او فضايل ئې د دوى په خټه كې ايښي، د

استعدادونو له مخې ئې پر ټولو مخلوقاتو دوی ته فضیلت ورکړی، خو یو ئې د فضیلت او شرف لوړو لوړو څوکو ته ورسېږي او بل ئې د رذالت او سپکتوب په ژورو ژورو کندو کې پرېوځي، د دوی هر یو د دوو لارو مقطع باندې ودرېدلی، یوه ئې د لاندې تلو هغه لار غوره کړې، چې څوره ده، ورو ورو ټیټېږي او په هغه ځای پای ته رسي چې تر ټولو ټیټ او پرېوتی ځای دی، بل هغه لار غوره کړې چې لوړ درومي او ورو ورو لوړېږي او په هغه ځای منتهي کېږي چې تر ټولو لوړه څوکه ده او د عزت او شرف تر ټولو لوړ مقام. دلته د انسان په متفاوت انتخاب، بېلو بېلو تګلارو او مختلفو عملونو او کړو وړو بېل بېل نتایج مرتب کېږي او دا ښیي چې په دې عالم کې د مکافات او مجازات سنت حاکم دی، هر عمل ته مناسبه بدله او سزا ورکول کېږي، له هر چا سره د ده د کړو وړو له مخې معامله کېږي. نو د دې حقیقت له مشاهدې او لیدو سره سره څنګه او په کوم دلیل له دې انکار کوې چې یوم الدین د مکافات او مجازات وروستۍ ورځ په مخکې لرې، محاسبه به درسره کېږي او د خپلو عملونو مناسبه او عادلانه سزا به ګورې؟! د دې تکذیب لپاره څه دلیل لرې؟!! کوم څه، کومه اند ېښنه، کومه وجه او کوم دلیل د دې باعث شوی چې په یوم الدین کې له الهي محاسبې انکار وکړې؟! مګر ته په دې نه پوهېږې چې الله تعالی (احکم الحاکمین) دی؟ مګر نه ګورې چې (احکم الحاکمین خدای) عملاً انسان ته د خپلو کړو وړو بدله او سزا ورکوي؟ آیا دا د منلو ده چې په تا کې به د ښه او بد ترمنځ د قضاوت او د حق او باطل او مظلوم او ظالم ترمنځ د حکمیت استعداد وي خو هغه الله تعالی به په دې صفت متصف نه وي چې تا ته ئې دا استعداد درکړی ؟!! په انسان کې د حکمیت صفت د دې ښبه ده چې پیدا کوونکی به ئې حتماً (احکم الحاکمین) وي.

د سورې په پیل کې د پیغمبرانو علیهم السلام د بعثت او د وحي د مهبط په څلورو ځایونو لوړه شوې، په شام، فلسطین، طورسینا او بلدالامین (مکه مکرمه)، چې دا د جلیل القدر پیغمبرانو د بعثت ټاټوبي او د سترو سترو الهي او دیني خوځښتونو او نهضتونو مهد او د نومیالیو او باعظمته شخصیتونو زېږنتونونه

دي، دغه سیمې د دې ادعا د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې کوي چې انسان په ډېر غوره تقويم او جوړښت کې پیدا شوی، د پیغمبرانو لوړ لوړ شخصیتونه پدې شهادت ورکوي چې په انسان کې لوړ لوړ استعدادونه اېښودل شوي،د وحي د نزول په دغو ځلورو سیمو کې د سترو سترو شخصیتونو پیدا ښت ښیي چې د انسان په فطرت کې ډېر لوړ استعدادونه او اوچتې وړتیاوې اېښودل شوې، څوك چې توانېدلي د خپل ضمیر دا استعدادونه ځلانده کړي او ترې کار واخلي د عظمت او شرف لوړو لوړو څوکو ته رسېدلي. دا په انسان پورې مربوط ده چې د خپلو فطري وړتیاوو په کارولو کې کومه لار غوره کوي؟! د خپل غوره فطرت غږ او غوښتنو ته مثبت ځواب وايي د شرف او عزت لوړو څوکو ته د رسېدو په لار درومي او که د رد ځواب ورکوي، د ځوړ لار غوره کوي او د ذلت او رذالت ژورو کندو کې پرېوځي؟!!

بسم الله الرحمن الرحيم

---

ﭑ ﭒ ﭓ ﭔ ﭕ ﭖ ﭗ ﭘ ﭙ ﭚ ﭛ ﭜ ﭝ ﭞ ﭟ ﭠ ﭡ ﭢ ﭣ ﭤ ﭥ

---

۱- پدې انځر، پدې زیتون باندې قسم. ۲- په طور سینین باندې قسم. ۳- پدغه خوندي ښار باندې قسم. ۴- بې شکه چې انسان مو پیدا کړی دی په ډېر غوره جوړښت کې.

---

۱-۴: دلته په ځلورو شیانو لوړه شوې او د قسمونو په پای کې ویل شوي چې: بې شکه چې انسان مو پیدا کړی دی تر ټولو غوره جوړښت کې.

د دغو قسمونو په اړه د مفسرینو ترمنځ د زیات اختلاف شاهد یو، مونږ د

اختصار لپاره د کمزورو او ضعیفو آراوو له راوړلو ډډه کوو، یوازې هغه رأیه رااخلو چې ترټولو دقیقه او د سورې له مضامینو سره مطابق او د آیتونو ترمنځ دقیق ارتباط ئې تائیدوي. د وضاحت لپاره لاندې عرائض لرو:

پدې آیتونو کې د (طور سینین) او(بلدالامین) مفهوم کاملاً واضح او روښانه دی او قرآن په خپله د هغوی وضاحت کړی، طور سینین د موسی علیه السلام مبعث دی او بلد الامین، مکه مکرمه چې د اسمعیل علیه السلام او محمدعلیه السلام مبعث دی او په هغې کې د ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام په لاس کعبه بنا شوې. که د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کې غور وکړو نو دا خبره راته جوتېږي چې د دغو دواړو ترمنځ یو ځانګړی شباهت او مناسبت شته او هغه دا چې دواړه د پیغمبرانو مبعث او د وحي مهبط دي، په یوه کې موسی علیه السلام په پیغمبرۍ مبعوث او د فرعون په مقابله مأمور شو او بل ئې د ابراهیم، اسمعیل او محمد علیهم السلام د بعثت او دعوت غېږ. له ځواب سره د دغو دواړو قسمونو ارتباط هم ډېر څرګند او واضح دی او هغه دا چې دا دواړه ځایونه چې د نړۍ ستر ستر شخصیتونه ئې په غېږ کې پاتې شوي، پدې خبرې شهادت ورکوي چې واقعاً انسان په ډېر غوره جوړښت کې پیدا شوی او ډېر ستر ستر استعدادونه پکې ایښودل شوي، د دغه اوچت او لوړ جوړښت څو څرګندې بېلګې ئې دغه جلیل القدره پیغمبران دي، که په انسان کې دا اوچت استعدادونه نه وی نو د پیغمبرانو په څېر عظیم او جلیل القدره شخصیتونه به پدوی کې نه راپیدا کېدل. مګر نه ګورئ چې دغه جلیل القدر پیغمبران د عظمت او لوړوالي کوم کوم مقام ته رسېدلي، هر یوه د سترو انقلابونو لارښوونه کړې، د دوی په لاس ظالم استبدادي نظامونه نسکور شوي، د عدالت او آزادۍ ډیوه ئې بله کړې، د دې ډیوې په رڼا کې مظلومو او محرومو انسانانو ته د ډاډمن او سرلوړي ژوند شرایط برابر شوي، په جهل وهلې تیولنې کې د روڼ مشعل په څېر ځلېدلي، تورې تیارې شپې ئې روښانه کړې، آیا همدا کافي نده چې ووایو: واقعاً انسان په ډېر غوره تقویم کې پیدا شوی او په هغه کې ستر او عظیم استعدادونه ایښودل شوي؟

خو له ځواب سره د دوو لومړنیو قسمونو په ارتباط پوهېدل غور غواړي. پدې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

د یوه بلیغ کلام یو ستر خصوصیت دا وي چې د بېلو بېلو برخو ترمنځ ئې تړاو، نظم او تنسیق وي، د دغه اصل له مخې باید دوه لومړي قسمونه له دوو وروستیو سره شباهت ولري. که دوه وروستي قسمونه خاصو ځایونو ته اشاره کوي، پکار دا ده چې دوه لومړي قسمونه هم دېته ورته ځایونو ته اشاره وکړي. خو باید وګورو چې په (التین) او (الزیتون) کې د دې امکان او احتمال شته که نه؟ ځواب دا دی چې هو؛ په څو دلیله: لومړی دا چې د کلام له فحوی معلومېږي چې په لومړي آیت کې (البلد) مقدر دی، د درېیم آیت له (و هذ البلد الامین) نه همدا خبره معلومېږي، یعني په لومړي آیت کې د انځر او زیتون په سیمو لوړه شوې. دوهم دا چې د دې سورې د نازلېدو په وخت کې فلسطین د اعلی زیتون په درلودو مشهور وو او شام د اعلی انځر په درلودو، چې چا به د زیتون نوم واخیست نو فلسطین به ئې مخې ته راغی او چې د انځر نوم به ئې واخیست نو شام به ئې ذهن ته راغی، دا داسې وګڼئ لکه څوك چې په پاکستان کې د خربوزه نوم واخلي نو فوراً ئې افغانستان ذهن ته راشي او که په افغانستان کې د ام یا کېلې نوم واخلي نو سمدلاسه ئې پاکستان سترګو ته ودرېږي، دا ډېره عامه ده چې اکثراً ځایونه د خپلو خاصو مېوو په نامه یادېږي. عربانو معمولاً په خپلو محاوراتو کې مختلف ټاټوبي د خپلو ځانګړو او خاصو مېوو په نامه یادول، که به چا د څو ملکونو په څنګ کې د زیتون او انځر نوم اخیستو نو لدې نه ئې د شام او فلسطین معنی اخیستله. درېیم دا چې دغو دواړو ځایونو ته د قرآن په څو آیتونو کې اشاره شوې او د طورسینین او بلد الامین په څېر د پیغمبرانو د بعثت مبارك ټاټوبي ګڼل شوي. څلورم دا چې که د ځینو مفسرینو د رأیې مطابق (التین) او (الزیتون) فقط مېوه وګڼو او په خوا کې ئې (البلد) مقدر ونه بولو نو له یوې خوا د دغو څلورو قسمونو ترمنځ شباهت او یووالی نشو په ګوته کولی او له بلې خوا د قسمونو او ځواب ترمنځ تړاو او ارتباط نشو ښودلی. شام او فلسطین چې دلته په (التین) او (الزیتون) سره یاد شوي، له

(طور سينين) او (البلد الامين) سره لدې لحاظه شباهت لري چې هلته د سليمان، داؤد، عيسى او ابراهيم عليهم السلام په څېر پيغمبران مبعوث شوي. او پدې سره د ټولو قسمونو ژور او دقيق ارتباط له ځواب سره څرګندېږي. يعني هغه باعظمته او ستر ستر شخصيتونه چې پدغو څلورو سيمو شام، فلسطين، طور سينين او البلد الامين کې راولاړ شوي، تلپاتې حماسې ئې جوړې کړې او د ډېر لوړ او اوچت انساني شخصيت ببلګې ئې وړاندې کړې، پدې شهادت ورکوي چې الله تعالى په انسان کې څومره لوړ استعدادونه ايښي او په څومره غوره او احسن تقويم او جوړښت کې ئې پيدا کړی!!

• څوك چې التين او الزيتون يوازې د مېوو په معنا نيسي او د قسمونو او ځواب تر منځ ئې د ارتباط په اړه وايي: لکه څنګه چې په مېوو کې انځر او زيتون ډېرې ښې مېوې دي همداراز انسان هم په ډېر غوره جوړښت کې پيدا شوی!! د دوی په ځواب کې وايو: دا به څنګه ثابتوئ چې دا دواړه مېوې تر نورو غوره دي، که تر نورو ښه وی نو په قرآن کې به د خرما او انګورو په ځای دوی د جنت د مېوو په سر کې يادې شوې وې!! د مېوو د ښه والي ئې د انسان له غوره پيداښت سره څه؟ له طورسينين او بلدالامين سره به ئې تړاو او همغږي څنګه ثابتوو؟ د قسم معنا خو دا ده چې قسم کوونکی مقسم به د خپلې ادعا د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې کوي، که په الله تعالى قسم کوي او وايي: والله چې رښتيا وايم، د ده د دې قسم معنا دا ده چې الله تعالى شاهد دی چې زه رښتيا وايم، نو دلته په انځر او زيتون باندې د قسم معنا دا ده چې دا دواړه شاهد دي چې انسان په ډېر غوره جوړښت او تقويم کې پيدا شوی، که له دې دواړو دوی ته منسوب سيمې؛ شام او فلسطين ونيولی شي، دا دواړه سيمې يقيناً په دې شهادت ورکوي چې انسان په ډېر غوره جوړښت او تقويم کې پيدا شوی، دا ځکه چې په دغو سيمو کې ستر ستر پيغمبران عليهم السلام تېر شوي او دوی د غوره انسان او د ده د اوچت او لوړ جوړښت څرګندې ببلګې دي، خو په هغه بل تعبير سره خو له دغو آيتونو بې ربطه جملې جوړېږي.

óOgù ÏM» sÎ»Á 9$(qèdår (qãB#ä ûïÏ%©!$# žwÎ) ÇÎÈ û,Ïî»y™ Ÿ@xÿó™r& çm»tRŠyŠu‘ §NèO

ÈbôãÎ ªÜ $$# ù؛&} ÇÏÈ šúï‰!$$Î/ ‚ß‰è/ 7 ô‰÷èt/ y7 æ/Éj3ä $Jù ÇÐÈ 5bqãZøÿxE Žöšî ófôj&

ÇÑÈ ûüÏJÅ»tøt$

۵- بيا مو رد کړ دی تر ټولو ټيټو ټيټ ته. ۶- مګر هغه چې ايمان ئې وي راوړی او کړي ئې وي سم سم عملونه، نو دوی لره به وي بدله تلپاتې. ۷- څه شي نو د دين درواغ ګڼلو ته ته اړ کړې؟ ۸- مګر نه دی خدای، احکم الحاکمين؟

**۵-۶** : خو همدغه انسان، له همدې لوړ او ښاېسته جوړښت سره او له ټولو هغو لوړو لوړو او غوره استعدادونو سره چې د ده په فطرت کې ايښودل شوي، د ايمان له سمې لارې د کږېدو او انحراف په نتيجه کې او د کفر د لارې په غوره کولو سره، د دنائت، رذالت، جهل او وحشت داسې ژورې کندې ته پرېوځي چې تر هر ټيټ ټيټ شي، تر هر ځيرونکي حيوانه ډېر ځيرونکی، بې رحمه او وحشي شي، نه ئې په ظلم کې سيال پيدا کېږي او نه په جهل، بې رحمۍ او قساوت کې او عملاً ګورو چې له دې سقوط او هبوط نه هغه کسان ژغورل شوي چې د ايمان او صالح عمل لار ئې غوره کړې او په دې لار کې ئې د خپلو ښکو عملونو تلپاتې او نه شلېدونکې غوره او ښکه بدله ترلاسه کړې، عزت او سرلوړۍ ته رسېدلي. د يوه وېرونکي او (مدهش سقوط) او د بل (عزت او لوړ تګ) ښيي چې دلته زمونږ په نړۍ کې د مکافات او مجازات لړۍ شته، صالح هم د خپلو ښکو عملونو بدله تر لاسه کوي او طالح هم د خپلو بدو کړو وړو سزا ګوري، يو ئې فلاح، بريا او نجات مومي او بل ئې د ذلت او سپکاوي او نامرادۍ په ژورې کندې کې پرېوځي، هره شېبه عملونو ته د مناسبې

سزا ورکولو شاهد يو.

**۷-۸**: نو د عملونو د مکافات او مجازات د عملي بېلګو له مسلسل ليدو سره سره، څنګه او په کوم دليل له (يوم الدين) نه انکارکوې؟! او ولې له انسان سره حساب و کتاب او محاسبه دروغ ګڼې؟

مګر ستا رب (احکم الحاکمين) نه دی؟ مګر ودې نه ليدل چې په دغو څلورو سيمو کې، د پيغمبرانو د بعثت سيمو کې، د حق او باطل ترمنځ د پرله پسې نښتو په دغو څلورو ميدانونو کې، په وار وار د احکم الحاکمين رب پرېکړې، د حق د بريا او د باطل د ماتې په بڼه کې تکرار شوې؟!! حق پالونکي غالب شوي او باطل پالونکي مغلوب شوي؟! که څه هم د نزاع او نښتو په سر کې حق پالونکي ډېر کمزوري او ضعيف او د باطل سنګر ډېر مضبوط او مجهز برېښېدو او هيچا ئې د ماتې او زوال تصور نشو کولی!! که دلته او په دنيا کې د مکافات او مجازات لړۍ نه وای نو مسلط، مجهز او په ظاهر کې ډېر مضبوط او ځواکمن ستمګران بايد تل برلاسي او غالب او پر تېولنې د تل لپاره مسلط پاتې کېدی او مستضعفين به هيڅکله د دوی له منګولو نشو وتلی او په دې نابرابرې نزاع او جګړې کې به ئې هيڅکله بريا نه په برخه کېده!! او دا مجهز ځواکونه به هيڅکله د دوی په لاسونو نه رانسکورېدل او د ځمکې خلافت به ئې نه په برخه کېدو، د ستمګرانو مواخذه او د شر او فساد پر ځواکونو د الهي عذاب راپرېوتل دا ښيي چې الله تعالی د دې عالم (حکم او حاکم) دی او د احکم الحاکمين رب پرېکړې پکې نافذې او حاکمې دي.

# العلق

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم العلق (ځوړند شوي) دی، چې له دوهمه آیته اخیستل شوی، ۱۹ آیتونه لري، دوه لومړي آیتونه ئې د خلق او علق په هموزنو صیغو او ورپسې درې آیتونه د اکرم، قلم او یعلم په صیغو او له شپږمه تر څوارلسمه ئې تقوی ته ورته هموزنو صیغو او له هغه وروسته څلور آیتونه ئې ناصیة ته ورته صیغو باندې پای ته رسېدلي او آخري آیت ئې د اقترب په صیغه داسې ختم شوی چې د سورې خوندور غږ او ښایسته مد و جذر په ډېر ښکلي او موزون توګه تکمیل کړي. د اکثرو مفسرینو په اتفاق سره د دې سورې لومړي پنځه آیتونه ئې هغه لومړني نازل شوي آیتونه دي چې د حرا په غار کې پر پیغمبر علیه السلام نازل شول او په همدې سره د وحي د راتلو لړۍ پیل شوې. دوهمه برخه ئې هغه وخت نازل شوې چې پیغمبرعلیه السلام په علني او څرګنده توګه د کعبې خوا کې په لمانځه ودرېدو او د قریشو سردارانو د ده دا کار له خپل دین او مذهب نه څرګند بغاوت وګڼلو او د جدي عکس العمل پرېکړه ئې وکړه، ابوجهل د دې صحنې په لیدو سره چې پیغمبرعلیه السلام د کعبې خوا ته په لمانځه ولاړ دی، د قریشو د مذهبي آدابو خلاف په نوې طریقه او بڼه عبادت کوي، جاهلانه حمیت ئې وپارېدو، نه د دې لپاره چې په خپل مذهب غیرت وکړي بلکې دا ئې د خپلې واکمنۍ او سلطې په ضد بغاوت ګڼلو، دا ئې د هغه څه خلاف بالو چې ده ته ئې اقتدار ورکړی وو. له ګواښنه په ډک غږ ئې پیغمبر علیه السلام ته وویل: نه غواړم چې بیا دې په دې حالت کې

وګورم، خو پیغمبر علیه السلام ورته اعتناء ونکړه، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما روایت کوي چې یو ځلې پیغمبر علیه السلام په مقام ابراهیم کې په لمانځه ولاړ وو، ابو جهل ئې خوا ته تېرېدو، ودرېد او پیغمبر علیه السلام ته ئې وویل: آیا ته مې له داسې کاره نه وې منع کړی؟ په تندو الفاظو ئې هغه وګواښو، پیغمبر علیه السلام په پرېکنده الفاظو ځواب ورکړ، ابو جهل ورته وویل: ته په چا نازېږې، له چا مې وېروې، په خدای قسم چې د دې ځای اکثر او سېدونکي له ما سره دي او زما پلویان تر هر چا زیات دي!! (رواه احمد، ترمذي، النسائي)

له نهمه آیته (ارءیت الذی ینهی عبداً اذا صلی) د سورې تر پایه پورې دغه جریان بیانېږي.

د سورې په لومړیو آیتونو کې چې د وحې د پیل لومړي آیتونه دي، د (قرائت)، (قلم) او (علم) یادونه ښیي چې د اسلام له نظره لیك، لوست او علم څومره اهمیت لري او په الهي وحې کې ئې مقام او منزلت څومره لوړ او مهم دی!!

د سورې دوهمه برخه ښیي چې پیغمبر علیه السلام د دغې برخې د نزول په وخت کې خپل دعوت علني کړی او د لومړي ځل لپاره د کعبې خوا ته په لمانځه ودرېدلی. او له دې وروسته ئې د ټولنې له حاکم نظام سره څرګنده او علني مبارزه پیل شوې.

بسم الله الرحمن الرحیم

---

7 Ş r ù%$ÇÌÈ @ã ôÏB `»¡SM$ ,={ ÇÌÈ ,={ “Ï%$ 7Î ÉOó$ ù%$

ÇÎÈ Þèf Ó9 $B `»¡SMO=æ ÇÍÈ É=)ø$ O=æ “Ï%$ÇÌÈ ã•øR$

---

۱- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پیدا ئې کړ. ۲- انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ. ۳- ولوله چې رب دې ډېر کریم دی. ۴- آ چې په قلم ئې پوهه ورکړه.

**۵- انسان ته ئې ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.**

۱- په لومړي آیت کې څو مهمې خبرې زمونږ پام ځان ته جلبوي:
الف: د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پیل شوې او دا ښیي چې د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دی او څومره اهمیت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دی، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پیل کړي.
ب: لوستل د خپل رب په نامه او د هغه په مرسته پیل کړه، هغه رب چې هر څه ئې پیدا کړي، ته او دا هر څه یوازې یو رب لري، چې هم ستا رب دی او هم د نورو ټولو مخلوقاتو رب.
ج: د (اقرأ) له امره معلومېږي چې د وحي فرشتې باید دا لومړی وحي په لیکلې بڼې کې د پیغمبر علیه السلام مخې ته ایښې وي. په دې اړه لاندې روایت پوره وضاحت کوي:
عن عروة بن الزبير أن عائشة زوج النبي صلى الله عليه وسلم قالت كان أول ما بدئ به رسول الله صلى الله عليه وسلم الرؤيا الصادقة في النوم فكان لا يرى رؤيا إلا جاءت مثل فلق الصبح ثم حبب إليه الخلاء فكان يلحق بغار حراء فيتحنث فيه قال والتحنث التعبد الليالي ذوات العدد قبل أن يرجع إلى أهله ويتزود لذلك ثم يرجع إلى خديجة فيتزود بمثلها حتى فجئه الحق وهو في غار حراء فجاءه الملك فقال اقرأ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما أنا بقارئ قال فأخذني فغطني حتى بلغ مني الجهد ثم أرسلني فقال أقرأ قلت ما أنا بقارئ فأخذني فغطني الثانية حتى بلغ مني الجهد ثم أرسلني فقال اقرأ قلت ما أنا بقارئ فأخذني فغطني الثالثة حتى بلغ مني الجهد ثم أرسلني فقال اقرأ باسم ربك الذي خلق خلق الإنسان من علق اقرأ وربك الأكرم الذي علم بالقلم الآيات إلى قوله علم الإنسان ما لم يعلم. رواه البخاري
عروة بن زبیر رضي الله عنه له عائشې رضي الله عنها روایت کوي چې پیغمبر علیه السلام ته تر وحي د مخه رښتونو او صادق خوبونو مخه کړه، هیڅ خوب

به ئې نه لید مګر دا چې د سباوون د رڼا په څېر به روښانه ختلو، بیا یوازیتوب ته متمایل شو، څو شپې ورځې به ئې د حرا په غار کې په عبادت تېرولې، څه خوراك څښاك به ئې له ځان سره واخیست، غره ته به ولاړ، څه وخت به ئې هلته یوازې تېر کړ، بیا به د خدیجې رضي الله عنها خوا ته راغی، ورته آذوقه به ئې له ځان سره واخیسته او غره ته به ولاړ، په همدغو شپو ورځو کې ناڅاپي یوه فرشته ورته راغله او ورته وئې ویل: ووایه! پیغمبرعلیه السلام فرمایي چې ما ورته وویل: زه لوستونکی نه یم، فرشتې په غېږ کې دومره کلك ونیولم چې حوصله مې سر ته ورسېده، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ویل: ولوله! ما ورته وویل زه په لوستلو نه پوهېږم، هغې بیا په غېږ کې ټینګ کړم، دومره چې طاقت مې سلب شو، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ویل ولوله! ما بیا ورته وویل زه لوستونکی نه یم، هغې بیا ټینګ ونیولم، هومره چې بې طاقته شوم، نو پرې ئې ښودم او راته وئې ویل: ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پیدا ئې کړ. انسان ئې له ځوړند شي پیدا کړ. ولوله چې رب دې ډېر کریم دی. هغه چې په قلم ئې ښودنه وکړه. انسان ته ئې هغه څه ورزده کړل چې نه پرې پوهېدو.

د دې حدیث له الفاظو معلومېږي چې حتماً کومه لیکنه د پیغمبر علیه السلام په مخې کې نیول شوې او ترې غوښتل شوي چې وئې لولي، که داسې نه وی نو پیغمبرعلیه السلام به نه ورته ویل چې زه لوستونکی نه یم. د دې په ځای به ئې ورته ویل چې څه ووایم؟

**۲ـ** په دې اړه چې (انسان له ځوړندو پیدا شوی) څو خبرې د توجه وړ دي:

الف: علق د علقة جمع ده، اصلي معنا ئې ځوړند ده او دلته په دې خاطر د جمع په صیغه راغلې چې له انسان نه مراد ټول انسانان دي، یعنې ټول انسانان ئې له ځوړندو شیانو پیدا کړي.

ب: قرآن د ټولو ژوو پیدا ښت له اوبو او د انسان د پیدا ښت لومړی ماده خاوره او د جوړښت پیل ئې له نطفې ګڼي، باید وګورو چې ولې په دې آیت کې د انسان د پیدا ښت پیل له (علقه) ښودل شوی؟ دوه توجیه مومو:

۱ـ ادبي ترکیب د دې تقاضا کوي چې د مخکني آیت په پای کې د (خلق) صیغې ته ورته صیغه د دې آیت په پای کې راغلې وی، تر څو د دواړو فواصل او وزن یو شانته شوی وی.

۲ـ دلته د انسان د پیدایښت دوه ډېر متفاوت حالتونه (کامل انسان) او (یو ځوړند توکی) یو د بل څنګ کې ایښودل شوی، ترڅو په دې سره خپل مخاطب ته ووایي: لکه څنګه چې الله تعالی انسان له یوه ځوړند توکي راپیدا کړي، وده ورکړې او بشپړ انسان ترې جوړ کړي، همدا سې په (وحي)، (قرائت) او (تعلیم بالقلم) سره انسان د پوهې او علم داسې پوړې ته رسوي چې په ډېرو اسرارو پوه شي، په هغه څه چې له دې د مخه او له دې لارې پرته نشو پرې پوهېدی.

ج: انسان ډېر وروسته او په تېرې پېړۍ کې په دې پوه شو چې د مور په رحم کې او د انسان د جوړښت په پیل کې د ماشوم لومړۍ جوړه شوې نطفه د رحم په جدار پورې راځوړند وي چې وروسته بیا د ژوول شوې غوښې ټوټې ته ورته بڼه غوره کړي. دا آیت هم د قرآن یو داسې علمي اعجاز زمونږ مخې ته ږدي چې ساینس د ډېر مخکې تللو وسایلو په مرسته څوارلس پېړۍ وروسته پرې پوه شو.

۳-۴: ولوله چې ستا رب ډېر کریم دی، دا د الله تعالی د کرم او پېرزوینې څرګندنه ده چې انسان د یوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځای ته رسوي چې (کامل انسان) ترې جوړ شي، لیك او لوست ورښیي، انسان یوازینی مخلوق دی چې کولی شي د (لوستلو) له لارې د بل په خبره پوه شي او د (لیکلو) له لارې خپل معلومات خوندي کړي او خپل پیغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قیمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضایع کېدو مخه ونیسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتیا او امتیاز په هیڅ ذیروح کې نه ګورو، الله تعالی په انسان کې دا استعداد او وړتیا ایښې ده چې له (قلم) نه د تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی.

له دې مبارك آیته څو اساسي مطالب استنباطولی شو:

الف: په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ یوه ته پر بل فضیلت.

ب: (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسیله ده، په دې سره انسان د دې مجال ترلاسه کوي چې په ډېرو هغو حقایقو پوه شي چې له بلې لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو

ج: لکه څنګه چې دلته د (علم بالقلم) الفاظ په دې معنا دي چې انسان ته له قلم نه د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کې دا ملکه ایښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمیر ولیکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې نه د زده کړې او تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، همدا راز په نورو آیتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (علمه البیان) او (علم آدم الاسماء کلها) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بیان) ملکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافی‌الضمیر) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو نه په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پیغام تشریح او توضیح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د یوه مناسب نوم ایښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتیب، تنظیم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان یوه ځانګړتیا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت او شرف ورکړی. هغه محترم مفسرین چې د (علم آدم الاسماء کلها) آیه په بلې بڼې تفسیروي او وایي چې اسماء توقیفي دي، د الله له لوري وضع شوي او آدم علیه السلام ته ښودل شوي، سخته اشتباه ئې کړې، تفسیر ئې هم تفسیر بالرأی دی نه تفسیر قرآن بالقرآن او هم د واقع خلاف، عملاً ګورو چې ټول نومونه انسان په خپله وضع کوي، د هر نوې توکي لپاره نوی نوم غوره کوي، که د دوی دا تعبیر ومنلی شي د (علم بالقلم) او (علمه البیان) آیتونه به د دوی د اسلوب له مخې څنګه تفسیروو؟ که خبره داسې وی لکه دوی چې وایي، نو باید د ټولو شیانو نومونه، په ټولو ژبو کې سره ورته وی؟ خو عملاً ګورو چې خبره د دې عکس ده.

سره له دې چې قرآن (قلم)، (ليك) او (لوست) ته دومره اهميت ورکړی او سره له دې چې پيغمبر عليه السلام ته د وحي په پيل کې لومړی لارښوونه د قرائت او قلم په هکله ده او ورته ويل شوي چې قلم د تعليم او تعلم ستره وسيله ده، خو متأسفانه زمونږ په زرو ديني مدرسو کې (قلم) هېر شوی، له دغو مدرسو چې څوك فارغېږي په ليکلو نه پوهېږي!!

**۵**: له دې مبارك آيته څو مطالب ترلاسه کولی شو:

الف: د انسان پر مخ چې د معرفت هره دروازه پرانستل کېږي او په هرې نوې خبرې چې د پوهېدو توفيق ترلاسه کوي، د ده هر( کشف) او په هر سر او راز پوهېدل ئې په حقيقت کې د الله تعالی يوه پېرزوينه ده، دا دروازه د ده له لورې ورته پرانستل کېږي، په دغو حقايقو د پوهېدو توفيق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، لکه څنګه چې قرآن دا مطلب په بل ځای کې په دې الفاظو بيانوي:

وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ: او دوی د ده له علم څخه يوازې په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي.

هر چا ته علم او پوهه دی ورکوي، سترګې، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد ، مفيد او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفيق ترلاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي.

ب: د دې عالم يوه برخه داسې ده چې انسان ئې له وحي پرته له بلې هيڅ لارې نشي پېژندی، الله تعالی د وحي په لېږلو سره انسان ته په هغه څه د پوهېدو امکان هم ميسر کړ چې له دې پرته درك کول او پېژندل ورته ممکن نه وو.

ج: په اصل کې انسان (بې علمه) دی، په تدريج سره زده کړه کوي او علم ترلاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژو له شعور او پوهې سره په دې کې دی چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوي په خته او دماغ کې

اېښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهیم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفید او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زیات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کې ئې اېښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطح لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقایق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) نه په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلی او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) نه د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاتې کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

ÿëô ¨9$ 7În 4<Î bÎ ÇÏÈ ÿ_ÿG©$ש¤ä§ b& ÇÐÈ ÿöÖŠ9 `» ¡ SMÏ$bÎ ÷x .

ÇÑÈ

۶- نه، داسې نده، بې شکه چې انسان حتماً طغیان کړي. ۷- که ئې ځان بې نیازه ولید. ۸- بې شکه چې ورتګ دی ستا د رب په لوري.

۶ـ داسې نه ده چې هر انسان حتماً د خپل اکرم رب د دغو ټولو سترو سترو نعمتونو قدر کوي، د هغو پېرزوینو هم چې د ده مهربان او منعم رب د انسان په شا وخوا کې خواره بې شمېره مخلوقات د ده لپاره او د ده په خدمت کې پیدا کړي او د (علقه) په څېر له وړوکي توکي ئې دی په خپله راپیدا کړ، وده ئې ورکړه کمال ته ئې ورساوو، لیك او لوست او له قلم نه استفاده ئې وروښوده، خپل خاطرات لیکلی

شي او خپله پوهه او تجارب تر نورو انتقالولی شي، د دې په ځای چې د غو پېرزوينو قدر وکړي، د الله تعالی د عناياتو ممنون او مرهون وي، برعکس هغه داسې (ناسپاسه)، کفور او کم ظرفه دی چې د نعمتونو وفرت او کثرت په ده کې د امتنان د احساس په ځای د عصيان او طغيان اراده او عزم راپاروي، سرکښي ته ئې هڅوي، چې کله ځان ورته مستغني او بې نيازه معلوم شي، سرکښي او طغيان کوي، تکبر او لويي کوي او هغه وخت له طغيان او عصيانه لوېږي او له کبر او لويي لاس اخلي چې د استغناء او بې نيازۍ په ځای د احتياج او نيازمندۍ احساس په کې راپيدا شي او ځان محتاج وګوري او دا احساس يوازې هغه وخت په انسان کې راپيدا کېدی شي چې هم خپل رب ښه وپېژني او هم خپل مقام او منزلت او هم د الله تعالی په وړاندې خپله اړتيا او احتياج، د خپل حيثيت او مقام ښه پېژندا او د الله تعالی پېرزوينو ته د احتياج او اړتيا ژور احساس، انسان دې ته هڅوي چې د الله تعالی په وړاندې د عجز سر ټيټ کړي، د دعا لاسونه اوچت کړي او عبادت ته ئې مخه کړي، خو د بې نيازۍ او استغناء کاذب احساس او په خپلو شته وو اتکاء او اتکال او په خپلو شتمنيو اعتماد ئې طغيان او عصيان ته هڅوي، قرآن کريم د انسان دغه د ضعف نقطه څومره ښکلې انځور کړې هلته چې فرمايي:

أَلَمْ تَرَ أَنّ الْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَةِ اللّه لِيُرِيَكُمْ مِّنْ آيَاتِه إِنّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبّارٍ شَكُورٍ* وَإِذَا غَشِيَهُمْ مَوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدّينَ فَلَمّا نَجّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمَا يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا إِلاّ كُلُّ خَتّارٍ كَفُورٍ.

لقمان: ۳۱-۳۲

آيا نه ګورې چې دا بېړۍ د الله په فضل سره په بحرونو کې خوځي، تر څو خپل آيتونه دروښيي، يقيناً چې په دې کې هر صابر او شکر کوونکي ته ډېرې نښې دي او چې کله ئې څپې د سيورې په څېر راګير کړي، نو الله ته په داسې حالت کې دعا کوي چې خپل دين ئې ورته خالص کړی وي، خو چې کله ئې د وچې لورې ته وژغوري نو يوازې ځينې ئې منځ لارې شي (او نور ئې بېرته ظلم او تېرې ته مخه کړي) او زمونږ له آيتونو انکار نه کوي مګر هر عهد ماتوونکی

او ناسپاسه انسان.

ګورئ چې د عجول، ناسپاس او بې عهده انسان وضع څنګه وي، د ستونزو او کړاوونو په وخت کې الله تعالی ته پناه وړي، هغه ته دعا کوي، مرسته غواړي، د اخلاص او مخلصانه بندګۍ ژمنه کوي، خو څو شېبې وروسته او کله چې د مصيبتونو او کړاوونو څپې تېرې شي، له خطر نه وژغورل شي، ساحل ته ورسېږي، له خطرونو وژغورل شي، بيا نو خپلې ټولې ژمنې هېرې کړي، د الله تعالی د پېرزوينو ناشکري کوي!! د هر ناسپاسه او بدعهده انسان حال او کار داسې وي.

په بل ځای کې فرمايي:

وَإِذَآ أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً مِّن بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُمْ مَّكْرٌ فِي آيَاتِنَا قُلِ اللّهُ أَسْرَعُ مَكْراً إِنَّ رُسُلَنَا يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُون * هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ حَتَّى إِذَا كُنتُمْ فِي الْفُلْكِ وَجَرَيْنَ بِهِم بِرِيحٍ طَيِّبَةٍ وَفَرِحُواْ بِهَا جَآءَتْهَا رِيحٌ عَاصِفٌ وَجَآءَهُمُ الْمَوْجُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَظَنُّواْ أَنَّهُمْ أُحِيطَ بِهِمْ دَعَوُاْ اللّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ لَئِنْ أَنْجَيْتَنَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِين * فَلَمَّآ أَنجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي الأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ يَأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا بَغْيُكُمْ عَلَى أَنفُسِكُمْ مَّتَاعَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُكُمْ فَنُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُون * يونس: ۲۱-۲۳

او کله چې خلکو ته د پېرزوينې څه خوند وروڅکو، وروسته له هغه چې کوم کړاو وررسېدلی وي، نابېره له دوی سره زمونږ د آيتونو په هکله د مکر اراده راپيدا شي. ورته وو ايه: الله تعالی په مکر کې تر ټولو سريع دی، بې شکه چې زمونږ رسولان ستاسو مکر کونه ليکي، الله هغه ذات دی چې تاسې په وچه او اوبو کې بيايي، تردې چې تاسې په بېړۍ کې وئ او کښتۍ له سورو سره يوځای له ملايم او خوندور نسيم سره وخوځي او پدې سره خوشحاله شي، خو ناڅاپه تېز باد او طوفان وربانديې راشي او له هر لوري څپې وربانديې راتاو شي او ګومان وکړي چې محاصره شول، پدې وخت کې الله ته پداسې حالت کی دعا کوي (او مرسته ترې غواړي چې په خپل) ديانت کې ورته مخلص شوي وي او وايي: که دې لدې نه وژغورلو نو حتماً به شکر کوونکي بندګان

وو، خو کله چې ئې وژغوري نو بيا (د خپل تعهد خلاف) په ناحقه په ځمکې کې سرکښي او بغاوت کوي. اې خلکو! په يقين سره چې ستاسې سرکښي او بغاوت ستاسې په ضرر ده (دا درکړی شوی فرصت) د دنيوي ژوند يوه متاع ده، بيا مو زمونږ لوري ته راتګ دی او په هغه څه به مو خبر کړم چې تاسو کول.

همدا راز فرمايي:

وَإِذَا مَسَّ الإِنسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنبِهِ أَوْ قَاعِداً أَوْ قَآئِماً فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَآ إِلَى ضُرٍّ مَّسَّهُ كَذَلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ *

يونس: ١٢

او چې کله انسان ته کوم کړاو ورسيږي نو مونږ ته په اړخ پروت، ناست او ولاړ دعا کوي، خو کله چې کړاو ئې ترې لرې کړو داسې درومي لکه چې مونږ ته ئې د هغه کړاو په اړه دعا نه وه کړې چې ده ته رسېدلی وو، مسرفينو ته د دوی کړه وړه داسې ښايسته کړی شي.

د الاسراء د سورې په ۶۷ـ۶۹ آيتونو کې راغلي:

وَإِذَا مَسَّكُمُ الْضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلاَّ إِيَّاهُ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ وَكَانَ الإِنْسَانُ كَفُوراً * أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ثُمَّ لاَ تَجِدُواْ لَكُمْ وَكِيلاً * أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ فِيهِ تَارَةً أُخْرَى فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفا مِّنَ الرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا كَفَرْتُمْ ثُمَّ لاَ تَجِدُواْ لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا *

او چې کله په بحر کې کوم ربړ درورسيږي له ده (الله) پرته ټول هغه ورك شي چې (مرستې ته ئې) رابلئ، خو چې کله مو وچې ته وژغوري نو اعراض او ډډه کوئ او انسان ډېر ناسپاسه دی، آيا له دې خوندي شوي يئ چې د بحر په ژی کې مو ښخ کړي او يا تنده سيلۍ درباندې راولېږي، بيا هيڅ وکيل درته ونه مومئ او آيا له دې خوندي شوي يئ چې يو ځل بيا مو بېرته وروګرځوي او ستاسو د کفر او ناسپاسۍ په وجه د باد تنده سيلۍ درباندې راولېږي او غرق

مو کړي او بیا د دغې سزا په وجه پر مونږ کوم نیوونکی ونه مومئ.

په دغو ټولو آیتونو کې دا حقیقت ستاسو مخې ته راځي چې انسان هغه وخت الله تعالی ته مخه کړي، دعا ورته کوي او عبادت ته ئې چمتو کېږي چې د احتیاج او اړتیا احساس وکړي، د (عبادت) اراده ئې د (نیازمندۍ له احساسه) راولاړېږي، خو چې د استغناء او بې نیازۍ احساس وکړي نو له الله تعالی نه مخ واړوي، د عصیان او طغیان لار غوره کړي، په دې ترتیب ګورئ چې د الله په هکله د انسان معرفت او د ده د ربوبیت په هکله د ده علم او پوهه په انسان کې د نیازمندۍ احساس راولاړوي، د ده دعا له هغه (معرفته) خړوبه کېږي چې د رب العالمین په هکله ئې لري.

۸ـ د دې مبارك آیت لپاره دوه د پام وړ تفسیرونه مومو:

الف: اې ناشکره، عجول او کم ظرف انسانه! بیا ګرځېدنه دې د الله په لوري ده، د دنیا دا څو ورځنۍ غنا او شتمني دې مغرور نکړي او ستا د طغیان سبب دې نشي، مرګ درته کمین کې دی، تر خوا به ئې تېرېږې، په دام کې به ئې لوېږې، ستا طغیان او سرکښي به پای ته ورسوي او د الله تعالی په لوري به دې بوځي.

ب: ستا هر څه په اصل کې د الله تعالی دي، ته چې څه په واك کې لرې، ټول الهي امانتونه دي، اصلي مالك ئې الله دی، ستا ثروت او شتمني، ستا توان او طاقت، ستا وړتیاوې او استعدادونه، ستا هنر او کمال، ستا جاه او جلال، وجاهت او اعتبار ټول الهي عطیه ده، اصلي (مرجع) ئې الله تعالی دی، هغه به د دې په هکله وروستۍ فیصله کوي او په پای کې به دا ټول په میراث پرېږدې او ایکې یوازې به د ده په لوري درومې.

پدې دواړو تعبیرونو کې دوهم ئې زیات دقیق او د آیت له سیاق او سباق سره متناسب دی.

---

#‘ ‰ĝ$’ ?ã b‰. bĵ |M#ä‘& Ç¦È #©' #Œĵ #‰Ťã ÇÈ 4 SŽf “ Ï‰©$|M#ä‘&

©$b'Î L>è/ Ó9& ÇÊÈ #qr > ¤. bÎ M/ä'& ÇÊÈ # q9$Î •B& ÇÊÈ

p¥Û%{ p/É». pŠÏ¹ $R ÇÊÈ pŠÏ¹ $Z9$Î $ÿó Y9 nG^f Ó©ûÍ! ž. ÇÊÈ 3 •f

%Ó$ pèÜé ÿ ž. ÇÊÈ p‹Ï$/"9$ ã%Z™ ÇÊÈ ¼q/Š$R ã%‹ù ÇÊÈ

ÇÊÈ ) >Îl%$

٩- آیا ودې لید هغه چې مخنیوی کړي؟ ١٠- د بنده چې کله لمونځ کړي. ١١- آیا ودې لید که دی په هدایت وي. ١٢- او ګمارنه په تقوی کړي. ١٣- آیا ودې لید ، که دی، تکذیب کړي او دی شا اړوي. ١٤- آیا نه پوهېږي چې الله خو ویني؟ ١٥- نه، داسې نده، که دی منع نشو، حتماً به ئې راکښ کړو د تندي له وېښتو. ١٦- له درواغجن او خطاکار تندي نه. ١٧- نو راودې بلي دی د خپل مجلس ملګري. ١٨- او مونږ به حتماً وبلو څارن ځواکونه پلي. ١٩- نه، داسې نده، اطاعت ئې مه کړه، سجده وکړه ، ځان نږدې کړه.

٩-١٠: آیا هغه څوك دې لیدلی چې د یوه لمونځ کوونکي بنده مخنیوی کوي، د (الله بنده) د (الله له عبادته) منع کوي، خپل زور ځواك د الله تعالی له عبادت نه د مخنیوي په لار کې کاروي، له هغه چا سره ئې دښمنی ته ملا تړلې چې د الله تعالی عبات کوي، دښمني ئې له هغه چا سره نه ده چې د ده په خلاف ئې د جنګ جبهه پرانیستې، وسلې ته ئې لاس اوږد کړی او د ده په ضد ئې جګړې ته تیاری نیولی، بلکې له هغه چا سره دښمني کوي او جګړې ته ئې درومي چې نه ئې له ده سره کوم بد کړي او نه کومه ګناه، له دې پرته بله ګناه نه لري چې په خپل لمانځه سره د خپل رب عبادت کوي. څومره ستر ظلم، څومره ستره، قبیح او شنیع جفا!؟

١١- له لمانځه نه ممانعت او د الله له عبادت نه د یوه عابد مخې ته خنډ

کېدل، هغه وخت لا ډېر قبيح او شنيع حالت او بڼه غوره کړي چې لمونځ کوونکی يو هدايت شوی انسان وي او تقوی او پاك لمنی ته بلنه ورکوي. د قرآن له نظره دا هم شنيع او مردود عمل دی چې څوك د هغه چا مخې ته خنډ شي او د ده په خلاف زور زياتی وکړي چې د (خپل خدای) عبادت هغسې کوي چې د ده خپل زړه ئې غواړي، خو که دا (عابد) بنده په حقيقت پوه او هدايت شوی وي او په ډېره غوره او صحيح طريقه د حقيقي معبود عبادت کوي او نور تقوا، پاك لمنی، له ظلم، فساد او فجور نه پرهېز ته رابلي، په دې صورت کې له ده سره مخالفت او له داسې عبادته ئې مخنيوی، ډېر قبيح او شنيع ظلم دی!! او که دا منع کوونکی له حقايقو انکار کوي، دروغ وايي،او په حق او حقيقت له پوهې وروسته قصداً ترې مخ اړوي او داسې هم نه وي چې يوازې د (جهل) او ړوند، احمقانه (تعصب) په وجه ئې دې مخالفت ته ملا تړلې وي، نو په دې صورت کې تر ټولو د قبيح او شنيع ظلم او جرم مرتکب شوی. قرآن د دې ستر ظالم په هکله فرمايي:

۱۲- ۱۳: أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّى * أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى * آيا ودې ليد، که دی تکذيب کړي او دی شا اړوي. آيا نه پوهېږي چې الله خو (ئې) ويني؟

مګر دا د لمانځه او عبادت مانع او د لمونځ کوونکي عابد بنده په وړاندې خنډ، دروغجن او له حق او حقيقته مخ اړوونکی، څنګه دا جرأت کوي او څنګه ئې دغه شنيع ظلم ته ملا تړلې، آيا ګمان کوي چې الله تعالی ئې نه ويني؟! آيا په الله تعالی نه ايمان بې باکه کړی او ده ته ئې د دې شنيع او قبيح ظلم جرأت ورکړی؟ د دې مبارکو آيتونو لمن ډېره پراخه او نطاق ئې ډېر وسيع دی او يوازې د پيغمبر عليه السلام په خلاف د ابو جهل په هغه سپك چلند پورې محدود نه دی، بلکې ټولو هغو کسانو ته متوجه دی چې د الله تعالی له لمانځنې او عبادت سره حساسيت لري، مخه ئې نيسي او له عبادت کوونکو سره دښمنۍ ته ملا تړي.

۱۴ ـ داسې نه ده چې دوی ئې انګېري، الله تعالی د دغو ټولو دردوونکو صحنو شاهد او ناظر دی، حتماً به له دغو ظالمانو سره محاسبه کوي، که له (ممانعت) نه لاس وانه خلي او د (حقيقت له تکذيب) او له (حق نه اعراض) څخه ډډه

ونکړي، حتماً به ئې د تندي له وېښتانو کلك ونیسو او د دوزخ خوا ته به ئې راکښ کړو، هماغسې لکه په دنیا کې چې ذلیل او سپك مجرم تر وېښتانو نیول کېږي، محکمې ته راکښل او مجازات کېږي.

۱۵ـ په دې مبارك آیت کې د تندي ویښتان (الناصیه) د کاذبه (دروغجن) او خاطئه (خطاکار) په نامه یاد شوي او دا د قرآن یو بل ستر علمي اعجاز زمونږ مخې ته ږدي؛ د شلمې پېړۍ په وروستیو او د هغو څېړنو په ترڅ کې چې د انسان د مغز د مختلفو برخو د وظایفو په اړه وشول، څېړونکي پوهان په دې حقیقت پوه شول چې په سترو سترو جنایتکارانو کې د دوی د مغز ځانګړې برخه زیاته وده کوي، د مغز دغه برخه د تندي تر وېښتانو لاندې پرته ده.

۱۶- نو دا ستر مجرم دې د خپلې جرګې ملګري راوبلي، له چا چې د مرستې، حمایت او ملګرتیا طمع لري، د چا ملګرتیا چې دی مغرور کړی، هماغه چې ابوجهل او امثال ئې پرې حساب کوي، د ټولو مرسته دې ترلاسه کړي او ودې ګوري چې پایله به ئې څه وي؟!!

۱۷- مونږ به هم خپل زبانیه (انضباطان) راوغواړو، زبانیه هغو انضباطانو ته ویل کېږي چې د واکمنانو په دربار کې تیار او د هر امر تعمیل ته چمتو ولاړ وي او هغه څوك له درباره باسي چې بې ادبي وکړي او د واکمن د قهر او غصې ور وګرځي. نو دی دې خپل (نادیه) راوبلي او مونږ به خپل (زبانیه) ته د رټلو امر وکړو.

۱۸ـ داسې نه ده چې دی ګمان کوي، د ده نادیه هیڅ نشي کولی، ګواښونو ته ئې اعتناء مه کوه، د تهدیدونو پروا ئې مه لره، د ده پرېکړې مه منه، په ډاډه زړه او د ده ګواښونو او لافو باټو ته په بشپړې بې اعتنائي سره د خپل رب عبادت کوه، خپل لمونځ کوه او د خپل رب په وړاندې خپلې سجدې کوه او له دې لارې خپلې اړیکې له خپل رب سره مزید ټینګې کړه او لا زیات ورنږدې شه. د دوی ګواښونه د دې په ځای چې تا له خپل رب څخه لرې کړي، برعکس باید لازیات دې ورنږدې کړي. ګورئ چې دلته (سجده) او (تقرب) توأم، یوه د بل څنګ ته او پرله پسې راغلي او ښیي چې سجده د تقرب ستره او اساسي وسیله ده، انسان خپل رب ته نږدې

کوي، فاصله ئې له خپل مولا سره رالنډوي. څوك چې کبر او لويي کوي، د (زبانيه) په لاس به د الله تعالى له درباره رټل کېږي او څوك چې (سجده) کوي د خپل رب په وړاندې خشوع او خضوع کوي د آسمانونو لوړو ته اوچت درومي او ذوالعرش العظيم رب ته نږدې کېږي.

سجده په حقيقت کې د الله تعالى په پښو کې لوېدل دي، داسې لکه يو ډېر محتاج او نيازمند انسان چې د بل په پښو کې لوېږي او له هغه نه د ترحم او زړه سوي طمع کوي او مرسته ترې غواړي، اسلام دا حرکت له الله تعالى پرته د بل په وړاندې تحريم کړی او الله تعالى ته ئې مختص کړی، د الله په وړاندې سجده مونږ ته دا درس راکوي چې د بل په پښو کې به له لوېدو ډډه کوو. د ثوبان رضي الله عنه په روايت کې راځي:

عن ثوبان مولا رسول الله صلى الله عليه وسلم قال سألت عن ذلك رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال عليك بكثرة السجود لله فإنك لا تسجد لله سجدة إلا رفعك الله بها درجة وحط عنك بها خطيئة. رواه البخاري

له ثوبان رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل: سجدې دې زياتې کړه، ته چې الله تعالى ته هره سجده کوې نو الله تعالى په دې سره ستا مقام يوه درجه لوړوي او په دې سره يوه ګناه درڅخه رژوي.

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال أقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد فأكثروا الدعاء فيه. رواه مسلم

ابو هريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: انسان د سجدې په حالت کې تر بل هر حالته الله ته ورنږدې وي، نو په خپلو سجدو کې خپلې دعاګانې زياتې کړئ (چې اجابت ته نږدې وي).

# القدر

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم (القدر) دی چې له لومړي آیته اخیستل شوی، پنځه آیتونه لري، چې ټول ئې د لومړي آیت وروستي لفظ (القدر) ته ورته هموزنو صیغو پای ته رسېدلي. په مکه مکرمه کې نازله شوې. که څه هم ځینې مفسرین ئې مدني سوره ګڼي خو د سورې له متن، د بیان له انداز او څرنګوالي او له مکي سورتونو سره ئې له یورنګوالي او شباهتونو نه معلومېږي چې دا سوره په مکي دور کې نازله شوې.

د بحث محوري موضوع ئې د قرآن عظمت بیانول دی، د قرآن جلال او عظمت دومره لوړ او اوچت دی چې د نزول شپه ئې الله تعالی د لیلة القدر (د قدر شپه) ونوموله، د ارزښت شپه، نه با ارزښته شپه، هغه شپه چې په خپله ارزښت دی او د ارزښتونو لپاره ملاك او معیار، تر زرو میاشتو غوره، یعني د انسان تر ټول عمر غوره، دا د برخلیك شپه ده، په دې کې د انسان او ملتونو برخلیك ټاکل کېږي، چا چې د دې شپې قدر وکړ او هغه ستر الهي نعمت ته ئې په درنه سترګه وکتل چې په دې شپه کې د انسانانو په برخه شوی، دا ئې خپل کړ، وئې ساتو او شکر ئې په ځای کړ، عزت او عظمت ته به رسي او چا چې د دې شپې عظمت ته اعتنا ونکړه، هغه نعمت ته ئې پام ونکړ چې دا د (قدر شپه) ئې ظرف وو، په همدې کې له لوړ آسمانه

ځمکې ته راغلی، نو له سپکاوي او ذلت سره به مخامخ او په الهي عذاب او نقمت به اخته شي.

د (مقدراتو) په دې باعظمته شپې کې د هر انسان برخليك د ده د ژوند په ټولو برخو کې ټاکل کېږي، دا ځکه چې په هر کار د ګمارل شوو فرشتو له هرې ډلې او صنف نه ځينې له خپل سالار جبرئيل عليه السلام سره يو ځای ځمکې ته راځي، د خپل رب په حکم او لارښودنه ټول له نظره تېروي، د هر يوه (ارزښت) معلوموي، د هر چا دريځ د دې (ليلة القدر) او د هغې د مظروف (قرآن) په هکله معلوموي، د ده د مقدراتو په پاڼې کې ئې ليکي او د دې له مخې د ده برخليك ټاکي. دا شپه تر سباوونه د (سلامتی) او له هر آفت او بلا نه د نجات پيغام له ځانه سره لري او فرشتې د هغه چا په لټه کې وي چې په دې ارزښتناکې شپې کې د سلامتيا او نجات لارې لټوي او هغه (قرآن) ته مخه کوي چې په دغې شپې کې نازل شوی او دومره اهميت ئې دې شپې ته ورکړی، د (قدر شپه) هغه چا موندلې چې په هغې کې دا عزم او هوډ وکړي چې له دغې شپې وروسته به (قرآن) د ده د ژوند د تيارو شپو مشعل وي.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

í‰ô)ø‹$s"#ø ÇÊÈ í‰ô)ø‹$s"#ø $B 71'Š& $Br ÇËÈ í‰ô)ø‹$sÏ#ø 'Î çµ»Yø9R& $RÎ)

9ö& È@ä. `B NÍköÎ/ ÈbøŒÎ/ $kŽÏù ßyr"9$r èp3Í»=J9$# A"\?ÇÌÈ 9ö- É# ø9r& ôB ׎ö{

ÇÎÈ Ìôfø9$# ÆìÎ=ôÜB 4Ó®Lym 'Ïd D»=™ ÇÍÈ

---

۱- بې شکه چې نازل مو کړ د قدر په شپه. ۲- او څه شي ته خبر کړې چې څه ده دا د قدر شپه. ۳- تر زرو مياشتو غوره ده د قدر شپه. ۴- په دې کې

راکوزېږي د خپل رب په اذن ، روح او د هرکار فرشتې. **۵**- سلامته ده دا شپه د سباوون تر ختو.

۱ـ د لومړي آیت په اړه څو اساسي ټکي د ذکر وړ دي:

الف: که څه هم په (انزلنٰه) کې د ضمیر مرجع نه په خپله همدې آیت کې او نه په ټولې سورې کې نه دی ښودل شوې، خو د کلام له فحوی معلومېږي چې قرآن ته اشاره کوي او په دې کې ټول مفسرین سره متفق دي.

ب: د قرآن انزال او راکوزول هم په دې معنا ده چې دا الهي پیغام بر له آسمانونو لاندې ځمکې ته رالېږل شوی او هم په دې معنا چې د دې لوړ الهي کلام اوچته مستوی د انسان د درك او فهم کچې ته راکوزه شوې، یعني الله تعالی د خپل لوړ او باعظمته کلام مستوی دومره راکوزه کړې چې د ځمکې پر سر اوسېدونکي انسان ته د فهم وړ شي.

ج: د انزلنٰه (مونږ قرآن نازل کړ) په هکله ځینې وايي چې قرآن د وحي د پیل په دغې شپې کې ټول یو ځای پر پیغمبر علیه السلام نازل شوی!! خو دا رایه د قرآن د هغو صریح آیتونو مغایر ده چې د قرآن په تدریجي نزول باندې تأکید کوي. ځینې مفسرین دا وايي چې قرآن د لیلة القدر په دغې شپې کې ټول یو ځای له عرشه د دنیا آسمان ته رالېږل شوی، دوی د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په یوه روایت استناد کوي. راشئ وګورو چې د قرآن نور آیتونه د قرآن د نزول په اړه څه وايي، په کار ده د دې آیت تفسیر تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کې ولټوو او هغه رأیه لرې وغورځوو چې له قرآني شرحې سره تصادم کوي. قرآن په دې هکله په ډېر صراحت سره فرمايي:

وَقُرْآناً فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنْزِيلا * الاسراء:**۱۰۶**

او قرآن مو ټوك ټوك کړ، ترڅو ئې په ځنډ ځنډ سره پر خلکو ولولې او په ځانګړي کوزولو سره مو راکوز کړ.

همدا راز فرمايي:

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلاً * فرقان : ۳۲

او كافرانو وويل: ولې دا قرآن په يوه وار ټول يو ځای پر ده نه دی نازل شوی؟ داسې مو وكړل تر څو ستا زړه پرې مضبوط كړو او ورو ورو ئې ولولو.

دا آيتونه په ډېر وضاحت سره ښيي چې د قرآن (نزول) تدريجي، ټوك ټوك، ورو ورو او له ځنډ او وقفې سره توأم وو او دا د هغو خلكو په رأيې د بطلان كرښه راكاږي چې پر پيغمبر عليه السلام د قرآن په يو وار او يو ځای نزول باور لري.

د: هغه څوك چې اوربدلي ئې دي يا ګمان كوي د انزال او تنزيل تر منځ توپير شته، يو ئې تدريجي راكوزېدل او بل ئې يو ځايي راكوزېدل افاده كوي، اشتباه ئې كړې او دا ځكه چې قرآن په ځای ځای كې د باران د ورېدو لپاره د (انزلنا) صيغه كارولې، چې په ټولو كې تدريجي ورښت ترې مراد دی نه د ټولو اوبو يو ځايي راتوېدل. د دوی اصلي مشكل دا نه دی چې د نحوې په كوم كتاب كې ئې دا قاعده لوستلې، اصلي مشكل ئې دا دی چې پيغمبرعليه السلام او ائمه عالم الغيب ګڼي او دا خبره د دوی له غلطې عقيدې سره سمون نه خوري چې پيغمبر عليه السلام په سر كې او د وحي په لومړي ورځ د قرآن له هغو برخو خبر نه وو چې وروسته وروسته پرې نازله شوې. د غلطې عقيدې په نسبت جاهلانه تعصب دغسې وي، د دې په ځای چې خپله غلطه عقيده د سمې خبرې په اورېدو تصحيح كړي برعكس سمه خبر غلطه توجيه كوي، حتی د قرآن خبره.

هـ: قرآن په دې خبرې شهادت وركوي چې پر پيغمبر عليه السلام باندې د وحي د نزول پيل د روژې په مباركې مياشت كې شوی، لكه چې فرمايي:

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْءَانُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ * البقرة: ۱۸۵

د روژې مياشت هغه ده چې قرآن په كې نازل شوی، د خلكو لارښود، څرګندې لارښوونې او فرقان (د حق او باطل تر منځ د تفريق او توپير ذريعه)

له دې آيته په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې ليلة القدر د روژې د مياشتې

يوه شپه ده. د دغې مياشتې د درنښت لپاره پر مونږ د دې مياشتې روژه فرض شوې او دا د هغه ستر نعمت د شکر ادا کولو لپاره ده چې د قرآن په بڼه کې الله تعالی پر مونږ پېرزو کړی او د دې مياشتې هغه ځانګړې شپه چې قرآن په کې نازل شوی د دې لپاره د (قدر شپه) نومول شوې او تر زرو مياشتو غوره ګڼل شوې چې د قرآن د نزول ستره پېښه په کې رامنځ ته شوې، د دې مياشتې او هغې ځانګړې شپې اهميت ئې د هغې سترې حادثې په وجه دی که نه نو، ايام او اوقات ټول يو شانته دي او څه توپير پکې نشته.

(قدر) د ارزښت او اندازې په معنا ده، قرآن په هغې شپې کې نازل شوی چې د ارزښتونو شپه، داسې نه دي ويل شوي چې باارزښته شپه ده، بلکې ويل شوي چې دا د ارزښت شپه ده، ، ولې دا شپه د (قدر شپه) ده؟ دا د دې لپاره چې عظيم الشأن قرآن په کې نازل شوی او دا شپه د برخليك او تقدير شپه ده او دا ځکه چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی چې د انسانانو برخليك ورپورې تړل شوی، د انسانانو او ملتونو برخليك د دغه قرآن له مخې ټاکل کېږي، چا چې پرې ايمان راووړ او هغه ئې د خپل ژوندانه مشعل او لارښود وګرځاوو؛ عزت، سعادت او د دنيا او آخرت فلاح او بريا ترلاسه کوي او چا چې ترې مخالفت وکړ؛ له سپکاوي او ذلت سره به مخامخ کېږي. نو ځکه د قرآن د نزول شپې ته د (قدر شپه) ويل شوې، هغه مياشت چې قرآن په کې نازل شوی، د رمضان مياشت، د الله په نزد کې دومره ارزښت لري چې نفل ته ئې د فرض اجر ورکوي او فرض ته ئې د نورو وختونو د اوياوو فرضونو په اندازه اجر او د دغې خاصې شپې مقام او منزلت هومره لوړ دی چې تر زرو مياشتو (د انسان د ټول عمر معادل) غوره دی، له دې نه معلومېږي چې له قرآن سره يوه شېبه تېرول تر هغو کلونو کلونو غوره دی چې په بل څه کې تېرېږي، له دې نه پوهېدی شې چې له قرآن سره ستا د مشغولتيا قدر او ارزښت په الهي معيارونو کې څومره لوړ دی؟

پيغمبرعليه السلام په دغه کتاب سره چې د (قدر په شپې) کې نازل شو، د تاريخ مسير بدل کړ، د عربو برخليك په خاصه توګه بدل کړ او د ټولو انسانانو

برخليك ئې په عامه توګه، له يوه وېشلي صحرايي قومه او له مختلفو ولسونو او قومونو نه ئې داسې ستر متحد امت جوړ کړ چې په تاريخ کې ئې بېلګه نشو موندلی، د دعوت په پيل کې ئې له دې قرآنه پرته هيڅ څه نه درلودل، نه سلاح، نه مال دولت، نه د قوم ملاتړ، نه لښکرې، نه د ځمکې پر سر مل او ملاتړی، يتيم دنيا ته راغی، په وړوکتوب کې د پلار، مور او نيکه له پالنې محروم شو، خپل قوم او سردارانو ئې ورسره د شديد مخالفت ملا وتړله، له خپل کلي هجرت ته اړ شو، خو په دغه (قرآن) سره د شر او فساد په ټولو مجهز او مسلط ځواکونو غالب شو.

و: له دې آيته په ځرګنده معلومېږي چې د پيغمبرعليه السلام بعثت د رمضان په مياشت کې او د (ليلة القدر) په شپه واقع شوی هر هغه روايت چې د پيغمبرعليه السلام د بعثت لپاره د بلې نېټې ښودنه کوي، بې بنسټه روايت او له قرآن سره متصادم روايت دی.

ز: اما دا چې د روژې د مياشتې کومه شپه (ليلة القدر) ده؟ په دې هکله متعدد روايات او بېل بېل نظريات شته، د امت اکثر علما په دې نظر دي چې د قدر شپه بايد د روژې د مياشتې د وروستۍ لسيزې په طاقو شپو کې ولټوو، يوه د دغو شپو: ۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹

۲-۳: آيا پوهېږې چې (ليلة القدر) څه ده؟، تر زرو مياشتو غوره، په دې شپه کې عبادت د زرو نورو شپو تر عبادته زيات ارزښت او اجر لري او که د دې شپې قدر دې وکړ، ويښ او په دعا او عبادت لګيا وې، دا پرېکړه دې وکړه چې قرآن، د دې شپې د قدر او ارزښت اصلي لامل، به له دې وروسته ستا د لارې مشعل او د ژوند لارښود وي، نو په دې صورت کې ستا دغه شپه ستا تر ټول عمر غوره ده، خو که داسې ونکړې، قرآن ته اعتناء ونکړې، رجوع ونکړې او د متابعت ژمنه ورسره ونکړې او له همدې شپې وروسته د دې قرآن په رڼا کې خپل ژوند او حرکت پيل نکړې، هيڅکله به د قدر شپه ونه مومې او د (ليلة القدر) د موندلو په طمع ستا ويښ پاتې کېدل به بې نتيجې او بې حاصله وي.

۴- يو له هغو مواردو چې په ترجمه کې ئې د مفسرينو تر منځ زيات اختلاف

شته، د دې آيت دا برخه ده: (من کل امر)، چې د ځينو په اند (من) د (ب) په معنا ، د ځينو د (ل) په معنا او د ځينو له نظره (من سببيه) او لاندې ترجمې ئې کړې دي:

- ملائکې د هر کار له امر سره ځمکې ته راځي.
- ملائکې د هر کار د سرته رسولو لپاره ځمکې ته راځي.
- ملائکې د هر کار لپاره ځمکې ته راځي.

ځينې نور بيا وايي چې دا فقره په امر نه بلکې په سلام پای ته رسي او دا برخه په اصل کې داسې ګڼي: من کل امر سلام. او داسې ئې ترجمه کوي: د قدر شپه له هره لحاظه سلامتيا ده.

خو د پورتنيو تعبيرونو هيڅ يوه ته د انسان د زړه ور نه پرانستل کېږي، په څو دليله:

الف: دا آيت بايد د امر په صيغې پای ته رسېدلی وي، دا ځکه چې د مخکنيو او وروستنيو آيتونو فواصل د همدې تقاضاء کوي. نور آيتونه په دغو الفاظو پای ته رسېدلي: القدر، شهر او فجر، دې ته په پام سره بايد دا آيت هم د (امر) په صيغې پای ته رسېدلی وي نه په (سلام) سره، په سلام سره ئې پای ته رسول د سورې ښکلی وزن او ترکيب له منځه وړي.

ب: په پورتنيو ټولو تعبيرونو کې (من) په خپلې اصلي معنا نه دی اخيستل شوی، اصلي معنا ئې د پېښتو (له) ده.

که لږ ځير شو نو متوجه کېږو چې د (من کل امر) فقره يوازې له (الملائکه) سره مربوط کېدی شي او په اصل کې د الفاظو ترکيب او ترتيب داسې دی: (تنزل الملائکة من کل امر و الروح باذن ربهم)، خو د وزن او قافيې د مراعات لپاره (من کل امر) د آيت پای ته انتقال شوی او د آيت معنا داسې ده: د هر کار مربوط ځينې فرشتې او په هر ځانګړي کار مؤظف ټولګي نه به ځينې له جبرئيل عليه السلام سره يو ځای د الله تعالی په إذن ځمکې ته راکوزېږي. په دې پوهېږو چې فرشتې بېل بېل ټولګي لري، په دوی کې هم د وظايفو او دندو له لحاظه توپيرونه شته او هم د ځواك او توان له لحاظه، هر ټولګی په خاص کار ګمارل شوی، د قدر په شپه د

فرشتو د هر ټولګي څخه ځيني نه ټول، له خپل سالار جبرئيل عليه السلام سره يو ځای ځمکې ته راځي.

**۵**.دا شپه تر سباوون پورې سلامتيا ده. خو د دې خبرې معنا څه ده؟

په دې پوهېږو چې دا سلامتيا نه خو په دې معنا ده چې په دې شپه به هيڅ آفت او مصيبت نه نازلېږي او نه په دې معنا چې هيڅ ګناه به په کې نه کېږي او نه په دې معنا چې په دې شپه کې به له هر شر او ضرر نه خوندي يو، دا تعبيرونه له واقعيتونو سره اړخ نه لګوي او هغه څه چې دا آيت ئې افاده کوي له دغو تعبيرونو پرته بل څه دی. د دې لپاره چې د دې آيت صحيح او سمه معنا پيدا کړو بايد په خپله قرآن ته رجوع وکړو، قرآن په بل ځای کې د قدر د شپې په هکله فرمايي:

وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ * إِنَّآ أنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ * فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ: الدخان: ۲-۴

قسم په دې څرګند کتاب. چې مونږ په مبارکې شپې کې نازل کړی، بې شکه چې د هر حکيمانه کار پرېکړه په (دې شپه) کې کېږي.

په دې آيت کې د قرآن د نزول د شپې په اړه څو خبرې شوې:

الف: مبين کتاب په کې نازل شوی.

ب: دا شپه ډېره بختوره او مبارکه شپه ده.

ج: د هر حکيمانه کار پرېکړه په دې شپه کې صادرېږي.

دغو آيتونو ته په پام سره دا خبره درك کولی شو چې سلامتيا هم د دغې شپې يو صفت دی، داسې لکه د الدخان د سورې په پورتنيو آيتونو کې چې ئې (مبارکه) صفت دی، يعني دا د (سلامتيا) شپه ده، ستا سلامتيا په دغې بختورې، مبارکې او له سلامتيا ډکې شپې کې مضمر ده، دا شپه د سلامتيا له پيغام سره ستا خوا ته درځي، ستا برخليك په کې ټاکل کېږي، که په دې شپه کې د الله تعالی مأمور فرشتې تا داسې وومي لکه چې د دې مبارکې شپې تقاضا ده، ټولې به ئې پر تا سلام وايي او ستا په برخليك پاڼې کې به سلامتيا درته ليکي، خو که ته د دې شپې د سلامتيا له پيغامه څه ترلاسه نکړی شې، ستا وضعيت او ستا عزايم د دې شپې د

غوښتنو او مقتضياتو مغاير وو، نو د دې شپې له فضيلت او بركاتو به محروم وې او دا سعادت به دې په برخه نشي چې دا فرښتې ستا د برخليك په پاڼې كې د حكيمانه او غورو كارونو د سرته رسولو توفيق وليكي، د مخكې په څېر به په ناسمو كارونو كې مشغول پاتې شې.

ځينې داسې ګمان كوي چې (ليلة القدر) او په دې كې (د دعا د اجابت شېبې)، لنډې څو شېبې دي، چې د كومې صاعقې او برېښنا په څېر، سريع او په منډه د انسان له څنګه تېرېږي، كه په دغو لنډو شېبو كې ويښ وې، دعا دې وكړه، نو د قدر شپه دې موندلې او د زړه مراد ته رسېدلی يې، كه نه نو ترې محروم شوې او دعاګانې دې هدر شوې!! نه پوهېږو دا غلط تصور او ناسمه انګېرنه ئې له كومه ځايه ترلاسه كړې؟ په داسې حال كې چې قرآن په صراحت سره فرمايي چې دا ټوله شپه د قدر شپه ده، د شپې له پيل نه د سباوون تر راختو، د دې شپې په هر ساعت او هرې شېبې كې ستا عبادت ارزښمند كېږي او دعاګانې دې مستجاب.

ښايي څوك ووايي: ما د روژې د مياشتې د وروستۍ لسيزې ټولې طاقې شپې په ويښه او دعا او عبادت كې تېرې كړې، خو نه مې د قدر شپه وموندله او نه مې دعاګانې قبولې شوې!! دې ګران دوست ته دوه عرايض لرو:

الف: تا د قدر شپه موندلې، په هغې كې ويښ وې، دعا او عبادت دې كړی، خو هغه نه پېژنې، په معنا ئې نه پوهېږې، د دې شپې غوښتنې دې نه دي پوره كړې، هغه پيغام دې نه دی ترې اخيستی چې دا شپه ئې له ځان سره لري او هغه څه ته دې پام نه دی كړی چې دې مباركې شپې ته ئې دا مقام او منزلت وركړی!!

ب: ته په دې هم لا نه ئې پوه چې الله تعالی د خپل بنده هره دعا قبلوي، د قدر په شپه كې هم په نورو شپو او شېبو كې هم، پيغمبرعليه السلام فرمايي چې الله تعالی ته له دې حيا ورځي چې د هغه دعا كوونكي بنده لاسونه تش پرېږدي، چې د ده په لوري ئې اوږده كړي، الله تعالی د بنده هره دعا اوري او قبلوي يې، يا خو همغه څه وركوي چې ده په خپلې دعا كې غوښتي، يا ئې تر دې غوره عوض وركوي، يا ئې د ده آخرت ته ذخيره كوي او يا د دغې دعا په وجه هغه مصيبت له ده

دفع کوي چې ورته مقدر شوی. په دې کې شك مه کوه چې الله تعالی هره دعا قبلوي مخصوصاً د قدر د شپې دعا.

د انس رضي الله عنه په یوه روایت کې راغلي:

عن أنس قال: قال النبي صلى اللّه عليه و سلم: "إذا كان ليلة القدر نزل جبريل في كبكبة من الملائكة, يصلون ويسلمون على كل عبد قائم أو قاعد يذكر اللّه تعالى. رواه البيهقي

له انس رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلى اللّه عليه وسلم وفرمایل: چې کله د قدر شپه وي، جبرئیل د فرشتو په ټولګي کې راکوز شي او په هر هغه بنده ثنا او سلام وایي چې په ولاړه یا ناسته د الله تعالی ذکر کوي.

د رمضان د میاشتې د وروستی لسیزې په طاقو شپو کې څو کارونه وکړئ ترڅو د قدر د شپې (فیض) مو په برخه شي:

۱- کلك او صادقانه تصمیم و نیسئ چې له دې وروسته به د ژوند په ټولو برخو کې قرآن ستاسو لاربنود وي.

۲- دا شپې په عبادت او د قرآن په تلاوت کې تېرې کړئ.

۳- د پیغمبرعلیه السلام له مبارك ارشاد سره سم د دې شپې دعا مو باید دا وي:

اللهم انك عفو كريم، تحب العفو فاعفو عني. بخاري و مسند احمد

اې بارئ خدایه! بې شکه چې ته کریم عفو کوونکی یې، عفو دې خوښېږي، ما ته عفوه وکړه. (زما له ګناهونو راتېر شه)

# البينة

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم (البينه) ده چې له لومړي آيته ئې اخيستل شوی، اته آيتونه لري، ټول آيتونه ئې ورته فواصل لري او د لومړي آيت د (بينة) په څېر دي، په مدينه منوره کې نازله شوې. ځينې مفسرين ګمان کوي چې دا به مکي سوره وي، په داسې حال کې چې د سورې متن او د آيتونو ترکيب ئې په دې شهادت ورکوي چې دا به په مدينه منوره کې نازله شوې وي، دا ځکه چې د اهل کتاب يادونه په کې شوې او مخصوصاً چې دلته د اهل کتاب نوم له مشرکينو مخکې اخيستل شوی، له اهل کتاب سره منازعه په مکې کې سابقه نلري، په مکي سورتونو کې د دوی او له دوی سره د منازعې يادونه نه کېږي، دا منازعه په مدينه کې پيل شوه او يوازې په مدني سورتونو کې د دوی په هکله مفصل بحثونه ګورو. د آيتونو اوږدوالی ئې هم مدني سورتونو ته ورته دی.

د سورې په پيل کې د پيغمبرانو د بعثت (فلسفه) او (ضرورت) بيان شوی، بيا د اهل کتابو تر منځ د (تفرقې او اختلاف) لاملونه او د هغو خلکو د ډلې ډلې کېدو عوامل توضيح شوي چې پيغمبران له ځرګندو لارښوونو سره ورته راغلي او دا مونږ ته واضح کوي چې په (کتاب د پوهې) او د (کتاب د حمل) دروغجنو مدعيانو

نه د (جهل) او د (حجت او بينې) د نشتوالي په سبب او نه هم د دې لپاره له دين او پيغمبرانو عليهم السلام سره اختلاف کړی چې په دين او هغو لارښوونو کې چې پيغمبرانو عليهم السلام دوی ته وړاندې کړې، کوم اغماض او ابهام وو او دوی ئې په حقيقت نه دي پوه شوي، د هيڅ زمانې الهي دين له مخکني او وروستني سره هيڅ توپير نه لري، پيغام ئې، محتوی ئې، اصول ئې، لارښوونې ئې، احکام او غوښتنې ئې ورته دي، دين تل خلکو ته ويلي: يوازې د يوه الله عبادت وکړئ، خپل دين په شرك مه لړئ، ماسوی الله ته مه سر ټيټوئ او مه لاس اوږدوئ، له سمې لارې کيڼ او ښي لوري ته مه کږېږئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ، د ربښتوني او قيم دين مشخصات تل دغه وي. په پای کې دا توضيح کوي چې خلك د پيغمبرانو او د دوی د دعوت په وړاندې په دوو ډلو وېشل کېږي:

۱ـ ځينې په ځرگنده د کفر، انکار او مخالفت لاره غوره کړي او ځينې ئې له دې سره سره چې په پيغمبر او کتاب ئې د ايمان دعوا کوي خو په حقيقت کې کافر وي، گمان کوي چې په الله تعالی باور لري خو مشرك وي، دوی د ځمکې په سر تر ټولو بد مخلوق او پای ئې دوزخ دی چې د تل لپاره به په کې پاتې وي.

۲ـ ځينې د ايمان او صالح عمل لار غوره کړي، دوی تر ټولو غوره مخلوق او ځای ئې تلپاتې جنت دی، الله به له دوی راضي وي او دوی به له الله تعالی، دا هغه کسان دي چې خپل رب ئې سم پېژندلی او د هغه له عصيان او سرغړاوي نه وېره لري.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

Näïü 4m ûüÅÿZã ûüÏÎô B$r É »GÅ$È@d& ôB (rãÿ. ûïÏ%$Çã/ ó9

$Br ÇÌÈ pJÍh Ò çä $Žï ÇÌÈ z•gÜB $ÿzçå¼ (qè=/ « $`B Aqß‘ ÇÌÈ pZÉi$

{ÿöÊÉ$Br ÇÍÈ pZÉ$Sâÿä!` $B Ÿ‰è/ .`Ï žwÎ| = »GÅ$(qêèéûïŸ%$-Sÿ?

o4. "9$(qêšãr o4‹Á 9$(qß‹Éãr ä$ÿZãn ûïÏ$!$Sã ûüÁÎûè©$(r‰ç‹Ï žwÎ

ÇÎÈ pJÍh)$ßƒÏ 7ÿŒr

١- كافر شوي كتابيان او مشركان به رابېل شوي نه وو، تر څو دوی ته بينه (څرګندونكې) نه وای راغلې. ٢- د خدای رسول، چې پاكيزه صحيفې لولي. ٣- په كې سمې سنجيده ليكنې. ۴- او بېل بېل نشول هغه چې دا كتاب وو وركړی شوی، مګر وروسته له هغه چې ورته راغله دا څرګنده نښه. ۵- او نه وو ګمارل شوي له دې پرته په بل څه چې د الله عبادت وكړي، خالصونكي ورته دين، حنيف او پر دې چې لمونځ قائم كړي او زكات وركړي او همدا دی قيم دين.

١ـ د دې مبارك آيت دوه تفسيرونه شوي:

الف: دا آيت د كافرو كتابيانو او مشركانو (حال) بيانوي، په دې معنا چې كافران، كه دا (اهل كتاب) دي چې په خپل پيغمبر او خپل كتاب د ايمان دعوا كوي او كه دا مشركان دي چې نه په كوم كتاب باور لري او نه په كوم پيغمبر، هيڅ يو ئې له خپل كفر نه لاس اخيستو ته تيار نه دي، له خپلو غلطو انګېرنو، باورونو او تګلارو نه تېرېږي، نه په خپلو زړو باورونو كې تغيير ته تيار دي او نه د خپلې ټولنې په مخكني وضعيت كې بدلون ته، ورسره عادت شوي، د خپلې ټولنې د ګنده محيط او د خپلو ګنده افكارو ګنده بوی نشي احساسولی او دې ته چمتو نه دي چې ترې ووځي، مګر دا چې كوم پيغمبر ورته راشي، له څرګندو نښو سره، د دوی سترګې پرانېزي، له تيارو ئې وباسي او سمه لار وروښيي.

ب: په دوهمې توجيه کې دا آيت د کافرانو د (حال) بيانولو په معنا نه بلکې د (مقال) په معنا اخيستل شوی، يعني دلته د کافرانو دا وينا رانقل شوې چې: که پيغمبر له څرګند کتاب سره راته راشي، مونږ به خامخا ايمان راوړو او له خپلو مخکنيو کړو وړو او تګلارو به لاس واخلو، په داسې حال کې چې د پيغمبر له بعثته وروسته ئې له ايمان راوړو ډډه کړې او د پيغمبر مخالفت ته ئې ملا تړلې.

خو دا دوهمه توجيه په څو دلايلو ضعيفه ده:

اول: د آيت له هيڅ برخې داسې نه معلومېږي چې دا به د کافرانو قول وي.

دوهم: په څلورم آيت کې د اختلاف په ځای د (تفرق) لفظ ښيي چې د پيغمبر له بعثته وروسته دوی په بېلابېلو ډلو ويشل شوي، ځينو ئې ايمان راوړی او ځينې پر خپل کفر او انکار ټينګ پاتې شوي.

دريم: د پيغمبر توصيف په (البينه) سره او صحيفې ئې په (مطهره) سره او د دغو صحيفو لارښوونې او احکام په (قيمه) سره ښيي چې دا په هيڅ صورت کې د کافرانو مقال نشي کېدی.

څلورم: مشرکان په پيغمبر او کتاب باور نه لري، دوی ته د دې وينا انتساب اشتباه ده، مشرکان هيڅکله نه وايي چې که پيغمبر راغی حتماً ايمان پرې راوړو.

۲ـ هغه (بينه او څرګندونکې) چې له خپل موجوده حالته د کافرانو وتل د هغې په راتلو پورې مربوط او منوط ده، د الله تعالی له لوري رالېږل شوی هغه پيغمبر دی چې (پاکېزه صحيفې) ورسره وي او پر خلکو ئې (ولولي). يعني د (پيغمبر د بعثت) فلسفه دا ده چې مخکني (اهل کتاب) کافر شي او مخکني (اهل اعتقاد) مشرك شي او دواړه کافر شوې ډلې په خپلو غلط او کافرانه انګېرنو، باورونو او تګلارو داسې کلك ونښلي چې ترې بېلېدل ئې يوازې له يوې لارې امکان لري او هغه دا چې نوی پيغمبر ورته راشي، نوی کتاب، له تحريف، شرك او خرافاتو پاك کتاب ورته راوړي، له دې پرته نه خپله زړه عقيده پرېږدي او نه له خپل زوړ دود او دستور نه لاس اخلي او نه په خپلې ټولنې کې تبديلي ته چمتو کېږي. دا مبارك آيتونه مونږ ته د دې مهمې خبرې درس راکوي چې انقلابونه، فکري او اجتماعي

بدلونونه له (لاربنود)، (كتاب)، (پيغام)، (د پيغام حامل)، (واضح شعار)، (څرګند آرمان) او له (قائد او قدوې) پرته ممكن نه دي. (بې پيامه او بې لاربنوده) انقلابيون هيڅكله نشي كولی انقلاب راولي او د ټولنې حالت بدل كړي.

څو ظريف نقاط د دې مباركو آيتونه په الفاظو كې توجه جلبوي:

الف: (پيام راوړونكی) د (البينه) په نامه توصيف شوی او دا ښيي چې د ده په شخصيت كې هغه څه په څرګنده توګه ليدل كېږي چې د ده د دعوت او رسالت په حقانيت شهادت وركوي. نه ئې په شخصيت كې څه ابهام شته او نه ئې په پيغام، تګلاري او عمل كې، د خپل پيغام او دعوت عيني تجسم او په خپلې تياره او جهل ځپلې ټولنې كې د رڼ او ځلانده څراغ په څېر.

ب: د ده صحيفې ئې (مطهره) ګڼلې چې ښيي بلنه او پيغام ئې پاكيزه او شفاف دی، نه د كذب او درواغو شائبه په كې شته، نه د ناحقې او باطلې خبرې څه اثر، نه د خرافاتو او غلطو عقيدو كومه ببلګه او نه اخلاقي فساد او ناولو كړو وړو ته د بلنې او ترغيب كومه وينا، بلكې له دې ټولو (پاكيزه) دي او په ټولنې كې د طهارت او پاكيزه ګۍباعث، د (دين) او (ديانت) له خيرنې شوې څېرې ګردونه پاكوي، د خلكو (باورونه) له شرك او خرافاتو تزكيه كوي، د جهل او شرك ځپلي انسان د ضمير صفحې ته ځلا وركوي او ټولنه له ظلم، ګناه او فساده ژغوري.

۳- په قرآن كې د كتاب لفظ كله د كتاب د يوه ټوك په معنا راځي، كله د ليكنې په معنا او كله د (حكم) په معنا. او دلته له كتب قيمه نه يا هغه ليكنه مراد ده چې په الهي صحيفو كې درج شوې، سمه، دقيقه او له هر ډول كوږوالي خوندي، يا ئې مراد په دغو صحيفو كې ذكر شوي هغه احكام دي چې مضبوط، دقيق او حكيمانه دي، يعني د دې پاكيزه صحيفو ليكنې، لاربنوونې او احكام د انسان ژوند، عقايدو او افكارو ته قوام او سموالی وركوي او له كوږوالي او انحرافه ئې ساتي.

۴- د تاريخ په اوږدو كې تل او په وار وار داسې شوي چې كله كوم پيغمبر مبعوث شوی، مخاطبين ئې، كه دا (كتابيان) وو او په مخكني پيغمبر ئې د ايمان

ادعا کوله او که هغه چې د لومړي ځل لپاره د نوې پیغمبر په کتاب ایمان راوړو ته بلل شوي او ترې غوښتل شوي چې (اهل کتاب) شي، د نوې دعوت په وړاندې په بېلو بېلو ډلو وېشل شوي، ځینو ایمان راوړی، ځینو مخالفت ته ملا تړلې، ځینو د منافقت او دوه مخې توب لار غوره کړې، ځینې ئې بې تفاوته پاتې شوي او ځینې د انتظار په حالت کې، تر څو وګوري چې روانه شخړه او منازعه د کوم لوري په بریا او د کوم لوري په ماتې منتج کېږي، تر څو د فاتح په خوا کې ودرېږي او د ده تګلاره او دعوت ومني او شعارونه ئې زمزمه کړي. د دوی اختلاف غیرشعوري او په ناپوهۍ کې نه وي، بلکې عمداً او له اتمام حجت او د بینې او څرګندې نښې له راتلو وروسته مخالفت ته ملا تړي.

**۵**- په دې آیت کې د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت اساسي بنسټونه او مباني او د دوی د پیغام خلاصه ذکر شوې، هر پیغمبر چې د زمانې په هر پړاو کې مبعوث شوی، خلکو ته ئې ویلي: ستاسو د رب له لوري مې دا پیغام درته راوړی:

الف: د الله تعالی (عبادت) وکړئ، یعني ستا باور باید دا وي چې ته (بنده) یې او الله تعالی ستا آقا او بادار، خپل هر څه به د ده ګڼې او ستا هر کار به د ده د حکم او امر مطابق، ته به نه ځان د خپل ځان ټولواك ګڼې او نه د خپلو مادي او معنوي شتمنیو او نه به په خپلو شتمنیو کې د خپلې خوښې مطابق تصرف کوې، دا ځکه چې تا خپل اختیار الله تعالی ته سپارلی، دوست دې هماغه دی چې د ده دوست وي او دښمن دې هغه چې د ده دښمن وي او په خپل هر کار کې به د ده رضا لټوې، دا ځکه چې ته مربي او (عبد) یې، د مربیتوب او (عبادت) تقاضا او غوښتنه همدا وي، هر هغه کار چې د دې مغایر وي د بندګۍ له پولې تېری دی او بغاوت.

ب: خپل دین د الله لپاره (سوچه او خالص) کړئ، په شرك او له بل څه سره په ګډولو ئې مه لړئ، (دین) یعني د الله تعالی (عبادت)، عبادت مو منزه وساتئ، په عبادت کې بل څوك له الله تعالی سره مه شریکوئ، نه له الله تعالی پرته بل ته غاړه ږدئ او مه له ده پرته بل ته د احتیاج او دعا لاسونه اوږدوئ، (عبادت) او (دعا) مو باید یوازې او یوازې د الله تعال لپاره وي، خپل (عبادت) او (دعا) له هر راز ککړتیا

پاكيزه وساتئ.

ج: (حنيف) اوسئ، له سمې لارې كيڼ او ښي لاس ته مه منحرف كېږئ، د دين په مستقيمې لارې مخامخ د الله په لوري لاړ شئ.

د: لمونځ وكړئ او خپلې اړيكې له خپل رب سره تل مضبوطې وساتئ.

هـ: زكات وركړئ، له خپل هغه مال او دولته چې د خپل لاس په تنګاكو مو له حلالو لارو ترلاسه كړى يوه برخه ئې د الله تعالى په لار كې او د بې وزلو او محرومانو د لاس نيوي او مرستې لپاره انفاق كړئ.

(قيم دين) همدغه دى او ټولو مخكنيو پيغمبرانو عليهم السلام دغه دين ته بلنه وركړې او اوسنى پيغمبر عليه السلام هم تاسو دغه دين ته رابلي، نو اې كتابيانو! له دې نوي پيغمبر عليه السلام او د دغه قيم دين په لوري د ده له بلنې سره ستاسو د اختلاف وجه څه ده؟!!

---

$kŽï ûïï$Î» z OŸg_ Í$R ’Î ûüÏ Îô Bøø r É »GÅ ø$È@ d& ôÏB (rãy. ûïï%©$!bÎ)

7Í»9réM» s Î»Á 9$#(qè=Ïå r (qãZB#ä ûïï%©$!žc Î) ÇÏÈ þ ƒÎ9ø9$#žŸ Ð èd 7Í»9ré

$hÏGtB `Ï B “Ì ø gB 5bôã àM»Z_ Ó ÏÍh %ZÏã ôMèdät“_ ÇÐÈ þ ƒÎ9ø9$#ç ŽöŸ{ öãà

ÓÅ z ôJÏ 7Ï9ºŒ çµZã (qàÊ ‘r Nåkšã ª! $ÓÅ § #%/& $kŽï ûïï$Î» z ãåkŸ${ $

ÇÑÈ ¼çµ/‘

---

۶- بې شكه كافر شوي كتابيان او مشركان به د دوزخ په اور كې وي، تلپاتې په هغه كې، همدا دوى دي تر ټولو بد مخلوق. ۷- له شكه پرته چا چې ايمان راوړى او صالح عمل ئې كړى، دوى دي تر ټولو ښه مخلوق. ۸- بدله ئې د

خدای خوا کې تلپاتې جنتونه چې ترې لاندې به ویالی بهېږي، تل پاتې په هغه کې، الله له دوی راضي او دوی له ده راضي، دا د هغه چا لپاره چې له خپل رب ئې وېره وکړه.

---

۶- دا آیت مونږ ته لارښوونه کوي چې که څوك د حق بیانونکي پیغمبر له راتلو وروسته او په داسې حال کې چې ده ته ئې له ځان سره پاکیزه صحیفې راوړې او په داسې حال کې چې قیم دین ته ئې رابلي، د کفر او له بیني نه د انکار لار غوره کړي، دا تر ټولو بد مخلوق دی، تر هر حیوان بد او په اسفل السافلین کې پرېوتی، لکه چې قرآن فرمايي:

أُولَـٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَـٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ * الاعراف : ۱۷۹

دوی د څاروو په څېر دي بلکې لا زیات لارورکي، همدا دوی غافل او بې خبره دي.

إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لاَ يَعْقِلُونَ * الانفال : ۲۲

بې شکه چې د الله په نزد کې تر ټولو بد خوځېدونکي هغه کاڼه او ګنګیان دي چې تعقل نه کوي. (نه حق خبره اوري، نه په حقیقت اعتراف کوي او نه خپل عقل کاروي)

۷- انسان په (ایمان) او (صالح عمل) سره هغه لوړ مقام ته رسېږي چې هیڅ بل مخلوق نه شي وررسېدی، د معنوي مقام او د شرف، عزت او افتخار هغو لوړو لوړو څوکو ته چې د الله تعالی ټول مخلوقات به تر ځان لاندې ومومي، هیڅ داسې مخلوق به په نظر ورنشي چې دغو لوړو لوړو ته د رسېدو جوګه وي.

۸- د دوی اخروي بدله او اجر به هغه تلپاتې جنتونه وي چې د تل لپاره به په کې اوسېږي، د خپل رب په پېرزوینو به راضي وي او د الله تعالی رضا به ئې ترلاسه کړې وي. له الله تعالی وېرې دې مقام ته رسولې، دغه ستر او لوړ مقام ته یوازې هغه څوك رسېدی شي چې له الله تعالی وېرېږي. دا آیت په ډېر وضاحت سره مونږ ته وایي چې له (الله تعالی وېره) دې لوړ مقام ته د رسېدو اصلي لامل دی، هغه څوك دا

مقام ترلاسه کولی شي چې د خدای ښې پېژندنې دې ځای ته رسولی چې له الله تعالی وېرېږي، دغه وېره ئې له دې منع کوي چې د خپل رب له حکمه سرکښي وکړي او د ده د قهر او غضب وړ وګرځي، همدا وېره ئې دې ته اړ کوي چې له خپل رب سره په معامله کې بې باکه نه وي، په احتياط سره ګام واخلي، عملونه ئې صالح وي، ښي او کيڼ لوري ته منحرف نه شي، يوازې داسې خلك دې مقام ته رسېدی شي او دا شرف او عزت ترلاسه کولی شي.

# الزلزلة

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الزلزلة دی چې له لومړي آیته ئې اخیستل شوی، ۸ آیتونه لري، د پنځو لومړنیو آیتونو فواصل ئې هموزنه او ورته صیغې دي چې په (ها) پای ته رسېدلې، شپږم آیت ئې د (هُم) په لفظ سره د توقف او ودرېدو غږ لري اووم او اتم آیتونه ئې د (یره) په ورته صیغو ختم شوي. ځینې مفسرین ئې مکي سوره ګڼي او ځینې ئې مدني، خو د سورې مضمون، د آیتونو ترکیب او د بیان څرنګوالی ئې ښیي چې مکي ده، دا ځکه چې د بحث اصلي موضوع ئې آخرت او معاد ده، چې د مکي سورتونو د بحث محوري او اساسي موضوع وي، آیتونه ئې مکي سورتونو ته ورته لنډ لنډ، د شعارونو په څېر، چې خاص وزن او غږ لري او په هغوی کې ژور او پراخ مطالب په محدودو الفاظو کې افاده کېږي. سوره خپل بحث له هغې زلزلې پیلوي چې د قیامت په دوهم پړاو کې به رامنځ ته شي، بیا له قبرونو د انسانانو راپاڅېدل، د ځمکې له لوري په ټولو هغو پېښو شهادت ورکول چې د دې پر سر تېر شوي او انسان ترسره کړي او خلك د خپلو عملونو او باورونو له مخې په ډلو ډلو وېشل په کې انځور شوي او په پای کې وایي چې په دې ورځ به هر انسان خپل ذره ذره ښه او بد عمل په څرګنده او مجسمه توګه په خپلو سترګو مخامخ وګوري.

بسم الله الرحمن الرحيم

A$%r ÇÈ $g9$)ø ÞÚ õR$ÏM _•z&r ÇÈ $I;#"ê ÞÚ õR$ÏM9ìÿã #Œ)

ÇÎÈ $g9 4r ¢& š• /' b'Î ÇÍÈ $d'$7z & ß Ïåt 7ÍBöq ÇÌÈ $I; $B ß» ¡ R}M$

ÞS A$)W"B @Jè ` Jù ÇÏÈ ÞS»Jã& (ž) $Y$G8& â $Y9$â& Á ƒ 7ÍBöq

ÇÑÈ ¼çn•ƒ #v© ÞS A$)W"B @Jè ` Br ÇÐÈ ¼çn•ƒ #øz

۱- کله چې ولړزي دا ځمکه په خپلې لړزېدا. ۲- او راوباسي دا ځمکه خپل درانه. ۳- او ووايي انسان چې څه پرې شوي؟ ۴- په دې ورځ به خپل اخبار بيانوي. ۵- دا ځکه چې ستا رب به ورته وحي کړې وي. ۶- راوبه وځي په دې ورځ خلك بېل بېل، ترڅو وښودی شي دوی ته خپل اعمال. ۷- نو چا چې د وړې ذرې په څېر ښېګړه کړې، ويني به ئې. ۸- او چا چې د وړې ذرې په څېر د شر کار کړی، ويني به ئې.

۱ـ ځمکه به ولړزېږي، نه يوه برخه ئې، بلکې ټوله ځمکه او نه يو ځل بلکې پر له پسې او په هيبتناکې لړزېدا سره. که څه هم ځينو مفسرينو، دا زلزله د قيامت د لومړۍ مرحلې زلزله ګڼلې، خو له وروستيو آيتونو په څرګنده معلومېږي چې دا آيت هغې زلزلې ته اشاره کوي چې د انسان له مجدد بعثت او بياژوندون نه مخکې به راشي، د النازعات د سورې لومړي ۱۳ آيتونه هم په دې مطلب تأکيد کوي چې د انسانانو بيا ژوندون به هم د ځمکې له يوې زلزلې او شديد ټکان سره پيل شي او

ورپسې به هر يو له خپل خپل قبره راپاڅي، د محشر په لوري به وخوځولی شي او په آوار ميدان کې به د الله تعالی په وړاندې د محاسبې لپاره ودرېږي.

۲ـ دا چې د ځمکې (اثقال) څه دي، د مفسرينو تر منځ دوه رايې مومو:

الف: دا به هغه سره او سپين زر او قيمتي تيږې وي چې انسانانو ئې د لاس ته راوړو لپاره د کفر او نفاق، خيانت او ظلم، لار غوره کړه، د هغوی په مينې کې ئې خدای او آخرت هېر کړ، د هغوی پر سر په خپلو کې وجنګېدل، يوه د بل وينې توی کړې، خپل عزت او شرافت ئې ورپورې ترلی وو، د هغوی لپاره ئې هر ذلت، دنائت او سپکاوي ته غاړه ايښوده، په دې ورځ چې ځمکې به دا ټول بهر راغورځولي وي، هرې خوا ته به د بې ارزښته متاع په څېر خواره واره پراته وي، د مال او دولت بنده انسان به پوه شي چې د څومره بې ارزښتې متاع لپاره ئې خپله دنيا او آخرت تباه کړ او نن ئې د هغو ټولو هڅو او هلو ځلو پايله څه ده چې د دغو د لاس ته راوړو لپاره ئې کړې وې؟!!

ب: له (اثقال) نه مراد انسانان دي، دا ځکه چې قرآن انسانان په دې نامه ياد کړي او په ګڼ شمېر آيتونو کې د هغه انسان په هکله چې د دنيا او مال دولت بنده دی، په ځمکې پورې نښتی، زړه ئې د دنيا له متاع څخه نه شلېږي، د بر تلو او لوړ الوتو لپاره پياوړي وزرونه نه لري، د داسې خلکو لپاره ئې دغه صيغه په ډېرو ځايونو کې کارولې، د دغو مفسرينو له نظره له اثقال نه مراد انسانان دي، چې ځمکه به ئې بهر راوباسي.

که لومړي دوه آيتونه د قيامت په لومړۍ مرحلې پورې مربوط وي، نو کېدی شو چې (اثقال) د سرو او سپينو زرو او قيمتي ډېرو په معنا ونيسو، خو څلورم آيت په صراحت سره ښيي چې دا حوادث د هغې مرحلې پېښې دي چې ځمکه به خپل ټول اسرار او اخبار بيانوي. له دې په وضاحت سره معلومېږي چې دوه لومړي آيتونه د قيامت د دوهمې مرحلې پېښې بيانوي.

**۳ـ۴**: بايد وګورو چې څه به په دې ورځ د انسان د حيرانتيا سبب شي؟! د ځمکې کوم حرکت به دی په حيرت کې واچوي او دې ته به ئې مجبور کړي چې

وايي: په دې ځمکې څه شوي؟ آيا د ځمکې هيبتناکه زلزله به ئې حيران کړي؟ يا له قبرونو د انسانانو راپاڅېدا او يا د انسان په خلاف د ځمکې شهادت؟

په لږ دقت سره په دې خبرې پوهېدی شو چې په دې آيت کې ښودل شوی حيرت به نه خو د ځمکې د سختې زلزلې په وجه وي، ځکه چې دا زلزله به مخکې او له قبرونو نه د انسانانو له راپاڅېدو د مخه وي او نه به له قبرونو د انسانانو د راوتو په سبب وي، ځکه چې دوی په خپلو سترګو له قبر نه خپل راوتل نه ګوري او نه پرې پوهېږي، داسې لکه چې له مور نه خپل راپيدا کېدا نه ګوري او نه وروسته ور په ياد وي. دا هم سمه نه ده چې ووايو ځينې به د ځينو نورو بيارا پاڅېدا ګوري، ځکه د دې خبرې لپاره هم څه دليل نشته. د يس د سورې **۲۵** آيت ښيي چې د آخرت منکران به له راژوندي کېدو وروسته يو له بله پوښتنه کوي چې مونږ چا له خپلو قبرونو راپاڅولو؟ من بعثنا من مرقدنا؟ په ځواب کې به ورته ويل کېږي: هذا ماوعدالرحمن و صدق المرسلون: دا همغه څه دي چې رحمان خدای ئې وعده کړې وه او پيغمبرانو رښتيا ويلي وو. دا آيت ښيي چې د قيامت په ورځ به انسانان په دې نه پوهېږي چې څنګه بياراژوندي شوي. مؤمنان به نورو ته وايي چې دا خو د الله تعالی همغه وعده وه چې د پيغمبرانو له لارې ئې له مونږ سره کړې وه او دا ده نن ثابته شوه چې پيغمبرانو عليهم السلام رښتيا ويلي وو.

له دې ټولو معلومېږي چې د انسان د حيرت سبب به د ځمکې همغه شهادت وي چې د انسانانو د کړو وړو په هکله به ئې ورکوي. قرآن فرمايي چې په دې ورځ به د ځمکې تر څنګ د انسان سترګې، غوږونه، لاس او پښې او پوستکی هم د ده په عملونو شهادت ورکوي

حَتَّى إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ * وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ * فصلت ۲۰ـ۲۱

تر هغه چې (اور ته) نږدې ورشي، غوږونه، سترګې او پوستکي به ئې په عملونو شهادت ورکوي. او خپلو پوستکو ته به وايي: ولې زمونږ په ضد

شهادت ورکوئ؟ ورته وايي به: هغه الله په خبرو راوستي يو چې هر څه ئې په خبرو راوستي او هغه په اول ځل پيدا کړئ او د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

دا آيت ښيي چې د ځمکې هر څه به هغه ورځ شهادت ورکوي. ابوهريره رضی الله عنه روايت کوي چې پيغمبر عليه السلام دا آيت (يومئذ تحدث أخبارها) تلاوت کړ او وئې فرمايل: آيا پوهېږئ چې ځمکه به کوم اخبار بيانوي؟ صحابه وو وويل: الله او رسول ئې ښه پوهېږي، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: د ځمکې اخبار بيانول هغه شهادت دی چې ځمکه به ئې د بندګانو د هغو عملونو په هکله ورکوي چې د ځمکې پر سر ئې کړي، وايي به: په فلانۍ ورځ ئې فلانی فلانی کار وکړ، دا د ځمکې اخبار دي چې هغه به ئې بيانوي.

عن أبي هريرة قال: قرأ رسول الله صلى الله عليه وسلم هذه الآية "يومئذ تحدث أخبارها" قال "أتدرون ما أخبارها؟" قالوا الله ورسوله أعلم. قال "فإن أخبارها" أن تشهد على كل عبد أو أمة بما عمل على ظهرها أن تقول عمل كذا وكذا يوم كذا فهذه أخبارها" رواه النسائي

عن ربيعة الجرشي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال تحفظوا من الأرض فإنها أمكم وإنه ليس من أحد عامل عليها خيرا أو شرا إلا وهي مخبرة. رواه الطبراني

له ربيعة الجرشي رضي الله عنه روايت شوی چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: له ځمکې سره په خپل چلند کې احتياط کوئ، ځکه چې ځمکه ستاسو مولد او بنسټ دی (چې ترې پيدا شوي يئ) او هيڅ داسې عمل کوونکی نشته چې د ځمکې پر سر ئې ژوند کړی وي او دا دې د ده په ښه او بد عمل شهادت ورنکړي.

د علی رضي الله عنه په هکله راځي چې کله به ئې د بيت المال اموال په مستحقينو ووېشل او هغه به ئې تش کړ نو دوه رکعته لمونځ به ئې هملته ادا کړل او بيت المال ته به ئې په خپل خطاب کې وويل: ته شاهد يې چې ما په حقه ډك او په حقه تش کړې (يعني نه مې څه حرام مال درکې واچاوو او نه مې ستا کوم څه په

حرامه لار مصرف کړي).

پيغمبر عليه السلام فرمايي: (چې کله د لمانځه وخت راورسېږي په لوړ غږ آذان وکړئ، د غرونو او ځمکې څه ئې چې واوري د قيامت په ورځ به شهادت ورکوي.

دغه ځمکه چې ته ئې مړه او بې حسه ګڼې او په بې باکۍ سره ئې پر سر ګناهونه کوې، د قيامت په ورځ به ستا ټول ښه او بد عملونه بيان کړي.

ما ته ووايئ: ۱۴۰۰ کاله مخکې به د دې وينا په هکله د مخالفينو عکس العمل څنګه وو (چې ځمکه به خپل ټول اخبار بيان کړي)؟ آيا په دې خبرې به ئې په خپلو کې ډېر ډېر نه وې خندلي او په ټوکو ټوکو به ئې يوه بل ته نه وي ويلي چې دا دی محمد(عليه السلام) دا ادعا هم وکړه چې دا مړه ځمکه به په خبرو راشي او د انسان په ښه او بد عمل به شهادت ورکوي؟!! خو راشئ د قرآن دا وينا نن يوه داسې ساينس پوه ته وکړئ چې د علمي څېړنو په نتيجه کې دا ورته معلومه شوې چې د ځمکې سطح او فضاء د انسان هر هر غږ او هر هر حرکت ثبتوي، هغه ساينس پوه چې نن په ډېر قاطعيت سره وايي: د انسان د غږ او خوځښت څپې د ځمکې په سطحه او فضاء کې داسې ثبت کېږي چې د تل لپاره دوام کوي او زرهاوو کاله وروسته هم کولی شو دا امواج او اثرات په مخکې تللو وسايلو کشف او ترلاسه کړو. که دغه ساينس پوه ته ووايئ چې قرآن څوارلس پېړۍ مخکې دا خبره کړې، عکسل العمل به ئې څه وي؟ آيا کېدی شي له دې پرته بل څه ووايي چې قرآن حتماً له داسې مرجع راغلی چې په ټولو اسرارو پوه دی؟

ستا ژبه او شونډې، ستا ستونی او حنجره چې ستا د تکلم وسايل دي او په دې سره د خپل زړه خبرې بيانوې، ټول له دغو خاورو جوړ شوي، همدا خاوره ده چې ستا د ژبې، شونډانو او حنجرې ماليکولونه ترې جوړ شوي او د ما في الضمير په بيانولو کې ستا مرسته کوي، د قيامت په ورځ به په خپلواکه او مستقله توګه په خبرو راشي او شهادت به ورکوي.

**۵**ـ ولې به ځمکه په هغه ورځ خپل اسرار راباسي، ټولې خبرې به بيانوي او هر

هغه څه به په ډاګه کوي چې د دې پر سر تېر شوي؟ دا ځکه چې الله تعالی ورته وحي کړې چې نن هر څه ثبت او د قیامت په ورځ ئې بیان کړه.
د (یوحی) په ځای د ( اوحی) د صیغې راوړل ښیي چې ځمکې ته له مخکې (الهام) شوی چې ټول جریانات به ثبتوي او د قیامت په ورځ به ئې بیانوي، یعني ځمکه دا اوس اوس د ټولو جریاناتو شاهده او ناظره ده، هر څه احساسوي، حفظ کوي ئې او د قیامت په ورځ به ئې د انسان مخې ته ږدي.

**۲**- د دې آیت په اړه دوه تفسیرونه مومو:

الف: هر انسان به بېل او له نورو جلا له خپل قبر او مدفن نه راپاڅېږي او د الله تعالی په لوري به خوځول کېږي، له دوستانو او خپلوانو، قوم او قبیلې، حزب او ډلې، پلویانو او سپاهیانو، حامیانو او ملګرو او له ټولو هغو چې په دنیا کې ئې د ده شاوخوا نیولې وه او ده پرې حساب کاوو، نن به له دوی نه هیڅوك په خپلې خوا کې نه مومي، ګوښی او یوازې به د الله په لوري درومي. لکه چې قرآن فرمایي:

وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْداً * مریم: **۹۵**

او هر یو به ئې د قیامت په ورځ یوازې ورته راشي.

همداراز فرمایي:

وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَى كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُمْ مَا خَوَّلْنَاكُمْ وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ وَمَا نَرَى مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاءُ لَقَدْ تَقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَا كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ * الأنعام: **۹۴**

او یقیناً چې مونږ ته همغسې یوازې راغلئ چې په لومړي ځل مو (یوازې) پیدا کړئ او څه مو چې درباندې پېرزو شوي وو ټول مو ترشا پرېښودل او هغه شفاعت کوونکي مو هم درسره نه ګورو چې ګمان مو کاوو دوی به ستاسو په (پیدا ښت او پالنې کې د خدای) شریکان وي، یقیناً اړیکې مو سره شلېدلې دي او هغه درنه ورك دي چې (دا) ګمان مو پرې کاوو.

ب: د انسان له پیدا ښته د قیامت تر ورځې د ځمکې پر سر ټول پیدا شوي انسانان به له خپل خپل مدفن او مقبرې راپاڅېږي او د خپلو عملونو له مخې به په

ببلو ببلو ډلو کې راغونډ او د الله تعالی په لوري به درومي او د حشر په ميدان کې به راغونډېږي.

په لږ دقت سره پوهېدی شو چې د لومړی ډلې مفسرينو رايه دقيقه ده، د دوهمې برخې دا الفاظ (ليروا اعمالهم) ښيي چې خلك به د دې لپاره بېرته راژوندي کېږي او له خپلو خپلو قبرونو به ببل ببل راوځي چې خپل تېر عملونه وګوري او سزا ئې ورکړی شي، هغه آيتونه چې د قيامت په ورځ د انسانانو د ډله ييز حرکت په اړه بحث کوي د قيامت په وروستۍ مرحلې پورې مربوط دي، دا بايد په دغې مرحلې تطبيق نکړو.

په هغه ورځ به هر چا ته خپل عمل وروښودی شي، هر څوك به هغه اعمال چې په دنيا کې ئې کړي، خپلې مخې ته مجسم ومومي، يوازې دا نه چې خپل عملونه به په خپلې عمل پاڼې کې وګوري او سزا او بدله به ئې ورکړی شي، بلکې پر دې سربېره به خپل ټول ښه او بد عملونه خپلې مخې ته څرګند او مجسم ومومي، له ۴ او ۷ آيته معلومېږي چې د انسان عملونه له (غږ او ښې) سره ضبط کېږي او د قيامت په ورځ به انسان هم د خپلو عملونو (اخبار) واوري او هم به ئې (بڼه) وګوري.

څوارلس پېړۍ مخکې هيچا ته په دې خبرې پوهېدا ممکن نه وه چې کېدی شي د انسان (غږ) او د خوځښت (انځور) او فيلم ئې ثبت شي او له څه مودې وروسته بيا وليدی او واورېدی شي، خو اوس او له هغه وروسته چې ټيپ ريکارډر او کامرې اختراع شوې، هر چا ته دا خبره جوته شوه.

۷-۸: (خير) او (شر)، که ستر وي او که ووړ، حتی که د يوې وړې ذرې په اندازه وي، ټول به په خپلې عمل پاڼې کې وګورې، ټول به ستا مخې ته مجسم کړی شي، وبه ګورې چې هيڅ څه دې له پامه نه دي غورځېدلي، هر څه په ډېر دقت سره ثبت شوي او د دغو له مخې به ستا برخليك او راتلونکې ټاکل کېږي، که ستا د (ښېګړو) تله پر (بدو کړنو) درنه شوه، جنت ته به درومې، خو که د (بدو کړنو) تله دې درنه وه او ښېګړې دې سپکې او بې وزنه وختې، دوزخ ته به درومې، د هرې نېکۍ په بدل کې به لس برابره بدله ترلاسه کوې او بدې به دې يا مهربان او بخښونکی رب

درته وبخښي، يا د هغو مصيبتونو، بيماريو، دردونو او ستونزو په خاطر به ئې درته معاف کړي چې په دنيا کې دررسېدلي او يا به عادلانه سزا درکوي.

بايد متوجه وئ چې د دې آيتونو الفاظ داسې نه دي چې وښيي انسان به د هر وړوکي عمل سزا ګوري، داسې نه دي ويل شوي چې که د ذرې په اندازه د خير او شر عمل ئې کړی وي، سزا به ئې ګوري، نه بلکې عمل به ګوري او ضروري نه ده چې سزا به ئې هم ګوري.

په دې هکله مو څو نورې خبرې هم بايد په پام کې وي:

الف: د عملونو وزن او ارزښت به د دوی د ظاهري بڼې له مخې نه ټاکل کېږي، د کافر، مشرك او منافق هغه عملونه به بې وزنه او بې ارزښته وي چې په ظاهر کې نېك او ښه ښکاري. که احياناً ئې کوم ښه کار کړی وي بدله به ئې په دنيا کې ترلاسه کړې وي. په دې ورځ به فقط (حق) عمل ته وزن او ارزښت ورکوي، نه ظاهري بڼه ئې، لکه چې قرآن فرمايي:

والوزن يومئذ الحق ... الاعراف

او پدې ورځ به حق دروندوالی وي (کوم عمل چې له (حق) او (حقيقته) تش وي هغه به سپك وي).

ب: د بد عمل سزا به ورسره برابره او متناسبه وي، خو د نېك عمل بدله به له لس برابره تر اوه سوو او حتی تر دې هم زيات وي..

ج: چا چې ايمان راوړی، حساب به ئې آسانه وي، د خپل غوره عمل له مخې به ثواب ترلاسه کړي، که له کبيره ګناهونو ئې ډډه کړې وي صغيره به ئې الله تعالی ورته وبخښي.

انس رضی الله عنه روايت کوي چې ابوبکر صديق رضی‌الله عنه له پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره يو ځای ډوډۍ خوړله چې دا آيتونه (فمن يعمل مثقال ذرة خيرا يره ومن يعمل مثقال ذرة شرا يره) نازل شول، ابوبکر رضی الله عنه له خوراکه لاس راتم کړ او وئې ويل: يا رسول الله! آيا د خپلو وړو وړو ګناهونو په سبب به هم مجازات کېږم؟ پيغمبر عليه السلام وفرمايل: اې ابوبکره! هغه

ستونزې چې په دنیا کې ئې ګورې دا ستا د وړو وړو ګناهونو په سبب وي، خو که د ذرې په اندازه نېك عملونه دې کړي وي نو الله تعالی ئې درته ذخیره کوي تر څو ئې د قیامت په ورځ بشپړ ترلاسه کړې.

عن أنس قال كان أبو بكر يأكل مع النبي صلى الله عليه وسلم فنزلت هذه الآية فمن يعمل مثقال ذرة خيرا يره ومن يعمل مثقال ذرة شرا يره فرفع أبو بكر يده وقال يا رسول الله إني أجزي بما عملت من مثقال ذرة من شر فقال يا أبا بكر مارأيت في الدنيا مما تكره فبمثاقيل ذر الشر ويدخر الله لك مثاقيل ذر الخير حتى توفاه يوم القيامة

عن عائشة قلت يا رسول الله! ابن جدعان كان في الجاهلية يصل الرحم ويطعم المسكين فهل ذلك نافعه قال لا ينفعه إنه لم يقل يوما رب اغفر لي خطيئتي يوم الدين رواه مسلم

عایشه رضی الله عنها وایي: له پیغمبر علیه السلام نه مې و پوښتل: عبدالله بن جدعان، په جاهلیت کې خپلوي پالله، مسکینانو ته ئې خوراك ورکاوو، مېلمه پال وو، اسیران او غلامان ئې آزادول، آیا د قیامت په ورځ به دا نېك عملونه څه ګټه وررسوي؟ پیغمبر علیه السلام وفرمایل: نه؛ ګټه نه وررسوي، ځکه ده یوه ورځ هم دا ونه ویل چې اې زما ربه! د قیامت په ورځ مې ګناهونه راوبخښه.

د قرآن دا آیتونه او د پیغمبر علیه السلام دا احادیث مونږ ته لارښوونه کوي چې نه ووړ نېك عمل حقیر وګڼو او نه وړه ګناه عادي او بې اهمیته وبولو، دا ځکه چې دواړه زمونږ په دوسیه کې درج کېږي او زمونږ په برخلیك او اخروي سعادت او شقاوت باندې اغېز لري.

عن عدي مرفوعا اتقوا النار ولو بشق تمرة ولو بكلمة طيبة رواه البخاري

عدي رضي الله عنه وایي چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي: د دوزخ له اوره ځان وساتئ که څه هم د یوې خرما په ټوټې وي او یا په یوې ښکلې او غوره خبرې سره.

همدا راز فرمايي:
لاتحقرن من المعروف شيئا ولو أن تفرغ من دلوك في إناء المستسقي ولو أن تلقى أخاك ووجهك إليه منبسط  رواه البخاري
هيڅ نېك كار حقير مه ګڼئ كه څه هم د يوه تږي په جام كې له خپلې سلواغې اوبه توى كړې او يا له خپل ورور سره په ورين تندي ملاقات وكړې.
عوف بن الحارث رضي الله عنه د عائشې رضي الله عنها دا وينا روايت كوي چې پيغمبر عليه السلام ورته ويل: اې عائشې! له هغو وړو ګناهونو ځان وساته چې حقير ګڼل كېږي، دا ځكه چې د دې هم د الله تعالى له لوري پوښتنه كېږي.
عن عوف بن الحارث بن الطفيل أن عائشة أخبرته أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يقول يا عائشة إياك ومحقرات الذنوب فإن لها من الله طالبا     رواه النسائي
عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت كوي چې پيغمبر عليه السلام وفرمايل: له صغيره ګناهونو ځان وساتئ ، ځكه دا په انسان راغونډېږي شي، احاطه ئې كړي او د هلاكت سبب ئې شي.

# العاديات

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم العاديٰت (زغاستونکي) دی چې له لومړي آيته ئې اخيستل شوی، ۱۱ آيتونه لري، لومړي پنځه آيتونه ئې د فعلاً په هموزنو صيغو پای ته رسي، درې ورپسې آيتونه ئې د کنود، شهيد او شديد په صيغو ختمېږي او درې وروستي آيتونه ئې د صدور، قبور او خبير په صيغو، چې دوه لومړي ئې کنود ته ورته او خبير ئې شهيد او شديد ته ورته وزن لري. د دې مبارکې سورې د نزول د زمانې په هکله مختلف روايات لرو، خو د سورې له مضمون او د آيتونو د ترکيب له څرنګوالي معلومېږي چې نه يوازې د مکي دور سوره ده بلکې د مکي دور په لومړيو کې نازل شوې.

د بحث اساسي موضوع ئې دا خبره ثابتول دي چې انسان د خپل منعم رب په وړاندې ډېر ناشکره او ناسپاسه دی، د دې ادعا د اثبات لپاره هغو آسونو ته زمونږ پام اړوي چې د خپل خاوند د عادي او معمولي پالنې په وجه سخت ورته مطيع او تر ټينو لاندې ئې تندې زغاستې ته چمتو وي!! د دې سورې لومړي آيتونه خپل مخاطب له لاسه نيسي، د آسونو د تندې زغاستې يوې حيرانونکې صحنې ته ئې ودروي او ورته وايي: ګورې! دا پياوړي آسونه، څنګه د خپل سپور د لاس په يوه

حرکت سره، په زغاسته شي، هر يو له بل نه د مخکې کېدو هڅه کوي، له سخت شور ځوږ نه ئې پوهېدی شې چې خپل ټول زور ځواك ئې کارولی، ترڅو ترنورو د مخه خپل آقا مقصد ته ورسوي، نه ګورې چې څومره تېز زغلي، هغه سپرغی ګورې چې له تيږو سره ئې د نعل په کلك لګېدو اوچتې شي، په تياره سباوون کې په دښمن بريد کوي، لدې بې پروا چې په يوې يا بلې ګوښې کې به دښمن ورته په کمين کې وي، ناڅاپي به ئې په کوم غشي سره په نښه کړي، لږ ئې دوړو ته پام وکړه چې له مستانه او بې باکانه منډې ئې پورته شوې، ګوره چې ناڅاپي د دښمن له مجهز صف سره مخامخ شو ، له ايستلو تورو سره، خو په ټوله بې اعتنائي ئې صف مات کړ او د دښمن په مزدحمو صفوفو کې ننووت، کله چې د آسونو دې خېل ته خپلو سپرو لا د زغاستې اشاره نه وه کړې، هغه وخت تا ليدل چې هر يو د خپل سپور تر پښو لاندې، په شور شوق خوځېدو ، پښه ئې کلکه کلکه په ځمکه وهله، د خپل سر غاړې په حرکاتو سره ئې دا ښودله چې خپل آقا ته مطيع دی او يوازې يوې اشارې ته ئې منتظر!! دا لده سره خپل خاوند څه کړي چې دومره مطيع دی؟ له خوراك څښاك نه پرته ئې څه ورکړي؟ په سر غاړه ئې د لاس راکښلو نه پرته څه ورسره کړي؟ د دومره څه په وړاندې دا وفا او اخلاص د څه نښه ده؟ او که تا اې انسانه! له دغه (حيوان) سره مقايسه کړې، د خپل منعم په وړاندې ستا وفا او اخلاص، ستا اطاعت او مننه، د خاوند په وړاندې د ده له چلند سره مقايسه کړې، ما ته ووايه: ستا په هکله به عادلانه قضاوت څه وي؟ آيا لدې پرته بل څه کېدی شي چې ته د خپل رب په وړاندې سخت ناشکره يې، بې وفا يې، بې اخلاصه يې!! إِنَّ الانسنَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ * يقيناً چې انسان، خپل مولا ته ډېر ناشکره دی. دا پداسې حال کې چې آس يوازې همدا دوه درې نعمتونه پېژني، له واښو اوبو او په سر غاړه له لاس راکښلو پرته په نور څه نه پوهېږي، خو انسان د خير او نعمت په اړه جامع تصور لري، ټول هغه بې شمېره نعمتونه پېژني چې الله تعالی ورباندې پېرزو کړي او دی ورسره کلکه مينه لري، خو سره لدې ډېر ناشکره دی او د دغه حيوان په اندازه هم د خپل مولا مننه او شکر نه کوي. يقيناً چې انسان د خپل رب په وړاندې

سخت ناسپاسه دی، د سپرو تر پښو لاندې زغاستونکي آسونه همدا وايي.

دا کوم څه دغه ناسپاسه بنده تر هغه حيوانه هم زيات ناشکره کړی؟ آيا وجه ئې دا ده چې گمان کوي نه آخرت شته، نه بيا ژوندون او نه محاسبه او مکافات او مجازات؟ آيا داسې ئې انگېرلې چې د هر چا د سينې اسرار به نه سپړل کېږي او له ده پرته به هيڅوك په دې نه پوهېږي چې په زړه کې ئې څه وو، موخې ئې کومې او عزائم ئې څنگه وو؟! ده اشتباه کړې؛ هغه ورځ به خامخا راځي چې انسانان له خپلو خپلو قبرونو راووځي، د سينو اسرار ئې بربنډ شي او د هغه خبير خدای په وړاندې ودرېږي چې هيڅ څه ئې ترې پټ نه دي او بيا د خپل کفران او ناشکرۍ سزا وگوري.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

bö'ù ÇÌÈ $Û6ß ÏNº•ö‰ ÇËÈ %Z6% ÏM»ƒÎ qßø‰ ÇÌÈ $Û6Ê ÏM»ƒÎ‰»è‰

¼çR Îr ÇÌÈ Šqã39 ¾ïnÎ ` »¡ $ÍM$Îbî ÇÎÈ $è‰d ¾ïnÎ ` Ö™qù ÇÍÈ $è9R ¾ïnÎ

ŽÏèç#Œ ä-èƒ Ÿxù& * ÇÊÈ ‰ƒÏ‰±9 Îö ä$É ßï ¼çRÎr ÇÐÈ Óx¶Í¶9 7 ïŒ 4?ã

7Î , ©7 ÍBä ßï Nåæ bÎ ÇÊÈ ÍrßÁ9$’Î $B Ÿ Ä ãnr ÇÒÈ ÍqŽ9$’Î $B

ÇÊÈ

---

۱- په ځوږ سره ځغاستونکو قسم. ۲- بيا په سم (پونده) سپرغۍ شيندونکو قسم.۳- او په سباوون يرغل کونکو قسم. ۴- په کوم سره چې دوړې کړې خورې. ۵ - په کوم سره چې ننوځي په منځ د يوه ټولي کې. ۶- يقيناً چې انسان دی خپل مولا ته ډېر ناشکره. ۷- او په خپله دی په دې باندې شاهد دی.۸- او

په مینې کې د خیر خو ډېر شدید دی. ۹- آیا نه پوهېږي، کله چې راپاڅوی شي هغه چې قبرو کې دي. ۱۰- او وسپړی شي هغه چې سینو کې دي. ۱۱- په دې ورځ به خامخا د دوی رب ښه په دوی خبر وي.

---

۱-۸ : دلته تر ټولو د مخه څو ټکي په پام کې ولرئ:

- دا پنځه قسمونه د تعقیب (فاء) په توري سره په خپلو کې تړل شوي او ښيي چې دلته د یوه څیز مختلفو حالتونو او صفتونو ته اشاره شوې، یعني همدا زغاستونکي دي چې د خپلې توندې او تېزې منډې په وجه ئې له ټېر نه شور او څوړ اوچت دی او همدغه زغاستونکي دي چې کله ئې سم په تیږو لګېږي نو سپرغۍ ترې اوچتې شي او همدا دي چې په سباوون کې د یرغل لپاره کارول شوي او همدا دي چې په خپلې چټکې زغاستې سره دوړې بادوي او همدا دي چې د مقابل لوري په لیکو کې شق اجراء کوي، صفونه ئې څیري او د دوی په منځ کې ننوځي.
- د بیان له الفاظو په ډاګه معلومېږي چې لدغو زغاستونکو څخه هدف آسونه دي نه بل څه، ډېر بې سلیقې ادیب به هم لدې نه بل مفهوم ترې وانخلي.

اما دا چې دا قسمونه څنګه پدې خبرې شهادت ورکوي چې انسان د خپل پالونکي رب په وړاندې سخت ناشکره دی، ځواب ئې دا دی: دا پیاوړي آسونه چې تر انسان ځواکمن او پیاوړي دي، خو ګورې چې د خپل خاوند د څو محدودو نعمتونو په پاس د ده کلك اطاعت کوي، نه ګورې چې څنګه د خپل خاوند د لاس په یوه حرکت سره، په زغاسته شي، د سینې او سپوږمو له شور ځوړ نه ئې پوهېدی شي چې خپل ټول زور ځواك ئې کارولی، ترڅو ژر او تر نورو د مخه خپل آقا مقصد ته ورسوي، ګورې چې څومره تېز زغلي، چې کله ئې نعلونه په تیږو لګي سپرغۍ ترې اوچتې شي، دې ته چمتو وي چې په تیاره سباوون کې په دښمن برید وکړي، لدې بې پروا چې په یوې یا بلې ګوښې کې به دښمن ورته په کمین کې وي، ناڅاپې به ئې په کوم غشي په نښه کړي، دغو دوړو ته پام نه کوې چې د ده له مستانه او بې باکانه منډې آسمان ته پورته شوې، ګورې چې د دښمن په مجهز صف کې، که څه هم

تورې ئې له تېکو ایستلې وي، په بې پروايۍ ننوځي، صفونه مات کړي او د دښمن په مزدحمو لیکو کې داخل شي، کله چې لا د زغاستې امر ورته نه وي شوی، نه ګورې چې څنګه د خپل سپور تر پښو لاندې په شور او شوق سره خوځېږي، پښه کلکه په ځمکه وهي، د خپل سر غاړې په حرکاتو سره ښيي چې خپل آقا ته مطيع دی او يوازې يوې اشارې ته ئې منتظر!! دا لده سره خپل خاوند څه کړي چې دومره مطيع دی؟ له خوراك څښاك نه پرته ئې څه ورکړي؟ په سر غاړه ئې د لاس راکښلو نه پرته څه ورسره کړي؟ د دومره څه په وړاندې دا وفا او اخلاص د څه شي ښنه ده؟ او که تا اې انسانه! له دغه آس سره مقايسه کړو، د خپل منعم رب په وړاندې ستا وفا او اخلاص، ستا اطاعت او مننه، د خاوند په وړاندې د ده له چلند سره مقايسه کړو، ما ته ووايه: ستا په هکله به عادلانه قضاوت څه وي؟ آيا لدې پرته بل څه کېدی شي چې ته د خپل رب په وړاندې سخت ناشکره يې، بې وفا يې، بې اخلاصه يې!! إِنّ الانسنَ لِرَبِّه لَكَنُودٌ * يقيناً چې انسان خپل مولا ته ډېر ناشکره دی. دا پداسې حال کې چې آس يوازې همدا دوه درې نعمتونه پېژني، له واښو اوبو او په سر غاړه له لاس راکښلو پرته په نور څه نه پوهېږي، خو انسان د خير او نعمت په اړه جامع تصور لري، ټول هغه بې شمېره نعمتونه پېژني چې الله تعالی ورباندې پېرزو کړي او دی ورسره کلکه مينه لري، خو سره لدې ډېر ناشکره دی او د دغه حيوان په اندازه هم د خپل مولا مننه او شکر نه کوي.

## يوه يادونه:

نږدې دېرش کاله د مخه په دې لټه کې وم چې د دې سورې د قسمونو او د قسمونو د ځواب تر منځ په دقيق ارتباط پوه شم، ډېر تفاسير مې وکتل، په تفسيرونو کې مې زيات مختلف آراء تر سترګو شول، نتيجې ته ونه رسېدم، ډېره موده همداسې راباندې تېره شوه، په پېښور کې د اقامت په دوران کې يوه ورځ د جمعې د لمانځه لپاره يوه جمات ته ولاړم، ګورم چې خطيب د دغې سورې په هکله خبرې کوي، د قسمونو په هکله د ده توجيه او تفسير مې هومره دقيق وموند چې په هيڅ تفسير کې مې نه وو موندلی، متأسفانه په دې ونه توانېدم چې ترې پوښتنه

وکړم؛ دا رایه ئې له کوم تفسیره اخیستې او آیا داسې کوم مشهور مفسر رانښودی شي چې له دې رأیې سره موافق وي؟ په هر صورت د ده په زړه پورې وینا زما لپاره نښه لارښودنه شوه او زما د پوښتنو ښه ځواب. الله تعالی دې اجر ورکړي.

۹ـ۱۱: دا آیتونه مونږ ته لارښوونه کوي چې د انسان د قبیح کفران، د نعمت ناسپاسي، د منعم قدر نه کول، د احسان انکار او د محسن هېرونه په اصل کې له دې راولاړېږي چې دی دنیا بېهوده او بې هدفه ګڼي، په بیا ژوندون باور نه لري، داسې نه ګڼي چې د الله په لوري به درومي او د خپلو کړو وړو له مکافات او مجازات سره به مخامخ کېږي، د چا چې دا عقیده وي هغه به خامخا یو ناسپاسه انسان وي، خو ده اشتباه کړې؛ قیامت او دالهي محاسبې ورځ به خامخا راځي، انسانان به له خپلو خپلو قبرونو راووځي، د سینو اسرار به ئې بربنډ شي او د هغه خبیر خدای په وړاندې به ودرېږي چې هیڅ څه ئې ترې پټ نه دي او بیا به د خپل کفران او ناشکرۍ سزا وګوري.

# القارعة

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم القارعة (ټکونکې) ده، دا ئې هم نوم دی او هم د مضامينو لپاره عنوان، ۱۲ آيتونه لري، د دريو لومړيو آيتونو فواصل ئې القارعة دي، ورپسې دوه آيتونه ئې د مبثوث او منفوش په هموزنو صيغو، شپږم او اتم ئې د موازينه په صيغه او اووم، نهم، لسم او يولسم ئې راضيه ته په ورته هموزنو صيغو پای ته رسېدلي. د لسم آيت د پای صيغه په اصل کې (ماهي) ده، خو د وزن لپاره ئې (ماهيه) کړې. د سورې له مضمون، د بيان له څرنګوالي او له ادبي اسلوبه ئې په واضح توګه معلومېږي چې د مکي دور په لومړيو کې نازله شوې. د دې سورې په دغو محدودو آيتونو کې چې لنډ لنډ دي او د الفاظو شمېر ئې ډېر لږ، د قيامت دواړه مرحلې په داسې بڼې کې انځور شوې چې هيبتناکې صحنې ئې د انسان مخې ته مجسم کېږي او لوستونکی ئې ځان د دغو صحنو په منځ کې احساسوي. په لومړيو دريو آيتونو کې د قيامت د پېښې د انځورولو لپاره د ( قارعة) لفظ درې ځلې کارول شوی، دا لفظ ځپل او له هيبتناك غږ سره توأم تصادم او ټکول افاده کوي او درې ځلې تکرار ئې د دې پېښې عظمت او هيبت بيانوي او ښيي چې دا پېښه به داسې وي چې هر څه به سره وځپي، د عالم دا اوسنی نظام به دړې وړې

کړي، هر څه به ئې په خپلو کې سره وجنګوي، دا بې شمېره ستوري او سماوي اجرام به له خپل خپل مداره ووځي، په خپلو کې به تصادم وکړي، د دې هيبتناکو تصادمونو درانه غړونه به له هرې خوا اورېدل کېږي، غرونه به له خپل خپل ځايه وخوځي، په خپلو کې به ټکر شي، ذرې ذرې به شي او دوړې به ئې آسمان ته پورته شي، داسې به شي لکه حلاجي شوې وړۍ چې په ځمکه خورې وي، ورپسې د قيامت بله مرحله انځوروي، هغه وخت چې انسانان به بېرته راژوندي شوي وي، د ځمکې مخکنی جوړښت به بدل شوی وي اوس به هغه مخکنۍ لوړې ژورې نه لري، غرونه به له منځه تللي وي او آثار به ئې د خورو وريو په څېر تر سترګو کېږي، د انسانانو بيا راپيدا کېدا او له قبرونو راپاڅېدا به له بر نه داسې برېښي لکه خېل خېل ملخان چې پر ځمکه خواره شوي وي او يو پر بل لوېږي، په پای کې انسانان د محشر په ميدان کې د محاسبې په حالت کې انځوروي او ښيي چې د هر چا برخليك به د ده د عملونو د (وزن) او (ثقل) له مخې ټاکل کېږي، که ئې عملونه د قدر وړ وو، وزن او ارزښت ئې درلود، نو جنت ته به درومي او که سپك او بې وزنه وختل نو ټاټوبی به ئې د دوزخ کنده وي، ځينې به داسې ګورې چې د وزن شوو تله ئې درنه ختلې، خوښ او راضي دي او ځينې داسې چې وزن شوي ئې سپك ختلې، دوزخ ورته خپله غېږ پرانستې او داسې به ئې په خپلې غېږ کې نيسي لکه مور خپل زوی.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

ãqa3 Pöf ÇÌÈ pãÍ$)ø$$B 71'Š& $Br ÇÌÈ pãÍ$)ø$$B ÇÌÈ pãÍ$)ø$

ÇgèøŠY2 ä$6Éø$ ãqa?r ÇÍÈ Ï^qèJø$ Ä#•yøŠY2 â`$Y9$

pŠÅ #§ p±Šä 'Î qgßù ÇÏÈ ¼çãÍ-ºqB ôM=)0 Æ B $B'ù ÇÎÈ Â\ qãZJø$

ﬁ«Ü $B 71‘Š& $Br ÇÌÈ ¶×Í$d ¼çB‘ê ÇÑÈ ¼çã¯Î‘qB ÕMÿz ôB $B&r ÇÐÈ

ÇÉÈ ¶ŠÏB‰n Î$R ÇÊÈ

۱- آ ځپونکې. ۲- څه ده دا ځپونکې؟ ۳- او څه پوه کړې چې څه ده دا ځپونکې؟ ۴- هغه ورځ چې خلك وي د خورو ورو ملخانو په څېر. ۵- او غرونه د خورو ورو وړيو په څېر. ۶- نو د چا چې تلل شوي شول درانه. ۷- نو وي به راضي کوونکي ژوند کې. ۸- او هغه چې ئې سپك شول تلل شوي. ۹- نو مور به ئې وي کنده. ۱۰- او څه پوه کړې چې دا کنده څه ده؟۱۱- تاوناك اور.

۱ـ۳: قارعة د (قرع) له مادې اخيستل شوي او معنا ئې داسې کلك ځپل او سره وهل دي چې جګ غږ ترې پورته شي، قرآن دلته د (قيامت) د پېښې لپاره دا نوم کارولی، په نورو ځايونو کې ئې د الحاقة، الطامة، الصاخة، الغاشية او په ګڼ شمېر نورو نومونو ياد کړی، هر نوم د قيامت يو خاص حالت بيانوي، دلته القارعة د دې آيتونو په ترڅ کې داسې راغلې او د آيتونو د بيان لهجه داسې چې دا مطلب بيانوي: هماغه ځپونکې، چې تند او جګ غږ سره به هر څه وځپي، پوهېږې چې دا څنګه پېښه ده؟ څنګه به په دې پوه شې چې دا هيبتناکه پېښه به څنګه وي؟ ته نشې کولی د دې حادثې هيبت او عظمت درك کړې؟

۴: په دې ورځ به ټول انسانان له قبرونو راووځي، داسې لکه ملخان چې له خاورو راووځي او د ځمکې پر سر به داسې خواره واره وي لکه خېل خېل ملخان چې پر ځمکه خواره شوي وي او يو پر بل لوېږي، کله يوې خوا ته سېل سېل مخه کړي او کله بلې خوا ته. د آيت الفاظ او د بيان انداز ئې داسې دی لکه څوك چې په دې ورځ له کوم لوړ ځايه د ځمکې ننداره کوي او انسانان داسې په نظر ورځي لکه

ملخان چې له خاورو راووځي او هرې خوا ته خواره واره شي. دلته ښايي انسانان د دې لپاره له ملخانو سره تشبيه شوي چې ملخان له خاورو راوځي، مور ئې خپلې هګۍ په خاورو کې اچوي او بيا ئې بچيان له خاورو راوځي، د قيامت په ورځ به له قبرونو د انسانانو راوتل دوی ته ورته وي.

**۵.** دا ستر ستر او دنګ دنګ غرونه چې رينبه ئې د ځمکې زړه کې او سر ئې ورېځو ته رسېدلی، د (القارعة) په دې ورځ به داسې سره وټکول شي او ذرې ذرې به شي لکه وړۍ چې د حلاجي کولو په وخت کې خورې ورې شي. قرآن په بل ځای کې د غرونو د دې حالت په هکله داسې فرمايي:

وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا * فَكَانَتْ هَبَاء مُّنبَثًّا * الواقعة : ۵-۶

او غرونه به په ځانګړي رېژولو سره ورېژول شي او خوره وره دوړه به شي.

له دې آيت او د قرآن له نورو آيتونو نه معلومېږي چې د انسان پيدا ښنت به پر داسې ځمکې وي چې لوړې ژورې به نه لري او غرونه به ئې ذرې ذرې شوي وي.

**۶ - ۱۱:** په دې ورځ به عملونه څېړل کېږي، په داسې تلو به تلل کېږي چې د هر عمل ارزښت دقيقاً معلومولی شي، ځينې به درانه، ګران او باارزښته وخېژي او ځينې به سپك، پوچ، بې وزنه، بې ارزښته او بې قدره، په دې تلې کې به يوازې هغه عمل درون خېژي چې په (حق) ولاړ او د (حق) له چينې خړوبه شوی وي او هغه عمل به سپك او پوچ خېژي چې په (باطل) ولاړ او د باطل له چينې خړوبه شوی وي، په دې ورځ به د عملونو د ظاهري بڼې له مخې قضاوت نه کېږي او وزن به ئې د ظاهري بڼې له مخې نه ټاکل کېږي، بلکې د (حق) او حقيقت له مخې به ټاکل کېږي، يوازې هغه عمل به دروندالی او وزن لري چې (حق) په کې وموندلی شي، له (حق) نه بې برخې عمل، که هر څومره ستر وي او هر څومره ئې ظاهر ښاېسته او جالب وي، د دې ورځې په تلې کې به سپك او پوچ خېژي. د قرآن په وينا په دې ورځ به (حق) وزن وي (والوزن يومئذ الحق)، په کوم عمل کې چې حق ونه موندلی شي، هغه به سپك وي.

موازين هم د ميزان جمع ده او هم د موزون، دلته د موزون د جمعې لپاره

راغلی، چې معنا ئې (وزن شوي او تلل شوي) ده او مراد ترې هغه عملونه دي چې د قیامت په ورځ به په داسې ځانګړې تلې تلل کېږي چې د عملونو وزن او ارزښت معلومولی شي. د (حق) په دې تلې کې چې د چا عملونه درانه وختل خوشحال او راضي کوونکی ژوند به ئې په برخه شي او د چا چې وزن شوي اعمال سپك وختل یوه کنده به ئې په خپلې غېږ کې کلك ونیسي، پوهېږې دا کنده څه ده؟ د ډېر سور او تود اور کنده!!

# التكاثر

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم التكاثر (په زيات غوښتو کې سيالي) دی، چې له لومړۍ آيته اخيستل شوی، ٨ آيتونه لري، د لومړي او دوهم آيتونو فواصل ئې تکاثر او مقابر دي، د دريم او څلورم ئې تعلمون دی، د پاتې څلورو ئې يقين او جحيم ته ورته هموزنه صيغې دي، اکثر مفسرين ئې مکي سوره ګڼي، ځينې ئې مدني بولي، خو د سورې له متن، د آيتونو له ترکيب او ادبي جوړښت نه معلومېږي چې دا سوره مکي ده. په دې سوره کې د انسان يوې داسې خطرناکې بيمارۍ ته اشاره شوې چې د انساني ټولنې د ټولو فتنو، شخړو، جګړو، وينو تويولو، د بل په حق تيري، کبر او ذلت ته د تسليمېدا اصلي لامل ګڼل کېږي، د حرص او زيات غوښتنې بيماري، د مال او دولت ترلاسه کولو لپاره ناروا سيالي، جاه او جلال ته د رسېدو لپاره په خپلو کې مسابقه. همدا خطرناکه بيماري ده چې له انسانه ځيرونکی او وحشي ځناور جوړ کړي، رحم او عاطفه ئې ورووژني، بې رحمه او سخت زړی قصاب ترې جوړ کړي، داسې ځای ته ئې ورسوي چې د خپل حرص د اشباع لپاره له هيڅ جنايته ډډه نه کوي، هر ذلت او دنائت ته غاړه ږدي او هر کار جائز ګڼي.

که د فساد، ظلم، شخړو، فتنو، ملي او بين المللي نښتو عوامل وڅېړو، د

انسان حرص او تکاثر به د ټولو ترشا د اصلي عامل په حيث ومومو، همدغه بيماري ده چې کله له شريف او عزتمن انسانه داسې ذليله متاع جوړه کړي چې په ډېرې ټيټې بيعه پېرل کېږي او پلورل کېږي او کله داسې ځيرونکی او وحشي ځناور ترې جوړ کړي چې په هيڅ جنايت ئې زړه نه سړېږي، که ګورو چې انسان د ځان په ځېر انسان ته د ذلت او دنائت سر ټيټوي، هغه تر ځان لوړ ګڼي، داسې ستاينه او لمانځنه ئې کوي چې په هغه کې د کبر او لويي احساس لاپياوړی او مضبوط کړي او بل سپك او حقير وګڼي، دا حرص او طمع ده چې په ده دا کار کوي او که هغه بل ګورو چې په خپل جايز او مشروع حق قناعت نه کوي، د نورو په حقوقو تېری کوي، د نورو کرامت او حيثيت تر پښو لاندې کوي، د مظلومانو آزادی سلبوي، بې وزلي حقير او ذليل ګڼي، که ګورو چې يو ملت پر بل تېری کوي، يو هېواد بل نيسي، د ښښتو او جګړو اورونه بل شي، ملکونه وران شي، د زرهاوو انسانانو وينې توی شي، ... دا د انسان حرص او تکاثر دی چې دا سترې سترې فتنې راولاړوي.

او که ګورو يو انسان حق پټوي، له باطل نه دفاع کوي، د خپل ايمان او وجدان خلاف خبره کوي، حلال ته حرام وايي او حرام ته حلال، د ظالمو او باغي حکامو په ګټه دروغجنې فتواګانې ورکوي، دين خرڅوي، دروغ وايي، دوکه او خدعه کوي او په هر هغه عمل لاس پورې کوي چې هم شريف انسان ترې کرکه لري او هم باايمانه انسان ترې ځان ساتي، په دې ټولو شنيع او کرکجنو کارونو کې به حرص او تکاثر د ده محرك او هڅوونکی وموميئ.

دا مبارکه سوره په دې پيل کېږي چې: تکاثر او د زيات لاس ته راوړو سيالي مو د دې باعث ده چې له ډېرو شيانو غافل شئ، حقايقو ته پام ونکړئ، خپلو انساني او ايماني مسئوليتونو ته اعتناء ونلرئ او په دې بېهوده سيالۍ کې دومره مصروف شئ چې خدای، آخرت او حتی خپل ځان او خپل خير او مصلحت هم هېر کړئ!! دغې بيمارۍ ستاسو لمن داسې کلکه نيولې چې د مرګ تر رارسېدو پورې مو نه پرېږدي، دا موقع نه درکوي چې په سد شئ، سترګې او غوږونه مو پرانېزئ،

د ښه او بد، صواب او ناصواب ترمنځ فرق وکړئ، مګر دا چې مرګ مو مېلمه شي، د ګور ژۍ ته ورسېږئ او خپل لحد ښکل کړئ، هلته به ستاسو سترګې خلاصې شي او په دې به پوه شئ چې د زيات غوښتو هوس مو څومره خطرناکه سيالي وه، څومره خوشې لوبه او مشغولتيا وه او له کومو پاېلو سره ئې مخامخ کړئ.

ستاسو د تکاثر او زيات غوښتنو د ناروا سيالۍ اصلي لامل دا دی چې په دوزخ باور نه لرئ او ګمان نه کوئ چې دا حرام او ناروا تکاثر به تاسو دوزخ ته رسوي، هغه پوهه او علم درسره نشته چې انسان په آخرت او مکافات او مجازات باندې باور ته اړ کوي، که هغه علم مو په برخه شوی وی چې انسان يقين او ايمان ته رابلي، نو حتماً به مو د دې علم اليقين په سترګو (جحيم) ليدلی وو چې تاسو ته منتظر دی، خو که له دې علم او پوهې د محروميت په وجه په دې نه توانېږئ چې د تکاثر بد عاقبت او پاېله ئې چې (جحيم) دی درك کړئ، لږ صبر وکړئ، ډېر ژر به ئې په (عين اليقين) سره وګورئ، داسې به ئې په خپلو پرانستو سترګو وګورئ چې (يقين) ورپسې وي او هيڅ شك او شبهې ته مجال نه پرېږدي او هغه ورځ چې په عين اليقين سره د (جحيم) لمبې په ځرګنده وګورئ، د هغو ټولو نعمتونو په اړه به پوښتل کېږئ چې تاسو پرې قناعت نه کاوو او د خپل حرص په حکم مو د لازيات ترلاسه کولو لپاره په خپلو کې سيالي کوله.

بسم الرحمن الرحيم

---

ŠêÇÌÈ bqß=è? š’ ô™ ž. ÇÈ •Î$) J$ãäã4m ÇÈ ãè3G9$Ñã9gø

žc ãžI9 ÇÎÈ ÈiÉ«ø$ Nüe bqß=è? ö9 ž. ÇÍÈ bqß=è? $ô™ ž.

Çã >íBöÿ £èó§9 ÏÈ ÇÐÈ ÈiÉ«ø$ šú ¨ã $kXãžI9 ÏÈ ÇÏÈ OŠÅgø$

ÇÌÈ ÉŠéZ9$

۱- زيات غوښتنې كړئ مشغول، ۲- تر دې چې تاسو وكتل گورونه.۳- داسې نده، ژر به پوه شئ. ۴- بيا هم داسې نده، ژر به پوه شئ. ۵- نه، نه، كه په علم يقين پوه شئ. ۶- خامخا به په نظر درشي جحيم. ۷- خامخا به ئې بيا وگورئ په سترگه د يقين. ۸- بيا به حتماً وپوښتى شئ پدې ورځې له نعيم.

۱: تكاثر او د زيات غوښتنې سيالۍ تاسو هغه څه ته له پام كولو غافل كړئ چې ستاسو د سعادت او نېك بختۍ ضامن وو، له يوه بل سره ستاسو هغه سيالۍ چې د ډېر مال او دولت په راغونډولو، خپل جاه او جلال لوړولو او د خپلو حاميانو او پلويانو په زياتولو كې كوله، هر يوه مو هڅه كوله چې تر بل مخكې شي، دغې سيالۍ داسې ستاسو پر زړه او دماغ سيورى غوړولى وو او دومره ئې تاسو مشغول كړي وئ چې نه د دغې لوبې خطرناكو پايلو ته متوجه شئ، نه هغه څه ته چې ستاسو د دنيا او عقبا فلاح او بريا ورپورې تړلې، په دغې سيالۍ كې داسې بوخت شوئ چې هم مو خداى هېر كړ او هم آخرت، هم خپل عزت او كرامت تر پښو لاندې كوئ او هم د بل، يو دنائت ته غاړه ږدي او بل مو په جنايت لاس پورې كوي، يو مو اخلاقي حدود او ضوابط ماتوي او بل مو په خپلې انساني عاطفې او ترحم پښه ږدي، د خپل فطرت ټولو غوښتنو ته شا كوئ.

۲ : دا الفاظ په څو معنا اخيستى شو:

الف: د خپل ژوند تر پايه او قبر ته تر رسېدو، تكاثر مشغول كړئ، د ژوند په هيڅ پړاو كې مو له تكاثر نه لاس وانه خيست.

ب: حتى د قبرونو په ليدو سره مو هم له تكاثر نه ډډه ونه كړه، سره له دې چې گورئ ستاسو سلف هر څه په ميراث پرېښودل، تش لاس له دنيا ولاړل او دا دى اوس په قبرونو كې ستاسو مخې ته پراته دي، د مال او جاه او جلال ترلاسه كولو

لپاره چې دوی کومې هڅې درلودې پایله ئې د خاورو دغه تنګ کور دی، خپل هر څه ئې نورو ته په میراث پرېښودل، د ګناهونو له هغه پېټې سره چې د زیات مال راغونډولو او لويي غوښتنو په ارتباط ئې کړي وو، د الله تعالی لوري ته ولاړل، د دوی د قبرونو په لیدو سره هم د غفلت له خوبه راویښ نه شوئ او له تکاثر نه راونه ګرځېدئ.

ج: هدېرو ته د خپلو مړو د شمېر لپاره ولاړئ، د دې لپاره چې ثابت کړئ ستاسو د قوم، قبیلې او ډلې شمېر تر نورو زیات دی، پر خپل حریف او رقیب برلاسي یاست، لرغونی تاریخ لرئ، تاریخي سابقه مو تر نورو لرغوني او اوږده ده، دلته مو ډېر مړي ښخ شوي، د خپلې قبیلې په مربوط هدېرو باندې مو تر نورو زیاتې جنډې ولاړې او بیرغونه رپېږي.

دا ټول تعبیرونه د منلو وړ دي خو لومړی تعبیر تر ټولو دقیق دی.

**۴.۳**: داسې نه ده لکه چې تاسو ګمان کوئ او خپل خیر، صلاح او سعادت په تکاثر او زیات غوښتنو کې لټوئ، بلکې ډېر ژر به د دې منحوس او خبیث خصلت په بدو عواقبو او پایلو پوه شئ، هم په دنیا کې او هم په آخرت کې. لومړی (سوف تعلمون) د تکاثر دنیوي پایلو ته اشاره کوي او دوهم (سوف تعلمون) اخروي عواقبو ته. کله چې د ګور ژۍ ته ورسېږئ، چې نه هغه ډېر درنه لرې دی او نه تاسو ترې لرې یئ، پوه به شئ چې د تکاثر حاصل مو څه وو؟! او هغه وخت چې د الله تعالی په وړاندې ودرېږئ پوه به شئ چې ستاسو د تکاثر سزا او پایله څه ده؟

**۲.۵**: د دې آیت الفاظو ته لږ ځیر شئ، په دقیقه او له کوم تصرف نه پرته د آیت تحت اللفظي معنا دا ده: (که په علم الیقین پوه شئ)، یعني که له علم الیقین څخه کوم علم ستاسو په برخه شي، هغه علم ولرئ چې په یقین منتج کېږي او حتمي پایله ئې (یقین) او باور وي، نو په دې صورت کې به خامخا په دې پوه شئ چې (جحیم) شته او شته والی ئې حقیقت لري، دا علم به (جحیم) ستاسو د عقل د سترګو په وړاندې مجسم کړي او د دغه علم په رڼا کې به ستاسو عقل د جحیم په لیدو موفق شي. له وروستي آیته په څرګنده معلومېږي چې په دې آیت کې د (جحیم لیدل) په

خپلو سترګو د دوزخ د لیدلو په معنا نه ده، په سترګو د جحیم لیدل به په آخرت کې ترسره کېږي او هغه لیدل چې دا آیت ورته ګوته نیسي، د علم الیقین په رڼا کې د دوزخ لیدل دي. متأسفانه ځینو درنو مفسرینو دا آیت داسې ترجمه کړی چې ګواکې د آیت اصلي الفاظ داسې وي: لوتعلمونه بالعلم الیقین: که په علم الیقین سره پرې پوه شئ. حال دا چې د آیت الفاظ داسې نه دي او د دوی ترجمه دقیقه او محتاطانه نه ده، دوی په خپل دغه تعبیر سره نه یوازې احتیاط او دقت نه دی مراعات کړی بلکې د آیتونو تر منځ یووالي او تنسیق ته ئې هم صدمه رسولې او دې ته اړ شوي چې د شپږم آیت په سر کې د (ل) توری چې دا دواړه آیتونه سره تړي او وروستی د مخکني قطعي نتیجه ګڼي په خپلې اصلي معنا ونه نیسي او وروستی آیت مستقل او د نوي بحث پیل وګڼي، نه پوهېږو د دې سبب څه دی چې دوی د آیت دقیق مفهوم او اصلي تحت اللفظي معنا پرېږدي او د آیتونو په ترکیب کې داسې تصرف کوي چې په خپل ذهن کې انځور کړې معنا ترې راوباسي، دا ولې په دغو دوو لنډو آیتونو کې دوه توري (هـ د تعلمون په پای کې او ب د العلم په سر کې) علاوه کوي او آیت داسې جوړوي: لو تعلونه بالعلم الیقین او په شپږم آیت کې دا تغییر راولي چې (ل) په اصلي معنا نه اخلي!!

د دې آیت په اړه د هغو مفسرینو رایه هم دقیقه ده او هم محتاطانه چې وایي: "لترون الجحيم" بعيون قلوبكم; فإن علم اليقين يريك الجحيم بعين فؤادك; وهو أن تتصور لك تارات القيامة, وقطع مسافاتها. "ثم لترونها عين اليقين": أي عند المعاينة بعين الرأس, فتراها يقينا, لا تغيب عن عينك. جحیم به د خپل زړه په سترګو وګورئ، دا ځکه چې علم الیقین تا ته دوزخ د خپل زړه په سترګو دربښيي او هغه داسې چې د قیامت حالات او د واټن لنډېدل ئې درته انځوروي، بیا به ئې په عین الیقین سره وګورئ، یعني په خپلو سترګو سره، نو په یقیني توګه به ئې وګورې، له سترګو به دې نه غایب کېږي.

د ۲ آیت ارتباط له مخکنیو آیتونه سره داسې دی:

الف: ستاسو د (تکاثر) اصلي عامل، په آخرت او الهي محاسبې ایمان او باور

نه لرل دی، گمان کوئ چې له خپلې هغې گناه نه به نه پوښتل کېږئ او سزا به ئې نه گورئ چې په تکاثر سره ئې مرتکب کېږئ، له حرامو لارو مال او دولت راغونډوئ او له ناروا لارو جاه او جلال ته د رسېدو هڅه کوئ، داسې نه ده، بلکې جحیم درته منتظر دی، خامخا به ئې وگورئ.

ب: تکاثر په جحیم منتج کېږي، په دنیا کې ستا ټولنه د اور په یوې کندې بدلوي، د خونړیو نښتو باعث کېږي او په پای کې تاسو دوزخ ته رسوي.

۷- د دې آیت له (ثم) او په (عین الیقین) سره د جحیم د لیدو له الفاظو ئې معلومېږي چې دلته هغه حالت انځور شوی چې د محاسبې په ورځ به هر څوك خپل ځای وگوري، دوزخیانو ته به جحیم راڅرگند شي او په خپلو سترگو به هغه ځای وگوري چې څو شېبې وروسته به ورننوځي.

۸- تاسو ټول، مسلمان او کافر، به له ټولو نعمتونو پوښتل کېږئ، له دې چې دا نعمتونه مو څنگه ترلاسه کړي، څنگه مو مصرف کړي، څنگه تصرف مو په کې کړی؟ له نعمت سره مو چلند څنگه وو او له منعم سره مو معامله څنگه؟

په یوه مبارك حدیث کې راځي:

عن أبي هريرة قال بينما أبو بكر وعمر رضي الله عنهما جالسان إذ جاء النبي فقال ما أجلسكما ههنا قالا الجوع قال والذي بعثني بالحق ما أخرجني غيره فانطلقوا حتى أتوا بيت رجل من الأنصار فاستقبلتهم المرأة فقال لها النبي صلى الله عليه وسلم أين فلان فقالت ذهب يستعذب لنا ماء فجاء صاحبهم يحمل قربته فقال مرحبا ما زار العباد شيء أفضل من شيء زارني اليوم فعلق قربته بكرب نخلة وانطلق فجاءهم بعذق فقال النبي ألا كنت اجتنيت فقال أحببت أن تكونوا الذين تختارون على أعينكم ثم أخذ الشفرة فقال له النبي إياك والحلوب فذبح لهم يومئذ فأكلوا فقال النبي لتسئلن عن هذا يوم القيامة أخرجكم من بيوتكم الجوع فلم ترجعوا حتى أصبتم هذا فهذا من النعيم رواه مسلم

ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې یوه ورځ ابوبکر او عمر رضي الله

عنهما سره ناست وو چې پيغمبرعليه السلام راغی او وئې فرمايل: څه شي دلته ناستي ته اړ کړي يئ، وئې ويل: لوږې، پيغمبر عليه السلام وفرمايل: په هغه ذات قسم چې زه ئې په حقه مبعوث کړی يم، زه هم له دې پرته بل څه نه يم راايستلی، نو يو ځای سره وخوځېدل تر څو د يوه انصاري کور ته راغلل، يوې مېرمنې ورته ښه راغلاست وواېو، پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: فلانی چېرې دی؟ وئې ويل: تللی چې مونږ ته تازه اوبه راوړي، په همدې وخت کې د دوی ملګری راغی او د اوبو مشك ئې پر اوږو، وئې ويل: ښه راغلئ، د الله له بندګانو نه به هيڅا تر دې غوره څه نه وي ليدلي چې نن زما ليدو ته راغلي، خپل مشك ئې د کجورې په څنې وځړاوو او ولاړ د تازه کجورو يوه څانګه ئې ورته راوړه، پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: ولې دې (د ټولې څانګې په ځای) يو مقدار ترې راونه شکولې؟ هغه وويل: غوښتل مې تاسو ئې په خپله ترې خوښې کړئ، بيا ئې چاړه راواخيسته، پيغمبرعليه السلام ورته وفرمايل: پام کوه چې کومه شيدې لرونکې ذبح نکړې، هغه يو څاروی ورته ذبح کړ او دوی ترې وخوړه، پيغمبرعليه السلام وفرمايل: د قيامت په ورځ به له دې پوښتل کېږئ، لوږې له خپله کوره راوايستئ او بېرته نه ورګرځئ مګر له هغه وروسته چې دا ټول څه مو په برخه شول، نو دا له هماغه نعمتونو څخه دي چې (پوښتنه به ئې کېږي).

عن محمد بن محمود بن لبيد قال لما نزلت ألهاكم التكاثر فقرأها النبي صلى الله عليه وسلم حتى بلغ لتسئلن يومئذ عن النعيم قالوا يا رسول الله عن أي النعيم نسأل وإنما هو الأسودان الماء والتمر وسيوفنا على عواتقنا والعدو حاضر قال إن ذلك سيكون رواه احمد و ابن ابي شيبه

له محمد بن محمود رضي الله عنه روايت دی چې کله د الهاكم التكاثر سوره نازله شوه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ولوسته، تر هغه چې دې ځای ته راورسېدو؛ لتسئلن يومئذ عن النعيم، حاضرينو وويل: يا رسول الله! له کومو نعمتونو به پوښتل کېږو؟ حال دا چې له دغو دوو توركيو؛ کجورو او اوبو

پرته بل څه نه لرو او تورې مو په غاړو کې راځوړنده او دښمن هم راته تیار ولاړ، وئې فرمایل: دا (پوښتنه) به خامخا کېږي.

عن أبي عسيب قال: «خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم ليلاً فمر بي فدعاني إليه، فخرجت، ثم مر بأبي بكر فدعاه فخرج إليه، ثم مر بعمر فدعاه فخرج إليه، فانطلق حتى دخل حائطاً لبعض الأنصار فقال لصاحب الحائط: أطعمنا بسراً، فجاء بعذق فوضعه فأكل رسول الله صلى الله عليه وسلم وأصحابه، ثم دعا بماء بارد فشرب فقال: لتسئلن عن هذا يوم القيامة قال: فأخذ عمر العذق فضرب به الأرض حتى تناثر البسر قبل رسول الله صلى الله عليه وسلم، ثم قال: يا رسول الله أئنا لمسؤولون عن هذا يوم القيامة؟ قال: نعم. إلا من ثلاث، خرقة كف بها الرجل عورته او كسرة سد بها جوعته او حجراً يتدخل فيه من الحر والقر». مسند الامام احمد

له أبو عسيب نه روایت دی چې یوه شپه رسول الله صلى الله عليه وسلم راووت او زه ئې خوا ته وروبللم، زه ورووتم، بیا د ابوبکر رضي الله عنه خوا ته ولاړ او هغه ئې راوبالو او راووت، بیا د عمر رضي الله عنه خوا ته تېر شو هغه ئې راوبالو چې راووت، بیا روان شو تر هغه چې د ځینو انصارو یوې احاطې ته داخل شو او د هغې څښتن ته ئې وویل: څو کجورې راباندې وخوره، هغه یوه څانګه راوړه او هلته ئې کېښوده، پیغمبر علیه السلام او یارانو ئې ترې وخوړلې، بیا ئې سړې اوبه وغوښتې او وئې څښلې، نو ئې وفرمایل: د قیامت په ورځ به له دې نعمتونو پوښتل کېږئ، عمر رضي الله عنه څانګه پورته کړه او په ځمکه ئې داسې ووهله چې کجورې ئې د پیغمبر علیه السلام مخې ته خورې شوې او بیا ئې وویل: یا رسول الله ! آیا مونږ به له دې هم د قیامت په ورځ پوښتلی کېږو؟ وئې فرمایل: هو؛ مګر له درېو شیانو: هغه جامه چې یو څوك ځان پرې پټوي او د ډوډۍ هغه ټوټه چې خپله لوږه پرې دفع کوي او هغه کوټه چې له تودوخې او یخنۍ ورننوځي.

# العصر

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم العصر (زمانه) ده، چې له لومړۍ آیته ئې اخیستل شوی، درې آیتونه لري، درې واړه د العصر، خسر او صبر په هموزنو کلمو پای ته رسېدلي، د مفسرینو ډېری په دې متفق دي چې دا سوره مکي ده که څه هم ځینې ئې مدني ګڼي، حال دا چې د بحث موضوع، د آیتونو د ترکیب څرنګوالی او ادبي جوړښت ئې په دې شهادت ورکوي چې دا مکي سوره ده.

دا لنډه سوره، له دغو درېو لنډو لنډو آیتونو سره دومره ښا ښسته غږ او ښکلی ترکیب لري او هومره جامع ده چې په هیڅ کلام کې ئې نظیر نشو موندلی، د هغو شخصیتونو دا وینا ډېره درنه او په ځای ده چې که له ټول قرآن څخه یوازې دا سوره نازله شوې وی کفایت ئې کاوو. د دې موجز او جامع سورې اساسي مدعا دا ده چې انسان یوازې په هغه صورت کې له زیان او تاوانه ژغورل کېږي چې ایمان راوړي، عمل ئې صالح شي، حق ته ژمن وي او نور حق ته رابلي او په خپله صابر وي او نورو ته د صبر سپارښتنه وکړي. د دې سترې ادعا د اثبات لپاره زمانه د شاهد په حیث وړاندې کوي او وایي: هره زمانه، د زمانې هر پړاو او د تاریخ هره پاڼه په دې شهادت ورکوي چې انسان او د ده ټولنه یوازې هغه وخت له خسران او تباهۍ نجات مومي چې ایمان ته پناه یوسي، د ایمان په مسیر کې حرکت وکړي، ایمان ئې مجرده

نظریه او د څو بې اغېزه باورونو مجموعه نه وي بلکې دی صالح عمل ته وهڅوي، عمل ته ئې ښکلا ورکړي، ښه ایمان ئې د صالح عمل په بڼې کې راڅرګند شي، حق ته التزام ولري، په خپل هیڅ عمل کې د حق له پولو وانه وړي، نور حق ته راوبلي او په حق ټینګ پاتې کېدو ته ئې وهڅوي، د ایمان، صالح عمل او له حق نه د دفاع د لارې ستونزې وزغمي، صبر وکړي، په نیمه لار کې د ستړیا او ستومانۍ احساس ونکړي، له سمې لارې د ستونزو په وجه ښي او کیڼ لاس ته منحرف نشي، نور په خپل قول او عمل سره صبر ته راوبلي، د صابر حق پالونکو لپاره د صبر او ثبات بېلګه شي. مګر نه ګورئ چې د زمانې په هر پړاو کې بې ایمانه انسانانو ځان او خپلې ټولنې ته څومره زیانونه رسولي؟ مګر په انساني ټولنې کې فساد او تباهي د ده د بدې عقیدې او بدو عملونو زېږنده نه ده؟ آیا کله چې انسان له (ایمان) او (صالح عمل) نه لرې شوی، یا ئې دا دواړه سره بېل کړي، عمل ئې د ایمان منافي شوی، نه ئې (ایمان) د لارې مشعل او نه د عملونو لارښود او د منافقت لار ئې غوره کړې، مګر له بدو پایلو سره نه دی مخامخ شوی؟ مګر تل داسې نه وه چې انسان هغه وخت خپل ځان او خپلې ټولنې ته نه جبرانېدونکي تاوانونه رسولي چې په خپل ځان ئې بسنه او اکتفا کړې، له ټولنې منزوي شوی، د نورو وضعې ته له اعتنا ئې لاس اخیستی او د خپلې ټولنې د جریاناتو په هکله بې تفاوته شوی؟ انسان که هر څومره ښه وي، کلك ایمان او صالح عمل ولري، نه شي کولی د هغې فاسدې ټولنې له بدو اغېزو خوندي پاتې شي چې دی په کې ژوند کوي، هم به ئې ایمان له دې بد وضعیته متأثره کېږي او هم ئې کړه وړه. له حق نه په دفاع او د شر او فساد له ځواکونو سره په مقابلې سره انسان هم ځان او هم ټولنه له تباهۍ ژغوري او هم خپل ایمان ته ځلا ورکوي، باورونه ئې راسخ کېږي، د حق په نسبت د التزام عزم او هوډ ئې مضبوط کېږي. آیا نه ګورئ چې بې صبره انسان که هر څومره ئې خپل کار سم پیل کړی وي، د ایمان لار ئې غوره کړې، عمل ئې صالح او له حق نه ئې دفاع کړې، خو په نیمه لار کې ستومانه او بې صبره شوی، د مبارزې له دوام او برې ته له رسېدو ناهیلې شوی، له مبارزې ئې لاس اخیستی، په دې سره ئې ټولې مخکنۍ

هلې ځلې ضايع او هدر شوې او له هغې معرکې خاسر او نامراد راوتی چې په پيل کې ئې ځو پړاوونه په بريا پلې کړې وو. په رښتيا چې زمانه په خپله په دې حقيقت شهادت ورکوي چې انسان له ايمان، صالح عمل، د حق سپارښتنې او په صبر له توصيې پرته له تباهۍ او خسران سره مخامخ کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

{qëÜãr {q2B#ä ûïï%$ ž∨Î ÇÈ ž6ä ’Å9 `»¡ SM$ bÎ ÇÈ Îç èø$

ÇÌÈ ÎöÁ 9$ Î {ö¹ #q?r Ès 9$ Î {ö¹ #q?r Ë»s Î»Á 9$

---

۱- قسم په زمان. ۲- يقيناً چې په زيان کې دی انسان. ۳- مګر هغه چې ايمان ئې وي راوړی او صالح اعمال ئې کړي او سپارښتنه ئې د حق يوه بل ته کړې او يوه بل ته ئې د صبر توصيه کړې.

---

۱-۳: په لومړي آيت کې په (العصر) لوړه شوې:

او ورپسې ويل شوي: يقيناً چې انسان په زيان کې دی، مګر هغه چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي او يوه بل ته ئې د حق سپارښتنه کړې او يوه بل ته ئې د صبر توصيه کړې.

د قرآن د نورو قسمونو په څېر دلته هم په يوه څرګند او د هر مخاطب مخې ته پروت حقيقت باندې لوړه شوې، په (العصر) يعني زمانه، هره زمانه او د زمانې هر پړاو د دغې ادعا د اثبات لپاره د شاهد په توګه وړاندې شوی چې انسان له ايمان، صالح عمل، په حق سپارښتنه او په صبر له سپارښتنې پرته له زيان او خسران سره مخامخ کېږي. که تاريخ ته رجوع وکړئ، هره پاڼه ئې وڅېړئ او هر پړاو ته ئې ځير شئ؛ په څرګنده به وګورئ چې تل د ايمان هغو خاوندانو بريا ترلاسه کړې او له

تباهۍ ژغورل شوي چې عملونه ئې صالح وو ، پر حق ولاړ وو او يوه بل ته ئې د حق سپارښتنه کړې، پدې لار کې ئې صبر کړی او يوه بل ته ئې د صبر توصيه کړې. راشئ وګورئ د هغو خلکو پايله څه وه چې د کفر او له حق نه د انکار لار ئې غوره کړې، بد اخلاقه او بد عمله وو ، ظلم او تېری ئې کړی، فساد ته ئې لمن وهلې، نه ئې په خپله حق او حقيقت ته سر ټيټ کړی، نه ئې بل حق ته هڅولی، نه ئې په خپل جائز حق قناعت کړی، نه ئې د بل د حق پروا کړې، نه ئې په خپله صبر درلود او نه ئې بل ته د صبر سپارښتنه کړې؟ تاريخ د دغو خلکو په هکله څه وايي؟ د دوی پايله او عاقبت ئې څنګه معرفي کړی؟ کوم ولسونه چې له تباهۍ، ذلت او سپکاوي سره مخامخ شوي، خصوصيات او ځانګړتياوې ئې څه وې؟ او هغه چې فلاح او بريا ئې په برخه شوې، د شرف او عزت لوړو مدارجو ته رسېدلي، د ځمکې خلافت او د ولسونو قيادت او زعامت ئې ترلاسه کړی، څوك وو او مواصفات ئې کوم؟ آيا دغه سرلوړي او عزتمن قومونه او دا د تاريخ معروف او مشهور شخصيتونه چې هرڅوك ئې په نامه افتخار کوي، هغوی ته ځان منسوبوي، د هغوی نومونه پر خپل ځان او اولاد ږدي او د هغوی په لار د تلو هڅه کوي، لدغو صفاتو پرته ئې بل څه درلودل؟ او هغه کسان چې لدغو صفاتو محروم وو او د دغو صفاتو له خاوندانو سره ئې دښمني ته ملا تړلې وه، که څه هم زور ځواك ئې درلود ، وسايل او امکانات ئې په واك کې وو ، لښکرې او فوځونه ئې درلودل او په لويو لويو ملکونو ئې حکومت کاوو ، له کوم عاقبت سره مخامخ شوي او نن خلك او تاريخ د دوی په هکله څه قضاوت کوي؟ د ابوجهل، فرعون او نمرود په هکله څه وايي؟ د عيسی عليه السلام د مخالفينو په هکله څه قضاوت کوي؟

متأسفانه ځينو دلته هم اشتباه کړې او (العصر) ئې يا د (صلوة العصر: د مازديګر لمونځ) يا (د مازديګر وخت) او يا د پيغمبر عليه السلام د زمانې په معنا نيولی، حال دا چې (العصر) عام دی په هره زمانه ئې اطلاق کېږي او داسې هيڅ دليل نشته چې خاص وخت او زمانه په ګوته کړي. دا ضعيفه توجيه د قسم او ځواب ترمنځ هيڅ ارتباط نشي ښودلی او په هيڅ تعبير او تأويل سره دا نشي ثابتولی چې

(العصر) د انسان په خسران او زيان شهادت ورکوي! د (العصر) صيغه عام ده، سمه نه ده چې هغه (خاص) کړو، د قسم او ځواب ترمنځ ارتباط یوازې په هغه صورت کې راڅرګندېږي چې صيغه په خپل حال (عام) پرېږدو او د زمانې هر پړاو او د تاريخ هره مرحله ئې وګڼو، همدا زمانه او ټول لوړ ژور پړاوونه ئې شهادت ورکوي چې انسان تل د بې ايمانۍ، بدو کړو وړو، په حق نه ودرېدو او يوه بل ته د هغه سپارښتنه نه کولو، بې صبرۍ او يوه بل ته د صبر د سپارښتنې نه کولو سره ئې تاوان کړی او له تباهۍ سره مخامخ شوی.

دا مبارکه سوره مونږ ته لارښوونه کوي چې انسان د نجات لپاره څلورو صفتونو ته ضرورت لري: ايمان، صالح عمل، په حق او په صبر سپارښتنه، انسان هغه وخت کولی شي خپلې بريا او فلاح ته امېدوار وي چې د نجات او بريا دا ټول عوامل او لاملونه په ځان کې تعبيه کړي، که لدې نه يو ئې هم راکم شي او بې‌اهميته ئې وګڼي او هر يو په خپل ځای کې مراعات نکړي، نو د نجات کښتۍ ئې د لارې په نيمائي کې پاتې کېږي او ساحل ته له رسېدو محرومه کېږي. د دې سفر د پيل نقطه (ايمان) دی، نور صفات، د ايمان لوازم او مقتضيات دي او له هغه نه راولاړ شوي صفات دي، دا ستا ايمان دی چې د صالح عمل په بڼه کې راڅرګند شي، له حق نه دفاع ته دې تيار کړي، تا ته د صبر او ثبات درس درکوي او د مبارزې په لوړو ژورو کې په استواره ګامونو مخکې تلو ته دې هڅوي. که ته غواړې داسې ټولنه جوړه کړې چې فلاح او سعادت ئې په برخه شي، د شر، فساد او تباهۍ عوامل پکې وځپلی شي، د انسان د ذلت او سپکاوۍ د لاملونو جرړې وايستی شي او انسان په هغې کې له زيان او خسران نه خوندي وي، نو دې لوړ او مقدس هدف ته د رسېدو لار دا ده چې په لاندې څلورو خبرو ترکيز وشي: ايمان، د صالح افرادو روزنه، له حق نه دفاع او له حق نه د دفاع په لار کې صبر او استقامت.

هغه حزب چې ادعا کوي د خلکو د ژغورنې او نجات لپاره ئې په مبارزې لاس پورې کړی، خو اهداف، شعارونه او تګلارې ئې د (ايمان) په رڼا کې نه وي ټاکل شوي، د غړو ترمنځ ئې اړيکې د ايمان او عقيدې اړيکې نه وي، عملونه ئې د ايمان

او عقیدې ښکارندويي نه کوي، د ایمان او عمل تر منځ ئې څرګند تناقض وي، نه په خپله په حق ولاړ وي او نه نورو ته د حق بلنه ورکوي، نه په خپله د مبارزې په کړلېچونو او لوړو ژورو کې صابر وي او نه نورو ته د صبر او ثبات بلنه ورکوي، داسې یو حزب هیڅکله نشي کولی ټولنه د سعادت او نجات په لوري بوځي او د حق د لارې فاتح مبارزینو ته په ډاډمن محور او سنګر بدل شي. تاریخ د همدې خبرې په حقانیت شهادت ورکوي

له څو خاصو مواردو پرته په ټول قرآن کې ایمان او صالح عمل یو د بل تر څنګ راغلی، چې ښیي صالح عمل د ایمان برخه، نتیجه او مقتضا ده، دا دواړه سره بېلېدی نشي، نه ایمان له صالح عمل پرته حقیقي ایمان دی او نه په ظاهر کې صالح عمل له ایمانه پرته ارزښت او قیمت لري. ایمان مجرده یوه نظریه نه ده چې محض اعتقاد او باور پرې کافي وي، ایمان په حقیقت کې یوه تګلاره ده، خاص فکري خط د انسان مخې ته راکاږي او ده ته وایي چې د تلو لار دې دا ده، خاص ضوابط د انسان مخې ته ږدي او له ده غواړي چې دا به د خپل تګ او ژوند په وخت کې مراعاتوې، ایمان که له یوې خوا د خدای، انسان او کائنات په هکله د یوه جامع او دقیق معرفت مبنا او بنسټ دی له بلې خوا هغه نظریه ده چې له الله تعالی او د عالم له هر جزء سره د انسان فطري اړیکې ښیي او د ده د ژوند ټول مناسبات تنظیموي، ایمان هغه لارښود دی چې انسان به ئې د ژوند په هرګام او هر اړخ کې مراعاتوي. د قرآن له نظره په عقیدې او عمل کې، قول او فعل کې تناقض د ایمان منافي دی او منافقت.

په روایاتو کې راځي چې د پیغمبر علیه السلام په صحابه وو کې ځینې داسې وو چې د لیدو کتو په وخت کې به هلته یو له بله بېلېدل چې یوه به ئې دا سوره قرائت کړه، له اورېدو وروسته به په سلام سره رخصت شول.

# الهمزة

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الهمزه (سترګك وهل) دی، له لومړې آيته اخيستل شوی، ۹ آيتونه لري، لنډ لنډ او شعارونو ته ورته دي، ټول آيتونه ئې (لُمَزَة) ته ورته فواصل لري، ټول مفسرين په دې متفق دي چې دا مکي سوره ده، د دې مبارکې سورې په جامع او موجزو الفاظو کې د بډايانو او شتمنو هغه کرغېړن خصلتونه څېړل شوي چې د هرې غيراسلامي او جاهلي ټولنې په شتمنو او بډايانو کې په څرګنده او وفرت سره ليدل کېږي او په حقيقت کې دا د بډايانو او شتمنو عادتونه، خصلتونه او ځانګړتياوې ګڼل کېږي: ځان لوړ، لوی او تر نورو غوره ګڼل، نورو ته په سپکه سترګه کتل، هغه څوك ذليل شمېرل او د استهزا وړ ئې بلل چې د دغو بډايانو ټولې شتمنۍ د دوی د خولو او تڼاکو محصول ده، د دوی سوکالي د بډايانو د عيش او عشرت په پښو کې ذبح شوې، د دوی د خولو او تڼاکو محصول د بډايانو په جېب کې لوېدلی، دوی په دې خاطر په فقر، لوږه او محروميت کې ژوند کوي چې د ټولنې ظالمانه اقتصادي نظام او غيرعادلانه مناسباتو ئې د محرومې طبقې ګټې د غارتګرو او مفتخورو بډايانو په پښو کې اچولې، دا ظالم او لوټمار بډايان د دې په ځای چې خپل مرفه او سوکاله ژوند د دې محرومې طبقې د زيار او زحمت نتيجه وګڼي او ځان د دوی پوروړي وګڼي، د دوی احسان ومني او په دې باور وي چې د بډايانو په شتمنيو کې د دې محرومې طبقې (معلوم حق) دی، که د دوی

ملاماتوونکی زیار نه وای نو د شتمنو دا عیش عشرت او بې حسابه شتمنۍ به هم نه وې، خو دا بې رحمه بدایان نه یوازې د دوی احسان نه مني، د انسان په سترګه ورته نه ګوري او له ځان سره ئې برابر نه ګڼي بلکې ذلیل او د تحقیر او سپکاوي وړ ئې ګڼي او د دوی د هر څه د غارت کولو په هڅه کې دي، تل ئې ځان تر دوی لوړ او دوی ئې حقیر او سپك شمېرلي، هم له دوی سره په چلند کې، هم د راکړې او ورکړې په وخت کې، هم د دوی په اړه د تبصرو په دوران کې او هم هغه وخت چې د دوی ترڅنګ تېرېږي، په دوی تمسخر کوي، په (همز) او (لمز) او (د سترګو او شونډو په خوځولو سره) د دوی سپکاوی کوي، دا حریص بډایان له دې پرته په بل فکر کې نه دي چې څنګه تر زیات نه زیات مال او دولت راغونډ کړي، ټول انساني ارزښتونه ئې هېر کړي، ټول ئې د خپل حرص او دولت غونډولو په پښو کې ذبح کړي، د دوی په نظر د ټولو ارزښتونو (ملاك) او (معیار)؛ (مال او دولت) دی، څوك چې دا په واك کې لري د دوی په اند (شریف) او (عزتمن) دی او څوك چې ترې محروم دی سپك او ذلیل دی او د تحقیر، توهین وړ دی، شتمن دا حق لري چې دوی د خپلې رفاه او عیش عشرت لپاره قرباني کړي. دا سوره مونږ ته وایي چې بډایان تل د خپل مال او دولت په ګڼلو مشغول وي، تل په دې فکر کې چې څنګه خپله شتمني زیاته کړي، څنګه تر زیات نه زیاته ګټه ترلاسه کړي، څنګه محتاج او بې وزلي خلك په دام کې واچوي، وئې غولوي، هر څه ترې غارت کړي، د دولت په راغونډولو کې داسې مشغول دي چې (پیسې) هر څه ګڼي، ګمان کوي چې شتمنې به ده او د ده کورنۍ ته تلپاتې عزت ورپه برخه کړي، د ده دائمي سلطه او لویي به پر نورو تضمین کړي، داسې انګېري چې دا شتمني به د تل لپاره ورسره وي، هرې اندېښنې ته به ئې ځواب وایي، له هرې ستونزې به ئې ژغوري، دا ئې په خیال کې نه ګرځي چې یوه ورځ به ئې پرېږدي او تش لاس به د الله تعالی په لوري درومي، د دنیا حب او مینې هم مرګ ترې هېر کړی او هم آخرت، خو داسې نه ده لکه دی چې ګمان کوي، دا د مال حرص او د دنیا حب به ئې د دوزخ په سره اور کې وغورځوي، هغه اور چې الله تعالی د حریصو شتمنو او ظالمو بډایانو لپاره مختص کړی، داسې اور چې هر څه

په کې ولوېږي مات مات او ټوټې ټوټې ئې کړي، دا اور ورته منتظر دی، هیبتناك، له رعبه ډك، یوازې پوستکي نه سوزوي بلکې زړه ته ځان رسوي، د دغو بدایانو د زړه حال به ځان ته معلوموي او داسې به ئې سوزوي چې ورسره ښایي، دا اور پوهېږي چې په دغو زړونو کې څه وو، د مال په هکله څومره افراطي مینه او له بې وزلو او محرومانو نه څومره کرکه؟ د ظلم، خیانت او دوکې څنګه خطرناك عزایم؟ داسې اور چې پر دوی به راتاو شي، د وتلو ټولې لارې به پرې بندې کړي، د اور په تشو اوږدو ستنو کې چې پر سر به ئې برغولي پراته وي، ټولې سوري تړل شوې، داسې لکه دوی چې په دنیا کې د خپل حرص په حصار کې نښتي وو، په زړونو کې ئې د حرص اور بل وو، په ټولنې کې د فقر او لوږې باعث شول او ډېر بې وزلي انسانان ئې د فقر او لوږې په اور کې وسوزول، د خونړیو جګړو سبب شول او د دې جګړو په اور کې بې شمېره بې ګناه انسانان وسوزېدل، د نړۍ د اکثرو جګړو تر شا د دغو شتمنو لاس وو، دا دوی ول چې ولسونه او ملکونه ئې سره جنګول، نن باید د خپلو ګناهونو مناسبه سزا وګوري، د ځمکې پر سر چې چا اورونه بل کړي؛ سزا ئې (الهي اور) دی، په سر پوښلو ستنو کې، په لاس پښو کې ئې زنځیرونه، په ستنو پورې تړلي، دا له دغو بدایانو سره ښایي.

بسم الرحمن الرحیم

---

Ïb& Ü ¡ tø ÇÈ ¼çŠ£ ãr ZW$B ì Hd “ ‰©$ÇÈ ¢“J9 ‑ ç“Jè ©à6 ÿ ®ƒr

ÇÎÈ þJÜ tø$B 7 1‘Š& $Br ÇÍÈ þJÜ tø$’Î Ïb ‹ 6.ã ž x . ÇÌÈ ¼ç$#‑{ & ÿã$B

ÇÑÈ ¤‰ ¹ s B NÍkö ã $kXÎ ÇÐÈ ó‰Ïèx{ $’ ?ã ßÎ Ü? ÓÉ$ÇÏÈ è‰%q Û$« ! $ã$R

ÇÒÈ ¨Š£ JB ‰Hå ’Î

---

۱- وای وای په هر سترګك وهونکي د عیبونو لټوونکي. ۲- همغه چې ئې مال راټول او شمار کړ.۳- ګمان کوي چې مال به ئې تل پاتې کړي. ۴- نه، داسې نده، حتماً به واچوی شي (حطمه) کی.۵- او څه شي ته خبر کړې چې څه ده حطمه.۶- الهي بل شوی اور.۷- هماغه چې په زړونو به راتاو شي. ۸- دا به په هغوی وي سرپوښلی. ۹- په غزول شوو ستنو کې.

---

۱ـ په (همزه) سره هغه چا ته اشاره شوې چې په سترګك وهلو او د شونډو په خوځولو او ګونځې کولو سره په نورو ملنډې وهي او سپکاوی ئې کوي او په (لمزه) سره هغه چا ته چې د نورو عیبونه بیانوي او په خپلو سپکوونکو تبصرو سره ئې اهانت کوي، د هغه چا په حال دې افسوس وي چې دا شنیع او کرکجن خصلتونه لري. د دې مبارك آیت په اړه مو څو ټکي په پام کې وي:

الف: څوك چې په خپل همز او لمز سره د نورو سپکاوی کوي، په حقیقت کې د ده خپله وضع د تأسف وړ ده، د نورو عیبونو ته د ګوتې نیولو په ځای دې هغو عیبونو ته پام وکړي چې په ده ئې خپل تور وزر غوړولی، دې افسوسناك حالت ته ئې رسولی او د نورو سپکولو او تحقیر ته ئې هڅولی، نه پوهېږي چې بده پایله ئې په انتظار کې ده، د هغه چا په حال افسوس چې له خپله بده حالته غافل دی او له خپل بد عاقبت ناواقفه، مطعم او ملبس ئې حرام، سلول سلول ئې له حرامو ډك او له هغه څه تغذیه کېږي چې د نورو د لاس د تېاکو او خولو محصول دی، خو دا بدمسته اوس په خپل منعم ملنډې وهي، سپك ئې ګڼي او ځان ترې لوړ احساسوي!!

ب: د بل د تحقیر او توهین عمل له خاصو حرکاتو او سکناتو، د سترګو او شونډو له خوځولو او د تندي له ګونځې کولو پیل کېږي، ورو ورو زیاتېږي او نوې نوې بڼه غوره کوي او تر عیب لټونو، صریح نیوکو او سپکو ښکنځلو پورې رسي.

ج: دا کرکجن خصلت په اصل کې د بد مستو بډایانو او مغرورو شتمنو عادت دی، هغه چې شتمنیو دوکه کړي، پیسې د عزت او شرف معیار ګڼي، یوازې هغه چا ته د شریف او عزتمن انسان په سترګه ګوري چې د مال او دولت خاوند وي، که

څه هم ظالم او بې رحمه وي او شتمني ئې د ظلم او خيانت له لارې تر لاسه کړې وي او هغه څوك ذليل او سپك ګڼي چې مال او دولت په واك کې نه لري که څه هم صالح، صادق او شريف انسان وي. خو بايد وګورو چې ولې لومړی د شتمنو د (همز) او (لمز) بدو خصلتونو ته ګوته نيول شوې او بيا ئې د مال او دولت غونډولو حرص ته، په داسې حال کې چې لومړي خصلتونه ئې له دې وروستي نشأت کوي او د دې فرع او محصول دی. ولې دلته لومړی د مال او دولت غونډول نه دي غندل شوي؟ د دې وجه څه ده چې د بداياتو دا ثانوي کرکجن خصلتونه په سر کې غندل شوي؟ ځواب ئې دا دی چې د اسلام له نظره تر ټولو لويه ګناه او پر انسان تر ټولو لوی تيری د ده په عزت تيری دی، تر ټولو لويه ګناه تکبر او ځان تر نورو لوړ ګڼل او د نورو سپکاوی او تحقير دی، دا صحيح ده چې له حرامو لارو مال او دولت راغونډول، د خلکو مال غصبول، د بې وزلو غولول او استثمارول جرم دی او دا هم صحيح ده چې د دې ټولو جرمونو بنسټ او بنياد د مال حرص او د دولت د غونډولو افراطي تلوسه ده، خو د نورو توهين او تحقير او په عزت او حيثيت ئې تيری تر ټولو ستر جرم او لويه ګناه ده، پيغمبر عليه السلام فرمايي:

عن سعيد بن زيد عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من أربى الربا الإستطالة في عرض المسلم بغير حق. رواه احمد

له سعيد بن زيد نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تر ټولو لوی سود په ناحقه د مسلمان په عزت تيری دی.

د دې ستر جرم شناعت او قباحت ته په پام سره د سورې په سر کې د بداياتو د نورو بدو خصلتونو په سر کې راغلی.

۲ـ (همز) او (لمز) د هغه چا خصلتونه دي چې له هرې لارې او له هرې وسيلې نه په استفادې سره ئې مال او دولت راغونډ کړی او تل ئې په شمېرلو بوخت او په دې اند ښېنو کې چې څنګه ئې لازيات کړي، څنګه نور دوکه کړي او زياته ګټه ترې ترلاسه کړي!!

د سورې د دوو لومړنيو موجزو آيتونو په الفاظو کې د حريصو بداياتو او مال

غونډوونکو څلور ګنده خصلتونه په ګوته شوي:

الف: د سترګو او شونډو په حرکاتو او د تندي په ګونځو سره د بې وزلو او نادارو سپکاوی او توهين او له دوی سره له کبر او غروره ډك چلند.

ب: دوی ته سپکې سپورې ويل، له عيبونو ډك او د هرراز اهانت وړ ئې ګڼل، د دوی له ټولو ښېګړو انکار کول، په ټولنې کې د دوی اغېز او نقش منفي شمېرل او د ټولو ستونزو مسئوليت د دوی پر اوږو اچول.

ج: د مال او دولت په راغونډولو کلك لګيا او سخت مشغول دي.

د: د خپل مال په شمارلو مصروف او تل په دې اندېښنو کې چې څنګه خپله شتمني زياته کړي او له نورو زياته ګټه ترلاسه کړي.

په دريم آيت کې د دوی بل خصلت ته داسې اشاره شوې:

۳- ګمان کوي چې مال او ثروت به ئې د ده بقا تضمين کړي، دائمي او تلپاتې عزت او افتخار به ئې په برخه کړي، د دولت په راغونډولو کې داسې مشغول دی چې ته به وايې مرګ ترې هېر دی، تل به ژوندی وي، خپل هر څه ئې په مال او دولت پورې تړلي، د همدې لپاره د مال او دولت په راغونډولو او شمېرلو مصروف دی او د همدې لپاره هغه خلك سپك او حقير ګڼي او په همز او لمز سره د دوی سپکاوی کوي چې مال او دولت نه لري او د ده په څېر ئې د مال په راغونډولو کې شپه ورځ پر ځان يوه کړې نه ده.

۴- ۹ : داسې نه ده لکه دا حريص بدبختان چې ګمان کوي، د فلاح او بقا او د عزت او سعادت د عواملو په اړه د دوی انګېرنه او محاسبه غلطه ده، نه به مال او ثروت د دوی فلاح او بقا تضمين کړي او نه به پر نورو دوی ته لوړوالی او شرف ورپه برخه کړي، د دوی د غلطې انګېرنې برعکس به حرص، له حرامو لارو مال او دولت غونډول، د بې وزلو توهين او سپکاوی، د دوی پر مال، ځان او عزت تېری او ټول هغه عملونه ئې چې له زرپرستۍ څخه زېږي، دوی په هغه اور کې پرې باسي چې الله تعالی د حريصو شتمنو او ظالمو بدبختانو لپاره مختص کړی، داسې اور چې هر څه په کې ولوېږي مات مات او ټوټې ټوټې ئې کړي. د دغه اور

ځانګړتیاوې دا دي:

الف: حطمه دی، هر څه ټوټې ټوټې کوي، د مغرورو بډایانو هډوکي به مات مات کړي.

ب: داسې ستر او هیبتناك اور دی چې الله تعالی ځان ته منسوب کړی او دا یوازنی مورد دی چې الله تعالی اور ځان ته منسوبوي، دا د دې لپاره چې د دې اور ستروالی او هیبت ښه افاده شي. دا هغه اور دی چې الله تعالی د دغو بې رحمو شتمنو لپاره مناسب لیدلی.

ج: دا اور به پر دوی راتاو وي، دوی به ئې کلك احاطه او د وتلو لارې به ئې پرې بندې کړې وي، دوی به د اور په داسې تشو اوږدو اوږدو ستنو کې لوېږي چې پر سر به ئې برغولې پراته وي، ټولې سوړې به ئې ترل شوې وي، حرارت به ئې لحظه په لحظه زیاتېږي، نه به د حرارت د وتلو کوم منفذ وي او نه د دوی د تېښتې او وتلو کومه لار.

د: او یا خو به دوی د اور په داسې کندو کې پراته وي چې سر به ئې بند وي او دوی به له اوږدو اوږدو ستنو سره په زنځیرونو ترل شوي وي.

دا مغرور زر پرست شتمن چې په ټولنې کې د فقر او لوږې باعث او د محرومانو او مستضعفانو په لوټلو بوخت ول، فتنې، شخړې او جګړې ئې راولاړولې، په خلاص لاس ئې د بې وزلو د خولو او د لاس د تڼاکو محصول لوټلو او د خپل همنوع په نسبت ئې په زړه کې کینه او کرکه وه، شعله ناك حرص ئې هرې ګناه او هر جنایت ته هڅولو، نن باید په ستر او هیبتناك الهي اور کې وسوزي او د خپلو عملونو مناسبه سزا وڅکي.

کوم څه چې دلته د شتمنو په هکله ویل شوي، دا هم د کلي په کچه د حریص او ظالم بډای او شتمن په هکله صدق کوي او هم د ملك او نړۍ په کچه، نن د غرب پانګه وال ظالمانه نظام د دې سورې مصداق دی، دوی د دریېمې نړۍ هغه ولسونه حقیر ګڼي چې دوی لوټلي، فقر او لوږه دوی پرې مسلط کړې، که د دغو مظلومو هېوادونو غارت کول نه وی نو غرب به نن په دې عیش او عشرت کې ژوند نشو

کولی، تر نورو به ئې ځان لوړ نه ګڼلو، په نړۍ کې د فقر او لوږې اساسي او ستر عامل هغه لوټمار او غارت دی چې دا ثو پېړۍ دوی روان کړی، مخکې ئې د درېیمې نړۍ په هېوادو بریدونه کول او د توپ او ټانك په زور ئې نیول او د دوی شتمنۍ ئې تالان کولې، خو اوس ئې داسې چارواکي او فوځونه پر دوی مسلط کړي چې دوی ته همغه کار کوي چې پرون ئې د خپلو فوځونو په لاس کاوو، دا دوی دي چې د خپلو سودي بانکونو له لارې درېیمه نړۍ غارت کوي، دا دوی دي چې په آسیائي او افریقائي ملکونو کې دلته او هلته د دې لپاره د جګړو اورونه بلوي چې له یوې خوا د خپلو وسلو د خرڅلاو بازارونه پیدا کړي او له بلې خوا د دې ملکونو شتمن دې ته اړ کړي چې خپلې شتمنۍ غربي بانکونو ته انتقال کړي. دوی خو نن سپین پوستي لوړ او نجیب نسل او تر نورو غوره ګڼي او چې خپل نازولي او په نعمتونو کې ستر شوي د افریقا او آسیا له فقر ځپلو سره مقایسه کوي نو باور ئې لاپوخ شي، خو خدای خبر که په غربي هېوادونو هغه حالت د ثو میاشتو لپاره راشي چې آسیائي او افریقائي ملکونه ئې له پېړیو پېړیو راایسې زغمي، د غربیانو به څه حالت وي، شکلونه به ئې د کتو وي که نه او ثوك به ورسره یو ځای ډوډۍ وخوري که نه؟

# الفیل

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الفیل دی، له لومړۍ آیته اخیستل شوی، پنځه آیتونه لري، د ځلورو آیتونو فواصل ئې د (فیل) کلمې ته ورته دي، (فیل، تضلیل، ابابیل، سجیل)، خو پنځم آیت ئې د مأکول په صیغې پای ته رسېدلی، چې د مخکنیو غړونو لپاره د ودرېدو او توقف ښا ښسته او موزون غږ لري. د سورې له مضمون او د بیان له اسلوب ئې په وضاحت سره معلومېږي چې دا سوره په مکه مکرمه کې او هغه وخت نازله شوې چې د قریشو مغرورو سردارانو پیغمبر علیه السلام او د ده یاران په خپل زور ځواك او د ملاتړو په لښکرو ګواښلو او وېرولو او الله تعالی د دوی د ګواښونو په مقابل کې دا سوره نازل کړه او په دې کې ئې د دغو مغرورو سردارانو په وړاندې د حبشې د مغرور واکمن د هغه لوی لښکر عبرتناکه پایله کېښوده چې په فیلانو مجهز وو، شمېر ئې دومره چې د عربو په تېر تاریخ کې ئې چا مثال نه وو لیدلی، د کعبې د ورانولو په غرض ئې په مکې مکرمې برید وکړ، خو له ماتې سره مخامخ شو، د دې لوی لښکر ډېر د خپلو فیلانو تر پښو لاندې شول، مړي ئې په صحرا کې خواره واره او د مرغانو خوراك شول، دا سوره د قریشو

مغرورو سردارانو ته وايي: په خپل زور ځواك د غرور پاېله به داسې وي لكه د فيل د خاوندانو پاېله.

د دې لوی برید قصه داسې وه:

د یمن یهودي واكمن، یوسف بن ذونواس په (۵۳۰) میلادي كې په نجران له تسلط نه وروسته، د هغه ځای ډېر مسیحیان ووژل، د حبشې مسیحي پاچا نجاشي د مسیحیانو د انتقام په بهانه وغوښتل چې یمن ونیسي او د ذونواس واكمني پای ته ورسوي، د دې لپاره ئې په **۵۳۰** میلادي كال كې د روم له امپراطور نه وغوښتل چې د فوځونو د انتقال لپاره ځو بېړۍ په واك كې وركړي، د رومي بېړيو له رارسېدو سره سم ئې اويا زره فوځ د ارياط نومي قومندان تر مشرۍ لاندې د یمن د اشغال لپاره وخوځاوو، یمنیان ونتوانېدل چې مقاومت وكړي، یمن د حبشي مهاجمینو په لاس كې پرېووت او ذونواس په درياب كې غرق شو. دې برید سیاسي او اقتصادي موخي درلودې، د مظلومو مسیحیانو انتقام هسې یوه بهانه وه، د روم امپراطور د شام او مصر له تصرف نه وروسته غوښتل چې د شرقي افريقا او د عربو هغه سیمې، بازارونه او تجارتي لارې تصرف كړي چې تر هند او اندونیزیا پورې غزېدلې وې. خو د یمن فاتحین په یمن باندې د حكومت كولو په سیالۍ كې خپلو كې ونښتل، ارياط په دغو نښتو كې ووژل شو او قدرت د ابرهه لاس ته ورغی، د حبشې پاچا دی په یمن كې خپل نائب وټاكو، كار ئې ورو ورو رونق وموند او هغه ځای ته ورسېدو چې د یمن مستقل واكمن شي او پر یمن له تسلط نه وروسته ئې وغوښتل چې ټول عرب د مسیحت په منلو اړ كړي او ټولې هغه تجارتي لارې تصرف كړي چې د عربو په واك كې وې، د دغو تجارتي لارو تصرف د دې لپاره هم دوی ته ضروري برېښېدو چې رومیانو له ایراني ساساني امپراطورۍ سره د نښتو په ترڅ كې هغه لارې له لاسه وركړې وې چې دوی ئې له شرقي ملكونو سره نښلول، د نویو لارو په لټه كې ول او په جزیرةالعرب باندې تسلط د دوی دا هدف ترسره كاوو.

ابرهه لومړی په صنعاء كې د القلیس په نامه یوه ستره او مجلله كلیسا جوړه

کړه او د روم امپراطور ته ئې ولیکل چې ډېر ژر به د ټولو عربو مخ د کعبې له حج نه دې کلیسا ته راواوړي، مسیحیانو تل دا هڅه کړې چې د بیت الحرام د کعبې په ځای بله داسې کعبه رامنځ ته کړي چې د صلیب بیرغ پرې رپېږي او د کعبې د ورانولو او تصرف فرصت او توان ترلاسه کړي. ابرهه د مسیحیانو دا زړه هیله او تمنا پټه ونه ساتله او په ډاګه ئې دا اعلان وکړ چې د کعبې د ورانولو اراده لري. د مناسب فرصت او بهانې په لټه کې وو. په همدې وخت کې یوه داسې پېښه رامنځ ته شوه چې له یوې خوا ئې د مسیحیانو احساسات راوپارول او له بلې خوا ئې ابرهه ته د مکې د تصرف ښه بهانه او فرصت په لاس ورکړ. ځینې وایي چې د القلیس د کلیسا سپکاوی وشو، څه کثافات او ګنده شیان په عبادت ځای کې واچول شول او ځینې نور بیا وایي چې د کلیسا یوې برخې ته اور واچولی شو، ځینې دا د ابرهه د اعلان په وړاندې د قریشي ځوانانو غبرګون ګڼي او ځینې نور ئې د ابرهه توطئه شمېري چې غوښتل ئې د مسیحیانو احساسات راوپاروي.

په (۵۷۰ـ ۵۷۱) میلادي کال او په نوموړې پېښې پسې متصل، ابرهه له ۲۰ زره مجهز فوځ سره چې ۹ یا ۱۳ فیلان هم ورسره وو، له ډېرو تجهیزاتو سره د مکې د نیولو لپاره وخوځېدو، د یمن یوه نومیالي سردار ذونفر له خپلې قبیلې سره د ده مخه ونیوله او له سختې نښتې وروسته ئې ماتې وخوړه، بیا د نفیل بن خثعمي په نامه یوه عرب سردار په خپلې سیمې خثعم کې د ده مقابلې ته راوړاندې شو، خو هغه هم ماتې وخوړه، دی ونیولی شو او قبیله ئې خوره وره شوه، ابرهه د ده له وژلو منصرف شو او د اسیر په توګه ئې له ځان سره وساتو تر څو د سفر په دوران کې د لارښودونکي په حیث ترې کار واخلي. کله چې د ابرهه لښکر طائف ته نږدې شو، د بنی ثقیف قبیلې احساس کړه چې د دې لوی لښکر د مقابلې توان نه لري له دې وېرې چې داسې نه د ابرهه لښکر د دوی لات نومی ستر معبد وران نه کړي، د مسعود په نامه د خپلې یوې قبیلې سردار ئې د یوه وفد په مشرۍ د ابرهه خوا ته ولېږو چې هغه ته ئې وویل: زمونږ معبد هغه معبد نه دی چې ته ئې د ورانولو لپاره راغلی ئې، هغه په مکه کې دی، زمونږ د بتخانې له ورانولو منصرف شه، مونږ به تر

مکې پورې ستاسو لاربنودنه وکړو او یوه ډله به په دې منظور درسره ولېږو، ابرهه د دوی غوښتنه ومنله، بني ثقیف د ابورغال په نامه یو څوك له دوی سره ولېږو، خو دی مکې ته له رسېدو د مخه په هغه ځای کې مړ شو چې د مکې تر وادي درې رباطه فاصله لري، عربو به تر اوږدې مودې د دغه خیانت په وجه د ده قبر په تیږو ویشتو او د بنی‌ثقیف قبیلې ته به ئې د دې لپاره په سپکه سترګه کتل چې د خپلې بتخانې لپاره ئې د هغه لښکر ملګرتیا وکړه چې د کعبې د ورانولو لپاره راغلی وو.

کله چې د ابرهه لښکر د المغمس سیمې ته نږدې شو، د سپرو ډله ئې د اسود بن مقصود تر مشرۍ لاندې د مکې په لورې ولېږله چې د قریشو ډېر څاروي او اوښان ئې غارت کړل، په دغو کې د مکې د ستر او نومیالي مشر عبدالمطلب دوه سوه اوښان هم وو، تر دې د وروسته پېښو په هکله له بېلابېلو روایاتو سره مخامخ کېږو، ځینې وایي چې ابرهه د مکې خلکو ته احوال ولېږو چې له تاسو سره د جګړې اراده نه لرو، د دې لپاره راغلي یو چې کعبه ورانه کړو، که غواړئ خپله جرګه د تفاهم او خبروآترو لپاره راولېږئ، د مکې خلکو خپل سردار عبدالمطلب ورولېږو، ابرهه د ده د وقار او دروند شخصیت تر اغېز لاندې راغی، له خپل تخت نه راکوز شو او د ده درناوی ئې وکړ او په خپلې خوا کې ئې کښېناوو او په پوره دقت سره د ده خبرو ته غوږ شو، خو چې کله ئې عبدالمطلب داسې ومونډ چې یوازې د غارت شوو څارویوو او اوښانو د استرداد مطالبه کوي او پر مکې د برید او د کعبې د نه ورانولو په اړه هیڅ نه وایي، هغه ته ئې مخ واړاوو او ورته وئې ویل: ستا د څېرې په لیدو سره تر اغېز لاندې راغلم او یو دروند مشر راته وځلېدې خو ستا خبرو او د څو څارویو مطالبې دې زما په نزد هغه وقار راکم کړ، عجیبه ده چې ته د خپلو اوښانو د استرداد خبره کوې، خو د خپل معبد په هکله چې ستاسو د نیکونو دیني مرجع ده څه نه وایې!! عبدالمطلب د ده په ځواب کې وویل: زه د خپلو اوښانو خاوند یم نو ځکه ئې مطالبه کوم، دا کور ځانته خپل مالك لري هغه به ئې په خپله ساتنه کوي. ابرهه ورته وویل: هیڅوك ئې نشي ساتلی، عبدالمطلب ورته وویل: ته پوهېږې او هغه، دا ئې وویل، پورته شو، خپل اوښان ئې ترلاسه کړل او مکې ته

ستون شو.

ځينې نور بيا وايي چې حرم ته نږدې، د طايف او عرفات ترمنځ د الصفاح نومې سيمې ته د ابرهه له رسېدو وروسته عبدالمطلب په خپله هلته ورغی او ابرهه ته ئې وويل: له مونږ څه غواړې؟ ولې دې په مکې بريد ته ملا تړلې؟ که زمونږ مال دولت دې مقصد وي مونږ حاضر يو له جګړې پرته ئې درکړو... ابرهه ورته وويل: ما اورېدلي چې دا د امن کور دی، راغلی يم چې امنيت ئې پای ته ورسوم، عبدالمطلب په ځواب کې ورته وويل: دا د خدای کور دی، الله تعالی تر اوسه هيڅوک نه دی پرېښی چې پرې مسلط شي، ابرهه وويل: تر څو چې ئې وران نه کړم هيڅکله به بېرته ونه ګرځم. همدا ئې وويل او لښکر ته ئې د مخکې تلو امر وکړ.

عبدالمطلب مکې ته راوګرځېدو او د مکې خلکو ته ئې وويل: د دې ستر لښکر د مقابلې توان نه لرو، بايد له مکې ووځو، غرونو او درو ته پناه يوسو، د مکې اوسېدونکو ښار تخليه کړ، عبدالمطلب له ځينو مشرانو سره د کعبې حرم ته ولاړ، د کعبې زنځير ئې ونيو او دا دعا ئې وکړه: الهي! بنده له خپل کوره دفاع کوي ته هم د خپل کور ساتنه وکړه، مه پرېږده چې د دوی صليب برلاسی شي او د دوی تدبير ستا پر تدبير غالب شي، د صليب پر آل او پالونکو ئې خپل بندګان غالب کړه، الهي! له تا پرته بل څوك نه لرو چې پناه ورو وړو او مرسته ترې وغواړو، ته په خپله خپل حرم د دوی له شره وژغوره.

دا روايات داسې دي چې ګواکې قريشو هيڅ مقاومت نه دی کړی، له مکې ئې دفاع نه ده کړې، ښار ئې پرېښی او غرونو او درو ته ئې پناه وړې!! ځينې نور بيا دا روايات ضعيف او غير قابل اعتناء ګڼي او وايي چې دا څنګه ممکن ده چې د لارې په اوږدو کې حتی په خپله يمن کې دې نور قبايل د ابرهه مقابله وکړي او قريش؛ دا د کعبې متوليان، دې هيڅ مقاومت ونکړي او د کعبې په ورانېدو دې راضي شي او هيڅ غبرګون دې ونښيي!! دوی وايي: دا صحيح ده چې قريشو مکه تخليه کړې، خو نه د تېښتې په نيت، بلکې د مخامخ جګړې په ځای په ورو ورو ټولګيو سره پر دښمن د ناڅاپي حملو لپاره، هغوی خپلې کورنۍ وايستې خو ځوانانو او غشي

ویشتونکو ئې په غرونو او درو کې دښمن ته کمینونه ونیول، چریکي جنګ ئې پیل کړ او وخت نا وخت ئې پر دښمن بریدونه پیل کړل.

ځینې وایي چې د منی او مزدلفې تر منځ وادي محسر ته د ابرهه د لښکر له رارسېدو سره سم د ابرهه د لښکر سپین فیل چې محمود یا محموت ئې ورته ویل او د لښکر په مخکې به روان وو، ځای پر ځای ودرېد، له مخکې تلو ئې ډډه وکړه، په لرګیو ئې وواهو، د اوسپنې په تېزو سیخونو ئې وچخاوو خو ونه خوځېدو، چې مخ به ئې په بل لوري واړاوو نو چست او چالاك به روان شو خو چې د مکې په لوري به ئې رواناوو له تلو ئې ډډه کوله!! په همدې وخت کې د ساحلي مرغانو ډلې ډلې راغلې، هر یوه په خپلې مښوکې او منګولو کې وړې وړې تیږې نیولې وې او د ابرهه پر لښکر ئې ورولې، په ځا چې به دا تیږې ولګېدې سخت به ټپي شو، له زخمونو به ئې وینې او نو بهېدو، غوښه به ئې ورسته شوه او وبه رژېده.

ځینې مؤرخان په دې عقیده دي چې د دې لښکر په لیکو کې د چیچك بیماري خوره او د ډېرو د مرګ باعث شوه، ځینې نور بیا وایي چې دا مرغان په اصل کې غوښه خواره مرغان وو چې د لښکر د تیت پرك کېدو او په دوی کې د ډېر مرګ وروسته سیمې ته راغلي او د مړو د غوښو په خوراك بوخت شوي، وایي چې دغو مرغانو د ابرهه پر لښکر تیږې نه دي ورولې، بلکې د قریشو جنګیالو په مچلوغزو سره پر دوی تیږې ورولې، د دوی پرله پسې او ناڅاپي بریدونه له یوې خوا، په لښکر کې اختلاف له بلې خوا، د بیماریو خورېدا له بلې خوا د دې باعث شوې چې دا لښکر له ماتې سره مخامخ شي، بېلې بېلې ډلې ئې په نامنظمه توګه په بېل بېل استقامت وخوځېږي او ځای ځای کې تر بریدونو لاندې راشي او له لږ شمېر پرته ټول لښکر له منځه ولاړ شي.

د محققانو دا ډله استدلال کوي چې د ابرهه لښکر په وادي محسر کې له منځه تللی او د دې وادي تیږې همغسې دي چې قرآن ئې معرفي کوي: سجیل، پخې ختې ته ورته تیږې او وایي چې په دې سوره کې د (ترمیهم) صیغه د سورې مخاطب قریشو ته متوجه او معنا ئې دا ده چې تا په تیږو ویشتل، پر مرغانو د دې صیغې

اطلاق صحيح نه ګڼي، همدا راز په دې خبرې تأکيد کوي چې له ديني مقدساتو نه د دفاع په اړه د الله تعالى سنت دا نه دی چې په خارق العاده توګه او پرته له دې دفاع وکړي چې په دې مقدساتو باور لرونکي د دفاع لپاره راوړاندې شي. بلکې سنت ئې دا دی چې د هغو خلکو مرسته کوي چې له دغو مقدساتو نه د دفاع په خاطر ملا وتړي. کعبه ډېر ځلې د سېل په شان طبيعي حوادثو کې او د جګړو په ترځ کې ورانه شوې، حتى د مسلمانانو تر منځ د جګړو په ترځ کې، څو ځلې ئې صدمه ليدلې او ځينې برخې ئې ورانې شوې، د ابرهه د حملې په دوران کې د مکې اوسېدونکي دښمن ته تسليم شوي نه دي، غرونو ته ختلي او پر دښمن ئې بريدونه پيل کړي، الله تعالى خپل تائيد او نصرت پرې پېرزو کړی او هر غشی ئې هدف ته سم کړی، د دښمنانو په زړه کې ئې وېره او خوف اچولی او د بريا لپاره ئې ټول شرايط برابر کړي، دوی د بدر او احزاب د جګړو بېلګې د دې خبرې په تائيد کې وړاندې کوي او د اصحاب فيل قصه دې ته ورته ګڼي. د دې عبرتناکې تاريخي قصې په ترځ کې د قريشو مغرورو سردارانو ته ويل شوي چې له پيغمبر عليه السلام سره له دښمنۍ لاس واخلئ، له دښمنۍ نه ئې له دې پرته بله نتيجه نشئ ترلاسه کولی چې مغرور ابرهه او مجهز لښکر ئې ورسره مخامخ شو.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

@‹îÒ ? 'Î œ‰ä @èø Ó9‰ ÇÈ ê‹ÿ¶$É »tÛ¼'Î 7 ƒ' ®èù # ø. •? Ó9‰

ÇÍÈ @šÅÂ `Ï ‚'$ÚÏ2 Nû‹Bè? ÇÌÈ ®‹Î$/‰ #žöÛ NÍÕã ®™ãr ÇÊÈ

ÇÎÈ ¥qà2 ÜB 7# ó è. Nß=èŸú

---

۱- خبر نه يې! فيل دارانو سره څه وکړل ستا رب.۲- آيا نه ئې کړ بې لارې د

دوی چل؟ **۳-** او خېلونه د مرغانو ئې ونه لېږل پر دوی؟**۴-** ویشتل به دې په تیږو د سجیل. **۵-** نو الله کړل دوی په څېر د خوړل شوو وښو.

۱ـ د دې آیت مخاطب هر اوریدونکی او هر مخاطب دی، دا آیت د هغو مغرورو فیل دارانو عبرتناکه پایله د هر مخاطب مخې ته ږدې چې د کعبې د ورانولو لپاره ئې پر مکې برید وکړ، خو له سختې ماتې او تباهۍ سره مخامخ شول. او په دې سره له یوې خوا پیغمبر علیه السلام ته اطمئنان ورکوي چې د دښمن د زور ځواك او ګواښونو پروا مه کوه، ډاډه اوسه چې دوی به د ابرهه په برخلیك اخته کېږي، له بلې خوا د ده باایمانه یارانو او ملګرو ته ډاډ ورکوي چې که صبر وکړئ، د دغو مغرورو سردارانو په مقابل کې به داسې بریالي شئ لکه د قریشو ځوان جنګیالي د ابرهه د مجهز لښکر په مقابل کې، همداراز د قریشو سردارانو ته اخطار ورکوي چې په خپل زور ځواك مه مغروره کېږئ، له پیغمبر علیه السلام سره ستاسو مخالفت همغسې دی لکه د ابرهه او ستاسو او ستاسو د پلویانو پایله به هم همغسې وي لکه د ابرهه او لښکر ئې.

۲- مګر د دوی کید او تدبیر ئې بې حاصله نه کړ او پایله ئې په خپله د دوی په تاوان نه وه؟ مګر ودې نه لیدل چې الله تعالی پرې نښود چې د ابرهه غشی په نښه ولګېږي؟ کومه تیره چې ده د بل لپاره پورته کړې وه ودې لیده چې په خپله د ده پر پښو راپرېوته؟ ده غوښتل د کعبې اعتبار ختم کړي، ورانه او له ځمکې سره ئې برابره کړي، د دې لپاره ئې ستر او مجهز لښکر برابر کړ، د برید لپاره ئې ښه بهانه جوړه کړه، د خپل قوم او سرتېرو احساسات ئې راوپارول او هغوی ئې برید ته تیار کړل، خو ومو لیدل چې خیرالماکرین خدای د ده دسیسه شنډه کړه، مجهز فوځ ئې ورتباه کړ، دی او رومي بادار ئې خاسر او نامراد کړ؟ د دې مجهز فوځ ماتې او تباهي د کعبې اعتبار لازیات کړ او ټولو ته ئې ثابته کړه چې د دې مقدس کور او د دغه الهي معبد خاوند الله تعالی دی، د هر تېري په وړاندې به ترې دفاع کوي.

۳- که څه هم اکثرو مفسرینو د مرغانو لېږل د ابرهه پر فوځ د تیږو د ورولو

لېاره ګڼي او د هغو مفسرينو شمېر لږ دی چې وايي دا مرغان د لښکر له ماتې او تباهي وروسته راغلي او غوښه خوړونکي مرغان ول، خو د دې سورې په متن کې دوه مضبوط دلايل داسې دي چې د دوهمې ډلې مفسرينو رايه تائيدوي:

الف: مخکنی آيت ښيي چې د ابرهه د فوځ کار تمام شوی، توطئه ئې شنډه شوې، پېښه د دوی په ضرر او تاوان پای ته رسېدلې، له ماتې سره مخامخ شوي او مرګ ژوبله وراوښتې او دا مرغان له دې وروسته راغلي. د دوهم او درېيم آيت ترتيب دغه حقيقت په ګوته کوي.

ب: د سورې په وروستي آيت کې ويل شوي چې د ابرهه د لښکر مړي داسې په صحرا کې خواره واره پراته وو لکه خوړل شوي واښه، له دې نه په وضاحت سره معلومېږي چې د دوی اجساد خوړل شوي، چا خوړلي؟ آيا له دغو مرغانو پرته د بل څه نوم اخيستی شو؟ نه خو دا سوره اجازه راکوي چې د بل څه نوم واخلو او نه په هغې وچې بيديا کې له دغو مرغانو پرته بل داسې څه پيدا کېږي چې د دومره لوی لښکر مړي دې په دې حالت اخته کړي!! په داسې حال کې چې دا سوره په خپله مونږ ته وايي چې خېل خېل مرغان پرې رااستول شوي، مونږ حق نه لرو د بل څه نوم واخلو.

له دې علاوه د عربو د هغه وخت په ادبياتو کې د ډېرو شعراوو په اشعارو کې وينو چې کله به ئې غوښتل د خپل قوم مېړانه او په جګړې کې د دوی زړه ورتيا او پياوړې متې وستايي نو ويل به ئې: مونږ هغه توريالی قوم يو چې کله د دښمن مقابلې ته درومو نو غوښه خوړونکي مرغان راسره يو ځای زمونږ پر سر وزر وهي او مخکې مخکې درومي او د جګړې تر ميدانه زمونږ مشايعت کوي او پوهېږي چې مونږ به د دښمن ډېر جنګيالي له تورو تېر او د مرغانو د خوراك به ئې کړو.

۴ـ په دې آيت کې د (ترميهم) د صيغې په هکله د مفسرينو تر منځ د اختلاف شاهد يو: ځينې ئې د مفرد مؤنث صيغه ګڼي او اطلاق ئې په مرغانو کوي او وايي: مرغانو په وړو وړو تيږو ويشتل. خو ځينې نور ئې د مفرد مخاطب صيغه ګڼي او اطلاق ئې د دې سورې په قريشي مخاطب کوي او ترجمه ئې داسې کوي: تا دوی په

تیږو ویشتل. هغه هم نه کلکې تیږې بلکې له خټو جوړې شوې تیږې، خو ستا رب ستا په دغه ناڅیزه هڅې دا ستره نتیجه مرتب کړه چې د فیلدارانو هغه ستر لښکر ئې د مرغانو خوراك کړ.

د دوهمې ډلې مفسرینو د رایې په ملا تړ کې څو مضبوط دلایل شته:

الف: د سورې له آیتونو معلومېږي چې دا مرغان د پېښې په پای کې او هغه وخت خېل خېل راغلي چې د ابرهه لښکر په ماتې او مرګ محکوم شوی او مرغان د غوښو د خوراك لپاره راغلي. که د دغو مرغانو کار د تیږو ویشتل وی نو د مړو غوښې چا خوړلې؟

ب: که د آیتونو تسلسل او ترتیب داسې وی:

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ * ۱- خبر نه یې! فیل دارانو سره ستا رب څه وکړل.

وَ أَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْراً أَبَابِيلَ * ۳- او خېلونه د مرغانو ئې پر دوی ولېږل

تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ * ۴- چې د سجیل په تیږو به ئې ویشتل.

أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ* ۲- آیا د دوی چل ئې بې لارې نه کړ ؟

فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ* ۵- نو الله په څېر د خوړل شوو وښو کړل.

که څه هم داً ترتیب ډېر بې خونده دی او د سورې له ترکیب سره اړخ نه لګوي؛ خو که فرضاً داسې وی نو بیا مو ویلی شوی چې د مرغانو راتګ او د دوی لخوا پر لښکر د تیږو ورېدل، د مرګ ژوبلې سبب وو.

خو په دې صورت کې به هم له دې اشکال او بې ځوابه پوښتنې سره مخامخ وو چې کومو غوښه خوړونکو دا مړي د خوړل شوو واښو په څېر کړي وو؟ په هغې وچې صحرا کې خو داسې ځناوران او بیا په دومره شمېر کې نشته.

ج ـ د رمی (ویشتلو) فعل له انسان سره جوړېږي، مرغه ته ئې نسبت ورکول معقول نه دی دا ځکه چې مرغان ورول کولی شي خو ویشتل نشي کولی، په آیت کې د ویشتلو صیغه راغلې.

د- عربان د هغو تیږو لپاره د حجارة لفظ استعمالوي چې د موټ په اندازه یا

تر دې لويه وي، د وړو تيږو لپاره د حصاة نوم کاروي، په جمراتو کې چې کومې وړې تيږې ويشتل کېږي، هغوی ته حصاة وايي لکه په يوه حديث کې چې راغلي:
فرمی بسبعِ حصَيات، يُكبّرُ معَ كلِّ حَصَاةٍ، نو اووه وړې تيږې ئې وويشتې او له هرې تيږې سره به ئې الله اکبر وايو.
که د مرغانو لخوا د تيږو ورول مقصد وی نو د حجارة په ځای به حتماً د حصاة نوم راتو.
هـ- او تر ټولو مهمه او اساسي خبره دا ده چې قرآن له مقدساتو نه د دفاع په هکله د الله تعالی سنت داسې بيانوي:
وَلَوْلاَ دَفْعُ اللّه النّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لّهُدّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذكَرُ فِيهَا اسْمُ اللّهِ كَثِيراً وَلَيَنصُرَنّ اللّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنّ اللّهَ لَقَوِيّ عَزِيزٌ *
الحج: ۴۰
او که د الله دا ځيني خلك په ځينو نورو دفع کول نه وای نو خامخا به صومعې، د نصاراوو او يهودانو معبدونه او هغه جماتونه چې الله ډېر ډېر په کې يادېږي ټول به وران شوي وو او الله به حتماً د هغه چا ملاتړ وکړي چې د ده ملتيا کوي، بې شکه چې الله عزتمن ځواکمن دی.
دا آيت په پرېکنده توګه اعلان کوي چې له ديني شعائرو او مقدسو ځايونو نه الله تعالی په دې توګه دفاع کوي چې يوه ډله په بلې ډلې دفع کوي، د خدای پالونکو په لاس هغه خلك دفع کوي چې غواړي د عبادت ځايونه وران کړي، کله چې له شعائرو نه د دفاع لپاره خدای پالونکي ملا وتړي الله تعالی ئې مرسته کوي او په دين دښمنه ځواکونو ئې برلاسي کوي، که دا الهي سنت نه وای نو د عبادت ټول مخکني او اوسني ځايونه به وران شوي وو!! د دې معنا دا ده چې الله تعالی په خارق العاده توګه له دغو ځايونو دفاع نه کوي، له انسانانو پرته ئې په خپلو نورو لښکرو نه ساتي، په انسانانو ئې هم يوازې هلته ساتي چې دوی ئې ساتنې ته ملا وتړي.
تر څو چې د الهي نصرت لپاره ښايسته او وړ خلك راپيدا نشي الله تعالی خپل

نصرت او تائید نه نازلوي. که داسې نه وای نو کعبه به په طبیعي پېښو کې نه ورانېده او په داخلي جګړو کې به تاوان نه وررسېدو.

د مفسرینو د لومړۍ ډلې تفسیر له دې آیت او الهي سنت سره اړخ نه لګوي.

و: دا خبره د منلو نه ده چې نورو قبایلو حتی په خپله یمن کې د ابرهه مقابله کړې او قریش چې د کعبې متولیان وو، هیڅ مقاومت نه دی کړی، تسلیم شوي او د کعبې په ورانېدو راضي شوي!! دا هم په داسې حال کې چې لا د مخه خبر وو چې ابرهه د کعبې د ورانولو اراده کړې، کافي وخت ئې درلود، د جنګ لپاره ئې تیاری نیولی شو، تر ناڅاپي برید لاندې نه دي راغلي، سیمه ئې غرنۍ ده، د چریکي جنګ لپاره ئې مساعد شرایط درلودل، زړه ور او توریالي جنګیالي ئې درلودل، په جګړو کې تر ټولو قبایلو تکړه او غښتلي ول، د جنګي پیاوړتیا په وجه ئې تل پر نورو قبایلو حکومت کړی او همدغې وړتیا د ټولو عربو قیادت ورپه برخه کړی وو. څنګه ومنو چې دا قوم به له مقاومته پرته دښمن ته تسلیم شوی وي. مخصوصاً که دا خبره هم په پام کې ولرو چې د القلیس د کلیسا هغه سپکاوی هم دغو قریشي زلمیانو له کعبې نه د دفاع په جذبه کړی، که دوی په یمن کې دا کار کولی شو په مکه کې به څنګه دښمن ته تسلیمېدل؟!!

په لږ دقت سره په دې خبرې پوهېدی شو چې د مفسرینو لومړۍ ډله د هغو روایاتو تر اغېز لاندې راغلي چې له اسلام نه مخکې د جاهلیت له زمانې ترلاسه شوي او د قرآن دغه آیتونه ئې د همدغو روایاتو له مخې تفسیر کړي!! خو دوهمې ډلې قرآن په قرآن سره تفسیر کړی او د خپل تفسیر لپاره ئې پوره دلایل وړاندې کړي.

**۵.** دا آیت وایي چې د ابرهه لښکر داسې خور وور شو چې صحرا د دوی په مړو ډکه شوه، هرې خوا ته د خوړل شوو واښو په څېر تیت پرك پراته وو. دا آیت که له یوې خوا د دوی عبرتناکه ماتې او د هغه څرنګوالی په ډېر واضح توګه بیانوي له بلې خوا مونږ ته ښیي چې د دوی مړي د دغو یاد شوو خېل خېل مرغانو لخوا د خوړل شوو واښو په څېر (کعصف مأکول) شوي.

د دې تفسير له لومړي چاپ وروسته د قرآن يوه خدمتګار عالم مرحوم مولينا ګوهر رحمٰن چې الله تعالی دې ده او ټولو هغو خلکو ته ډېر ډېر اجر ورکړي چې د قرآن په درس او تدريس کې لګيا دي، د قرآن د پلي کولو لپاره جهاد کوي او قرآن ته خلك رابلي، ما ته د دې سورې د شرحې او تفسير په هکله يو خط رالېږلی وو او خپل ملاحظات ئې ليکلي وو او ما ورته په ځواب کې څه عرايض درلودل چې ځينې برخې ئې دلته رانقلول مفيد ګڼم:

محترم مشر ورور مولينا صاحب ګوهر رحمن السلام عليکم و رحمة الله و برکاته و بعد:

ستا ليك راورسېدو، ډېره مننه، د قرآني علومو په نشر او د قرآن لوري ته د خلکو د رابللو په کار کې تا ته له الله تعالی مزيد توفيق غواړم، الله تعالی مو بريالی او موفق لره، ستا د ليك په ځواب کې په اختصار سره عرض کوم:

۱- د الفيل د سورې په هکله چې تاسو کومه رأيه لرئ زه هم نږدې څلوېښت کاله په دغه رأی وم، دا رأيه مې د کورنۍ له غېږ، مدرسې او ځينو تفسيرونو اخيستې وه، خو څو کاله مخکې مې د دې سورې په هکله د علامه حميدالدين فراهي تفسير مخې ته راغی، د علامه قوي او مضبوط استدلال، په نورو آيتونو د ده دقيق استناد، ژور نحوي تحقيق، تاريخي دلايل او روايتي بحثونه مې دومره قوي او قانع کوونکي وموندل چې ناچار مې مخکنۍ رايه پرېښوده او د ده دلايل او رايه مې ومنله. د زړه له کومې ده ته دعا کوم او تل به د ده ممنون يم چې د ده په واسطه په يوه حقيقت پوه شوی يم، زه په دې باور يم چې هر څوك د علامه دلايل په سړه سينه او له تعصب پرته ولولي حتماً به له ده سره توافق کوي.

ډېر کلونه د مخه د تفهيم القرآن د مطالعې په دوران کې مې د علامه فراهي په رايې د مولينا مودودي (رحمه الله) هغه نقد هم لوستلی چې په ډېر درنښت او احترام سره ئې کړی (په داسې حال کې چې د علامه د علمي تحقيقاتو ډېره ستاينه او قدر کوي) او اوس مې ستاسو هغه نقد هم ولوست چې تاسو يوه پاکستاني ورور ته په خپل ليك کې ذکر کړی. باور وکړئ چې دا دواړه نقدونه مې نه يوازې ناوارد

موندلي بلکې د علامه فراهي د تفسير په سموالي ئې زما باور لازيات مضبوط کړ او په دې باور يم چې هر عادل او منصف قضاوت کوونکی به د دې نقدونو په اړه همدا قضاوت کوي.

که اجازه راکړئ چې د دغو آراوو او د علامه فراهي د رايې ترمنځ قضاوت وکړو نو د علامه رايه به په قرآن کې د ژور تدبر نتيجه او تفسير القرآن بالقرآن ګڼو او د نورو آراء به تفسير بالروايت، پرته له دې چې له قرآنه کوم دليل ورته وړاندې کړی شي او دا ضرورت احساس کړي چې روايتونه قرآن ته راجع کړي او روايتونه ئې هم له اسلام نه د مخکې زمانې نه چې اهميت ئې تر تاريخي رواياتو زيات نه دی.

تاسو د علامه فراهي په رايې په خپل نقد کې ليکلي چې د سلف او حضرات صحابه وو په مقابل کې داسې رايې ته اهميت نشو ورکولی!! په دې هکله څو ټکي له تاسو سره يادول غواړم:

دا سمه ده چې صحابه رضوان الله عليهم د قرآن لومړي حاملان دي او د قرآن په ژبه، اسرارو او رموزو تر هر چا زيات او ښه پوهېدل او تر هر چا زيات ئې د هر آيت مفهوم او هغه ظروف او شرايط درك کولی شوی چې دا آيت په کې نازل شوی، لازم ده چې د دوی رأی ته جدي اعتنا ولرو او په نورو آراوو ترجيح ورکړو، په دې هکله هيڅوك له تاسو سره هيڅ اختلاف نه لري، اختلاف په دې کې دی چې آيا کولی شو ثابته کړو صحابه وو ته منسوب آراء واقعاً د دوی آراء دي که نه؟ آيا هغه روايات چې مونږ ته رارسېدلي مؤثق دي او راوي ئې ثقه دی که نه؟ علامه فراهي د تحقيقاتو په ترڅ کې دې نتيجې ته رسېدلی چې د (الفيل) د سورې په هکله روايات ضعيف او بې بنسټه دي، وايي: (ټول دغه روايات په پای کې محمد ابن اسحاق ته ورګرځي او دی د محققينو له نظره ضعيف او غير ثقه دی او په دې متهم دی چې اکثراً له يهودي منابعو روايت کوي.) خو که مونږ د علامه فراهي د نظر خلاف له تاسو سره دا ادعا ومنو چې ابن اسحاق له يهودي مراجعو نه روايت نه دی کړی، آيا د ابرهه د لښکر د پاېلې په هکله د ده روايات له کفارو قريشو څخه نه دي؟ هر څوك په دې پوهېږي چې دا پېښه د پيغمبر عليه السلام له ميلاده مخکې شوې او چا چې

د دې پېښې په اړه څه ويلي هغه قريش دي چې کافر ول او د پيغمبر عليه السلام له ميلاده مخکې مړه شوي، آيا کولی شو په دغو رواياتو اعتماد وکړو؟ آيا کولی شو په دوی کې کوم موثق راوي ومومو؟ پوښتنه کوو چې ابن اسحاق دا روايات له چا نقل کړي او څنګه ئې دوی او د دوی روايات مؤثق ګڼلي؟

د علمي تحقيق تقاضا دا ده چې داسې روايات يوازې هغه وخت ومنو او د استناد وړ ئې وګڼو چې له قرآن سره تصادم ونکړي. مخصوصاً هغه وخت چې په يوې قضيې کې مختلف روايات ترسترګو کېږي او يا ګورو چې مختلف روايات يوه راوي ته منسوب کېږي، د اصحاب الفيل په اړه روايات هم له دې لحاظه مختلف دي چې د مرغانو شکل څنګه او رنګ ئې څنګه وو او هم له دې لحاظه چې دا تيږې څنګه وې او حجم ئې څومره!! او د دې تر څنګ ګورو چې يوه راوي ته متضاد روايات منسوب شوي. د دغو مختلفو او متضادو رواياتو ترمنځ د قضاوت لپاره او په دې خاطر چې پوه شو کوم يو ئې موثق دی او د منلو وړ او کوم ئې غيرمؤثق او د نه منلو، له دې پرته بله لار نه لرو چې قرآن ته ئې راجع کړو او په هغه صورت کې ئې ومنو چې له قرآن سره اړخ لګوي او يا لږ تر لږه له قرآن سره تصادم نه کوي. علامه فراهي په ګڼ شمېر آيتونو استناد کړی او دا ئې ثابته کړې چې دا روايات ضعيف او بې بنسټه دي.

زه به ځينې هغه دلايل ستاسو مخې ته کېږدم چې د علامه فراهي له رايې سره موافقو کسانو وړاندې کړي، په سر کې هغه دلايل چې د سورې په متن کې زمونږ مخې ته راځي:

۱ـ د سورې له دوهم او درېيم آيته په وضاحت سره معلومېږي چې لومړی د ابرهه لښکر ختم شوی بيا د مرغانو خېل خېل د دوی د مړو د غوښو د خوړلو لپاره راغلي. که لومړی دا آيت (و ارسل عليهم طيراً ابابيل) او ورپسې دا آيت (الم يجعل کيدهم فی تضليل) راغلی وای نو په هغه صورت کې مو ويلی شو چې د ابرهه د لښکر کيد د مرغانو په لېږلو سره شنډ شوی. خو برعکس ګورو چې لومړی د (کيد تضليل) راغلی او بيا (ارسال طير).

۲ـ آخري آيت (فجعلهم كعصف مأكول) ښيي چې د ابرهه د لښكر مړي د خوړل شوو واښو په څېر خواره واره شوي، يعني كوم غوښه خوړونكي راغلي او دوى ئې په دې برخليك اخته كړي!! كه وغواړو دا غوښه خوړونكي وپېژنو نو له دغو لېږل شوو مرغانو پرته بل څه نشو په ګوته كولى. دا ځكه چې لومړى د مرغانو د لېږلو خبره شوې او بيا ورپسې د دوى (كعصف مأكول) كېدل. په دې هكله هره بله توجيه كمزورې او تفسير بالرأى دى چې هيڅ دليل ورته نشي وړاندې كېدى.

۳ـ په آخري آيت كې د (فجعلهم) لفظ ښيي چې په مخكنيو آيتونو كې به حتماً هغه علت ته اشاره شوې وي چې په نتيجه كې ئې د ابرهه لښكريان (كعصف مأكول) شوي، په (فجعلهم) كې د (فاء) تورى همدا مطلب په ګوته كوي، هغه (علت) چې د (فاء) تورى ورته اشاره كوي په هيځصورت كې (رمي حجاره) نشي كېدى، دا ځكه چې له يوې خوا د (فجعلهم) او (ترميهم) افعالو تر منځ د فاعل اشتراك نشته او له بلې خوا د (رمي) او (خوړل كېدو) ترمنځ هيڅ تناسب نشو ښودلى، د علت او معلول ترمنځ بايد د فاعل او فعل اشتراك او تناسب وي، د دې لپاره بايد د خوړل كېدو بل سبب او علت پيدا كړو، په لږ دقت سره متوجه كېږو چې علت ئې د مرغانو راتګ دى نه بل څه، دا ځكه چې له يوې خوا د (ارسل عليهم طيراً ابابيل) او (فجعلهم كعصف مأكول) فاعل يو دى او له بلې خوا د علت او معلول ترمنځ تناسب شته، دا ځكه چې د مرغانو خېل خېل كولى شي د يوه لوى لښكر مړي د خوړل شوو واښو په څېر كړي.

همدا راز د تېرو په ويشتلو سره كولى شو لاس پښې مات كړو او حتى اجساد سوري سوري كړو خو (كعصف مأكول) كولى ئې نشو، مخصوصاً د وړو مرغانو په (رمي) سره. همداراز د (رمي) فعل په هيځصورت كې مرغانو ته نشو منسوبولى، دوى تيږې ورولى شي خو ويشتلى ئې نشي.

تاسو د (ترميهم) صيغې په هكله ليكلي چې دا د طيراً دوهم صفت دى او ويلي مو دي چې كه څه هم (طير) لفظاً مذكر دى خو مراد ترې د مرغانو جماعت او ډله ده او د جماعت لفظ مؤنث دى، نو ځكه ئې د مؤنث ضمير لپاره مرجع ګڼلى شو!! په

دې هکله څو مطالب عرض کوم:

الف ـ په دې آيت کې (ترميهم) په کوم دليل د مفرد مؤنث غايب صيغه نيسئ؟ ولې ئې مفرد مخاطب نه ګڼئ؟ په داسې حال کې چې د دې سورې په هيڅ آيت کې مفرد مؤنث فاعل نه دى ذکر شوى، خو په لومړي آيت کې ئې مفرد مخاطب راغلى، په کار خو دا وه چې د الله تعالى په بليغ کلام کې له هرراز لاسوهنې پرته مو د ترميهم صيغه هغه فاعل ته راجع کولى چې په سوره کې ئې ذکر شوى او له خپله ځانه مو داسې فاعل ورته نه جوړولى چې د سورې په هيڅ آيت کې ئې نښو موندلى، مګر دا يو بې ځايه تکلف او جسارت نه دى چې څوك دلته له خپله ځانه د يوه مؤنث فاعل راپيدا کولو بې ځايه هڅه کوي او د جماعت لفظ پرې علاوه کوي؟ همداراز څوك چې وايي (طير) لفظاً مفرد مذکر او معناً اسم جنس دى چې جمع افاده کوي، نو ځکه د (ترمي) صيغه ورته راغلې، هغوى ته وايو: که هغه اسم جنس ونيسو بايد د جمع صيغه ورته کارول شوې وى لکه په دې آيت کې:

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَنُ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ * الملك:۱۹

مګر د خپل سر د پاسه مرغانو ته ئې نه دي کتلي چې کله وزرونه وهي او کله ئې راغونډوي، له رحمن خداى پرته ئې هيڅوك نه ساتي، بې شکه چې هغه په هر څه نظر ساتي.

ګورئ چې دلته د (الطير) لپاره د صافات، يقبضن او يمسکهن د جمع صيغې کارول شوې! (طير) ته د (رمي) د انتساب په صورت کې اولى دا وه چې د جمع صيغې ورته راغلې وى. او که دا مفرد ګڼئ بيا خو بايد د (يرميهم) صيغه راغلې وى، لکه څنګه چې يو شاذ قرائت همداسې دى، ستاسو تعبير خو د دغه شاذ قرائت مطابق ده!! عجيبه ده؛ شاذ قرائت نه منئ او ترجمه ئې منئ!!

ب: د جماعت لفظ په دې دليل دلته مقدر نشو ګڼلى چې له يوې خوا داسې تقدير يوازې په هغه صورت کې سم کار دى چې له دې پرته بله چاره ونلرو او له بلې خوا د ابابيل لفظ په خپله جمع جمع ده او د محققينو په نظر مفرد نه لري، له جمع

جمع سره څنګه جماعت هم علاوه کوئ؟ د نحوي قواعدو له مخې به دې ته څه جواز مومو؟ او له بلې خوا داسې تقدير په هغه صورت کې د منلو وړ دی چې د جملې له جوړښت سره اړخ ولګوي، د دې آيت (و ارسل عليهم طيراً ابابيل) په کوم ځای کې تاسو کولی شئ چې د (جماعت) لفظ داسې علاوه کړئ چې د آيت ترکيب په خپل حال پاتې شي؟

د مفسرينو د لومړۍ ډلې تفسير؛ لوستونکي ته دا انتباه ورکوي چې که احياناً دين او ديني مقدسات له خطر او ګواښونو سره مخامخ شول نو د دفاع کار ئې الله تعالی ته پرېږدئ، تر څو ئې په خارق العاده توګه وساتي او د دښمن خطر دفع کړي!! دا تعبير د قرآن له روح سره سمون نه خوري او د داسې تعبير لپاره له قرآن نه هيڅ دليل نشو وړاندې کولی!! قرآن به څنګه دا خبره کوي په داسې حال کې چې د بني اسرائيلو دا وينا غندي چې دوی موسی عليه السلام ته وويل: فاذهب انت و ربك فقاتلا انا ههنا قاعدون: ته او رب دې ولاړ شئ او وجنګېږئ مونږ به دلته ناست وو!!

هر قرآن پوه په دې خبرې ښه پوهېږي چې د قرآن وينا د نوموړي تعبير خلاف او داسې ده چې کله يو مؤمن ټولګی له مقدساتو نه د دفاع لپاره ملا وتړي، الله تعالی ئې مرسته کوي او پر دښمن برې ورکوي که څه هم د دوی شمېر د دښمن په پرتله کم وي او تجهيزات ئې محدود. د الله تعالی نصرت هغه وخت نازلېږي چې د دې لپاره مناسب ظرف او وړ ټولګی راپيدا شي. له کعبې نه دفاع بايد د دغه الهي سنت مطابق ترسره شوې وي. که څوك داسې رايه وړاندې کړي چې له دې الهي سنت سره سمون نه خوري او د قرآن له نورو آيتونو سره په څرګنده توګه تصادم کوي، نو په قرآن د ايمان تقاضا دا ده چې داسې رايه ونه منو. د مرغانو په واسطه له کعبې نه دفاع له دغه الهي سنت سره نه جوړېږي!!

هـ: هغه خلك چې ګمان کوي د مرغانو په لاس د ابرهه د لښکر ختمول داسې دی لکه د فرعون او نوح عليه السلام د قوم غرقېدل او د عاد او ثمود هلاکت په زلزلې او تندې سيلۍ سره، دوه اشتباه کوي:

لومړی: دا چې نوموړي قومونه د پیغمبرانو علیهم السلام له بعثت او اتمام حجت نه وروسته هلاك شوي نه له دې د مخه. خو د ابرهه لښکر د پیغمبرعلیه السلام له بعثت نه مخکې تباه شوی.

دوهم: دا چې پر دغو قومونو نازل شوي عذابونه ټول د طوفان، سیلۍ او زلزلې په څېر طبیعي عذابونه دي، خو د وړو مرغانو په لاس د تیږو ویشتل غیرطبیعي او خارق العاده کار دی چې په قرآن کې ئې بېلګه نه ګورو. دا له هغو عذابونو سره نشو تشبیه کولی.

ځيني خلك داسې وي چې د کم شمېر جنګیالیو په لاس د یوه لوی لښکر ماتې ئې زړه ته نه لوېږي او عقل ئې نه مني، ناچار د داسې ماتې لپاره نور اسباب لټوي، بې ایمانه خلك خو په دې کې معذور ګڼلی شو خو په قرآن باور لرونکي ولې باید داسې وي؟ مګر دوی د قرآن دا وینا نه ده اورېدلې چې فرمایي:

كم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَت فِئَةً كثِيرَةً بِإِذْنِ اللّهِ وَ اللّهُ مَعَ الصبرِينَ *

د الله په اذن سره څومره لږکي ټولګي په ډېرکيو ټولګيو غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دی.

آیا دغو دوستانو ته د شوروي اتحاد پر هغو مجهزو فوځونو د افغان مجاهدینو بریا یو څرګند ثبوت نه دی، آیا دا اوس په افغانستان او عراق کې د امریکائي فوځ په مقابل کې د افغانانو او عراقیانو مقاومت ورته قناعت نه ورکوي. دا خلك ولې لا اوس هم په دې خبرې قناعت نه کوي چې په چریکي جنګونو سره د نړۍ لویو لویو ځواکونو ته ماتې ورکول ممکن ده.

همدا راز له دغو دوستانو پوښتنه کوو: دا مرغان وو که فرشتې؟ که وایي چې مرغان وو نو باید واضح کړي چې هغه مرغان کوم دي چې تیږې ویشتی شي؟ تراوسه هیڅا داسې مرغان نه دي لیدلي چې تیږې ویشتی شي!! او که وایي چې فرشتې ئې مرستې ته راغلې نو د فرشتو په هکله خو الله تعالی فرمایي چې دوی نه لیدی کېږي!! په دې کې شك نشته چې الله تعالی فرشتې د انسانانو مرستې ته لېږلې، د بدر او احد په جنګونو کې هم او په نورو کې هم، خو الله تعالی په خپله او

په مکرره توګه فرمايي چې دوی نه ليدی کېږي، (وَأَنزَلَ جُنُوداً لَّمْ تَرَوْهَا..... فَأَنزَلَ اللّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا........ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُوداً لَّمْ تَرَوْهَا )، قرآن په ډېر صراحت سره فرمايي چې د دغو فرشتو کار دا وي چې د مؤمنانو زړونه مضبوط او قدمونه ټينګ کړي او د کافرانو په زړونو کې وېره او خوف واچوي، قدمونه ئې ونښويي او پښې ئې سستې کړي، داسې نه ده چې فرشتې د مرغانو په بڼه کې او يا کومې بلې داسې بڼې کې راشي چې په سترګو وليدی شي. الله تعالی د هر کار لپاره لښکرې لري، په هر يوه خپل خپل کار کوي، مرغان ئې داسې نه دي پيدا کړي چې تيږې وروي، که څوك ووايي چې د ابرهه پر لښکر تند باد مسلط شو، مونږ ئې منو، دا ځکه چې الله تعالی په تندو بادونو سره ډېر باغي قومونه هلاك کړي، د خندق په جګړې کې ئې هم د مؤمنانو مرسته په دغسې تندې سړې سيلۍ سره وکړه، د قريشو د لښکر خېمې ئې ړنګې، اوښان او اسان ئې په تېښته، دېګونه ئې ورنسکور، او د ميدان پرېښودو ته ئې اړ کړل.

د روسانو په ضد جګړې کې هم ځينو خلکو زمونږ عربو ورونو ته ويل: د روسانو بمبارۍ په دې خاطر تأثير نه لري چې د جهازونو له راتلو سره سم تر لاندې ئې مرغان راځي، او بمونه په خپلو وزرونو يوې خوا بلې خوا ته منحرفوي!! دوی دا خبره منله، او په خپلو کتابونو کې ئې ليکلې: له فلاني فلاني معروف قومندانه مې دا خبره اورېدلی!! څو کاله وروسته که څوك دا کتابونه لولي نو د افغان جهاد په هکله به همدا په خپل تاريخي کتاب کې ليکي چې الله تعالی فرشتې د مرغانو په بڼه کې د افغان مجاهدينو مرستې ته لېږلې، او بمونه به ئې نه پرېښودل چې په خپل هدف راپرېوځي!! او دا به د محمد بن اسحاق د روايت په څېر شي چې مرغانو د ابرهه لښکر په تيږو ويشتلی!!

دې عربو ورونو ته دا خبره يا هغه چا کړې چې بمبارۍ ئې په خپلو سترګو نه ده ليدلې، له بله ئې د بمباريو قصې اورېدلې او يا هغه چا چې د بمباريو په وخت کې ئې پورته آسمان ته هيڅکله نه دي کتلي! دوی په چريکي جنګونو کې د بمباريو د لږ اغېز او مجاهدينو ته د تلفاتو په اړولو کې د جهازونو د عدم مؤثريت لپاره بله

توجیه نشوی وړاندې کولی، غوښتل ئې د عربو له دې پوښتنې په آسانه ځان خلاص کړي چې ولې هره ورځ له ۲۵۰ تر ۴۰۰ بمباردونه دومره بې اغېزه دي؟!! لنډ ځواب ئې ورکړی: مرغان په خپلو وزرونو بمونه منحرفوي!! په دې سره ئې یو پېچلی سوال په آسانۍ ځواب کړی!! دا ئې نشو ویلی چې د دا درنې درنې وسلې په چریکي جنګونو کې دښمن ته ډېره لږه ګټه رسولی شي، دا وسلې د ښارونو، کلیو او لویو هدفونو په ضد اغېزمنې دي، په چریکي جنګونو کې ئې تر ګټې تاوان زیات وي، ډېر ناپوه او بې تجربې جنګي افسران به په داسې جنګونو کې له دغو وسلو کار اخیستو ته زړه ښه کوي. ما ته د عربو په هغې وچې صحرا کې د پیلانو کارول داسې برېښي لکه روسانو چې د مجاهدینو په ضد ټي **۵۵** او ټي **۷۲** ټانکونه کارول چې په هرې درې کې به وران ویجاړ ترې پاتې شول، او یا داسې لکه اوس چې امریکا وغواړي د مجاهدینو په ضد له بي **۵۲** جهازونو کارواخلي، نه ابرهه ته خپلو پیلانوګټه رسولی شوی او نه ئې امریکائیانو ته دا جهازونه!!

# قریش

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم (قریش) ده چې له لومړي آیته اخیستل شوی، ۴ آیتونه لري، د دریو لومړنیو آیتونو فواصل ئې د قریش، صیف او بیت هموزنه صیغې دي او وروستی آیت ئې د خوف په لفظ پای ته رسېدلی چې د سورې د آهنګ د پای لپاره موزون غږ لري. اکثریت مفسرین ئې مکي سوره ګڼي خو ځینې ئې مدني بولي، حال دا چې د سورې له مضمون او د بیان له اسلوب او مخصوصاً له دې برخې (رب هذا البیت) څخه په واضح توګه معلومېږي چې دا په مکه کې نازله شوې.

د (الفیل او قریش) سورې په خپلو کې ډېر ورته والی او شباهتونه لري او داسې معلومېږي چې دا دواړه په یوې مرحلې کې او یوه په بلې پسې نازله شوې. په دواړو کې خطاب قریشو ته متوجه دی، الهي نعمتونه او پېرزوینې ورپه یادوي، په یوې کې پر مجهز او ځواکمن دښمن د دوی بریا او فتح او په بلې کې له خوف او لوږې د دوی ژغورنه، ورپه یادوي او د دې نعمتونو شکر ته ئې رابلې. او دوی ته وایي: الله تعالی د دغه مقدس او مبارك الهي کور(کعبه) په طفیل ستاسو لوږه له منځه یووړه او په عوض کې ئې پراخ رزق درکړ، ستاسو خوف او وېره ئې ختمه کړه

په بدل کې ئې داسې امن او امان درپه برخه کړ چې اوس په دوبي او ژمي کې، شپه او ورځ سفر کولی شئ، هیڅوك مو نه مزاحم کېږي، په هر ځای کې امنیت دی، ستاسو تجارتي قافلې په ډاډه زړه او پوره امنیت له یوه ښاره بل ته درومي، ټولې تجارتي لارې ستاسو له سیمې تېرېږي، مکه د سیمې تر ټولو په ستر او مهم تجارتي مرکز بدله شوې، چې ستاسو لپاره ډېرې ګټې له ځان سره لري. د اقتصادي ګټو ترڅنګ ئې د ټولو عربو قیادت او زعامت هم تاسو ته سپارلی، د حجاز ټول عرب قبایل، تاسو او ستاسو دا ښار خپل محور او قبله ګڼي، یو خور وور وېشل شوی قوم وئ، له فقر، لوږې او کورنیو جګړو سره مخامخ، د داسې خطرناکو او کینه کښو دښمنانو په محاصره کې چې تل ئې تاسو ګواښلئ، ستاسو رب د دښمنانو بریدونه دفع کړل، تاسو ئې له فقر او لوږې وژغورلئ، د خوف او وېرې ټغر ئې ټول کړ، د دې سترو سترو الهي نعمتونو تقاضا دا ده چې قدر ئې وکړئ او د منعم شکر په ځای کړئ او عبادت ئې وکړئ.

په دې سوره کې د انساني ټولنې دوو سترو سترو آفتونو ته اشاره شوې: (لوږه او وېره) چې دواړه ئې څنګ په څنګ او یو وخت راځي. کله ئې یو مخکې راشي او لاره بل ته پرانېزي او کله ئې بل، کله یو وځي او بل له ځان سره بیایي او کله ئې بل، کله ګورو چې وېره او بې امنیتي پر ټولنې خپل تور وزر وغوړوي او له دې سره سم اقتصادي فعالیتونه متوقف شي، اقتصادي تأسیسات له منځه ولاړ شي، د تجارت بازار سوړ شي، تاجر او بډای له هېواده ووځي، خپلې شتمنۍ نورو ملکونو ته انتقال کړي، بندونه وران شي، نهرونه وچ شي، زراعتي ځمکې بایر پاتې شي، فابریکې تخریب شي، بزګر خپل ښېل لرې واچوي او کارګر خپل څټك او ټوپك ته لاس کړي، جګړه ئې کسب او پېشه شي او پدې ترتیب فقر او لوږه ټولنې ته مخه کړي او خپل سیوری پرې وغوړوي او کله بیا ګورو چې لومړی فقر او لوږه ټولنې ته مخه کړي، غیرعادلانه او ظالمانه اقتصادي نظام پر ټولنې مسلط شي، د ټولنې ثروت او شتمنۍ د محدود شمېر بډایانو په لاس کې پرېوځي، د ټولنې اکثریت له فقر او محرومیت سره مخامخ شي، کله چې د ټولنې اکثریت دا ګوري چې پر ټولنې

د مسلط ظالمانه نظام تر سیوري لاندې هیڅکله آرام او سوکاله ژوند نشي ترلاسه کولی، له اقتصادي ستونزو نشي وتلی او که دا نظام وي نو دوی به تل په محرومیت کې ژوند کوي، ناچار د نورو لارو په لټه کې کېږي، د خپلې بقا لار، د دې نظام د ړنګولو لار، د هغو زندانونو د ړنګولو او د هغو زنځیرونو د شلولو لار چې د دې نظام بقا تضمینوي، د جنګ او مسلحانه قیام لار. همداراز په ټولنې کې فقر هغو داخلي او خارجي ځواکونو ته په ارزانه بیه د جنګیالیو د استخدام موقع په لاس ورکوي چې غواړي د جګړو له لارې خپل اهداف ترلاسه کړي او خپله لویي او برلاسي پر نورو ومني. قرآن په دې سوره کې لومړی له لوږې ژغورنه یادوي او ورپسې له وېرې او خوف نه نجات، خو د النحل د سورې په ۱۱۲ آیت کې امن او اطمئنان د رزق او روزي تر وفرت او کثرت مخکې، لکه چې فرمايي:

وَضَرَبَ اللّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ ءَامِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللّهِ فَأَذَاقَهَا اللّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ *

او الله د هغه کلي مثال بیان کړی چې خوندي او ډاډه وو او رزق ئې له هر ځایه تازه او پرېمانه ورته راتو، خو دوی د الله د نعمتونو ناشکري وکړه، نو الله د لوږې او وېرې په جامو د پټېدو خوند وروڅاکو، د هغه څه په سبب چې دوی کول.

ګورئ چې په دې کلي کې امنیت او اطمئنان وو او رزق ئې له هر لوري ورته راروان، خو دوی کفران او ناسپاسي وکړه، چې د دې په وجه لومړی (فقر) پرې مسلط شو او بیا خوف او وېرې خپل تور وزر پرې وغوړاوو.

دا سوره مونږ ته لاربښوونه کوي چې دین ته التزام، شعائر الله ته احترام او د الله تعالی بندګي د ټولنې د امنیت ضامن دی او د لوږې او فقر له آفته د نجات وسیله او مونږ ته ښیي چې په ټولنې کې د فقر او لوږې وجه هیڅکله دا نه ده چې د رزق او روزي وسایل لږ او د انسانانو د شمېر په پرتله کم دي!! بلکې عامل ئې د هغه انسان ظالمانه تصرفات دي چې بې دینه دی او د الله تعالی له بندګۍ سر غړوي. فقر هغه آفت دی چې انسان ئې په خپله عوامل او اسباب برابروي، په خپلو

ناجائزو او ظالمانه تصرفاتو سره ورته لار آواروي، دا انسان دی چې د تجاوز او تېري لار غوره کړي، د نورو د سر، مال او عزت امنيت په مخاطره کې واچوي، د وېرې او خوف فضاء جوړه کړي او په همدې سره د لوږې ديو ته د راتلو بلنه ورکړي. قرآن څومره ښه فرمايي:

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى ءَامَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ * الاعراف: ۹۶

او که کليوالو ايمان راوړی وی او تقوی ئې کړې وی نو خامخا به مو د آسمانونو او د ځمکې د برکتونو دروازې پرې پرانيستې وی، خو دوی (دا حقيقت) تکذيب کړ نو مونږ هم د خپلو کړو وړو په سبب ونيول.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

>' {r%çè‹ù ÇÈ É øÁ 9$ ä$Gë 9$'#ôñ Nûÿ»9¾] ÇÈ G ƒ•è É »=ƒ\}

ÇÍÈ $ öz ôÏ N§YB#är 8qã `Ï O§Jèôû ü“ %$ÇÌÈ Mø7$# ‹»d

---

۱- د قريشو د الفت په پاس. ۲- الفت ئی د ژمي او د دوبي له سفر سره. ۳- نو د دې کور د پالونکي عبادت دې وکړي. ۴- آ چې له لوږې ئې ماړه کړل او له وېرې ئې خوندي.

---

۱-۲ : د قريشو تاجران به په ژمي کې جنوبي سيمو ته چې نسبتاً به تودې وې تلل او په دوبي کې به د شام او فلسطين يخو سيمو ته تلل او تجارت به ئې کاوو او په زړه پورې ګټې به ئې ترلاسه کولې. د کعبې شريفې په طفيل به نه يوازې دا د ژمي او دوبي سفرونه په کامل امنيت کې ترسره کېدل او هيڅوك به ئې نه مزاحم کېدو بلکې د لارې په اوږدو کې ټولو پرتو قبايلو به د دوی ډېر درناوی کاوو. په داسې

حال کې چې له دې د مخه دا قبیله په حجاز کې خوره وره وه، د کوچیانو په څېر دلته هلته خواره واره اوسېدل، هیڅا ورته په درنه سترګه نه کتل. قصی بن کلاب، د پیغمبر اکرم علیه السلام جد دوی راغونډ او په مکه کې ئې مېشت کړل او په خاص تدبیر او درایت سره ئې د کعبې خوا ته ښار جوړ کړ، د کعبې د حجاجو او زوارو د استقبال لپاره ئې خاص ترتیبات ونیول، چې په دې سره په ټولو عرب قبایلو کې د قریشو اعتبار لوړ شو. له قصی وروسته د مکې د ادارې د بېلو بېلو چارو مسئولیت د ده په زامنو عبد مناف او عبدالدار کې ووېشل شول. عبدمناف د خپل پلار په ژوند کې له ډېر نېك شهرته برخمن وو، ټولو به په درنه سترګه ورته کتل، څلور زامن ئې ول: هاشم، عبدشمس، مطلب او نوفل. هاشم د عبدالمطلب پلار او د پیغمبرصلی الله علیه وسلم جد وغوښتل چې د قریشو قبیله په هغه بین المللي تجارت کې برخه واخلي چې قافلې ئې له شام او فلسطین نه د شرق او جنوب په لوري د حجاز له لارې تلې راتلې. ترڅو په دې سره هم د هغو قبایلو اړتیاوې تأمین شي چې د مکې شاوخوا اوسېدل، هم مکه په یوه مهم بازار بدل شي او هم مکې ته د نورو قبایلو تګ راتګ زیات شي او د لارې په اوږدو کې مېشت قبایلو سره تجارتي روابط ټینګ کړي. دغو تجارتي لارو له هغه وروسته خاص اهمیت ترلاسه کړ چې د ایران ساساني حکومت هغه لارې په خپلې ولکه کې ونیولې چې روم ئې له شمال او شرق سره وصل کاوو. هغه ملکونه چې له ایران سره په نښتو کې ښکېل وو له دې پرته ئې بله چاره نه درلوده چې له دغو لارو استفاده وکړي، قریشو له دې تجارته یوه بله ګټه هم ترلاسه کوله، د لارې په اوږدو کې مېشت قبایلو قریش د بیت الله خادمان ګڼل، د دوی احترام به ئې کاوو او نه یوازې دا چې حق العبور به ئې نه ترې غوښت بلکې په خپلو سیمو کې به ئې د دوی د تجارتي قافلو مصئونیت هم تأميناوو، نه به چا د دوی پر قافلو بریدونه کول او نه به ئې څوك مزاحم کېدو. هاشم او ورونږو ئې د شام، یمن، عراق او فارس له حکومتونو سره تجارتي روابط ټینګ کړل او تجارت ئې ډېر ژر رونق وموند، هغو بریاوو ته په پام سره چې دوی له ګاونډیو هېوادو سره د تجارتي روابطو په قائمولو کې ترلاسه کړل، خلکو به ورته

اصحاب الإيلاف (د جوړ جاړي او رانږدې کولو خاوندان) ويل.

په دغه وخت کې او هغه اهميت ته په پام سره چې مکې ترلاسه کړی وو او د عربو په ستر تجارتي مرکز او تر ټولو متمدن ښار بدل شوی وو؛ ابرهه قصد وکړ چې پر مکې بريد وکړي، کعبه ورانه کړي، هم ئې مذهبي اعتبار له منځه يوسي او هم ئې تجارتي او اقتصادي اعتبار او هم په ټولې سيمې کې د امنيت په تأمينولو کې د کعبې ونډه او اغېز ختم کړي او ټول دغه مذهبي، سياسي، اجتماعي او اقتصادي اعتبارات خپلې پلازمېنې صنعا ته انتقال کړي او هغو قبايلو ته چې د کعبې په تقدس باور لري او د خدای کور ئې ګڼي وښيي چې دا د خدای کور نه دی، که داسې وای نو د ده په لاس به ئې ورانېدو ته نه پرېښوده!! الله تعالی په خپل حکمت سره د ابرهه توطئه شنډه کړه، د مکې اعتبار ئې مزيد اوچت کړ او د قريشو سياسي، اجتماعي او اقتصادي ګټې ئې له خطره وژغورلې او د دوی تجارت ته ئې لا زياته وده او رونق ورکړ.

**۳ـ ۴:** الله تعالی د قريشو پام دغو نعمتونو ته رااړوي او د دې آيت په ترڅ کې ورته فرمايي چې د دغو نعمتونو په پاس بايد د دې کور د رب عبادت وکړئ چې له لوږې ئې ماړه کړئ او له وېرې ئې امان درکړ. کلونه کلونه مو په فقر او لوږې کې تېر کړل، خوف او وېرې خپل تور وزر درباندې غوړولی وو، يوه نېستمنه، وږې، متشتت قبيله وئ، د عربو په ټولې سيمې خوف او وېرې حکومت کاوو، خو وروسته له هغه چې د دغه مقدس کور په خوا کې مېشت شوئ، امن او امان مو په برخه شو، هوسا، آرامه او ماړه شوئ، نه مو له لوږې اندېښنه شته او نه د خپلو شتمنيو، رمو، تجارتي قافلو له غارت او تالان نه وېره، له دې کور لږ آخوا او په هغو سيمو کې چې د دې کور تر اغېز لاندې نه وې؛ خوف او وېره خوره ده، خلك اختطاف کېږي، قافلې غارت کېږي، په کاروانونو بريدونه کېږي، قبايل يو پر بل بريدونه کوي، خونړۍ جګړې ئې تر منځ روانې دي، د شر او فساد ځواکونه هره خوا مسلط دي، په بر و بحر کې فساد خور دی، خو قريش په امن او امان کې ژوند کوي، د تجارت بازار ئې ګرم او دسترخان ئې ډك، نو بايد د هغه رب عبادت وکړي

چې د ده د مقدس کور په طفیل دا ټول نعمتونه د دوی په برخه شول، باید په دین منګولې ولګوي، د الله تعالی د پیغمبر متابعت وکړي، له بغاوت نه لاس واخلي او د پیغمبر علیه السلام له مخالفته ډډه وکړي که نه نو له دغو ټولو نعمتونو به محروم شي.

# الماعون

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الماعون دی، د سورې له وروستي آیته اخیستل شوی، ۷ آیتونه لري، د لومړیو څلورو آیتونو فواصل ئې د دین، یتیم، مسکین او مصلین هموزنه صیغې دي، د وروستیو درېو آیتونو ئې د ساهون، یراءون او ماعون هموزنه صیغې دي. د سورې لنډ والي ته په پام سره آیتونه ئې نسبتاً اوږده او د مکي سورتونو په څېر نه دي، ځینې مفسرین ئې مکي ګڼي خو نور ئې مدني بولي، خو د سورې په متن کې داسې درې مضبوط دلایل تر سترګو کېږي چې د دې سورې مدني والی ثابتوي:

الف: په مکي دور کې نه ریاکار او ځان ښودونکي لمونځ کوونکي وو او نه په دې هکله څه ویلو ته ضرورت، ریاکار لمونځ کوونکي په مکه کې نه بلکې په مدینه کې راپیدا شول، د مکي شرایط داسې نه وو چې منافقین، دوه مخي او ریاکاران له نهضت سره یو ځای شوي وی، داسې کسان په مدینه منوره کې او هغه وخت راپیدا شول چې د مسلمانانو قدرت او ځواکمنۍ ته په پام سره ئې غوښتل له نهضت سره یو ځای شي او امتیازات ترلاسه کړي، په لمانځه ئې نه باور وو او نه ئې د الله لپاره

کاوو، د ځان ښودنې او د مسلمانانو په ليکو کې د نفوذ لپاره به جومات ته راتلل او لمونځ به ئې کاوو، په مکه کې شرايط داسې وو چې په علني توګه او د مشرکانو په مخکې او په جماعت سره لمونځ کول ګران او له دې سره مترادف وو چې څوك قريش او سرداران ئې جګړو ته راوبلي، منافقينو د داسې کار همت او جرأت نشو کولی.

ب: په اجتماعي امورو پورې مربوط مسائل د مدني سورتونو د بحث موضوع ده نه د مکي سورتونو. په دې سوره کې د رياکارو لمونځ کوونکو دغه بد خصلت ته اشاره شوې چې د ماعون له ورکولو ډډه کوي، ماعون هغه څه ته وايي چې عادتاً ئې د يوه کلي او محلې خلك يوه بل ته ورکوي، په داسې مسايلو بحث کول د مکې له فضا او شرايطو سره سمون نه خوري او د مکي سورتونو له بحثونو سره اړخ نه لګوي.

ج- د دې سورې آيتونه د اوږدوالي او ترکيب له مخې هم نسبتاً اوږده دي او د مکي سورتونو په څېر نه دي.

دا سوره د هغو کسانو په هکله بحث کوي چې د عملونو په مکافات او مجازات او په (يوم الدين) باور نه لري او هغه دروغ ګڼي، خو د دوی د تکذيب وجه دا نه ده چې عقل ئې دا خبره نه مني او يا د خپل انکار او تکذيب لپاره څه قانع کوونکي دلايل لري، وجه ئې د دوی خاص خصلتونه او کړه وړه دي، دا خصلتونه ئې د (دين) تکذيب او د عملونو د مکافات او مجازات نه منلو او انکار ته هڅوي، عقل ئې نه، بلکې بد اخلاق، کرکجن اعمال او هوی او هوس ئې انکار او تکذيب ته اړ کوي: يتيم رټي، د مسکين په اړه زړه سوی او ترحم نه لري، له لمانځه غافل دي، الله ئې هېر کړی، له خلکو سره ئې خپلې انساني اړيکې شلولې، که احياناً په صف کې د لمانځه لپاره ودرېږي نو لمونځ ئې د الله لپاره نه بلکې د ځان ښودنې لپاره وي، بخيل دي، دومره چې د (ماعون) له ورکولو هم ډډه کوي!! څوك چې يوم الدين نه مني او انکار ترې کوي، داسې بد عمله او بد اخلاقه خلك دي، په خپلې تورې عمل پانې کې داسې څه نه لري چې آخرت ته ئې هيله مند کړي او د عملونو په بدلې

او سزا ئې باور مضبوط کړي، ناوړه او بد کړه وړه ئې له آخرت نه د انکار اصلي وجه ده، دغو عملونو د دوی په زړه او دماغ کې په آخرت باندې د باور او ایمان امکانات ختم کړي.

بسم الله الرحمن الرحیم

---

ÇÈ OŠÏŠ$í ß ƒ ” Ï‰$š• Ï‹ù ÇÈ Éú ïÎ!$Ŷ Ü É3ã “Ï‰$Mƒä‘&

Ðè ûïÏ‰$ÇÈ šú ‚ƒÁ ßÿ @ƒqù ÇÈ ÈÅóÏÜ$Q$èÛ 4ã •Ù ç÷ Ÿwr

bqã$J$bqãŽðƒr ÇÈ šc râ•ãÐè ûïÏ‰$ÇÈ bqè$™ ÖÉŸ ¹ `ã

ÇÈ

---

۱- آیا پېژنې همغه چې دا دین تکذیبوي؟۲- نو دا خو هغه ثوك دی چې یتیم به رټي. ۳- او ثوك به مسكین كس ته د طعام په وركړې نه هڅوي. ۴- نو افسوس افسوس په دغو لمونځ کوونکو. ۵- همغه چې غافل له خپل لمانځه دي. ۶- هماغه چې کوي به ځان ښودنه. ۷- او له وركړې د ماعون به مخنیوی كا.

---

۱- آیا پوهېږې چې څوك له (دین) نه انكار كوي او د عملونو مكافات او مجازات دروغ گڼي؟! آیا دا هغه څوك دی چې نه پوهېږي او د ناپوهی په وجه پرې باور نه کوي او كه پوهېږي خو انكار كوي؟ آیا د باور كولو لپاره دلیل نه لري یا دلایل لري، عقل ئې قانع دی خو عمداً دروغ وایي او ترې انكار كوي؟! قرآن فرمایي چې د ده انكار په حقیقت كې د ده د ژبې كار دی نه د زړه او دماغ كار. هغه

د خپل زړه له قضاوت او د خپل عقل له پرېکړې سره عمداً مخالفت کوي، هغه څه دروغ ګڼي چې هم ئې عقل پرې قانع دی او هم زړه، که ئې لږ د زړه اسرار وپلټې او د سينې تل ته ئې د رسېدو لار پيدا کړې، حتماً به دا حقيقت درك کړې چې هغه عمداً انکار کوي، د خپل عقل او زړه پرېکړه او وينا ردوي.

۲ـ که د دې (مکذب دين) په هکله لږ غور وکړئ نو هرو مرو به ئې داسې وموميئ چې دی يتيم رټې، بې رحمه او قسي القلب دی، په زړه کې ئې ترحم او عاطفه ځپل شوې، انساني مشاعر ئې له لاسه ورکړي او دی هغه انسان نه دی چې عاطفه او ترحم ئې په فطرت کې ايښودل شوې، له ماشوم سره مينه ئې د زړه په تل کې وي، يوازې انسان نه بلکې هر ژوی له ماشوم سره مينه کوي، که ئې خپل وي او که پردی، له ماشوم سره مينه د ده د بقا او نسل د دوام لپاره ضروري ده، که دا احساس منکوب شي د انسان نسل منقرض کېږي او بقاء ئې له ګواښ سره مخامخ کېږي، تر څو چې انسان انسان وي او فطرت ئې سالم پاتې وي حتماً به له ماشوم سره مينه کوي، مخصوصاً که دا ماشوم يو بې وزلی او محتاج ماشوم وي، پالونکی ونلري، يتيم پاتې وي او خاصتاً که دا د ده خپلوان يتيم وي، څوك چې خپلوان يتيم له ځانه رټې، په حقيقت کې د ده انساني عواطف منکوب او ځپل شوي، قضاوتونه ئې له دغه ځپل شوي ضمير نه خروبه کېږي.

په رواياتو کې راځي چې يوه ورځ ابوجهل ته داسې يو يتيم راغی چې دی ئې متولي وو، د يتيم د پلار مال او دولت د ده په واك کې وو، په داسې حال کې ورته راغی چې جامې ئې په تن نه وې، له ابوجهل ئې وغوښتل چې د خپل پلار له ماله څه ورته ورکړي چې جامې پرې واخلي او ځان پرې پټ کړي، ابوجهل ورته هيڅ اعتنا ونکړه او څه ئې ورنکړل، له ډېر انتظاره وروسته تش لاس او نااميده روان شو، د قريشو يوه سردار په ملنډو او د کوم شر راولاړولو په نيت هغه ته وويل: محمد (عليه السلام) ته ورشه چې ابوجهل ته سپارښتنه وکړي او له ابوجهله ستا د پلار مال درته راواخلي، بې وزلی يتيم چې نه پوهېدو دا سردار ورباندې ملنډې وهي او د پيغمبرعليه السلام او ابو جهل ته سپارښتنې ئې سره څه، هغه خو ئې د سر دښمن

دی؟! د دې سردار د وينا په وجه پيغمبرعليه السلام ته راغی او خپل حال ئې ورته بيان کړ، پيغمبرعليه السلام فوراً پورته شو او له يتيم سره د هغه چا خوا ته روان شو چې تر ټولو بد او کينه کښ دښمن ئې وو او ورته وئې ويل: راغلی يم چې دغه يتيم ته د خپل حق د ورکولو توصيه درته وکړم، ابو جهل دومره د پيغمبرعليه السلام د وينا تر اغېز لاندې راغی چې سملاسي پاڅېدو او د يتيم مال ئې ورته راووړ او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخکې ئې ورکړ!! د قريشو ماجرا غوښتونکي سرداران چې د يوې شخړې د راولاړېدو انتظار ئې کاوو د دې صحنې په ليدو حيران شول او ځينو ئې په ټوکو ټوکو ابوجهل ته وويل: داسې معلومېږي چې تا هم خپل دين پرېښی او پر محمد (عليه السلام) دې ايمان راوړی!! وئې ويل: والله چې خپل دين مې نه دی پرېښی، خو ونتوانېدم د ده وينا رد کړم، هغه وخت مې داسې احساس کاوو چې که د ده خبره ونه منم نو کومه توره به مې پر سر راپرېوځي!! دا داستان د قريشو د سردارانو او مشرانو اخلاق او له يتيم سره د دوی ظالمانه چلند ښه انځوروي. دا سوره مونږ ته وايي: چېرې چې دين نه وي او د خلکو په زړونو کې په آخرت باور نه وي هلته به له مظلوم سره دې ته ورته چلند کېږي.

۳- د دې (مکذب دين) دوهم خصلت دا دی چې د محتاج او نيازمند همنوع په نسبت به زړه سوی او ترحم نه لري، نه به خپله له محتاج انسان سره مرسته کوي او نه به بل د بې وزلو مرستې ته هڅوي.

**۴-۵**: د دې ډلې درېيم خصلت دا دی چې عبادت به ئې عبادت نه بلکې عادت وي، تصنعي او عنعنوي، د عبادت لامل به ئې ايمان او عقيده نه بلکې عادت او تقليد وي، داسې لمونځ کوونکي به ئې ومومې چې د لمانځه له روح، هدف او حقيقته به غافل وي، ديانت به موروثي دود دستور او له پلار نيکه په ميراث پاتې اجتماعي عنعنه ګڼي، چې بايد له خپل سلف نه د تقليد په حکم او د ټولنې له غوښتنو سره د ځان يورنګ ساتلو په خاطر ئې درناوی او التزام وکړي.

**۶**- د دوی څلورم خصلت (ځان ښودنه) ده، په هر کار کې ئې اصلي محرك او هڅوونکی همدا ځان ښودنه وي، لمونځ د خدای لپاره نه بلکې د خلکو لپاره ئې

کوي، د هيڅ (عمل) لپاره له ريا پرته بل سايق او مشوق نه لري، خپله ظاهري بڼه به داسې جوړوي چې د خلکو توجه ځان ته راوګرځوي، د لمانځه په تقدس او اهميت باور نلري او د يوې ديني فريضې په توګه ئې نه ادا کوي، خو د خلکو لپاره په لمانځه ودرېږي، دا هغه څوك دی چې د ظاهر او باطن ترمنځ به ئې ژور تناقض وګورې، دا د دوی دائمي عادت ګرځېدلی چې خپل ظاهر به هغسې نه عياروي چې د دوی ضمير او وجدان حکم او غوښتنه کوي بلکې هغسې ئې عياروي چې د محيط تقاضا وي، طبيعي ده چې دا خلك به هرومرو (دين) نه مني او قضاوت به ئې د (دين) او مکافات او مجازات په هکله د هغه څه عکس او مغاير وي چې د دوی عقل پرې حکم کوي، که دوی خلکو ته ووايي چې په آخرت او د عملونو پر مکافات او مجازات باور لري نو خپل ګناهونه او ننګين عملونه به څنګه توجيه کوي؟ دا په ګناهونو کې تر ستوني غرق انسان له دې پرته بله لار نه ګوري چې له آخرته انکار وکړي!!

۷- د دوی پنځم خصلت (بخل) او له انفاقه ډډه کول دی، خسيس، دنيا پرست او بخيل انسان به ناچار آخرت تکذيبوي، په آخرت ايمان او د عملونو په (مکافات) باور خو انسان د خپلو شتمنيو انفاق ته تياروي، (بخل) د انفاق مانع کېږي، بخل په آخرت له باور سره ټکر کوي او غوښتنو ته ئې د رد ځواب ورکوي او د (بخيل انسان) کار هغه ځای ته رسوي چې (دين) تکذيب کړي، څوك چې د ماعون له ورکړې ډډه کوي، د هغو شيانو په ورکړې کې هم بخل کوي چې عادتاً ئې د يوه کلي خلك يوه بل ته په عاريت ورکوي، لکه بېل، تبر، کلنګ، د خوراك لوښي، فرش او ظرف، آيا ممکن ده چې داسې خسيس انسان په هغه حقيقت باور کولو ته چمتو شي چې تقاضا ئې دا ده چې د خپلو ډېرو غورو شيانو قرباني ته چمتو شي، داسې باور چې قربانۍ ته د غوره او ګټور تجارت نوم ورکوي؟ بخيل او خسيس انسان له دې پرته بله چاره نه لري چې له دين او آخرت نه به انکار کوي.

# الكوثر

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الکوثر دی چې له لومړۍ آیته اخیستل شوی، درې آیتونه لري، چې فواصل ئې د کوثر، انحر او ابتر هموزنه صیغې دي، په مکي دور کې نازل شوې سوره ده، که دا سوره د الضحی او الشرح سورتونو په خوا کې کېږدو او په دې غور وکړو چې د دوی د نزول ترتیب به څنګه وي، کومه مخکې او کومه به وروسته نازل شوې وي، نو په ډېره آسانۍ سره په دې پوهېدی شو چې د الکوثر سوره له دغو دواړو سورتونو وروسته نازله شوې، په څو دلایلو:

- د الضحی په سوره کې ویل شوي: (و لسوف یعطیك ربك فترضی: او ژر به دې خپل رب، هومره درکړي چې راضي شې) او په دې سوره کې لولو: (انا اعطینك الکوثر: بې شکه چې تا ته مو ډېر څه درکړل.

د الضحی په سوره کې ویل شوي: ته ئې یتیم وموندې او مأوی ئې درکړه، نو پر یتیم غصه مه کوه، ته ئې ضال وموندې او هدایت ئې کړې نو پوښتونکی مه رټه، ته ئې نادار وموندې او شتمن ئې کړې نو پر الهي نعمتونو اعتراف وکړه او دغه مطالب د الشرح په سوره کې په دې الفاظو راغلي: آیا ستا سینه مو نکړه درته پراخه؟ او آیا ستا دروند پېټی مو له تا کوز نکړ؟ هغه چې ستا ملا ئې ماتوله. او

ستا ذکر مو درته لوړ نکړ. نو بې شکه چې له هرې ستونزې سره یوه آساني وه. نو بې شکه چې هرې ستونزې سره به وي یوه آساني. نو کله چې فارغ شې، بیا هاند پیل کړه. او په لوري د خپل رب دې رغبت وکړه.

او د الکوثر په سوره کې داسې راغلي: مونږ ډېر څه درکړل نو لمونځ وکړه او قرباني وکړه .

دا مقایسه څو اساسي مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

الف: د الکوثر سوره له دغو دواړو سورتونو وروسته نازله شوې. لومړی الضحی بیاالشرح او بیا الکوثر. دا ځکه چې په الضحی کې د نعمتونو د ورکړې وعده شوې ده، خو په الکوثر کې ویل شوي چې نعمتونه مو درکړل.

ب: په لومړیو دوو سورتونو کې نعمتونه په څرګنده ښودل شوي، خو د دغو نعمتونو د شکر څرنګوالی نه دی واضح شوی، په عامه صیغه ئې یادونه شوې خو د الکوثر په سوره کې د دې برعکس الهي نعمتونه د (الکوثر) په عامه صیغه یاد شوي خو د شکر د څرنګوالي وضاحت ئې داسې شوی: (نو خپل مولا ته لمونځ او قرباني وکړه)، دا توپیر ښیي چې په دې مرحله کې په پیغمبر علیه السلام پېرزو شوي الهي نعمتونه دومره څرګند وو چې بیان ته ئې ضرورت نه وو.

ج: د (اعطینك: تا ته مو درکړل) ترکیب ښیي چې له (الکوثر) نه مراد هغه نعمتونه دي چې پیغمبرعلیه السلام ته عملاً ورکړی شوي او هغه ئې په څرګنده او داسې احساسوي چې توضیح او تذکار ته ئې ضرورت نلري، د (الکوثر) اطلاق په داسې نعمتونو نشي کېدی چې په راتلونکې کې به پیغمبرعلیه السلام ته ورکول کېږي یا به ئې په جنت کې ترلاسه کوي، داسې اطلاق د سورې له روحیې او الفاظو سره اړخ نه لګوي.

د: له الکوثر باید هغه نعمتونه مراد وي چې شبیه ئې د الضحی او الشرح په سورتونو کې راغلي. دلته صیغه عامه او جامع ده او هغه نعمتونه هم احتوا کوي چې په دغو دواړو سورتونو کې ذکر شوي.

هـ : د سورې له وروستي آیت (ان شانئك هوالابتر) نه په ډېر وضاحت سره

معلومېږي چې دا سوره هغه وخت نازله شوې چې دښمنانو پیغمبر علیه السلام او د ده یاران تر سختې محاصرې لاندې نیولي، د دوی په ضد ئې عمومي مقاطعه اعمال کړې، د ده روابط ئې له ټولو قبایلو سره شلولي، داسې ګمان کوي چې پیغمبر علیه السلام ئې له ولس نه تجرید کړی او د خلکو په منځ کې ئې د ده او د ده د دعوت د نفوذ مخه ئې په کلکه بنده کړې. د سورې په متن او الفاظو کې څو داسې دلایل مومو چې ثابتوي د دښمن د تبلیغاتو هدف دا دی چې پیغمبرعلیه السلام ئې له ولسه تجرید کړی:

د (شانئك هو الابتر یعنی ستا کینه کښ دښمن په خپله تجرید شوی) له یوې خوا ښیي چې دښمن په دې وخت کې تر مخکې زیات کینه کښ شوي، عداوت او دښمني ئې زیاته شوې او له بلې خوا ښیي چې دښمن د پیغمبر علیه السلام په خلاف په خپلو تبلیغاتو کې وایي چې ریښه ئې قطع شوې، له ولسه بېل شوی، د ولس اکثریت خپلې اړیکې ورسره شلولې.

له دې الفاظو دا هم معلومېږي چې د اسلام او مسلمانانو په ضد د دښمن تشدد او قهرجن چلند د دې په ځای چې مسلمانان تضعیف او تجرید کړي، په خپله دوی ئې تجرید کړي، کرغېړنه څېره ئې بربنډه شوې او د عام ولس له لازیاتې کرکې او نفرت سره مخامخ شوي.

د دې الفاظو معنا هیڅکله دا نه ده چې ګواکې دښمن ویلي: اوس چې د پیغمبرعلیه السلام دوه زامن قاسم او عبدالله رضی‌الله عنهما یو په بل پسې وفات شول نو د محمد (علیه السلام) ریښه قطع شوه، له رحلته وروسته به ئې نوم او نښان ختم شي، داسې ضعیف تعبیر یوازې هغه څوك وړاندې کولی او منلی شي چې د الفاظو معنا د دې په ځای چې د اړوند کلام په قالب کې ولټوي د لغت په کتابونو کې ئې لټوي او دې ته پام نه کوي چې یو لفظ کېدی شي د لغت په کتابونو کې ډېرې معاني ولري او د ډېرو شیانو لپاره وکارول شي، خو کله چې د یوه کلام په قالب کې لوېږي له ټولو معانیو څخه یوازې یوه خاصه او ځانګړې معنا افاده کوي، دلته د ابتر لفظ د پیغمبر علیه السلام د ټولو دښمنانو لپاره کارول شوی، دا لفظ د

لغت په کتابونو کې د مقطوع الولد، بې نوم نښانه، مطرود، يوازې پاتې شوی... په معنا راغلی، دلته ئې د مقطوع الولد په معنا نشو اخيستی، دا ځکه چې د پيغمبر عليه السلام ټول دښمنان مقطوع الولد او بې اولاده نه وو، قرآن به څنګه داسې د واقع خلاف خبره کوي؟!! حتماً به له دې پرته بله معنا ترې اخلو، دلته د (ابتر) او (کوثر) الفاظ د يوه بل په مقابل کې راغلي، کوثر د ډېر زيات په معنا ده، نو ابتر له يوازې پاتې کېدو او تجريد نه پرته بله معنا نشي درلودی، په سياسي او فکري مبارزاتو کې دغه اصطلاح ډېره کارول کېږي، هر يو د خپل حريف او رقيب په هکله وايي: تجريد شو، ولس وراټو، په خلکو کې نفوذ نلري!! که قرآن ته رجوع وکړو ګورو چې دښمنانو د پيغمبرانو عليهم السلام په هکله همدا خبره کړې، لکه چې فرعون د موسی عليه السلام او د ده د يارانو په هکله وايي:

إِنَّ هَؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ * الشعراء: ۵۴

يقيناً چې دوی يو لږکی ټولګی دی.

مګر نه ګورئ چې تر دې د مخه د الشرح په سوره کې پيغمبرعليه السلام ته اطمينان ورکړی شوی چې تا ته مو شهرت درکړ، ستا نوم او نښان مو لوړ کړ، بايد ډاډه او مطمئن وې چې دښمن په خپلو تبليغاتو سره او د محاصرو او مقاطعو له لارې نشي کولی ستا د دعوت د خورېدو مخنيوی وکړي او په ولس کې ستا د نفوذ مانع شي.

ډېره عجيبه ده چې ځينو درنو مفسرينو د (ابتر) لفظ د مقطوع الولد په معنا اخيستی، دا په داسې حال کې چې:

- د پيغمبرعليه السلام دواړه زامن په ماشومتوب کې وفات شوي او د دوو ماشومانو مړينه هيڅکله د دښمن لپاره دومره ستره او مهمه موضوع نشي کېدی چې په دې هکله شديد تبليغات پيل کړي، دومره چې د شنډولو لپاره ئې د يوې سورې د نازلېدو ضرورت احساس شي!! پر دې برسېره دا سوره د قاسم رضی الله عنه له وفاته څو کاله وروسته نازله شوې، ټول په دې پو هېږو چې پيغمبرعليه السلام په پنځه ويشت کلنۍ کې له خديجې رضي الله عنها سره ازدواج وکړ، په

ځلوېښت كلنۍ كې په پيغمبرۍ مبعوث شو، د عبدالله بن عباس رضي الله عنه د روايت له مخې د ده مشر زوى قاسم رضي الله عنه وو، له ده وروسته زينب، عبدالله، ام كلثوم، فاطمة او رقيه رضي الله عنهم يو په بل پسې زېږېدلي، لومړى قاسم رضي الله عنه او ورپسې عبدالله رضي الله عنه وفات شو، روايات وايي چې دواړه په ماشومتوب كې وفات شوي او ځينې روايات خو په دې ټينگار كوي چې دواړه د پيغمبرعليه السلام له بعثته مخكې وفات شوي، يوازې د پيغمبر عليه السلام لونې د بعثت په وخت كې ژوندۍ وې او له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ئې هجرت كړى. دا روايات دې خبرې ته هيڅ مجال نه پرېږدي چې گواكې قريشو پيغمبرعليه السلام ته د دې لپاره ابتر ويلي چې زامن ئې وفات شول او د دوى په ځواب كې دا سوره نازله شوې او پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چې ته ابتر نه يې ستا دښمن ابتر دى!!

و- (الكوثر) د كثرت د مبالغې صيغه ده، چې په هر زيات شي ئې اطلاق كېدى شي، خو په دې سوره كې ئې اصلي مفهوم بايد د ټول كلام او نورو آيتونو په رڼا كې ولټوو، نه خو دا سم كار دى چې د لغت په كتابونو كې د دې لفظ بېلې بېلې معاني راواخلو او گڼ شمېر احتمالات وړاندې كړو او نه دا چې هر څوك بېله بېله معنا ترې واخلي، دا لفظ دلته يوازې يوه معنا درلودى شي او دا معنا ئې بايد د دې سورې په قالب كې ولټول شي، د سورې له متنه په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې (كوثر) د (ابتر) په مقابل كې راغلى، سوره وايي چې پيغمبر عليه السلام ته (كوثر) وركړى شوى او (دښمن) ئې (ابتر) دى او دا د ابتر لفظ د دښمن په هكله داسې كارول شوى چې معنا ئې دا ده: لكه دښمن چې وايي پيغمبر عليه السلام ابتر نه دى، دښمن ئې په خپله ابتر دى، له دښمن نه مراد كوم خاص دښمن نه بلكې ټول دښمنان مراد دي، دلته د (شانئ) لفظ د جنس په معنا راغلى او ټول دښمنان احتوا كوي او طبيعي ده چې له دې پرته بله معنا نشي ترې اخيستل كېدى چې ته نه بلكې دښمن دې تجريد شوى.

(الكوثر) د (حوض كوثر) او (نهر كوثر) په معنا نشو اخيستى، دا ځكه چې دا

توجیه له وروستي آیت سره اړخ نه لګوي، همداراز (الکوثر) د ډېر اولاد په معنا نشو نیولی دا ځکه چې لومړی له دې اشکال سره مخامخ کېږو چې پیغمبرعلیه السلام د دې سورې د نزول په وخت کې نه یوازې ډېر اولاد نه درلودل بلکې زامن ئې هم وفات شوي وو او ثانیاً دا لفظ د ابتر په مقابل کې راغلی او د پیغمبرعلیه السلام دښمنان مقطوع النسل نه وو.

حقیقت دا دی چې په دې مرحلې کې د ټولنې اکثرو صالح افرادو په پیغمبرعلیه السلام ایمان راوړی وو، د هرې ورځې په تېرېدو، د دعوت په حقیقت د خلکو پوهېدو او د دښمن له لوري د تشدد په زیاتېدو سره د ټولنې نېك او صالح افراد له پیغمبر علیه السلام سره یو ځای کېدل او نفوذ ئې په خلکو کې زیاتېدو، ځوك چې په دې سختې، ستونزمنې او له راز راز ابتلاءاتو ډکې مرحلې کې له پیغمبرعلیه السلام سره یو ځای شوي، د نهضت اصلي تومنه او اصلي ځواك وو، هر یو ئې د یوه قوم او ملت په څېر وو، همدا دوی ول چې په هغو سختو ورځو کې ئې د ده ملګرتیا وکړه، دعوت ئې د دنیا ګوټ ګوټ ته ورساوو، د دین بیرغ د دوی په مبارکو لاسونو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ورپېدو، دښمن په دې نه پوهېدو چې له دوی نه د دغو خلکو په بېلېدو او له پیغمبر علیه السلام سره د دوی په یو ځای کېدو سره په حقیقت کې د دوی جرړې قطع کېږي، له ټولنې د تجرید په لور درومي، دوی ګمان کاوو چې د پیغمبر علیه السلام د یارانو په خلاف تشدد، محاصرو، مقاطعو او ځورولو سره به دی تجرید کړي، خو نه پوهېدل چې دا سیاستونه به د دوی د رسوایي او تجرید باعث شي او ولس به د پیغمبر علیه السلام دعوت ته لازیات متمایل کړي.

د (الکوثر) نعمت باید داسې نعمت وي چې د الشرح په سورې کې تر ذکر شوو نعمتونو ستر وي او اهمیت ئې زیات وي، هلته ویل شوي: (و رفعنالك ذکرك: ستا شهرت مو درته لوړ کړ)، د شهرت د زیاتېدو ښه نتیجه دا ده چې د ټولنې ښه او نېك خلك ورسره یوځای شي او په دې کې هیڅ شك نشته چې د صالح او نېکو خلکو د ملګرتیا اهمیت د شهرت تر زیاتېدو لوړ او هغه څه دی چې د شهرت له عام کېدو

وروسته ترسره کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

qèl š• ¥ÏR$© žc ) ÇÏÈ öüÙ$r 7În/t è@|Áù ÇÊÈ •Oöqs3ø9$# š•»oYøŠsÜôãr& !$¯RÎ)

ÇÌÈ çŽtIö/F{$#

---

۱- تا ته مو بې شکه چې دروبخښو کوثر. ۲- نو وکوه خپل رب ته دې، لمونځ او قرباني.۳- ستا دښمن بې شکه چې په خپله دی ابتر.

---

۱- د دې آیت په ارتباط څو ټکي په پام کې ولرئ:

الف: د (الکوثر) په نامه يو نعمت عملاً پيغمبرعليه السلام ته ورکړی شوی، د آيت الفاظ داسې دي چې ښيي د دې سورې د نزول په وخت کې دا نعمت د پيغمبر عليه السلام په حال شامل وو، دا صحيح نه ده چې څوك له دې داسې نعمت مراد کړي چې په راتلونکې کې به پيغمبر عليه السلام ته ورکول کېږي، که راتلونکي نعمتونه مراد وی نو دا الفاظ به راتلل: انانعطيك الكوثر: مونږ به کوثر درکړو، داسې لکه د الضحی په سوره کې چې راغلي: و لسوف يعطيك ربك فترضى. ستا رب به ډېر ژر دومره څه درکړي چې پرې راضي به شې.

که دا دواړه سورې يوه د بلې خوا کې کېږدو او لږ ورته ځير شو نو په دې مطلب پوهېدا به راته ګرانه نه وي چې د الضحی په سورې کې له پيغمبر عليه السلام سره شوې وعده د الکوثر د سورې له راتلو د مخه ترسره شوې، پيغمبرعليه السلام هغه نعمت ترلاسه کړی نو ځکه دلته ورته ويل شوي: انا اعطينك الكوثر.

ب: په (الکوثر) سره داسې نعمت ته اشاره شوې چې د الضحی د سورې له

نزوله وروسته او د الکوثر د سورې له نزوله مخکې پیغمبرعلیه السلام ته ورکړی شوی او دا داسې نعمت دی چې پیغمبرعلیه السلام ته کاملاً څرګند دی او توضیح ته ئې ضرورت نه لري، که څه هم الکوثر د کثیر د مبالغې صیغه ده او په هر زیات شي ئې اطلاق کېدی شي خو دلته یوازې هغه معنا ورکوي چې د (ابتر) په مقابل کې او پر هغه نعمت ئې اطلاق کېدی شي چې د پیغمبر علیه السلام په ضد د دښمن دا تبلیغ شنډوي چې وایي: پیغمبر علیه السلام او دعوت ئې ابتر شو. د همدې لپاره په ډېر قاطعیت او اطمئنان سره ویلی شو چې د (الکوثر) مراد نه حوض کوثر دی، نه نهر کوثر او نه زیات اولاد، بلکې مراد ئې له شکه پرته هماغه مخلص یاران دي چې په دغې مرحلې کې له پیغمبر علیه السلام سره یو ځای شوي وو، په ابتلاءاتو کې استوار او ثابت قدمه پاتې شول، له ستونزو او کړاوونو ونه وېرېدل، هرې قربانۍ ته چمتو شول، تکلیفونه او زحمتونه ئې قبول کړل، هیڅ ګواښ او فشار له خپلې لارې او تصمیم نه په شا نه کړل، هر یو ئې لکه یو مضبوط او پیاوړی لښکر وو، هر یو ئې له صف سره د ځان په څېر د زرهاوو نورو مجاهدینو د پیوستون وسیله او سبب، د الله دین ئې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورساوو او د دین بیرغ ئې په ټولې نړۍ کې ورپاوو. د دې رایې د تائید لپاره لاندې دلایل لرو:

۱ـ د کوثر حوض به د قیامت په ورځ او د کوثر نهر به په جنت کې پیغمبر علیه السلام ته ورکول کېږي، په دې سوره کې ویل شوي چې (الکوثر) مو عملاً او د دې سورې له نزوله مخکې تا ته درکړی.

۲- متأسفانه ځینې شیعه مفسرین دلته هم د نورو مواردو په څېر وایي چې (الکوثر یعني فاطمه علیهاالسلام !!)، دوی تل هڅه کوي چې په داسې مواردو کې په زور او تکلف سره او له کوم معقول او د منلو وړ دلیل نه پرته د قرآن آیتونه د علي رضي الله عنه او د ده د اولادې په لوري واړوي، دلته ئې هم دا کار کړی، وایي له کوثر نه مراد ډېر اولاد دی او په اولاد کې ئې ټول نه بلکې یوازې فاطمه رضي الله عنها ده او یوازې دا نه بلکې د دې ټول اولاد مراد ده!! د الله تعالی له مقدس کتاب سره داسې بې باکانه چلند ته انسان حیران شي!! په داسې حال کې چې د دې سورې

د نزول په وخت کې پیغمبرعلیه السلام ځوان زامن نه درلودل چې د زیات اولاد معنا ترې واخلو. پر لمسیانو ئې په دې دلیل اطلاق نشي کېدی چې په دې وخت کې ئې هیڅ لمسی نه وو، لمسیان ئې د دې سورې له نزول نږدې شل کاله وروسته زېږېدلي.

۳- که له (الکوثر) نه حوض کوثر یا نهر کوثر او یا ډېر اولاد واخلو د آیتونو ترمنځ تړاو، ربط او تنسیق له منځه ځي او په بې ربطو جملو بدلېږي، د دې دواړو خبرو تر منځ به څه ربط وي چې تا ته مو حوض کوثر یا نهر کوثر درکړ او دښمنان دې بې اولاده شول!! همداراز دا خبره نشو کولی چې تا ته مو ډېر اولاد درکړ او دښمنان دې بې اولاده شول، دا ځکه چې د پیغمبر علیه السلام دښمنان بې اولاده نه ول.

۲ ـ په دې آیت کې پیغمبرعلیه السلام ته لارښوونه شوې چې د الکوثر د نعمت په پاس باید لمونځ وکړې او قرباني وکړې، داسې لکه د قریش په سوره کې چې قریشو ته ویل شوي: د دې نعمتونو په پاس باید د خپل رب عبادت وکړئ چې له وږې وروسته ئې امنیت درپه برخه کړ او له لوږې وروسته ئې په نس ماړه کړئ. او همداراز چې د (الضحی) او (الشرح) په سورتونو کې د نعمتونو له ذکره وروسته ویل شوي چې د الله په نعمتونو اعتراف وکړه او د الله په لوري رغبت وکړه. او داسې لکه د النصر په سورې کې چې ګورو د الهي تائید او نصرت او د خلکو ډله ډله اسلام ته د ننوتو په مقابل کې پیغمبر علیه السلام ته د تسبیح او استغفار سپارښتنه شوې.

په ډېر وضاحت سره ګورو چې دا آیت پر مخکنیو یوه تفریع او د هغوی نتیجه ده او د الکوثر د اعطا په مقابل کې د لمونځ او قربانۍ غوښتنه کوي او ښیي چې د کوثر نعمت لادمخه پیغمبر علیه السلام ته ورکړی شوی او د همدې نعمت د شکر په ځای کولو لپاره په لمانځه او قربانۍ مکلف شوی. په دې آیت کې پیغمبرعلیه السلام او مسلمانانو ته ویل شوي چې لمونځ او قرباني به مو د الله تعالی لپاره وي، د الله تعالی رضا ترلاسه کول او د ده اوامر ترسره کول به مو د لمانځه او قربانۍ موخه او هدف وي. دا لارښوونه په بل ځای کې په دې الفاظو راغلې:

قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ. الانعام: ۱۶۲-۱۶۳

وو ایه: بې شکه چې لمونځ مې، قرباني مې، ژوند مې او مرګ مې د عالمیانو رب لره دی، شریك ئې نشته، په دې مأمور شوی یم او له لومړیو مسلمانانو څخه یم.

۳- د دې آیت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

الف- شانئ هغه دښمن ته وایې چې ډېر کینه کښ وي او عداوت ئې زیات، له دې معلومېږي چې په دغه وخت کې د دښمن عداوت او کینه کښي زیاته شوې وه، دلته له دښمن نه مراد خاص دښمن نه دی بلکې ټول دښمنان ترې مراد دي.

ب: د دښمن له دې وینا چې د پیغمبرعلیه السلام په هکله ئې کړې او ویلي ئې دي چې دی ابتر شو، مقصد دا دی چې هغه له ولسه منزوي او تجرید شوی، ګمان ئې دا وو چې په ده او د ده پر یارانو مو داسې حالت راوستی چې نور به څوك د ده ملګرتیا ته زړه ښه نه کړي، د ده د یارانو او پلویانو په ځورولو او سخت تعذیب سره مو په مکه کې د وېرې او خوف داسې فضا جوړه کړې چې هیڅوك به نور دا جرأت ونکړي چې خپل پلرنی دین پرېږدي او د محمد (علیه السلام) نوی دین غوره کړي. او د ده په ضد مو دومره تبلیغات کړي چې نور به هیڅوك د ده خبره وانه وري او ایمان به پرې رانه وړي!!

ج: د (إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ: ستا دښمن بې شکه چې په خپله ابتر دی) په ترکیب کې دا مطلب مضمر دی چې دښمن پیغمبر علیه السلام ته د ابتر خطاب کړی او الله تعالی د دوی په ځواب کې فرمایي: ته نه بلکې دوی په خپله ابتر شوي. کوم څه چې دلته او په دې لفظ سره دښمن ته متوجه دي عکس او نفي ئې د پیغمبر علیه السلام په هکله مراد ده چې وضاحت ئې په لومړي آیت کې د کوثر په اعطا سره شوی.

د: ابتر ډېرې معاني لري، لکه بې نوم نښانه، مقطوع النسل او بې اولاده، بې خیره، هغه ونه چې له ریښې ایستل شوې وي. متأسفانه ځینو په دې آیت کې د مقطوع النسل او بې اولادی په معنا نیولی، حال دا چې دا معنا د پیغمبر علیه

السلام د دښمنانو په هکله صدق نه کوي، ځکه چې دوی بې اولاده نه ول، څنګه به قرآن داسې څه وايي چې مصداق نه لري او د واقع خلاف وي، دا تعبير غلط او بې بنسټه دی، مونږ مکلف يو د ابتر يوازې هغه معنا واخلو چې ټول کلام ئې غوښتنه کوي او له واقع سره مطابقت ولري. په ډېر کم دقت سره په دې پوهېدی شو چې د آيت مراد دا دی: دښمن بې ځايه دا ګمان کوي چې پيغمبر عليه السلام ئې منزوي او تجريد کړی او د ده د دعوت مخه ئې د تل لپاره ډپ کړې، اشتباه کوي، په حقيقت کې دوی په خپله منزوي او تجريد شوي او د ولس له لوري منفور او مطرود شوي.

هـ : د (الکوثر) معنا هم بايد د دغه لفظ په رڼا کې ولټوو، ځکه د دې په مقابل کې راغلی. که تاسو د چا په هکله وواېئ چې فقير دی او مال دولت نه لري او بل څوك درته ووايي: اشتباه کوې ډېر مو ورکړي، ما ته ووايه د ده له دې وينا به ستا انتباه څه وي او دا د ډېر لفظ به په کومه معنا اخلې، آيا له مال دولت نه پرته بله معنا ترې اخلې؟! که يو څوك ووايي: فلانی جبهه کافي وسايل او مهمات نه لري، بل ورته ووايي: داسې نه ده ډېر مو ورکړي، آيا دلته له (ډېر) نه څه معنا اخلې، وسله او مهمات که بل څه؟

د دې آيتونو ترکيب دې ته ورته دی: دښمن ويلي چې پيغمبر عليه السلام ابتر دی، يعني له خلکو تجريد شوی، هيڅوك ورسره نشته او هيڅوك ئې ملګرتيا نه کوي، الله تعالی فرمايي چې نه دښمن په خپله ابتر دی، ته ډاډه اوسه چې مونږ ډېر زيات درکړي، دلته له ډېر زيات نه يوازې يوه معنا اخيستی شو او هغه دا چې ډېر پلويان، ملګري او ياران مو درکړي. په بل څه د دې لفظ اطلاق ډېر ناسم اطلاق دی.

دا داسې وګڼئ لکه يو څوك چې د يوه سياسي مشر يا حزب په هکله ووايي: تجريد شوی، څوك ورته نه دي پاتې، ټغر ئې ټول شو، څوك ئې ملاتړ نه کوي، بل ورته ووايي: زه درسره موافق نه يم چې ټغر ئې ټول شوی، (ډېر زيات) لري اورېدونکی له کوم تأمل نه پرته په دې پوهېږي چې له (ډېر زيات) نه د دې کس مقصد ډېر پلويان او حاميان دي، که څه هم ده نه دي ويلي چې څه ئې ډېر زيات دي.

- قرطبي ليکلي چې د الکوثر په اړه شپاړس قوله راغلي، د دې معنا دا ده چې

مفسرينو ته له پيغمبر عليه السلام نه داسې موثق روايت په لاس نه دی ورغلی چې د دی آيت لومړی او وروستی تفسير ئې وګڼي او د بلې رايې له ورکولو ډډه وکړي، که داسې روايت ئې موندلی وی هيڅکله به ئې بېله بېله رايه نه وړاندې کوله او شپاړس مختلف تفسيرونه به ئې نه کېدل. همدا راز له دغو شپاړسو رايو څخه يوه ئې صحيح کېدی شي او بس، مونږ نه يوازې دا حق لرو چې د درنو مفسرينو د دغو مختلفو آراوو تر منځ قضاوت وکړو او تر ټولو غوره ئې انتخاب کړو بلکې بايد او حتماً دا کار وکړو، دا سمه نه ده چې ووايو: ښايي دا صحيح وي او ښايي دا او يا ووايو چې ښايي ټولې صحيح وي او دې ته جوامع الکلم نوم ورکړو، دا خبره خو د يوه مبهم کلام په هکله کېدی شي نه د قرآن په څېر د مبين او بليغ کلام په هکله. جوامع الکلم دې ته نه وايي چې مخاطب په شك کې واچوي او په دې پوهېدا ورته ګرانه کړي چې د متکلم موخه او هدف څه دی، دا، که دا او که دا؟!! جوامع الکلم هغه کلام دی چې په لنډو الفاظو کې خپل مطلب په ښه او بشپړه توګه ادا کړی شي، نه تکلف په کې شوی وي او نه اضافي او غير ضروري الفاظ په کې راغلي وي، الکوثر هومره جامع کلام دی چې نظير ئې نشو موندلی، خو د دی معنا دا نه ده چې د کوثر ټول هغه معاني دلته مراد دي چې د لغت په کتابونو کې ئې مومو، له الکوثر نه بايد يوازې يوه محدده او مشخصه معنا مراد وي او مخاطب ئې بايد د کلام له فحوی درك کړی شي. او دې ته وايي بليغ کلام.

- که څه هم کوثر د کثرت د مبالغې صيغه ده او ډېر شيان ئې مصداق کېدی شي، خو دلته کوثر د ابتر په مقابل کې راغلی، د ابتر معنا منزوي شوی او تجريد شوی دی، نو د کوثر معنا به خامخا ناتجريد شوی او نامنزوي شوی وي، بل مصداق ئې دلته اخيستل اشتباه ده.

په دې هکله چې د الکوثر سوره په مکه کې نازله شوې که مدينه کې دوه روايتونه مخې ته راځي، يو ئې وايي چې کله د پيغمبر عليه السلام دوهم زوی هم وفات شو نو عاصي بن وائل يا ابولهب وويل بتر محمد: محمد (عليه السلام) مېرات شو، يعني نارينه وارث ترې پاتې نشو او دا سوره د ده په ځواب کې نازله

شوه.

په بل روایت کې راغلي:

عن أنس قال: بينما نحن عند رسول الله صلى الله عليه وسلم إذ أغفى إغفاءة, ثم رفع رأسه متبسما فقلنا: ما أضحكك يا رسول الله؟ قال: نزلت على آنفا سورة- فقرأ- بسم الله الرحمن الرحيم: "إنا أعطيناك الكوثر. فصل لربك وأنحر. إن شانئك هو الأبتر" - ثم قال-أتدرون ما الكوثر؟. قلنا الله ورسوله أعلم. قال: فإنه نهر وعدنيه ربي عز وجل, ... رواه مسلم

له انس رضي الله عنه نه روایت دی چې وایي: په داسې وخت کې چې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خوا کې وو چې مختصر بې حاله شو، بیا ئې په موسکا سره سر رااوچت کړ، مونږ وپوښتو چې یا رسول الله صلى الله عليه وسلم! ولې په خندا شوې؟ وئې فرمایل: دا اوس یوه سوره راباندې نازله شوه، نو داسې ئې قرائت کړه: بسم الله الرحمن الرحيم: "إنا أعطيناك الكوثر. فصل لربك وأنحر. إن شانئك هو الأبتر. بیا ئې وفرمایل: پوهېږئ چې کوثر څه دی؟ مونږ وویل: الله او رسول ئې ښه پوهېږي، وئې فرمایل: دا یو نهر دی چې الله تعالى ئې له ما سره وعده کړې ده، ...

ګورو چې د یوې مسئلې په اړه دوه متعارض روایات زمونږ مخې ته راځي، طبیعي ده چې په دې کې به یوازې یو صحیح وي، یا به سوره مکي وي یا مدني، اکثر علماء په دې متفق دي چې دا سوره مکي ده او د انس رضي الله عنه له روایت سره اتفاق نه کوي، د سورې هر څه په دې شهادت ورکوي چې په مکه کې نازله شوې، انس رضي الله عنه په مدینه کې پیدا شوی او هغه وخت چې پیغمبر علیه السلام مدینې ته هجرت وکړ لس کلن وو، ښایي د دې سورې د نزول په وخت کې به درې څلور کلن ماشوم وو، څنګه ومنو چې دی د دغې سورې د نزول په وخت کې حاضر وو؟!

د لومړي روایت په هکله باید ووایو چې دا سوره د پیغمبر علیه السلام د زامنو له وفاته ډېر کلونه وروسته نازله شوې، د معتبرو روایاتو له مخې د ده زامن

له بعثته مخکې وفات شوي، د دوی د وفات په وخت کې ابو لهب نه یوازې له پیغمبر علیه السلام سره هیڅ اختلاف نه درلود بلکې پیغمبر علیه السلام خپلې دوه لونې د ده دوو زامنو ته په نکاح ورکړې وې.

## یوه یادونه:

کله چې ما د دې مختصرې سورې په هکله تحقیق کاوو چې درې لنډ لنډ آیتونه لري، له لسو کلمو جوړه شوې او د قرآن تر ټولو لنډه سوره ده، د ډېرو تفسیرونو له مطالعې وروسته او د الله تعالی په کرم او لطف سره مې د دې سورې په تفسیر د پوهېدو توفیق په برخه شو، له لیکلو ئې فارغ شوم، قلم مې کېښود، لاسونه مې د دعا لپاره اوچت کړل او دا الفاظ مې په ژبه جاري شول: خدایه! ستا د دې پېرزوینې ډېر ډېر شکر کوم، هومره چې که زما د تېرو دېرشو کلونو د مبارزې عوض او بدله یوازې د دغې مبارکې سورې دا فهم وي، زه قانع او راضي یم او ستا د دې لطف او کرم مرهون.

# الكافرون

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الكفرون دی چې له لومړي آیته اخیستل شوی، شپږ آیتونه لري، د لومړیو دوو آیتونو فواصل ئې د الكافرون او تعبدون هموزنه صیغې دي، د درېیم، څلورم او پنځم آیتونو ئې اعبد، عبدتم او اعبد صیغې دي چې غږ ئې سره ورته دی او آخري آیت ئې د دین په لفظ ختم شوی چې د سورې د غږ او مد وجذر لپاره موزون توقف دی. په مكي دور كې نازله شوې، د بحث اصلي مضمون ئې له كافرانو، د دوی له معبوادنو، د دوی له دین او د عبادت له اسلوبه ئې د برائت او بې زارۍ اعلان دی، یوه دائمي او تلپاتې مقاطعه چې د هر راز روغې جوړې احتمال ردوي او د هر ډول پخلا كېدو امكان منتفي كوي. د سورې له آیتونو معلومېږي چې دښمن په دې مرحلې كې غواړي له پیغمبر علیه السلام سره یو ډول جوړ جاړې ته ورسېږي، دا ئې ځان ته مفید او ګټوره ګڼلې چې پیغمبر علیه السلام انعطاف او مصالحې ته چمتو كړي، د دوی د دین، مذهب، معبودانو او سیاستونو په هكله ئې نیوكې، اعتراضات او تبلیغات راكم كړي او له نه پخلا كېدونكي دریځه ئې راكوز كړي. په دعوت او مبارزه كې تر ټولو حساسه مرحله هغه ده چې

دښمن خپله څېره بدله کړي او دا په خپل مصلحت وګڼي چې خپل مخکنی سیاست موقتاً پرېږدي، د تشدد په ځای د مصالحې او جوړ جاړي شعار ورکړي، دعوتګرانو او مبارزینو ته شین چراغ وښیي، د امتیازاتو وړاندیز ورته وکړي، محاسبه ئې دا وي چې په تنازل سره او مبارزینو ته په ځینو امتیازاتو ورکولو او روغې جوړې ته ئې متمایل کولو له لارې هغه څه د نهضت په ضد کولی شي چې د تشدد او د نهضت د پلویانو په شړلو، ځورولو او تعذیبولو ئې ترلاسه نکړی شو. ستومانه، بې حوصلې او لنډ نفسه دعوتګران په دې امېد او بهانه چې کېدی شي له دغه فرصت او امتیازاتو نه په استفادې سره د نهضت په ګټه کار وکړي، مصالحې او جوړ جاړي ته غاړه ږدي، له دښمن سره روغه جوړه کوي او خپل همسنګران دې ته رابلي چې په مخکنیو سیاستونو، تګلارو او دریځونو کې تجدید نظر وکړي، خو دی لا د خپلو همسنګرانو او د مبارزې د ملګرو په اقناع او راضي کولو نه وي موفق شوی چې متوجه شي د دښمن د توطئې په لومو کې نښتی، د صف په لیکو کې ئې اختلاف راولاړ کړی او له صف نه بهر ئې خپل اعتبار او حیثیت له منځه وړی، ګوري چې د دښمن له لوري موعود امتیازات هسې یوه دوکه وه، دښمن خپل عهد او ژمنه ترپښو لاندې کړې، خپلو مخکنیو سیاستونو ته ئې مخه کړې او دی ئې له داسې حالت سره مخامخ کړی چې نه خپلې مخکنۍ وضعې ته بېرته ګرځېدی شي او نه له دښمن سره جوړ جاړي ته دوام ورکوی شي. هغه مخلص او وفادار غړي چې په دې مبارزې کې په اخلاص سره د ده په څنګ کې ودرېدلي وو، ستونزې او کړاوونه ئې ګاللي، له ده او د ده له موخو او تګلارو سره ئې ژمنه کړې وه، هرې قربانۍ ته چمتو وو او له دښمن سره ئې له یو ځای کېدو کرکه درلوده، ورو ورو له ده بېل شي، د دوی خالي ځای په هغو خلکو ډك شي چې له دښمن سره د جوړ جاړي روحیه پرې غالبه او د مبارزې په مخکنۍ مرحلې کې ئې ونډه کمزورې وه، دا وضعیت نهضت له داخلي تشنج، فکري تزلزل، د نوې سیاست د ګټورتوب په اړه بې باورې او د تصمیم نیونکو حلقو په هکله د عامو غړو بې اعتمادي راولاړه کړي او د تحریك بقا او دوام له جدي ګواښ سره مخامخ کړي. ډېر تحریکونه په دې نه

دي توانېدلي چې له داسې مرحلې سرلوړي او بريالي ووځي، ډېر كسان د دې خبرې له درك څخه عاجز وي چې كله به له دښمن سره تفاهم ته كښيني او مصالحې ته به چمتو كېږي او كله به په قاطعيت او عدم مداهنت ټينګار كوي او له انعطاف او مصالحې نه به ځان ساتي!! په قرآن كې ځينې احكام داسې مومي چې له دښمن سره د مصالحې او روغې جوړې اجازه وركوي او ځينې بيا داسې چې د جدي مقاطعې، عدم مداهنت او عدم انعطاف غوښتنه كوي، دوى داسې ګمان كوي چې داعي او مبارز ته دا اجازه وركړى شوې چې له دغو متباينو لارښوونو او هداياتو څخه په هر يوه د خپل تشخيص له مخې او مصلحت، شرايطو او ظروفو ته په پام سره عمل وكړي، انتخاب ده ته پرېښودى شوى، ځينې داسې ګمان كوي چې د ضعف او ناتوانۍ په وخت كې كولى شو له دښمن سره روغه جوړه وكړو، د مداهنت او انعطاف لار غوره كړو، خو د قوت او ځواكمنۍ په وخت كې بايد مداهنت او انعطاف يوې خوا ته پرېږدو او د دښمن په ضد په قاطعيت سره چلند وكړو، د دوى له نظره د مداهنت او انعطاف اړوند احكام په مكي دور پورې تعلق لري او د ضعف او ناتوانۍ د وخت احكام دي او د قاطعيت او عدم انعطاف احكام په مدني دور پورې ارتباط لري او د قوت او ځواكمنۍ د مرحلې احكام دي!! په داسې حال كې چې خبره كاملاً د دې عكس او خلاف ده، ټول هغه احكام او لارښوونې چې په عدم مداهنت، له دښمن نه د برائت او بې زارۍ اعلان او له دښمن سره په نه جوړ جاړي تأكيد كوي په مكي سورتونو كې ترسترګو كېږي او هغه آيتونه چې د مصالحې او روغې جوړې جواز په كې مومو ټول په مدينه منوره كې نازل شوي!! د قرآن له نظره له دښمن سره مصالحه او روغه جوړه بايد د قوت او ځواكمنۍ له دريځه وي نه د ضعف او ناتوانۍ له موقفه. صلح د مدني مرحلې كار دى نه د مكي مرحلې. د دوو ښكېلو خواوو ترمنځ صلح د ځواكمن لوري د شرايطو په منلو سره ترسره كېږي، ضعيف لورى ځان دې ته اړ ګڼي چې د برلاسي حريف شرايطو ته غاړه كېږدي، تنازل وكړي او امتيازات وركړي تر څو ځواكمن حريف ئې له روغې جوړې سره توافق وكړي. اسلام دا اجازه نه وركوي چې مسلمان د ضعف او ناتوانۍ احساس وكړي، د

دښمن شرایطو ته غاړه کېږدي، ذلت ته تسلیم شي او هغه صلح ومني چې د دښمن برلاسی تضمینوي او د دښمن په وړاندې له تنازل او تسلیمېدو سره مترادف وي.

دلته هم ګورئ چې د الکفرون په سوره کې پیغمبرعلیه السلام ته او د ده له لارې ټولو مؤمنانو ته ویل شوي چې ستاسو پیغام به کافرانو ته دا وي: ستاسو معبودان نه منو، نه ئې لمانځو، نه ستاسو دین منو او نه ستاسو د عبادت طور طریقه! جدي مقاطعه، چې د هرراز انعطاف او جوړ جاړي امکان او احتمال د تل لپاره منتفي کوي. په روایاتو کې راځي چې پدې مرحلې کې قریشو د پیغمبر علیه السلام د تره ابو طالب له لارې هغه ته دا وړاندیزونه وکړل: که اقتدار غواړي مونږ حاضر یو چې خپل سرور او سالار ئې وټاکو، که ئې هدف ثروت او دولت وي دومره دولت به ورکړو چې د عربو تر ټولو بډایانو زیات شتمن شي، که ښځه غواړي د عربو تر ټولو ښایسته ښځه دې غوره کړي ورته وربه ئې کړو. خو د دې حرص پارونکو وړاندیزونو په اړه د پیغمبر علیه السلام ځواب دا وو: په هغه خدای قسم چې زما ژوند ئې په واك کې دی، که مې لمر په ښي لاس او سپوږمۍ په کیڼ لاس کې کېږدي له خپلې لارې به وانه وړم! یعني د عربو زعامت او مشرتوب خو پرېږده که لمر او سپوږمۍ هم د ده په واك کې ورکړي تنازل ته تیار نه دی، له خپلې مبارزې لاس نه اخلي او په دې اړه به د دښمن شرایط هیڅکله ونه مني چې په خپلې تګلارې کې تجدید نظر وکړي!!

که هغو آیتونو ته چې په دې هکله په ځینو مکي سورتونو کې راغلي توجه وکړو د قضیې څرنګوالی په ښه توګه درك کولی شو. د الاسراء د سورې په ۷۴-۷۵ آیتونو کې لولو:

وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلاً * إِذاً لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لاَ تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا * الاسراء: ۷۴-۷۵

او که مو ثابت قدمه او مضبوط کړی نه وای نو یقیناً چې نږدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې، چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګه وروسته هم دوه برابره، بیا به دې زمونږ

په خلاف کوم ملاتړی نشو موندلی.

په دې آیتونو کې له عتابه ډکې داسې صیغې مومو چې نظیر ئې ډېر لږ موندلی شو!! که د دښمن لوري ته ډېر لږ تمایل دومره جدي نیول کېږي او د داسې سختې مؤاخذې وړ ګڼل کېږي، له دښمن سره د مصالحې او سازش عاقبت به څنګه وي؟!!

همدا راز فرمايي:

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ * وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ * القلم: ۸-۹

نو د مکذبینو اطاعت مه کوه، دوی دا خوښوي چې ته نرمي وکړې نو چې بیا دوی هم نرمي وکړي.

صلح او روغې جوړې ته د دعوت په هکله فرمايي:

فَلاَ تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ. محمد: ۳۵

نو سست کېږئ مه او د صلحې طرف ته بلنه مه ورکوئ او تاسو لوړ یاست او الله له تاسو سره دی او هیڅکله به ستاسو عملونه ضایع نکړي.

دا آیت لاندې اساسي مطالب افاده کوي:

الف: د دښمن په وړاندې د ضعف او ناتوانۍ احساس مه کوئ، د دښمن په ضد د خپلې مبارزې شور او شوق له لاسه مه ورکوئ، لټي او کسالت مه کوئ.

ب: دښمن ته د صلحې او روغې جوړې پیغامونه مه لېږئ او تفاهم او سازش ته ئې مه رابلئ.

ج: تاسو لوړ یاست، لوړ تر دې چې د دښمن په وړاندې د ضعف او کمزورۍ احساس وکړئ او د سازش او روغې جوړې لاس وراوږد کړئ.

و: ګمان مه کوئ چې تجرید شوي یئ او دښمن توانېدلی چې تاسو محاصره کړي له ولسه مو منزوي کړي، ګمان مه کوئ چې یوازې پاتې شوي یئ، د یوازیتوب احساس باید تاسو له دښمن سره جوړ جاړي ته اړ نه کړي، د ځمکې او آسمانونو لوی رب له تاسو سره او ستاسو مل دی.

هـ: ګمان مه کوئ چې له روغې جوړې پرته به ستاسو ټولې هلې ځلې هدر شي، قرباني به مو ضايع شي او هغه نتايج به پرې مرتب نشي چې الله تعالی ئې له تاسو سره وعده کړې، الله تعالی به هيڅکله ستاسو قرباني ضايع نه کړي او ستاسو هلې ځلې به بې نتيجې پرې نږدي.

د دغو او ټولو هغو آيتونه په مقابل کې چې په مقاطعې او برائت ټينګار کوي، ځينې د انفال د سورې په ۶۱ آيت استناد کوي او له دښمن سره مصالحه په هغه صورت کې جائز ګڼي چې دښمن په خپله صلحې ته تمايل څرګند کړي. آيت داسې دی:

وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ * الانفال: ۶۱

او که دوی صلحې ته مايل شول؛ نو ته هم ورته تمايل وکړه او پر الله توکل وکړه، بې شکه چې هغه پوه اوريدونکی دی.

راشئ وګورو چې دا د صلحې په اړه بېل بېل او متفاوت احکام څنګه تلفيق کولی شو؟ او په کوم يوه به کله عمل کوو؟ کله له دښمن سره صلح کول جائز ده او کله ناجائز؟ آيا دا قضيه د نهضت مشرانو ته پرېښودل شوې چې مصلحت ته په پام سره مناسب تصميم ونيسي؟ آيا دا سمه ده چې ووايو: د دې آيتونو په حکم سره مسلمانان له دې منع شوي چې دښمن ته د روغې جوړې پيغامونه ولېږي، خو که د صلحې پيغام د دښمن له لوري وي او تفاهم او جوړ جاړي ته تياری وښيي بيا نو مسلمانان کولی شي مثبت ځواب ورکړي؟ ښايي ځينو ته دا استدلال معقول وبريښي او د آيت له ظاهر سره ئې سم وګڼي!! خو دا انتباه په څو دليله سمه نه ده:

۱- د دې استدلال له مخې که د صلحې وړانديز د دښمن له لوري وي نو مسلمانان کولی شي روغه جوړه وکړي پرته له دې چې وګوري د دښمن وړانديز د ضعف له دريځه ده که د قوت او برلاسي له دريځه او پرته له دې چې وګوري مسلمانان د قوت په دريځ کې دي که د ضعف او کمزورۍ په دريځ کې!! که دا استدلال سم او د منلو وړ وی نو پيغمبر عليه السلام به حتماً په مکي دور کې د

دښمن د صلحې وړانديزونو ته مثبت ځواب ويلى وو!! مخصوصاً په هغه وخت کې چې د (الكفرون) سوره نازلېده!! حال دا چې د مکي دور په دیارلسو کلونو کې او د مدينې په اتو كلونو کې د حديبيې تر صلحې پورې ئې نه له دښمن سره روغه جوړه وکړه، نه ئې انعطاف او نرمي وښوده او نه خبرو آترو ته كښېناست، په داسې حال کې چې د قريشو سردارانو تل د هغې غوښتنه کوله او ډول ډول وړانديزونه ئې لرل. قرآن په گڼ شمېر آيتونو کې دې حقيقت ته اشاره کوي.

۲- كه له دښمن سره د روغې جوړې مربوط آيتونو د نزول ترتيب ته لږ ځير شو وبه گورو چې د مقاطعې، عدم انعطاف، له مداهنت نه ډډه كول او روغې جوړې ته د نه رابللو آيتونه په هغې مرحلې کې نازل شوي چې د مکې دیارلس او د مدينې اته لومړني كلونه احتوا کوي. همغه مرحله چې دښمن د برلاسي احساس كاوو او نهضت ئې ضعيف او كمزورى گڼلو. خو كله چې نهضت له تدافعي حالته ووت، د دښمن ټول بريدونه ئې په شا وتمبول، او په ټولو نښتو کې ئې خپله وړتيا او قوت اثبات كړ اوس تر دښمنه د برلاسی او قوت احساس كوي ، دغه وخت دى چې له دښمن سره د تفاهم او روغې جوړې اجازه وركول كېږي. د قرآن په آيتونو کې د غور په نتيجه کې به دا وگورئ چې د (وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا) آيت د بدر په جگړې کې له بريا وروسته نازل شوى حال دا چې له تفاهم او روغې جوړې د اجتناب آيتونه ټول تر دې د مخه نازل شوي، د حديبيې صلح هغه وخت وشوه چې د دښمن وروستى لوى بريد د خندق په جگړې کې له ماتې سره مخامخ شو او له ماتې وروسته پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له دې وروسته به قريش د حملې توان ترلاسه نكړي. گورئ چې د حديبيې صلح د نهضت د قوت او برلاسي او د دښمن له مسلسل ماتو ووسته د حرم خوا کې د دښمن تر سلطې لاندې سيمې کې امضاء شوې.

د دې آيتونو په رڼا کې او د هر يوه د نزول د زمانې شرايطو ته په پام سره په وضاحت او آسانۍ سره دا حقيقت درك كولى شو چې صلح د نهضت د قوت او ځواكمنۍ د وخت كار دى، د هغه وخت كار چې دښمن د عجز او ضعف احساس وكړي او نهضت عملاً خپله برلاسي او ځواكمني ثابته كړي، هغه وخت چې دښمن

صلحې ته اړ شوی وي او له دې پرته بله چاره نه ګوري چې د مسلمانانو شرايطو ته تسليم شي. عجيبه ده که څوك دا ټول حقايق له پامه غورځوي او صلح د ضعف او ناتوانۍ د مرحلې کار ګڼي او ادعا کوي چې نهضت کولی شي د ضعف په وخت کې له دښمن سره روغه جوړه وکړي!!!

څوك په دې حقيقت نه پوهېږي چې د دوو ښکېلو خواوو ترمنځ روغه جوړه تل د برلاسي او غالب لوري د شرايطو په اساس رامنځ ته کېږي، د غالب لوري شرايط منل کېږي او مغلوب لوری د ده د شرايطو منلو ته غاړه ږدي، يوازې په دې صورت کې ده چې د صلحې معاهده د دوو خواوو تر منځ امضاء کېږي، اسلام هيڅکله مسلمان ته د دې اجازه نه ورکوي چې ذلت ته سر ټيټ کړي، د دښمن شرايطو ته تسليم شي، د همدې لپاره د ضعف اوناتوانۍ په وخت کې عدم مداهنت او صلحې ته په عدم دعوت تأکيد کوي، خو د برلاسۍ په وخت کې اجازه ورکوي چې تفاهم وکړي او د صلحې بلنې ته مثبت ځواب ووايي. کوم کسان چې د قرآنکريم په تفسير کې د آيتونو شأن نزول او د هر آيت د نزول شرايطو ته پام نه کوي او هر آيت بېل بېل او له نورو سره ئې تړاو ته له پام پرته تر بحث لاندې نيسي، کله چې د يوې قضيې په اړه دوه متباين احکام ګوري او په توجيه کې ئې له ستونزې سره مخامخ کېږي او له تلفيقه ئې عاجز کېږي نو د دې په ځای چې ووايي: د يوه حکم په يوې مرحلې پورې او بل ئې په بلې پورې مربوط دی، برعکس د دغو پورتنيو آيتونو په څېر ئې تعبيروي!

د دوی د تعبير له مخې مسلمانان مکلف دي چې د دښمن له لوري د صلحې وړانديز ته له ځنډه پرته مثبت ځواب ووايي، مسلمانان له دښمن سره له روغې جوړې نه بلکې يوازې له دې منع شوي چې دښمن ته په خپله د روغې جوړې وړانديز وکړي، خو که دا ابتکار د دښمن له لوري وو او د روغې جوړې پيغام هغه ورولېږو نو بيا کولی شي له ځنډه پرته روغه جوړه وکړي!! په داسې حال کې چې مسئله کاملاً د دې عکس ده، د قرآن آيتونه او عملي مصاديق ئې د پيغمبر عليه السلام په ژوند او له دښمن سره ئې په معامله کې په ډېر وضاحت سره ښيي چې صلح ځان ته

خاص وخت او شرايط لري، له دښمن سره صلح او تفاهم د قوت او ځواکمنۍ د مرحلې کار دی نه د ضعف د مرحلې، د مدني مرحلې کار دی نه د مکي مرحلې.

د الکفرون په سوره کې مسلمانانو ته لارښوونه شوې چې د کفر دين په هر ځای او د تاريخ په هر پړاو کې او په هر شکل او هرې بڼې کې ئې ستاسو له دين سره سمون نه خوري، د دوی په وړاندې بايد ستاسو شعار دا وي: ستاسو د معبودانو عبادت نه کوو، ستاسو د عبادت طريقې نه خپلوو او ستاسو دين نه منو.

دې مبارکې سورې ته چې پيغمبرعليه السلام کوم خاص او ځانګړی اهتمام کاوو له دې رواياتو ښه معلومولی شئ:

عن ابن عمر قال رمقت النبي صلى الله عليه وسلم أربعا وعشرين أو خمسا وعشرين مرة يقرأ في الركعتين قبل الفجر والركعتين بعد المغرب بـ "قل يا أيها الكافرون" و "قل هو الله أحد". رواه احمد

عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: پيغمبرعليه السلام مې نږدې شل وارې ليدلی چې د سهار له فرضو نه مخکې دوو رکعتونو او د ماښام له فرضو وروسته دوو رکعتونو کې به ئې (قل يا ايها الکفرون او قل هو الله احد) تلاوت کول.

عن أبي فروة قال قدمت المدينة فأتيت النبي صلى الله عليه وسلم فقلت يا رسول الله علمني شيئا أقوله إذا أويت الى فراشي قال اقرأ قل يأيها الكفرون فإنها براءة من الشرك . رواه الترمذي

له ابو فروة رضي الله عنه روايت دی چې وايي: کله چې مدينې ته راغلم نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلم او ورته ومې ويل: يا رسول الله! داسې څه راوښيه چې په بستر کې د پرېوتو په وخت کې ئې ووايم، وئې فرمايل: قل يا ايهاالکفرون تلاوت کړه چې دا له شرك نه برائت دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

**brßÎ»ã óΟçR& Iwr ÇÌÈ brß‰ç7÷ès? $B ß‰ç6ôãr& Iw ÇËÈ šcrãÏÿ»s3ø9$# $pkš‰r'¯»tƒ ö@è%**

**ÇÍÈ ÷Lnß‰6tã $B Ó‰Î/%tæ O$tRr& Iwr ÇÌÈ ß‰ç7ôãr& !$B brßÎ»ã óΟçFRr& Iwr ÇÎÈ ß‰ç6ôãr& $B**

**ÇÏÈ ÈûïÏŠ ’Í<ur ö/ä3ãYƒÏŠ ö/ä3s9**

۱- ووایه : آی، های، اې کافرانو! ۲- زه نکړم عبادت د هغه څه چې عبادت ئې کوئ تاسو. ۳- او نه تاسو عابدان د هغه څه یاستئ چې زه ئې عبادت کړم. ۴- او نه زه یمه عابد د هغه څه چې عبادت ئې وکړ تاسو. ۵- او نه تاسو عابدان د هغه څه یاستئ چې زه ئې عبادت کړم. ۶- تاسو ته دې خپل دین وي او ما ته دې خپل دین.

۱: په دې آیت کې ټول کافران په څو ندایه تورو سره مخاطب شوي: په (یا) سره چې د لرې او غائب لپاره کارول کېږي، په (ای) سره چې د نږدې او حاضر لپاره او په (ها) سره چې د انذار او خبرداری ورکولو لپاره کارول کېږي.

له کافرانو نه ټول هغه کسان مراد دي چې د اسلام له حقانیته انکار کوي، قرآن د مکې کفارو ته د مشرك خطاب کوي، یهودانو او نصرانیانو ته د اهل کتاب خطاب کوي او د (کافر) لفظ د دواړو لپاره کاروي.

که څه هم د دې سورې لومړی مخاطب پیغمبرعلیه السلام دی خو حکم ئې عام او ټولو مؤمنانو ته متوجه دی. هر مسلمان مکلفوي چې د (کافرانو) په هکله همدا دریځ غوره کړي.

۲- په دې آیت کې څو خاصو ټکیو ته توجه ولرئ:

الف: له الفاظو معلومېږي چې قریش؛ پیغمبرعلیه السلام یو ډول روغې

جوړې ته رابلي او غواړي چې د ده د معبود او د قريشو د معبوانو او د دوی دواړو د عبادت په طريقو کې داسې يووالی او نږدې والی رامنځ ته شي چې شخړه پای ته ورسېږي او اختلاف ختم شي. په دې هکله ګڼ شمېر روايات راغلي، ځينې وايي چې قريشو پيغمبر عليه السلام ته دا وړانديز وکړ چې مونږ به ستا خدای ومنو او ته زمونږ خدايان او بتان ومنه،کله به د دې عبادت کوو او کله د هغو. ځينې وايي: قريشو ورته وويل: زمونږ يو بت ښکل کړه او درناوی ئې وکړه مونږ به هم ستا خدای درسره ومنو. عبد الله بن عباس رضي الله عنه وايي: قالت قريش للنبي صلى الله عليه وسلم: نحن نعطيك من المال ما تكون به أغنى رجل بمكة, ونزوجك من شئت, ونطأ عقبك; أي نمشي خلفك, وتكف عن شتم آلهتنا, فإن لم تفعل فنحن نعرض عليك خصلة واحدة هي لنا ولك صلاح, تعبد آلهتنا اللات والعزى سنة, ونحن نعبد إلهك سنة; فنزلت السورة. رواه طبراني و ابن ابي حاتم

قريشو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: دومره مال درکوو چې د مکې تر ټولو خلکو شتمن شې، څوك چې غواړې په نكاح ئې درکوو او ترشا دې روانېږو يعني مشر او لارښود دې منو او ته زمونږ معبودانو ته له ښکنځلو لاس واخله او که دا کار نه کوې نو يو بل وړانديز درته کوو چې هم ستا او هم زمونږ په خير دی: يو کال زمونږ د لات او عزی بتانو عبادت وکړه يو کال به مونږ ستا د اله عبادت وکړو، نو دا سوره نازله شوه.

د قرآن اشارو ته په پام سره هم دې نتيجې ته رسېږو چې د قريشو وړانديز احتمالاً داسې وو:

له ده ئې غوښتي چې د قريشو د معبودانو له هتك حرمت او سپاکوي ډډه وکړي، هغه باطل ونګڼي او بتانو ته بد رد ونه وايي، الله ته ئې د تقرب وسيله وګڼي، چې په مقابل کې به ئې قريش د ده د معبود درناوی کوي او د ده له مخالفته به لاس اخلي.

ب: پيغمبرعليه السلام او د ده له لارې هر مسلمان په دې مکلف شوی چې د دا ډول وړانديزونو په وړاندې به ئې قاطع او پرېکنده ځواب دا وي: د هر هغه څه

عبادت نه کوم چې تاسو ئې عبادت کوئ.

خو دا پوښتنه راولاړېږي چې د مکې مشرکینو خو له الله تعالی انکار نه کاوو، بتان ئې الله تعالی ته د تقرب وسیله ګڼل، ګمان ئې دا وو چې د الله تعالی او بنده ترمنځ واسطې او وسیلې ته ضرورت شته، هر څوك نشي کولی مخامخ الله تعالی ته خپل عرایض وړاندې کړي، غږ ئې وروررسېږي او دعاګانې ئې قبولې کړي، بتان انځورونه او نښې دي، د صالح، نېك او د الله تعالی دربار ته د مقربو شخصیتونو مجسمې دي، د دغو بتانو په لمانځلو سره د دغو شخصیتونو ملکوتي او مقدسې ارواح له مونږ راضي کېږي، د دوی پاملرنه زمونږ خوا ته رااوړي، زمونږ غوښتنو ته ځواب وایي، زمونږ دعاګانې قبلوي او که زمونږ د دعاګانو په اجابت نه توانېدل نو د الله تعالی دربار ته ئې وړاندې کوي، زمونږ واسطه کېږي، شفاعت او سپارښتنه کوي او زمونږ د حاجتونو د ترسره کېدو سبب ګرځي.

یهودانو او نصاراوو هم پر الله تعالی ایمان درلود خو یهودانو عزیرعلیه السلام د خدای زوی او ځای ناستی ګاڼو او نصاراوو عیسی علیه السلام، دوی ئې الله تعالی ته د تقرب وسیله ګڼل، د الله تعالی ترڅنګ به ئې له دوی مرسته غوښته، د الله او ځان ترمنځ به ئې واسطه او وسیله بلل، نو د دې معنا څه ده چې کافرانو ته ووایو: له هر هغه معبوده منکر یو او لمانځنه ئې نه کوو چې تاسو ئې عبادت کوئ؟ حال دا چې دوی هم الله تعالی مني او د نورو معبودانو په څنګ کې الله تعالی هم د دوی معبود او حتی ستر او اصلي معبود دی؟ د دې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو: د الله تعالی په هکله چې دوی کوم تصور په خپل ذهن کې لري او کوم صفات چې ئې د هغه لپاره ټاکلي او په کومې معنا چې ئې پېژنی دا د الله تعالی په هکله صدق نه کوي، دوی په حقیقت کې نه الله تعالی پېژني او نه ئې عبادت کوي، الله تعالی د معبودانو له جملې یو معبود نه بلکې یوازنی معبود دی، څوك چې له الله تعالی سره بل څه یا بل څوك په الوهیت او ربوبیت کې شریکوي، په دعا او عبادت، لمانځنې او استعانت کې له الله تعالی پرته، تر ده د مخه یا د ده ترڅنګ بل

چا ته سرټيټ يا لاس اوږد کړي، مشرك دی، الله تعالی ئې نه دی پېژندلی، هغه معبود چې دی ئې لمانځنه کوي، که څه هم د الله په نامه ئې يادوي، يو ناقص معبود دی، شريك ته محتاج، په يوازې توګه د عالم له ادارې او ساتنې عاجز، د بنده دعا يوازې د واسطې او وسيلې له لارې تر ده رسېدی شي، دا هماغه مالك الملك خدای او يوازنی پالونکی رب نه دی چې ته ئې عبادت کوې، نو ځکه هغوی ته ووايه: زه د هغه چا عبادت نه کوم چې تاسو ئې عبادت کوئ، تاسو هسې ګمان کوئ چې زه د هغه خدای عبادت کوم چې تاسو هم پرې باور لرئ!! داسې نه ده، تاسو بې ځايه دا طمع کوئ چې زمونږ او تاسو تر منځ د جوړ جاړي امکان شته او ښايي زه ستاسو د معبودانو له مخالفته لاس واخلم.

۳- له دې آيته څو مطلبه اخيستی شو:

الف: ستاسو دا تصور سم نه دی چې تاسو هم په هغه خدای باور لرئ او عبادت ئې کوئ چې زه پرې باور لرم او عبادت ئې کوم، نه د الله تعالی په هکله زمونږ او ستاسو باورونه سره ورته دي او نه د عبادت او لمانځنې څرنګوالی او طور طريقې.

ب: ستاسو هغه وړانديز چې ستاسو معبودان ومنم او له مخالفته ئې لاس واخلم، نه منم، له ما نه دا طمع مه کوئ.

په دې ترکيب کې د (من) په ځای د (ما) د لفظ له راوړلو معلومېږي چې دلته د معبود (صفات) او خصوصيات په نظر کې دي، نه ذات ئې، که يوازې د معبود ذات مطمح نظر وی نو بايد د (من) کلمه راغلې وی، (ما) د څه او من د څوك په معنا ده، معمولاً (من) د ذوي العقول لپاره او (ما) د غيرذوي العقول لپاره کارول کېږي، د ذوي العقول لپاره د (ما)استعمال داسې دی لکه چې د يوه چا په هکله ووايو: دی څه دی؟ د دې په ځای چې ووايو: دی څوك دی؟ په دې ترکيب کې چې دی څه دی؛ زمونږ مقصد دا وي چې د دې کس په ځانګړتياوو او صفاتو پوه شو، غواړو پوه شو چې دا څه کاره دی، کسب او دنده ئې څه دی، مقام، درجه او منصب ئې څه دی، عالم دی، ليکوال دی، مجاهد دی؟ که څه؟ له ما تعبدون نه هم مراد همدا دی.

۴- د څلورم او دوهم آيت په ترکيب کې توپير له څو لحاظه د توجه وړ دی:
الف: دوهم آيت قريشو ته د رد ځواب او په دې ټينګار او تأکيد دی چې زه هيڅکله د هغو معبودانو عبادت نه کوم چې تاسو ئې دا اوس اوس په عبادت لګيا يئ.
ب: څلورم آيت دا مطلب افاده کوي چې زه د هغه معبود په عبادت لګيا نه يم چې تاسو او ستاسو پلرونو ئې عبادت کړی، دا ګمان مه کوئ چې زه د همغه خدای عبادت کوم چې تاسو پرې باور لرئ او په خاصو صفاتو ئې متصف ګڼئ! ستاسو دا ادعا او ګمان سم نه دی چې ګواکې د بتانو تر څنګ په هغه خدای هم باور لرئ چې زه ئې عبادت کوم او له دې لحاظه زمونږ تر منځ د اشتراك کومه نقطه شته او کېدی شي د روغې جوړې کوم صورت راوباسو!!
**۵**: که څه هم د الفاظو له مخې دا آيت دربيم آيت ته ورته دی، خو د دې لپاره چې يو ئې د دوهم آيت په مقابل کې او بل ئې د څلورم آيت په ځواب کې راغلی نو ځکه هر يو بېل مطلب افاده کوي: دربيم آيت په دې معنا ده چې نه تاسو حاضر يئ د هغه معبود عبادت وکړئ چې زه ئې عبادت کوم او همداسې لکه چې زه ستاسو د معبودانو عبادت ته چمتو نه يم. نو نه زه تاسو ته کومه طمع لرم او مه تاسو ما ته کومه طمع کوئ، خو پنځم آيت دا مطلب بيانوي چې کوم څه تاسو اې قريشو لمانځئ او په عبادت ئې لګيا يئ، هغه خدای نه دی چې زه ئې عبادت کوم، هغه ذات چې زه ئې د الله تعالی په نامه پېژنم او په عبادت ئې لګيا يم غير له هغه خدايه دی چې تاسو ئې پېژنئ او په عبادت ئې بوخت يئ، په دې ارتباط نه د تلفيق امکان شته او نه د جوړ جاړي.
**۶**: زما دين ستاسو له دين سره سمون نه خوري، د دې دواړو تر منځ چې له بنسټه توپير لري، تلفيق او روغه جوړه ممکنه نه ده، ګمان مه کوئ چې د دې دواړو تر منځ د جوړ جاړي امکان شته او کېدی شي په مشترکو وجوهاتو د تأکيد له لارې او د تنازل او انعطاف په نتيجه کې شخړه له منځه يوسو، داسې نه ده، د روغې جوړې امکان نشته، که تاسو زما دين نه منئ نو په هغه صورت کې يوازې يو بديل

په مخ کې لرو او هغه دا چې: ستاسو ئې خپل دين او زما ئې خپل دين. متأسفانه ځينو له دې آيته (لکم دينکم ولی دين) داسې معنا اخلي چې په حقيقت کې دا سوره، د دغه آيت په شمول د دې انګېرنې د رد لپاره نازله شوې. دا آيت ئې د يو ډول مسامحې او روغې جوړې وراندېز ګڼلی، د تحمل، سازش او داسې توافق په معنا ئې اخيستی چې تاسو پر خپل دين عمل ته دوام ورکړئ او مونږ پر خپل دين عمل کولو ته پرېږدئ، د ورونو په څېر او له اختلاف پرته به يو د بل خوا ته ژوند کوو، نه به زه ستاسو مزاحم کېږم او مه تاسو زما، پرېږدئ هر څوك د خپلې خوښې دين متابعت وکړي او هيڅوك ئې مزاحم نشي!! دا هم يو آفت دی چې ځينې پرې مبتلا شي او له يوه کلام نه د اصلي مفهوم سل په سلو کې مغاير مطلب اخلي. په داسې حال کې چې دا سوره د جدي مقاطعې اعلان دی، د هر راز جوړ جاړي د نفي اعلان، د کافرانو وراندېزونو ته د رد ځواب او د پيغمبر عليه السلام د وينا مطابق له شرك نه د برائت اعلان دی او په داسې حال کې چې د پيغمبر عليه السلام دين له اسلام نه پرته د بل هر دين د نفي او له الله تعالی پرته د بل هر معبود د ترديد خبره کوي، خو دوی ئې د روغې جوړې يو وړانديز ګڼي!! د دې سورې مطالب د قرآن په ګڼ شمېر نورو آيتونو کې هم ګورو لکه چې فرمايي:

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَآؤُا مِّنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَآءُ أَبَداً حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ الممتحنه: ۴

بې شکه چې تاسو ته په ابراهيم (عليه السلام) او د ده په ملګرو کې غوره اسوه شته، کله چې ئې خپل قوم ته وويل: له تاسو او له ټولو هغو معبودانو بې زاره يو چې تاسو ئې له الله پرته عبادت کوئ، له تاسو منکر يو، زمونږ او ستاسو ترمنځ به عداوت او دښمني د تل لپاره او تر هغه څرګنده وي چې تاسو يوازې پر يوه الله ايمان راوړئ.

# النصر

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم النصر دی، چې له لومړي آیته اخیستل شوی، ۳ آیتونه لري، لومړی آیت ئې د فتح په صیغې او دوهم او دریېم ئې د افواجاً او تواباً په هموزنو الفاظو پای ته رسېدلې. مدني سوره ده، عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چې دا د قرآن وروستۍ سوره ده چې پر پیغمبرعلیه السلام نازله شوې. عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چې د النصر سوره په حجة الوداع او په ایام تشریق کې نازله شوې.

عن عبيدالله بن عبدالله بن عتبة قال: قال لي ابن عباس يا ابن عتبة أتعلم آخر سورة من القرآن نزلت؟ قلت نعم "إذا جاء نصر الله والفتح" قال صدقت. رواه النسائي

له عبيدالله بن عبدالله بن عتبة رضي الله عنه روایت دی چې وايي: ابن عباس رضي الله عنه راته وویل: آیا هغه وروستۍ سوره پېژني چې پر پیغمبر علیه السلام نازله شوې؟ ورته ومې ویل: هو؛ "إذا جاء نصر الله والفتح" ده، وئې ویل: رښتیا دې وویل.

عن ابن عمر قال: أنزلت هذه السورة "إذا جاء نصر الله والفتح" على رسول الله

صلى الله عليه وسلم أوسط أيام التشريق فعرف أنه الوداع فأمر براحلته القصواء فرحلت ثم قام فخطب الناس فذكر خطبته المشهورة. رواه بيهقي و غيره

له ابن عمر رضي الله عنه روايت دی چې وئې ویل: دا سوره "إذا جاء نصر الله والفتح" د ایام تشریق په منځ کې پر رسول الله صلى الله علیه وسلم نازله شوه، نو پوه شو چې د وداع وخت دی، نو امر ئې وکړ چې قصوی نومې اوښه ئې راولي، پرې ودرېدو او خلکو ته ئې وینا وکړه او بیا ئې د ده هغه مشهوره خطبه یاده کړه.

له روایاتو داسې معلومېږي چې دا مبارکه سوره د پیغمبر علیه السلام له رحلته نږدې درې میاشتې مخکې نازله شوې.

دا سوره د الهي نصرت، وروستۍ بریا او په دین کې د خلکو ډله ډله او پراخ ننوتلو زیری ورکوي، د دې مرحلې خاص مسئولیتونه او وظایف په ګوته کوي او پیغمبر علیه السلام ته لارښوونه کوي چې په دې مرحله کې او د دغو بشارتونو د تحقق په وخت کې به څه کوي.

فتح او بریا ځینې داسې آفتونه لري چې که پرې مبتلا شوو او ځان مو ترې ونه ساتو، نو د بریا عواقب به د ماتیو تر پایلو ډېر خطرناك ومومو، د بریاوو ستر ستر آفتونه دا دي:

۱- فاتحان اکثراً د غرور او تکبر په بیمارۍ اخته کېږي، بریا او فتح د خپلو وړتیاوو، ځانګړتیاوو او بریالیو هڅو نتیجه ګڼي، د نورو په نسبت د لویي احساس په کې راولاړ شي، ځان د امتیازاتو مستحق ګڼي، د غرور، لویي او تر نورو ځان لوړ ګڼلو احساس ئې له نورو سره په چلند کې راڅرګند شي، هغه رب چې ایمان ئې پرې درلود، د مبارزې او له دښمن سره د نښتو په وخت کې ئې د ده تائید او ملاتړ ته سترګه په لار ول اوس ئې هېر کړي، د الله تعالی د پېرزوینو په وړاندې ئې د امتنان او شکر احساس ورو ورو کمزوری او بالآخره له منځه ولاړ شي او که په خلکو ئې باور وو او په دې عقیده وو چې د خلکو له ملاتړه پرته مبارزې ته دوام

نشي وركولى او په خپلې مبارزې كې ئې د خلكو ونډه ډېره مهمه او ضروري ګڼله او په دې باور وو چې د ولس د قربانيو، حمايت او ملاتړ په نتيجه كې مبارزه تر وروستۍ بريا پورې دوام كولى شي، خو اوس دا ټولې خبرې ترې هېرې شي، خلك هېر كړي، په كمه سترګه ورته ګوري اوس له خلكو دا طمع كوي چې د ده درناوى به كوي، د ده مرهون او ممنون به وي او په خپلې مبارزې كې بريا به د ده د فوق العاده او سترې ونډې نتيجه ګڼي. غرور او تكبر، فاتحان هم له الهي تائيده محروم كړي او هم د ولس له حمايته او په مستبد او مطلق العنان واكمن ئې تبديل كړي.

۲- بريا او فتح اكثراً د دې باعث شي چې دعوتګران او مبارزان هغه اعتناء او اهتمام له لاسه وركړي چې مخكې به ئې د ځان اصلاح او د ملګرو روزنې، دعوت او تربيې ته كاوو، له يوې خوا بريا دا احساس په دوى كې راولاړ كړي چې ځان كامل وګڼي او ګمان وكړي چې كمال ته رسېدلي او دا بريا د دوى د كمال نتيجه ده، له بلې خوا ځان جوړونه او د افرادو تربيت او روزنه چې د مبارزې يوه لازمي او ضروري برخه وه اوس هغه له پامه وغورځوي او ضرورت ئې منتفي وګڼي او له بلې خوا ئې سياسي او اداري مصروفيتونه داسې احاطه كړي چې نه ځان ته د اعتناء او اهتمام كولو فرصت ولري او نه د نهضت فكري او دعوتي چارو ته. بالآخره كار هغه ځاى ته ورسېږي چې ټولو هغو عواملو ته پاملرنه او اعتناء له منځه ولاړه شي چې نهضت ته ئې پر دښمنانو بريا او برلاسي ورپه برخه كړې، خلك ئې د هغه په خوا كې راغونډ كړل، له الهي تائيد او ملاتړه ئې برخمن كړ، فتح او بريا ئې ورپه برخه كړه. دا ټول هېر او له پامه وغورځولى شي.

۳- بريا په خپله معيار او ملاك شي او فاتحان د خپلو مبارزاتو د دوران هر كار په دې دليل (ښه) او (سم) ګڼي چې دوى ئې بريا ته ورسول او فتحه ئې ورپه برخه كړه او د دوى په كاميابۍ كې ئې ونډه درلوده!! د مبارزې د دوران ډېر بد، ناروا او حرام كارونه هم ورته ښه ښكاره شي.

۴- له نهضت سره د خلكو پيوستون هم خپل مخكنى طبيعي بهير له لاسه وركړي او د هغې فضا او شرايطو تر اغېز لاندې راشي چې بريا رامنځ ته كړې،

مخکې به افراد يوازې يوازې، تدريجي، له غور او دقت نه وروسته او له نورو سره د نهضت له مقايسې او په ښه والي او غوره والي ئې له پوهېدو وروسته له نهضت سره يوځای کېدل، له پوهې وروسته او مصممانه به راتلل، راتګ به ئې يو سنجول شوی انتخاب وو، د قربانۍ له عزم او ارادې سره به ئې د کاروان ملګرتيا کوله، په دې به پوهېدل چې له نهضت سره ئې پيوستون خطرونه لري، له ګواښونو سره ئې مخامخ کوي، د دې غوښتنه ترې کوي چې د شر او فساد له مسلطو ځواکونو سره به تصادم او ټکر ته تيار وي، د راتلو په وخت کې به ئې د زندان تورې خونې، زنځيرونه، زيندۍ، زولنې، هجرتونه، پرهارونه، شهادتونه، ګواښونه او د کړاوونو خطرناك مناظر سترګو ته ودرېدل، خو دا ټول به ئې ومنل، تعهد به ئې وکړ او د نورو مبارزينو په څنګ کې به ودرېدو، خو اوس او د بريا او فتحې له تحقق نه وروسته او د خطرونو او ګواښونو له پای ته رسېدو وروسته، خلك ډله ډله راځي، فوځ فوځ له کاروان سره يو ځای کېږي، د دې لپاره نه چې په حقيقت پوه شوي او د نوي دين حقانيت ورته ثابت شوی، بلکې د امتيازاتو د لاس ته راوړو په طمع راځي، داسې نه ده چې د راتلو په وخت کې ئې له ځان سره پتېلې وي چې د دين لپاره به قرباني ورکوي او کړاوونه به ګالي، بلکې په دې هيله راځي چې نهضت به تل بريالی او برلاسی وي او دی به ئې په خوا کې خپلو موخو او غرضونو ته رسېږي!! څوك چې د بري په وخت کې ډله ډله راغلي که دښمن غالب شي نو ډله ډله به له نهضت نه وځي او له دښمن سره به يوځای کېږي. که د دغو خلکو روزنې او تربيې ته جدي پاملرنه ونه شي؛ نهضت ته به سخت تاوان رسوي او له نه حل کېدونکو ستونزو سره به ئې مخامخ کوي.

تاريخ په دې شهادت ورکوي چې اکثر نهضتونه له بريا وروسته له تباهۍ سره مخامخ شوي، د مبارزې په جريان کې بريالي او موفق وو، د مبارزې ستونزې ئې ګاللې، په ابتلاءاتو کې صابر او ثابت قدمه وو، له ګواښونو نه وېرېدل او فشارونو ته نه تسليمېدل، ګواښونو، محاصرو او کړاوونو نشو کولی چې له خپلې لارې ئې منحرف او د دښمن په وړاندې ئې او له خپلو اصولو او تګلارو تنازل او انحراف ته

اړ کړي، خو د بريا او فتحې د خطرناکو آفتونو په وړاندې په ثبات او مقاومت نه دي موفق شوي،د بريا په آزموينې او ابتلاء کې پاتې راغلي او ماتې ئې خوړلې. لکه چې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه چې فرمايي: ابتلينا بالضراء فصبرنا و ابتلينا بالسراء فلم نصبر: په کړاوونو وآزمويل شوو نو صبر مو وکړ او په سوکالي وآزمويل شوو خو صبر مو ونشو کړی.

د دې مبارکې سورې په مختصر، موجز او جامع الفاظو کې دغو تولو آفتونو ته اشاره شوې او له دې نه د ځان ساتلو لارښوونې په کې راغلې.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

«ŀ $Ç/Ĩ ’Î šc qëŀ{ ô/ ¨ $Y9$M/‘r ÇÈ ßĢÿŀ «ŀ $ãóÁR ä$_ #Œ)

ÇÌÈ $Rg? b%Ÿ2 ¼çR) çöÿóGó$ 7Î/ Ï‰ôtž õ)m ù ÇËÈ %[ #qèŀ

---

۱- هغه وخت چې راشي الهي بريا او فتح. ۲- او خلك وګورې چې ننوځي به فوځ فوځ د خدای په دين کې. ۳- نو لګيا شه د خپل رب په ثناء، او ترې وغواړه بخښنه، بې شکه چې هغه دی د توبې ښه قبلوونکی.

---

دا آيتونه څو اساسي مطالب افاده کوي:

۱- ډاډه اوسه چې الهي نصرت راروان دی، پر دښمن به ستا بريا تحقق مومي، خلك به ستاسو بريا او فتحې ته په پام سره ډله ډله د الله په دين کې ننوځي، تر اوسه عام ولس د نهضت له ليکو سره په پيوستون کې محتاط وو، له دې وېرې چې داسې نه نهضت له ماتې سره مخامخ شي، دښمن پرې غالب شي، زړه نا زړه او متردد ول او له پايلې ئې وېره درلوده، د دوی له منځه يوازې محدود شمېر با همته، زړه ورو او مصممو خلکو ايمان راووړ، له ګواښونو ونه وېرېدل او له کاروان

سره یوځای شول، خو اوس او د بریاوو له لیدو او د خطر له منتفي کېدو وروسته به په پراخه پیمانه او فوځ فوځ له نهضت سره یو ځای کېږي او تعهد به کوي.

۲- د فتحې او برې په رارسېدو سره د خپل رب ستاینه وکړه، دا د الله تعالی پېرزوینه وګڼه، د دې پېرزوینې په پاس باید د ده په ستاینې لګیا شې، ستا په څېرې، خبرو، حرکاتو او سکناتو کې باید دا احساس ځرګند وي چې ته دا بریا د الله تعالی پېرزوینه ګڼې نه د خپل درایت، تدبر او هلو ځلو نتیجه، ځان د ستاینې او توصیف وړ او مستحق نه شمېرې، له نورو دا تقاضاء نه لرې چې تا وستایي او ستا ونډه د دې بریا په ترلاسه کولو کې اساسي او ستره وګڼي او په دې توګه ستا د احسان مرهون او پوروړی وي!! او ستا پر لویي او عظمت اعتراف وکړي!! بلکې باید د الهي احسان مرهون وې او یوازې الله تعالی د ستاینې وړ وشمېرې. دا لارښوونه فاتحان له غرور، تکبر، ځان ښودنې او تر نورو ځان لوړ ګڼلو ژغوري، چې دا ټول د برې د مرحلې آفتونه دي، دغه آفتونه دي چې په استبداد او مطلق العناني منتج کېږي، له زعیم او قائد نه مغرور واکمن جوړوي او له متابعینو نه ئې متملق او چاپلوس غلامان. نه ګورئ د داسې فاتح زعماوو او مشرانو په ستاینو څومره مصارف کېږي؟! پر مجسمو، تصویرونو، مرقدونو ئې، پر هغو فیلمونو او کتابونو چې د دوی د ستاینې په غرض بازار ته راوځي او منتشر کېږي، هومره مصارف کېږي چې انسان په حیرت کې اچوي!! او دا په داسې حال کې چې اصلي فاتحان (خلك) نه یوازې د انقلاب له ثمراتو بې برخې دي، د هغې ونې مېوې ئې لا نه دي څکلې چې په خپلو وینو ئې خړوبه کړې!! بلکې کړاوونه ګالي، تحقیرونه او اهانتونه زغمي، د واکمنانو په وړاندې سر ټیټولو ته اړ کېږي او له خپلو قربانیو سره سره بیا هم د واکمنانو د اقتدار د دوام لپاره مزید قربانیو ته بلل کېږي. د واکمنانو او د دوی ژوند سره مقایسه کېدی نشي!!

۳- له برې وروسته په دې مکلف یې چې د مبارزې د وخت ضعفونه، کمزوری، قصور، کمی او اشتباهات راپه یاد کړې،او له الله تعالی ئې بخښنه وغواړې او د هغو کسانو په څېر نه شې چې د قدرت نېشه ئې مست کړي، خدای هېر کړي، خپل

سوابق د اشتباهاتو په شمول ملمع او ښاېسته کړي، تل ئې د خلکو په مخ کې ږدي او له دوی نه د ستاينې، تحسين او تمجيد غوښتنه کوي او حتی کار ئې هغه ځای ته ورسېږي چې خپل صريح او ځرګند قصور او اشتباهات هم توجيه کوي، ترې دفاع کوي، له خپلې خطا نه صواب جوړوي. او پام چې د هغو فاتحانو په څېر هم نه شې چې له برې وروسته خپل ټول سوابق، شعارونه، ژمنې، له الله تعالی او له خپلو ملګرو او خپل ولس سره تعهدات هېر کړي، سراسر بدل شي، په خپل مسير او تګلارې کې تغيير راولي، ګمان کوي چې کمال مقصود ته رسېدلی، ټولې پوړې ئې پلې کړې، وروستۍ لوړې پوړې ته رسېدلی، له دې آخوا داسې پړاو نه دی پاتې چې ځان ورورسوي، نه د مزيد ځان جوړولو کوم پړاو پاتې دی، نه داسې کومه اشتباه لري چې تصحيح ئې کړي او نه داسې ګناه چې بخښنه ئې وغواړي!! آيا پوهېږې چې د الله تعالی رسول صلی الله عليه وسلم، دا تر ټولو کامل او غوره انسان، دا د هدايت ځلانده مشعل، دا تر ټولو ستر مصلح، مجاهد او مبارز، دا تر ټولو محتاط او پرهېزګار عابد، هغه شخصيت چې تاريخ ئې بل نظير نه شي ليدلی، همدا شخصيت د خپل ژوند په پای کې او هغه وخت چې له ده او د ده د دعوت د بريا په اړه د الله تعالی وعدې تر سره شوې، الله تعالی خپل نصرت او تائيد د ده په حال شامل کړ، ستره او تاريخي بريا ئې په برخه شوه، تر ټولو لوی امت، تر ټولو ستر او پراخ ملك، تر ټولو پياوړی او ځواکمن فوځ ئې جوړ کړ، داسې چې د هغه وخت دوه سترې سترې امپراطورۍ د دې فوځ په لاس فتحه شوې، دا شخصيت په دغه وخت کې د الله تعالی په ستاينې او مغفرت غوښتلو داسې مصروف وو چې ټولو به په حيرت سره پوښتنه کوله: يا رسول الله!! دا ولې په دغو ورځو کې تر مخکې زيات، په ناسته ولاړه، تګ راتګ او په هر حالت کې تا په تسبيح، تحميد او استغفار کې مشغول ګورو؟ مګر الله تعالی تا ته ټول مخکني او وروستني ګناهونه نه دي بخښلي؟ په ځواب کې به ئې فرمايل: مأمور شوی يم چې له بريا وروسته الله تعالی ته تسبيح او تحميد ووايم او مغفرت وغواړم!

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت کوي چې د دغې سورې له نزوله

وروسته پیغمبرعلیه السلام به تل دا تسبیحات زمزمه کول:

سبحانك اللهم و بحمدك، اللهم اغفرلی، سبحانك اللهم ربنا و بحمدك، اللهم اغفرلی، انك انت التواب الغفور. رواه احمد

پاکي ده تا لره باریئ خدایه ! او له ستاینو سره دې، اې ربه ! ما ته ئې وبخښه، پاکي ده تا لره باریئ خدایه، زمونږ ربه! او له ستاینو سره دې، ما ته ئې وبخښه، بې شکه چې ته بخښونکی توبه قبلوونکی یې.

دا ولې له ګناه معصوم پیغمبر دومره او داسې پرله پسې مغفرت غواړي او تر هر وخت زیات د خپل ژوند په پای کې؟! د دې دلیل دا دی: انسان چې هر څومره خپل ځان او خپل ضعف او قصور ته متوجه کېږي، الله تعالی ښه پېژني او د ده د کمال د صفتونو په هکله ئې معرفت ارتقا مومي او هغه اوړد واټن ته متوجه کېږي چې د ده او کمال مطلق ترمنځ پروت دی، د قصور او کموالي احساس په کې وده کوي، داسې انګېري چې په پښو کې ئې د دې اوږدې فاصلې د پلې کولو توان نشته، وزرونه ئې تر دې ډېر کمزوري دي چې هغو لوړو لوړو څوکو ته ئې ورسوي، هره شېبه چې پرې تېرېږي او څو ګامه مخکې درومي ګمان کوي چې کولی ئې شو په دې موده کې تر دې زیاته فاصله ووهي او تر دې لازیات مخکې تللی وی، ولې شا ته پاتې شوی، ولې نورهم لوړ نه دی تللی، ولې ژر ونه رسېدو، دا ورته قصور او کمی معلومېږي، غواړي په استغفار سره ئې جبران کړي.

۴- باید تل، مخصوصاً د مأموریت په پای کې او د بریا او فتحې له تحققه وروسته، له خپل بخښونکي رب نه بخښنه وغواړې، تر څو ستا کمی، قصور، اشتباهات او خطاګانې دروبخښي، هیڅکله دې دا په خیال کې ونه ګرځي چې خپل مأموریت دې سم ترسره کړی او خپل مسئولیتونه او وظایف دې په مکمله توګه ادا کړي، که دې هرڅومره ستر ستر او ارزښمند خدمات ترسره کړي وي، زیاتې قربانۍ دې ورکړې وي، د خپلو ایماني دندو په ترسره کولو کې دې ډېرې ستونزې او کړاوونه ګاللي وي، په اخلاص او صداقت سره او په مسلسل او ستړیا نه منونکې توګه دې د خپل رب عبادت کړی وي، هر ګام دې په ډېر دقت پورته کړی وي او تل

دې دي ته پام وو چې لمن دې په ګناه ونه لړل شي او يو انچ ښي او کيڼ لاس ته منحرف نشي، له دې ټولو سره سره بايد داسې احساس کړې چې شا ته پاتې يې، خپل مأموريت دې هغسې نه دی ترسره کړی چې درسره وړ وو او خپل مسئوليتونه دې په سمه توګه نه دي ادا کړي. که پيغمبرعليه السلام له هغه لوړ مقام سره په دې مکلف کېږي چې بخښنه وغواړي نو ته څه کاره ئې او د هغه په پرتله دې څه کړي؟!!

توبه قبلوونکي رب تل د توبې دروازه پرانستې پرېښې، هر څوك چې د ده لوري ته رجوع وکړي، وبه ګوري چې الله تعالی هم د ده لوري ته ورنږدې شوی، ستا د هر وار توجه په مقابل کې څو څو ځله تا ته توجه کوي، ته يو ګام د ده لوري ته ورنږدې کېږې او هغه دوه ګامه درته رانږدې شوی، ته په ورو ورو ګامونو د ده خوا ته وردرومې خو هغه په هروله او سريع ګامونو ستا خوا ته رانږدې کېږي.

# اللهب

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم اللهب (د اور لمبه) دی، ۵ آيتونه لري، د څلورو لومړيو آيتونو فواصل ئې د تب، کسب، لهب او حطب هموزنه صيغې دي او پنځم ئې د مسد په صيغې پای ته رسېدلی، چې که څه هم توري ئې له مخکنيو توپير لري خو غږ ئې ورسره يو شانته دی او د سورې د غږ لپاره موزون او مناسب توقف دی. دا هم مکي سوره ده، د سورې له متنه معلومېږي چې د دې سورې د نزول په وخت کې د قريشو سردارانو، په ځانگړې توگه ابولهب او ښځه ئې د شرارت او فتنو راولاړولو لپاره ملا تړلې وه، په زړونو کې ئې د حقد او کينې اورونه بل وو، د پيغمبر عليه السلام په خلاف ئې خلك راپارول، ورځ په ورځ د دعوت د لمنې پراخېدا او د ولس پراخ پيوستون د دوی عداوت او دښمني لازياتوله، يوه به ئې د فتنو اورونه بلول او بل به ئې لمن ورته وهله او په دې اور به ئې تېل شيندل، يوه به د خلکو کرکه او کينه راپاروله او بل به ئې مسلمان شوي ځورول.

ابولهب د عبدالمطلب زوی او د پيغمبرعليه السلام سکه تره، چې د پيغمبر عليه السلام له بعثته مخکې د ده دوه گرانې لوڼې د ابولهب د دوو زامنو عتبه او

عتيبه په نكاح شوې وې، له بعثته وروسته د شرير او ظالم ابولهب دښمني له پيغمبرعليه السلام سره هغه ځاى ته ورسېده چې خپلو زامنو ته ئې وويل: تر هغه ستاسو د مخ ليدنه پر ما حرامه چې د محمد (عليه السلام) لوڼو ته مو طلاق نه وي وركړى. دواړو جاهلو انسانانو د خپل حسود او متعصب پلار په وينا بې مروتي وكړه او د پيغمبر عليه السلام لوڼو ته ئې طلاق وركړ. د پيغمبر عليه السلام له قبيلې، بنى هاشم نه يوازې ابولهب هغه څوك وو چې د ده له دښمنانو سره يو ځاى شو او د خپلوۍ په حكم ئې هم د دښمنانو په وړاندې د ده حمايت او مرسته ونكړه، برعكس د ده ترټولو بد او كينه كښ دښمن شو او نور ئې دښمنۍ ته راپارول، د قبيلې نورو خلكو كه پر پيغمبر عليه السلام ايمان نه وو راوړى خو له دښمن سره د ده په خلاف يو ځاى كېدا ئې د مروت او مېړانې خلاف او د قومي غيرت او عصبيت مغاير كار ګاڼو. خو ابولهب دغه قومي عنعنه تر پښو لاندې كړه، مروت او مېړانې ته ئې شا كړه، له دښمنانو سره ملګرى شو او د فتنو راولاړولو او د ولس د كركې او غصې راپارولو لپاره ئې ملا وتړله!!

عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت كوي: كله چې پيغمبرعليه السلام په دې مأمور شو چې خپل دعوت څرګند كړي او ترټولو د مخه خپل نږدې اقارب او خپلوان د كفر او شرك له پايلو ووېروي، نو سبا ئې د صفا غونډۍ ته وخوت، پرې ودرېدو او په جګ غږ ئې وويل: يا صباحاه!! د سحار پر مهال دا چيغه په عربو كې د هغه چا چيغه ګڼل كېده چې د شپې په تياره كې ئې دښمن ليدلى چې پر قبيلې د بريد لپاره راروان دى، قوم ته به ئې د كوم خطر خبرداري وركاوو، د دې غږ په اورېدو سره ټولو له يوه بله پوښتنه كوله چې دا د چا غږ دى، وئې ويل: دا د محمد (عليه السلام) غږ، ټول د صفا غونډۍ په لمنه كې د ده خوا ته راغونډ شول او د پيغمبر عليه السلام د وينا اورېدو ته غوږ شول، پيغمبرعليه السلام هره قبيله په خپل خپل نامه ياده كړه او وئې فرمايل: اې هاشم زيو! اې عبدالمطلب زيو! اې فهر زيو! اې د فلان، فلان او فلان زامنو ... كه تاسو ته ووايم چې د دې غره ترشا دښمن درته راغونډ شوى او پر تاسو د بريد اراده لري، آيا زما په خبرې باور كوئ؟ وئې

ویل: هو؛ ځکه له تا مو هیڅکله درواغ نه دي اورېدلي! پیغمبر علیه السلام وفرمایل: نو زه تاسو ته له نږدې راتلونکي عذابه خبرداری درکوم. له دې د مخه چې پیغمبر علیه السلام خپلې خبرې پای ته ورسوي، ابولهب پورته شو او د خلکو له منځه ئې پرې نارې کړې او وئې ویل: تباً لك الهذا جمعتنا؟! تباه شې، آیا د دغې خبرې لپاره دې راغونډ کړو؟ په یوه روایت کې دا هم راځي چې یوې تیږې ته ئې لاس کړ تر څو خپله کرکه او غصه ښه څرګنده کړي.

ابن زید رضي الله عنه روایت کوي چې یوه ورځ ابولهب له پیغمبرعلیه السلام نه وپوښتل: که ستا دین قبول کړم څه امتیاز به ترلاسه کوم؟ پیغمبرعلیه السلام ورته وفرمایل: همغه چې نور مؤمنان ئې ترلاسه کوي! ابولهب وویل: یعني له نورو به هیڅ امتیاز نه لرم؟! پیغمبرعلیه السلام وفرمایل: څه تر دې زیات غواړې؟! ابولهب غصه شو او وئې ویل: تباً لهذا الدین تباً ان اکون وهؤلاء سواء : خاورې د دې دین پر سر، تباه دې شي، چې ما او دا خلك برابر ګڼي!! ابولهب د پیغمبر علیه السلام په ګاونډ کې اوسېدو، تل به ئې هغه اذیت کاوو، د حج په موسم کې به چې کله پیغمبر علیه السلام د کوم کاروان خوا ته ورغی او هغوی به ئې د الله دین ته رابلل نو ابولهب به تر شا پسې ورغی او د کاروان خلکو ته به ئې وویل: د دې په خبرو باور مه کوئ، ده له پلرني دینه بغاوت کړی، دروغ وایي، غواړي تاسو بې لارې کړي او له خپلو اصلي معبودانو لات او عزی مو منع کړي.

کله چې قریشو د بني هاشم او بني عبدالمطلب قبیلو په ضد د دې لپاره د مقاطعې او له دوی سره د پېر پلور او راکړې ورکړې نه کولو اعلان وکړ چې دوی د پیغمبرعلیه السلام له حمایې لاس وانخیست؛ او دواړه قبیلې ئې په شعب ابي طالب کې په محاصرې کې ونیول، ابولهب له خپلې قبیلې او خپلوانو سره اړیکې وشلولې او د قریشو له کفارو سره ملګری شو او پدې محاصرې کې ئې د قوم په ضد د دوی مرسته وکړه. دا محاصره د بعثت په اووم کال پیل شوه او درې کاله ئې دوام وکړ او بني هاشم او بني عبدالمطلب ئې له داسې سخت حالت، لوږې او فقر سره مخامخ کړل چې زغمل ئې ورته ډېر ګران وو، د دغې شدیدې محاصرې په

دوران کې د ابولهب کار دا وو چې کله به کومه قافله د خوراکي توکیو د پلورلو لپاره مکې ته راغله، نو ابو لهب به ورغی او ورته وبه ئې ویل: که د شعب ابي طالب له محاصره شوې وادي څخه څوك د څه اخیستلو لپاره درته راغی معامله ورسره مه کوئ، د خپل جنس بیه لوړه وښیئ، څه چې مو خرڅ نه کړی شو ټول د بازار په نرخ زه درنه اخلم.

د ابولهب شرارتونو، عداوتونو او د پیغمبر علیه السلام په ضد د ولس راپارولو ته په پام سره دا سوره د ده او د ده د مېرمنې په هکله نازله شوې، د دوی دواړو د شنیع عملونو د غندنې لپاره د یوې مستقلې سورې نازلېدل ښیي چې دوی د پیغمبر علیه السلام په ضد مخالفت او دښمنۍ کې تر ټولو زیاته ونډه درلوده.

بسم الله الرحمن الرحیم

ÇÈ |=|¡ Ÿ2 $Br ¼ã$B ç¥ã Ó_ô& $B ÇÈ ╒?r 5g9 ’Î& #‰ƒ ÓM7?

$dŸ‰‹Å ’Î ÇÍÈ É Ü s$'!$Jm ¼çè•B$r ÇÌÈ 5 l; |N#Œ #Y$R 4?Á ‹™

ÇÎÈ ‰|¡ B `Ï B @ö m

۱- مات شه دواړه لاسه د ابولهب او تباه دې وي.۲- نه دې مال ترې دفاع وکړي او نه لاس ته راوړنې.۳- ژر به ننوځي د لمبو خاوند یوه اور کې. ۴- او هم ښځه ئې، دا د خاشاك وړونکې. ۵- په غاړه کې ئې مزی د مسد.

۱ـ دا ښېرا یا د ابولهب د هغې خبرې ځواب دی چې د پیغمبرعلیه السلام د بلنې په وړاندې ئې کړې وه او یا د فتنو او شرارتونو په راولاړولو کې د ده اوږد لاس ته په پام سره د دې پایلې مستحق ګڼل شوی. دا لاسونه چې د فتنو اورونه

بلوي او د حقپالو په ضد د جاهل او ناپوه قوم عصبیتونه، کرکه او دښمني راپاروي د ماتېدو وړ دي، دا اور بلوونکي لاسونه دې مات وي، د هغه ابولهب لاسونه دې فلج شي چې د حق په ضد د عداوتونو او مخالفتونو په راپارولو کې شپه ورځ مصروف دی، د ابولهب اصلي نوم عبدالعزی دی، خو په دې خاطر د ابولهب (د لمبو پلار) په نامه یاد او مشهور شو چې د فتنو اورونه ئې بلول، همداراز لکه ابوجهل چې د خپل جهل او جاهلانه عصبیت په وجه په دې نامه یاد او مشهور شو. د مفتن او شریر ابولهب ټولې هغه هڅې به هدر او شنډې شي او ده ته به تباهي او هلاکت له ځان سره راوړي چې د حق په ضد ئې روانې کړې.

۲- د ابولهب د مخالفت او عداوت اصلي وجه د ده مال، دولت او وجاهت وو، بډایان او مترفین تل او د زمانې په هر پړاو کې د پیغمبرانو علیهم السلام له دعوت سره مخالفت ته ملا تړي، مستکبرین تل د مصلحینو جنګ ته راوځي، دوی د پیغمبرانو علیهم السلام دعوت د خپل مال او اقتدار لپاره جدي ګواښ ګڼي، ابوجهل د پیغمبر علیه السلام د امت فرعون وو او ابولهب ئې قارون، یو ئې د مکې واکمن وو او بل ئې شتمن، د ابولهب معامله له پیغمبرعلیه السلام سره داسې وه لکه د آذر معامله له ابراهیم علیه السلام سره.

کوم ترکیب چې په دې آیت کې کارول شوی څو مطالب ترې اخیستل کېدی شي:

الف: مال او لاس ته راوړنې به ئې څه ترې دفع کړي؟

ب: مال او لاس ته راوړنې به ئې د ده هیڅ درد دوا نکړي او هیڅ څه به ترې دفع نکړی شي.

ج: مال او لاس ته راوړنې دې ده ته هیڅ ګټه ونه رسوي او هیڅ شر او ضرر دې ترې دفع نکړي.

۳- حتماً او ژر به په داسې اور کې ولوېږي چې لمبې به ترې پورته کېږي، د هغه اور مناسبه او ورته سزا چې ده په خپلو ناولو لاسونو بل کړی وو، د ده د زړه د کینې، حسادت او دښمنۍ اور ته ورته، په هغه اور کې به په خپله ستې شي چې دی

ورته لمن وهي.

**۴**- او مېرمن ئې هم، هغه ښځه چې د فتنو په راولاړولو کې ئې د ده مرسته او ملګرتیا کوله، په هغه اور به ئې خاشاك اچول چې ابولهب بل کړی وو، د ده په تنور کې به ئې خس او خاشاك اچول تر څو ئې لمبې لاتېزې شي، دا د فتنې آله، د ولس د احساساتو، غصې او دښمنۍ په راپارولو کې د ابولهب ملاترې، دواړه به یوځای او په ورته اور کې لوېږي.

**۵**- دا مفتنه ښځه، د شرارت وسیله، د فتنو اور ته خس راوړونکې او دا د فتنو په راولاړولو کې د خپل شریر مېړه ملګرې به په داسې حال کې د دوزخ په اور کې لوېږي چې په غاړې کې به ئې مضبوطه رسۍ راتاو وي، دې خپل ښځینه خصلت له لاسه ورکړی وو، هغه عاطفه او ترحم ئې ځپل شوې وه چې د ښځو ګاڼه شمېرل کېږي، دا د ښځو ذاتي خصوصیت او د مورولۍ صفت په دې بې رحمې ښځې کې ځپل شوی وو او په ځای ئې داسې رسۍ ځان ته ګاڼه کړې او په خپلې غاړې کې ګرځوي چې د فتنو اور ته خاشاك پرې راوړي، په دې فخر کوي، نو خود به په داسې حالت کې دوزخ ته ننوځي چې مضبوطه رسۍ به ئې په غاړې کې راتاو وي.

دې ویلي وو: په لات او عزی قسم چې زه به د خپلې غاړې ټوله ګاڼه پلورم او پیسې به ئې د محمد (علیه السلام) په مخالفت کې مصرفوم. د دغه قسم په ځواب کې ویل شوي: د جهنم په لمبه ناك اور کې به په داسې حال کې پرېوځي چې ټینګه رسۍ به ئې په غاړه کې وي.

ځینې وایي چې د ابو لهب ښځې به له صحرا اغزي راوړل او په شپه کې به ئې د پیغمبر علیه السلام د کور مخې ته شیندل او په دې سره به ئې د خپل زړه کینه سړوله. خو کېدی شي دا د هغو خلکو تعبیر وي چې د داسې الفاظو د مجازي معنا په ځای حتماً د هغه حقیقي معنا رااخلي او خاص ذهن ئې دا نشي منلی چې په ځینو مواردو کې کېدی شي د الفاظو مجازي معنا مراد وي نه اصلي. چې په قرآن کې د دې ډېر زیات مثالونه شته.

# الاخلاص

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الاخلاص سوچه والی دی، چې نه یوازې د سورې نوم دی بلکې د محتوی لپاره ئې عنوان هم دی ۴ آیتونه لري، د آیتونو فواصل ئې د احد، صمد، یولد او احد هموزنه صیغې دي، په مکه کې نازله شوې که څه هم ځینې ئې مدني ګڼي، د دې ترڅنګ چې ډېر روایات ئې مکي ګڼي د سورې متن، د بحث موضوع ئې او د بیان اسلوب ئې ښیي چې دا هم مکي سوره ده.

د دې موجزې، ښاېسته او لنډې سورې په څلورو لنډو لنډو او جامع آیتونو کې د توحید اساسي مباني او بنسټیز اصول په داسې بڼې کې بیان شوي چې د توحید ټول پراخ او ژور ابعاد احتوا کوي. په توحید کې اخلاص او له هر ډول شرك ئې منزه او سوچه ساتل توضیح کوي. که څوك وغواړي چې پر یوازنی معبود الله تعالی ایمان تر ټولو په لنډ او ښاېسته کلام کې بیان کړي او د توحید ټول پراخ ابعاد، په ډېره دقیقه توګه او په څو لنډو جملو کې توضیح کړي نو باید دغه سوره تلاوت کړي. د قرآن درېیمه برخه د توحید په اړه بحثونو احتوا کړې او ټول هغه

مطالب چې د توحيد په هکله په قرآن کې راغلي د دغې مبارکې سورې په دغو موجز او لنډو آيتونو کې ځای شوي. څوك چې دا سوره تلاوت کړي، داسې ده لکه چې د قرآن درييمه برخه ئې تلاوت کړې وي. که وغواړو چې د توحيد مبحث تر څلورو عنوانونو لاندې وڅېړو او د قرآن ټول هغه آيتونه چې د توحيد په اړه بحث کوي تر دغو څلورو عنوانونو لاندې تنظيم کړو؛ نو بايد د دې سورې دغه څلور آيتونه څلور عنوانونه کړو. او د توحيد مربوط آيتونه ئې په شرح او تفصيل کې راوړو.

د دې سورې آيتونه او د الفاظو ترکيب ئې انسان ته دا انتباه ورکوي چې په حقيقت کې دا سوره د الله تعالی په هکله پوښتنو ته د ځواب په څېر نازله شوې، په دې اړه متعدد روايات لرو چې د مکې مشرکينو او د مدينې اهل کتابو له پيغمبرعليه السلام نه پوښتلي چې هغه خدای څوك دی چې مونږ ورته رابولې؟ څه صفات لري؟ ته وايې چې فرشتې له نور، انسان له ختې او پېريان د اور له بې دوده لمبې او آسمان له دوده ... پيدا شوي، ... مونږ ته ووايه چې ستا خدای له څه پيدا شوی؟ پيغمبرعليه السلام تر هغه ځواب نه دی ورکړی چې دا سوره نازله شوه.

په دې سوره کې د الله تعالی پنځه صفات ښودل شوي: الله يو دی، صمد دی، نه ئې زېږولي او نه زېږېدلی، نه ئې کوم سيال او کفو شته. يعنی الله تعالی له ډېرو معبودانو يو نه بلکې يوازنی معبود دی، د ده ترڅنګ بل معبود نشته، هيڅ شريك نه لري، هيڅوك په الوهيت او ربوبيت کې له ده سره مه شريکوئ، الله تعالی صمد ، بې نيازه او کامل دی، په هيڅ څه کې بل ته اړ او محتاج نه دی، هره هغه انګېرنه او تصور چې الله تعالی ته د نقص، عيب، احتياج، ضعف او کمي نسبت وکړي، يو ناسم او غلط تصوردی، الله تعالی کمال مطلق دی، له هره پلوه کامل دی، الله تعالی خالق دی، له مخلوق سره ئې مه تشبيه کوئ، مخلوق د خپلې بقاء لپاره زېږولو ته اړ دی، که دا نه وي نسل ئې له منځه ځي، مخلوق له بله زېږي، بل ئې پيدا کوي، په خپل پيدا ښت کې پيدا کوونکي او خالق ته اړ او محتاج وي، د الله تعالی په هکله به د هغو معيارونو له مخې قضاوت نه کوئ چې د مخلوق په هکله

صدق کوي، زېږول او زېږېدل د مخلوق خصوصیت دی، مخلوق د خپلې بقاء لپاره دې خصوصیت ته محتاج دی، نیازمند خدای؛ الله نه بلکې د الله تعالی په هکله یو ناقص تصور دی.

د خدای پالنې یو خطرناك آفت دا دی چې ځینې خپل ځان او ځینې خپل مذهبي مشران، خدای ته داسې منسوبوي چې ګواکې د ده د خاصې کورنۍ غړي وي، د ځان او الله تعالی ترمنځ د خاصې او ځانګړې رابطې ادعا کوي، ځان تر نورو انسانانو لوړ او خدای ته نږدې ګڼي، نه د خپل عمل او عقیدې پر بنسټ؛ بلکې په قومي او نسبي لحاظ، ځان د الله تعالی نږدې دوستان او حتی خپلوان او د کورنۍ غړي شمېري، الله یوازې د ځان او په خپلې کورنۍ پورې مربوط ګڼي، له خپلو مذهبي مشرانو د خدای ځای ناستي جوړ کړي، حتی هغه خدای ترې جوړ کړي چې له آسمانه راکوز شوی، یا یو له هغو خدایانو چې ځمکې ته راغلی، ګمان کوي چې دی د خدای شریك دی، په ځینو خدایي چارو کې د تصرف واك او صلاحیت ورکړی شوی، کولی شي د الله تعالی په څېر زمونږ نیازمندیو ته ځواب ووایي، زمونږ دعاګانې اجابت کړي، مشکلات مو رفع کړي، بیمارۍ مو علاج کړي، هغه زمونږ او الله تعالی ترمنځ واسطه ده، زمونږ په قوم کې د ده بعثت په دې معنا ده چې الله تعالی له مونږ سره خاصه رابطه لري. دا آفت باعث شي چې تل د (دیندارانو) او (خدای پالونکو) په لیکو کې داسې ټګماران راپیدا شي چې له دین نه ځان ته دکان جوړ کړي، دین د یوه داسې غولوونکي دام په حیث کاروي چې ساده زړي او بې عقله خلك په کې ښکار کوي، دین ئې حرفه شي، ځان د خدای او خلکو ترمنځ واسطه ګڼي، د خدای په نامه له خلکو شکرانې او نذرانې ترلاسه کوي او په خپل جیب کې ئې اچوي، د خلکو له خولو او تناکو تغذیه کېږي، خو له دې سره سره ځان تر خلکو اوچت ګڼي، خلك باید د خدای لپاره د دوی په پښو کې ولوېږي او د دوی لاس پښې ښکل کړي!! د دې لپاره چې د دې خبیث بوټي جرړې وایستی شي او دا د ګنده اوبو ډنډ وچ شي، دا بیمار ذهنیت ختم شي او هغه حرفوي دینداران او ټګمار او غولوونکي مذهبي مشران خلع سلاح شي، توطئې ئې شنډې او نور ونتوانېدی

شي چې ساده خلك دوكه كړي، دا سوره خلكو ته وايي: الله تعالى د ټولو پيدا كوونكى او پالونكى دى، نه ئې زوى شته او نه نسب، ټول انسانان د الله تعالى عيال دي، له هيچا سره ځانګړې او خاصه نسبي اړيكه نه لري. كه تاسو د بايبل كتاب ولولئ، وبه ګورئ چې هلته خداى د يهودانو د پلار په توګه معرفي شوى او يهودان د خداى د خاصې كورنۍ غړي، يهودي حق نه لري له يهودي پرته له بل سره نكاح وكړي، خداى په دې كار سخت غصه كېږي، دا ځكه چې نور انسانان د خداى د كورنۍ له غړو سره كفو او سيال نه دي او نكاح ئې ورسره جائزه نه ده، خداى تل د يهودانو په منځ كې اوسي، يهودانو ته خداى امر كوي چې نور قومونه يوازې په هغه صورت كې د ژوند حق لري چې د يهودانو غلامۍ ته سر ټيټ كړي، په كومې سيمې چې يهودان بريد وكړي، نو ټول به وژل كېږي، مګر هغه چې له يهودانو سره ئې مرسته كړې وي، د يوه داسې ښار نوم اخلي چې له يوې فاحشې او د دې له مور پلاره پرته نور ټول اوسېدونكي ئې له نيولو وروسته له تېغه تېر شول او دا درې كسان په دې خاطر وبخښل شول چې د يهودانو دوو جاسوسانو ته ئې پناه وركړې وه!! او كه د دوى سالار دا كار نه وى كړى او ټول اسيران ئې له تېغه نه وى تېر كړي نو د يهودانو خداى به سخت ناراضه كېدو او دوى ته به ئې سخته سزا وركوله!! دا سوره د دغه كافرانه، غير انساني او غلط ذهنيت د ترديد لپاره نازله شوې.

الله تعالى يوازنى معبود او بې مثله بې سياله دى، د دې عالم هيڅ څه نه په خپل ذات او نه هم په خپلو صفاتو كې الله تعالى ته ورته او شبيه نه دى، هر څوك چې د الله تعالى په هكله داسې تصور او انګېرنه ولري چې له كوم مخلوق سره د الله تعالى له تشبيه سره مترادف وي، الله تعالى ئې نه دى پېژندلى او د ده په هكله ئې تصور ناقص دى، چا چې كوم مخلوق د الله تعالى سيال وګرځاوو، له هغو صفاتو څخه ئې كوم يو ورته منسوب كړ چې الله تعالى ته مختص دي، الله تعالى ئې نه دى پېژندلى او له دې عاجز شوى چې د الله تعالى او مخلوق ترمنځ په ژور توپير پوه شي، چا چې كوم مخلوق عالم الغيب وګاڼو، د دعا ګانو منونكى ئې وشمارو، د عالم د چارو متصرف ئې وبالو، په حقيقت كې ئې هغه د الله تعالى سيال او كفو

نیولی په داسې حال کې چې الله تعالی سیال نه لري.

بسم الله الرحمن الرحیم

**¼ã©` ãƒ Ö9r ÇÌÈ ‰9qãÖ9r ‰Î|ƒ Ö9 ÇÊÈ ßJ¢Á9$# ª!$# ÇÊÈ Ó‰m& ª!$# uqèd ö@è%**

**ÇÍÈ 7‰m& #qàÿà2**

۱- ووایه: هغه دی یوازنی الله. ۲- بې نیازه الله. ۳- نه ئې زېږولي، نه زېږېدلی. ۴- او نه ده لره کوم سیال شته.

۱- په دې آیت کې څو اساسي ټکیو ته توجه ولرئ:

الف: که څه هم د دې آیت لومړنی مخاطب پیغمبرعلیه السلام دی، ده ته ویل شوي چې د الله تعالی په هکله پوښتنو ته په ځواب کې دا خبره وکړه، خو هر مسلمان د دې آیت مخاطب دی، هر مسلمان باید د الله تعالی په هکله دغه باورونه ولري او الله تعالی په دې توګه معرفي کړي.

ب: دلته داسې نه دي ویل شوي چې الله واحد (یو) دی بلکې ویل شوي احد (یوازنی) دی، یعني هغه خدای چې زه پرې باور لرم او تاسو ورته رابولم، له ډېرو معبودانو څخه یو معبود نه، بلکې یوازنی مبعود دی، ځوك چې الله تعالی یوازنی معبود مني نو هر بل معبود نفي کوي، ځوك چې د الله تعالی ترڅنګ د بل معبود لمانځنه کوي او مرسته ترې غواړي په حقیقت کې ئې الله تعالی د یوازني معبود په توګه نه دی منلی، ځوك چې له الله تعالی پرته بل ته طمع لري، د بل ور ټکوي، بل د مرګ ژوند، رزق روزي، مالك ګڼي، په حقیقت کې ئې دا کس د الله تعالی شریك ګرځولی او په دې باور نه دی چې الله تعالی یوازنی معبود دی.

ج: الله تعالی په خپل ذات کې هم او په خپلو صفاتو کې هم یوازنی دی، نه (ند)

او سيال لري او نه شبيه او مثيل، نه کوم څه په خپل ذات کې الله تعالی ته ورته شته او نه په خپلو صفاتو او افعالو کې. چا چې الله تعالی په ذات او صفاتو کې له مخلوق سره تشبيه کړي، الله تعالی ئې نه دی پېژندلی او عقيده ئې ناقص او غلطه ده.

۲- د صمد لغوي معنا کامل، ډك، مضبوط او بې خلله دی او پر هغه چا ئې اطلاق کېږي چې نه يوازې بل ته اړ او محتاجه نه وي بلکې نور د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره ده ته رجوع کوي. دا لفظ په دې آيت کې دا مطالب افاده کوي:

الف: الله تعالی له هر عيب او نقصه منزه دی، کمال مطلق او بې نيازه دی، ټول په خپل پيدا ښت او بقا کې ده ته محتاج او نيازمند دي او د خپلو حاجتونو او اړتياوو د رفع کولو لپاره مجبور دي ده ته رجوع وکړي.

ب: هره هغه عقيده او باور چې د الله تعالی په کمال او بشپړتيا له باور سره تصادم وکړي او کوم عيب او نقص ورته منسوب کړي او الله تعالی د کوم کار په ترسره کولو کې د بل مرستې ته اړ او محتاج وګڼي؛ د صمد او يوازني الله په هکله بې بنسټه او واهي باور دی.

۳ـ له دې مبارك آيته دوه مطالب اخيستی شو:

الف: الله تعالی له مخلوق سره مه تشبيه کوئ، مخلوق له نشته شته شي، د بقا لپاره (زېږېدو) ته ضرورت لري، په خپل شته والي کې د هغه چا مرهون وي چې دی ئې پيدا کړی، له خپل مخکني زېږېدلی او وروستنی زېږوي، داسې نه چې د الله تعالی په هکله د هغې انګېرنې له مخې قضاوت وکړئ چې د مخلوق حالت تاسو ته القا کړې، مخلوق مو تل داسې ليدلی چې زېږي او زېږوي، دا اصل د مخلوق له ځانګړي حالته منشأ اخلي او د مخلوق په هکله صدق کوي، داسې نه چې دا انګېرنه د الله تعالی په هکله وکاروئ.

ب: قرآن فرمايي چې ځينو حرفوي ديندارانو ځانونه د خدای زامن ګڼلي او ځينو نورو لاروركو ديندارانو خپل پيغمبر او مذهبي مشران د خدای زامن شمېرلي، لکه چې فرمايي:

وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللّهِ وَقَالَتْ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللّهِ * التوبه: ۳۰
يهودانو وويل: عزير د خداى زوى دى او نصاراوو وويل: مسيح د خداى زوى دى.
وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاءُ اللّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ * المائده: ۱۸
يهودانو او نصاراوو وويل: مونږ د خداى زامن او د ده دوستان يو.

بايد وګورو چې د يهودانو او نصاراوو د دې خبرې معنا څه او د دوى موخه څه؟ مګر يهودان او نصارا هغه خلك نه وو چې خپل پيغمبران ئې تكذيب كړل؟ ځينې ئې په زندانونو كې واچول، ځينې ئې له يوه ښاره بل ته پرله پسې تبعيد كړل، ځينې ئې ووژل، ياران ئې ورته په وحشيانه او بې رحمانه توګه تعذيب كړل، زيندى ئې كړل، په دار ئې وځړول او په اور كې ئې واچول!! عيسىعليه السلام ئې سره له دې تكذيب كړ چې د ده ټولې سترې سترې معجزې ئې په خپلو سترګو وليدې!! عفيفه او پاك لمنه مور ئې په بد كارۍ متهمه كړه، د عيسىعليه السلام د وژلو لپاره متحد شول، په زندان كې ئې واچاوو، حواريون ئې ورته ووژل، دا څه وشول چې كله دغه ګران او مظلوم پيغمبران له دوى بېل شوي، يا په شهادت رسېدلي او يا ئې په خپل مرګ رحلت كړى، نو همدغو خلكو د خدائي تر مقامه لوړ كړي!! د خداى زوى او په خدائي كې ئې د ده شريك ګڼلي!! دا ولې له ډېرو دعوتګرانو او زړه سواندو مصلحينو سره داسې معامله شوې، په ژوند كې له مخالفتونو سره مخامخ شوي، خو له مرګه وروسته ځينو د الوهيت تر مقامه لوړ كړي او د دوى له قبرونو ئې زيارتونه او عبادت ځايونه جوړ كړي؟!! هغه چې د دغو نوميالیو صالح شخصيتونو د ژوند په وخت كې ئې يا د دوى مخالفت كړى او يا ئې د دوى له ملګرتيا ډډه كړې، د دوى له رحلته وروسته ئې ځان د دوى او د دوى د مقام وارث ښوولى، د دوى دين ئې د ځان ميراث ګڼلى، له هغه ئې ځان ته حرفه جوړه كړې، له هغه ئې داسې دكان جوړ كړى چې هم ئې وړيا د دوى نوم لوړ كړى او هم ئې د دوى دسترخان ډك كړى. د دوى مثال د قبر هغه مجاور او متولي ته ورته دى چې د قبر خاوند ته رنګ رنګ كرامتونه ثابتوي، وايي: آبله شپه د نور وړانګې ترې پورته

کېدې، هر بیمار چې ورته راغلی روغ رمټ بېرته ګرځېدلی، د ده په درشل کې دعا نه ردېږي، دلته حاجتونه تر سره کېږي، ځوك چې د دې مرقد درشل ته رارسېدلی تش لاس نه دی ګرځېدلی او ... دا ولې دومره ستاینې؟ ولې د کرامتونو د ثابتولو دا حیرانونکې هڅې؟ آیا دا خبرې د خدای لپاره کوي؟ او له حق او حقیقت نه د دفاع لپاره او د خپل مسئولیت ادا کولو په غرض؟!! یا د دې لپاره چې د دې قبر تر څنګ تغذیه کېږي؟! او د دې لپاره چې د دې قبر د کرامتونو اثبات د ده جیب ډکوي؟ د ټولو هغو کسانو پټ ماهیت همداسې دی چې د دغو شخصیتونو له تلو او مړینې وروسته ځان هغوی ته منسوبوي او دا هڅه کوي چې د دوی نسبي ارتباط له خدای سره ثابت کړي او د کرامتونو خاوند ئې وښیي!! قرآن عظیم الشأن د دې لپاره چې د دغو ټګمارانو لار ئې د تل لپاره بنده کړې وي فرمایي: الله نه زېږوي او نه زېږېدلی، نه د کومې خاصې کورنۍ پلار دی او نه ئې زوی، له ټولو بندګانو سره ئې ارتباط یو شانته دی، د ټولو رب او پالونکی دی، ټول انسانان د هغې لویې کورنۍ عیال دي چې الله تعالی ئې رب او پالونکی دی.

**۴**ـ الله تعالی هیڅ کفو او سیال نه لري، هیڅوك د ده (ند) او سیال مه منه، هر چا چې ماسوی الله ته داسې کوم صفت منسوب کړ چې یوازې له الله تعالی سره ښایي؛ هغه په حقیقت کې دا کس د الله تعالی ند او سیال ګڼلی، په داسې حال کې چې الله تعالی ند او سیال نه لري! چا چې کوم داسې فعل کوم مخلوق ته منسوب کړ چې الله تعالی ته مختص دی؛ دا مخلوق ئې د الله تعالی شریك او سیال ګرځولی، په داسې حال کې چې الله تعالی شریك نه لري. قرآن د دې خبرې په کولو سره چې (الله تعالی کفو او سیال نه لري) د شرك جرړه ایستلې او کلك ګوزار ئې د دغه بت په سر حواله کړی. شرك له دغه غلط او بې بنسټه تصور او انګېرنې څرګوبه کېږي چې ځوك د ماسوی الله په ستاینې کې دومره غلو وکړي چې د خدایئ تر مقامه ئې لوړ کړي او داسې صفات ورته منسوب کړي چې له الله تعالی پرته له هیچا سره نه ښایي او له ده پرته په هیچا کې نه موندل کېږي. په ستاینې کې غلو په شرك منتج کېږي، لکه چې قرآن فرمایي:

وَقَالَ إِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ منْ دُونِ اللّه أَوْثَانًا مَوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيَاة الدُّنْيَا ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةَ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا وَمَأْوَاكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ منْ نَاصِرِينَ * العنكبوت: ۲۵

او (ابراهيم عليه السلام) وويل: له دې پرته بل څه نه ده چې تاسو له الله پرته بتان (خپل معبودان) نيولي، په دنيوي ژوند کې په خپلو کې د محبت او مودت په وجه، بيا به د قيامت په ورځ ستاسو ځينې له ځينو نورو منکر کېږئ او يو به مو پر بل لعنت وايي، تاتوبی به مو اور وي او هيڅ ملاتړی به مو نه وي.

يعني په خپلو کې مينه مو په شرك منتج شوه، د خپل قوم د صالح او نېکو شخصيتونو په ستاينې کې مو غلو وکړه، هغوی مو د الله تعالی سيال او ند وګڼل، لومړی مو د دوی له قبر او مرقد نه ځان ته قبله او مطاف جوړ کړ، بيا مو د دوی مجسمې جوړې او هغه مو ځان ته (اوثان) وګرځول، د دغو اوثانو په پښو کې اعتکاف مو الله تعالی ته د تقرب وسيله وګڼله او په پای کې مو هغوی په الوهيت او ربوبيت کې شريك او د خدای ند ومنل، د عالم د چارو اداره، د بندګانو اړتياوو ته ځواب، د دعاګانو اجابت او د استغاثو اورېدل مو د الله تعالی او اوثانو ترمنځ ووېشل، ورو ورو مو هغه خدای هېر کړ چې له سترګو پټ دی او د ده په ځای مو هغه خدای کښيناوو چې ستاسو د ذهن زېږنده او ستاسو د لاس مصنوع او مولود دی، حال دا چې قرآن فرمايي: الله کفو او سيال نه لري.

چا چې وويل: په الله او د ده په اولياوو مې سپارلې يې، الله او د ده اولياء دې زمونږ چاره وکړي، دوی دې مونږ وساتي، زمونږ مشکلات دې حل کړي، زمونږ غمونه دې راکم کړي، د الله او د ده د اولياوو د حمايت او رعايت په سيوري کې دې وو او دې ته ورته الفاظ، هغه په حقيقت کې اولياء د الله تعالی کفو او ند نيولي، چا چې له الله تعالی پرته بل ته د استعانت لاس اوږد کړ، په حقيقت کې ئې له الله تعالی سره سيال نيولی.

# الفلق

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الفلق (چاودېدا) دی، چې له لومړي آيته اخيستل شوی، ۵ آيتونه لري، د لومړيو دوو آيتونو فواصل ئې د فلق او خلق هموزنه صيغې، د درېيم ئې وقب چې که څه هم توري ئې له مخکنيو توپير لري خو غږ ئې هغوی ته ورته دی، د څلورم او پنځم فواصل ئې د عقد او حسد هموزنه صيغې دي. ځينې مفسرين ئې مکي ګڼي او ځينې ئې مدني، خو د سورې متن نه يوازې په دې شهادت ورکوي چې دا مدني سوره ده بلکې ښيي چې د مدني دور په وروستيو کلونو کې نازله شوې. د دې رايې د اثبات لپاره لاندې مضبوط دلايل وړاندې کېږي:

الف: دا سوره د (حسد) بيمارۍ ته اشاره کوي، دا بيماري د قوت او ځواکمنۍ د مرحلې آفت دی، نه د ضعف او ناتوانۍ د مرحلې، دا آفت هغه وخت سرراپورته کوي او ډېر پرې اخته شي چې نهضت برياوې ترلاسه کړي، د امتيازاتو د وېش مرحله راورسېږي، دا د هغه وخت آفت نه دی چې خلک له نهضت سره د ملګرتيا لپاره له امتيازاتو لاس اخلي او قربانۍ ته چمتو کېږي. په مکي دور کې نه پيغمبرعليه السلام او نه هم اسلامي نهضت په داسې شرايطو کې نه وو چې د چا

حسادت راوپاروي، د مدینې په دور کې او هغه وخت چې مسلمانانو ته سترې سترې بریاوې ورپه برخه شوې او د مکي دور په خلاف چې د اسلام په جرم به خلك له ځورونو او تعذیبونو سره مخامخېدل او له مسلمانانو سره ارتباط به لوی جرم ګڼل کېدو اوس اسلام ته انتساب د فخر خبره ګڼل کېده او د مسلمانانو په څنګ کې خلکو د امتیازاتو او افتخاراتو د لاس ته راوړو امکان ترلاسه کاوو، داسې امتیازات او افتخارات چې د ډېرو سیالانو حسادت به ئې راپاروو، د دښمن سترګې به پرې خړې کېدې او د دوی دښمني او کینه به ئې تحریکوله. د نهضت په لیکو کې هم ځینې په دې بیماري اخته شول، د یوه مخکې تګ به د حسودو سیالانو حسادت راپاراوو، څرګنده بېلګه ئې د منافقینو سالار ابی ابن سلول دی چې حسادتونو ئې هغه مقام ته ورساوو چې د اسلام او مسلمانانو تر ټولو خطرناك دښمن ئې ترې جوړ کړ.

ب: (په عقدو کې د پو کوونکو) آفت هم په مدینه کې راڅرګند شو، نه په مکه.

ج: د بحث موضوع او څرنګوالی ئې د مکي سورتونو په څېر نه دی او د سورې په متن کې هیڅ داسې نښه نه ګورو چې وښیي په مکه کې نازله شوې.

دا سوره په پنځو موجزو آیتونو کې دا اساسي مطالب بیانوي:

۱- یوازې الله تعالی خپله ملجأ او پناه ځی ونیسئ او د هر مخلوق له شره هغه ته پناه یوسئ، د هغو په څېر مه کېږئ چې د دې او هغه تر وزر لاندې پناه لټوي او له خطر سره د مخامخېدو په وخت کې د دې او هغه مرستې او حمایې ته هیله من وي، له الله تعالی پرته د بل د ملاتړ او حمایې په سیوري کې د ډاډ او اطمئنان احساس کوي، تاسو به یوازې د الله تعالی ډاډمنې ملجأ ته پناه وړئ، هغه به ځان ته کافي ګڼئ، د هغه د حمایت تر سیوري لاندې به د ډاډ او اطمئنان احساس کوئ.

۲- هر انفلاق او چاودنه چې د یوې نوې پېښې او حادثې پیغام له ځان سره راوړي او د یوه نوي توکي د پیدا کېدا سبب کېږي، د رب العالمین په اراده ترسره کېږي، که یوه دانه چوي، د ځمکې زړه سپړي او د بوټي په څېر سرراباسي، که د یوه زړي سینه چوي او نیالګی راټوکوي، که کومه هګۍ ماتېږي او بچونی ترې

راوځي، که د مور رحم پرانیستل کېږي او یو ماشوم دنیا ته راځي، که د تیاره شپې زړه د روڼ سباوون په توره څیري کېږي او که د شپې تورې وربځې د آسمان له شرقي کنارو راپورته کېږي او پر مونږ خپل تور وزر خوروي، هر (فلق) او چاودنه د عالمونو رب او د فلق رب ته راجع کېږي، نو د فلق رب، دا د ټولو پېښو اصلي مرجع او دا د ټولو مخلوقاتو رب، ته له هر شره او له هر هغه څه چې د شر باعث کېږي پناه یوسئ.

۳- د هر مخلوق له شره الله تعالی ته پناه یوسئ، که څه هم الله تعالی هر څه ښه پیدا کړي، د هر څه په پیدا ښت کې حکمت او مصلحت مضمر دی، په دې سره ئې یو ضرورت رفع کړی او یوه تشه ئې پرې ډکه کړې، هیڅ څه په خپل ذات کې مضر او تاواني نه دی، خو که ته ئې سم ونه پېژنې، سم ئې ونه کاروې، همغه کار ترې وانه خلې چې ورته پیدا شوی، په غلطه توګه، د خپل فطرت د غوښتنو خلاف ئې استخدام کړې او له هغه سره دې چلند د هغو فطري سننو او ضوابطو مطابق نه وي چې الله تعالی وضع کړي، نو طبیعي ده چې تا ته به تاوان رسوي، یو شر او ضرر به پرې مرتب کېږي، له داسې شر او ضرر نه الله تعالی ته پناه یوسه.

۴- د تیارې له شره چې خپل تور وزر خور کړي، د لیدا او پېژندا مانع شي، سترګې له کاره ولوېږي، عقل د حقایقو او واقعتونو له پېژندا عاجز شي، له داسې تیارو نه الله تعالی ته پناه یوسئ.

۵- د الله تعالی لوري ته د بلنې او دعوت په ترڅ کې او د باطل خلاف د مبارزې په دوران کې هغه وخت چې دعوتګران او مبارزان بریاوې ترلاسه کړي، دا بریاوې کله ناکله دوی ته مزید ستونزې راولاړې کړي، دا بریاوې له یوې خوا د ځینو خلکو کینه او حسادت راوپاروي او دښمني ته ئې وهڅوي او له بلې خوا مترصد دښمن ته دا مجال په لاس ورکړي چې عقده مند کسان تحریك کړي، د دوی په عقدو کې پو کړي او ښه ئې وپړسوي او له دې لارې په صف کې فتنې راولاړې کړي، د هغو پوکوونکو له شره الله تعالی ته پناه یوسئ چې عقدې پړسوي.

۶- ستاسو بریاوې به د صف په لیکو کې هم او له صفه بهر هم د ډېرو

حسادتونه راوپاروي، د صف دننه حاسد تر بهرني حاسد دښمن نه ډېر خطرناك وي، د هر حسد كوونكي له شره الله تعالى ته پناه يوسئ.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

ÇÌÈ |=%r #Œ} @Å%ñ ÎŸ `Ër ÇËÈ ,={ $B ÎŸ `Ë ÇËÈ Ḝÿ$É •Î Éqã& @è

ÇÎÈ %¡ m #Œ} %Å%n Ì© `Ër ÇÍÈ Ÿ‰)ã$ † ÎÏM»V»ÿZ9$Ì© `Ër

---

١- ووايه: د چاودېدونكو رب ته پناه وړم. ٢- له شر د هغه څه چې ده پيدا كړل. ٣- او له شره د تيارې چې راخوره شي. ۴- او له شر د پو كوونكو په عقدو كې. ۵- او له شره د حاسد چې حسد وكړي.

---

١- په دې پراخ او بې انتهاء عالم كې چې د توكيو شمېر ئې بې حسابه او د هغو پېښو شمېر ئې له حد او حصره وتلى چې هره شېبه دلته رامنځ ته كېږي او له دغو پېښو څخه د انسان د متضرر كېدو احتمال ډېر زيات او قوي، انسان ځان له دې عاجز ګڼي چې له دغو پېښو سره مقابله وكړي او له خطرونو او ضررونو نه ئې ځان خوندي وساتي، ناچار د داسې ډاډمنې منجأ او ملجأ په لټه كې لوېږي چې ده ته پناه وركړي، د حمايت وزر پرې وغوړوي او له خطرونو او ضررونو ئې خوندي او په امان كې وساتي، د انسان دغه اړتيا ته په پام سره قرآن هغه ته لارښوونه كوي چې له الله تعالى پرته د بلې ملجأ او پناه ځى موندلو هڅه مه كوه، يوازې هغه ذات ته پناه يوسئ چې د ټولو پېښو مهار ئې په لاس كې دى او د (فلق) رب دى، هر څه چې چوي او د يوې پېښې منشأ ګرځي، د ده په اراده چوي، هر څه چې په دې پراخ عالم كې ګورئ، هره چاودنه، سپړېدنه، د نوې توكي راڅرګندېدا، د نوې پېښې رامنځ ته كېدا، د زاړه توكي له زړه نه د نوې توكي پيدابښت، ټول او ټول د ده له

لوري دي، نو له هر هغه څه چې وېره ترې لرئ او له هرې هغې پېښې چې تاسو وېروي، رب ته ئې پناه یوسئ.

۲- په دې آیت کې د (ماخلق) له الفاظو په واضح توګه معلومېږي چې په مخکني آیت کې له (الفلق) نه مراد د ټولو مخلوقاتو د پیدا ښت حالت دی، هر مخلوق د بل مخلوق له منځه د یوې چاودنې په ترڅ کې راپیدا کېږي او بهر راوځي، دانه او میندکه په خپل پوټکي کې وده وکړي، خپل غلاف وچوي د ښاښسته بوټي په بڼه کې بهر راووځي، حیوانات او حشرات یا د خپلې مور له رحمه بهر راوځي یا د خپلې هګۍ پوټکی مات کړي او راووځي، طبیعي حوادث هم یوه د بل له زړه راوځي، شپه او ورځ، یوه له بلې راوځي، هغه ذات چې د (فلق) رب دی، هر څه ئې راپیدا کړي او په پیدا ښښت کې هیڅ شریك نه لري، د دې وړ دی چې د هر مخلوق له شره پناه ورورو.

د (مخلوق شر) نسبي قضیه ده، که په کوم (مخلوق) کې څه شر شته او د کوم شر باعث کېږي، له انسان سره په معامله کې د شر سبب شي، که نه نو الله تعالی ټول مخلوقات ښه او ګټور پیدا کړي، په پیدا ښښت او شته والي کې ئې خیر مضمر کړی، د دې په پیدا ښښت سره ئې یوه تشه ډکه کړې او یو ضرورت ئې مرفوع کړی، هیڅ څه ذاتاً شریر او مضر نه دی، که ته ئې سم وپېژنې، سم ئې وکاروې، همغه کار ترې واخلې چې ورته پیدا شوی، په غلطه توګه، د خپل فطرت د غوښتنو خلاف ئې استخدام نه کړې او له هغه سره دې چلند د هغو فطري سننو او ضوابطو مطابق وي چې الله تعالی وضع کړي، نو نه یوازې تاوان نه رسوي، بلکې تل به د خیر او ګټې پیغام درته لري، ضرر به هلته دررسوي چې ته ئې له سم پېژندو او سم کارولو عاجز شې، له داسې شر او ضرره د خوندي پاتې کېدو لپاره باید الله تعالی ته پناه یوسې.

۳- دلته د (غاسق) لفظ راغلی، چې هم ئې په شپې اطلاق کېدی شي او هم پر هرې بلې تیارې، خو د دې لپاره چې دلته دا صیغه د نکره په بڼه کې راغلې، ښیي چې مراد ترې هره پراخه او خوره تیاره ده، شپه د غاسق یوه بېلګه ده.

د دې آیت دوه تفسیرونه زمونږ مخې ته راځي:

الف: ځينو ويلي چې له دې نه مراد د شپې له شره پناه غوښتل دي، کله چې شپه خپل تور وزر وغوړوي، نو د شرارتونو او فتنو راولاړولو لپاره شرايط برابر شي، غله او لارې وهونکي فعال شي، ځيرونکي ځناوران او چيچونکي ماران او لړمان، له خپلو ځالو او سوړو راووځي، دښمن له تيارې نه په ګټې اخيستو سره بريدونه کوي او په کمين کې کښېني، پيغمبرعليه السلام فرمايي:

عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لا تُرْسِلُوا فَوَاشِيَكُمْ وَصِبْيَانَكُمْ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ، حَتى تَذْهَبَ فَحْمَةُ العشَاء، فَانّ الشّيْطَانَ يَبْعَثُ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ حَتَّى تَذْهَبَ فَحْمَةُ العِشَاء» . رواه احمد

کله چې لمر پرېوځي، شيطانان منتشر شي، نو خپل ماشومان (په کور کې) راغونډ کړئ، خپل څاروي مو وتړئ، تر هغه چې د شپې تياره ختمه شي.

يعني د شپې په تياره کې شياطين خواره شي او په هر ګام کې کمين نيسي.

ب: ځيني نور مفسرين (غاسق) عام نيسي او په هرې پراخې تيارې ئې اطلاق کوي. او وايي چې په قرآن کې ايمان له نور سره او کفر له ظلمت او تيارې سره تشبيه شوی او په همدې نامه ياد شوي، پيغمبرعليه السلام هغه فتنه له ظلمت او تيارې سره تشبيه کړې چې انسان ئې په تياره کې د حق له پېژندو عاجز او سترګې ئې د ړندو په څېر شي او فرمايي: کله چې فتنې د شپې د تيارو په څېر درباندې راشي د ژغورنې لپاره قرآن ته رجوع وکړئ.

ځيني فتنې د تيارو شپو په څېر وي چې سترګې ړندوي او د حق او باطل تر منځ له فرق کولو انسان عاجز کوي او پوه او باتجربه، (حليم) انسان هم په کې (حيران) شي او د نجات د لارې له موندو عاجز شي.

په لږ دقت سره په دې پوهېدی شو چې دوهمه رايه دقيقه ده، هم په دې دليل چې په کار ده د (غاسق) لفظ د (ماخلق) او (الفلق) په څېر عام ونيسو او يوازې ئې په شپې اطلاق نه کړو او هم په دې دليل چې وروستي آيتونه دا رايه تائيدوي. د هر فکري نهضت لپاره يوه خطرناکه مرحله هغه وي چې ولس له مغشوش حالت سره مخامخ شي، ښه او بد سره خلط شي او توپير ئې ګران، خلك د صالح او طالح،

مستحق او غیرمستحق، ګنهګار او بې ګناه له پېژندو عاجز شي، باطل ته د حق جامه وروا‌غوندی شي، منافق د ایمان بیرغ اوچت کړي او د اخلاص مدعي شي او ولس د دوی په حقیقت له پوهېدو عاجز شي، فتنه پر معیارونو خپل تور وزر خور کړي، داسې لکه د احد د جګړې په وخت کې چې یوې خوا ته محمد علیه السلام او مخلص او وفادار ملګري ئې او بلې خوا ته عبدالله بن ابی‌ابن سلول، دا توانېږي چې د مسلمانانو درېیمه برخه وغولوي او له ځان سره ئې ملګري کړي او پیغمبرعلیه السلام او یاران ئې په هغو خطرناکو شرایطو کې یوازې پرېږدي. له دې سره سره دی ځان مسلمان ګڼي او د دغه منافقانه خطرناك اقدام لپاره توجیه لري او ډېر ئې توجیه مني او ملګرتیا ئې کوي!!

۴- (نفاثات) له نفث نه د پو کولو په معنا او د نفاثه جمع ده، چي یا د (علامه) په څېر د زیات پو کوونکو نارینه وو په معنا ده، یا جمع مؤنث یعنی پو کوونکې ښځې او یا د پو کوونکو ډلو په معنا ده. او (عُقَد) د عقدې جمع او معنا ئې غوټه ده. دې معانیو ته په پام سره د مفسرینو تر منځ درې رایې زمونږ مخې ته راځي:

الف: مراد ئې هغه جادوګرې ښځې دي چې د جادو او کوډو لپاره تار غوټه غوټه کړي او په هرې غوټې کې پو کړي، د دې رایې له مخې ګواکې دا آیت هغې پېښې ته اشاره کوي چې د لبید بن عاصم په نامه د مدینې یوه یهودي پر پیغمبرعلیه السلام جادو وکړ، د دې جادو اثرات پرې څرګند شول او یو ډول ناروغۍ ونیو، تر هغه چې پیغمبرعلیه السلام په خوب کې دوه فرشتې ولیدې چې د دې پېښې په هکله خبرې کوي، د جادوګر نوم اخلي، هغه ځا په ګوته کوي چې د کوډو توکي په کې ښخ کړی شوي، چې کله له خوبه راوېښ شو نو ځینې کسان ئې هغه ځای ته ولېږل، تعویذونه ئې راوایستل، غوټې ئې پرانیستلې، د کوډو اغېز ختم شو او پیغمبرعلیه السلام روغ شو.

ب: د زمخشری او ابو مسلم اصفهانی له نظره په (النفاثات فی العقد) سره هغو ښځو ته اشاره شوې چې په خپلو کرشمو، عشوه او ناز نخرو سره نارینه داسې تر اغېز لاندې نیسي او په خپل دام کې ئې اچوي لکه چې جادو پرې شوی وي.

ج: درییمه رایه دا ده چې له (النفاثات فی‌العقد) څخه هغه ډلې مراد دي چې عقده مند افراد پاروي، د دوی په عقدو کې پو کوي، د ناراضیانو په لټه کې وي تر څو ئې تحریك کړي، احساسات ئې راوپاروي، عقدې ئې وروپړسوي، په هغو غرضي وګړو پسې ګرځي چې خپلو ناروا غرضونو ته نه دي رسېدلي، په زړه کې عقدې لري، دوی په شا وټېوي او د نهضت په لیکو کې د فتنو راولاړولو لپاره ترې استفاده وکړي.

د دې رایې په تائید کې څو مضبوط دلایل وړاندې کېږي:

لومړی: له دې وروسته آیت کې د حاسد او حسد یادونه شوې او دا ښیي چې له (نفاثات فی‌العقد) نه باید حسد ته ورته شی مراد وي، ترڅو د آیتونو ترمنځ همغږي او یووالی تأمین شي او له دوو پرله پسې آیتونو ډېر متفاوت او له یوه بله ډېر لرې مطالب وانه خلو.

دوهم: د الناس د سورې په څلورم آیت کې هم دې ته ورته مطلب راغلی (من شر الوسواس الخناس) چې دا په پنځم آیت کې داسې توضیح شوی: الذي یوسوس فی صدورالناس: هغه چې د خلکو په سینو کې وسوسې اچوي) او دا دقیقاً د (النفاثات فی‌العقد) معنا او شرحه ده. دې ته مو هم باید پام وي چې دا دواړه سورتونه ډېر سره ورته دي. د قرآن په ډېرو نورو آیتونو کې هم ګورو چې د (نفاثات فی‌العقد) او (الذي یوسوس فی صدورالناس) مفهوم افاده کوي، ټول هغې ډلې ته اشاره کوي چې د صف د ننه د فتنو راولاړولو لپاره هڅې کوي، کومه ډله چې د الفلق په سوره کې د نفاثات في العقد په نامه یاده شوې د الناس په سوره کې الوسواس الخناس نوم ورکړی شوی او ټوله سوره د همدې ډلې معرفي ته مختص شوې. د توبې په سوره کې په دې هکله داسې راغلي:

لَوْ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلاَّ خَبَالاً ولأَوْضَعُواْ خِلاَلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَاللّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ التوبة: ۴۷

که ستاسو په لیکو کې وتلي وی نو له تاوانه پرته به ئې بل څه نه وو درزیات کړي، خامخا به ئې د فتنو په لټه کې په تاسو کې ځغلول کول او په تاسو کې د

دوی لپاره اوربدونکي شته، الله د ظالمانو په حال ښه پوه دی.

دا آیت د دې ډلې او د دوی د فتنو راولاړولو د هڅو او تحرکاتو په اړه څو اساسي مطالب بیانوي:

الف: د دوی شته والی ستاسو قوت او ځواکمني نه زیاتوي، بلکې د فساد او بدنظمۍ باعث کېږي.

ب: د دوی هڅه دا وي چې په تاسو کې فتنې راولاړې کړي، د شرارت آسونه به هر لوري ته ځغلوي.

ج: په خپله د دښمن لپاره جاسوسي کوي او اطلاعات راغونډوي.

د: ستاسو په لیکو کې داسې کسان شته چې د دوی د تبلیغاتو تر اغېز لاندې راځي، ځینې د سفاهت او سادګۍ په وجه، ځینې د خپلو عقدو او حسادتونو په وجه او ځینې په دې خاطر چې په یوه او بل څه ناراض دي، دوی ئې تحریك کړي او د اختلافاتو د راولاړولو په لار کې ترې کار واخلي.

هـ: الله تعالی چې د دې ظالمې ډلې په هکله څه ویلي دي دا په الهي علم ولاړ وضاحت دی، دا د هغه علیم خدای وینا ده چې هم دا خلك ښه پېژني او هم ئې په کړو وړو ښه پوه دی.

خو که مونږ وغواړو د لومړیو دوو تعبیرونو لپاره له قرآن نه کوم موئید آیت وړاندې کړو، نو داسې هیڅ آیت نشو موندلی.

درېیم: څوك چې (النفاثات فی‌العقد) د جادوګرو ښځو په معنا اخلي او د جادو په هکله هغه روایت باندې استناد کوي، دا خبره په داسې حال کې کوي چې له یوې خوا وایي: دا سوره په مکه کې نازله شوې، خو جادو په مدینه کې شوی!! نه پوهېږو دا دوه رایې څنګه سره تلفیق کوي او د جادو دا پېښه څنګه د دې سورې شأن نزول ګڼي؟!! له بلې خوا وایي چې جادو کوونکی یو نارینه وو نه ښځه!! نو دا روایت څنګه د دې آیت په تائید کې ګڼي؟!

څلورم: که د آیتونو تسلسل ته پام وکړو نو له ورایه برېښي چې دا (النفاثات فی‌العقد) له هغه وروسته خپل فعالیت پیلوي چې تیاره خوره شي او هغه وخت

عقدې پړسوي چې ځینې په ړندوونکې فتنې اخته شي، کله چې مغشوش شرایط راشي او ځینو خلکو ته د حق او باطل ترمنځ تفکیك ګران شي نو دغو پو کوونکو ته مناسب شرایط برابر شي، متې رابر وهي او د عقده مندو خلکو په راپارولو بوخت شي.

دغو ټولو دلایلو ته په پام سره د (نفاثات فی‌العقد) اطلاق نه په عشوه ګرو ښځو صحیح دی او نه په هغو کوډګرو ښځو چې په تعویذ او د تار په غوټو کې پو کوي.

دا باید واضح کړو چې سحر شته، انکار ترې داسې دی لکه د قرآن له یوه آیته انکار، اغېز او تأثیر ئې هم ثابت دی، د قرآن له مخې ئې دومره اغېز ثابت دی چې یو شي په بدله او بېله بڼه کې وبرېښي، پړی او رسۍ د مار په بڼه کې او ساکن د متحرك په بڼه کې، په قرآن کې دا هم ویل شوي چې بني اسرائیلو به د ښځې او مېړه تر منځ د بېلتون په غرض کوډې کولې، خو دا نه دي ویل شوي چې دوی به په دې توانېدل که نه، هلته ویل شوي چې د الله تعالی له إذنه پرته ئې چا ته تاوان نشو رسولی، دلته د الفلق په سوره کې په دې بحث نه دی شوی چې په پیغمبر علیه السلام جادو او کوډې شوي که نه، نه دا آیت او نه د قرآن کوم بل آیت صریحاً یا تلویحاً دا خبره کوي چې په پیغمبر علیه السلام جادو شوی او په ده ئې اغېز کړی؟ دا موضوع باید په خپل ځای کې او د مربوطه روایاتو په ترڅ کې وڅېړلی شي، دا ئې ځای نه دی. دلته د (النفٰثت في العقد: په غوټو کې پو کوونکې یا پو کوونکي راغلې) چې صیغې ئې عامې دي، خو دا همغه مطلب افاده کوي چې د الناس د سورې دا آیت (الوسواس الخناس الذي یوسوس في صدور الناس) ئې افاده کوي. څوك چې النفٰثت في العقد په بله معنا اخلي باید ووایي چې دا خبره او دا تعبیر د قرآن د کوم آیت په استناد کوي؟ قرآن خو داسې دی چې هر مجمل آیت ئې د بل مفصل آیت په ترڅ کې توضیح کېږي، آیا دوی په ټول قرآن کې بل داسې آیت موندلی شي چې د دوی تعبیر تائید کړي؟ حقیقت دا دی چې د دې تعبیر د تائید لپاره د قرآن هیڅ آیت نشي وړاندې کولی!! په هیڅ ځای کې نه دي ویل شوي چې

کوډې په غوټو کې کېږي، کوډ ګرې ښځې د تارونو په غوټو کې پو کوي!! ولې د دې آیت هغه تفسیر نه مني چې قرآن ئې په خپله وړاندې کوي؟ او هغه هم داسې چې په ورپسې سوره کې ئې وضاحت کوي او په داسې آیت سره چې په اړوند سوره کې ئې موقعیت همغه ځای دی چې د نوموړي آیت موقعیت د الفلق په سوره کې دی او په داسې حال کې چې دا دواړه سورتونه له هره لحاظه سره ورته او د بحث موضوع ئې یوه ده!! او دواړه د معوذتین په نامه یادې شوې، هلته په څلورم آیت کې ویل شوي چې دا نفاث دی او عقدې پړسوي او دلته ورپسې په همدې څلورم آیت کې ویل شوي چې دا وسواس الخناس دی او په سینو کې وسوسې اچوي، هلته هم له دوی د پناه غوښتلو توصیه شوې او دلته هم. ډېره عجیبه ده چې څوك له دې ټولو حقایقو سترګې پټې کړي او (النفٰثت في العقد) له (الوسواس الخناس الذي یوسوس في صدورالناس) نه پرته په بله معنا ونیسي!!

په پیغمبر علیه السلام د جادو روایت باید د روایاتو په ترڅ کې وڅېړل شي، که دا جادو شوی وي او اغېز ئې هم کړی وي، څوك د دې حق نه لري چې په دې پېښې په استناد سره کوډې کول ځان ته جائز کړي، کوډې کول حرام دي، د کوډو ماتولو په نامه خلك غولول او پیسې ترې شکول حرام دي، هغه کسان چې کوډې کوي، د کوډو ماتولو په نامه خلك غولوي، پیسې ترې شکوي، هر چا ته وایي په تا جادو شوی، راشه چې مات ئې کړم، جادو حق دی، په پیغمبر علیه السلام هم شوی وو!! چا چې په تا جادو کړی د کوډو توکي ئې په پټ ځای کې ایښي، څوك ئې موندلی نشي، زه ئې د پیریانو په واسطه راکاږم، په چل ول سره به په ټوټې کې داسې نغښتې کاغذ وروښیي چې ستنې به په کې ټومبل شوې وي، څو تاره وېښتان او د ږمنځې څو ښاخونه به په کې پراته وي، دا ټګماران د دین دښمنان دي، د دین په نامه خلك شکوي، د دوی یوازنی مقصد د خلکو غولول وي، دا خلك له دې روایاتو سره ځانګړې علاقه لري، که څوك وایي چې کوډې کول حرام دي، د کوډو ماتولو په نامه خلك غولول او پیسې ترې اخیستل ناروا دي، دا خبرې په دوی ډېرې بدې لګېږي، د هغه په ضد تبلیغات کوي چې دا له حدیثه منکر دی.

په دې هکله چې معوذتين په مکه کې نازل شوي که مدينه کې روايات متعدد او په خپلو کې متعارض دي: ځينې وايي چې دا دواړه سورتونه په مکه کې نازل شوي او ځينې وايي په مدينه کې، هغه چې وايي په مدينه کې نازل شوي ځينې ئې له جادو سره مربوط ګڼي او ځينې ئې مستقل، کوم چې ئې په جادو پورې تړي هم ئې په اسنادو کې توپيرونه شته او هم په الفاظو کې، له دې ټولو رواياتو څخه يوازې يو ئې غوره کولی شو، نه دوه او نه ټول، ابن کثير په بخاري او مسند احمد کې راغلي هغه روايات تائيدوي چې په پيغمبر عليه السلام د جادو ذکر په کې راغلی خو د هغه روايت په هکله چې ثعلبي په خپل تفسير کې رانقل کړی؛ داسې ليکي: هكذا أورده بلا إسناد وفيه غرابة وفي بعضه نكارة شديدة ولبعضه شواهد مما تقدم والله أعلم. داسې ئې له کومو اسنادو پرته ذکر کړي چې غرابت او ضعف په کې دی، او په ځينو کې ئې شديد نکارت شته او ځينې ئې شواهد او اسناد لري لکه څنګه چې مخکې وويل شول او الله تعالی تر ټولو ښه پوهېږي.

د دې په مقابل کې د عقبة بن عامر روايت دی چې که څه هم دا دواړه سورتونه مدني ګڼي خو له جادو سره ئې مربوط نه بولي:

عن عقبة بن عامر الجهني قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ألم ترَ آيات أنزلن الليلة لم يرَ ـ أو لا يرى ـ مثلهن، المعوذّتين». مسند امام احمد

له عقبة بن عامر نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا خبر يې چې نن شپه داسې آيتونه نازل شوي چې د هغوی په څېر نه دي ليدل شوي يا وبه نه ليدی شي؛ المعوذّتين.

د دې دواړو روايتونو په مقابل کې نور روايات دا دواړه سورتونه مکي ګڼي، اکثر مفسرين هغو رواياتو ته اعتبار ورکوي چې د دې دواړو سورتونو په مکي والي تأکيد کوي. د ټولو مروجو مصاحفو د سورتونو په فهرست کې دا دواړه سورتونه مکي ښودل شوي.

ځينو د دې تعارض رفع کولو لپاره ويلي چې دا سورتونه دوه ځله نازله شوي، يو ځل مکه کې او بل ځل مدينه کې، خو د دې خبرې ثابتول ډېر ګران کار دی، دا

ځکه چې د عقبة بن عامر رضي الله عنه له روایته دوه خبرې معلومېږي لومړی دا چې دا سورې په مدینه کې نازله شوې، ځکه عقبة بن عامر رضي الله عنه په مدینه کې مسلمان شوی او دوهم دا چې دا ئې لومړی نزول دی.

خو د سورې متن نه یوازې په دې شهادت ورکوي چې دا مدني سوره ده بلکې ښیي چې د مدني دور په وروستیو کلونو کې نازله شوې.

دا هم باید واضح کړو چې دا دواړه سورتونه د قرآن جزء دی او هغه روایت صحیح نه دی چې عبدالله بن مسعود ته منسوب دی او وایي چې دا صرف دعاګانې دي او د قرآن سورتونه نه دي.

**۵.** حاسد هغه چا ته ویل کېږي چې له بل سره د نعمت په لیدو داسې تحریك شي چې غواړي دا نعمت ئې زوال ومومي، تر هغه چې حسد ئې په زړه کې ساتلی، بهر ئې نه دی راایستلی او د حسد په حکم ئې کوم عمل نه دی کړی، یوازې زړه ئې ځوروي او اعصاب ئې ناآرامه کوي، نو په ده پورې مربوطه یوه بیماري ده، خوند به ئې په خپله څکي، خو کله چې ئې دا حسد کوم ناروا عمل ته هڅوي او د نعمت له خاوند سره ئې دښمنۍ ته اړ باسي او په خصمانه عمل لاس پورې کوي، په ډېرې خطرناکې بیمارۍ واوړي چې د ډېرو فتنو راولاړولو باعث شي.

عن زُبَيْرَ بنَ الْعَوَامِ أَنّ النبيّ قالَ: «دَبّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الأُمَمِ قَبْلَكُمْ: الْحَسَدُ وَالبَغْضَاءُ هِيَ الْحَالقَةُ، لا أَقُولُ تَحلِقُ الشّعْرَ وَلَكِنْ تَحلِقُ الدّينَ، وَالّذِي نَفْسِي بِيَدِه لا تَدْخُلُوا الْجَنّةَ حَتّى تُؤْمِنُوا، ولا تُؤْمِنُوا حَتّى تَحَابُوا، أَفَلاَ أُنَبّئُكُمْ بِمَا يُثَبّتُ ذَلِكَ لَكمْ: أَفْشُوا السّلاَمَ بَيْنَكُمْ» .

له زبیر بن عوام نه روایت دی چې پیغمبرعلیه السلام فرمایلي: د مخکنیو امتونو بیماري تاسو ته مخه کړه: حسد او کینه چې پرې کوونکی دی، نه وایم چې وېښتان پرې کوي، بلکې د دین جرړې پرې کوي او په هغه ذات قسم چې زما ژوند ئې په واك کې دی تر هغه به جنت ته داخل نشئ چې ایمان راوړئ او ایمان به مو ایمان نه وي چې یو له بل سره محبت ونکړئ، نو آیا هغه څه درونه ښیم چې دا محبت په تاسو کې تلپاتې کوي: سلام اچول په خپلو کې زیات

کړئ.

همدا راز راځي:

عَنْ أَنَسٍ أَنّ رَسُولَ اللّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «الْحَسَدُ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ، كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ. ...».

له انس رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: لکه څنګه چې د اور لمبې لرګي سوزوي حسد ښېګړې سوزوي....

قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې منافقين په دې بيمارۍ اخته ګڼي او زړونه ئې د حسادت او حقد په مرض مبتلا بولي. لکه چې فرمايي:

أَمْ حَسِبَ الّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ أَنْ لَنْ يُخْرِجَ اللّهُ أَضْغَانَهُمْ * وَلَوْ نَشَاءُ لَأَرَيْنَاكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيمَاهُمْ وَلَتَعْرِفَنّهُمْ فِي لَحْنِ الْقَوْلِ وَاللّهُ يَعْلَمُ أَعْمَالَكُمْ * محمد : ۲۹- ۳۰

آيا هغه چې په زړونو کې ئې بيماري ده دا ګمان ئې کړی چې الله به ئې کينې او حسادتونه رابرسېره نه کړي؟ او که مو غوښتي وی نو داسې به مو درښودلي وو چې له څېرو به دې پېژندل او د خبرو له څرنګوالي خو ئې خامخا پېژنې او الله خو ستاسو په کړو وړو علم لري. (او د دغه علم په اساس ئې د هرې ډلې د اعمالو څرنګوالی په قرآن کې بيان کړی) يعنې منافقين هم د وينا او خبرو له سبك او لحن څخه پېژندی شې او هم ئې د قرآن د هغو څرګندونو په رڼا کې چې د هرې ډلې د کړو وړو په هکله ئې کړې دي.

لکه څنګه چې نفاق په مدينه کې راڅرګند شو او په دې هکله بحثونه يوازې په مدني سورتونو کې موندلی شو، حسد هم د مدني دور له قضاياوو څخه دی او ذکر او بحث ئې يوازې په مدني سورتونو کې راغلی.

يوه له هغو خطرناکو بيماريو څخه چې کورنۍ، ټولنې او يوه نهضت ته سخته صدمه رسوي دغه د حسد بيماري ده، په دې بيمارۍ غرضي او مرضي وګړي اخته کېږي، هغه کم ظرفه خلك پرې مبتلا کېږي چې د نورو د فضيلت او وړتياوو ليدل نشي زغملی، د نورو وړتياوې د دوی په بيمارو زړونو کې کينه او حسادت

راپاروي. څوك چې د مبارزې سابقه لري او څه موده ئې د نورو دعوتګرانو او مبارزانو په څنګ کې تېره کړې وي او د یوه جماعت او حزب د غړي په توګه ئې کار کړی وي، ښه پوهېږي چې د حسد بیماري څومره ستر ستر مصیبتونه راولاړوي، د څومره لویو لویو فتنو باعث کېږي او نهضت ته څومره غټې غټې تاوانونه رسوي.

# الناس

## د سورې معرفي

د دې سورې نوم الناس (خلك) دی، ۲ آيتونه لري، چې ټول ئې د الناس په لفظ پای ته رسېدلي. د الفلق له سورې سره په یوه وخت کې نازله شوې، د بحث موضوع ئې هغه الله تعالی ته د وسوسه ګرانو له شره پناه وړل ده، چې هم د خلکو پالونکی دی، هم ئې ټولواك دی او هم معبود.

د (الفلق) او (الناس) سورتونه په روایاتو کې د (معوذتین) په ګډ نوم یادې شوې، هم ئې د آيتونو سجع او غږ سره ورته دی او هم ئې د بحث موضوع، په دواړو کې الله تعالی ته پناه وړل بیان شوي، که دواړو سورتونو ته لږ ځیر شو متوجه کېږو چې د الناس سوره د الفلق د سورې شرحه ده، په الفلق کې (په غوټو کې د پو کوونکو) په اړه بحث شوی او په الناس کې له هغو چې (په سینو کې وسوسې اچوي)، د دعوت په ضد د دښمن یوه ډېره خطرناکه حربه او وسله د وسوسو خورول دي، څوك چې د مبارزې تجربه لري او څه وخت ئې د مبارزې په لوړو ژورو کې تېر کړی، په دې پوهېږي چې د وسوسو د خورولو لړۍ هغه وخت پیل کېږي او نهضت ته ستونزې راولاړوي چې د نهضت لمنه خوره شي او له نهضت سره د ولس د یو

ځای کېدو لړۍ تېزه شي، زيات شمېر نوي کسان ملګرتيا ته راوړاندې شي، مخکې به خلك يوازې يوازې راتلل خو اوس ډله ډله راځي، دا حالت نهضت ته دوه مشکلات راولاړ کړي:

الف: دښمنان د خطر احساس وکړي او دې ته اړ شي چې د نهضت په ضد خپل ټول تبليغاتي وسايل فعال او ماهر وسوسه ګران استخدام کړي او د پراخو تبليغاتو لړۍ پيل کړي.

ب: کوم خلك چې په ډله ييزه توګه او د نهضت قوت او ځواکمنۍ ته په پام سره له صف سره يو ځای شوي، لا ئې سمه او کافي روزنه نه ده شوې، لا د کړاوونو او ستونزو په لوړو ژورو کې نه دي روزل شوي، لا خام دي او له دينه پوره پوهه نه لري، د دغو تبليغاتو تر اغېز لاندې راځي، وسوسه کېږي، دښمن کولی شي شکوك او شبهات ورته راپيدا کړي، د دښمن په لومو کې لوېږي او د نهضت په ضد ئې هڅوي.

د نهضت په ابتدائي مراحلو کې نه خو دښمن د دې ضرورت احساساوو چې په پراخو تبليغاتو لاس پورې کړي او وسوسې خورې کړي او نه خو په دې مرحلې کې له نهضت سره يو ځای شوي کسان داسې وو چې د دښمن د وسوسو او تبليغاتو تر اغېز لاندې راشي، دوی خو شعوري او له غور او دقت نه وروسته يو ځای‌شوي، د نهضت د شعارونو، آرمانونو او تګلارو په حقانيت له پوهېدو وروسته ئې تعهد کړی، د ښکېلو خواوو تر منځ د ژور قضاوت نه وروسته ئې يوه خوا غوره کړې، وسوسې نه شي کولی دوی تر اغېز لاندې راولي او د دښمن تبليغات ئې مشوش او له خپل انتخابه ئې پښېمانه کړي.

د (الناس) سوره د قرآن تتمه ده او د فاتحې له سورې سره چې د قرآن مقدمه ده ډېر ژور ارتباط او تړاو لري، څو څرګند او ښکاره ارتباطاتو ته ئې ستاسو پام رااړوم:

الف: د الناس په سوره کې د (رب)، (ملك) او (اله) نومونه راغلي، د فاتحې په سوره کې دغه نومونه له درېيو بسيطو تغييرونو سره ګورو: يو دا چې (اله) د (الله)

په بنه کې راغلی او ملك د مالك په بنه کې او بل دا چې (الله) د (رب) او (ملك) تر نومونو مخکې راغلی.

ب: د فاتحې په سوره کې لولو: ستاینې ټولې هغه الله لره دي چې د عالمیانو رب دی، هماغه ډېر مهربان رحم کوونکی رب او د سزا د ورځې ټولواك او د الناس په سوره کې لولو: ووایه: د خلکو پالونکي، د خلکو ټولواك او د خلکو معبود ته پناه وړم.

ج: د فاتحې په سوره کې له هغه رب العالمین څخه استعانت او مرسته غواړو چې ډېر مهربان رحم کوونکی رب او د سزا د ورځې ټولواك دی او په دې سوره کې له خناسو وسوسه ګرانو نه رب الناس، ملك الناس او اله الناس ته پناه وړو.

د: د فاتحې په سورې کې زمونږ دعا دا ده: مونږ سمې لارې ته هدایت کړه، د هغو کسانو په لار چې تا پرې پېرزوینې کړې، نه غضب کړی شوي او نه بې لارې دي او د الناس په سوره کې په دې مکلف شوي یو چې د هغو خلکو له شره خدای ته پناه یوسو چې په خپله بې لارې دي او نور بې لارې کوي.

حتماً په دې پوهېږئ چې انسان په ماشومتوب کې له هر خطره مور ته پناه وړي، خپل لومړني مربي ته، خو چې بلوغ ته ورسېږي او له موره بې نیازه شي نو بیا خپل شکایتونه واکمنانو ته وړاندې کوي او د خپلو مشکلاتو د حل لپاره چارواکو ته رجوع کوي، خو کله چې پوخوالي ته ورسېږي او په دې پوه شي چې واکداران د ده په څېر انسانان دي او کله چې د ده غوښتنې د ماشومتوب او ځوانۍ له مرحلې لوړ شي او په اوچتو اوچتو آرمانونو بدلې شي، نو بیا تر دغو لوړه ملجأ او مرجع لټوي او د معبود په لټه کې شي. د الناس په سوره کې دغه تدریجي ارتقا مراعات شوې: د خلکو رب، د خلکو ټولواك او د خلکو اله او معبود ته پناه یوسئ.

دا سوره مونږ ته ښیي چې کله جني شیطان د انسان په زړه کې وسوسې اچوي او کله خناس وسوسه ګر انسانان، قرآن شیطان په دوو څېرو کې معرفي کوي: شیطان د جن په څېره کې او شیطان د انسان په څېره کې؛ لکه چې فرمایي:

و اذا لقوا الذین آمنوا قالوا آمنا و اذا خلوا الی شیاطینهم قالوا انا معکم انما

نحن مستهزءون* البقره: ۱۴

او چې کله له مؤمنانو سره مخامخ شي وايي: ايمان مو راوړی، خو چې کله د خپلو شيطانانو په لور ګوښه شي؛ وايي: مونږ يقيناً له تاسو سره يو، مونږ خو هسې "په دوی" ملنډې وهونکي يو.

دلته له شيطانانو نه مراد د منافقينو شيطان صفته مشران دي.

همدا راز فرمايي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ*

آل عمران: ۱۷۵

دا خو فقط شيطان وو چې خپل دوستان ئې وېرول، نو له هغوی نه مه وېرېږئ، له ما ووېرېږئ که مؤمنان ياست.

دلته هم له شيطانه مراد د دښمن مبلغ دی.

ځوك چې د مبارزې تجربه لري او مخصوصاً چا چې د نهضت د برياوو مرحله په خپلو سترګو ليدلې، په دې ښه پوهېږي چې د دې مرحلې له سترو سترو آفتونو څخه يو ئې دا دی چې دعوتګران داسې شعارونو ته مخه کړي چې عام ولس ئې ډېر خوښوي، ټول اهتمام او التفات ئې دې خبرې ته شي چې د ولس تائيد او ملاتړ تر لاسه کړي او په خپلو خبرو سره ئې خوښ کړي، مخکنيو آرمانونو او شعارونو ته ژمنه، اصولو او مباديو ته التزام خپل ځای داسې سياستونو ته پرېږدي چې عام ولس ئې خوښوي، دعوتګران د ولس د لارښوونې په ځای د دوی راضي کولو ته مخه کړي، يوازې هغه مسائل عنوانوي چې عوام ئې غواړي او د دوی د ارضاء سبب کېږي او د هغو خبرو له کولو ډډه کوي چې عوام ئې نه خوښوي، که خلك په خرافاتو باور لري او په اوهامو کې ژوند کوي، نه ښايي چې د خرافاتو او اوهامو په هکله بحث وشي او د ولس د عقايدو د تصحيح هڅه وشي، ځکه چې په دې سره د عوامو تائيد او ملاتړ له لاسه ورکوو!! که خلك ستومانه او راحت طلب شوي، نو نه ښايي چې د جهاد، مبارزې، انقلاب او د الله په لار کې د قربانۍ په څېر خبرې وکړو، دا ځکه چې د داسې خبرو بازار سوړ دی او عوام ئې نه خوښوي!! څه چې عام

شوي او په پراخه پيمانه په ولس کې مروج شوي، که څه هم په قطعي توګه حرام وي او دين د دې لپاره راغلی چې د دې عام شوي دود دستور جرړې وباسي خو د دې لپاره نه ښايي په دې هکله څه ووايو او خلک ترې راوګرځوو چې له ولسه منزوي کېږو، خلک راته بنسټپال، افراطي او متشدد وايي، په دې ترتيب ګورئ چې په دې مرحله کې (خلك) د دعوتګرانو په زړونو کې د وسوسې لامل او تومنه شي، خو دا د قرآن وروستۍ سوره مونږ ته لارښوونه کوي چې له دې وسوسې د خلکو رب، د خلکو ټولواك او د خلکو اله ته پناه يوسئ.

بسم الله الرحمن الرحيم

---

ì© `Ë ÇÌÈ Ä $Y9$Ïn»9Î ÇÌÈ Ä $Y9$Å7Î B ÇÌÈ Ä $Y9$É>•Î Œqãã& @è

`Ë ÇÎÈ ÄZ $Y9$Ír‰ß † Î ã Èõqã “ Ï%©!$ÇÍÈ Ä $Yƒø$Ä #qõq9$

ÇÏÈ Ä $Y9$r ÏpYÉ 9$

---

۱- ووايه: پناه وړم د خلکو رب ته.۲- د خلکو واکمن ته. ۳- د خلکو اله ته. ۴- د بيا بيا راتلونکي وسواس له شره. ۵- هغه چې وسوسې اچوي په سينو کې د خلکو. ۶- که له پېريانو وي که له خلکو.

---

۱-۳: هغه څه چې په دې آيتونو کې ئې د الله تعالی او ده ته د پناه وړلو په اړه مشاهده کوو لاندې مهم ټکي دي:

الف: الله تعالی د خلکو رب او پالونکی دی، دوی ئې پيدا کړي او پالنه ئې کوي.

ب: د خلکو څښتن او ټولواك دی، ټول د ده مملوك او د ده د ارادې په وړاندې

محکوم دي. ګمان مه کوئ چې الله تعالی له هغه وروسته چې د انسان په شمول ئې د عالم هر څه پیدا کړل، سنن او ضوابط ئې وټاکل، نو د عالم د چارو او امورو بهیر ئې خپلې مخې ته پرېښود اوس ئې د پېښو او حوادثو له څرنګوالي سره هیڅ کار نه لري او مداخله په کې نه کوي!! برعکس الله تعالی د دې ترڅنګ چې پیداکوونکی او پالونکی دی، هر څه ئې پیدا کړي او پالنه ئې کوي، ملك او ټولواك هم دی، حکم ئې په هر ځای کې حاکم او اراده ئې په هر کار کې نافذ ده، د ده له إذن او اجازې پرته هیڅ کار نشي ترسره کېدی، د ده له توفیقه پرته هیڅ څه له خپله ځایه نشي خوځېدی، ټول طوعاً او کرهاً د ده حکم ته منقاد او د ده د ارادې په وړاندې خاضع دي. الله تعالی ملك او پاچا دی او ټول د ده مملوك او محکوم.

ج: الله تعالی د خلکو پالونکی، ملك، اله او معبود دی، له ده پرته هیڅوك او هیڅ څه د لمانځنې وړ نه دي، د عبادت او دعا او د لمانځنې او مرستې غوښتنې مرجع او ملجأ الله تعالی دی، باید یوازې د ده عبادت وکړو او یوزاې له ده نه استعانت او مرسته وغواړو، هغه ذات ته باید پناه یوسو چې ستا او د ټولو خلکو رب او پالونکی دی، د ده د پناه په غېږ کې باید د ډاډ او اطمئنان احساس وکړو.

۴-۲: باید متوجه وې چې د جنت په لوري خپل سفر کې او د الله تعالی په لوري خپل الوت کې، داسې دښمنان لري چې په هر ګام کې ئې کمین درته نیولی، هر یو په ځانګړې وسلې سمبال، هر یو ئې په دې تکل کې چې ستا لاره خنډ کړي، له ښي او کیڼ لوري دربانديې برید وکړي، تلوسه ئې دا چې تا بې لارې کړي، د لارې زاد او توښه دې لوټ کړي، عزم دې سست او همت دې کمزوری کړي، افکار دې مغشوش او موخې دې ناولې کړي، د سفر پای در ته مجهول او سر منزل ته رسېدا مستحیل وبرېښوي، په هر ګام کې خپله جلوه او عشوه تر مخکې لازیاته جالب او زړه راښکونکې کړي، شنه څراغونه درته ځلوي، ستا په یو وار (نه) ویلو له خپلو هڅو لاس نه اخلي، درنه نه ځي او خپلې مخې ته دې نه پرېږدي، که ئې د خطرناکو لومو په یوې کړۍ کې ونه نښتې خپل دام نه ټولوي او په دام کې ستا له اچولو لاس نه اخلي، د بلې کړۍ په خوا کې درته کېنښي، پدې هیله چې دا ځل به حتماً د ده په

لومې کې نښلې، د هرې لومې خوا ته ځانګړې غولونکې طعمه ږدي، له دې خطرناك وسوسه ګر نه خپل رب ته پناه یوسه.

د دې وسوسه ګر ځانګړتیاوې دا دي:

الف: (وسواس) دی، رنګ رنګ وسوسې کاروي.

ب: (خناس) دی، پرله پسې وسوسې اچوي، کله له یوې ګوښې پټ او ناڅاپي راشي او زړه وګروي او سیوری پرې وغوړوي او کله له بلې ګوښې راشي او پر زړه چونډۍ ولګوي.

ج: په (سینه) کې (وسوسه) اچوي، د دوی وسوسه دومره پیاوړې نه وي چې د زړه تر تل ورسېږي، د زړه ور نه ورته پرانستل کېږي، هسې واهمه، خیال او تصور وي چې پر زړه کې نه کښېني، بلکې پر زړه کښېني، د حق خبرې په ځېر نه وي چې زړه ته ننوځي او د زړه په تل کې کښېني، بلکې له بهر نه پر زړه سیوری غوړوي، سینه تیاره کړي او زړه ته ئې تنګه.

د: د دغه خناس وسوسې پر (الناس) او عوامو اغېز کولی شي نه پر (خواص)، چا چې له ده سره خپلې اړیکې غوڅې کړې، د ده د وسوسو تر اغېز لاندې نه راځي، په دې نشي توانېدی چې خواص دوکه او بې لارې کړي.

هـ: د دغو خناسانو ځینې د (جن) له جنسه دي، نه لیدل کېږي او پېژندا ئې ګرانه او ځینې ئې (خناس) وسوسه ګران دي، د (الناس) په ځېره کې.

سُبْحَانَكَ اللّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلهَ إِلاّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ